روهي ثقافت

# ټپه او ژوند

پروفیسر محمد نواز طائر

اداره ثقافت خیبر پښتونخوا

ټول حقوق محفوظ دي

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ـــــــ | ټپه او ژوند |
| ليکوال | ـــــــ | پروفېسر محمد نواز طائر |
| اشاعت | ـــــــ | ۲۰۱۲ ء |
| کمپوزر | ـــــــ | ارشاد خان (پښتواکېډيمي) |
| شمېر | ـــــــ | پنځۀ سوه (۵۰۰) |
| پرېس | ـــــــ | |
| بيعه | ـــــــ | |
| خورونکي | ـــــــ | اداره ثقافت خېبر پښتونخوا |

# انتساب

د

**پښتون قام**

د سپېڅلو فولکلوري روایاتو

په نوم

بسم الله الرحمن الرحیم

# دیباچه

مالـــــــه قلـــــــــم مشـــــــــوانهی راوړئ
یـو څـو مصـرعې پـه وینـو سـرې یـار تـه لیکمـه

مصـرعه ، لنـډۍ ، ټکـۍ یـا ټپـه د پښتـو ژبـې د اولسـي ادب هاغـه هـر دلعزیز،مقبول عام او په هر لحاظ ناویاته صنف دے چې د فکر و نظر ، عشق او رومـان ، یـاس و حرمـان ، سـوز و سـاز او د رنـګ او آهنـګ بـې شـماره ملغلـرې پکښې د بحر او بهیر په یوه لړۍ کښې پیلې شوې دي۔

ټپه د هر کس و ناکس سره د هغهٔ د مزاج او طبعې خبرې د هغهٔ په انداز د هغهٔ په ژبه او د هغهٔ په لوظونو کوي ۔دا د پښتون اولس د روح عکس دے چې تر دې وخته ئې په ښاروال تمدن او مصنوعي شائستګۍ خپل دیانت نهٔ دے بائللے۔ د احساساتو سپېڅلتوب او سوچه والے ئې په دې سرګند دے چې دا د زړهٔ د تل نه مجبوراً ولاړېږي ۔

ازاد فطرته او ساده باده پښتون وګړے د خپل زړهٔ د اواز په رڼا کښې د فلسفیانو او پوهانو په وېناګانو نهٔ رسي ۔ددهٔ د شعر د ټولو نه غوره او بهتره اډانه ددې په بحر او بهیر ولاړه ده ۔کلي والې سندرې تشې په لوستو د چا د زړهٔ تل تـه نهٔ پرېوځي ۔ددې سوز و ګداز ددې پـه اورېدو او د زړهٔ تل تـه پـه کوزېدو کښې دے۔دا هاغـه سوې لوې نعرې دي چې پـه شا ئې د زار او قربـان انګـازې غزونې کوي ۔دا ټولې د مینې او وینې په محلول کښې خوشتې شوې او اغېړلې شوې پېرزوئنې دي۔ریښتیا دي چې د رېښمو نرموالے او سختوالے تش ددې پـه ذکر اورېدو نهٔ شي محسوسېدے۔دا پـه ګوتـو کښـې نیـول او پـه مخ پـورې مـږل غواړي ۔ځکه نو کهٔ څوک ددې آرزو لري چې د پښتونخوا د اولسي سندرو په

خوند او خوږلت ځان خبر کړي نو هغه دې چرته د ګودر په غاړه یو مازیګر پېښه وکړي۔

د پښتونخوا د شلمې صدۍ هاغه نابغه شاعر او لېوني فلسفي چې د پښتنو د اولسي سندرو کومه په زړۀ پورې ترجماني په یو وخت کښې کړې وه هغه د رنګ او نور د بوډۍ په تال زانګلو ته ورته وه ۔ په دې چې هغه پښتون ؤ ۔ جدي پدري پښتون ۔ هغه نوې او مهذبې دنیا یو باریک بین خیالولے مفکر او شاعر خو ؤ ولې کله چې به لیک ته کښېناستو نو د احساس سوچه والے به ئې د خپل دور نه چرته لرې ډېر لرې په شا لاړ شو ۔ داسې به معلومېده لکه چې هغه د سمې او اشنغر د مېداني سیمې ددې ناقلاره او بې ټیکاوه کاروباري ژوند نه چرته ډېر وریسته د تورو غرونو په عطرئیزه ، خوندناکو درو ښنګ کښې د یوې غونډۍ د سر نه د چا شپونکي د شپېلۍ سره د یکه زار خوندناک غږونه د ځۀ داسې وېناګانو سره په غوږو راځي چې :-

ما د کونړ د سیند نه ځار کړې
زما لالي به پکښې مخ وینځلے وینه
شکر وباسه چې مې خپل کړې
لکه خرګے به ګرځېدې په ډېرانونو
دیدن په ما باندې قیامت دے
زما دادا تړې د خرو کتې جوړوینه

د کال ۱۹۲۳ء ــ ۲۴ء خبره ده ۔ د اولسي سندرو په لړ کښې مې ځۀ معلومات په دې غرض راټولول چې د پښتو ادب ددې درنې پنګې او ددې د مختلفو مقبول عام اصنافو نه ځان خبر کړم ۔ په دې تکل مې ډېرې مسودې ، قلمي نسخې ، مطبوعه کتابونه ، مجلې ، جریدې ، رسالې او اخبارونه لټول او پلټل چې په دې کښې مې د پښتو ټولنې کابل هغه چاپ شوے کتاب پښتنې سندرې هم لاس ته راغے ۔ دغه کتاب په دوؤ جلدونو کښې ؤ او په دې لحاظ ډېر اهم ؤ چې پکښې زمونږ د اولسي سندرو ښۀ درنه پنګه راټوله کړے شوې وه ۔ ټپې ، چاربېتې ، لوبې ، نیمکۍ ، نارې ، غږونه ، صوتونه ، بابو لالۍ ، غاړې د اتهونوناري وغېره ډېر ځۀ پکښې وو ۔ هر څو کۀ دا زمونږ د ملي سندرو عشر

عشیر هم نهٔ ؤ ولې بیا هم په خپل ځائے دا یوه درنه او وافره ذخیره ضرور وه ـ په دې چې ددې نه اګاهو داسې کومه بله مجموعه چرته نهٔ وه راټوله کړے شوې ـ حالانکه ددې نه وړاندې ځینو شائقینو ، پوهانو او محققینو په خپل خپل انداز داسې تکلونه کړي هم وو او ځینې مطبوعه او قلمي نسخې ئې داسې موجودې هم وې لکه د فرانسیسي پروفېسر ډارمسټېټر ,, د پښتونخوا د شعر هار و بهار ،، کوم چې د نولسمې صدۍ عیسوي په ورستۍ نیمه یعنې د ۱۸۸۸ءـــ ۱۸۹۰عیسوي کال په حدودو کښې د پېرس نه د فرانسیسي ترجمې سره د ایشیاټک سوسائټۍ له خوا شائع کړے شوے ؤ ـ هم دغه شان یوه بله نادره نسخه غېر مبطوعه د صوابۍ ضلعې د ټوپۍ کلي یو شاعر سېد عمر راجمع کړې وه او په خپل انداز ئې مرتب کړې وه ـ هغهٔ خپله دغه مجموعه د پښتونخوا هاغې لوئے محسن صاحبزاده عبدلقیوم ته ځوک چې د اسلامیه کالج پېښور باني وو پېش کړې وه ـ کومه چې هغهٔ د خپل دغې کالج اورینټل لائبرېرۍ ته سپارلې وه ـ همدغه رنګ د اورینټل لائبرېرۍ وړمبي مهتمم فاضل مولانا عبدالرحیم هم یوه مختصره شان مجموعه مرتب کړې وه ،کومه چې په دغه ورځو کښې بیا د پښتو اکېډیمۍ د قلمي نوادراتو حصه شوه ـ دا او دغه شان ځینې د خپل نوعیت نورې فولکلوري ادب پارې هم موجودې وې ولې د خپلې دغه مطالعې په دوران کښې ماته ځینې موضوعات په پښتو ټپه کښې داسې رامخې ته شول کوم چې په ډېر ښکلي او دلچسپ اندازکښې ذکر کړے شوي وو ـ ددې په کتو زهٔ ددې تفصیلي مطالعې اوڅېړنې ته راغب شوم دغسې خواؤ شا د لسو زرو (۱۰۰۰۰) ټپو پلټنه مې وکړه ـ او د هرې یوې ټپې موضوع مې د هغې د مرکزي نفس مضمون په بنیاد وټاکله ـ پس د هغې مې د حروف تهجي په بنیاد د خپلو غوره کړو موضوعاتو سره سمې دغه ټپې رابیلې کړې او دغه شان په غېر ارادي جوړ له هاغه کتاب اولیکلے شو چې زمونږ د ملي او ثقافتي ژوند د څهٔ حصې ترجماني پکښې شوې وه ـ ما ددغه کتاب نوم ,, **ټپه او ژوند** ،، غوره کړو ـ ولې په دې پوهه ووم چې د موضوع د لحاظ دغه کتاب نیمګړے دے او تش په یو څو موضوعاتو پکښې بحث شوے دے ـ بیا ډېر کلونه هم دغسې تېر شول ولې څهٔ زمانه پس مې په تېر وار یو ځلې بیا دې پلؤ پام شو او دا دے د **ټپه او**

**ژوند** هاغه زما په فکر کښې پاتې برخه هم د خدائے تعالی په لوئے فضل سرته ورسېده ـ ددې کار سرته د رسولو دپاره زۀ د ورور ملک افغانستان د يو نوموړي سياستمدار فاضل مفکر محترم سلېمان لايق ممنون يم چې زۀ ئې يو ځلې بيا دې کار ته اوهسولم ـ اوس کۀ زما په زړۀ دا تېرېږي چې :-

نـــاري وهـــم غـــږ راتـــه نـــۀ کـــړي
بيـا بـه جهـان راپسـې ګـوري نـۀ بـه يمـه

نو جواز به لري ـ

زۀ د خپل دې کاوش د اشاعت په لړ کښې د خېبرپښتونخوا د وزارت ثقافت د نوموړو کارپردازانو د حکومتي زمامدارانو د مينې او تعاون تشکر او مننه کوم ـ په تېره تېره د پېښور پوهنتون د آثار قديمه د شعبې د نوموړي پروفېسر ډاکټر شاه نظر خان، د پښتو اکېډيمۍ د ډاکټر محمد جاوېد خليل او ددغه ادارې د کمپوزر ارشاد خان د زړۀ د اخلاصه مننه کوم چې ددې کتاب د کمپوز ، پروف او اشاعت ټولې مرحلې ئې په خوند رنګ او خوش اسلوبۍ سرته ورسولې ـ

وما توفيقی الابالله

( يادګيرنه :- د کتاب ګرانو لوستونکو ته دا مشوره ده چې ددې کاوش په معنوي سياق و سباق د پوهېدو دپاره دې د پښتو اکېډيمۍ هغه چاپ کړے کتاب ,,**ټپه او ژوند** ،، هم ولولي ) ـ

محمد نواز طائر
ټيکاؤ منزل تاڼه
۲۴ / ۳ / ۲۰۱۲ء

# ټپه او ژوند

د ۱۹۲۲عیسوي کال خبره ده کله چې زما یوه مقاله د ,,ټپه او ژوند،، زیر عنوان په جرنل آف دي یونیورسټي آف پشاور کښې شائع کړے شوه ـ په هاغې ورځو کښې زۀ لاز لمے ووم ـ نوے نوے پښتو اکېډیمۍ ته راغلے ووم ـ لا مبتدي ووم ـ د ژبې او ادب د مېدان مبتدي ـ يو داسې لاروے چې د منزل لاره ئې لاپوره واضحه نۀ وه ـ طائر ووم د باغ هرې څانګې هر ګل بوټي ځان پله راکښلم ـ ځکه نو زۀ د هاغه مرغکي په رنګې چې نوے نوے له خپلې جالې را الوتے وي په خپلو نابلده او نادیده لنډو لنډو الوتونو سر شوے ووم ـ هم په دغې شوق او په دغې مینه مې د نورو موضوعاتو پلؤ د توجه کولو سره سره په خپل اولسي او شفاهي ادب هم نظر پرېوتے ؤ ـ زۀ په ډېرو نومونو ددغې مېدان سره اشنا شوے ووم ـ دغه نومونه به په پښتو ، اردو او انګرېزي کښې ما ډېر ډېر د ډېرو نه اورېدل ـ ددې مېدان سره مینه او رغبت لرونکي اوس ښۀ ډېر وو ـ دا لکه چې اوس مقامي ، ملي او عالمي موضوع وه ـ د پوهانو او څېړنوالو د خوښې موضوع د ثقافت او معاشرت د مطالعې ـ اوس ددې سره د انساني ثقافت د ډېرو علومو پسکي لمنې تړلي شوې وې ـ په دې کښې د انساني نړۍ د معاشرتي ژوند ډېر رازونه ډېر اقدار ، ډېر حقائق او ډېر آداب مستور وو ـ په هره معاشره کښې په خپل خپل رنګ او خپل خپل انداز په دې عمل کېدو ـ سرتابي هم ترې نۀ شوه کېدے ولې چا ورته داسې په غور کتلي هم نه وو ـ نۀ خو څوک چرې ددې د افادیت کومو اړخونو پلؤ کله متوجه کېدل او نۀ چرې ددې مېدان علمي او ادبي فضائلو او ښېګړو ته چرې د چا پام راګرځېدو ـ

ولې اوس د شلمې صدۍ په سر کښې لکه چې پوهان ، عالمان او څېړنکار محققین دې پله متوجه شوي وو ـ چرته په وړه پېمانه او چرته په لویه ـ اوس د پښتونخوا په سیمه هم د علم و ادب د فروغ باد را الوتے ؤ ـ د خېبر د تورو غرونو په لمن کښې د علم و ادب چینې زېږون شروع کړے ؤ اود فکر و نظر

شاړې بنجرې ئې ابادولې ـ د نوي کهول زلمي د ژوند د ټولو حقائقو سره د اشنا کېدلو پامته دار وو ـ د علم و ادب دغې سر چينې پله ئې مخه وه ـ ځکه نو کله چې د خپل وخت د نوموړي شاعر او استاد ډاکټر رابندر ناتهـ ټېگور هغه شاگرد رشيد د يوندر ناتهـ ستهيارتهي هم د هغهٔ په خواهش او راهنمايۍ د برصغير د فولکلوري ادبياتو د لټون په نيت په پښور هم پښبه وکړه ـ نو دغې دارالعلوم ته ئې هم گام ور اوړد کړو ـ هغه د خپل غرض په لټون کښې کامياب شو ـ د پښتني فولکلور د ناوياته رنگينو سره اشنا شو ـ يو نابلده لاروے ځوک چې ددې نه هېڅ نهٔ ؤ خبر چې په دې تورو کاڼو کښې به لاد لعلونو معدن تر لاسه کوي ـ هغهٔ دغې لعلونو ته خپله لمن ويړه کړه ـ د زلمو طالبعلمانو د خولې نه ئې ډېرې لنډۍ ټپې ستائينې او ساندې واورېدې ـ زلمو طالبعلمانو به ورته په خپل خپل انداز ترجمه او وضاحت هم کوؤ د هغهٔ د زړهٔ د باغ کلۍ ورو ورو ډال کېدې ـ دا ئې هېڅ کله يقين ته نهٔ وه پرېوتې چې د تورو غرونو د شاړو شپاړو دشتونو او راهگزرونو د مرد کوهستان د فکر و نظر دا ملغلرې او لعلونه به دومره سوچه او ناوياته وي ـ بيا کله چې هغه د يو تن د خولې نه دا مصرع واوريده چې :

يـــار مـــې د مـــرگ دريـــاب لاهـــو کـــړو
زهٔ د کفـــن کشـــتۍ گنـــډم وريســـې ځمـــه

نو د بنگال د آبي او دريابي سيمې نه راغلي دغې زيرک او پوهه محقق مسافر چغه کړه چې زما استاد چې دا واؤري او ددې نه خبر شي چې د خيبر للمې د ژوند او مرگ د دريابونو سره څهٔ د خوند رنگ تړون او اشنائي لري نو بې کچه ډېر به خوشحاله شي ـ هغه د کابلي والاد افساني فنکار ليکونکے ځوک چې په ناليدلي د پښتون وگړي د کردار د سپېځلو اړخونو نه لکه چې ناخبره نهٔ ؤ، هغه به ولې د داسې مصرعو په اورېدو نهٔ محظوظه کېدو ـ هغه زيرک ؤ دوربين نگاه ؤ، نظر ئې ډېر لرې لگېدو د تورو غرونو د پازونو د پرواز په انداز پوهه ؤ ـ ځکه نو کهٔ د هغهٔ يو شاگرد په دغه الفاظو د هغهٔ د فکر د نظر ترجماني کوله نو بې ځايه نهٔ وه ـ

ددې لوبې آغاز د نولسمې صدۍ عيسوي د فرانسيسي محقق پروفېسر ډارمستېټر د کتاب د پښتونخوا ذ شغر هار و بهار څخه شوے ؤ ـ هغه ددې په

لټون پسې د پورې اوؤ سمندرونو لاره کچ کړې وه ـ د خپل استعماري دشمن او مد مقابل په مقبوضه لارو راتېر شوے ؤ او د خالصه راج په پنجاب را اوړېدلے ؤ ـ هغهٔ د بريلي نه د راغلو مجاهدينو مشرانو په هدفونو ځان خبر کړے ؤ ـ بيا ئې ددغې کشمکش د تود مېدان د سيمې اولسي سندرې د خپل تحقيق موضوع کړې وې ـ سندرې ، لوبې ، چاربېتې ، بدلې ، قيصې ، د ماشومانو د لوبو سندرې ، متلونه او په تېره تېره بيا ټپې ، لنډۍ او مصرعې ، کهٔ څهٔ هم روپۍ وړه وه خو په تول پوره وه ـ هغهٔ آخر خپل دغه کاوش پېرس ته د ځان سره يوړو په خپله ژبه ئې اوژباړو ـ ترجمه ئې کړو او خپل اولس ئې ددې د معنوي خوند رنګ سره اشنا کړو ـ

هغه چې وائي چې په اوبو کښې ډوب اوبهٔ نهٔ ويني ـ زمونږ دا خپل وګړے لکه چې هم په داسې حال ؤ ـ دوئي به په خپل شفاهي ادب مېدان ګرمي خو کوله ـ خپل د حجرې مجلسونه او بانډارونه به ئې پرې تودول ـ ورسره به د ننګ او جنګ په مېدان هم ورګډېدل ـ خپل پردېس ،مسافر او خپلوان مړي به ئې پرې يادول ـ ولې هېڅ کله ئې هم ددې علمي او معنوي اړخ ته څهٔ پاملرنه نهٔ کوله ـ دا ورته تشې د وخت تيرې او د ځان د خوشحالولو او مشغولولو ذريعه ښکاريدې ـ د ژوند د پټو رازونو د ترتيب او توضيح په حقله په دې کښې محفوظ شوؤ معنوي نکتو او خبرو سره ئې څهٔ سريکار نهٔ لرو ـ ځکه نو د اظهار او ګفتار دغه خورې ورې ملغلرې همېش دپاره لکه چې د دوئي د نظر نه پناه وې ـ دغه ټول لعلونه په خاورو کښې پټ او په ايرو خړ وو ـ د تود ډېران په ايرو کښې ، بيا کله چې د قدردانو او جوهر شناسو طلب ئې په زياتېدو شو نو خپل اولس هم ورته متوجه شو ـ د يوې ډيوې په بلېدو د نورو د بلېدو مخه روانه شوه ـ جوهريان په سېوا کېدو شول ـ اوس هر چا خپل خپل جونګ له دا ملغلرې په خپل خپل انداز راټولولې ـ چا لږې چا ډېرې ـ چا په انتخاب چا په حساب او چا بې حسابه ـ د چا سره د موضوع او مضمون خيال ؤ ولې ډېر ددې نه بې نيازه وو ـ هغوي تش د شمېر او تعداد زياتولو په حق کښې وو ـ ډېرو د لنډيو ، ټپو او مصرعو مضوعات يواځې د انسان د ظاهري خدوخال او د ګودر او ټال وغېره تر حده محدود کړي وو او هم په دغه موضوعاتو پورې ئې خپل لټون نتې کړے ؤ ـ

سترګې ، مخ ، شونډې ، خال ، زلفې ، اوربل ، مینه ، جانان ، یار ، محبوبا ، ګودر او ټال وغیره . هم د داسې موضوعاتو په ترتیب ئې خپل سفر جاري ساتلے ؤ. د هغوي دا لټون څۀ بې فائدې نۀ ؤ . هغوي خپل کار کوؤ . د ورکو په درک پسې شوي وو . درک ئې موندلے ؤ ولې ادراک ئې محدود وو . په دې چې هغوي دې لارې ته تش په دې راغب شوي وو چې نورې دنیا ورته مخه کړې وه .

بیا نو ما دا خیال وکړو چې په دې لاره هر څوک په خپله طبعه په یون دي . ټول لاروي خپله مخه وباسي . د فولکلوري مطالعې په ویړ پلن مېدان هنرمند پوهان او فکرمند ځوانان مخ په وړاندې روان دي . هره موضوع او هر مضمون ئې اوس لکه چې د واشګاف کېدو په انتظار دے . د لوېدیزې نړۍ ډېر محققین وخت په وخت راپېښېدل خپله موضوع به ئې رامخې ته کوله . بحث و تمحیص به روان ؤ . مېدان ویړ ؤ . موضوعات ډېر وو . څوک په قېصو داستانونو پسې وو . چا د ټپوس پوښتنې روایات برسېره کول او چا د پښتونخوا په دوستۍ ، تربګنۍ پسې راغستې وه . بیا یوه ورځ چې هغې خپل یو کتاب د قېصه خوانۍ روماني داستانونه (The Bazar of Story Tillers) ماته رامخ ته کړو نو ما ورته ډېر په مینه او احترام هغه خپل کتاب ,, ټپه او ژوند ،، چې ډېر کلونه پخوا مې لیکلے ؤ پېشکش کړو . هغه په دې ډېره خوشحاله شوه په دې چې هغه هم د لسانیاتو د مېدان پوهیته وه او هم ئې په فولکلوري ادبیاتو باندې ژور نظر ؤ . ځکه خو ئې د خپل قیام په دوران کښې خپل دغه کتاب مرتب کړے ؤ . دا وه نومورې مستشرقه ډاکټر ویلما هېستین چې تر دې ئې چا هم د علمي او ادبي خدماتو اعتراف نۀ دے کړے او نۀ ئې کله د پښتونخوا د مستشرقینو په اوږد فهرست کښې چا یادونه کړې ده * . څۀ کۀ هغه پوره درې کاله زما د ادبي مېدان ملګرې وه . او مونږ دواړو په شریکه د نومورې محقق ډاکټر مېکنزي سره سم په لساني ستونزو راتېر شوي وو ولې نۀ خو هغې کله په دې حقله د ځان معرفي

---

* اوس د ډاکټر محمد جاوېد خلیل چاپ کتاب ,, پښتو او مستشرقین ،، کښې ئې ذکر شوے دے او "The Bazar of Story Tillers" باندې هم خبرې ( تبصره ) شوې ده . دې نه علاوه ئې د پښتو ډکشنرۍ یادونه هم شوې ده خو د بده مرغه تر اوسه ئې هېڅ پته اونۀ لېده چې ولې چاپ نۀ شوه .

کولو خواهش کړے ؤ او نۀ چرته مونږ ته دا خیال رامخ ته شوے ؤ چې د هغې د بې وتهه خدماتو اعتراف دې وکړو۔

هغې خپل هدفونه په خپل وخت کښې ترسره کړل او بېرته ئې خپل وطن ته مراجعت وکړو۔ ولې مونږ ئې د ډېرو نوؤ علمي لارو د یون خوګر کړو۔ ددې نه وړاندې هغه ستر مستشرق استاد مؤرخ او فولکلورسټ زما دوست زما ملګرے څوک چې ډېر کلونه په ادبي او شفاهي مېدان کښې په خپل انداز په کار بوخت ؤ یوه ورځ ئې راته ووئیل چې تا چې د پښتنو ماشومانو د لوبو کومې سندرې راټولې کړې دي دا که دې راته په ټېپ اوخېژولې نو ډېره به ښۀ وي۔ ما د هغۀ خبره رد نۀ کړے شوه او د هغۀ د خواهش په مطابق مې ورله هغه ټولې سندرې په ټېپ اوخېژولې کومې چې ما څۀ موده وړاندې په خپل یو کتاب کښې ,,په پښتو کښې د ماشومانو سندرې، ، په نوم چاپ کړے دے۔ هغه زما په دې پېرزوئنه ډېر خوشحاله ؤ۔

په دغه ورځو کښې هغۀ زما د متلونو د راجمع کولو په کار کښې هم دلچسپي لرله او کوم کتاب چې ما د ټپه او ژوند په نوم مرتب کړے ؤ د هغې متن به ئې هم په غور لوستو۔ بیا داسې هم وشول چې په خپله ئې زما د راټولو کړو متلونو او ټپو د مجموعو نه د سلو متلونو او سلو مصرعو په انتخاب خپل یو مختصر شان کتاب سره د انګرېزۍ ترجمې مرتب کړو او ښۀ په خوند رنګ ئې شایع کړو۔ کتاب د مصور سعید سلطان په ثقافتي تصویرونو مزین ؤ۔ د پښتنو د معاشرتي ژوند ښه ئې لرله ۔دا کتاب د هاغې کال د دسمبر د میاشتې په وړومبۍ هفته کښې د ډنمارک په کوپن هېګن ښار کښې شایع کړے شو۔ د اشاعت تعداد ئې یو زر ؤ۔ کله چې دا مارکیټ ته راغے نو تش یو خریدار ئې د ځان دپاره اتۀ سوه کاپۍ واخېستې۔ د هغۀ په دې عمل چا د هغۀ نه تپوس وکړو چې اخر په دې دومره کتابونو به کوې څۀ۔ وېل ئې دا دے کرسمس را روان دے خپلو ټولودوستانو ته به د کرسمس د مبارکۍ د کارډ سره یو یو کتاب هم تحفتاً واستوم هم به هغوي خوشحاله کړم او هم به د محقق د کار مننه وشي او د قدر و قیمت دا خوندور کاوش به ئې خپل ځائے ونیسي۔

پادري صېب چې کله دا خبره ماته ټپرولـه نو د فخريـه انداز نـه ئې ماتـه داسې محسوسېده چې د خپل اولس د قدرداني، او علمي ذوق سره مـا اشـنا کـول غوارړي . ما ټپه او ژوند اوليکو او چاپ هم شو ولې پـه پښـتونخوا کښـې د ذوقِ نظر قحطي وه . هسې خو د پښتو اکېډيمي د مطبوعـاتو پـه شـمېر کښـې د يـو بـل تحقيقي کتاب اضافه وشوه ولې د چا لاس ته د رسېدو څۀ داسې سبيل ئې جوړ نـۀ شـو لکـه د مستشـرق آنجهـاني انولډسـن د کتـاب ,, سـپوږميه کـړنـګ وهـه راخېژه ،، چې په خپل ملک کښې وشو . ما نو ددې نه دا سبق حاصـل کـړو چـې د ټپه او ژوند نه مې لاس راکښو . ما وېل شېخه فريده خوله پټه بهتـري ده . بيـا مـې د لسان الغيب عبدالرحمان بابا په دې شعرفال ووېست چې :-

پـــــه دکـــــــان د نابينــــــاؤ جوهريــــــانو
خــــر مهـــــري لال و ګــــوهر درې واړه يــــو دي

پښتنوته دعلم و ادب د جوهريانو په نسبت کولو يواځې زۀ نۀ خطا کېږم . زما نه اګاهو هم په دې ښوئين کاڼي ډېر ښوئيدلي دي . ځکه نو ټپه او ژونـد تـه پـه وداع کولو زۀ ګرم نۀ ووم . ولې بيا کله چې تېر کال پـه ۲۰۰۹ء کښـې د دسـمبر پـه شـلمه نېټـه هلتـه پـه کابـل کښـې د علومـو او ژبـې او ادب د مېـدان د يـو سـرخېل سياستمدار عزتمند سلېمان لايق سره مې ليدۀ کاتۀ وشول نـو پـه وړمبـي ملاقـات کښې ئې راته ووېـل چـې سـتا هغـه کتـاب ټپـه او ژونـد مـې لوسـتے دے . ډېـر مـې خوښ شـوے دے . نو ماته ئې هغه تېر هېر وختونـه راپـه يـاد کـړل . بيـا مـې د ځـان سره په دې زړۀ کښې ووئېل چې ژوند بې شکه چې څۀ مـوتې اوړۀ خـو نـۀ دے چـې تمام به شي دا خو يو بحرِ روان دے چې تـل بهېږي . دايـم او قـايم . پـه دې کښـې ژوې رازېږي او هم فنا کيږي . زما او ستا پـه رنـګ ، مونږ ټول پـه دې دريـاب کښـې پـه سفر يُو . مونږه پـه خپل کار پړۀ يُو . کار راته کول دي خو دا څۀ ضروري خو نۀ ده چې څوک دې ئې سمدستي او هم نمـانځي . ضـرورت دې ئـې محسـوس کـړي يـا دې ورله څۀ علمي ادبي يـا تحقيقي مقـام ورکـړي . د اردو ژبـې بـې بدلـه سـخنور غـالب هم کله چې پېړۍ بدله شوه نو دنيـا وپېژنـدو . د ژوندانـۀ دا يـون خـو قـايم او دايم دے ځکه نو ددې قايم دايم يون مخه نيـوے کېـدے خـو نـۀ شـي . هـر کلـه چـې دا بهير هم دغسې جاري دے نو ددې د هر دور حدي خوان بـه هـم دغسـې همېش

دپاره په ټپو سندرو سر وي او د ژوندانهٔ وړاندې منزلونه به سر کوي ـ خپل مشاهدات او خپلې ستونزې به پکښې بيانوي ـ خپل فکر و نظر ، خپل قلبي واردات ، خپلې سترې، خپله غم ښادي خپلې خنداګانې ژړاګانې به پکښې يادوي ـ کله خو به پکښې ځان ته مخاطب کيږي او کله خپل جانان ته ـ کله به د فطرت د مظاهرو سره په مکالمه کښې بوخت وي او کله به د خپل اندرون سره همکلام وي ـ دے هيڅ کله هم د خپل ګرد و پيش نه بې نيازه او غافله کيدے نهٔ شي او نهٔ د خپل ماحول نه کله بهر وتے شي ـ ځکه نو ټول فکرونه او خيالونه به ئې په دې مرکوز وي ـ

دا کچــه کنــډول د هــر يــو بختــور دے
ســـفاتي دے برابـــر لـــه ســيم و زر دے
د جمشـــيد د جـــام صــفت هــر کلـــه کيــږي
دا خـــاورين لوښـــے خـــو هـــم د چـــا هنـــر دے

د محترم سليمان لايق دغې يادونې يو ځلې بيا زهٔ په خپله زړه لاره سم کړم ـ تر دغې وختـه ما د بيلوبيلو موضوعاتو په لټون او ترتيب ځهٔ موده اګاهو خواؤ شا شپږ زره مصرعې ,, د ژوند جانان ،، زير عنوان راټولې کړې او مرتب کړې وې ـ ددې خواؤ شا پنځهٔ سوه عنوانات مې د حروف تهجي په ترتيب په دغې مجموعه کښې محفوظ کړي وو ـ دا کتاب په خپل ځائے د ,, ټپه او ژوند ،، مثيل ؤ ـ هسې خو د لوستونکو د طبعې ګڼ موضوعات ئې احاطه کړي وو ولې بيا هم د ټپه او ژوند د اصل ترتيب مخې نه ؤ او نهٔ ئې کوم خاص ميدانونه په ګډه کچ کول ـ

د عنواناتو د لټون په ځائے اوس زمايه وړاندې د ټپه او ژوند د سر دوباره احياء دپاره د ګڼو عنواناتو د اشتراک مرحله سر کول وو ـ د عبد او معبود د تړون په لارو چارو او عقائدو د فکر کولو نه علاوه د ژوند سره مربوط هر ميدان ماته د خپلې مطالعې دعوت راکوؤ ـ دغه ټول ميدانونه د ټکي په ټکونو کښې په انفرادي حيثيت کښې موجود وو ـ کائنات ، عناصر اربعه ، جمادات ، نباتات ، حيوانات او په خپله انسان او انساني وجود ، کورديره ، موسمونه ، زميداره ، کردار او عمل ، ځائے ځائيګے ، ديس پرديس ، رشتې نائې ، قام قاموالي ،

دوستي خپلوي ، اخلاق او آداب وغېره داسې ډېر مېدانونه وو چې لټهون او پلټهنه ئې غوښتله - دا مېدانونه وسيع هم وو او عميق هم - په دې چې په دوئي پورې نور ګڼ موضوعات تړلي وو - داسې لکه د ثقافت او معاشرت سره چې نور ګڼ عنوانات لکه رواجونه ، دودونه ، دستورونه ، غم ښادي ، خپلوي ، تربګني ، دوستي دشمني او هندکو پښتو وغېره پيوست وو -

د پښتو اکېډيمي د قيام په وړومبو کلونو کښې به ددې ادارې په څلور مياشتنۍ تحقيقي مجله پښتو کښې يوه مقاله د کلچر ثقافت تهذيب او تمدن د عنوان لاندې واره ګرې شايع کېده - دا مقاله به په خپله ډائرېکټر مولانا عبدالقادر ليکله - مقصد ئې دا ؤ چې د پښتنو نوے کهول ددې سره اشنا کړے شي چې د جديدو علومو په رڼا کښې ددې خبرو څۀ اهميت دے او د پښتنو د کلچر او ثقافت زړے چرته پټ دے -

د موصوف ددغه قسطواره مقالې سر اخر د پښتو په فلسفه ولګېدو - دغه شان د پښتون ثقافت هغه بنيادي اقدار ئې په ګوته کړل د کومو سره چې د پښتون د زمانو راسې عملي تړون خو ؤ ولې د دوئي د ماهئيت او اهميت په رازونو ئې ځان نۀ ؤ خبر کړے - د هغۀ سره نۀ خو د مثبتي او منفي پښتو د پېژندنې څۀ خيال ؤ او نۀ ئې ددې په رواياتو د خپل محکم هوډ او استقامت په معنٰى او مطلب کله د ځان پوهه کولو پلؤ چرې فکر ورګرځېدو - دا ټولې علمي خبرې وې او د پښتون وګړي د علومو د دنيا سره رشته منقطع وه - پښتون عالم ته مُلا وې او مُلا ته ئې په درنه سترګه نۀ کتل - دا ددۀ بدبختي وه -

د مولانا مرحوم په نظر کښې د پښتو د معاشرتي او معنوي اقدارو په ذېل کښې چې کومې بنيادي خبرې راځي هغه څۀ دا رنګې دي - چې پښتون په اول او آخر مسلمان وي - د هندو ، يهودي ، عيسائي ، مجوسي يا سکهـ پښتون تصور هډو ممکن نۀ دے - پښتون به د کومې پښتنې قبيلې يوې فرد وي اصلي وي او کۀ وصلي - د هرې قبيلې سره ټل شوي پريسه خلق او خېلخانې لکه سادات ، مياګان ، عربيان ، عجميان ، ترکان او اوانان وغېره څوک هم چې په دوئي کښې راګډ شوي او پکښې پاځۀ اباد شوي او مېشتۀ شوي دي دغه ټول وصلي پښتانۀ دي - دوئي ټول د پښتو او پښتونولۍ په لارو چارو عمل کوي او په

پښتنو حساب دي۔ بله دا چې ژبه به ئې پښتو وي۔ دے په ژبه پېژندے شي۔ ژبه ددۀ امتيازدے، پښتو او پښتون يو تر بله تړلي پېرلي دي ۔ هندي او سندهي پښتانۀ چې خپله مورنۍ ژبه ورنه پاتې ده هغه پټهان او افغان خو کېدے شي ولې پښتانۀ کېدے نۀ شي ۔ځکه نو کۀ څوک د ملتان ، قصور ، جالندهر يا په تېره تېره د روهيلکنډ او دکن يا بنګالے د سيمو پښتانۀ دي دغه ټول هم په دې زمره کښې راځي ۔هم په دې جوړ دغه شان د پښتنو د ملي ثقافتي روايا تو تشکيل شوے دے۔

کله چې بيا ددغې مېدان ځينې پوهانو د پښتو د حروف تهجي سره د پښتون د فطري او جبلي خصوصياتو رګونه رېښې برابرولې نو ,,پ،، ئې په پت ,,ښ،، په ښېګړه ، ,,ت،، په توره او ,,و،، ئې په ورکړۀ حساب کړو ۔دغسې د پښتو اصل ثقافتي رنګ رو رو په جوتېدو شو۔

اوس د نوي دور پښتون په دې خبر کړے شو چې پښتون په معنوي لحاظ د کوم ثقافتي ژوند غړے دے۔ددۀ شخصيت د کومو ثقافتي عناصرو نه وده موندې ده۔او ددۀ د ژوند تېرولو معينې لارې کومې دي۔هم دا هغه مباحث دي چې زمونږ په فولکلوري ادبياتو بالخصوص په ضرب الامثالو او په لنډيو، ټپو او مصرعو کښې په رنګ رنګ انداز کښې خوارۀ وارۀ موجود دي۔

د ضرب الامثالو په معدن کښې خو کله چې د لوېديزې دنيا يو محقق ښاغلے ډاکټر لن بارټلوټي د خپلې طبعي د يو مېدان په راسرګندولو لاس پورې کړو نو دې ته ئې د علم او تحقيق د ثقافتي او کلتوري مطالعو په مېدان کښې د سرو زرو د يو معدن سره تشبيهه ورکړه او هم خپل دغې تکل هغه د پښتون ثقافت او کلتور د يو اړخ په لټون داسې ماهر کړو چې د برطانيې د سترې او معتبرې يونيورسټۍ آکسفورډ څخه د پي ايچ ډي سند ورته ترلاسه شو۔

د الله پاک په فضل د پښتو ضرب الامثالو دغه معدن زما د ډېرو کلونو د محنت ثمره وه چې د خبر ورونه ئې اوس هر چاته ښېرته وو ۔ولې اوس وار د پښتون ثقافت د يو بل معدن د رابرسېره کولو ؤ۔په دې وړومبي مېدان کښې خو د پښتون د ژوند تېرولو ناليکلے آئين او دستور مستور ؤ ولې دا بل معدن ئې د جذباتو، رواياتو او مشاهداتو امين ؤ۔

زما دوست عالم او محقق جنز انولډسن په دې راز رسېدلے ؤ څکه ئې د پښتون د روایاتو ددغې معدن د پوره سلو ملغلرو هار خپل اولس ته او لوېديزې نړۍ ته پېشکش کړے ؤ ـ هغهٔ د فرانسيسي پروفېسر ډارمستېټر په قدم قدم اېښے ؤ ـ کومې لنډۍ چې پروفېسر ډارمستېټر په خپل کتاب هار و بهار کښې هار کړې وې د هغې نه څهٔ سېوا محقق او مستشرق انولډسن په خپل کتاب سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه کښې لوېديزې دنيا ته ورسولې ـ

د هغهٔ دې تکل زما حوصله نوره هم سېوا او مضبوطه کړه او بيا کله چې ما په خپل وړمبي فرصت کښې دا موقع وموندہ چې ددغې بې کرانه سمندر څهٔ سنګرېزې، سيپۍ لکه سېرې او ملغلرې دې راټولې کړے شي او د پښتون اولس د غاړې هار دې کړے شي ، نو دا ذمه واري مې د اکېډيمي د يوې زيار کشې کارکنې سلمٰی شاهين په غاړه کړه ـ هغې خپله دا ذمه واري په پوره محنت او جانفشانۍ سرته ورسوله او په څو کاله کښې ئې خواؤ شا شپږ ويشت زره لنډۍ په دوؤ ضخيمو مصورو جلدونو کښې د حروف تهجي په بنياد لکه د يوې لغتنامې ترتيب کړې ـ دا په هره موضوع وې ـ بس داسې لکه د قديمو آريائي کتابونو ويدونو په رنګ د ژوند هره موضوع پکښې چېړلې شوې وه ـ

اوس نو ټپه او ژوند زمونږ ټولو په مطالعاتي دسترس کښې ؤ ـ وخت بدل ؤ تقاضې ئې نورې وې څکه د قسماقسم موضوعاتو لټون ته لاره خلاصه وه ـ معدن برسېره کړے شوے ؤ ـ بس دا قدرې وه چې يو ځل بيا وربانديې لاس پورې کول پکار وو ـ ولې دې له فرصت لازم ؤ توجه ورته پکار وه ـ لټون پکښې شرط ؤ او د لټون او توجه دغې عمل له د وخت فراغت لکه چې يو اهم ضرورت ؤ څکه نو خبره ځنډ شوه ـ ډېر کلونه په دې مېنځ کښې تېر شول ـ صدي بدله شوه ـ څهٔ د خپل ماحول په بدلېدو ، څهٔ د ژوند د نورو کشالو سره د مخ کېدو او څهٔ د وجود د نارغيو د مخه راته دغې مېدان ته د توجه کولو موقع په لاس نهٔ راتله ـ زهٔ اوس په خپل کلي کور ناست ووم ـ د تېرو وختونو د محفل د علمي ادبي دوستانو ، ملګرو او همکارو نه ډېر وريسته ووم ـ د بحث و تمحيص او د لټون او جستجو د شوق پوره کولو په ځائے تا دا کړي ما دا کړي په بې سرو پا خبرو سر شوے ووم ـ البته د شعر و ادب سره مينه لرونکي يو څو خوشبخته زلمي داسې هم وو چې

زما سره د مینې او دوستۍ د پت په لاره د ملګرتیا تکل ئې وکړو ـ هغوي به کله ناکله په ماپښنه کوله په خپلو ادبي محفلونو او بانډارونو کښې به ئې شریکولم ـ په دغه مجلسونو کښې به د جدیدو ادبي رنګونو د راجوتېدو سره سره د فولکلوري ادبیاتو خوندونه هم وو ـ چاربیته ، لوبه ، بدله ، نیمکۍ او په تېره تېره خوندناکې خوږې نباتي مصرعې او ټپې به مې هم پکښې اورېدې ـ دا د فولکلوري ادب هاغه بزمیه خوندونه وو چې په ما به ډېر ښۀ لګېدل او زۀ ئې یو ځلې بیا د ټپه او ژوند مطالعې او پلټنې ته ورجختولم ـ دا عمل لکه چې ډېر د قلارې او د دمې ؤ ـ په دې چې نۀ خو دا د کوم چا د تقاضې د مخه ؤ او نه د چا بل چا لادې ته داسې توجه وه ـ

بیا یوه ورځ چې ما خپلې زړې ډائریانې ، وهۍ او کاپیانې پلټلې نو ځائے په ځائے مې پکښې په هغه ټپو مصرعو سترګې خوږېدې کومې چې ما په تېرو کلونو کښې د یو بل نه اورېدلې وې او په دغه پاڼو کښې مې خوندي کړې وې ـ

کۀ څۀ هم د سلمیٰ شاهین مرتب کړې ددغې روهي سندرو هغه دواړه ضخیم جلدونه هم راسره وو ولې بیا هم ما دا اراده وکړه چې په خپلو دغه ډائریانو کښې د راجمع کړو مصرعو یوه مجموعه دې مرتب کړم ـ کله چې ما په خپل دغې تکل لاس پورې کړو نو خواؤ شا شپږ زره ټپې مې تر لاسه شوې ـ دا ټولې په یوه وړه شان مجموعه کښې راجمع شوې ولې په داسې انداز کښې چې نۀ خو دا د حروف تهجي په ترتیب وې او نۀ د بېلې بېلې موضوع او مضمون په مناسبت ـ ځکه نو یو ځل بیا مې دا کشاله را مخې ته شوه چې دغه ټولې مصرعې دې د موضوعاتو په ترتیب د یو بل نه بېلې کړم ـ بیا کله چې ما دا کار سرته ورسوؤ نو خواؤ شا پنځۀ سوه بېل موضوعات پکښې رابرسېره شول ـ کله چې دغه ټول د حروف تهجي په ترتیب ولیکلے شول نو ځان ته بېل کتاب ,, ژوند جانان ،، ورنه جوړ شو ـ هم په دې جوړ د ,, ټپه او ژوند ،، هغه تېرې هېرې سلسلې ته سر دوباره مخه سمه شوه ـ

دغسې د دین او آئین ، عقیدې او ایمان ، کائناتو ، عناصر اربعه ، موسمیاتو ، جماداتو ، نباتاتو ، حېواناتو ، بنیادمو ، د ځائے ځائیګي ، د انساني کردار و عمل ، قام ،قاموالۍ زېست روزګار ، کور دېرې ، مرګ او

ژوند ، د رشتو خپلوؤ ، یارۍ اشنایۍ ، د ثقافت او معاشرت ، سیاست او مدنیت ، د ښځو او نرو د جامې پېزار ، ډول سینګار د عمومي دودونو دستورونو، رسمونو، رواجونو ، روغ ناروغه ، د دوئي د اخلاقو او آدابو ، نیتونو او رویو ، خپلوؤ ، عزیزولو ، بیا د دوئي د کلي کلوپغۍ ، غم ښادۍ ، برخې بندې ، تپوس پوښتنې ، ناستې پاستې او د جرګې مرکې سره سره او د جنګ جګړو ، تورې ، ټوپک او په خپلو کښې د راشه درشه د دوئي د خوراک څښاک ، حجرې جومات ، ګټې، تاوان ، پیر فقیر د سلوک او عرفان نه علاوه د نفس شیطان او د بیم و رجا ، د نصیب او تقدیر ، د بخت او تخت د خېر او د شر ، د ترس ترحم د حسن و جمال د عشق او رومان او د بېلتون او وصال په رنګې ګڼ موضوعات رابېل کړے شول ـ د بې شماره موضوعاتو په دغه ناپاوه سمندر د ورګډېدو تکل د ,, ټپه او ژوند ،، د سر دوباره مطالعې مخه روانه کړه ـ

# دین او ایمان

کله چې د بېلې بېلې موضوع د مطالعې وخت راغے نو کومه وړومبۍ مصرع چې مخې ته راغله هغه د توحید و عرفان نادره موضوع وه ـ هغه دا چې الله تعالیٰ څوک چې حئی و قیوم دے هغه حسن کل د لازواله او د ابدي حسن خاوند هم دے ـ ځکه نو کله چې د یو عارف رباني ساده پښتون ورته پام شو نو ووې وئېل چې :-

تلــــه د نمـــــر اســــمان تــــه لاړه
مـا چــې دا ســتا حســن د نمـر سـره تالـۀ نـه

د معرفت دغه منزل ته رسېدل او په خپل ځان کښې هاغه خوبي او صلاحیت پېدا کول چې هم پکښې ددغې حسن و جمال د خپل زړۀ په کور کښې د مېشتۀ کولو توان طاقت وي او هم ددغې حسن د کرشمو د لیدلو او مشاهده کولو دپاره بې وېه فکر او نظر لري ـ د داسې صلاحیت موندلو او په خپل ځان کښې ددغه مشاهداتو د توان پېدا کولو نسخه هم هغه ته معلومه وه هغه دا وه چې :-

خـــوب چــې کـــوي خـــاورې بـــه یوســـې
شـــاه د هغـــو چـــې شـــوګیرې پســـې کوینـــه

داسې وېلے شي چې د خپل وخت عارف رباني اخون عبدالغفورؒ د سوات هاغه باباجي یوه ورځ چرته د خپلو هم مشربو ملګرو سره په یوه لاره تېرېدو چې په قچر سور یو تن ورله په مخه راغے دغه سور چې په دوئې راتېر شو نو په اوچت اواز ئې دا ټپه لړه کړه ـ چې :

خـــوب چــې کـــوي خـــاورې بـــه یوســـې
شـــاه د هغـــو چـــې شـــوګیرې پســـې کوینـــه

هغې بزرګ چې کله دا ټپه واورېده نو د ځان سره ئې ووئېل چې د خدائے بنده د هغه پار نيم خوب کولو نه دې هم محرومه کړم ـ دا د معشوق د طلب او د محبوب د لټون او ديدار هاغه آرزو ده په کوم پسې چې ريښتوني عاشقان په خپل ځان خوب خوارۀ حرام کړي ـ بيا چې کله تر دغې منزل ورسي او د خپل محبوب سره محو کلام شي نو ورته وائي چې :

د سپينې خولې قيمت دې وايه
چې سر پرې ورکړم باقي دار به خومره شمه

هغه د يو سالک په شان چې ـ

هر دو عالم قيمت خود گفته
نرخ بالاکن که ارزان هنوز

اوس نو کله چې ددې لارو لاروي د خپل منزل په تکل روان شي نو خپل مالک حقيقي خپل خالق پروردګار الله پاک ته ئې مخه شي ـ رجوع ورته وکړي او په دې ئې محکم يقين او ايمان شي چې :-

يو وار ثنا د الله ښۀ ده
نۀ واړه عمر د خوبانو صفتونه

بيا ئې هم دا وظيفه شي ـ د الله پاک په يادو کښې مشغول شي او د فکر و نظر ټول انعطاف ئې هغۀ پله شي ـ د دست به کار او دل به يار په مصداق د خپل عملي ژوند ګاډے روان کړي ـ د ظن و تخمين په ځائے د يقين او ايمان لاره خپله کړي او په حال و قال دواړو کښې ددې معترف شي چې :-

اول د خدائے د خدايۍ ځار شم
دويم ئې ځار شم د رسول د صفتونه
خدائے مې باچا رسول وزير دے
زۀ د وزير په وساطت باچا له ځمه
خدايه حبيب ص زما طبيب کړې
چې په ترتيب مې په زخمونو پاهې ږدينه
خاونده سل ځلې ژوند راکړې
چې د اسلام په ننګ سل واره شهيد شمه

چـــې خـــدائے قاضـــي رســـول شـــفیع شـــي
زۀ بـــه دعـــویٰ پـــه بـــې وفـــا جانـــان کومـــه
چـــې خـــدائے رســـول ورتـــه پـــه قـــار شـــي
نصیب ئـې خـوار شـي د شـېطان پـه لاره ځینـه
خـــدائے دې زمـــا د بـــاغچې ګـــل کـــړه
چـــې هـــر ســـحر دې پـــه دیـــدن اوبـــۀ کومـــه
خدایـــه زمـــا جانـــان دې واخېســـت
زۀ بـــه پـــه تـــورو جـــامو اور ولګومـــه
خاونـــده مـــرګ مـــې د ځـــوانۍ کـــړې
چـې پېغلـې جونـه مـې زیـارت لـره راځینـه
خدایـــه مـــرګے مـــې د ځـــوانۍ کـــړې
چـــې جنـــازه مـــې د ارمـــان ســـره وړینـــه
خاونـــده ماشـــې پـــرې لګیـــا کـــړې
چـې سـنبال کـړے کـټ کـوټې تـه خېژوینـه
خـدائے دې پـه داسـې وخـت کښـې راکـړه
چـې غـنم ترنـګ وربشـو بـور نیـولے وینـه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لاز کښـــې راکـــړه
کـــۀ تـــۀ شـــرمېږې لاس بـــه زۀ درواچومـــه

دا کېفیـات او خبـرې کـۀ هـر څـو سـاده دي خـو د سـاده بـاده کلـي وال ایماندار پښتون د زړۀ یو داسې اواز دے چې هم ئې ایمان محکم دے هم ئې یقین پوخ او هم ئې د مینې انداز ببخي انساني دے۔ د نیکې او بدې لارې فرق کولے شي۔ د الله پاک په اسماء الحسنیٰ ئې زړۀ شاهد دے۔ د هغۀ د رسولﷺ ذات او صفات د خپل ژوند رڼا ګڼي او د هغۀ رهنمائي او رفاقت د خپلو رنځونو مداوا او علاج ، د اسلام مینه په ځان حق او ددې دپاره هره قرباني په ځان لازمه ګڼي۔ په یوم حساب ئې ایمان دے او د ظلم زور په خاوندانو د هغوي دلاسه په دې دنیا د جبر او ظلم په رویه د ځان دپاره د انصاف په تقاضا او ددې په موندلو

ئې پوره باور او يقين د ے .مينه خپل حق ګڼي او د خپل جانان د خپلولو د پاره ئې هر کله خپل دواړه لاسونه دعا ته کچکول کړي وي .په دې يقين او په دې ايمان چې الله پاک په هر څۀ قادر د ے.

الله د لـــــوئے قـــــدرت خاونـــــد د ے
چـــې ودرولـــې ئـــې دي بـــې ســـتنو آســـمانونه
الله دهـــــر چـــــا نـــــه خبـــــر د ے
کـۀ څـوک پـه سـلو پـړدو پـټ کـوي کارونـه
الله مالـــــــک رازق خـــــــالق د ے
رزق پـه هـر ځـائے کښـې هـر چـا لـه ورکوينـه
چـــې پـــاک الله چـــا ســـر مـــل وي
څـۀ وي دشـمن څـۀ د دشـمن تـوپې ټـينکونـه
الـــــف الله تـــــه حـــــال معلـــــوم د ے
مـــچ او انســـان لـــه د روزۍ زېرمـــه کوينـــه

د الله پاک د معرفت او پېژندنې د لارې په راهنما نبي آخرزمان رسول مقبولﷺ د چا په شان کښې چې د پښتونخوا ملي شاعر په حقه دا وېنا کړې ده چې :-

د خـدائے عرفـان مـې وشـو پـه عرفـان د محمـدﷺ
پـاک د ے محمـدﷺ پـاک د ے سـبحان د محمـدﷺ

د خپل غېر متزلزل ايمان او ايقان اظهار چې کله په خپل ساده باده انداز کښې کلي وال پښتانۀ کوي .نووائي چې :-

اول الله دوېـــــــــــم رســـــــــــول د ے
درېـــم قـــرآن څلـــور يـــاران د رســـول دينـــه

دغه شان د خپل ژوند د روښانه کولو په خاطر او د ,, وَلِبَعْثَ بَعْدَالْمَوْت ،، مخه ئ د نور او عرفان دغه مثالونه خپلې مخې ته ايښې وي . بيا کله چې د عملي ژوند په سفر روان وي نو د خپل زړۀ کومه فطري ذريعه چې ئې مخې ته راځي او د چا د موندو سوال چې ئې په زړۀ کښې غزونې کوي هغه دا وي چې ورکوؤنکے

او حاجت روا بس يو الله پاک دے ـ هره ګرانه هغۀ ته اسانه ده هره آرزو او هر ارمان سرته رسوؤنکے يو الله پاک دے ـ هم هغه حاجت روا دے او هم هغه د سکون او اطمينان ذريعه دے ـ ,, اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَ فِي اْلاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّار ،، نو کله چې د خپل زړۀ د ارمانونو تار ټنګوي نو وائي چې :-

الله تـــــــــه ډيـــــــــره ده اســــــــانه
چـــې زۀ اوښـــبه يـــم او لېلـــی پـــه کـــډو ځينـــه

ولې ژوند خو همېش دپاره په يو حال نۀ وي ـ دا بدلېږي رابدلېږي ـ رڼا او تيارۀ تل د يو بل په تعاقب کښې وي ـ ځکه نو کله پکښې سکون او ارام وي او کله پکښې بد مزګي او ناقلاري ـ کله سپرلے وي او کله خزان ـ دا هر څۀ د ژوند سره تړلي پېرلي دي څوک ترې انکار نۀ شي کولے او نۀ ورنه تېښته او فرار کېدے شي ـ خوشحالي په خپل وخت راځي او غم په خپله نېټه ـ څومره چې د ژوند خوشحالي ډېر انواع و اقسام لري دغسې ئې بخڅه د غمونو نه هم ډکه برجکه ده ـ په داسې حال کښې که د شکر او احسان مخه ئې الله پاک پله ګرځي نو د فرياد او امداد سوالونه هم د هغۀ نه کوي ـ د خپل فرياد او خپلې ژړا اورېدونکے بس يو خپل خـــالق او مالک ګڼي ځکه خو چې د داسې کوم حال سره مخ شي نو وائي چې :-

تـــــــــالاوالاشـــــــــومه خاونـــــــــده
پـــه زيـــړو ګلونـــو مـــې خـــزان ولګېدنـــه

مينه او ايمان دوه داسې صفات دي چې په زړۀ کښې ورله ځائے ورکيږي ـ مينه هر څوک کولے شي ـ دا د هر چا سره کيږي ـ په هر جوړ کيږي ـ دا انساني جبلت دے کمزوري ئې ده ـ ايمان د دين سره تړلے دے دا عقيده ده يقين دے ـ په الله پاک او د هغۀ په پاک پيغمبر صلي الله عليه وسلم او په هاغې تعليماتو چې د اسلام دين ورباندې قايم دے ـ ځکه نو ايمان د مسلمان د قلب او روح دواړو سره تړلے پېرلے دے ـ بيا هر کله چې پښتون وګړے اساساً مسلمان دے ځکه نو دا هېڅ کله هم ممکن کېدے نۀ شي چې د روح او قلب نه دې ئې ايمان بهر شي ـ دا

ددې وګړي د ښځې نر خاصه ده ـ ددې دپاره دې د علم و عمل دواړو نه که څهٔ هم ظاهراً بې پروا ښکاري ولې بيا هم دغه شمع ئې لکه چې همېش دپاره په وړاندې بلېږي ـ ځکه خو غافل کېدے ترې نهٔ شي او کله چې څهٔ داسې حرکت يا عمل ورنه سرزد شي چې خود تنقيدی ته ئې مخه کړي نو د خپلې دغې کمزورئ اظهار څهٔ داسې وکړي:-

بېګــا مـــې ســتا کلـــي تـــه مـــخ شـــو
شـــپه د جمعـــې وه پـــه ايمـــان اوويرېدمـــه

ددهٔ په خيال لکه چې بېلتون هم د ايمان خاوند وي ـ مجسم بېلتون د پښتنو په معاشره کښې د غماز او رقيب په صورت کښې هر چرته موجود وي ـ ځکه نو په ګوته کول ئې څهٔ داسې ګران نهٔ وي ـ بيا دا چې د معاشرتي ژوند په اډانه کښې د تړون او بېلتون لوئے لاس وي ځکه نو تړون د ايمان روزي کېدو سبب کيږي او بېلتون د ايمان د خوارېدو ـ بيا کله چې څهٔ داسې حادثه پېښه شي نو هغه څوک چې ددغې پېښې سره مخ شوے وي هغه د کومې داسې ناپسندئ په باب له وائي چې :-

زمـــا جانـــان دې رانـــه بېـــل کـــړو
په سر ميرات شي په ايمان خوار شي بېلتونه

ايمان په اصل کښې د پخې عقيدې ، جرأت ، غېرت ، تورې او مړانې مرکب وي ـ دا بغېر د داسې خوبيانو نه نيمګړے او بې معنې وي ـ هم ددې په برکت انسان د خوف ، طمعې ، لالچ ، اسرې وغېره د بندونو نه آزاد وي ـ رجوع ئې يو الله پاک ته وي د هغهٔ په رضا ئې رضا وي او د هغهٔ په مينه مست وي ـ ځکه نو هغه څوک چې دا خوبي نهٔ لري هغه د ډېرو شخصي کمزورو او نيمګړتياؤ سره مخ وي ـ ايمان ئې کچه وي کمزورے وي ـ بيا نو که داسې څوک په ظاهره د تور بريښ مظاهره کوي هم نو هغه اصل کمزوري ئې نهٔ پټېږي او هغه چې په مخالفت کښې ئې ولاړ وي هغوئ ورته وائي چې :-

ايمـــان دې ښـــهٔ راتـــه معلـــوم دے
پـــه بـــازاري برېتـــو دې مـــهٔ وهـــه لاســـونه

مینه د ایمان ملګرې ده ـ څوک چې د ایمان خاوند وي د هغهٔ به ضرور د الله پاک او د هغهٔ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه وي ـ د هغوي د ښودلې لارې متابعت به کوي ـ په احکامو به ئې عمل پېرا وي ـ د خپل محبوب سره د مینې د اظهار بس هم دغه لار ده ـ

ددې عالم آب و ګل مثال د باغ دے ـ انساني نوغے چې الله پاک په احسن تقویم کښې پېدا کړے دے ددې باغ ښائست دے ـ ددې باغ ګلبوټي ، ګلونه هاغه پېشروان ، پېغمبران ، انبیاء علیه السلام او نېکو کاره انسانان وو کوم چې د پاک حضرت صلی الله علیه وسلم نه وړاندې تېر شوي وو او هاغه صادقین ، صالحین ، شهیدان ، صوفیا او اولیاء چې پس روان ئې دي او ددهٔ په پاک ذات باندې تل درود و سلام وائي ـ ددغې پاک رسول صلی الله علیه وسلم څوک چې مجسم نُور ؤ په حقله د معرفت په ژبه د اظهار په دې ساده سپېځلي انداز کښې د خوندونو یوه دنیا مخفي ده ـ الفاظ ساده دي معنې ئې ژورې دي ـ مطلب ئې ښکاره دے ـ غور او فکر غواړي ، توجه طلب دي وائي :-

رسول الله په باغ ګډ ېږي
ګلاب شرمېږي مخ په پاڼو پټوینه

اللهم صلی علی محمدٍ و علی ال محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی ال ابراهیم انک حمید مجید ـ

دا دصاحب معراج ص د مقام په ګوته کولو یو داسې انداز دے چې د رحمت عالم ص د ذات د عظمت نشاندهي کوي دا ئې د ارضي او انساني وجود ذکر ؤ ـ ولې هاغه مقام چې دے پکښې صدرة المنتها او قاب قوسین هوه ادنٰی ته رسولے شوے ؤ ـ د هغې په حقله هم د اظهار دا مثالونه چې په ساده باده انداز کښې لکه چې دریاب په کوزه کښې بند کړے شوے وي ـ

نهٔ لا کرسي وه نهٔ لا عرش ؤ
ستا د جمال ستورے جهان کښې ځلېدنه
رسول الله براق ته خېژي
د فرښتو ورته ولاړ دي قطارونه

چـــې پـــاک رســـول پـــه بـــراق ســـور شـــو
پاس پـه اسـمان کښـې مـلائـک پـه تعظيم شـونه

په خپل داسې نبي صلی الله عليه وسلم باندې د ايمـان لرلـو، ورسره د عقيـدت، مينې او ترون د اظهار لار خو يا د هاغې دورد و سلام ده چې هر مسلمان ئې هر کله په هر نمانځهٔ کښې او په خلا او ملا، پټ او ښکاره په ژبه راوړي او يا بيا په داسې انداز کښې ده چې په مينه مست ارماني زړونه ئې هر کله يادوي او دا ئې آرزو وي چې کله خو ئې په هاغې ارام ګاه ګذر وشوے کوم مقام چې پخوا په يثرب موسوم ؤ ولې بيا په مدينة النبی ص باندې ياد شو ـ کله چې ددغه ارماني ولې بې وسه انسان آرزو نهٔ پوره کيږي نو د خپل سلام دپاره د سحر د ايشمې پامته دار او محتاج شي او ورته وائي ـ

چـــــې وضـــــحٰی د چـــــا خطـــــاب دے
زهٔ د هغـــې بشـــر اثـــر پـــه ځـــان منمـــه
بـــــاد صـــــبا يثـــــرب تـــــه لاړ شـــــه
پــه پــاک رسـول مــې ډيــر ډيــر وايــه سـلامونه

دغې داعـي د الله پـاک اخري پيغمبر ص چې کوم دعوت د انسـاني نوغي دپاره راوړو هغه اسلام ؤ ـ دا تسليم کېدل وو د الله پاک صحيح لارې ته ، دا تسليم کېدل وو د هغهٔ بندګۍ ته عبديت ته ، د هغهٔ رضا ته ، عدل ته، حق ته ، انصاف ته ، احسان ته ، اخوت ته ، همدردۍ ته ، داد رسۍ ته ، خېرښېګړې ته ، دا د ژوند د تېرولو هغه نېغه لاره وه چې ناقلاره او بې ټيکاوه ژوند ئې د سکون او اطمينان سره په وړاندې د بوتللو جوګه کولے شو ـ دا اسلام او دا نېکۍ ، تقوٰی او عافيت لاره وه ـ دا د تسليم و رضا نوم ؤ کوم چا چې ددې دپاره خپل سر و مال په داؤ کولے شول د هغوي دپاره د پښتنو جذبه څهٔ دا رنګې وه ـ چې وائي :-

چـــې پـــه اســـلام بانـــدې ســـر ځـــار کـــړي
خدايـــه د داســـې شـــاه زلمـــو نـــه لـــوګے شـــمه

د يو مسلمان دپاره د کامل ايمان په شرائطو کښې يو شرط دا هم دے چې د ايمان خاوند به د الله پاک د ذات او د هغهٔ په رسول صلی الله عليه وسلم باندې د کامل ايمان لرلو سره سره د هغهٔ په ملائکو، په ټولو نازل کړو اسماني کتابونو،

د هغهٔ په مبعوث کړو رسولانو او د هغهٔ د طرفه د هر خير و شر دې نړۍ ته په مخ کولو او د مرګ نه پس په بيا را ژوندي کېدو چې دغه ژوندون به د همېش دپاره وي ايمان لري.

په ملائکو د ايمان لرلو په دې شرط کښې د ملائکو شمېر او تعداد معلوم نهٔ دے. البته په دوئي کښې ځينې مقربې ملائکې هم دي. په دغه مقربو ملائکو کښې هرې يوې ته خپله خپله ذمه واري ورکړے شوې ده. دوئي خپله دغه ذمه واري د ازل نه تر ابده سرته رسوي. په دې مقربو ملائکو کښې يوې ته جبرائيل [۴] وائي چې په روح القدس هم ياد شوے دے. دا د الله پاک هاغه استاذ دے چې هم ئې د وحي راوړلو ذمه واري په غاړه ده هم د عيسٰی مسيح د زېږېدو او هم ورته په معراج مصطفٰی صلی الله عليه وسلم کښې د هغه د ملګرتيا او د عرش معلٰی تر بلنديو ورسره د همرکاب کېدلو شرف حاصل دے. هر ساده باده ايماندار پښتون په دې خبر دے او ددې خبرې اقرار څهٔ دا رنګې کوي.

تـــاج د لــــولاک دې مبـــارک شـــه
شــپه د معــراج ده جبرئيـل وحــي راؤړينــه
جبرئيـــل راغـــے رســـول بيـــا ئـــي
پــه ســرو منګلــو ورلــه تــړي رکابونــه

د داسې اولوالعزم پېغمبر د امتي پښتون په دې کلک ايمان او پخه عقيده ده چې که په يو انسان کښې د څهٔ قسم باطني او روحاني مرضونه وي خو هر کله چې ايمان ئې صادق شي نو پاک حبيب ئې طبيب شي. د هغهٔ په تعليماتو په عمل کولو ئې دغه ټول امراض او ټولې روحاني او قلبي ستونزې لرې شي. شفاياب شي. د شر نه بچ شي د خير په لاره روان شي. د شيطان وسوسې ئې بې لارې کولے نهٔ شي او نهٔ د نفس په غلامۍ کښې بيا راتلے شي. په دې يقين سره :-

چـــې پـــاک حبيـــب د چـــا طبيـــب شـــي
کهٔ په نا علاجه مرض پروت وي جوړ به شينه

هغه د امت غمخوار دے. د دنيا او اخرت دواړو د لارې راهنما ئې دے. شفيع دے. د ګناهګار امت شفاعت کونکے او د کوثر د جام وېشونکے دے. څکه کله

هم چې څوک پښتون په خپلو کوتاهیانو، خپلو بدرهو او خپلو ګناهونو ستومانه شي نو بس هم دغه وسیله د خپل خلاصون او نجات ئې مخې ته وي۔ وائي چې :-

د خـــدائے رســـول زمـــونږ شـــفیع دے
پــه شـفاعت بــه ئـې مـونږ ټـول جنـت لــه ځونــه
د شـــفاعت پـــه لـــوئے مېـــدان کښـــې
د خدایــه غــوارم بمبـار شـوي خوئېنـدې ورونړــه

پس له مرګه د مومنانو د استوګنې هاغه مقام چې دوئي به پکښې همېش دپاره په سکون او په ارام د خپل خالق او مالک په مينه مست په عبادت کښې مشغول او د هغهٔ په ديدار مشرف وي۔ هاغه مقام ته جنت وائي۔ په قرآن کريم کښې ځائے په ځائے ددې ذکر موجود دے۔ دا د خلاصون او نجات هغه مقام دے چې نهٔ خو به پکښې څوک غمژن وي او نهٔ فکر مند او ستومانه۔ ولې دغه ځائے د هغه چا دپاره مختص دے څوک چې د الله پاک او د هغهٔ د پاک پېغمبر په ښودلې لار روان وي۔ هم ئې ايمان محکم وي او هم ئې عمل صالح وي۔ د حق د لارې ملګرے وي او په دغه لار کښې چې د کوم امتحان سره مخ کيږي غاړه پسته ورته ورغاړې وزي۔ د داسې ازمېښتونو عالي منزل شهادت دے ځکه خو وائي چې :-

جنـــت د هـــاغې خلقـــو ځـــائے دے
څوک چې د عشق په تېغ شهيد ګور له ورځينه
احمـــــده رب دې جنتـــــې کـــــړه
د هندوســـتان پـــورې دې کـــړې جهادونـــه

پښتون په هېڅ حال کښې د جنت د تلو او د الله پاک د رحمت او د هغهٔ د فضل و کرم نه نا امېده کېدے نهٔ شي۔ ولې چې په دې ئې پوره يقين دے چې د جزا او سزا ټول اختيار د هغهٔ سره دے۔ انسان بې وسه دے ځکه نو رضا به قضا ددهٔ مقدر دے۔ ددې نه مفر او خلاصون نهٔ شي کېدے۔ کهٔ رضا ئې وي د جنت لاره به ورته ازاده کړي او که داسې ونهٔ شي نو چې د هغهٔ رضا په دې کښې ده چې د مکافاتِ عمل سزا دې ګناهګار له ورکړي نو د پښتونوالي شبوه لکه چې دا ده چې د هغهٔ مرضۍ ته دې غاړه بسته کړي۔ د يار په رضا دې راضي وي او د هغهٔ

له خوا صادر شوې سزا دې په ځان په خوشحالۍ ومني .دا پښتو ده د خپلې خطاکارۍ اعتراف دے ځکه خو وائي چې :-

کـــــۀ راکــــوي جنـــــت بـــــه راکـــــړي
ګنـــې دوزخ تـــه پـــه ســـورو ډمـــامو ځمـــه

صديقين ، شهيدان ، صالحين اولياء او بزرګان د جنت د لارې لاروي دي .دوئي ته لو ته د جنت دروازې خلاصې دي .دوئي د الله پاک په پناه کښې دي .د الله پاک په لاره کښې خپل سر ورکول او د هغۀ په مينه ځان قربانول لکه چې د پښتون شېوه ده .دا ئې افتخار دے .په دې ئې ايمان دے چې شهيد نۀ مري هغه همېش دپاره ژوندے وي .د ژوندانۀ رزق ئې د الله پاک د طرفه مقرر وي په دې چې :-

شـــــهيدان تـــول د خـــدائے دوســـــتان دي
ځکـــــه ســـــرونه د الله پـــــه رضــــا ږدينـــــه
د شــــــهادت پـــــه طمــــع ناســــت يـــــم
چـې بـه مـې يـار پـه مـرۍ کلـه ږدي لاسـونه

د شهادت د داسې سپېځلي انجام ترون په پښتنه معاشره کښې د تورې ، ننګ ، غېرت ، مېړانې او د ناموس سره دے .د فتحې او نصرت زېرے ددې سره تړلے پېرلے دے .دا کۀ د هرې ننګيالۍ پښتنې مېرمنې پېرزوئينه ده نو د مېوند د ملالۍ د توربرېښ ناره هم ده لکه چې وائي :-

تـــۀ د اســــلام پـــه ننـــګ شـــهيد شـــه
زۀ بـه خپـل شـال سـتا پـه زيـارت وغوړومـه
کـــۀ پـــه مېونـــد کښـــې شـــهيد نـــۀ شـــوې
ګرانـــه لاليـــه بـــې ننګـــۍ لـــه دې ســـاتينه

د شهادت پـــه اوچتـه مرتبه د فائز شوؤ خلفائې راشدينو نه علاوه د صدر اول په شهيدانو کښې د بدر و حنېن او د اُحد د غزاګانو د شهيدانو مقام او مرتبه د اسلامي تاريخ د ننګونو روښانه باب دے .په دې شهداؤ کښې د عم رسول حضرت اميرحمزه مقام ډېر جوت دے .دے سيدالشهداء يادېږي .د عقيدتمندۍ د مخه وړپورې په پښتو کښې هم ډېرې ستائينې وئيلې شوي دي . هغه د اُحد په غزا کښې شهيد شوے ؤ او د ابوسفيان ښځې چې هنده نومېده ئې

زړۀ د سينې نه راوېستې ؤ او اوم ئې جوئيلې ؤ ـ هغه د احد د شهيدانو امام ګڼلې شي ـ د احد د عزا نه اګاهو د هغۀ د تيارۍ په ضمن کښې ئې وئيلي دي چې :-

رســـول چــې اس تـــه نظـــر وکـــړو
ســامان د جنـګ پــرې ميــرحتم تــړلې وونــه

د اسلام د فروغ دپاره د ننګ او جنګ د تاريخ کومه سلسله چې د هاغه وختونو راسې را روانه ده دا به هم دغه شان جاري وي ـ دا يو روان عمل دے مسلسل او نۀ ختمېدونکے ـ د احد د شهيدانو ددغې امام په شهادت پورې چې کومې لنډۍ جوړې دي څۀ پکښې دا رنګې دي چې :-

علــي حېــدر رض پـــه ژړا ســـر شـــو
رسـول د خـدائے ص چـې ورتـه ووئيـل حالونـه
علـــي رض تـــه وائـــي تيـــارېږه
ميـرحتم رض مـړ دے پـه اس ځکـه دي زخمونـه
علـــي رض وئيـــل نـــۀ ايســـارېږم
د دشـــمنانو بـــه زۀ خـــوني ورانومـــه
علــي رض چــې هاغــه ځــائے لــه راغــے
پراتـــۀ پـــه زمکـــه وو د غشـــو انبارونـــه
علــي رض چــې مــړي تــه نــزدې شــو
د ميــرحتم رض تنــې پــرې وکــړل آوازونــه
علـــي رض وئيـــل مـــۀ خفـــه کېـــږه
ستـا پـه يـو سـر پسـې بـه پرېکـړم زر سـرونه

شاعر مشرق علامه اقبال څۀ د خوند وېنا کړې ده چې وئيلي ئې دي چې :-

*ستیزہ کار رہا ہے ازل سے تا امروز*
*چراغ مصطفوی سے شرار بولہبی*

هم دا هغه عمل دے چې مونږه ئې لانن هم په خپلو سترګو وينو ګورو او مشاهده ئې کوؤ ـ ولې هاغه څوک چې د مضبوط ايمان او کلکې عقيدې خاوندان دي هغوي د خدائے تعالیٰ په تکيه او په هغۀ په توکل خپله مخه وباسي ـ د باطل

مقابلې ته تکړه تیار او چمتو ولاړ وي ـ دا که د کفر و الحاد خلاف وي که د شر او فساد یا که د استعمار په ضد وي او که د محکومۍ او غلامۍ نه د خلاصون په حق کښې وي ولې په الله پاک توکل لرونکي د خپل منزل او خپل هدف په لور ورمخکښې کیږي ـ په کومو ورځو کښې چې د جنوبي اېشیا نیمقاره د لوېدیزې نړۍ د یو استعماري سپر طاقت په قبضه کښې وه په هاغه ورځو کښې به د توکل د لارې خاوندانو دا وئیل چې :-

توکـــل پـــه خـــدائے هـــر څـــۀ چـــې کیـــږي
د څرخـــې ډز پـــه مانچســـتر بانـــدې کومـــه

هم د دوئي دغې ډزو او اخر یونین جیک سرنګون کړو ـ د مانچسټر لارې ئې بندې کړې او د ښکېلاک مزي ئې اوشوکول ـ ازادي ئې تر لاسه کړه خپل منزل ئې وموندو او د هاغې لارې لاروي شول چې د ازادې دنیا نور قامونه او اولسونه وربان‌دې روان وو ـ دا یقین او باور ئې تش په خپل ځان نۀ ؤ بلکې اصل قوت او طاقت چې ئې د چا په قبضه کښې ؤ هغۀ ته په توجه کولو او د هغۀ په مرسته ئې تکیه او توکل ؤ او وئیل به ئې چې :-

زمـــــا پـــــــه هاغـــــــه رب توکـــــــل دے
چـــې پېـــدا کـــړي ئـــې دي دا زمکـــه اســـمانونه

خیر او شر دواړه د الله د طرفه دي ـ د دوئي یوتر بله تړون تقدیر دے ـ تقدیر د الله پاک مشیت دے ـ وَلَقَدَرِ خَیۡرِهٖ وَ شَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰی ځکه نو نصیب او تقدیر د انسان د وس او دسترس نه بهر دي ـ دے ئې بدلولے نۀ شي ـ په دې خو پښتنې میاندې هم چې کله په خپلو لوښو د ژوند هره خوشحالي پېرزو کول غواړي نو ورسره دا هم وائي چې لورې تخت به زۀ درکړم بخت دې خدائے درکړي ـ داسې ښکاري لکه چې په دې ئې یقین وي چې تخت د سعي او کوشش سره تړلے دے او بخت په مشیت رباني باندې انحصار لري کۀ هغه غواړي نو یو انسان له هره دنیاوي خوشحالي ارام او راحت ورکولے شي او که غواړي نو دا هر څۀ ورنه تروړلے هم شي ـ د مشیت په دې حقیقت هر پښتون نارینه او زنانه خبردار دے او هغه څوک چې حقیقت اشنا دي هغوي په دې پوهېږي چې سعي او تقدیر که د

یوې لارې همسفر لاروي هم وي ولې لارې ئې هر کله بیلېدے هم شي ځکه خو هوښیاران وائي چې پاکه خدایه کهٔ باچائي درنه وغواړم نو نهٔ ئې راکوې ولې کهٔ ګدائي درنه وغواړم نو کند کچکول تیار دي۔ولې هاغه چې د سعي او کوشش نه مخ نهٔ اړوي د هغوي د الله پاک په مشیت او په خپل تقدیر د کامیابۍ او کامرانۍ سره د مخ کېدو دومره پوخ یقین او ایمان وي چې کله خو لکه د یو غریب زیارکش ، محنت کش ، مزدور خټک داسې ووائي چې خدایه پاکه یو خرګے او یو تبرګے درنه غواړم۔نور د روزۍ نه مې خلاص ئې۔دا خرګے او تبرګے وسیله ده د رزق روزۍ د پېدا کولو۔دا د سعي او کوشش په ذریعه موندل غواړي په دې کښې کامیابي او ناکامي مشیت دے او دا تقدیر دے ۔روزي رسان الله پاک دے ولې وسیله او ذریعه پېدا کوؤنکے هم هغه دے ۔انسان په خپل محنت پړ دے او د محنت او کاوش نتیجه د ځان دپاره د رزق ، روزۍ فراخي او اساني پېدا کول دي۔هم ددې پس منظر په رڼا کښې داسې وائي چې :-

ما د تدبیر قلم ته لاس کړو
تقدیر په لاره تېرېدهٔ په خندا شونه
ما د تدبیر قلم ته لاس کړو
تقدیر پلوؤ د خندا خولې ته ونیوؤنه

هسې خو نهٔ وائي چې د ژوندانهٔ د رفاقت جوړې پاس په اسمانونو کښې جوړېږي ځکه نو د مرد و زن تړون د انسان د وس نه بهر دے ۔دې ته د تندي لیک وائي چې ناموافق هم کېدے شي او موافق هم۔په وړمبي صورت کښې چې کله داسې وشي نو په خپل نصیب ثوک ګیله مند که داسې وائي نو بې ځایه نهٔ وي چې :-

کهٔ د نصیب کارونه نهٔ وے
ما خو د داسې خلقو درته نهٔ کاتهٔ نه

ولې هر کله چې دا د نصیب کارونه دي ځکه وائي چې که په نصیب قے درشي نو ژامې پرې کلکې کړه په دې چې :-

یو په مشرق بل په مغرب وي
چې تقدیرونه سره یو وي یو ځائے شینه

د ژوند او مرګ سره تړلے د انسان دا مشيت څۀ داسې نۀ دے چې خلاصون ترې ممکن دے ـ موافق او مخالف تقديرونه هره ګړۍ او هره لمحه مصروف کار او مصروف عمل وي ـ دا لکه د روان درياب يو مسلسل عمل دے ـ دا تل بهېږي او د زمان او مکان په وسعتونو خور دے ـ د کوتې چت که سورے وي نو دا تقدير دے چې به راځي ـ ځکه نو رضا به قضا د انسان مجبوري ده ـ هسې خو نۀ وائي چې :-

پربېـــــږده چـــــې هــــر څنګــــــه تېرېـــــږي
چـــا بـــدل کـــړي دي ليکلــــي تقديرونــــه

ولې خپل ځان له په دې تسلي ورکول چې په ژوند کښې هر څۀ ممکن دي کۀ داسې وي نو بعيده نه ده چې ليکلے تقدير هم بدل شي ـ ولې داسې بدلون له چې کومه سعي او کوم کوشش پکار وي آيا دا د انسان په دسترس کښې کېدے شي يعنې داسې لکه د اسم اعظم زده کول چې په برکت ئې انسان ته د کائناتو ورونه ببرته کېدے شي ـ داسې اعلی او ارفع مقام ته رسېدل چرته چې د تقدير او د مشيت ليکلي موجود وي ـ بيا خپل تقدير پېژندل د هغې په سمه او په ورانه پوهېدل او بيا د خپل تقدير هغه برخه محو کول يا بدلول چې ددۀ سره راسته نۀ وي کۀ څۀ هم د چا دا خواهش او آرزو وي ولې آيا دا ممکنه کېدے شي لکه چې وائي :-

اســـم اعظـــم بـــه پـــه ځـــان پـــو کـــړم
پورتــه بــه لاړ شــم ليــک بــه وران د تقــدير کړمــه

داسې هېڅ کله نۀ شي کېدے ـ دا هسې ځان له تسلي ورکول دي په دې چې مرګ هم په اجل دے او اجل تقدير دے مقرر او ټاکلے شوے ـ نۀ ئې وخت او ساعت بدليدے شي او نۀ ئې مقام او منزل ـ مشران وائي چې اجل ئې نۀ وي که سر ئې د کاڼي لاندې شي مړ به نۀ شي ـ اوس نو په داسې حال کښې کۀ څوک دا وائي چې:-

بــــې لـــــه تقـــــديره اجـــــل نشــــــته
وار خطــا نــۀ شــې کــه دنيــا شــي ســرۀ اورونــه

تقدیر برخه ده دا قسمت دے ـ خپله برخه خپل قسمت هر څوک د ځان سره دې دنیا ته راوړي ـ ځکه خو وائي چې برخې ټولې ازلي دي ـ د قسمت چارې د چا د مرضۍ نۀ وي که یو نکته سنج شاعر څۀ هم سراپا احتجاج شي او ووائي چې ـ

اسـپ تـازی شُـده مجـروح بـه زیـر پـالان
طـوق زریـن همـه در گـردن خمـی بیـنم

یا لکه د انوري شاعر په رنګې د خپلې بدبختۍ نه سر تندے ټکوي او دا وائي چې :-

هـر بلائـے کـز آسـمان باشـد
گرچـه بـر دیگـران قضـا باشـد
بـر زمـین نارسـیده مـی پرسـید
خانـۀ انـوری کجـا باشـد

نه خو د قسمت په چارو کښې سیالي کېدے شي او نۀ پکښې زور چلیدے شي ـ نۀ دا د چا د وس خبرې دي او نه د چا د خوښې او د مرضۍ ـ

خوښـه د خـدائے زاري زمـا ده
قسـمت تـه ګـورم چـې بـه څـۀ راپېښـوي نـه
زمـا قسـمت کښـې جانـان نشـته
مـا د جمشـید پـه جـام کښـې ډېـر کتلـي دینـه
زمـا قسـمته مصـیبته
چوکـه پـه لاس د کـوره لـرې وتـے یمـه
ورک شـې زمـا خـواره قسـمته
څـوک چـې مئـین شـي هغـه ورک د ملکـه شـینه

قسمت ، برخه او نصیب درې واړه یو دي ـ د ژوند په لارو دوئي د هر چا ملګرتیا کوي دا ملګرتیا د مهد نه تر لحده وي ـ نه خو ددې نه مفر کېدے شي او نۀ ورنه خلاصون ـ بس خو د یون کومه لاره چې ئې معینه او مقرره وي هم په هغې ورسره خپل نصیب ، خپل قسمت او خپله برخه ملګرې وي ـ خوب خوراک ، ناسته ولاړه ، تګ راتګ او کردار و عمل ئې په دې انحصار لري ـ ددۀ سکون او ارام په خپل قسمت وي ـ رزق او روزي ئې د خپلې برخې وي ـ او هره پېښه راپېښه ئې په خپل

نصیب پوره وي ـ ځکه نو نۀ خو دے د خپل قسمت نه تښتېدے شي نۀ د خپلې برخې نه ګام اړولے شي اونۀ د خپل نصیب نه کومه بله کولے شي ـ دا ټولې خبرې ددې د عملي ژوند حصه دي ـ دے پرې خبردار دے په دې پوهېږي چې:-

ما د نصیب نه ځنډه وکړه
نصیب زما د لارې مل راسره ځینه

چا ته په کور نصیب را رسي
ځوک په نصیب پسې پردي وطن له ځینه

چې د نصیب د برخو وېش ؤ
زۀ د تقدیر په زولنو تړلے ؤمه

زما دې ځۀ نصیب کړو خدایه
په شاړو سر یم ودانې نۀ پېژنمه

چې د نصیب خبرې کېږي
زۀ د هغې مجلس بهر وتلے یمه

نصیبه اوچ کوهي ته پرېوزې
همزولې ګل شوې زۀ غوټۍ ولاړه یمه

وائي چې خان خو غني ښۀ وي چې ورکړه کوي هغه غني وي ـ هسې خو د غنیتوب مصرف په جائز لاره پکار وي ـ ولې د خراباتي مزاج د خاوندانو د مصرف او د ورکړو لارې جدا وي ـ ځکه نو کله چې په کوم وادۀ ښادۍ کښې د خوشحالۍ په موقع مجلسیان د مجلس دپاره رابللے شي او د ساز و آواز محفل وربانديې ګرمولے شي نو د تماشګیرو نه دا توقع کولے کېږي چې مجلسیانو ته به د انعام په توګه ځۀ نه ځۀ د خپل ګنډې نه را وباسي او دوئي له به ئې ورکوي ـ که توقع ئې پوره کېږي خو قبها ولې که داسې نۀ وي نو د مجلسیانو خولۀ هم چا نۀ وي نیولې هغوي هم اخر په دې وېنا مجبور شي چې ووائي چې:-

یا به زمونږ نصیب کوټه وي
یا به خانان د کوره تش راغلي وینه

برخې د هر چا خپلې خپلې وي ـ دا نۀ خو په زور حاصلېږي او نۀ په سیالۍ تر لاسه کېږي ـ دا نۀ پلورلے کېږي او نۀ پېرلے کېږي ـ د غاړې غور وي په غاړه پورې

انښتے وي ـ په دې کښې ژوند تېرول د انسان مجبوري ده ـ ناکام ئې علاج دے ـ دا د تقدير د نامرادو د زهرو ترياق دي ـ څوک چې ددې په استعمال خبردار وي هغه سکون او قرار موندے شي ـ هغه د ژوند په سفر کښې په کاميابۍ سره د مخ په وړاندې قدم پورته کولو اهل وي ـ هم داسې څوک راپېښېدونکو ازمېښتونو او امتحانونو په کاميابۍ سره تېرېدے شي او خپله مخه پکښې وېستے شي ـ په داسې حال کښې که څوک کله په دې وېښا مجبور شي چېووائي نو بې ځايه به نۀ وي :-

زمـــا پـــه برخـــه کښـــې کڼـــه ده
د کــټ بــازو ورتــه پــه ډانــګ بانــدې وهمــه

د تقدير ، قسمت ، نصيب او برخې مسائل بې شماره او بې حسابه دي ـ نۀ دا په سر لګېدے شي او نۀ ئې سر د تمامېدو دے ـ دا د هر چا دي او په هر رنګ کښې دي ـ ولې يقين او عقيدې د دوي په شدت کښې کمے او په سختۍ کښې نرمي پېدا کړې ده ـ په دې چې بخت ئې هم ورله ملګرے کړے دے ـ بخت او تخت ، خوشحالي او ارام هر انسان په خپل ژوند کښې د خپل ځان دپاره او د خپل خاندان دپاره غواړي ـ هغه څوک چې په قام اولس مئين وي هغوي ددې آرزو لري خو يواځې د ځان دپاره نه د خپل ټول اولس دپاره او د چا چې د انساني ورورولۍ سره مينه وي او د هغوي خېر ښېګړه ئې ارمان وي هغه د رحمت عالم صلی الله عليه وسلم په تعليماتو د عالم انسانيت د خېر او فلاح لارې لټوي ـ بختور دي هاغه څوک چې په دغه لاره د يون صلاحيت ولري ـ

بخت صفت هم دے او مشيت هم ـ چې د چا په برخه شي نو که ګدا وي سلطان شي ، که کمزورے وي پهلوان شي ، ک ه نادان وي لقمان شي او که وحشي وي انسان شي ـ د انسانيت د لارو قهرمان شي ـ بيا نو په داسې حال کښې کله چې د بخت په کرسۍ څوک کښېني نو بعيده نۀ ده چې د هر چا په نظر کښې سلطان شي ـ هم د انساني نوغي دپاره رحمت شي او هم ئې خپله هره چاره او هره لاره بې وېره شي ـ هاغه څوک چې بخت ئې ملګرے وي کۀ په هغه پورې څوک دا ووائي چې :-

خوک چې د بخت په کرسۍ ناست وي
که په سندان خولۀ لګوي قطرې ترې ورېنه

نو بې ځایه به نۀ وي۔

هسې خو په پښتنه معاشره کښې بخت لکه چې د ډېرو نه مرور وي۔ د دوئي سره ملګرتیا نۀ خوښوي او نۀ د دوئي په مرضۍ د دوئي سره سم په هاغې لارو یون کوي په کومو لارو چې دوئي روان وي ۔د دوئي خپل عیبونه او خپلې کمزورۍ د دوئي د بخت لارې نیسي ۔هر څو کۀ دوئي په دې پوهېږي ولې دغه لارې ازادول او سمول لکه چې د دوئي د وس او دسترس نه بهر وي ۔ځکه خو خپلو بدبختو ورنه په بار کښې لکه کوږ لرګے ساز کړے وي او په انساني معاشرتي ورورولۍ کښې ئې ځان د شمار قطار نه بهر کړے وي۔ هر څوک ورته هر چرته د شک په نظر ګوري۔ بیا نو په داسې حال کښې کۀ ووائي چې :-

بخت مې کوټه شو بادر خانه
سنګ پارس مې په دمړۍ نۀ قبلوینه
د چا د بخت ډیوه چې مړه شي
کۀ بل مشال په لاس کښې ورې تکرې خورینه
بخت چې کوټۀ شي دا مې واوره
کۀ څوک د اوښ دپاسه سور وي سپي ئې خورینه
د کاڼي سخته زما بخته
صبا د وخته به د چا بغرۍ له ځمه
بخت مې زمانه مرور دے
د بدبختۍ دلاسه ورې ټولومه
په مخ مې باد د خزان راغے
ځکه مې بخت او نصیب خاورې ایرې شونه
دومره په بخت زورور نۀ یمه
چې د تاله باغه دې راؤړم زیړ ګلونه
دومره په بخت زورور نۀ یمه
چې اوبو ورې یار به بیا لاس له راځینه

تـــــــهٔ بختـــــــور ئـــــــې ســـــــوداګره
چـــې ملغلـــرې خرڅـــوې شـــمېرې خالونـــه
بختـــــه کـــم بختـــــه يـــو ځـــل راشـــه
چـــې زهٔ نابنـــاده د ســـيالانو ســـياله شـــمه
بخـــت د رومـــال پـــرې غلبـــه شـــو
چـــې محبوبـــا پـــرې خپلـــې اوښـــکې پاکوينـــه
نصـــيب تقـــدير تـــه ګنـــاه نشـــته
بخـت چـې کوټـه شـي شـهزادګان ټکـرې خورينـه

تقدير د ازل ليک وي . د ارواحو د پېداکېدو سره د هر ذي روح دپاره په دنيا کښې د ژوند تېرولو ټول انحصار په دې باندې دے . ځکه هر ذي روح د خپل پېدائش سره د خپل ژوند دغه تياره خاکه د خپل ځان سره راوړي او د ژوند هره لمحه ئې ددې په مطابق تېرېږي . زيست روزګار ، رزق روزي ، کردار او عمل ټول ئې ددغې خاکې په مطابق جوړېږي او عملي کيږي . د تقدير په معامله کښې انسان بې وسه دے . ددهٔ ډېر خواهشات دهٔ ته نيمګړي نيمه خوا ځکه ښکاري چې دغه ټول ددهٔ په منشاء او مرضۍ نهٔ تر سره کيږي . ټول موافق او نا موافق حالات ټول حادثات او د ژوند ټولې خوشحالۍ او بې ارامۍ د ازل ليک ته منسوب کيږي . کله چې يو انسان په خپلو نامرادو او ناکامو د خپلې بې وسۍ اظهار کوي نو وائي چې ان لله و ان اليه راجعون . او کله چې اعتراف ئې په ټپه کښې کوي نو وائي :-

پـــه ازل شـــوي نـــور بـــه نـــهٔ شـــي
کـــه پېـــدا شـــوي مـــړدان ټـــول راجمـــع کړمـــه
د ازل ليـــک دے نـــور بـــه نـــهٔ شـــي
جانانـــه مـــهٔ نيســـه تقـــدير تـــه تدبيرونـــه
د ازل ليـــــک دے نـــــهٔ نـــــورېږي
زمـــا پـــه برخـــه بـــه ئـــې دا ليکلـــي وينـــه

او کله چې ځان له تسله ورکوي نو وائي چې :-

اســــم اعظـــــم بــــه پــــه ځـــــان پـــــو کــــړم
پورتـه بـه لاړ شـم لیـک بـه وران د نصـیب کړمـه

په دې چې ژوند خو د علم الانسان کلها سره هم تـړلے پېـرلے شـوے دے ـ د ازل پـه ورځ الله پاک خپـل خلیفـه او نائب انسـان آدم علیـه السـلام پـه دې خوبۍ سـرفراز کړو چې دۀ ته ئې د خپلو صفات کامله د خزانو نه یوه لویه برخه ورکړه ددې دپاره چې د زمکې په سر د ژوند تېرولو او د نیابـت د سر کولو په ذمه وارو پوره کولو کښې پاتې رانۀ شي ـ په دغه صفاتو کښې یو عالمګیر صفت علم دے ـ علم د هر نوع ظاهر باطت ، مادي او غېر مادي خاکي او افلاکي چې هم ئې دا عالم آب و ګل احاطه کولے شو او هم ئې د عالم بالااو اجرام فلکي وسعتونه کچ کولے شو ـ دا د کائناتو علم ؤ د رفت و بود علم ؤ هم مادي ؤ هم غېر مادي او روحاني ـ مقصد ئې دا ؤ چې د ارتقاء عمل دې تل تر تله جاري وي ـ دا بهیر دې هم دغسې روان وي ددې دپاره چې ژوند دې قایم او دایم وي او په مخه دې په حرکت کښې وي ـ د نزول او سعود عمل د عالمینو د ارتقاء سره متصل په مخه روان دے ـ دا زمانه ده ، دا دوران دے او دا وخت او تقدیر دے دا د انسانیت د ودې او ارتقاء لاره ده ځکه نو که د مشرق شاعر اقبال لاهوري دا وائي چې :-

سبق ملا ہے یہ معراج مصطفیٰؐ سے مجھے
کہ عالم بشریت کی زد میں ہے گردون

نو دا هم په دې بنا چې تل قایم او دایم الله پاک انسان ته دا صفت ، اهلیت او لیاقت د علم د خپلې خاص خزانې نه ورعطا کړے دے ـ

# کائنات

فقط یو باب ئې صحیفة التکوین ، یعني د کائناتو علم هم د ے .دا لکه یو خور وور او ویړ کتاب د ے .د کائناتو په پټو رازونو ځان خبرول او پوهه کول د انسان د دسترس او پوهې فکر متقاضي دي .په دې محیر العقول کائناتي نظام غور فکر کول په دې باندې د ځان پوهه کول ددې سره د خپل بشري او انساني تړون په راز پوهه کېدل او د تخلیق او تخریب او موت و حیات په دې بې کچه لوئے نظام کښې چې کوم مرکزي حېثیت او مقام دهٔ له ورکړے شوے د ے .د هغې سره ځان اشنا کول د ,, اِنِّی جَاعِلٌ فِی اْلاَرْضِ خَلِیْفَه ،، تقاضا ده .دا یو ډېر خور وور او بې اندازې وسیع او عریض علم د ے چې نهٔ خو په سر د لګېدو د ے نهٔ ئې پرون معلوم د ے او نهٔ ئې لا په صبا څوک خبر دي .دا عمل به هم دغسې لکه چې تر قیامته جاري وي .په دې چې دا د الله پاک حکم د ے .د هغهٔ ارشاد د ے چې ,, اِنَّ رَبَّکُمُ اللهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَاْلاَرْضَ فِی سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اْلسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ قف یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَا رَیَطْلُبُه حَثِیْثاً لا وَشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنَّجُوْمَ مُسَخَّرَاتٍ بِاَمْرِه ط اَلاَ لَه الْخُلُقُ وَلْاَمْرُ ط تَبَارَکَ اللهُ رَبُّ الْعٰالَمِیْنَ o ،، بې شکه ستا مالک الله (پاک) د ے .چې زمکه اسمانونه ئې پیدا کړي دي .په شپږ ورځې کښې .بیا په عرض ناست د ے .هغه په ورځ او شپه قادر د ے چې په یو بل پسې په منډه دي او د نمر او د سپوږمۍ خالق د ے .او ستوري ئې پیدا کړي دي .ټول ئې په اختیار کښې دي .خبردار ، خالق او حاکم یو هغه د ے .هم هغه رب العالمین د جهان مالک د ے ،، .

په دې هر څهٔ د ځا ن خبرولو او پوهه کولو سعي او کوشش به هم تل جاري وي .انسان په وس پړ د ے .تر څو چې انسان د لټون او تجسس ماده په ځان کښې لري نو په وړه پیمانه وي او که په لویه په مادي صورت کښې وي او کهٔ په روحاني

صورت کښې د علم دا دنیا بـه هر کله د پوهې او زدکړې متقاضي وي ـ لټون تجسس او څېړنه انساني فطرت دے ـ دا بـه روان وي ـ ځکه خو د هـر دور د سترګورو پوهانو او د حکمت او پوهې د خاوندانو دا تعلیم دے ـ

باش در شب محو سیر آسمان
کن تماشائے طلسم اختران

دا تماشه تشه د وخت تیرې په غرض نۀ ده ـ ددې اصل مقصد هاغې عالي او ارفع مقام پلو په وړاندې یون دے کوم ته چې مولانائے روم رح (بلخي) داسې اشاره کړې ده چې:

از جمادی مردم و نامی شدم
و ز نما مردم بـه آدم برزدم
حملـۀ دیگر اگر پران شوم
آنکه اندر و هم نـه آید آن شوم

دغسې دا مرتقي انسان مخ په وړاندې په سفر دے ـ حضرت اقبال لاهوري د علم او د پوهې د خاوندانو دغې جاري سفر ته په خپل منفرد انداز کښې داسې کتلي دي چې:-

تو نے یہ کیا غضب کیا مجھ کو بھی فاش کر دیا
میں ہی تو ایک راز تھا سینۂ کائنات میں

ځکه نو مونږ د زمکې د سر ژوي کۀ څۀ هم په هاغې نا اشنا لارو د یون جوګه نۀ یُو او نۀ ئې سرکولے شو ولې بیا هم په دې پوهېږو چې:-

اسمان ته لار د ختو نشته
زلمي ورخېژي د رېښمو په تالونه
اسمان ته لار د ختو نشته
عاشقان خېژي د الله په قدرتونه

دا د رېښمو تالونه هاغه فکر او پوهه ، صلاحیت او اهلیت دے هاغه توان او طاقت دے چې الله پاک ورته په خپل کلام مجید کښې د الا بسلطان په بلیغ او جامعه اصطلاح اشاره کړې ده ـ مونږ د اسمان نه څۀ مراد اخلو ، کومې ظاهري

فائدې ئې مونږ په خپلو سترګو وينو ، د ژوند د کړدو ناکړدو سره ئې زمونږ په خيال څۀ تعلق او تړون کېدے شي ـ په ظاهره خو لکه د ټولو نه وړمبۍ مرحله چې د اسمان د مخه سر کيږي او زمونږ د رزق روزۍ وربانديې انحصار دے هغه د باران ده چې هم پاس په غرونو وريږي او هم لاندې په مېدانونو او اوارو زمکو ـ کله چې دا پاس د غرونو په سر وريږي نو سپينې واورې وي ـ دغه واورې د اوبو دايمي ذخيره وي ددې نه خوړونه او سيندونه جوړيږي کوم چې کال و سر بهيږي ـ نهرونه ولې ورنه ويستې کيږي او دغسې دا د لاندې پرتو خورو ورو مېدانونو د ابادولو او په دې د روئيدګۍ باعث ګرځي ـ دغسې د غرونو په سر د ورېدونکو بارانونو د مخه چينې ، کويان او کاريزونه جوړيږي ـ دا ټول د ابادۍ ، ښېرازۍ او انساني ژوند دبقاء او ارتقاء سبب ګرځي ـ د سلوک خاوندان په دې راز پوهه دي ځکه خو وائي چې :-

هــــر کجـــا چشــــمۀ بــــود شــــيرين
مــــردم و مــــرغ و مــــور گــــرد آئينـــد

اوس نو ددغې خوږو اوبو چې د پاس اسمان د طرفه راوريږي دا د الله پاک د حکم تابع عمل دے چې ذکر ئې دا رنګې شوے دے ـچې ,, وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَاَخْرَجَ بِه مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ،، او يا بيا دا چې ,, وَمِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَئٍ حَيٍّ ،، اوس نو چې د ټولو جاندارو رزق روزي د اسمان له اړخه د راورېدونکو اوبو د مخه ده ـنو د زمکې په مخ هم د حيات او ژوند ټول انحصار د الله تعالٰی يو اسماني بخشش ګرزېدلے دے ـ مونږه هېڅ کله هم ددې حقيقت نه سترګې نۀ شو پټولے ځکه نو امي او عالم ټول په دې خبردار دي او کله هم چې په دې موضوع خبره کول غواړي نو خپل دغه خبر او فائدې ته ئې خيال وي او وائي چې :-

اســــــمانه ښــــــۀ را اوريــــــږه
جانــان د للمــې کــر کــوي چــې وتــره شــينه
اســــمانه ښــــۀ بــــاران پــــرې اوکــــه
يـار مـې د للمـې کـر کـوي چـې زرغـون شينه

اســــمانه کړنــــګ وهـــــه وريـــــږه
يــار مــې للمــې کرلــې دي چــې پټــه شــينه

مړه زمکه په باران را ژوندۍ کيږي ـ زرغونه پرې کيږي اونې بوټي پرې راخېژي او لوئيږي مرغزارونه او ګلدرې پرې ښائسته کيږي ـ د باغ و راغ او ګل و ګلزار سره د ژوند تړون په اسماني کرشمو دے ـ د ورځې رڼا د اسمان د لوري ده ـ د نمر پلوشې د زمکې په مخ د اسمان د مخې راخوريږي ـ دا نظام شمسي دے ـ ددې نظام سره مربوطې سيارې د نمر نه چاپيره تاويږي ـ هره يوه سياره خپل دغه چکر په معينه او مقرره نېټه کښې سرته رسوي ـ زمونږ دا زمکه هم چې مونږ وربانديې د ژوند ورځې شپې تېروو ـ په خپل مدار کښې خپل دغه چکر پوره په يو کال کښې سرته رسوي ـ ددې د مخه په کال کښې څلور موسمونه پيدا کيږي ـ د نمر رڼا ، د ورځې شپې په يو بل پسې کېدل او د موسمونو تغير تبدل ټول اسماني دي بيا کله چې شپه شي نو ستورې د اسمان لمن ښائسته کړي او کتونکي له هم دا موقع ورکړي چې اووائي چې :-

اســـــمان پـــــه ســــتورو ښائســــته دے
لکــه ليلــى پــه مــخ وهلــي وي خالونــه
اســـــمان پـــــه ســــتورو ښائســــته وي
چې ستورې نۀ وي اسمان ډنډې ډنډې وينه
اســـمان پـــه ســـتورو ښـــه ليـــدے شـــي
لکه ليلى چې په مخ کېږدي شنۀ خالونه

د اسمان په مخ ښکاره کېدونکي مناظر تل بدليږي را بدليږي ـ څۀ رنګ چې شپه په ورځ پسې راځي او ورځ په شپه پسې دغه رنګ د وريځو راخوريدۀ او بيا د اسمان شين کيدۀ هم يو جاري عمل وي ـ دغه شان د وريځو ډېر قسمونه او رنګونه هم دي ـ بيا لا کله کله پکښې سره کاسه هم لکه د بوډۍ ټال شي ـ او کله ئې هسې غاړې لمنې سرې شي ـ وختونه ، زماني دورونه ټول ددې مناظرو سره اشنا دي ولې بيا هم کله چې يو عام انسان ورته ځېر شي فکر ورته وکړي نو دا خبره ئې په زړۀ کښې غزونې وکړي چې :-

يـــا د اســـــمان لمنـــــې ســــرې دي
يـــا پـــه دې ټولـــه دنيـــا اور اولګېدونـــه

د خپل معشوق د ښائست او د عشق او رومان يوه دنيا ئې د اسمان سره تړلې ده ـ کله د خپل محبوب د ستائينو او صفت په صورت کښې او کله د هغۀ نه د بېلتون ، فراق او جدايۍ د مخه ، کله د ياد ، کله د فرياد او بېداد او بيا کله ورته د مخاطبې يا د ګيلې مانې په رنګ کښې مخاطب وي ـ د محبوب د خوا نه بېلتون ، بُعد او فاصله چې عاشق کله په خپل خيال کښې راولي نو د ځان سره وائي چې :-

د اســـــمان ســـــتورے شـــــوے جانانـــــه
نـــۀ درخـــتے شـــم نـــۀ مـــې زړۀ صـــبر کوينـــه
اســـــمان دې لـــــرې زمکــــــه اور دے
بېلتـون دې لـور دے د زړۀ مرانـدې مـې ريبينـه
اســـــمان دې لـــــرې زمکــــــه اور دے
زۀ د هجـران تـاؤنو سـکور کـړم اوبـۀ مرمــه
اســـمان زمــــا پـــــه نــــارو شــــين دے
زړګـے مـې خـوړين دے چـې جـدا د يـاره يمـه

بيا کله چې د خپل محبوب په صفت سر شي ـ نو د حُسن او ښکلا تشبيه ئې هم د داسې ښکلا سره مربوطوي د کومې ښائست چې هغه په هره روښانه شپه کښې مشاهده کوي ـ دغه منظر ته چې دے ګوري نو ستورې ورته لکه د اسمان د مخ خالونه ليدے کيږي ـ هم دا بيا دے د خپل محبوب د مخ د خالونو سره مشابه کوي او وائي چې :-

اســـــمان پـــــه ســــتورو ښائســـــته دے
لکـــه ليلـــى پـــه مـــخ وهلـــي وي خالونـــه
اسـمان کښـې سـتورې ښائسـته ښـکارې
زمــا د يــار پــه زنــه خونــد کــوي خالونــه
اســـــمان پـــــه ســــتورو ښائســـــته دے
د يــار پــه زنــه شــنۀ خالونــه خونــد کوينــه

اســـــمان پـــــه ســـــتورو ښائســـــته دے
د شـین خـالیِ مـخ پـه خـالونو خونـد کوینـه
اســـمان پـــه ســـتورو ښـــۀ ښـــکارېږي
د اشـنا مـخ پـه شـنو خـالونو خونـد کوینـه
اســـمان شـــین خـــال مـــې د جانـــان دے
زۀ ئـې بـورا یـم پـه شـین خـال وزر وهمـه
اسـمان کښـې سـتوري ښائسـته ښـکاري
لکــه پــه غونــډه زنــه تــا ایښــي خالونــه

د خپل محبوب سره د مینې په دې اظهار چې ځومره د مئین مینه ماتېږي ددې سره سره د فطرت د علوي ښکلا ددې منظر سره ددۀ د خپل ژوند د تړون او تعلق دا په زړۀ پورې اظهار ددې حقیقت په ګوته کول دي چې انسان په فطري جوړ لـه خپل ځان ددې حصه ګڼي او ددې ښائست هر نوع او هر انداز د خپـل محبـوب ښائست ته منعطف کوي ـ بیا نو کله چې خپل محبوب ته مخاطب کیږي نو ورتـه وائي چې :-

تــۀ پــه اســمان کښــې زیــړے نمــر شــوې
د نمــر پرســته شــاني خولــۀ درپســې وړمــه
اســــــماني تنـــــــدر وے جانانــــــــه
پـــه مـــا راپرېـــوتي ذرې دې کړمـــه

بیـا کلـه چـې د خپـل محبـوب سـره د تـړن او د هغـۀ د یـدار خـواهش او آرزو ئـې دامنګیره شي ـ او خپل ځان ته دعا کوي نو د نزدیکت یا د لـرې والـي پـه ځائې د هـاغې رفعـت او رڼا آرزو ئـې پـه زړۀ کښـې غزونـې کـوي ـ کومـه چـې د اسـمان د نوراني او ځلنده ستوروبرخه شوې ده ـ او کومه چې دایمي او بې ځُکسه ده ـ د نور دغـه رڼا د خبـر او راهنمـایيِ دواړو نمائنـدګي هـم کـوي ـ او د دیـدن او ښائسـت هاغه تشخص هم په ګوته کوم چې د مینې منبع او مرکز پلو اشارې کوي وائـي چې :-

د اســـمان ســـتورے مـــې کـــړې خدایـــه
چـــې همېشـــه د یـــار پـــه ســـر ولاړه یمـــه

د خپل محبوب سره د مينې جذبه د عاشق د زړۀ په کور کښې تل موجوده وي ـ د هغۀ ويښه خوب او ژوند او مرګ ټول د دې مينې نه جوړ وي ـ هغه په دې مينه ځاروي ـ دا چې هر چرته وي په کوم مقام وي او په کوم منزل کښې وي همېش دپاره تکميل په طلب وي او نيمګړې وي ـ عاشق ئې تل د پوره کېدو په ارمان وي په ځان ئې سود وي بغېر د خپل جانان د مينې نه ورته تل تر تله خپل ځان ناکامه او نامراده ښکاري ـ ځکه خو خپلې دغې آرزو له د الوت وزرې غواړي د داسې الوت چې د پاس اسمان رفعتونه کچ کولے شي ـ د داسې پرواز چې د ے ورباندې د عشق په مېدان کښې سرخرويي او سرفرازي موند ے شي ـ او د خپل جانان او خپل محبوب سنګ او قرب ورباندې ورته حاصلېد ے شي ـ کله چې دغه مينه د خپلې انتها سرحدونو ته اورسي نو دا تمنا د عاشق په زړۀ کښې غزونې وکړي چې :-

اســـــمانه لاړ راكـــــــه درخېــــــــژم
پـــه زمکـــه ځـــائے د جانـــان غـــم نـــۀ راکوينـــه

د خپل محبوب په مينه مست دغه عاشق د خپل محبوب په لاړ کښې د خپل سر په قربانۍ وياړي او فخر ورباندې کوي ـ د دغې لاړې د سر پرې سردار خپل مشر او خپل راهنما بولي ـ دا ئې د مينې تقاضا هم وي او د زړۀ ارمان هم ـ بيا نو کله هم چې په خپل دې عمل د وياړ او فخر د کولو موقع په لاس ورغلې ده نو ډېر په فخريه انداز ئې تل دا وينا په شونډو راغلې ده چې :-

اســـــمان بـــــه خـــــود زمـــــا پـــــه خـــــوا وي
چـــې د احمـــد ﷺ د بيـــرغ لانـــدې ســـر شـــيندمه

او کله چې د ننګ او مېړانې په مېدان کښې ځان قربان کړي او د خپل محبوب د رينښتونې عاشقانو په صف کښې اودرېږي ـ جنډې نشانونه ئې د شناختو په خوا پورې اودرولے شي نو د خاورو ځلے ئې مطلع انوار شي او عقيدتمندان چې د داسې عاشقانو صفتونه راواخلي نو د مرتبې او مقام د اوچتوالي او بلندۍ مثال ئې هم څۀ دا رنګې ورکوي چې :-

اســـــمان پـــــه ســـــتورو ښائســـــته ښـــــکاري
پـــــه زمکـــــه ګـــــل د شـــــهيدانو مزارونـــــه

ولې د ژوند د روحاني اړخ سره سم ئې کله نا کله ددې په مادي او ارتقائي عمل هم نظر پرېوځي. نورې دنيا ته ګوري. هاغې اولسونو او قامونو ته ئې نظر وي ځوک چې د ژوند په منډه کښې ډېر وړاندې تلي وي خپلې کم مائيګۍ کمزورۍ او خپلو نيمګړتيا ګانو ته ئې فکر واخلي په خپل کمي او خپله کمزورۍ ورته ځان نيمګړے، محتاج او بد ښکاره شي او اووائي چې :-

خلــــق اووم اســــمان کښـــــې ګرځــــي
زمــونږ پــه سـيمه جهالــت کــوي رقصــونه

په ژوند کښې د محرومو او کاميابو د خوندورو سندرو سر ئې هم په دې جوړ په اسمان لګولے دے. اسمان او زمکه ئې ورباندې يو کړي دي. په حقيقت کښې دا تعلق هم څۀ دا رنګې دے چې ددۀ د فکر او نظر په تول پوره ختلے دے ځکه ئې د زړۀ اواز په داسې نغمه زار ورګډ شوے دے. ګني هسې خو ښۀ پوهېږي چې :-

اســـــمان او زمکـــــه هــــم فـــــاني دي
تــل بــه رژېـږي د بوســتان سمســور ګلونــه

د کائناتو په دې عظيم نظام کښې د هر ستورې خپل مقرر مقام او منزل دے. د نظر د مشاهدې دپاره دا د رڼا او ښائست نخښه او مظهر دي ولې د افلاکو په نظام کښې دا لکه چې ځان ته جهانونه دي. دوئي هم زمونږ دنظام شمسي په رنګې خپل جدا جدا شمسي نظامونه لري کوم چې د کائناتو په لامتناهي وسعتونو خوارۀ دي. خپل ماه و سال ئې دي خپل خپل ګردشونه ئې په خپل دايمي سفر په يون دي. زمونږ تړون او تعلق ورسره په دې موجوده حېثيت کښې د دوئي د نُور، ځلا او ښائست تر حده دے. ځکه خو يادګيرنه او ستائينه ئې هم په محدوده پېمانه ده څۀ زيات سر خوږے پرې نۀ دے شوے او ورته د عام اولس په فولکلوري ادب کښې ددې نه څۀ زيات اهميت نۀ دے ورکړے شوے چې :-

اســمان کښــې ســتورې ښائســته ښــکاري
د يــار پــه زنــه شــنۀ خالونــه خونــد کوينــه
د ماښـــام ســـتورے مـــې کـــړې خدايـــه
چــې هــر ماښــام پــاس پــه ګــودر ولاړه يمــه

پـــاس پـــه اســـمان کښـــې ســـتورے زۀ وے
یــار مــې اودۀ وے مــا ئــې وکـړے دیدنونــه
د ماښـــــام ســــــتورے راښـــــکاره شـــــو
زۀ د جانــان پــه طمــع یــم چــې رابــه شــینه

د اجرام فلکي د نوراني ښائستونو نمبر په نمر پسې بیا د سپینې سپوږمۍ دے . د نمر رڼا نۀ خو هر کله او په هر مقام د هر چا د برداشت ده او نۀ ئې هر څوک د زغملو او لیدلو توان لرلے شي . ځکه ورسره انسان بالواسطه تعلق ته مجبوردے . دا د صوفیاؤ مسلک هم دے او د مادي دنیا وطیره هم ده . د اسماني نمر نه راخوربدونکې رڼا ته ئې غارمۀ وئیلي دي . ددې د برداشت کولو پیمانې هر چرته جدا جدا دي . د هاړ او ژمي غارمه یو ځبله ډېر تفاوت لري . د ژمي غرمو ته هر څوک لېواله وي ولې د هاړ غارمه د دوئي په سیمه تلي ، تندي دواړه سیزي . خو د سپوږمۍ د رڼا کېفیت څۀ داسې نۀ وي . د سپوږمۍ رڼا د نمر نه مستعار ده . دا د سپوږمۍ په واسطه دنیا ته رارسي ځکه نو د نمر د رڼا دې بالواسطه تعلق ئې پازه کمه کړې ده . دا په هر چا باندې ښۀ لګي . د سپوږمۍ رڼا فرحت بخش وي په دې کښې وجود ته سکون او ارام رسي . ښائست ئې د ستورو په رڼا بر وي . سپوږمۍ د اسمان د نوراني مظاهرو میرغواله ده . ناوې ئې ده . دا چې په پوره شان کښې راښکاره شي . نو ډېر ستوري ورنه مخونه پټ کړي داسې لکه چې ددې د نوراني بشر مخې کېدل ورته ګران وي . بیا د زمکې په مخ د مینې لېوني چې دې ته مخاطب کیږي نو ورته وائي چې :-

ســـــپینې ســـــپوږمۍ حـــــال راتــــه وایــــه
چــې مــې جانــان مجلــس د چــا ســره کوینــه
ســـــپینه ســـــپوږمۍ شــــه خپلــــه وروره
چــې تربــوران درپســې ســتوري وخبــژي نــه
ســـــپوږمۍ پـــــه مـــــا دې احســـــان نشـــــته
زۀ د رڼـــا نـــه پـــه تیـــارۀ خوشـــحاله یمـــه
ســپوږمۍ کښــې راشــه خولــۀ مــې واخلــه
چې تور پېکے مې په مخ خور نۀ شي مئینه

سـپوږمۍ پـه مـا دې احسـان نشـته
زمـا لالـے د ډېوالـۀ پـه سـوري ځينـه

هر کله چې د نظام شمسي تعلق يو تر بله قايم وي او زمکه هم په دغې سيارو کښې يوه سياره ده چې د نمر نه چار چاپېره خپل منازل پوره په يو کال کښې سرته رسوي او دغسې د کال ځلور موسمونه د زمکې په مخ پېښه کوي ـ دا د الله پاک د طرفه يو ترتيب کړے شوے مسلسل عمل دے چې تبديلي پکښې نۀ واقع کيږي ـ تش خپل مقرر وخت ته ئې انتظار وي ـ هم دغسې د ورځې شپې د پېدا کېدو عمل دے ـ څۀ رنګې چې زمکه په خپل مدار کښې د نمر نه چاپېره ګرځي دغه شان دا لکه د لاټو په خپل محور باندې هم تاوېږي ـ د زمکې په خپل محور دغه تاوېدۀ د څليريشتو ګېنټو په حساب وي چې ورځ او شپه ترې پېدا کيږي ـ په نظام شمسي کښې دغه ټول روان عمل او تسلسل په وخت حساب دے ـ وخت په قرنون اوزمانه کښې دوام لري ـ صدۍ ، پېړۍ ، کلونه ، مياشتې ، ورځې او شپې لکه چې د وخت بچې دي ـ دا د پېدا کېدو او فنا کېدو لارې او منزلونه دي ـ وخت او زمانه تل ژوندۍ او دايمي دي ـ ځکه خو د الله پاک فرمان دے چې زمانې ته بد مۀ وايئ په دې چې زمانه زۀ يم ـ دا زمانه زما نه جوړه ده او هم ما په وجود کښې راوستې ده ـ

زمـا پـه هاغـه رب توکـل دے
چـې پېـدا کـړي ئـې دا زمکـې اسـمانونه

بيا نو کله چې زمکه د اجرام فلکي يوه سياره شوه او په خپل محور او محيط کښې د حرکت پابنده کړې شوه ـ د نظام شمسي حصه شوه نو د ماه و سال ټولې پابندۍ او ټول لوازمات پکښې د تر سره کولو عمل هم جاري شو ـ زمکه دنيا شوه د اخرت ملګرې شوه داسې لکه روح او تن چې د يو بل ملګري دي ـ د فنا او بقا د لارو چارو تسلسل پکښې جاري شو ـ هم دغه سبب ؤ چې د وخت په تېرېدو وربانديې د زيست روزګار عمل روان شو ـ نور ډېر څيزونه پرې په وجود کښې راغلل ـ جمادات ، نباتات ، حيوانات او په خپله انسان ، دې عمل دغسې دوام اوموندو ـ چې زمکه دنيا شوه نو حيات جاري شو او کله چې حيات جاري شو نو

فنا ته ئې لاره سمه کړه ـ ,, كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْت ،، اوس نو څۀ رنګ چې د دانې لاره په ژرنده وي هم دغه شان د ژوندو لاره د فنا په لور شوه ولې ارتقائي عمل ئې هم د زمکې په مخ جاري کړې شو ـ د مولانائې روم په شان چې :-

از جمـــادی مـــردم و نـــامی شـــدم
وز نمـــا مـــردم بـــه حیـــوان بـــرزدم
حملـــهٔ دیگـــر اگـــر پـــران شـــوم
آنچـــه انـــدرو هـــم نـــه آیـــد آن شـــوم

هم دغسې په مخه دا عمل روان شو ـ حېوان چې انسان شو نو د احسن تقويم مقام ورته حاصل شو ـ دا آدم ؤ د ملائکو مسجود د خالق خليفه ، نائب او نمائنده د زمکې په مخ د ترتيب او سمون راوستو کارکن غړے، د علم ، فکر او پوهې خاوند انسان ، ولې بيا هم هر کله چې ددۀ وجود د زمکې څخه دے او په دې ئې باور دے چې خاورې يُو خاورې به شو ـ نو په خپل مستعار ژوند کښې ددې سره تعلق ته چې فکر کوي نو وائي چې دا تعلق خو بېخي عارضي او ناپائيدار دے ـ د روح او د تن تعلق لکه چې د زمان او مکان تعلق وي هم دا تعلق د زمکې د عالم بالاسره دے ـ زمکه د مکان نمائندګي کوي او عالم بالاد زمان سره پېوست شوې ده ـ مکان محدود دے زمان لامحدود دے ـ ځکه خو د محدود مکان استوګن چې کله د زمان وسعتونو ته ورداخلېږي نو د مکان دغه عارضي او لنډ شان سفر ئې ختمېږي ـ دا هغه عمل دے چې هر څوک ددې د حقيقت سره اشنا خو دي ولې بيا هم د هاغې جدايئ سره مخ کېدلو ته نۀ شي جوړېدے چې همراهان ئې په پل کښې ورسره شريک وي ـ کۀ څۀ هم په دې جوړ د تن مکان د زمکې د مکان سره بالآخر وابسته کيږي ولې دا عمل ئې ورته صائب نۀ ښکاري د خپل همراهي بيلتون ئې زړۀ نۀ غواړي ځکه نو د تن مکان چې کله د زمکې په مکان داخلېږي نو د احتجاج موقع د هاغې چا دپاره جوړېږي څوک چې په دې سفر کښې وروستو پاتې يا ئې پس مانده ګان همرهان وي ـ هغوي زمکې ته مخاطب کېږي او ورته وائي چې :-

زمکـــــې قلنـــــګ دې زورور دے
زلمـي تـرې اخلـې رالېـږې تـش پالنګونـه

زمکـــې د خـــدائې روئـــې مـــې در وړے
چـې خـاورې نـۀ کـړې نـازولې صـورتونه

خو هاغه څوک چې د خپل محبوبِ حقيقي او خپل خالق مالک په مينه زار شي ـ د هغۀ د مرضئ او احکامو پرستار شي ـ متابعت ته ئې غاړه پسته کړي نو داسې سرتيري چې کله د شهادت په مقام فائز شي نو هم په مکان سرخ رويه شي او هم په زمان کښې دوام وموومي ـ په داسې حال کښې :-

اســـــمان پــــــه ســــــتورو ښائســــــته وي
پـــه زمکــــه ښــــۀ د شــــهيدانو مزارونـــــه

داسې کسان بيا د زمان او مکان په قبـد کښـې بنـديوان نـۀ وي ـ خـو پـه دغـه وسعتونو کښې همېش دپاره راج کوي دوئي په زړونو حکومت کوي ـ پـه دنيـا ورسره انساني نوغے محبت کوي احترام ئې کوي په مزارونو ئې نُور ورېږي ، چراغان پرې کيږي ـ دوئي په خپل خپل کور کښې ژوندي وي او د الله پاک د طرفه ورته رزق ميسر وي ـ دوئي ژوندي وي د تل دپاره ـ

د عام مخلوق دپاره د ژوندانۀ تعلق د زمکې په مخ د ورځې او شپې په مناسبت قايم او مقرر دے ـ د ورځې او شپې دا تسلسل ددې د محوري ګردش د مخه دے ـ ددې ګردش په څليريشتو ګېنټو موقوفه دورانيه ده دا په يوه ورځ او يوه شپه کښې سرته رسي ـ په دنياوي جوړ له دا په ماه و سال کښې بدلېږي او د وخت او زمانې په هاغې مدار ور داخلېږي چې تعلق ئې د خپل نظام شمسي سره دے ـ دغسې دا ټول د مکان او زمان د کائناتي تعلق په مزي بنديوان دي ـ

د ورځې او شپې په دې نظام زمکه دنيا شوې ده او د روح او مادې تعلق پکښې پېدا کړے شوے دے ـ د حيات او ژوند سلسله پکښې جاري شوې ده ـ د ژوند ارتقائي عمل پکښې شروع شوے دے ـ جماداتو په نباتاتو کښې او نباتاتو په حېواناتو کښې وجود موندے دے ـ ددې هر څۀ انسان ته ضرورت ؤ ـ ددۀ د ژوند تېرولو دپاره ، ځکه نو الله پاک د انسان دنيا ته د رالېږلو نه اګاهو ددې هر څۀ بندوبست وکړو ـ زمکه ئې دنيا کړه د فنا او بقا يو نظام ئې پکښې قايم کړو ـ بيا ئې په دې هر څۀ انسان له تصرف ورکړو ـ په دې کښې ئې دے پېدا کړو او په دې کښې ئې مېشتۀ کړو ـ د خپل نائب او خپل خليفه په توګه او کله چې د خپل

نيابت دغه ذمه واري ئې وريغاړه کړه نو اشرف المخلوقات ئې کړو ـ سربلندي او شرافت ئې ورله ورکړو ـ بيا د هاغه څۀ سره ئې مخ کړو چې د جهد او بقا ټول امتحانونه ورسره تړلي وو ـ دا ژوند ؤ انساني ژوند ـ د روح او مادي يو تر بله د تړون قايم ساتلو دپاره روان جدوجهد د حيات او ممات او د ورځې او شپې په تسلسل کښې دا عمل جاري پاتې کړے شو ـ اوس هم جاري دے او تر ابد الاباده به هم دغسې جاري وي ـ هم په دې کشمکش دنيا آباده ده ـ انسان ژوند ے دے او ژوند وربانديې قايم دے ـ انسان فرد نۀ دے ـ دا نوغے دے ، نوع بشر دے ځکه نو په دۀ هره پېښېدے شي او هره ورته پېښېږي هم ـ

اوښکو مې نور د سترګو يوړو
ځکه په سپينه ورځ ګمان د شپې کومه

خو شپه که هر څو د ارام او سکون باعث کيږي ولې ددې په تورتم کښې ډېرې بلاګانې ډېر آفتونه او صعوبتونه هم سر وهي ـ د انسان ډېر ارمانونه د شپې د تورتمونو خوراک شوي دي ـ او ډېرې خوشحالۍ ئې هم ددې په تيرو کښې موندې دي ـ شوګيره ، جدائي ، فراق ، بېلتون ، انتظار ، وصال ، ناخوال او ژوند او جانان ټول لکه چې د شپې د وجود نه مستعار وي ـ ځکه خو د ژوند او جانان د رويو اظهار هم د څلور پاره شپې سره تړلے شوے دے ـ

د هاغې شپې صبا رامۀ شه
چې جانان لو کړي ما رنها نيولې وينه
د شپې د يار په کلي راغلم
خلقه ناري کړمه که غلې تېره شمه
تمامه شپه مې شوګيره وي
پټ په زړګي کښې ستا خند ا رايادومه
په نيمه شپه په کلي راغلم
په خوب اودۀ جانان به څوک راويښوي نه
په نيمه شپه په کلي راغلم
نيازمن اودۀ بې نيازو ځائے نۀ راکوؤ نه

دا نیمه شپه قلاره شومه
زما ماشومه یاره څوک دې ژړوینه
دا نیمه شپه په وطن راغلم
یاران اوده وو پردو ځائے نهٔ راکوؤ نه
تهٔ به د کوم مجلس چراغ ئې
زهٔ د هجران په توره شپه کښې ناسته یمه
زړهٔ مې په تا پسې رنځور دے
کړئ شپه ویښه تېروم تا یادومه

د شپې روماني کېفیت هاغه څوک محسوسولے شي چې د هجران ، انتظار او د وصال سره اشنا وي - د بې قرارۍ او قرار سره ئې مخ وي - د جدایۍ او محرومۍ په ژرنده دل کیږي او یا د دیدن او وصال په خوندونو طالعمند کیږي - شپه چې پخېږي دا کېفیات ئې راجوتیږي - حد دا چې نیمه شپه تېره شي - د څلور پاره شپې وړمبي دوه پارونه ، د ویښې او خوب تر مېنځه د کشمکش ساعتونه وي په داسې حال کښې نو که څوک دا وائي چې :-

د نیمې شپې پوري رانغلې
د نغري غاړه ښامار شوه اوئې خوړمه
د نیمې شپې پوري رانغلې
سکروټې مړې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه
د نیمې شپې پوري رانغلې
لکه د ژرندې بوجۍ نېغه ناسته وومه
د نیمې شپې پوري رانغلې
زهٔ ارمانجنه دې د خوبه اوویستمه
د نیمې شپې پوري رانغلې
د ګل لالا په کتاب ځان مشغولومه
تر نیمې شپې په انتظار یم
جانان رانغے په بالخت ګوتې وهمه

څو بیا کله چې د سترې انتظار ګړۍ تمامې شي - نو انتظار کؤنکې چې د چا

لېواله وي او هغه ئې تر خوا شي نو زورنه ورکول ورله فطري امر شي ـ په داسې حال کښې لکه چې فی الفور ئې څۀ داسې وېناکولو ته زړۀ وشي چې ووائي چې:-

د نيمــــو شـــــپو راتلـــۀ دې ورک شــــه
سکروټې مړې شوې اوس ايرو ته ناسته يمه
د نيمــــو شـــــپو راتلـــۀ دې ورک شــــه
دا چغـــا چـــغ پنـــې دې کلــے خبروينـــه

بيا هغه څوک چې د کوم موهوم انتظار سره مخ وي ـ آرزو ئې لري ولې امکان ئې نۀ وي چې د محبوب په وصال مشرف شي ـ د ناخوال ځړيکې ئې د ګوګل کېږدۍ خوزوي راخوزوي او سکون او قرار ورته نۀ حاصلېږي ـ نو په داسې حال کښې چې کله اړخ بدلوي نو ورسره ئې په زړۀ کښې ئې دا هم تيرېږي چې :-

دا نيمـــــه شـــــپه قـــــلاره شــــومه
زمـــا ماشـــوم زړګيـــه څـــوک دې ژړوينـــه

دغې ارمان او رومان ئې د وجود شپېلۍ هم د ازل نه د نغمه رېزو سندرو سره اشنا کړې وي ـ د بلخه وتلې هغه رومي مولانا چې وائي چې :-

بشنوا زنی چوں حکایت می کند
وز جدائی ہا شکایت می کند

نو دا د تن شپېلۍ ئې په نظر کښې وي ـ ځکه نو د تن د شپېلۍ نه د نل په شپېلۍ د راوتونکي اواز تاثير اصلاً د زړۀ د غږ تاثير وي او دا غږ چې څوک د زړۀ په غوږو اوري نو قدرتي به ئې دا وېنا په ژبه راځي چې :-

دا نيمـــــه شـــــپه قـــــلاره شــــومه
چا ځواني مرګ شپېلۍ وهله وينبه ئې کړمه
دا نيمـــــه شـــــپه قـــــلاره شــــومه
زمـا جانـان ټپـه کـړه پورتـه وينبـه ئـې کړمـه
دا نيمـــــه شـــــپه پـــــه خـــــوب اوده ووم
چا ځواني مرګ ټپه کړه پورته وينبه ئې کړمه

اوس نو کۀ د ژوند او جانان ددې وارداتو دا عمل د ورځې او د شپې د تسلسل

سره دغسې همغاړې وي نو که څوک ددې خبرې ارماني شي۔

چـــې تـــوره شـــپه ســـپينه ســـپوږمۍ وي
تـــوره کېـــږدۍ وي او لېلـــی پـــه ايلاغونـــه

نو حق لري ۔هم دا دنيا ده او دغه ئې د عملي ژوند هاغه اړخ دے چې دنيا وربانديې اباده ده ۔دنيا ته د اخرت پټے وئيلے شوے دے ۔دا مزرع آخرت ده ۔ ددې په کرونده کرونده ګر انسان مامور کړے شوے دے۔دے چې څۀ کري هم هغه به ريبي۔د دنيا دپاره وي او کۀ د آخر دپاره۔ځکه خو وائي چې :-

از مکافـــات عمـــل غافـــل مـــه شـــو
گنـــدم از گنـــدم برويـــد جـــوز جـــو

بيا کله چې د چا په خپل ګرد وپېش نظر وي او په دې کښې موجود وراني ، خرابۍ ، کمزورۍ او سختې زخمتې ئې رامخ ته کيږي نو د خود احتسابي په حال کښې که دا وائي چې :-

دنيـــا د بـــاغ هســـې پېـــدا ده
مـونږ پکښـې ځان ته مالکنډۍ کرلې دينه
دنيـــا د بـــاغ پـــه شـــان پېـــدا ده
مونږه د ګل په شان راځو مړاوي ترې ځونه
ســـتا نـــاکړدې بـــه مـــې پـــه زړۀ وي
کـــۀ چـــرې راغلـــو د فـــاني دنيـــا وارونـــه

او د کوم بل چا نه چې د څۀ خير ښېګړې يا د فائدې دپاره وائي نو بس هم دا قدرې ورته وائي چې د کومک ، امداد او ښېګړې حاجتونه ټول د دنيا سره تړلي دي کۀ تۀ هم داسې څۀ کولے شې او کول ئې غواړې نو دا دې وخت دے چې :-

پـــه دنيـــا ښـــۀ راســـره وکـــړه
په اخـرت کښـې د هـر چـا ببـل ببـل کورونـه

ولې دلته د زيست روزګار جدا رنګونه او ببلې پيمانې دي۔ځکه چې :-

پـــه دنيـــا تـــول د ســـړو نشـــته
تـــول د پيســـو دے مُســـليان خانـــانوي نـــه

ورشـــــه د بلخـــــه دنیـــــا راوړه
پـه کـورنۍ دنیـا مـې پـلار نـهٔ درکوینـه
د دنیـــا خلقـــو پســـې مـــهٔ ځـــه
مـونږه خـواران د چـا نظـر کښـې نـهٔ راځـو نـه

بیا هاغه ځوک چې تش په دنیاوي روزګار مئین وي ـ لکه منږک خاورې کني او خاري پيني ـ د مینې ، محبت ، ایثار ، همدردۍ او قربانۍ په پوله برید د تېرېدو سره ئې څهٔ سریکار نهٔ وي ـ د ژوند او جانان خوارهٔ نهٔ پېژني ـ نو د محرومۍ دغه احساس ئې د مخه د هاغه چا په زړهٔ کښې راولاړېدل یو قدرتي امر شي چې دې ته ئې سترګې وي ـ او کله نا کله دا د څهٔ داسې احتجاج په صورت کښې راسرګند شي چې وائي چې :-

دنیـــــا ګټـــــه دنیـــــا پرســـــته
زمـا پـه تـور اوربـل کښـې سپین اولګېدونه

د دنیا وار د تېرېدو دے ـ دا پاتې ده ، ارماني ده ـ ژوند ئې مستعار دے ـ نیمګړے دے نیمه خوا دے ولې حلاوت او خوندونه ئې داسې دي چې ځوک وربانديې نهٔ مړېږي ـ کهٔ څهٔ هم دا د غمونو نه جوړه ده او پېټے ئې د هر چا په سر دے ـ هېڅ مفراو خلاصون ورنه نهٔ وي ولې سره ددې هر ځوک ددې په طلب کښې مصروف وي ـ دا ځان ته رانزدې کول غواړي ، ځان ته ئې راکاږي ـ او ددې خپلول ئې ارمان وي ـ که څهٔ هم په دې پوهه وي چې :-

د دنیـــــا ګۍ بـــــازار بـــــه وران شـــــي
کـم عقـل خلـق پـرې بنګلـې ودانوینـه
اخـــــر بـــــه دا دنیـــــا شـــــي ورانـــــه
تـر خـاورو لانـدې بـه شـي ښـکلي بشـرونه
د دنیـــــا وار داســـــې تېرېـــــږي
لکـه د تـورو غرونـو بـاد پـه ښـکته ځـي نـه

ولې بیا هم په خپل ژوند کښې هر سړے ددې د حصول دپاره د یو مسلسل کشمکش سره مخ وي ـ ډېر د دنیا کارونه داسې دي چې په راز کښې ساتلے شي ـ یو نیم راز دار وربانديې خبرېږي ګني هسې خو د دنیا چارې روا دي ـ خو دا د

خلقو نه په غلا هم دي ـ دا د هر چا سره شریکېدے نۀ شي اونۀ وربانديې هر څوک خبرولے شي ـ ځکه خو وائي :-

چې د دنیا خلق پوئې نۀ شي
په سترګو سترګو کښې به یو بل پوهه وونه

هرڅوک په دې باندې خبر دي چې د دنیا وار د تېرېدو دے ـ د هر چا سفر په سر دے ـ منزل ئې یو دے ، فنا ، بېلتون او جدائي ـ

عاقبت منزل ما وادئی خموشان است
حالیا غلغله در گنبد افلاک انداز

ددې حقیقت نه نۀ څوک ناخبره دي او نۀ دا نظر انداز کېدے شي ـ وخت لکه ژرنده چلېږي او ژوي زنده سرې ټول پکښې اوړۀ کیږي ـ څۀ رنګ به چې انجام کار کاڼي او سزایاب انسانان د دوزخ خوراکه وي دغه رنګ به ټول پېدا اوخت هم د فنا په ژرنده دل کیږي ـ دا غم د هر چا په سر دے ـ په دې د هر چا لاره ده ـ ځکه خو وائي چې :-

دنیا د غم په ورځ پېدا ده
څو به د غم تخم کرم ژوندے به یمه

اوس نو څۀ رنګ چې زمکه په خپل محور په ګردش کولو د ورځې او شپې د پېدا کېدو باعث کیږي هم دغه رنګ دنیا د ورځې د رڼا او د شپې د تیرې حاجتمنده او پامنه داره ده ـ کۀ رڼا نۀ وے ژوند به نۀ وُ ـ د ژوندانۀ روزګار په رڼا روان دے ـ شپه هم د روزګار او کار دپاره د رڼا محتاجه وي ـ دا چې وائي چې پاکه خدایه چې تا شپه پېدا کړه نو ما ورله ډیوه پېدا کړه ـ دا د رڼا طلب دے ـ دا علم دے ـ د ورځې رڼا د الله پاک رحمت دے ـ دا د هر چا دپاره ده ـ په ټول جهان خوره ده او هر څوک مستفید کوي ـ اوني بوټي ، حیوانات او بنیادم ټول د رڼا محتاج دي ـ په رڼا کښې د خپل وجود او خپل خېر و شر منزلونه کچ کوي ـ دنیا د رڼا په مخ اباده ده ـ مونږ ټول چې څۀ وینو ګورو ، زمونږ ټولې مشاهدې ، ټولې تجربې ، ټول ارتقائي عملونه ، زمونږ د علم و دانش او د فکر و نظر ټولې خزانې د رڼا په رڼا کښې مونږه تر لاسه کړې دي او تر لاسه کوؤ ئې ـ رڼا په دوه قسمه ده ـ جسماني او روحاني ـ یوه مادي ده بله روحاني ده ـ د مادي رڼا ممبع نمر دے ـ اور دے ،

جوهر دے ـ دا حیات آفرین ده ـ روحاني رڼا د ایمان او یقین ده ـ دا نور دے ، نورانیت په دې حاصلیږي ـ په یوه مخه رڼا کیږي ـ بله د زړهٔ رڼا ده څهٔ رنګ چې مادي رڼا د ژوند د ارتقاء باعث کیږي دغه رنګ د روح په رڼا د عشق منزلونه سر کیږي ـ په یوه دنیاوي لارې سمبږي بله د آخرت او عاقبت لارې رڼا کوي ـ څکه انسان د دواړو لېوالـه او حاجتمند دے ـ د دواړو وده او فروغ د انسانیت د ښېګړې او خېر ذریعه ده ـ څکه خو وائي چې :-

پـه مـا دې زر شـیندلي نـهٔ دي
چـې د چـراغ پـه رڼـا غـواړې دیدنونـه
پـه ملاکنـډ تیـرې خـورې شـوې
هارونـه تـوره بربښـوه چـې رڼـا شـینه
رڼـا د یـار د مخـه لاړه
پـرې منـور شـولو دا زمکـه اسـمانونه

بیا کله چې د ظلمت د تورتمونو ملګري د ژوند د فروغ او د روح د بالیدګۍ په رڼا او نورُ دواړو شبخون کوي او ظلم او زور وربانـدې حاوي کـول غـواړي نو په داسې حال کښې احتجاج کونکي په دې وېنا مجبور شي چې ووائي چې :-

پـه شـب پرسـتو زېـرے وکـړئ
د رڼاګـانو قـاتلان راغلـي دینـه

په دنیا کښې د آدم نه تر دې دمه د رڼا او تیرې د طرفدارو معرکه روانه ده ـ یوه ډله رحماني ده او بله شیطاني ـ یوه د خېر طرفداره او بله د شر ملګرې ده ـ خېر او شر، رڼا او تیارهٔ ، تعمیر او تخریب ، ودانـي او ورانـي ، داد او بېداد او رحم او ظلم د یو بل ضد دي ـ دا هاغه صفتونه او عیبونه دي چې الله پاک د انسان نوغي سره ملګري کړي دي ـ څکه نو که یو پله ئې دهٔ لـه د خېر او فلاح قوتونه ورکړي دي نو بل پله ئې ورته ظلوماً جهولاً هم وئیلے دے ـ دے کهٔ یو پله د نوع بشر دپاره رحمت ګرځولے شوے دے نو بل پلو د خپل نوغي دپاره زحمت شوے هم دے ـ د رڼا او تیرې دا کشمکش پخوا هم وُ اوس هم جاري دے او بیا به هم روان وي ـ

تــــوره تيـــارۀ کــــړه رڼـــا مــــړه کـــړه
زۀ د رڼــا نــه پــه تيــارۀ خوشــحاله يمــه
تــوره تيــارۀ کـــړه ســـر مـــې پـــرې کـــړه
کـه مـې پـردې نامـه پـه خـولې راغلـې وينـه
يــــا خــــو زمــــا پـــــه زړۀ تيــــارۀ ده
يـــا ددې ټـــولې دنيـــا مـــړۀ دي مشـــالونه

د شپې تيارۀ د سحر په سپېدو راخورېدو د مېنځه وړې ده ـ سپېدي د سحر د رڼا استازے وي ـ په دې پسې د نمر وړانګې راخورېږي ـ دنيا راوېښه شي ـ ژوند متحرک شي ـ سحر د عملي ژوند نويد وي ـ دا د بيدارۍ عمل وي په دۀ کښې تازګي وي ، حرکت او عمل وي ، نۀ يواځې انسان بلکې وحوش و طيور هم د سحر په رڼا د ژوند په لوبه کښې شريک کيږي ـ د باغ و راغ تازګي او د ګل و بلبل ښکلا او نغمګي د سحر راتلو ته لېواله وي ـ د شبنم قطرې د ګلونو په مخ پرتې وي دا ئې لکه چې وينځلې وي ـ لسان الغيب رحمان بابا هم کۀ داسې وئيلي دي چې :-

,, دا چې هره ورځ راخېژي نوے نمر دے ،،

نو دا په اصل کښې حياتِ نو ته اشاره ده ـ په دې چې هسې خو په ژوند کښې سکون ناممکن دے ـ ولې بيا هم هر سحر د حيات نو زېرے وي ـ حياتِ نو د ژوند د فرسوده ، ازکار رفته او ناقص نظام بدلېدو ته وائي ـ دغسې د عملي ژوند په اصولو کښې د ترميم او تنسيخ د عمل آغاز هم په سحر حسابيږي ـ سحر صبا ، د سحر باد ، د سحر اېشمه ، د سحر رڼائي ، د سحر غزونې ، د سحر خُمار ، د سحر نيم خوابي د سحر مال اود سحر صبا سپېدې د ژوند سره تړلې هاغه اصطلاحات دي چې د ژوند تازګۍ ته منسوب شوي دي ـ دا ټول د مينې ، د روزنې ، د همدردۍ ، د تزکيې ، د خوشحالۍ ، د حرکت او د پېرزوئنو سره وابسته دي ځکه په دغه معنو کښې ئې په ټپو کښې هم ذکر کولے شي لکه :-

چــــې د ســــحر پــــه بــــاد ويلېــــږي
پـه هـاغې مـخ بـه شـونډې ځـوک اولګوينـه

چــــې د ســـــحر مــــال مــــلا اذان کــــړي
مــــا بــــه جانــــان د تــــورو غرونــــو واړوينــــه
ســــــــحر صــــــــبا دي روانېــــــــږئ
د پيــــر بابــــا پــــې طــــاؤس نــــارې وهــــي نــــه
د ســــــــحر بــــــــاده پــــــــه ارام ځــــــــه
د پښتونخوا غرونه دړمن دي خوږ به شينه
د ســـــــحر بـــــــاده مثمـــــــره
د يــــار د دره پېشکشــــي راؤړه ګلونــــه
تــــــه د اختــــــر پــــــه ســــــحر راشــــــه
زۀ بــه در اوځــم تــورې سترګې شنۀ خالونــه
تــــــه د اختــــــر پــــــه ســــــحر راشــــــه
زۀ بــه در اوځــم تــورې سترګې سرۀ لاسونــه

د ورځې عمل د سحر نه شروع کيږي ـ د نمر په سفر د ورځې پړاؤنه جوړيږي ـ چې سحر تېر شي غرمه ورپسې وي ـ غرمه د ماسپښين نه اګاهو او مازيګر د ماسپښين د روستو وي ـ څۀ رنګ چې شپه په څلور پاره تقسيم ده دغه شان د ورځې هم څلور حصې دي ـ د سحر په تېريدو غرمه کيږي د هر وخت خپلې تقاضې او خپل خصوصيات دي ـ لکه چې وائي :-

شــــابه غرمــــه ده تــــاؤ زيــــاتېږي
چېــي غوايــه چوکــه کــوه چــې فــارغ شــونه
نــــوې يــــاري د خــــدائے غضــــب دے
لکــه د هــاړ غرمــه تلــي تنــدي سيزينه
مــــازيګر بنــــۀ دے ديــــدن اوشــــي
بــده غرمــه ده اشــنا کــوز کــوي خوبونــه

ماسپښين په ډېر کرته د سترې والي ، ستومانۍ او بېزارۍ علامت ګرځي ـ هغه ثوک چې په سفر وي نو په خپل هېواد کښې وي او کۀ ددې نه بهر وي ـ خو چې بې خانمان او بې کوره وي نو هر کله ئې دا زړۀ غواړي چې خپلې مېنې ، خپلې کېږدۍ او خپل د ټيکاوي ځائے ته په ستنه شوے او په ارام شوے ، جدائي

بېلتون او فراق د زړهٔ نول سېوا کوي خوشحالي غت ربود کوي ـ خندا هوس تروږي او محرومي د حساسو زړونو په کور کښې مېشتهٔ کوي ـ په داسې حال کښې نو بيا کهٔ يو مسافر په دې وېنا مجبوريږي چې اووائي چې :-

د ماسپښين سوېري كارۀ شو
زما كارۀ شو خپل وطن ته قدمونه

نو څهٔ بې ځايه خو نهٔ ده ـ او هغه څوک چې د انتظار په ژرنده دل کيږي او د امېد او طمعې په اسره خپل وخت تېروي ـ هغه هم لکه چې وائي :-

چې ماسپښين شي زړهٔ مې شين شي
خاص مې يقين چې جانان مې نهٔ راځينه

دا عمل هم دغه شان تر مازيگره روان وي ـ ولې کومه ستوماني چې په ماسپښين کښې په زړونو دپاسه راخوريږي هغه په ډېرو موقعو لکه چې د مازيگر سره په ختمېدو راشي ـ په دې چې مازيگر د کور د درشلي نه د قدم د بهر کولو علامت دے ـ د ديدن د کېدو موقع پکښې تر لاسه کيږي ـ دا د گودر د غاړې ژوندون دے ـ د گودر غاړه په مازيگر ژوندۍ کيږي او ښائسته کيږي ـ ځکه خو هاغه څوک چې د ديدن تږي وي هغه د گودر مازيگري ته ډېر خوشحاله او لېواله وي ـ وائي چې :-

مازيگرے به قضا نهٔ کړم
د گودر غاړه مې په ښوده تل دې وينه
په مازيگر کښې ليدے نهٔ شي
تهٔ نظر بنده شوې کهٔ مور دې نهٔ پرېږدينه
چې مازيگر شي زړهٔ مې ښهٔ شي
منگے ناري کړي چې راځه گودر له ځونه
خدائے دې د مور عمر دراز که
هر مازيگر چې دې گودر له رالېږي نه
خاونده بيا دې مازيگر کړو
په گودر پرېواتهٔ د سرو مچو سېلونه

چـــې مـــازيګر شـــي مـــنګے واخلـــه
زۀ لېـــونے بـــه د ګـــودر پـــه غـــاړه يمـــه
چـــې مـــازيګر شـــي زيـــړے نمـــر شـــي
ستا د نتکۍ سپورے کمر شي اوورېږمـه
چـــې مـــازيګر شـــي ښـــکته نمـــر شـــي
سنګ مرمر شي د جينۍ سپين مړوندونه

د مازيګر پېرزوئنې ، د مازيګر خوشحالۍ ، د مازيګر ديدنونه او د مازيګر د جدايۍ او بېلتانۀ ټسونه لکه دا ټول چې يو مسلسل عمل وي او سر ئې په سر نۀ لګي ولې وخت په وخت څۀ داسې پېښې پکښې رامخ ته کيږي چې غمونه او خوشحالۍ ئې هم په پسکي پورې تړلي وي.

مـــــازيګر کـــــور ماښـــــام پـــــه لاره
نتـۍ شـپه بـه د جانـان غېـږې لـه ورمـه
دا خــــو دا ســــتا د يــــارۍ ټــــس دے
ځکـه مـې کـړې پـه زيـړې مـازيګر ځينـه
دغــــه خــــو ســــتا د مينــــې خــــرپ دے
چـــې پـــه زيـــړې مـــازيګر کـــړې بارومـــه

دا ناپائيدار مستعار ژوند کۀ هر څومره خوږ دے او هم په دې کښې لا بيا د چا سره د مينې د تړون د شدت هغه لمحې ولې ددې هر څۀ تېرېدل يو قدرتي امر دے .ددې قايم پاتې کېدل يا ايساربدل نۀ خو د چا په وس کښې دي او نۀ دا د چا د مرضۍ او خواهش خبره ده.ځکه نو کۀ څوک دا وائي چې :-

دا مـــازيګر چـــې څنګـــه تېـــر شـــو
داسې بـه تېـره شي دا ستا لېـونۍ مينـه
پـــه مـــازيګر چـــې تجلـــي کـــړې
مـزل دې لنـډ دے نمـره پـرې مـۀ وزې مئينـه
خـــدائے بـــه پـــه خپلـــه مـــازيګر کـــړې
د دېوالـــۀ ســـياندې تـــه مـــۀ دره مئينـــه

خــدائے بــه پــه خپلــه مــازيګر کــړي
د لويــو غــرو ســرو تــه مــۀ ګــوره مئينــه

او هاغه څوک چې مازيګر کېدو ته ئې طمع وي .په دې اميد چې ديدن ته به پکښې لاره سمه شي . هغه د خپلې محبوبا لاره څاري . ولې کۀ محبوبا ئې د خپله کوره نۀ رابهر کيږي نو کله چې په داسې حال کښې ئې تلوسه سېوا شي نو د ځان سره اوګنېږي او ووائي چې :-

چــې مــازيګر پــرې ښائســته کيــږي
هاغــه جينــۍ لــه مــور مــنګے نــۀ ورکوينــه

د مازيګر ښائست ، د ګودر غاړه ، د ديدن فراواني ، د منګو قطارونه ، د رنګدارو لوپټو او د سرو سالوګانو هغه زړۀ راکښونکے منظر د زلمو عاشقانو مخه ګودر پلو سموي . او د څۀ فاصلې نه د څو لمحو دغه ديدن ئې ارمانونه راپاروي . بيا د ګودر د خوا مست اتڼو نه او نڅا هم کۀ د داسې منظر سره ګډه وي نو د زلمي د لاس شپېلۍ د هغۀ شونډې کښل کړي او په نغمه رېزو اوازونو د خپلې محبوبا د حسن او ښکلا په ستائينو ئې سر کړي . هم په داسې حال کښې ئې مست خيالونه څۀ وخت چې د خپل کلي او د محبوب د خوا په دوبندۍ ودروي ايسار ئې کړي نو نارې کړي چې :-

زړۀ مــې پــه دوه لــوره مئــين دے
زيــړ مــازيګر دے زۀ بــه کــومې خــوا تــه ځمــه

هم په دې کشمکش کښې پرې ماښام شي . ځان ته ئې پام شي . د خپل کوره په رابهر کېدو په خپله لاره ئې د قدم پورته کېدو د جانان د ديدن په نيت هغه پلو روانېده او د ديدن د ارمان د سر کېدو د امکان د جوړېدو دا يو داسې عمل وي چې دا جذبه په دې کښې هره ګړۍ په زړۀ کښې غزونې کوي او زړۀ وربانديې بې تيکاوه او ناقلاره کيږي . کله چې د داسې کېفيت سره مئين زړۀ مخ شي نو ووائي چې :-

مــازيګر کــور ماښــام پــه لاره
ننــۍ شــپه بــه د جانــان غېــږې لــه ورمــه

هم په داسې حال کښې پرې تور تروږمې شي پاس آسمان په ستورو ښائسته شي د اسمان ډيوې بلې شي او سپينه سپوږمۍ هم د غرۀ په مخامخ کنډاؤ راښکاره شي .تېر ماسخوتن شي او ددۀ زړۀ ناقلاره شي په ټوپونو سر شي په بې واره ټوپونو او په داسې حال کښې د څۀ داسې کېفيت سره مخ شي چې ووائي چې :-

وخـت ماسـخوتن شـي شـومه دم شـي
پـه مـا د يـار د لـوري غـم شـي وژاړمـه

د ژوند دا سفر لکه چې ورځ او شپه هم دغسې روان وي .دا ليدے کيږي خو نه ولې په مخه تېرېږي ورځې په مياشتو او مياشتې په کلونو کښې بدلېږي او هر نوے نسل په خپل خپل وار د تېرېدونکو وختونو دا مناظر ويني ګوري او د داسې تجربو سره مخ کيږي .هم ددې نه د عشق او رومان او دوستۍ او ښېلتانۀ داستانونه جوړېږي او په سندرو او ټپو کښې هم ورته دوام حاصلېږي.

مونږ د غرونو خلق يُو .خپل هېواد او خپل ټاټوبے پېژنو .معلوم دے راته .دا د زمکې يوه برخه ده .د لوړو غرونو او سر درو زمکه .غر ددې د وجود درناوے دے ښائست ئې دے .دا ئې حصارونه او دېوالونه دي .دا د زمکې مېخونه دي او ددغې مېخونو وافره برخه په پښتونخوا پېرزو کړې شوې ده .پښتانۀ ددې په سر درو او په ورشوګانو کښې ژوند تېروي .د دوئي نه ئې فطرت جوړ دے .او د دوئي سره ئې مينه ده ځکه خو وائي چې کۀ غر نۀ خورې بد پرې مۀ وايه .

د غرونو سره د انسان د عروج او خروج داستانونه تړلي دي .د تهذيب او تمدن روايات ئې په لمنو کښې پراتۀ دي .د زمکې په مخ د رودونو ، سيندونو وجود زياتره هم د دوئي د مخه دے .ښادي او آبادي دواړه بلاواسطه او بالواسطه په غرونو خپل انحصار لري ځکه خو اعتراف ئې کيږي کولے به شي او ستائيلے به شي.

پـه لويـو غـرو د خـدائے نظـر دے
پـه سـر ئـې واؤرې وروي وېـخ کښـې ګلونـه
صـبا د چيګـو غـرو بهيـر دے
پـه زنګنـو بـه زيـړ ګلونـه ماتوؤنـه

په لويو غرونو مې مېشتۀ شوه
غنچې د ګلو به اشنا له مې لېږمه

د خپلو دنګو غرونو ځار شم
دلته مات شوي دي د ډېرو چګ سرونه

ما د سپين غر په څوکه ښخ کړئ
چې کوچۍ جونه مې هر کال سلام کوينه

د غرۀ په سر کښې نرۍ لار ده
زما تلوار ده څانګه لار نۀ راکوينه

د غرۀ په سر رڼا ښکارېږي
راته ښکارېږي چې اشنا وطن له ځينه

د لويو غرو سوبې په سمه
د تور پيکي سوبې د وروځو په سر وينه

په تورو غرونو کښې دې بند کړو
يار مې راپرېږده کجارا ګل شوي دينه

د غرۀ په سر دې منګور وخوره
چې سر کاڼي مېږي دې وړي په قطارونه

د غرۀ په سر دې ښامار وخوره
چې ډلې ډلې پاړوګان در خېژومه

د غرۀ په سر مې ور نظر شو
دا زنګېدلے يار زما دے چې راځينه

د غرۀ لمنه راته څاره
زۀ جينکو سره غاټولو پسې ځمه

د غرۀ په سر ئې چيلم بل کړو
نۀ ورختے شم نۀ مې زړۀ صبر کوينه

اشنا د تورو غرو اوښيه دے
د هندوکش تر زاڼو چګ کړي پروازونه

اشـــــنا د لـــــوړو غـــــرو شـــــپونکے دے
پټ پهـش شپېلۍ کښې راته وائي ټول حالونه
د مـــــوري غـــــره شـــــپر دل خانـــــه
دا نـور خانـان درته غونډۍ پـه مخکښې ځینـه
د مـــــوري غـــــره فلانـــــي خانـــــه
دا نـور خانـان درتـه ډېرې پـه مخکښې ځینـه
د غـــــرۀ د ســــره مــــې راتـــــوپ کــــړو
لکــه پنــډوکے د یــار غېــږ کښــې پرېوتمــه

# اسلامي روايات

د کله راسې چې د ژوند دا لوبه روانه شوې ده د انساني نوغي د زمکې په سر د غرونو ، سمونو، رودونو ، سيندونو ، ډنډونو او دريابونو سره ژبست روزګار شورع شوے دے۔ د ژوند د ارتقاء عمل په دوئي پورې روان شوے دے۔ دشتونه ځنګلونه ، صحراګانې ، مرغزارونه او مېدانونه ټول د ژوند د فروغ او ودې موندو ذريعه شوي دي۔ دغسې د زمان او مکان په دې تعاؤن او ددې په مرسته د حيات کاروان ته لاره جوړه شوې ده ۔او انسان څوک چې د ژوند د لوبې مرکزي کردار دے دوختـه راسې په دې لوبه کښې عملاً شريک شوے دے۔ وخت په وخت تهذيبونو سر وهلے دے۔ ودانې او ورانې لکه چې ختمه ګتمه شوي دي۔ د تهذيب او تمدن د ودې دپاره تخريب او تعمير دواړه پکار کړے شوي دي ۔ انسان همېش دپاره او همېشه راسې د ژوند تېرولو دپاره د اسانو او سهولتونو پېدا کولو په تکل کښې پاتې شوے دے۔ د ژبې خاوند شوے دے۔ د علم او زدکړې خوګر شوے دے۔ لکه چې مولانا رومي وائي :-

هـــر بنـــائے کهنـــه کـــۀ آ بــــادان کننــــد
اول آن تعميـــــــر را ويـــــــران کننـــــــد

ددې دپاره ئې هنرونه او چلونه زده کړي دي۔ فنونو ته ئې مخه شوې ده۔ دغسې ئې د بې شماره فنونو پوړۍ او مدارج سر کړي دي۔ د قدرت په مخفي طاقتونو د برې موندلو اهليت ئې په ځان کښې پېدا کړے دے۔ کله راټول شوے دے او کله خور شوے دے ۔داسې چې دشت و جبل ئې هم تر مېنځه ډېر ځله حائل شوي دي۔ سيندونو، دريابونو هم دې يو ځبله ببل کړے دے او دغه رنګ قومونه ، قوميتونه ورنه جوړ شوي دي ۔ د غر بېلتون او جدايۍ د ژوند په هنګامو کښې ددۀ د کردار وضع کولو او ددۀ د ضرورت او سعي په تابين دۀ لـه د خپلې مخې ويستلو موقـع ورکـړې ده ۔او دے ئ د خپلـو مخصوصـو تهـذيبي رنګونـو او

تمدني روایاتو سره همکنار کړے دے .په دغه تهذیبي رنګونو کښې د زمانې په تېرېدو رنګ آمیزي شوي دي. د عقائدو او مذاهبو جال وربانديې خور شوے دے. د هرې عقیدې خپل اقدار او د هر مذهب خپلې لارې وې. خپل تعلیمات ئې وو. انسان ته په روحاني او جسماني دواړو حېثیتونو کښې ددې حاجت او ضرورت وو. په دې چې کۀ یو پله دے د ژوند په لوبه کښې د ستیز او بساز دواړو سره مخ ؤ نو بل پله دۀ ته د سکون او اطمینان حاجت هم ؤ ځکه خو په هر دور او هره زمانه کښې د داسې لارې موندلو تکل ئې جاري ساتلے دے. دغسې انسان د خپلو بې شماره تهذیبونو او تمدنونو د شکست و ریخت په لارو یون کړے دے. ددې عمل نه دۀ څۀ موندي دي څۀ ئې ورنه حاصل کړي دي او نور به ترې نۀ لا څۀ مومي او څۀ به ترې نه حاصلوي دا د هرې سیمې هر اولس او هر تمدني او معاشرتي ګوند په قوت او اهلیت منحصره ده.

زمونږ دا سیمه چې په پښتونخوا یادېږي .دا د خپل جغرافیائي هئیت خپلو روایاتو او خپلو د ژوند تېرولو د بنیادي اصولو او اقدارو په رڼا کښې ځان ته یو منفرد او ځانګړے مقام او حېثیت لري .په جغرافیائي لحاظ دا د ایشیا د نیمقاري مرکزي خطه ده. په تمدني ، تاریخي او سیاسي لحاظ ورته د ,, ایشیا زړۀ ،، وئیلې کېږي .او په عملي ژوند کښې د سخت کوشۍ او جان کنۍ او زیارکشۍ ډګر دے. دلته نۀ خو ژوند تېرول او د ژوند خواږۀ موندل څۀ داسې اسان دي او نۀ ددې نه ځان خلاصول. ځکه نو نۀ یواځې دا چې ددې سیمې خلق همېشه راسې د خرګي او تبرګي لېواله دي بلکې ددې په حصول او لټون پسې په سر و مخ نغښتلو او په ګومله پرېښلو هم اړ نۀ دي. دا ئې مجبوري ده. دا ددې سیمې د جغرافیائي هئیت تقاضا ده په دې چې ددې کهسارونو او برفزارونو نه د را روانو اوبو مخه همېش دپاره د بهر وتو پله مائله ده. د ترېکې دا یون او د بهر وتلو دا تلوسه لکه چې د دوئي هم فطرت دے. دا عمل د پخوا راسې را روان دے او لکه چې تل به هم داغسې روان وي. سره ددې چې په خپله سیمه ددې اوسېدونکو د اخذ او قبول په اصولو هم عمل کړے دے او هر هغه څۀ چې ښۀ ورته ښکاره شوي دي هغه کۀ د بهر نه هم راغلي دي نو دوئي خپل کړي دي. هر کلے ئې ورته وئیلے دے. د خپل ژوند حصه کړي ئې دي. خپل عملي ژوند ئې

ورسره تړلې دے ـ د خپل روح د تسکین او د ژوندانهٔ د ودې او ارام دپاره ئې پکار کړي دي ـ څهٔ چې ئې خوښ شوي دي هغه ئې خپل کړي دي ـ څهٔ چې ئې په طبع راست نهٔ دي راغلي د هغې نه ئې عذر کړے دے ـ څهٔ رنګ چې انسان فطرتاً خود غرضې او خود پسندۍ پلو مائل پاتې شوے دے دغسې ددهٔ جبلت هم دغه لاره نیولې ده ـ

د ادیانو او مذاهبو سره د پښتنو تمدني تاریخ د قدیمه راسې په دې تړلې پېرلې راغلې دے چې د دوئي مېشتهٔ همېشه راسې په داسې سیمه کښې پاتې شوې ده چې د فروغ او خروج هاغه لارې چې انسان به وربانديې سفر کوؤ تولې په دې سیمه باندې تېرې را تېرې دي ـ دا د تهذیبونو او مذاهبو د خورېدو لارې وې ـ ځکه نو د پخوانو آریائي قومونو د تمدنونو نه ئې راواخله تر د اسلام د راخورېدو پورې دغه تسلسل په دې سیمه په مخه جاري پاتې شوے دے ـ بیا کله چې دوئي د اسلام په ننګ شول نو خپل هاغې ماضي ته ئې خبر باد اووې ـ کوم چې زرتشتي انګونه وو ـ آتشکدې وې ـ د بامیانو یا ګندهارې بتکدې وې او یا هندواني مندرونه درمشالې وې ـ پښتون اوس سوچه مسلمان ؤ ـ داسې چې اسلام د پښتونولۍ د دریو بنیادي اقدارو نسل ، ژبه او عقیده یو اهم او بنیادي قدر وګرځېدو ـ

په خپل دین باندې مئینه مسلمانه
عملي ژوند دا غوښتنه کوي ستا نه
تش په زړهٔ سره الله وئیل اسان دي
خو په دې شي د عمل مرحله ګرانه

په دې چې پښتون کهٔ پښتون وي نو مسلمان به ضروري وي ـ هندو پښتون ، سکهـ پښتون ، عیسائي پښتون ته څوک پښتون نهٔ شي وئیلې او نهٔ کله داسې کېدے شي ـ ځکه خو وائي چې:

هندو چې مسلمان شي ورته وائي پراچه
مسلمان چې هندو کیږي داسې کړي نهٔ دي چا

هم ددې بنیادي اصولو په رڼا کښې اسلام د پښتون پېژند ګلوده ـ ځکه خو پښتو او اسلام دهٔ ته یو ښکاري او ددې دپاره هره قرباني کول خپل سعادت ګڼي او وائي ـ

چې په اسلام باندې سر ځار کړي
خدایه د داسې شاه زلمو نه لوګې شمه
څوک چې په صدق مسلمان وي
په اشارو د اسمان نمر راکوزوینه

بیا کله چې په عملي ژوند کښې د هاغې اقدارو او تعلیماتو نه روګرداني کیږي او تشه د نوم مسلماني پاتې شي نو په داسې حال کښې د تنقید او احتجاج دروازې ببرته شي ـ هر کله چې د داسې پښتو زیات اثر په زنانه ؤ وي ځکه نو هغوي چې کله خپل داسې حال زار ته اشاره کوي نو وائي چې :-

مسلماني په چا کښې نیشته
د لاس بنګړي مې خرڅوي ژړا راځینه

او کله چې څوک داسې د نوم په مسلمانۍ په منافقت او د ظاهر دارۍ د مسلمانۍ غندنه راواخلي نو په طنزیه انداز کښې ئې څۀ داسې هم د خولې نه را اوځي چې :-

مسلماني دې ډېره وکړه
راشه کافر شه چې ایمان دې روزي شینه

د اسلام په دائره کښې دننه د ژوند تېرولو مقرر اصول خو د قرآن حکیم او احادیث نبوي صلی الله علیه وسلم په تعلیماتو عمل کوي دي ـ ولې دې قام ته دغه دین څۀ براه راست خو نۀ دے راغلے ـ دا اول په عرب او بیا په عجم راتېر شوے دے ـ او بیا په خراسان راخور شوے دے ـ او دغسې ئې هاغه قدیم تمدني او تهذیبي روایات هغه کۀ د عربو د جاهلیت د دور وو او کۀ د ایراني مجوسیت او مزدکیت وو ئې هم د ځان سره راؤړي دي ـ د کومو سره چې دغه قامونه د زمانو راسې په خپل خپل انداز بلد او اشنا وو ـ بیا نو کله چې پښتنو اسلام قبول کړو نو د سوچه اسلامي تعلیماتو سره سره ئې لکه چې هاغه لاړې چارې هم خپلې کړې کومې چې یا خو د عربو د جاهلیه دورونو راسې په هغوي کښې راسخې وې او یا بیا هاغه عجمي روایات چې دغلته د اګاهو نه موجود وو ـ ځکه نو کۀ دا ساده باده وګړے یو پله په عبدالله او عبدالرحمان یاد شو نو بل پلوئې کیقباد ا و خسرو پرویز ئې هم خپل کړل بیا په خپلو قدیمو روایاتو او

ثقافتي رويو سرباري وربانديږ د منګولو او تاتاريانو شخړې خو هم راغلې دا مغلولي پېښې څۀ د اسلامي ببرغ لاندې خو په دې مخه نۀ راتلې ولې بې علمه پښتنو دغه هر څۀ ته اسلام ووې او دغه هر څۀ ئې د خپل قبول کړې پاک دين په جامه کښې اونغښتل ـ داسې لکه د عربو د جاهليه دور د خپلو لوښو خوښندو نه بيزاري نسلي او قبائيلي فخر و مباهات،عداوتونه دشمنۍ او خانداني ميرځۍ ـ د ايراني جاه پرستۍ کبر و غرور ، خود ستائي ، انانيت او شېرين نوازي او د جمشيد او فرهاد په شان ټول زرتشتي اسماء الرجال ئې هم خپل کړل او رستم او سهراب ئې هم لکه په خپلو قهرمانو وګمارل يا په داسې نورو کردارونو ئې خپله مينه ماتوله او فخر ئې وربانديږ کوؤ ـ ازبکي مغولي ظلم تعدي او بې رحمي ئې خپل کړل ـ دا هاغه اثرات وو چې د پښتنو د قبول کړې دين حصه شوي وو ـ بيا دا چې دا د دوئي د هاغه خپلو نورو بې شماره کمزورو او بدعتونو سره پاخۀ ټل شوي وو کوم چې په خپله د پښتنو خاصه وو ـ رواجونه ئې وو پخواني روايات ئې وو ـ دغسې خبره نوره هم بل شان شوې وه ـ پښتون په اسلام مشرف خو شو ولې د خپل سمې په اسلام ـ ځکه نو په خپله هم په دې اقرار کولو مجبور شو چې ووائي چې پښتو نيم کفر دے ـ بيا په پښتو کښې د هاغې پاتې نيم اسلام قبصه هم څۀ لا په بل رنګ وه ـ په داسې حال کښې چې پښتون وګړے چې د څۀ قسم ژوند سره مخ وو د هغې اعتراف به ئې داسې کوؤ ـ

چې په ژوندون په ښۀ راننغلې
اوس مې په ګور د پاسه مۀ شينده ګلونه
چې په ژوندون په ښۀ راننغلې
اوس مې د ګور په خازو مۀ وهه لاسونه
چې په ژوندون مې پکار نۀ شوې
د جنازې لاندې مې مۀ ځه مختورنه
ما ترې د ژوند طمع لرله
ناترسه يار په نيمه لار کښې پرېښودمه

او په اخر کښې لکه چې بيا دا حال ؤ چې :-

ژوند تــه پــه شــا شــا داســې ګــورم
لکــه بــائيللي جــوارګر چــې کــور تــه ځينــه

اوس نو فکر پکار دے چې د پښتون په عملي ژوند کښې د اسلام تداخل تر کومه حده په نظر راځي .بيا چې کۀ څۀ ليدے کيږي هم نو آيا دا تش رسمي اسلام خو نۀ دے .ددې بې شماره مثالونه د پښتو په ضرب الامثالو کښې هم موجود دي.

د الله تعالٰی بندګي په ځان منل ، د هغۀ احکامو ته تسليم کېدل ، او د هغۀ عبادت کول بيا ددې نه خپل کردار او عمل له ځلا ورکول بائد چې د هر مسلمان د ژوند ښکاره صفت وي اوس نو هغه پښتون څوک چې د اسلام په نوم خپل ځان او مال دواړه قربانول غواړي هغه په خپلو عباداتو کښې د خپل شخصيت د تعمير تر کومه حده پابند پاتې شوي دي .بې شکه چې هسې خو هغه په دې ښۀ پوهه دي چې :-

کــۀ د ټــول عمــر عبــادت کــړم
ســتا د احســان اجــر بــه څنــګ ادا کومــه

ولې عملاً داسې نۀ ده.د عباداتو سر د نمانځۀ نه نښلي، نمونځ فرض دے او پابندي کول ئې لازم دي.دا د بنده او مالک تر مېنځه رابطه ده.ځکه د توجه او خضوع او خشوع متقاضي ده .ولې زيات پښتانۀ هېڅ کله هم ددې نه نۀ وي خبر چې د خپل دې عبادت په وخت چې دوئي د خپل خالق او مالک سره همکلام وي دا دوئي ورته څۀ وېل غواړي.هغه څۀ چې دوئي وربانديې ژبه خوزوي هېڅ په معنٰی او په مطلب ئې نۀ پوهېږي .نو په داسې حال کښې کۀ ټول عمر پنځۀ وخته ښۀ په باقاعدګۍ سره خپل دغه فرض ادا کوي هم ولې نتيجه ئې لکه چې دا وي چې ,, يېره خو هېڅ پوهه نۀ شوم چې ما څۀ ووې ،، په داسې حال کښې د چا د شخصيت او کردار او عمل د صحيح ودې او تعمير امکان څۀ رنګې ممکن کېدے شي.په دې خو ښۀ پوهه دے چې :-

څــوک پابنــدي چــې د نمانځــۀ کــړي
پــه آخــرت بــه ئــې شــفاعت رســول کوينــه

مـــا پـــه ځـــان واچـــوه چـــې يـــخ شـــې
پس لـه هغـې نمانځـۀ لـه ځـۀ چې سـود دې شينه
نمـــــــونځ و روژه د ديــــــــن بنــــــــا دي
ماتـــه مُـــلا پـــه ممبـــر پـــاس وئيلـــي دينـــه
اوښـــکې نمـــانځې دي کـــۀ بـــې لمـــازه
زمـا پـه څيـرې ګرېـوان ځـي نمـونځ پـرې کومـه
نمـــونځ چـــې قضـــا شـــي بيـــا ادا شـــي
نـــۀ داد کيـــږي قضـــا شـــوي ديدنونـــه

مسجد ، جماعت د باجماعته نمانځۀ ادا کولو ځائے دے ـ جومات د ابتدا راسې د اسلام ثقافتي مرکز دے ـ د مسجد حرام او مسجد نبوي او مسجد اقصٰی نه ددې مرکزونه د قيام سر نښتے دے ـ هم دا عمل دغسې د دنيا په مخ جاري دے او تـر قيامتـه بـه جـاري وي ـ د جومـات سـره تړلـي روايـات د عبـاداتو سـره سـره د تعلـيم او تـدريس ، عـدل او انصـاف ، د رحـم او احسـان او د سـعي او جهـاد هـم راغلي دي ـ دا لکه چې د اسلامي معاشرې د تربيت او ودې هغه مرکزونه دي چې د مهد نه تر لحده د يو مسلمان د ژوند تربيت ، روزنه او پالنـه وربانـدې انحصـار لري ـ دا د خضوع او خشوع او د تلاوت او عبادت د خلا او ملا ځايونه دي او علم او ادب لـه ئې هم فروغ ورکړے دے ـ خطابت او انشـاء ممبر او مکتب د جومـات سره تړلي راغلي دي ځکه نو کۀ څوک دا وائي چې :-

د جماعـــــت ګـــوټ ماتـــــه محـــــل دے
طالـــب اشـــنا مـــې پکښـــې عمـــر تېروينـــه
جومـــات زمـــونږ د کـــور پـــه خـــوا کښـــې
جانـان چې کلـه نمونځ لـه ځي زۀ ئې څارمـه
د جماعـــــــــت تـــــــــوره طالبـــــــــه
زمـــا نـــازبين جانـــان لـــه وکـــړه تعويذونـــه
د جومــــات ګـــــوټ دربانـــــدې کښـــــېنه
زمـــا د زړۀ ســـتنې کـــړې درپســـې دينـــه

تـۀ د جومـات پـه ګـوټ کښـې مـړ شـې
د نیمـې شـپې شـوګیره تاتـه ناسـته یمـه
د جومـــات ګـــوټ دربانـــدې پریوځـــه
چـې درنـه پـاتې شـي تـاودۀ سـاړۀ ټوکونـه

بیت الله چې په بیت الحرام او بیت العتیق هم یاد شوے دے او د خانه کعبې چار چاپېره ودان کړے شوي جومات ته مسجد حرام وائي .ددغه مقام یو عام اصطلاحي نوم خانۀ کعبه هم دے .د کعبې فضیلت او تقدس هر مسلمان ته په ښۀ شان سره معلوم دے .هر څوک ئې زیارت ته لېواله وي .د هر نمانځۀ په وخت چې کله نمانځۀ ته اودرېږي نو وائي چې مخ مې د کعبې شریفې په لور کړو .ځکه خو د هر مسلمان د زړۀ دا آرزو وي چې د کعبته الله حاجي شوے او دا سعادت ورته حاصل شوے او د ژوندانۀ سفر ي د سکون او اطمینان په لاره خپل اخري منزل ته ورسېد ے .

حج د اسلام څلورم بنیادي رکن دے چې په هر صاحب استطاعت مسلمان نارینه او زنانه فرض کړے شوے دے .ددې تعلق د بیت الله په خوا کښې د هاغې ټولو عباداتو سره دے کوم چې د کال په یوه مقرره نېټه ادا کولے شي .د حج بیت الله نه علاوه د عمرې سعادت موندل د مسلمان د خوشبختۍ علامت ګڼلے شي .چې د کال په دولسو میاشتو کښې د ایام الحج نه ما سېوا هر کله کېدے شي .او څوک هم چې دغه سفر په ښۀ نیت اختیار کړي نو دا ئې یقین ته پرېوځي چې :-

د لېونــــو د لارې مــــــل شــــوم
د یــار تکــل کښــې تــر کعبــې ورســېدمه

دا جنون او دا لېونتوب د ایمان دلیل دے .دا هغه یقین دے د کوم چې د اسلام تعلیمات متقاضي دي .دا سعادت دے او د منزل د موندو لاره ده .په دې سره د ژوندانۀ د کامیابۍ لارې موندے کیږي دا د سړي آخر ښائسته کوي .دا د خپل محبوب او معشوق حقیقي د رضا او د هغۀ د قربت د حصول لاره ده .چې څوک وربانديې روان شي هغه کامیاب دے هم دا هغه بنده وي چې الله پاک ئې د پېدا کولو مقصد پلو داسې اشاره کړې ده .چې وما خلقت الجن والانس الالیعبدون o

د عباداتو بالخصوص د هرې ورځې د پنځهٔ وخته نمانځهٔ دپاره د مقررو او معینو وختونو نه علاوه یو هفته وار عبادت د جمعې د ورځې هم دے ـ لکه څهٔ رنګ چې یهودو له د سبت یعني د خالي ورځ په تورات کښې مقرره کړې شوې وه ـ او عیسایانو د اتوار ورځ د شریک عبادت دپاره مخصوصه کړې وه ـ دغه شان مسلمانانو ته هم د جمعې د ورځې د شریک عبادت تاکید شوے دے ـ د جمعې د ورځې دا اهمیت د قرآن کریم نه ثابت دے ـ او دغه تقدس ئې په دنیاوي معاملاتو هم اثر انداز شوے دے ـ هم دغه سبب دے چې وائي چې :-

ورځ د زیارت شپه د جمعې شوه
ګرانه په دې شوه یار مې نهٔ کوي پوښتنه
کهٔ د جمعې په شپه رانغلې
غم به مې ډېر شي ځان به اور ته واچومه
کهٔ دې جمعې له جانان راغے
په سرو منګلو به ئې پښې چاپي کومه

**قطعه**

ده اسانه کلمه په هندو ګرانه
په پښتو کښې دا متل دے د پخوا نه
د حقوقو فرایضو نا خبه
څه ورځو چې تپوس وکړو د مُلا نه

هسې خو د هر مسلمان د عبادت ځائے جومات وي ـ ولې د دې انتظام او انصرام خو هم د چا د غاړې وي ـ داسې څوک اهلیت لرونکے ورله پکار وي چې د دې پاک ځائې د هرې ښې بدې ضرورتونه ئې په نظر کښې وي ـ دې ټولو ته ئې خیال وي سرته ئې رسوي ـ ځکه نو د جومات دپاره د رضا کار خادم نه علاوه د عبادت او درس د ذمه وارو سرته د رسولو دپاره کوم مقرر عالم او استاد ته د پښتو په عامه اصطلاح کښې مُلا وائي ـ ملا د پنځهٔ وخته اذان کولو ، د امام په حېث د نمانځهٔ دپاره د وړاندې اودرېدلو یعني امامتي کولو ، د جمعې د ورځې د تقریر او خطبې د ورکولو د دیني تعلیم او تعلم ذمه واري ترسره کولو ، د کندي او محلې

يا پلو ماشومانو له د درس ورکولو ذمه وار وي .د ے د غم ښادۍ د کارونو ځيني ديني ذمه وارۍ هم سرته رسوي او د مړي د سنبالولو او جنازې اهتمام هم کوي .په اصل کښې مُلا د هاغې آدابو او اخلاقو د ټول تربيت ذمه وار وي د کومو دپاره چې په قرآن کريم او احاديث نبوي صلی الله عليه وسلم کښې تاکيد شوے دے .د ممبر او محراب دا محافظ چې خلق ورته مُلا وائي د چنړي طالب او مُلا کېدو په پړاؤنو راتېر شوے وي .په وړمبي حېثيت کښې د ے چنړے وي ، بيا طالب شي او چې کله تحصيل تمام شي نو د ملاتوب سند ورته حاصل شي . د سپينې جامې خاوند شي سپين دستار ئې په سر شي .مُلا استاذ وي معلم وي لار ښود وي .د دين د لارې نه خبردار وي .ځکه ئې عام اولس عزت کوي .په درنه سترګه ورته ګوري .د ے عموماً د سپينې جامې او د سپين دستار خاوند وي ځکه خو داسې وائي چې :-

جانـــان مـــې ســـپينې جـــامې وکـــړې
چـــې رابهـــر شـــوم پـــه مُـــلا غلطـــه شـــومه

بيا کله چې د عباداتو ذکر راشي نو د مُلا شخصيت هم ورسره سر ووهي :

نمــــــونځ او روژه د ديـــــن بنـــــا دي
ماتــه مُــلا پــه ممبــر پــاس وئيلــي دينــه

کلې والې سندرې د کلي وال ماحول ترجماني کوي .ساده خلق ساده خبرې او ساده خيالونه ځکه خو کله چې د مينې پاټکي ته د چا قدم ور اوړي نو دا هم ورسره وائي چې :-

مينــــــــه روا کــــــــۀ نــــــــاروا ده
ملانـــو وګـــورئ د شـــرعې کتابونـــه
مينـــــــــه روا ده خـــــــــورې واؤره
پــرون مُــلا پــه ممبــر پــاس وئيلــي دينــه

او ورسره يوه طنزيه وينا ئې داسې هم کله نا کله په خولۀ راځي :-

پــه ســود او غېــب کښــې ګنــاه نشــته
ماتــه مُــلا پــه ممبــر پــاس وئيلــي دينــه

د کوم مدرس ، استاذ او مُلا سره چې چنړې طالبان درس حاصلوي او د وخت نه وړاندې ورله رخصت نۀ ورکوي نو داسې مُلا ته وائي چې :-

مُـــــلا د خـــــدائے روي مـــــې در وړے
زمـا لالـي لـه رخصـت ورکـړه چـې راځينـه

د پښتو په فولکلوري ثقافت کښې چې د ملا کوم کردار پاتې شوے دے هغې د معاشرتي ژوند په تنسته بوده کښې خپل پوخ مقام لرلے دے ـ په دې کښې زاري منت هم شته ـ دا د طنز و مزاح نه هم خالي نۀ دي او دا ډېرې تنقيدي نکتې هم په ګوته کوي ـ داسې خبرې کۀ يو پلو په متلونو او مثالونو کښې موندے کيږي نو بل پلو د ټپو او ستائينو يوه وافره ذخيره هم د داسې مباحثو نه جوړه ده چې د عام اولس د ژوند سره تړلے يو مخصوص انداز لري ـ او خوند رنګ ئې دلچسپ او مزېدار هم وي لکه :-

مُـــــلا د ځايــــــه ګناهګـــــار دے
چې د سحر بانـګ کښې ناشنا ټپې کوينه
مـــــلا د مينـــــې لېـــــونے شـــــو
د جومـات مينـځ کښـې پـه ټپـو اولګېدونـه
زمـــا جانـــان دې ډېـــر ايســـار کـــړو
په سترګو ړوند شې د جومات مـلا مسکينه
مـــــلا راپورتـــــه راتـــــه ګـــــوري
د بـــوزغلي د ګېـډۍ شـنۀ لـرم خالونـه
خولـــــۀ د مُـــــلا د لـــــور نـــــه واخلـــــه
د شـکرانې چرګـان ئـې ټـول خـوړلي دينـه
خولـــــۀ د مـــــلا د لـــــور خـــــوږه ده
بـــلا تـــالي ئـــې د حلـــوا ځټلـــي دينـــه
مينـــــه کـــــوم خـــــو دســـــتخط اوکـــــه
د مـلا لـور کـۀ بـل اشـنا دې چرتـه وينـه
دې فضـــــل الله مُـــــلا تـــــه وايـــــئ
ډيرې دې کونډې کـړې ښـيرې درتـه کوينـه

ملا د خدائے په روي بانګ وايه
د زنې سر مې اشنا کندې کندې کۀ نه
ملا په بانګ ګوتې کړې پورې
نازک بدن اشنا له ما ويستۀ لاسونه
ملا لالا مې ازار نۀ کړې
په سر سرتوره يم فرياد درته کومه
عالم ياري د پښتنو کړي
د ميا ملا ياري نسخوګے لګوينه
شکر چې يار زما پخلا شو
ګنې په کوم يو ميا ملا پسې به تلمه
دا ملايان د خدائے غوايان دي
مونږه اميان به پرې سوارۀ جنت ته ځونه
ياد د درال د سر ګوجر وي
يا زوړ مُلا وي چې مې لوستي کتابونه

ذکر د عباداتو يو خوندناک او په زړۀ پورې عمل دے ۔دا د الله پاک د يادو سره مشغولېدل دي ۔دا د ځائے ځائيګي او روز و شب د قېد و بند نه ازاد وي ۔هر وخت او هر چرته کېدے شي ۔هم په ژبه او هم په زړۀ کښې ۔د خلا او ملا ذکر د انسان روح له د پرواز وزرې ورکوي ۔زړۀ له تقويت او اطمينان ورکوي ۔د الله پاک سره مينه سېوا کوي د هغۀ نه د امداد او اعانت رغبت پېدا کوي او د صبر او شکر خوئي او خصلت له وده ورکوي ۔ذکر په دوه نوعه دے ۔ذکر خفي او ذکر جلي ۔الله پاک چې رحيم او کريم دے ۔د خپل ذکر په دې دواړو طريقو خوشحالېږي ۔د مينې خوګر انسان چې د معشوق حقيقي په مينه مست شي نو د محبوب حقيقي د دايم ذکر نه بغېر ورباندې بيا وخت نۀ تېرېږي ۔تل ئې په ياد کښې مشغولېږي ۔د زړۀ غبار ئې په ذکر سره کمېږي او دغه د زړۀ شيشه ئې هم دغه شان صفا کېږي رڼېږي او څۀ رنګ چې ظاهري بدن په وينځلو صفا کېږي هم دغه شان د وجود اندرون په ذکر سره صفا کېږي او د ابدي نور په ضيا او پلوشو روښانه کېږي ځکه خو وائي چې :-

ذکــــــر او فکــــــر د زړۀ يــــــو کــــــړه
چــې اخــرت دنيــا دې دواړه روزي شــينه

کوم انسـان چې د الله تعـالی په ذکر اموخته شـوے وي هغه بيا د صبر او شکر خوګر هم شي ـ د الله پاک په کړو ئې په هر حال کښې صبر وي او د هغۀ په ورکړه شکر کوي په دې ئې يقين وي چې :-

د خــــدائے کارونــــه ټــــول د خېــــر وي
بنــده لــه ښــائي چــې دې شــکر پــرې کوينــه

بيا دا چې الله پاک هم د صابرينو ملګرے وي ـ صبر او زغم د ډېرو مشکلاتو او آفاتو مدافعت کوي ـ ولې بيا هم بې صبري د انسان علت او کمزوري ده ـ دې ته د شېطان لمسه هم وئيلې کيږي ـ او د شېطان دې لمسې همېش دپاره ډېرې خرابۍ او بربادۍ رازېږولې دي ـ ډېر کورونه ئې وران کړي دي او ډېر ئې د ژوند د پانړې نه بهر کړي دي ـ بې صبري کۀ څۀ هم بې خبرۍ ته لارې سموي ولې سره ددې چې کله څوک د صبر لمن د لاسه پرېږدي نو حال ئې دا شي چې ووائي :-

پــــه صــــبر صــــبر پــــوره نــــۀ شــــوه
صبا مې نيت دے بې صبرۍ ته ملا تړمه
زۀ بــه پــه دې کښــې څنګــه جــوړ شــم
غمونــه خــورم د صــبر ګــوټ پســې کومــه
صــــبر د قبــــر پــــه مثــــال دے
زۀ چــې مــدام صــبر کــوم خــاورې بــه شــمه

وخت او حالات همېش دپاره په يو رنګ خو نۀ وي او نۀ د زمانې پېرونه او د خلقو رويې چرې يو شان وي ـ ځکه نو کله هم چې څوک د وختونو يو تر بله موازنه کوي نو تېر وختونه د روانو او راروانو وختونو نه ورته زيات غوريز او عزيز ښکاره شي ـ هر روان او موجوده وخت ورته استحصالي او بې اعتباره ليدے کيږي ـ د داسې ناويسايۍ د کېفيت د راولاړېدو د مخه څۀ د داسې شش و پنج په وېنا سر شي چې :-

پخـــــوا د صـــــبر يـــــاراني وې
يــار بــه د يــار ســترګو تــه عمــر تيرؤنــه

یا دا چې :-

صبر مې کلک زړۀ مې سنګين دے
مالـه افسوس پـه بې وسۍ خپلـه راځينـه

په داسې حال کښې چې خپل محبوب ته مخاطب کیږي نو ورته په ګیله مند انداز کښې وائي چې :-

اول دې وے چې رامئـين شه
اوس راته وائې زړګے صبر کـه مئینـه

ولې ددې هر څۀ باوجود ورته صبر د قناعت او استقامت د لارو مشال ښکاري او ددې په رڼا کښې د ژوند تېرولو آرزو او خواهش ئې په زړۀ کښې غزوني کوي۔ په خپله برخه او خپل قسمت صابر او شاکر وي۔ او وائي چې :-

خلق د ښو برخو صفت کړي
زما دې صبر په دا خپله برخه وینه

په پښتو کښې د یو انسان روحاني او اخلاقي اصلاح کوؤنکي ته پیر وئیلے شي۔ پیر د روحاني دنیا استاد ، معلم او لار ښود وي ۔ دے د تصوف د لارې لاروے وي۔ د ښو اخلاقو او سپېڅلي کردار څښتن وي۔ په انساني سطح د رحم و کرم او ایثار او قربانۍ مظهر وي ۔ عابد وي ، عالم وي د دنیا دارۍ د آلائشو نونه ځا ن ساتي۔ نیک طینة او قلاش مشر به وي۔ د شر نه ځان ژغوري د خیر په کار کښې چمتو او مستعد وي ۔ خپل بوج په بل نۀ اچوي ولې د بل بوج ته ئې تل سرښکته وي۔ ریښتونے وي۔ مهربان وي ، محسن او بنده پر وي۔ درویش وي ، په فقر ئې فخر وي ، هغه څوک چې په داسې صفاتو متعف هغۀ ته اصطلاحاً د پیر نسبت کولے شي ۔ ټول پښتانۀ د داسې پیر قدر او احترام په ځان لازم ګڼي او هغه څوک چې ددۀ په حلقۀ ارادت کښې شامل شوي وي هغوي ددې خبرې اقرار کوي چې کۀ پیر خس دے خو مرید له بس دے۔ د پیر دا مقام او دغه حېثیت د هغۀ د خپل ذات سره مخصوص صفات دي ۔ دا ضروري نۀ ده چې د هغۀ هر مسند نشین دې دغه صفات ولري۔ ولې پیري مریدي ډېر ځله د کلاه او شجرې په روایت هم خپله کړې شوې ده ۔ ځکه مسخره شوې هم ده ۔ ډېر ناهنجاره ، ناپکاره ، بدکاره ، بدکرداره ، بد اخلاقه په داسې وراثتي ګدو او مسندونو قابض شوي وي او خود

غرضه یا نا خبره خلق ئې درانهٔ وړي چې کله هم ددې عزت او احترام حقدار نهٔ وي ـ د پیرۍ او فقیرۍ دنیا یوه ځان له دنیا ده ـ دا هاغه خدا رسیده اولیاء الله او بزرګان وي ځوک چې :

بزیر کنګرهٔ کبر یـاش مردانند
که ننده د هند لشکرو شهنشاهي

پیري مریدي د اولسي ژوند په ډېرو لارو حاوي ده ـ ډېرو خلقو په سر سترګو منلې ده او په ډېرو ئې خپل اثر څهٔ دا رنګې خپور کړے دے چې دے چې چرته روان وي یـا پـه سـفر کښـې وي نـو جنـډې هـم ورپسـې وي ـ دې روایـت او د پیـر دې سپېڅلي مقام ته داشارې کولو په موقع وئیلے شي چې :-

ورځـــه ورځـــه مـــخ تـــه دې ښـــه شـــه
پیر خو مې نهٔ ئې چې جنډې درپسې وړمه

ولې هاغه ځوک چې کامل وي ـ په مقام او مرتبه ئې هر ځوک خبردار او قائل وي ـ او د روحاني دنیا په منازلو راتېر شوے وي د تسلیم و رضـا د لارې لاروے وي او په دغه لارو ورته د کشف او کراماتو سعادت هم حاصل شوے وي نو د داسې مقام خاوندان هاغه وي چې هم ئې په ژوندانهٔ عزت او احترام شوے وي او هم ئې پس له مرګه په شناختو تل چراغان وي ـ دا درویشان په اصل کښې دُرویشـان هم وي ـ دوئي دُرونه او ملغلرې ویشونکي وي ـ فېض رسان وي ، خېر رسوؤنکي وي ـ هم د دوئي په طفېل د الله پاک د کرم او مهربانو خزانې رابرسېره کېږي او د حاجتمندو دا حاجت روایۍ مخې سمبړي ـ په دې یقین او دغې باور ئې هر کله پـه مزارونـو هـم مېلـې جـوړې وي ـ چراغـان وربانـدې کېـږي ـ اولسـونه پـرې راغونډېږي او د خېر او برکت جامونه پرې وېشلې کېږي ـ هسې خو نهٔ وائي چې دا دنیا د ځو ښو خلقو په مخ ودانه ده ـ دا ښهٔ خلق هم دغه اهل الله درویشان او فقیران دي ـ چې د انسانیت د خېر په طلب الله پاک ته تل پـه زارۍ وي ـ پـه هر چا ئې د رحمت او کرم د بارانونو طلبګار وي ـ او ټول انسانیت د ژوند په خوږو مړول غواړي ـ بیا په دې پس منظر کښې کهٔ ځوک دا وائي چې :-

ســـــــحر صـــــــبا دے روانېـــــــږئ
د پیـــر بابـــا د بـــڼ طـــاؤس نـــارې وهینـــه

د پيــــر بابـــا پـــه منــــارو کښــــې
ناست په ايرو کښې ځان په تخت حسابومه
پـــه پيـــر بابـــا بـــه ورغــــورېږم
کۀ مې منظور شي دا لنډي لنډي سوالونه
د پيــــر بابـــا لارې دي ســــختې
د ګلـو لښـتې زۀ پـرې سـتا دپـاره ځمـه
پيــــره بابــــا را ورســــېږې
د ملنـدرۍ کنـډۆ مـې مـات کـړو زنګنونـه
پيـــره بابـــا پـــه ډاګ ئـــې ولـــه
پـه تـا تېرېـږي ديوانـه بابـا لـه ځينـه
پيــــره بابــــا د بنېــــر غوشــــه
پـه سـپينه ږيـره دې دربـار جـارو کومـه
پيــــره بابــــا را ورســــېږې
ستا په روضه باندې مې ايښي دي لاسونه
پيــــره بابــــا را ورســــېږې
خـونړو سـپو دې په دربار کښـې ماتـه کړمـه
پيــــره بابــــا را ورســــېږې
سـتا پـه دربـار کښـې لېونـو سـپو وخوړمـه
صــــبابه پيـــر بابـــا لــــه ځمـــه
هلتـه بـه سـتا د وصـال ډېـر کـوم سـوالونه
پــه پيــر بابــا چــې ئــې درنــۀ کــړم
نـامرده يـاره مـا بـه خـدائے نـۀ درکوينـه
پــه پيــر بابــا چــې خــدائے درنــۀ کــړم
بدبختـه يـاره نـور مـې مـۀ وينـه خوبونـه
پــه پيــر بابــا چــې خــدائے درنــۀ کــړم
نور به د خدائے په درکښې نۀ کوم سوالونه

ځـــان ئـــې ســـنبال کـــړو روانېـــږي
د پيــر بابــا پــه رنجــو ســترګې توروينــه
ځـــان دې تـــرې بـــچ ســـاته زړګيـــه
د پيــر بابــا پــه رنجــو ســترګې توروينــه
خـــال خـــو دې مـــا وران کـــړے نـــۀ دے
پــه پيــر بابــا بــه درتــه وخــورم ســوګندونه

دا او داسې نورې ډېرې وېناوې زمونږ د ثقافتي ژوند داسې حصه شوې دي - چې هم د اولس د روزمره نشست و برخاست سره ئې تعلق دے او هم د بزم و سرود مجلسونه او محفلونه ورباندې ګرمېږي -

د شپاړسمې او اولسمې صدۍ عيسوي په مېنځ و مانه کښې چې کوم بل روحاني پير طريقت د پښتنو په معاشرتي او روحاني ژوند ډېر اثر انداز شوے ؤ هغه د روشاني تحريک باني حضرت بايزيد انصاري ؤ -څوک چې په خپلو معتقدمينو کښې په پير روښان او د هغۀ په مخالفينو کښې په پير تاريک مشهور شوے ؤ - د نورو کتابونو نه علاوه چې دا په عربي فارسي کښې وو د هغۀ يو کتاب خيرالبيان هم ؤ - دا د پښتو وړمبے د نثر موجود کتاب دے او د پښتو ادبياتو په تاريخ کښې ورته ډېر اوچت مقام ورکړے شوے دے - موضوع او مضمون ئې د روحانيت او سلوک وجداني خبرې دي - انداز ئې څۀ قدرې په الهامي رنګ کښې دے - عبارت ئې کړکيچن دے - داسې وائي چې اول دا کتاب دوه ژبين درې ژبين ؤ ولې وروستو بيا خپل دې موجوده شکل ته را اړولے شوے دے - د بايزيد تعليماتو په پښتو شاعرۍ هم ډېره اغېزه کړې ده - صوفيانه وجودي شاعري دډغې مسلک د تعليماتو د مخه شروع شوه او په پښتو کښې ئې په دغه زمانه فروغ ومونده - مرزا خان انصاري ، واصل ، مخلص ، ملامست زمند او کريم داد وغيره ددغې مسلک د خپل دور نوموړي شاعران تېر شوي دي - کله چې دې تحريک په پښتونخوا کښې دوام ونۀ موندے شو نو لرې په دکن کښې ئې سرپورته کړو - ولې په داسې انداز کښې چې هلته ورنه د مغل د بالادستۍ ته هېڅ هم خطره نۀ وه ولې هلته هم د ناموافق ماحول د مخه ورته فروغ حاصل نۀ شو - البته کوم ادبي او علمي آثار چې ئې چا د پښتونخوا نه هلته لرې دکن ته د

ځان سره وړي وو هغه محفوظ پاتې شول ـ دغسې د شپاړسمې صدۍ د دغې روحاني تحريک تعليمات د ضائع کېدو او فنا کېدو نه بچ پاتې شول ـ د علي محمد مخلص په حالنامه کښې پوره په تفصيل سره د دې روداد بيان شوے دے ـ دا د هاغې وخت يو مستند تاريخي اثر دے ـ
په شلمه صدۍ عيسوي کښې بايزيد انصاري د يو پير طريقت په ځائے د يو سياسي قهرمان په حېث معرفي کړے شو ـ او د پير بابا او اخون درويزه په ضد ځوک چې په مغلي طرفدارۍ تورن کړے شول او د مخالفې ډلې نمائنده کړې شول نو دغه شان د يو روحاني پير طريقت نه يو سياسي قهرمان جوړ کړے شو ـ په اولسي سندرو کښې څۀ داسې ياد کړے شو چې :-

د خدائے رحمت په بايزيد شه
چې د پښتو لمن ته ئې وبخښل ګلونه

بيا د نولسمې صدۍ يو بل کرشمائي شخصيت خپل روحاني اثر په ټوله پښتونخوا کښې خور کړو ـ په دغې زمانه کښې د پښتونخوا زياته مېداني سيمه سيکانو نيولې وه ـ د ظلم زور دور دوران ؤ ـ دا هاغه وختونه وو چې حضرت علامه اقبال ورپورې وېلي دي چې :

آں جوان کو سلطنتہا آفرید
باز در کوہ وقفار خود رمید

د دې وروستو په شا شوي مرد کوهستان په ټاټوبي اوس د سهېل ختيز له غاړې د غېرو د تصرف او بالادستۍ تورې وريځې په راخورېدو وې ـ کله چې د سيکانو غلبه او ظلم زور ؤ ـ نو د سيد احمد بريلوي او اسماعيل شهيد جهادي تحريک روان ؤ ـ ورپسې بيا فېرنګي هم پښې را ورډولې ـ په دغه زمانه د سوات اخون صاحب عبدالغفورؒ د پښتونخوا په روحاني او سياسي افق وځلېدو ـ هغه د رياضت ، سلوک او عباداتو په ډېرو منازلو راتېر شوے ؤ ـ د ژوند ډېرې سړې تودې ورباندې تېرې وې ـ هم په روحانيت کښې رسېدلے ؤ او هم د دنيا دارۍ نه نااشنا ؤ ـ ځکه ئې خپل حلقۀ اثر له څۀ په داسې انداز وده او فروغ ورکړو چې نۀ خو سيخ وسوزېدو او نۀ کباب ـ دين دنيا دواړه ئې خپل کړل ـ د هغۀ همعصر

سید جمال الدین افغاني چې د پښتنو کوم مختصر تعارفي تاریخ لیکلے دے په هغې کښې ئې د اخون صاحب عبدالغفور ذکر هم کړے دے -چې په ټولـه پښتونخوا کښې ئې اثر او مقبولیت عالمګیر شو او کله چې د فېرنګي خلاف د جهاد اعلان وکړے شو او د بنېر په انبېله کښې ئې سر وښتو نو بېرغ ئې د سوات دغې باباجي تر لاسه کړو - بیا نو څۀ وو :

پـه انبیلـه خځـنې وشـو
بـره سـنګر د بابـاجي ورسـېدونه
د خـدائے رحمـت پـه بابـاجي شـۀ
چـې ئـې فېرنـګ پـه کلکتـه ولګاؤنـه
چـې انبیلـه ئـې سـتا سـیرۍ کـړه
بابـاجي اوس وربانـدې لـوړ وایـه بانګونـه
بابـاجي بـل زوئـے دې وشـه
د کلکتـې پـورې چـې خپـل کـړي وطنونـه

هسې خو پښتانۀ د رزم او بزم دواړو شوقیان دي - مینه ورسره لـري بانډارونه او جهادونه ئې تل د ژوند حصه پاتې شوي دي - چې په جومات کښې وي نو عبادت او ریاضت ورته ښۀ لګي اوو چې په حجره کښې راټول شي نو په ټنګ ټکور او بانډارونو ځان خوشحالوي -

ہو محفل یاراں تو بریشم کی طرح نرم
رزم حق و باطل ہو تو فولاد ہے مومن

ډېر پکښې د سلوک او معرفت په دنیا کښې چشتیه مسلک ته مائل دي - ځکه خپله دغه مینه یا خو د خپلې سیمې د چشتیه مسلک په زیارتونو ماتوي یا ئې بیا مخه د بري امام صېب خوا ته وي او یا بیا د خواجه معین الدین چشتي اجمیري رح سره د خپلې مینې او تړون اظهار کوي - ټول ورته خواجه صېب وائي هم په دې نوم ئې پېژني او ورته وائي :-

خواجـه صـاحبه زمـا پیـره
سـتا د جـاګیره پېشکشـي غـواړم ګلونـه

ښـــــهٔ د خواجـــــه صـــــاحب دربـــــار دے
نصيب مې خوار دے زۀ ترې تشه جولۍ ځمه
خواجـــــــه صـــــــاحبه را رســـــــېږه
ستا په درګاه باندې مې اېښې دي لاسونه

د تقسيم هند نه اګاهو به ډېر پښتانۀ زائرين هر کال د خواجه صېب د دربار سلام له تلل ـ د بزرګانو زيارتونه او روضې کۀ هغه په پښتونخوا کښې وې او کۀ د پښتونخوا نه بهر دوئي ورته د مينې عقيدت او احترام نظر کوي ـ د سلام دعا دپاره ورحاضرېږي ـ په داسې کولو ورته روحاني سکون حاصلېږي ـ وائي چې دا د الله پاک نازولي دي ـ دا رسېدلے مخلوق دے ـ د الله پاک په حضور کښې ئې سفارش قبلېږي ځکه نو هر درخواست ګذار خپل د ارمانونو او آرزوګانو کچکول په لاس د دوئي دبارونو ته حاضري کوي او د دوئي په طفېل د خپل خالق او مالک نه د ځان دپاره د خپلو ستونزو د سر کېدو سوالونه کوي ـ خپل عقيدت ورسره سرګندوي خپله مينه ورسره ښکاره کوي او دغسې د بزرګانو د احترام او درناوي روايات ژوندي ساتي ـ

ستا په روضه مې ځان داخل کړو
چې يا حلال شم يا مې سر شي حاجتونه
پيـــــره بابـــــا را ورســـــېږې
ستا په روضه باندې مې ايښي دي لاسونه
زمـــــا پـــــه زړۀ دي ارمانونـــــه
په تور سحر دې د روضې سلام کوم
خـــدائے دې زمـــا کـــړه خپلـــه يـــاره
ستا په ديدن پسې روضې جاروکومه

روضې ته درګاه او دربار هم وئيلې کېږي ـ په دغې احاطه داخلېدونکے د خپلې مينې او خپل احترام عوض هم دغسې په مينه او په احترام کښې غواړي ـ ځکه کله هم چې خپل ځان ورته بې نوا ، بې قدره يا بې اسرې ښکاره شي نو د زړۀ نه ئې لکه يوه لوخړه راپورته شي ـ ګيله مند شي او څۀ داسې وېنا پله مائل شي چې

درګــــاه دې پــــورې شــــه محبــــوبې
چــې عاشــقان دې بېنــوا لــه دره ځینــه

اوس نو څوک چې د داسې عقیدت مندو او حتمي روحاني جذباتو په چاپېریال کښې د ژوند ورځې شپې صبا کوي هغه به ولې دا نۀ وائي چې :-

د تــا پــه کــوم زیــارت یقــین د ے
د شــېخ بــد ین لمنــې مــا نیــولې دینــه
بــــــره زیارتــــــه رارســــــېږه
د ســوات د ســره فریــادي راغلــې یمــه
زیــــارت کـــــوم نـــــۀ را رســــېږي
یــا ټګــه زۀ یــم یــا ټګــان دي زیارتونــه
دا ســــــتا تــــــوخږې او زمــــــا تبــــــه
پــه زیــارتونو بــه یــو ځــائے ګرځــو مئینــه
خلـــق زیـــــارت لـــــه پراتــــې وړي
زۀ د جــوارو ډوډۍ وړم چــې کونــډه یمــه
خلــق زیــارت لــه پــه ګونــډو ځــي
زۀ حاجتمنـــــده پــــه د یــــوال ور اوختمـــه
ویشــــتلې مــــا ئــــې روغ بــــه نــــۀ شــــې
کــۀ تــر بنېــره پــورې وکــړې زیارتونــه
ســـم رانهــــي زي درتـــــه تپـــــه شـــــو
رامـــــداده نیســــه د ختیکـــو زیارتونــــه

انسان د خطا او نسیان نه په یو جوړ خلاصېد ے نۀ شي ـ معصومان خو تش انبیاء او رسولان دي ـ ځکه نو د ګناه اوخطا سر زدکېدۀ د انسان د ژوند حصه ده ـ دا کله خو په وړه پېمانه او کله بیا په لویه پېمانه وي په ګناه کولو انسان ګناهګار کیږي ـ او په قصور قصوروار کیږي په دواړو حالتونو کښې دې د خطاکارو ګناهګارو په صف کښې ودرېږي ـ ولې بیا هم د ګناه او خطا قسمونه په یو رنګ خو نۀ دي څۀ ګناهونه صغیره وي او ځینې په کبیره ګناهونو حسابېږي ـ څوک د یو قسم مرتکب کیږي او د چا نه دا بل قسم سرزد کیږي ـ ولې

خطا عصيان ، ګناه او قصور په هر رنګ کښې چې وي سړي وربانديږ نيولي او تورن کيږي کله په دې دنيا کښې او کله په آخر کښې ځکه خو قصور وار په خپل قصور بانديږ اکثر و بيشتر نادم وي او وائي چې :-

خلقـــــه ګيلـــــه د چـــــا نـــــه وکــــــړم
قصور مې خپل دے چې کتل مې سپين مخونه
نصـــــيب تقـــــدير تـــــه ګنـــــاه نشـــــته
قصـــور زمـــا دے چـــې پـــه تـــا مئينېدمـــه

بيا دا هم وائي چې :-

کــــــۀ ګناهګـــــار يمــــه د خـــــدائے يــــم
د بعضـــې بعضـــې خلقـــو ولـــې بـــدي شـــمه
د ګنـــــاه پېـــــټے مـــــې پـــــه ســــر دے
د مـــدينې ســـردار لـــه ځـــم چـــې کـــم ئـــې کړمـــه
چـــې خـــدائے رســـول تـــرې رضـــا نـــۀ وي
دا ګناهګـــــار بـــــه پـــــه لمبـــــو وهـــــي تالونـــــه

انسان همېشه راسې په خپلو عقائدو کښې ژوند تېر کړے دے۔ عقائد کۀ د اساطيري دورونو وو او کۀ د مذاهبو د خورېدو ۔ کۀ فکري او تخيلاتي وو کۀ عقلي او حقيقي۔ عقائد عقائد وو۔ روزنه او پالنه ئې کېده۔ دا به د فکر و نظر په دنيا خوارۀ وو ۔ نسلاً بعد نسل به را روان وو کوم چې به د وخت او زمانې د شکست و ريخت سره مخامخ شول هغه به محو شول۔ پرده به پرې پرېوته يا به ئې لاره بدله شوه۔ منزل او محور به ئې بل شول او به خوزېد ۔ د تمدني ارتقاء د عمل سره د عقائدو د ارتقاء عمل هم جاري وو۔ په مخه روان ؤ۔ د وختونو او زمانې په تېرېدو او د تعليم او تعلم په رامخ ته کېدو په دوئي کښې بدلون واقع کېدو۔ بيا داسې وخت راغے چې عقيده او ايمان يو شول۔ انسان د کوټلي دين په لارو روان شو۔ پښتنو هم دغه لاره او مونده او خپله ئې کړ ددغې لارې لاروي شول۔ دا اسلام ؤ ۔ دا د رب خالق او مالک اطاعت او فرمانبرداري وه ۔ ټول عقائد ئې د اسلام سره اوترلي شول۔ ولې بيا هم خپل ډېر فرسوده عادات ،خصائل ،دستورونه، رواجونه او روايات ئې د معاشرتي ژوند نه په کُلي طور بهر نۀ شول۔ او د کله

راسي چې ئې يو بل ته ,, ايمان دې سلامت شه ،، يا په ,, ايمان خوشحاله شې ،، ويلي دي د هاغه وخته راسې ئې د هاغه عقائدو سره خپل زړۀ تړلے دے کومې چې د ايمان په زمره کښې راځي او د اسلام تعليمات دي ـ خپل دې ايمان او عقائدو ددۀ د ښېرو او ازار مخه هم بدله کړه ـ په داسې حال کښې چې کومه وړمبۍ ښېره ئې د زړۀ نه راوتې ده هغه هم ددۀ د ايمان او عقيدې سره تعلق لري ـ دے چې کله دا اووائي چې په ايمان خوار شې نومطلب ئې دا وي چې د ايمان خواږه دې نصيب مۀ شه او د الله پاک او د هغۀ د رسول په مخکښې د محشر په ورځ شرمنده شې او هغه سزاګانې او عتابونه دې په برخه شه د کومو ذکر چې د يو نافرمانه او بدرهه انسان دپاره د الله تعالٰی په پاک کلام کښې ذکر شوي دي[1] ـ ولې سره ددې مضبوط ايمان او پخې عقيدې بيا هم پښتون وګړے په عملي ژوند کښې د خپلو فرائضو او حقوقو د صحيح تربيت نه محرومه پاتې کړے شوے دے ـ خپل دې ماحول دۀ ته دا نۀ دي ورزده کړي چې په کړي د ټولو نه وړمبے حق د خپلې مور وي او په ښځه د ټولو نه اول حق د خپل خاوند وي ـ دا د بشريت د ودې او د مدنيت د ارتقاء بنيادي تيګه ده کۀ يوه ښځه بې شکه چې دا هم مني چې خاوند نوم د خدائے دے ولې هر خاوند په خپل دغه حېثيت محکم او مستحکم نۀ پاتې کيږي ـ ځکه نو د بغض او عناد دروازې يو بل ته خلاصوي ـ بيا چې څوک خپل ژوند په دې دنيا ځان ته دوزخ کوي هغه به نو د هاغې جهان د هاغې لوئې ورځې چې محشر وي جواب په څۀ جوړ کوي ـ خپلو دغه کوتاهيانو ته چې څوک کله هم فکر کوي ـ نو دنياوي مينه او نورې ټولې دنياوي خودغرضۍ ئې رامخې ته کيږي او په دې وېنا مجبوره کيږي چې اووائي چې :-

ستا په ديدن مې نمونځ قضا کړو
چې د محشر په ورځ به څۀ جواب کومه

---

[1] د اسماني کتابونو او صحيفنو نه دا سرګنده ده چې نۀ به کوم پلار د اولاد په ګناه نيوے کيږي او نۀ به اولاد د والدينو په ګناه ـ هر څوک به د خپلې ګناه سزا په خپله مومي ـ او هر چا ته به د خپل عمل بدل ورګرځي ـ هغه څوک چې خطا کار وي هغه به رانيوے کيږي ـ نۀ به زوئے د پلار په خطا ګرم وي نۀ به پلار د زئے په ګناه وي ـ حق به د حق ملګرے وي ـ خطا کار به د خپل عمل سزا مومي ـ د آدم او د حوا خطا د هغوي د غاړې وه چې ستومانه شو اوتوبه ګارشو نو الله تعالٰی ئې خطا معاف کړه ـ دا د خلاصون لاره ده ـ

په خپله وعده وعيد ټينګ پاتې کېدل . د خپلې خبرې نه تېښته نۀ کول . خپل حق غوښتل او د غاصب په مخکښې ودرېدل هم د اسلام تعليم دے او هم پښتو ده . دا د پښتو مثبت او سپېڅلي اړخونه دي . پښتون په داسې پښتو کولو ښۀ ښکاري . څکه خو وائي چې :-

د سپينې خولې قيمت دې وايه
چې سر پرې ورکړم باقي دار به څومره شمه

ولې کله داسې هم وشي چې انسان دخپل حق د حصول دپاره په قسم پورته کولو مجبور کړے شي . هسې خو وائي چې قسم په حقه يا په ناحقه په دواړه حالتونو کښې خوړل جائز نۀ دي . ولې مجبوري بد شے دے . کله دا د قهر غصې د مخه پورته کولے شي کله د انتقام او بدل اخېستو په مجبورۍ او کله بيا خپلې څۀ داسې کمزورۍ ورباندې پټولے شي کومې چې ددۀ مجبورو دۀ ته رامخ ته کړې وي . دا عموماً عمراني مجبورۍ وي خانداني ، معاشرتي او کارباري مجبورۍ . په دې کښې د خپلې مخې ويستو يوه لاره د قسم هم ده . څکه خو کله هم چې داسې ارتکاب دچانه سرزد شي نو په چا چې ددې بداثر پرېوتے وي هغه ورته وائي چې:-

قسم دې وکړو څان دې خلاص کړو
زما عاجزه ورځ دې نۀ ليده مئينه

يا کله چې څوک د کومې خبرې د مکرر اورېدو تقاضا د چا نه کوي نو ورته وائي چې :-

ماته دې څۀ وې رانه هېر دي
ستا دې قسم وي يو ځل بيا وايه مئينه
پېزوان دې ما اخېستے نۀ دے
په پير بابا به درته وخورم سوګندونه

د معاشرتي ژوند دا لوبه هم دغسې روانه وي . کور کېدلي ، غم ښادي ، خويښي دوستي ، کلے کلويغي هم دغسې جاري وي په دې غورزو پرزو کښې د ژوند کاروان په سفر هم وي . پښتانۀ د کفر او الحاد لاره نۀ خوښوي . دا ورته نۀ يواځې د اسلامي تعليماتو ضد ليدے کيږي بلکې ددۀ د پښتو سره هم سمون نۀ خوري .

ځکه خو کله هم چې څوک بې پښتو کار وکړي نو د ے ئې غندنه کوي ـ ښـهٔ ورتـه نهٔ وائي ـ پښتون راسخ العقیده کلک زړي مسلمان ته وائي ـ هر کله چې د ے په شعوري جوړ له د اسلامي اقدارو طرفدار وي ـ نو بیا خو ددې نه د روګردانۍ او د کفر و الحاد په لاره د ګام پورته کولو هډو سوال نهٔ شي پیدا کېد ے او کله چې د داسې کومې پېښې سره مخ شي نو په جار وائي چې :-

کـــهٔ مـــې وجــــود ټـــوټې ټـــوټې شـــي
زهٔ بـــه ملحـــد تـــه چـــړې ســـر نـــهٔ ټیټومـــه

قرآن کریم د ټونو ټوټکو او جادو منتر نه د اجتناب کولو او ځان ساتلو تاکید کړ ے د ے ـ اخري دوه سورتونه الفلق او الناس ئې هم ددې دپاره نازل شوي دي ـ د دوئي نه علاوه د جن و انس د غلط کارو او ګمراهیو په ضمن کښې ئې هم ځائے په ځائے غندنه شوې ده ـ په داسې حال کښې کله چې څوک د عملیاتو په داسې کارونو کښې بوخت وي هغهٔ ته په پښتنه معاشره کښې هم څوک په درنه سترګه نهٔ ګوري ـ وائي چې :-

پـــــه کــــــوډو کلــــــه مینـــــه کیــــــږي
مُـلا ګـسـئ قـل هـو لیکـي ځـان غرقوینـه

البته کوم کسان چې د زهرو د اثر د ختمولو دپاره پاړو ګیري کوي داسې کسانو ته د طبیب یا معالج په سترګه کتے شي ځکه بد ورته نهٔ وائي او احترام ئې هم کیږي دوئي د حاجت او ضرورت په وخت رابللے کیږي ځکه خو وائي چې :-

د غـــرهٔ پـــه ســـر دې ښـــامار هـــوښ کـــه
چـــې ډلـــې ډلـــې پاړوګـــان درخېژومـــه
د ښـــــــــــــامارانو پــــــــــــــاړو زهٔ وم
د چرمښــکۍ نــه راتــه جــوړ شــو پســاتونه

د زانګو نه تر قبره د ژوند دا تسلسل د هر بندي کس دپاره معین او مقرر وي ـ د ے په دې لاره تېرېږي مزل ئې روان وي ولې د ے پرې پوهه نهٔ وي ـ ماشوم وي بالغ شي ځوان شي پوخ شي بوډا شي اخري ئې دغه سفر تمام شي ـ د عمر مثال د پوړۍ د پاټکو د ے دا پاټکي د شمار دي ـ د هر چا دپاره ئې شمار جدا جدا وي ـ په اندازه او شمار ئې هېڅ څوک نهٔ وي خبر ـ مسافر په سفر وي چرته چې ئې دغه

سفر په سر اولګي او تمام شي ـ نو رحلت او بېلتون ورته هر کلے ووائي ـ د ژوندانۀ دا روداد د هر چا بېل بېل وي ـ ولې دا ارماني وي ـ نیمګړے وي په دې چې په ژوند مړېدۀ خو نشته دا تمامېږي خو به ضرور ـ دا سفر د هر چا په سر دے او اخري بېلتون هم ورسره همکنار شي نو دے په ژړا شي وائي چې :-

مـــا تـــرې د ژونـــد طمـــع لرلـــه
ناترسه یـار پـه نیمـه لار کښـې پرېښـودمه
ژونـد تـه پـه شـا شـا داسـې ګـورم
لکـه بـائللے جـوار ګـر چـې کـور تـه ځینـه
چـې پـه ژونـدون پـه ښـۀ رانغلـې
اوس مـې پـه ګـور د پاسـه مـۀ شینده ګلونـه
چـې پـه ژونـدون مـې پـه کـار نـۀ شـوې
اوس مـې د ګـور پـه شناختو مـۀ وهـه لاسونه
چـې پـه ژونـدون مـې پکـار نـۀ شـوې
د جنـازې لانـدې مـې مـۀ ځـه مـخ تورنـه

چې داسې حال وي او هر څوک په دې خبردار وي نو عمر بايد چې په روغه راستۍ او مينه محبت تېر شي ـ هر څوک د يو بل په درد دردمند او په خوشحالۍ خوشحاله شي ـد مينې او ورورولۍ او امداد او اعانت حقونه تر سره کړي همدردي او احسان په ځان لازم کړي ـ هم په خپله خوشحاله ژوند تېر کړي هم نورو له د خوشحالۍ موقع ورکړي په دې چې دا لنډ تنګ عمر کۀ په دې جوړ څوک تېر نۀ کړي نو بې فائدې او عبث به ضايع شي او بنده به ناکام او نامراده رخصت شي ـ د عمر قدر په اطاعت او فرمانبردارۍ سېوا کيږي په دې چې الله پاک انسان له دا عمر د بندګۍ او احسامندې د حق تر سره کولو دپاره ورکړے دے ـ داسې نه چې په اخر کښې لاس مروړي او وائي چې -

عمـــر بربـــاد رابانـــدې تېـــر شـــو
لکـه پـه لويـو غرونـو تېـر شـې بارانونـه
عمـــر هغـــه وو چـــې ماشـــوم ووم
اوس چې زلمے شوم ټول په غم کښې تېرومه

د دنیــــــا عمـــــــر مـــــــازیګر د ے
خلق وختي کوي ماښام پرې شینه
عمــــر د بــــاد پـــه شــــان تېرېــــږي
څو به د غم تخم کرم ژوند ے به یمه
فکـــــر کـــــوم ســـــودا مــــې واخلــــي
چې به لـه تـا بـه عمـر څنګـه تېرومـه
عمـر مـې ټـول پـه غـم کښـې تېـر شـو
قـادره خدایـه خوشـحالي بـه کلـه وي نـه
عمـر مـې ټـول پـه غـم کښـې تېـر شـو
نۀ مې یار هېر شو نۀ مې اوکړل دیدنونه
دا نـــــوره عمـــــر نیمــــه خــــوا د ے
د ګـروزي یـوه شـپه پـه جنـت حسـابومه
عمرونــــه ډېـــر تېـــر شــــو رانغلــــې
پـه فـال دې نیسـم د کارغـانو اوازونـه
پــــه عمـــــر کمــــې پــــه قـــد ســــمې
د حســـن شـــمعې لېـونے درپســـې شـومه
پــــه عمـــــر کمــــې پــــه قـــد ســــمې
د حســـن شـــمعې پتنګـــان درلــه راځینــه

دا د وخت وخت خبره وي څوک کله او د چا نه کله د حسن شمع د څۀ وخت دپاره جوړه هم شي ـ ولې ژوند خو په حرکت کښې وي کۀ شمع بلېږي نو تېل باتۍ هم ختمېږي ـ رڼا هم تتېږي، کمېږي د پتنګانو په راټولېدو ، څرخېدو او سوزېدو کښې هم کمے راځي ځکه نو د ژوند هر قدم او هر اقدام ناویسا د ے او هر څوک ددې خبرې اقرار کوي چې په ساه څۀ ویسا ـ او چې په ساه څۀ ویسا نشته نو عاقبت به ئې منزل هغه خاموشه وادي وي چې د ے ورته روان وي ـ ځکه خو په خپله وائي چې کۀ پائې پائې خو آخر مرګ د ے ـ په دې چې د دانې لاره په ژرنده ده ـ دا عقوبت او دغه منزل د ے ـ څوک ئې مني او کۀ نه ولې د زړۀ د تل نه ئې دا غږ راپورته کېږي چې :-

په زنکدن مې ځان حاضر که
چې زۀ سلګۍ کړم سترګې تاته واړومه
په زنکدن مې ځان حاضر که
په خمارو سترګو مې رو کېږده لاسونه
په زنکدن کښې رانښکاره شوه
د سپينې خولې په جام کښې زهر راکوينه
په زنکدن به مې ارمان شي
کۀ دې رانۀ کړو د سرکو شونډو سرونه
په زنکدن سلګۍ په وار که
غمازان خوا رايخوي چې يار ئې مري نه
سورة يسين راته شروع کړئ
په ما خولې د زنکدن راغلې دينه

په ژوند هر څوک د پېداکېدو او فنا کېدو د عمل سره مخ کيږي .زيږون او زنکدن دوه داسې پړاونه دي چې يو د فرد ژوندانۀ د سر دے او بل ئې د آخر دے .يو دا پېدا کېدو عمل دے دا د دنيا د عمر شروع ده او بل د پرېوتو او د مرګ د استازي راتلل دي .دا مرګ له غاړه ورکول دي .کۀ څۀ ئې هم د چا زړۀ نۀ غواړي او مرګ ئې په ځان سود نۀ وي ولې بيا هم د پېښې نه تېښته نۀ شي کېدے .مرګ يو حقيقت دے .يو دايمي حقيقت .په دې چې ,, کل نفس ذائقة الموت ،، دا د هر چا دپاره مقرر دے .هر څوک به دا جام نوش کوي .د ستوني به ئې ښکته کوي .ولې بيا هم :-

په مرګ دې نۀ مري جانان خوږ دے
په کټ دې پرېوزي چې پوښتنې له ورځمه
په مرګې دې نۀ مري جانان ګران دے
بده نېستي ده په نېستۍ دې پمن شينه
لکه د مچ منګولې مروړم
مرګ مې ليدو جانان مې نۀ پخلا کوۀنه

چې مرګې شته ښادي ئې نشته
جونه دې نۀ کوي په تور اوربل خيالونۀ

اشنا قبلې طرف ته مخ کړو
زۀ په دنيا د بې شرمۍ ژوند تېرؤمه

زۀ به دې پس د مرګه ژاړم
چې دې نيکي د ژوندانۀ رايادؤمه

اول مې نۀ وے اوس ئې وايم
په زړۀ مې توره وينه ډنډ شوه لاړم مرمه

مرګيه مخ دې چا ته مۀ شه
ماته دې مخ شو د سيالۍ دې وويستمه

مرګيه مۀ راځه ايسار شه
يو مې ځواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه

مرګيه دومره صبر اوکه
چې د اشنا ديدن ته ځان اورسومه

په مرګ به کوم دله خفه وي
چې زنکدن ئې د اشنا په غېږ کښې وينه

مرګيه صبر ورته وکړه
لاد ځوانۍ غوټۍ ئې اوس سپړدلي دينه

مرګه بې وخت ورله راغلې
يو ئې ځواني وه بل ئې ډېر وو ارمانونه

خاونده مرګ د ځوانۍ راکړې
چې پېغلې جونه مې زيارت لره راځينه

مرګې کوڅه په کوڅه په ګرځي
د ټوکېدلو برېتو جړې پرېکوينه

کۀ مرګ راځي په مرګ رضا يم
غمخوره ياره جدائي نۀ قبلؤمه

کـــهٔ پـــس لـــه مرګـــه پـــه مـــا راغلـــې
خپلـــه ارواح بـــه دې ســـلام تـــه ودرؤمـــه
د مرګـــــه پـــــس مـــــې لحـــــد ګـــــوره
مـا بـه چینجـي خـوري تـهٔ بـه وکـړې دیدنونـه
دا ســـــتا د مـــــرګ اواز چـــــې راغـــــے
جینکـــو پرېښـــودې قلپـــۍ پـــه تنورونـــه
پـــــــه مقبـــــــره د مـــــــړو راغلـــــــم
زلمي پـه جـار نـارې وهـي چې خـاورې شـونه
کـــور ئـــې د مـــرګ پـــه ناتـــار خـــور کـــړي
چـــې پـــه مئـــین د کبـــرژن ګمـــان کوینـــه
پـــه مـــړو مـــوړ شـــوې کـــهٔ مـــوړ نـــهٔ شـــوې
ډېرې دې کونـډې کـړې ښـېرې درتـه کوینـه
زهٔ دې د مرګـــــــــه نـــــــــهٔ ویرېـــــــــږم
ښښـــتنه وینـــه د مـــرګ مخـــې لـــه ورځینـــه
د ازادۍ پـــــــه مـــــــرګ رضـــــــا یـــــــم
د غلامۍ ژوندون کهٔ ډېر وي ورک دې شینه

مرګ په نېټه وي ولې بیا هم د دانو لاره بهر حال په ژرنده وي ـ نېټه هم اخر پوره کیږي ـ ولې هر څو کهٔ مرګ حق دے خو بیا هم ګور کفن په شک دے ـ د چا چې دا په برخه وي هغه یو څل په دې کښې نغښتے کیږي او پټیږي ـ او چې کله خاوره وربانديې انبار شي نو شناخته ئې ښکاره شي او دا حقیقت په هر چا سرګند شي چې :-

عاقبت منزل ما وادئ خموشان است

ددې قضیې تر سره کولو هغه څو لمحې څو ګړۍ د مړي په کور وي ـ کور او ګور یو بل ته ډېر رانزدې شوې وي ـ د دیدن دا شېبه څهٔ داسې وي چې دیدار کوؤنکے ګویانه وي ـ محبوب ئې خاموش وي ـ چپ وي هېڅ نهٔ وائي ولې په داسې حال کښې هغه تش په زبان حال لکه چې وائي چې :-

پـــــه کفانـــــۀ مـــــې تلــــوار وکــــړئ
ناوختــه کيــږي زۀ ناشــنا وطــن لــه ځمــه
ماتــــه کفــــن چــــې راتېــــر نــــۀ کــــړئ
کـۀ مـې د ننـګ ګـولۍ پـه شـا خـوړلې وينـه
يـــار مـــې د مـــرګ دريـــاب لاهـــو کـــړو
زۀ د کفــن کشــتۍ ګنــډم ورپســې ځمــه

او بيا څۀ وخت چې مړے د ګور راهي شي ـ کور ورنه پاتې شي ـ نو بېلتون دايمي شي ـ د تنهايۍ سره ئې روزګار ش ـ بيا يو دے وي او يو هاغه پس د مرګه صورت حال چې نۀ ئې چرې ليدلے وي او نۀ ورباندې تېر شوے وي ـ ځکه خو کۀ ښوک وائي چې :-

د ګـــور تبـــې بـــه دې کـــړم لـــرې
تـا بـه چينجـي خـوري زۀ بـه وکـړم ديدنونـه
د ننــــګ ټوټــــه بــــه مــــې هــــر هــــډ وي
کـۀ مـې د ګـور تبـې اوچتـې کـړې مئينـه
چــې پــه ژونــدون پــه ښــۀ رانــۀ شــې
بيـا مـې د ګـور پـه خـازو مـۀ وهـه لاسـونه
چــې پــه ژونــدون مــې پکــار نــۀ شــوې
اوس مـې د ګـور غـاړې لـه مـۀ راځـه مئينـه

ګور پلو سفر د جنازې وي ـ دا د نن او د پرون تفاوت وي ـ چې ژوندے وي نو کۀ پلې وي او کۀ سور ولې د ټيکاؤ منزل ئې خپل کور وي ـ ولې کله چې ئې د مرګ څپېړه په نصيب شي نو بيا هغه د شاعر عبدالحميد بابا په شان چې :-

پـرون سـور پـه انبـالۍ ؤ نـن پـه کـټ د جنـازې ځـي
دا ژوندون دا ئې روزګار دے چې نن هسې پرون هسې

د جنازې د کټ سفر کۀ څۀ هم مختصر وي ولې په جلب کښې ورسره خپل مئين هم روان وي ـ الوداع ورته وائي رخصتوي ئې ـ دا د حيات نه د ممات د لارې سفر وي ـ ورستے او دايمي سفر دا د همېش دپاره د بېلتانۀ سفر وي په دې سفر کښې ښوک هم د چا سره ملګرے کيږي نه ـبس خو تر څۀ مېنځه ورسره لاړ شي او بيا

ترې بېرته را وګرځي ـ دا يو منلے شوے حقيقت او دايمي عمل دے ـ ځکه خو د داسې سفر مسافر لکه چې وائي چې :-

د جنــــازې بـــــازو مــــې نيســــه
چـرې بـه مـا پـه راستیٖ خولـۀ درکـړې وينـه
خاونـــده مـــرګ د ځـــوانیٖ راکـــړې
چـې جنـازه مـې د ارمانـه سـره ځينـه
پـه جنـازه مـې حاضـر نـۀ شـوې
اوس مـې د ګـور پـه خـازو مـۀ وهـه لاسـونه
چـې پـه ژونـدون مـې پکـار نـۀ شـوې
د جنـازې لانـدې مـې مـۀ ځـه مختورنـه
بـس دے پـه دغـه ځـائے ئـې پرېـږده
شـپږ جنـازې د سـربالاکـوټکي لـه وړينـه

چې مړے لحدته کوز کړے شي ، خاورې وربانديې انبار شي ـ شناختې ، خازې پرې ودرولے شي ـ نو قبر تيار شي ـ دا د انسان دايمي آرامګاه وي ـ امير وي او کۀ غريب ، زورور وي او کۀ کمزورے ، بادشاه وي او کۀ ګدا د خاورو ددغې ځلي لاندې پروت وي ـ مئين او محبوب ټول دلته مېشتۀ وي ځکه نو څۀ بنکالو انګازه کۀ د چا زړۀ تزنوي نو دا چې دا ورته رايادېږي چې کله خو به چا دا هم وئيلي وي چې :-

عاقبت منزل ما وادئ خموشان است

او يا دا چې :-

زمـــا بـــه هلـــه ارمـــان درشـــي
چې کټ مې واخلي تورو خاورو له مې وړينه
زمـــا بـــه هلـــه ارمـــان درشـــي
چـې مـې پـه قبـر سـوزان اوسـپړې ګلونـه
زمـــا بـــه هلـــه قـــدر درشـــي
چـې مـې پـه قبـر شـنې تـوریٖ زرغـونې شينه

تــــهٔ چـــې زمـــا پـــه قبـــر راشـــې
دعـــا کـــوه ســـتا د دعـــا لېوالـــه يمـــه
د ننـــګ ټوټـــه بـــه مـــې هـــر هـــډ وي
کـــهٔ مـــې د قبـــر تبـــۍ پورتـــه کـــړې مئينـــه
پـــه هاغـــه ځـــائے مـــې قبـــر جـــوړ کـــړئ
چـــې د مغـــل د سـورو ګـرد پـرې نـهٔ راځينـه
تـــهٔ بـــه مـــې هلـــه خبـــر واخلـــې
چـــې مـــې پـــه قبـــر مارغـــان جـالې جوړوينـه
قبـــر ســـورے کـــړه حـــال مـــې ګـــوره
چينجـي لګيـا دي زنـې خـال مـې ورانوينـه
قبـــر دې وران خـــازې دې مـــاتې
زهٔ لېـــونۍ دې د راتلـــو پـــه طمعـــه يمـــه
قبـــر پـــرې وران خـــازې پـــرې مـــاتې
زهٔ د هغـې جانـان پـه پـت کېنـې ناسـته يمـه
قبـــر ســـورے کـــړه حـــال مـــې ګـــوره
پـــه خمـــارو ســـترګو مـــې پرېواتـــهٔ ګردونـــه
زمـــا د پـــلار قبـــر دې وران کـــړو
ظالمـــه وران دې شـــه مـــانۍ عمارتونـــه

دغه خاموشه وادي هديره ده ـ دا د ستړو ځائے دے ـ دا ئې شهباز ګړه ده ـ باز ، شهباز او شاهين ټول ورله ځي ـ پروازونه کوي ـ هر څومره اوږدهٔ پروازونه کهٔ څوک وکړي ولې د پوخ ناستي ځائے ئې هم دا وي ـ هديره د دايمي پرېوتو ځائے دے ـ هم د بازونو او هم د زرکو کبکو او خاروګانو ـ

پـــــه هـــــديره د مـــــړو راغلـــــم
وژلـــې خـــدائے وو غـــرېـ ئـــې ماتـــه نـــهٔ کاؤنـــه
پـــــه هـــــديره د مـــــړو راغلـــــم
مـــا وې ســـلام يـــار مـــې ســـلام نـــهٔ قبلوؤنـــه

پـــــه هـــــدیره کښـــــې یـــــو تنـــــور دے
خشــاک ئــې نشــته پــه زلمــو ئــې تودوینــه
پـــــــه هـــــــدیره د مـــــــړو راغلـــــــم
منکــر نکیــر رانــه ډولکــے اوتښــتوؤنه
پـــــه هـــــدیره شـــــومه راپېښـــــه
خولـهٔ چـې خنـدا تـه جوړېـده پـه ژړا شـومه

د اخرت منزل د هدیرې سره پېوست دے۔ د ژوند ډیوه چې مړه شي نو د اخرت سره روزګار شي۔ دلته د عمل د مکافاتو پتهی سپړدے کیږي۔ هر څوک خپل کرلي ریبي۔ کهٔ چا غنم کرلي وي غنم ریبي کهٔ وربشې وي وربشې۔ انسان خپلې تهولې ښې بدې ، خپلې کړدې نا کړدې او خپلې محرومۍ ناخوالۍ پـه اخر سپاري ۔ د ګټې تاوان د تول پارسنګ تله اخرت دے ۔ هر څوک کهٔ د انسان محرومي په برخه وي ولې بیا هم نامېده نهٔ وي او وائي چې :-

پـــــه اخـــــرت بـــــه ســـــره ګـــــورو
پـــه دې دنیـــا دې ظالمـــان نـــهٔ راکوینـــه
پـــــه اخـــــرت بـــــه جانـــــان غـــــوارم
دنیـــا فـــاني ده وس مـــې ونـــهٔ رســـېدونه
پـــــه دنیـــــا ښـــــهٔ راســـــره وکـــــړه
پـه اخرت کښـې د هـر چـا ببـل ببـل کورونـه
د اخـــــــرت نـــــــه جـــــــواب راغـــــــے
چـې ربـره ورئـې پـه غوبـل ترلـې دینـه

# عناصر اربعه

د زیست روزګار دې ټاټوبي ته عالم آب و ګل یعني د اوبو او خاورې دنیا هم وئیلې کیږي. دا د عناصر اربعه یعني د ځلورو عناصرو مجموعه ده. باد اوبهٔ، خاوره او اور. دا دنیا ددې نه جوړه ده. خاوره د زېږون، روئیدګۍ او پېدا کېدو وجود دے. باد حیات دے ژوند دے ساه ده حرکت دے او اور حرارت دے ګرمي ده توان دے زندګي ده. اوبهٔ نمو ده زېږون او د ژوندانهٔ سبب دے. وَ مِنَ الْمَآءِ کُلّ شَئٍ حَیِّ. په دې ځلورو عناصرو د وجود شتهٔ والے دے. د خاورې عنصر د زمکې وجود دے زمکه خاوره ده. وجود د خاورې نه جوړ دے. هر خاورین لوښے یو ځل بیا د خاورې کېدو وي. ټول زنده سري لکه خاورین لوښي دي. ځکه خو هوښیاران وائي چې خاورې یُو خاورې به شو. هم دغه نارې دي چې هر پله راپورته کیږي داسې لکه:-

پــــه تـــــورو خــــاورو مــــې ســـــلام دے
شــهید خــو ګــل وي ګــل بــه نـهٔ خـاورې کوینـه
افســــــوس ارمـــــــان دې هلــــــه راغــــــے
چــې تــورو خــاورو مــې وراســتهٔ کــړل اندامونـه
پښــــې پـــــه قـــــلار ږدئ خــــاورې نــــهٔ دي
هاغــه زلمــي دي چــې کــارهٔ د خیالــه تلـهٔ نـه
خدایــــــه دنیــــــا پـــــه زلزلــــــه کـــــړې
چــې د ښائســـته ؤ جنــازې خــاورو لــه ځینــه
دا ســـــــتا د خـــــــولې هـــــــره خبـــــــره
په زړهٔ مې لیـک ده تـورو خـاورو لـه بـه ئې وړمـه
خــــاورې دې ســـــتا پــــه دشـــــمن واؤړي

تـــهٔ مـــې بـــورا زهٔ دې د ګلـــو غنچـــه یمـــه
ســـتا پـــه نظـــر خـــاورې زر کیـــږي
ماتـــه دې وکتـــل د ســـرو زرو دې کړمـــه
جـــولۍ پـــه دواړه لاســـه نیســـه
کـــهٔ اشـــنا خـــاورې درکـــوي اخلـــه مئینـــه
اخـــر بـــه خـــاؤرې شـــي جانانـــه
مـــا اشـــنا ســـترګې نااشـــنا لیـــدلي دینـــه
اشـــنا مـــې تـــورو خـــاورو اوخـــوړ
ماتـه مـې خولـه شـه چـې خندا بـه پـرې کومـه
پـــام کـــوئ تـــورې خـــاورې نـــهٔ دي
هاغـــه زلمـــي چـــې کـــاږهٔ لـــه خیالـــه تلـــهٔ نـــه
خدایـــه مالیـــار پـــه ســـترګو ړونـــد کـــړې
چـې څانګـه ګـل غـواړي د ے خـاورې ورکوینـه

د دنیا په باد د ژوندانهٔ سوال هر څوک ځان ته کوي ـ باد حرکت د ے ـ مزل د ے ، سفر د ے ، ساه ده ، ژوندون د ے ـ دا چې جاري وي ژو ے ژوند ے وي ، حرکت روان وي ـ متحرک څیزونه په حرکت کښې ژوندي وي په دې چې حرکت د ژوند علامت د ے او باد ساه ده ـ حرکت د ے ، حیات د ے ،ژوندون د ے ، خاوره د اوبو نه حیات مومي او په باد ژوندۍ کیږي ـ ساه اخلي ، ساه او باد ، ژوند او حرکت ، چې ساه نهٔ وي حرکت نهٔ وي چې حرکت نهٔ وي نو ژوند چرته وي ـ باد ژوندون د ے ددهٔ سره د هر ذي روح تړون د ے کهٔ د ے نهٔ وي ژوندون به نهٔ وي ـ ځکه ئې په هر مال هر چاته حاجت وي ـ ددهٔ په الوتو او تګ راتګ د روح او تن تعلق قایم وي ځکه خو وائي چې :-

د یـــــار د لـــــورې بـــــاده راشـــــه
پـــه وازه خولـــهٔ دې لړمانـــهٔ تـــه تېرومـــه
د ســــــحر بـــــــاده مثمـــــــره
د یـــار د درده پـــېش کشـــي راؤړه ګلونـــه

بــــاده پــــه بــــاد مــــې ســــلام وايــــه
پـه هـاغې بـاد چـې د اشـنا پـه لـوري ځينـه
د ســــحر بـــــاده پـــــه رو رو ځـــــه
چـې ګړګـوتي ځنې خـورې نـۀ کـړې مئينـه
د ســــــحر بــــــــاده نــــــــامراده
زۀ د اشـنا پـه خولـو لونـد ووم اوچ دې کړمـه

اوبۀ چې د ژوندانۀ سبب دے او د دنيا پـه مخ چارچاپېره خورې دي ـ زمکـه پـه اوچه او پـه لمده تقسيم ده ـ اوچه د لمدې ځلورمه برخه ده ـ د زمکې د مخ درې برخې اوبـو نيـولي دي ـ سمندرونه ، دريابونـه ، سيندونه ، رودونـه ، ډنډونـه او برفزارونه د اوبـو نـه جوړ دي ـ د اوچې او لمدې ټول نباتـات ، حېواتـات ، ژوي ، زنده سري پـه اوبـو پـائي ـ او بـۀ نعمت دے ، فرحت دے ، حيات دے ، ژونـدون دے ـ کۀ ورېږي کۀ بهېږي د ژوند د نمو سبب کيږي ـ چرته چې ئې کمے وي هلتـه د ژوندانۀ او حيات مخه بنده وي ـ ولې چرتـه چې اوبـۀ وي ژونـد پـرې راټول وي ـ اوبۀ ژوند ځان ته راکاږي ـ

هر کجا چشمۀ بود شرين
مردم و مرغ مور گرد آئيند

د انسـان او حېـوان د وجـود زياتـه برخـه هـم اوبـۀ وي ـ اوبـۀ وينـه ده ، کـۀ پـه وجـود کښې نۀ وي نو وجود تش پوک دي ـ اوچ لرګـے دے ـ پـه اوچ لرګي کښـې سـاه چرتـه وي ـ بې ساه وجود د حيات نـه خـالي وي ـ ژونـدون نـۀ لـري ـ ځکـه نـو اوبـۀ او ژونـد لازم ملزوم دي ـ بيا نو ځکه ښوک دا وائي چې :-

اوبـــو لـــه ځـــه مـــنګے پـــه ســـر کـــه
زۀ مســـافر بـــه د ګـــودر پـــه غـــاړه يمـــه
اوبـــــۀ د بـــــر ګـــــودر خـــــوږې دي
ليلـــى زمـــا د قصـــده کـــوز ګـــودر لـــه ځينـــه
د اوبـــــو ګـــــوټ کـــــولے نـــــۀ شـــــم
پـه زړۀ مې نوم د جانان ليـک دے وران بـه شينه

ددې خبـــــــرې جـــــــواب راکـــــه
د اوبـــو ډک مـــنګي لـــرم د تنـــدې مرمـــه
ددې خبـــــــــرې جــــــــــواب دا دے
چې ځـوک مئـين شـي اوبـۀ خونـد نـۀ ورکوينـه
اوبـــــۀ منګـــــي نــــه لــــرې راکـــــه
پـه لويـه لار کښـې درتـه پـروت لـه تنـدې مرمـه
اوبــــــۀ کـــــرم ســــکارۀ ټـــــوکيږي
ښـــۀ مرچکـــې دې چـــې ګنـــې زرغونوينـــه

ځۀ رنـګ چې اوبۀ د ژونـد د فـروغ دپاره د روئيـدګۍ پيـدائش او زندګۍ سـبب دے ـ هم دغـه شـان د زندګۍ دپاره د حرارت ، ګرمۍ ، توانايۍ او قـوت پيدا کولو ذريعه ده ـ اور ګرمي ده ، حرارت دے ، توانائي ده ، قـوت دے ، دا د ژوند د حرکت ملګرے دے ـ په کوم وجـود کښې چې ګرمي او توانـائي نۀ وي د هغۀ ژوندے پاتې کېدل ګران شي ـ وجود په ګرمۍ او په حرارت ژوندے دے ـ د تـن انجن په حرارت متحرک وي ـ کوم وجود چې سوړ شـي ، يخ شـي ،ګرمي حرارت پکښې پاتې نۀ شي ـ توانائي ئې زائله شي نو د ژوندانۀ رمق هم پکښې پاتې نۀ شي ـ سوړ سمخ شي ، مړه بوټۍ شي ، د ژوند نه محرومه شـي ـ د اور دا اهميت د زمـانو راسې انسـان تـه معلـوم دے ـ د انسـان پـه عقائـدو او توهمـاتو کښـې اور همېشـه راسـې خپـل اهـم کـردار لوبـولے دے ـ هـم د اور پـه ذريعـه بـه قربـانې ديوتاګـانو تـه پـېش کـولې شـوه ـ آتـش پرسـتو قومونـو بـه د اور پرسـتش کـوؤ ـ د انساني تهذيب او تمدن د روداد ډېر بابونه اور نغښتي دي ـ دا د هندواني تمدن يو اهم عنصر دے ـ نن هم هندوان خپـل مړے په اور سوزوي ـ په انسـاني ژوند کښې د اور د اهميت نه انکار نۀ شي کېدے په دې چې د ژونـد د فـروغ او ترقـۍ انحصار په توانايۍ باندې دے او توانائي د اور سره تړلې ګنړلې ده ـ انسان نـن د توانايۍ د هرې ذريعې په لټون کښې سرګردانه دے ـ دا په دې چې ددۀ د ژوندانۀ هر عمـل د حـرارت لېوالـه دے او پـه توانـايۍ انحصـار لـري ـ د ګرمـۍ حاجتمنـد دے اور د عناصر اربعـه ځلـورم جزو دے ـ د دنيـا اور هـم رڼـا ده هـم ګرمـي ده هـم حرارت دے او هم نعمت دے ـ هر چاته دا معلومه ده چې :-

په لویه لار کښې مې اور بل کړو
روغ پرې تېرېږي رنځور لاس پرې تودوینه
د اشنا ډاډ دې راسره وي
کۀ د نمرود د لمبو اور وي پرې ورځمه
اور په حجره کښې لا بلېږي
زما په زړۀ باندې ورېږي دېدنونه
افسوس افسوس ارمان ارمان دے
اور دې هجران دے ما پرې مۀ سیزه مئینه
اور چې بلېږي لوګے خېژي
دا بې لوګي لمبې زما د زړۀ نه ځینه
اور چې بلېږي آخر مړ شي
زړۀ چې مئین شي همېشه لمبې وهینه
تۀ به د کوم مجلس مشال ئې
لاړه دې لنډه شه مړ اور ته ناسته یمه
اور دې زما په صورت بل کړو
له تېله دارې خولۍ پرېکړه تعویزونه
اور دې راپورې کړو تۀ لاړې
پرېږده چې سر تر پایه شنه لوخړه شمه
اور دې راپورې کړو تۀ لاړې
لمدې چیرړې به اوس د ځانه تاوهمه
بې اوره وسومه ستي شوم
ملالو سترګو په ما اور ولګوؤنه
بوتي راتول کړه اور پرې بل کړه
زمونږ دستور دے په رڼا خوله درکومه
زما او ستا چې پرې وعده وه
بېګا په هاغه ځائے کښې اور ولګېدونه

زمــا پــه حــال دې خــدائے خبــر کــه
چې بې لـه تـا ژونـدون پـه اور کښـې تېرومـه
عالمـــــه اور دے یـــــاري نـــــهٔ ده
زمـا بـدن ئـې تـول لمبـه لـوخړه کـهٔ نـه
د غمـــــه اُف کـــــولے نـــــهٔ شـــــم
د مینـې اور دې پټ پـه زړه کښـې ئـې سـاتمه
اور بـــه پـــرې ولـــې نـــهٔ بلېـــږي
چې ئـې د زړهٔ خبـرې زړهٔ کښـې پـاتې شـینه
اور د دوزخ ورلـــــــــــــــه لازم دے
چـا چـې پـه قصـد حقـې روژې خـوړلې وینـه
اور د دوزخ ورلـــــــــــــــه لازم دے
چې نـوم دې واخلـې بـې درود پـاتې شـینه
اور د دوزخ ورلـــــــــــــــه لازم دے
څـوک چې د مـور او پـلار ازار وهلـې وینـه
جانانـــه داســې خـــو څـــوک نـــهٔ کـــړي
لکه سپین موم دې په سور اور کښې ویلې کړمه

اوبهٔ اور تاؤ مړ کوي۔ دا په اعتدال کښې ساتي۔ د اوبو او اور په تړون توانائي پیدا کیږي ۔ اوبهٔ په دریابونو ، سیندونو او برفزارونو راټولې وي ۔ د اور منبع ښکاره نهٔ ده ۔ وجود ئې موجود دے او په قابو کښې ساتلے شي چې د قابو نه بهر شي نو هر شي له ضرر شي۔ د اوبو فطرت د نرمۍ دے۔ د سفر اموخته دے۔ د لوړې نه تل په منډه وي کله رود وي کله سیند وي او کله اباسین شي ولې مخه ئې تل سمندر دریاب ته وي ۔ هم په دې جوړ اوبهٔ د ژوند د فروغ دپاره په یوه مستقله دائره کښې د زمکې په سر ګرځي تل په سفر وي د ابادۍ او ودانۍ په سفر څکه خو وائي چې :-

پــه بیــان ډېــره اوږده قیصـــې دا ده مختصـــره
رود غـورزېږي سـمندر تـه دې سـحاب لـه سـمندره

دغه شان رودونه سيندونه کيږي او سيندونه اباسين کيږي چې اخر ئې مخه بيا سمندر پله وي ـ دا ټول د ژوند او جانان د داستان سبب شوي دي ـ ډېر رودونه سيندونه د پښتونخوا د غرونو د سر درو نه رابهيږي او اباسين ته غورزيږي ډېر رودونه ئې په دشتونو صحرا ګانو کښې غيبيږي ـ د پښتون وګړي ژوند د دوئي سره په خواږ شا کښې تېرېږي ځکه خو ئې د دوئي خواږۀ تل په خوله کښې وي ـ مينه ورسره کوي او تل ئې يادوي هم په خبرو کښې هم په سندرو کښې لکه چې داسې وائي :-

ما د کونړ د سيند نه ځار کړې
زما جانان به پکښې مخ وينځلے وينه
ما د کونړ په سيند لاهو کړې
زما لالي به پکښې مخ وينځلے وينه
د سيند په مېنځ کښې دې ګل راکړو
لاس دې رانۀ کړو د مهو خوراک دې کړمه
کۀ سيند ته دانګم سيند مې نه وړي
بخت د موذي دے بيا مې غاړې له راوړينه
دا ستا ياري مې کړې نۀ وے
ځان مې د سيند چپو ته واچوؤ لاهو شومه
سينده ربښيتا به راته وائې
ستا په چپو کښې يار ژوندے کۀ مړ به وينه
د کال خواري مې اوبو يوړه
بيا به د سيند په غاړه نۀ کرم ګلونه

د سيندونو پلار اباسين د پښتنو د رواياتو امين دے ـ دا د پښتونخوا حد فاصل دے ـ ځکه خو وائي چې اباسين دې مېنځه ګړے هند کيان يو خوا افغان بل خوا ـ مونږ چې کله د باسين ذکر کوؤ نو خپل روايات رامخ ته کيږي ـ د بزم او رزم داستانونه رايادوؤ ـ او کله چې د اباسين په خولۀ غږېږو نو وايو چې :-

ځاځکي زما ، هر کله دُر دُر دي د دُرخو د غوږ
تُندې چپې تګ مې په مخ کاندې ادم خان ته غږ

دا اباسین د پښتونخوا په سیمه کښې لکه چې په خوئي بوئي هم پوره پښتون دے ـ ځکه خو ئې دخواؤ شاروایات پښتانهٔ دي ـ پښتون وګړے په دې پوهه دے ، خبردار دے ترې نه او احساس ئې هم لري ـ ځکه خو په واز کومې وائي چې :-

اباسین غاړې غاړې راغے
هره چپه ئې ورانوي د پګړې ولونه
د مینې میر شه اباسین شه
چې خلقې دې په اوبو سېرابې شینه
زلفې دې خدائے په لاس کښې راکه
د اباسین د چپو ډېر لېوالہ یمه
عمر غورځنګ د اباسین دے
مدام به نهٔ وي ستا ځواني زما سوالونه
لږ کوتې کم شه د یار غمه
په څهٔ موده کښې اباسین کمے کوینه
ولې مې نهٔ وړې اباسینه
تر شودو سپینه دې په سر ولاړه یمه
د اباسین چپو ته ګوره
داسې مې زړهٔ وي همېشه په غورځنګونه
په اباسین دې خدائے لاهو که
د نامردۍ اواز دې رامهٔ شه مئینه
د اباسین د مېنځ ګلابه
یا به دې راؤړم یا به ډوب درپسې شمه
کهٔ دې په مینه قبول نهٔ کړم
د اباسین چپو ته ځان ور غورزومه
خاونده ته مې نګهبان شې
نوس شېطان مې اباسین ته غورزوینه
په اباسین جانان لاهو کړم
په کناره راسره ځې ډاډ راکوینه

پــــه اباســـين دې خـــــدائے لاهـــو کـــه
چې تـورې زلفې دې ورستې شګو کښې شينه
علـــم کـــوې عمـــل پــــرې نـــۀ کــړې
د اباســــين چپـــې دې يوســـه کتابونـــه
زمــــا دې علــــم پکـــــار نــــۀ دے
د اباســــين چپـــې دې يوســـه کتابونـــه
د اباســــين پــــه غـــاړه ناســـت يـــم
هــره چپـه ئـې راتـه وائـې سـتا حالونـه
د اباســـــين چپـــــې دې يوســـــه
ظالمـه يـاره تـا پـه مـا کـړي ظلمونـه
د اباســـــين چپـــو لاهـــو کــــړم
پـــه غـــم شـــريکه اشـــنا نيســـه ګودرونـــه
اباســـين بيـــا پـــه چپـــو راغــــے
پـه سـر ئـې راؤړه کشـميري د خيـال شـالونه
اباســـين بيـــا پـــه چپـــو راغــــے
پـه سـر ئـې راؤړه سـرۀ بنګـړي زيـړ پېزوانونـه
کــــۀ اباســــين راغلـــــے نـــــۀ وے
پــه نـاز وړو کښـې بـه چـا مونـدل ټيکونـه
راغلـــــے مـــــۀ وے اباســـــينه
پـه نيمـه شـپه دې نوښـار لـوټې لـوټې کـۀ نـه

ولې دا اباسين هم اخر په درياب ورګډ ېږي . په سمندر درياب ، ناپاوه او خور وور، د ژوند د زېږون ددې د فروغ او ودې مسکن ، د زمکې په سر د ټولو نباتاتو حيواناتو او د انسان د ژوند او بقا دار مدار ټول په سمندر درياب دے . دا د انسان د عزائمو جولانګاه دے . د دنيا د هرې سيمې د ګوټ ګوټ لارې په دريابونو تېرې راتېرې دي . د انساني تهذيب او تمدن زيات روداونه او زياتې قېصې د دريابونو او سمندرونو سره تړلې دي . د انساني ارتقاء فروغ او ودې قېصې کۀ د درياب د غاړې نه شروع شوي دي نو سر ئې هم ددې سره وابسته

دے ـ دریابونه د انسان د کشمکش لي البقاء مېدانونه دي ـ د ژوند د فروغ او بقا دا داستان د نوح[۴] په طوفان راتېر شوے دے ـ د هر دور انسان ددې نه خبر دے دا ئې ستائیلے او غندلے دے په بېل بېل رنګ او بېل بېل انداز کښې وائي لکه :-

د دریـــــــــــابونو لامبـــــــــــــوزن ووم
نصیب مې خوار شو د خوړګۍ اوبۀ مې وړینه
پـــــه تـــــور دریـــــاب اشـــــنا لاهـــــو کـــــړم
پـــــه کنـــــاره راســـــره ځـــــي ډاډ راکوینـــــه
د دریـــــــــــابونو لامبـــــــــــــوزن ووم
د بېلتانـــۀ پـــه چـــړې مـــات شـــو زنګنونـــه

# نباتات

ژوند د رزق روزۍ محتاج دے۔هر زنده سري چې د زمکې په سر ژوند تېروي د اوبو او هوا سره په رزق روزۍ پائي ۔څوک په خاوره لوئېږي څوک ګيا ، بوټي يا د اونو پاڼې خوري ۔څوک په غوښو پائي د چا ګذران په تخمونو ، مېوؤ ، سبزۍ ، او روئيدګۍ باندې وي ۔ژوند يو مسلسل کشمکش دے ، طلب دے ، لټون دے او جدوجهد دے ۔داد زمکې په سر ورمبے په نباتاتو کښې ظهور پذير شوے او خپور شوے دے ۔ځنګلونه ، مرغوزارونه ، علفذارونه ، سبزه زارونه ، راغونه او باغونه ورنه ساز شوي دي ۔روئيدګي زندګي ده دا د خاورو راټوکېدلې ده ۔انسان د ابتدا راسې په دوئي کښې ګرزېدلے او لوېېدلے دے ۔د ژوند د تودو سړو سره پکښې مخ شوے دے ۔کله د ګياګانو ، کله د فصلونو او کله د باغ باړۍ خاوند شوے دے ۔په دې کښې ئې خپل رزق او خپل خوراک لټولے هم دے او پېدا کړے ئې هم دے ۔په خپل دې عمل کښې دے په بې شماره تجربو راتېر شوے دے ۔د کاميابو او ناکامو سره مخ شوے دے ، هم ئې عسل خوراک شول دل او هم ئې حنظل په برخه شوي دي۔وائي چې د غنمو د دانې خوراک دے د جنت نه محرومه کړے دے ۔دا غنم د انساني تهذيب او تمدن د لارې مل دي ۔داروزي ده ، رزق دے د انسان خوراکه ده ۔دنيا په غنم اباده ده ۔پښتانۀ ددې نه خبردار دي ددې پس منظر او پېش منظر ورته معلوم دے ۔هم ئې پېژني هم ئې خوښ دے ۔په زړۀ پورې ئې دے ۔د خوند او رنګ دواړو سره ئې اشنا دے ۔ددې په ګټه خوشحاله او په تاوان ئې زهبرېږي ۔دا ئې د رواياتو سره د قديمه راسې تړلے دے ۔په رنګ رنګ ئې ستائيلے دے ۔په زړۀ پورې ئې نيولے دے۔د وينې او مينې حصه کړے ئې دے۔د ژوند او جانان د قېصې ملګرے کړے ئې دے ۔دے چې په ترنګ کښې راغلے دے نو ستائيلے ئې دے او چې زيان مند شوے دے نو ژړلے ئې دے۔داسې لکه چې :-

غنم تيار موسم د لؤ دے
جانان په لؤ کړي زۀ به وږي ټولومه
ولې به نۀ ژاړم تالاشوم
په شنو غنمو مې سرخي ولګېدونه
زړۀ مې دا ستا خبرې غواړي
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه
چې د غنمو لؤ ګډ يږي
زما جانان به رسېدلے ملک ته وينه
لؤ د غنمو خدايه ګډ کړې
چې بغدادۍ کوترې وږي ټولوينه
جانانه ستا په جدايۍ کښې
لکه غنم د زړۀ په سر چاؤدلے يمه
لکه غنم په ډاګ ولاړ يم
د بېلتانۀ سيلۍ مې ټېل ناټېل کوينه
خدائے دې په داسې وخت کښې راکه
چې غنم ترنګ وربشو بور نيولے وينه
اوربل دې جوړ په غنم لؤ کړو
زۀ خوار به لؤ کړم کۀ به ستا ديدن کومه
په غنم لؤ کښې مې خولۀ ورکړه
اوبۀ هېڅ څوک په غنم لؤ نۀ ورکوينه
په غنم لؤ کښې دې خولۀ راکړه
په غنم لؤ کښې څوک اوبۀ نۀ ورکوينه
زما نه ځېه غنم واخله
په څانګه مۀ کړه د غرمې پورې لوؤنه
اشنا قبلې طرف ته مخ کړو
زۀ په دنيا د بې شرمۍ وربشې خورمه

جینـــۍ پــه بــاغ کښېـــې ســرۀ منهــه شــوه
نـــادان بـــاغوان ئـــې پـــه وربشـــو خرڅوینـــه

دا د دوئي رزق دے روزي ئې ده ـ غنم بوټي دے ، د ګیا په رنګې دا هم شنه ګیا ده ـ فصل دے ، د کلو جونه ورباندې ویاړ کوي ، په ستائینو سندرو کښې ئې یادوي کله چې د خپلې سیمې ننداري ته ځیر کیږي نو وائي چې :-

خوا کښې ئې شنۀ فصلونه زانګي ما لیدلے دے
دغــــــه زمــــا د اشـــــــنا کلــــــے دے

ددغې کلي د خوا د هرې اونې او هر بوټي سره دوئي مینه کوي ـ د خپل ژوند ډېر یادونه ئې ورسره تړلي وي ـ هم ئې سېوري ته کښېني هم پکښې ټالونه اچوي هم ورنه مېوې شوکوي هم ترې نه لرګي خشاک تر لاسه کوي اونه هم قد دے هم ښائست او ځواني ده ـ د ژوند ډېر ضروریات ئې دا اونې پوره کوي ـ اونه کۀ د توت وي کۀ د بیکاڼې دا کۀ نختر وي او کۀ چنار وي کۀ اینځر وي او کۀ انار وي د هرې اونې خپل اهمیت او خپل خواږۀ وي ـ ځکه ئې د ثقافت او تمدن سره هم ډېر جوخت تعلق لرلے دے ـ اونې ، بڼونه ، باغونه چې ستائیلے شي نو دغه اونې بوټي دي چې صفتونه او تعریفونه ئې کیږي ـ لکه داسې چې وائي :-

یـــــو خــــــو دې اونــــــه غونـــــډه مونــــډه
بـــل دې مـــور ډمـــه ده پـــه چـــل دې جوړوینـــه
صــــبا بــــه دنـــــګ چنــــار تــــه خېــــژم
د غــــم ســــندره بـــه دنیـــا تـــه تېرومـــه
صــــبا بــــه دنـــــګ چنــــار تــــه خېــــژم
ماتـــه جانـــان د چلغـــوزو وئیلـــي دینـــه
لیـــــــونۍ اونـــــــه د چنـــــــار شـــــــوه
کـۀ راکـاږۀ ئـې کـړي زمـونږ پـه کـور ښـاخونه
صــــبا بــــه دنـــــګ چنــــار تــــه خېــــژم
د مــــوزیګي د ښـــــځې ســــتر ماتوؤمـــــه
صــــبا بــــه دنـــــګ چنــــار تــــه خېــــژم
د مـــوزي خـــان د لـــور بـــه ســـتر ماتوؤمـــه

څـــوک مـــې د حالـــه خبـــر نـــۀ شـــو
لکـــه چنـــار مـــې پـــه ډډ اور ولګېدونـــه
جينـــۍ پـــه بـــاغ کښـــې ســـرۀ منـړه شـــوه
بـــاغوان ظـــالم ئـــې پـــه اوربشـــو خرڅوينـــه
توتـــان پاخـــۀ شـــو خـــارو مـــړه شـــوه
مـــا بـــه سـنډل دې بـــه خـوړل مشـغول بـه وونـه
توتـــان پاخـــۀ شـــو تـــوت خـــورکې
اوس د توتـــانو پـــه ښـــاخو وهـــه ټوپونـــه
توتـــــان پاخـــــۀ لېـــــونۍ نشـــــته
دې بـــه سـنډل مـــا بـــه خـوړل مشـغول بـه وونـه
ادکـــې مـــــوري مـــــانړو لـــــه ځمـــــه
د بوډيـــالۍ توتـــان ړلـــۍ وهلـــې دينـــه
د توتـــو پـــانړې مـــې خـــوراک وے
خاونـــده نـــۀ وے د مـــوزي د کـــور غمونـــه
توتـــــان پاخـــــۀ ممـــــانړې تـــــورې
زۀ د مـــوزي د ډوډۍ څـــۀ پـــروا لرمـــه
مـــا ددې غـــوز د اونـــې ځـــار کـــړې
هم ترې غوزان خورم هم پرې شونډې سرې کومه
انـــار دې وخـــوړ خولـــه دې ســـرۀ شـــوه
چـــا وې د واؤرو پـــه غـــر اور ولګېدونـــه
دا مـــوزيګے بـــه درتـــه وايـــم
کـــۀ دې رانـــۀ وړۀ د شـــنډې انـــار ګلونـــه
نـــۀ بـــه اينځـــر د ورځـــې ګـــل شـــي
نـــۀ بـــه زمـــا زړګـــے د غمـــه خـــالي شـــينه
پـــه مـــا دې ځـــان د اينځـــر ګـــل کـــړو
بـوئين دې راځـي ګـل دې پـه سترګو نـۀ وينمـه

شـــــپه د معـــــراج د ربـــــه غـــــواړه
سـوال د اینځـر د ګـل کـوه چـې قبـول شـینه
پـــه بـــڼ کښـــې نـــورې اونـــې ډ یـــرې
خـــوار مـــوزیګے پـــه بکیانـــه مئـــین شـــونه
ســـــــحر صـــــــبا د ے روانیــــــــږي
د پیـــر بابـــا د بـــڼ طـــاؤس نـــارې وهینـــه
پـــه بـــڼ کښـــې هـــره اونـــه ګـــل شـــوه
اصـــلي چندنـــه جـــل زده شـــو ســـتا ګلونـــه
لکـــــه د ســـــروې هســـــې نیـــــغ ووم
ټـولې د مینـې لکـه دال شـا ټیټـې کړمـه

ښاخونه او څانګې د اونې د وجود حصه او د ګل او میوې نیوؤنکیوي دا د غرمو د تاؤ نه ساتونکې او بچ کوؤنکې او د معاشرت په ژوند کښې د رومانیت برخه لرونکې وي . دا د ښونو ښائست د ټالونو اچولو ځائے او د پیغلتوب او ځوانۍ نخښه حسابیږي . د هر چا ورته سترګې وي . په لیدو ئې هر څوک خوشحالیږي . څانګه د مینې ، رغبت او کشش خاصیتونه لري . ځکه دلبري اداګانو ته هم منسوب کولے شي . او د خوبیانو او اداګانو په تعریفونو نمانځلے شي . اولسي شاعر په څانګه مئین وي په دې چې هغه خپل محبوب په دې نوم یادوي . زمونږ د حیات بخشو فولکلوري سندرو یوه سپیځلې موضوع څانګه ده .

لکـــــه د ګلـــــو ډکـــــه څانګـــــه
زۀ د جانـــان پـــه لـــور کـــږه ولاړه یمـــه
څانګـــه بـــه نـــن صـــبا کښـــې ګـــل شـــي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ لیدلي دینه
خلقـــه را داؤ کـــړئ مـــا تـــرې خـــلاص کـــړئ
څانګه د بور په شان سره شوه مات ئې کړمه
څـــانګې پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه
صـــبا بـــه بیـــا رالـــه راځـــې پـــه زړۀ غمژنـــه

ځـــانګې پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه
د وینـو سـرې جـامې بـه تاتـه پـاتې شـینه
زمـــا نـــه ځټيـــه غـــنم واخلـــه
پـه ځانګـه مـۀ کـړه د غرمـې پـورې لوږنـه
خـدائے دې مالیـار پـه سـترګو ړونـد کـړي
چې ځانګه ګل غوا ړي دے خاورې ورکوینه

کر کرونده او زمیداره د پښتنو د معاشرتي ژوند بنیادي ذریعه ده ـ د زیـاتو خلقـو د ژوند دار و مدار په باغ باړۍ او زمیداره باندې دے ـ د زمیدارۍ په لړ کښې د غنمو نه علاوه چې زیات د کومو فصلونو کرونده کولے شي ـ په هغوي کښې جوار ، باجرې ، چڼې ، شړشم ، شولې ، ګنے ،تماکو او شوتل وغیره شامل دي ـ دا ځۀ خو په آوي زمکو کرلے شي او ځینې د للمې او باراني زمکو پیداوار وي ـ د کور ټول افراد د زمیدارۍ په کار کښې سره شریک وي ـ لـۀ لـور ، ایـوه ، غوبـل اوبو خور ، ګاټې ټول د شریکې کارونه دي ـ د هر فصل خپل موسم او خپل روزګار وي ـ ځکه ئې ذکر هم په بیل بیل انداز کولے شي ـ لکه چې وائي چې :-

کـــۀ مـــې دا ځلـــې فصـــل شـــین شـــو
دوبـــار بـــه نـــۀ کـــرم جـــوار پـــه دامانونـــه
پـــــه پتاســـــو دې اموختـــــه کـــــړم
اوس د جـــوارو پـــولې خونـــد نـــۀ راکوينـــه
خلـــــق زیـــــارت لـــــه پراتـــــې وړي
زۀ د جـوارو سـوکړک وړم چـې کونـډه یمـه
پـــه چڼـــو لـــؤ کښـــې دې خولـــۀ راکـــړه
پـه چڼـو لـؤ کښـې څـوک اوبـۀ نـۀ ورکوينـه
کـــۀ خولـــۀ مـــې اخلـــې زر ئـــې واخلـــه
ګنـــې د چڼـــو لـــؤ لـــه ځـــم تـــروه بـــه شـــینه
نـــــن مـــــې همزولـــــې مېلمنـــــې دي
شـولې لمـدې دي چـرګ نيـوۀ نـۀ راکوينـه

ولـــــې دې شـــــولې نـــــهٔ کرلـــــې
سـرېنے کــال مــې د وادهٔ ؤ تېــر بــه شــینه
پــه سـوات کښــې شــولې لــونګی دي
پــه لونګــو بــه دا فلانکــے ســنتوؤمه
د غـــرهٔ د ســـره مـــې ســـهي کـــړه
جینــۍ لګیــا ده د شړشــمو ســاګ کوینــه
د ملېـــــزو بـــــده دســـــتوره
په غـوړ خونـدې بـه د شړشـمو ګېډۍ وړینـه
مــا د شړشـــم د بـــوټي ځـــار کـــړې
هـم تـرې سـابهٔ خـورم هـم پـرې ځـنې غوړومـه
تــن مــې ګــانۍ زړهٔ مــې شړشــم دے
بېلتــون تیلــي د غـم غـوایے پـرې ګرځوینـه
پــه پولــه کښــېنه ځــان دمــه کــړه
پــه سـرېنو ګنــو کښــې نشــته دےودونــه
شــــوتله درې پـــاڼې خلـــور کـــه
سـوکړکه ټینـګ شـه ملیزیـان راغلـي دینـه
مـــولادې ورک کـــه شـــېر عالمـــه
د تمــاکو پــه پــاڼو چــا کــړې مرګونــه
چـــې اند ښـــني دربانـــدې زور شـــي
نســـوار راواخلـــه يــاره غـــم غلطوينـــه
کــهٔ چیلمــي ئــې خولــه بــه درکـــړم
کـهٔ نسـواري ئـې رانـزدې نـهٔ شـې مئینـه
چـــې اند ښـــني دربانـــدې زور شـــي
ډبـــے راواخلـــه نســـوار واچـــوه مئینـــه
د ســپینې خــولې یــاران ئــې نــور دي
شــوتلو پنـډ لــه ئــې یــو زهٔ ســاتلے یمــه

د انساني تهذيب او تمدن سرګندې نخښې ددۀ په تعميراتو بالخصوص په هاغه فنونو کښې دي کوم چې د حِس لطيف نمائندګي کوي ـ کومې چې ددۀ د ذات سره تعلق لري ـ هغه ددۀ ناسته پاسته ، خبرې اترې او زيست روزګار دے ـ کومې چې ددۀ د فنونو سره تعلق لري ـ هغه ئې فنون لطيفه يعني ادب ، موسيقي او مصوري ده او د کومو اظهار چې ئې د زمکې په سر کولے شي هغه ئې تعميرات او باغ و راغ دي ـ دا ټول د انسان د هاغې جذبې مظهر دي چې په عرف عام کښې ورته مينه وائي ـ دا د عشق پېداوار دے ـ د مينې او محبت آثار دي ـ په هر رنګ او نوع کښې چې دي جوړې او بنياد ئې يو دے ـ دا شعر دے که تصوير دے او کۀ تعمير ټولې د حسن د تخليق کولو لارې چارې دي ـ د احکم الحاکمين د مظاهرو نقلونه دي ـ د باغ و راغ تعمير هم د ښکلا د رنګينو رايو څائے کولو او په دې کښې د تسکين موندلو يو کوشش وي ـ خوبي او معيار ئې د فکر و نظر په انداز کښې وي ـ هسې خو ددې قائل وي چې :-

په ګل مئين شه ګل ته ګوره د ګل خوا ونيسه
په دې کښې ګټه ده نور هر څۀ کښې تاوان تاوان

دا په دې چې ګل ښائست دے ګل د حسنِ کُل وجود پله اشاره ده ـ ګل نزاکت دے رنګيني ده ،. خوبروئي ده ، ښکلا ده ، امن دے ، سکون دے ، ارام دے ، راحت دے او د رغبت ، انس ، محبت او مينې د ورجاروتنې څائے دے ـ ګل هر نوے نسل دے ـ په دې چې دا زينت دے ـ ښکلا ده د ښکلا دا کېفيت د باغ و راغ سره تړلے پېرلے دے ـ څکه ثوک چې کله هم د باغ ذکر کوي نو مطلب ، مقصد او اشاره ئې دغې پله وي ـ دايمي حسن او ښکلا پله ، ددې خالق پله ، هم دا د ژوندانۀ معراج وي چې دے ورته څان رسول غواړي ـ د باغ و راغ سره تعميري مينه انسان په خپل جبلت کښې د ابتدا نه موندې ده ـ د تاريخ د بېلو بېلو دورونو نه ئې ذکر اذکار راپاتې دي ـ د شداد باغ عدن ، د بابل د باغونو قيصې ، د بغداد ګلزارونه ، د شاهجهان بادشاه نه پاتې شوي باغونه ، د هند و سند او د کشمير جنت نظير د ګلزارونو رنګينئ او ښکلاګانې دا او داسې نور بې شماره لوئے او واړۀ موجود او مفقود باغونه ګلزارونه او ګلشنونه د دنيا د مخ د ښکلا او رنګينو سبب شوي دي ـ څکه ئې ذکر او روايات راپاتې دي ـ هم ئې

اورو هم ئې وينو ـ په دواړو حالاتو کښې دا زمونږ د خوشحالۍ او سکون باعث کيږي ـ زمونږ جذبات راپېداروي او د احسن الخالقين ثنا او تعريف ته مو راغب کوي لکه دا چې :-

په باغ کښې مۀ اوله کمترې
يوه به مړه شي بيا به نۀ راځي سپلونه
چې باغ ته ځې ګل راته راوړه
زۀ ئې جانان ته په اوربل قطارومه
دا تۀ چې ځې نۀ ايساريږې
د زيړو ګلو باغ په چا سپارې مئينه
د ګلو باغ دې ښۀ سمسور دے
ماليار ظالم دے ما ئې درته نۀ پرېږدينه
په باغ کښې باد مخالف راغے
د خاورو لاندې شو د ګلو غنچکونه
اول د باغ ماليار زۀ ووم
اوس په سوره نارې وهم تالا دې شينه
دومره په بخت زورور نۀ يم
چې د تالا باغ دې راوړم زيړ ګلونه
د سينې باغ ته مې درپرېږده
د باغه کله د چا زړۀ صبر کوينه
د سينې باغ ته مې در پرېږده
نۀ به ورانے کړم نۀ به څانګې ماتومه
زما د يار دور پرې تېر شو
باغچو ته وايئ چې نور نۀ سپړي ګلونه
زما د زړۀ داسې چاپېر ئې
لکه باغوان د باغ چاپېره کړي شپلونه
بخت باغيچه عقل ماليار دے
ماليار هوښيار دے چې څۀ ويئ مونږ ئې منونه

بخــــت باغیچـــــه عقــــل مالیـــــار دے
د خـدائے اختیـار دے سلامي ئـې ټـول کوؤنـه
زۀ د وطــــــن د بـــــــاغ مالیـــــــار یـــــم
پــه اوبــو خــور بــه ئــې خپلــې وینــې ورکومــه
وطـــــن مـــــې بــــاغ زۀ ئــــې بلبـــــل یـــــم
د مینــې ګــل ئــې پــه ګوګــل کښــې ګرځومــه
ګیلــــــه بــــــه هلــــــه یــــــار تــــــه وکــــــړم
چــې بــاغ تــالا شــي اومــې نــۀ رسـي ګلونــه

د باغ هر ګل بوټے د باغ د ښائست باعث کیږي.د جنت تصور انسان له الله پاک د باغ د مخه ورکړے دے.د سړي په شخصیت او د دنیا په ښائست کښې د باغ لکه چې مرکزي حېثیت وي.ځکه خو چې ددۀ په ذات کښې څۀ داسې خوبیانې وي چې نورو خلقو ته خوشحا لي ، فرحت او سکون ورکولے شي نو داسې کس ته باغ و بهار شخصیت وئیلے کیږي.هسې دا دنیا هم کشتِ آخرت دے او هم په مثل د باغ ده.انسانیت ته ئې د ګل بوټو نسبت کیږي.ګلبوټي کۀ ګلونه ګل کوي نو ازغي هم ټوکوي.ځکه باغ د ګلونو ازغو مجموعه وي.د دنیا نظام د ګلونو او ازغو دواړو یو ګډګډ ډېره نظام دے.ژوند د چا دپاره د ګلونو چتر شي او چاته پکښې د ازغو تاج په سر شي.باغ د ګل کور دے په ګل ئې ښائست دے دنیا په انسانیت ښائسته ده ودانه ده روانه ده کۀ انسانیت ترې بهر شي نو باغ به باغ پاتې نۀ شي.ویرانه به شي ځنګل به شي.لاس د بري به شي.زورور خونخوار او پنجور به په سر وخېژي زمکه به ټوله ازغي شي داسې ازغي چې هم ګرېوان پاره کوي څیرې کوي ئې او هم انسان خراره کوي.هم وینه وباسي هم سکوندړل کوي یو په باغ کښې امان دے ، سکون دے ، نغمې دي ، ترانې دي.دا حقیقت هر چاته ښکاره دے.امې او عالم ټول پرې خبردار دي ځکه خو ئې هر څوک صفتونه کوي .هر څوک ئې ارماني وي .د هر چا د باغونو د ګلګشت د خوشحالو خواهش او آرزو په زړۀ کښې غزوني کوي او کله هم چې دغه جذبه بېداره وي نو د ګل دیدار ته ئې زړۀ لېواله وي.ګل زینت دے ، ښائست دے ، معشوق دے ځکه د هر چا محبوب دے.مینه ئې پرې راځي مینه ورسره کوي.د

فنونو هره اختراع د ګل د مخه ده ، د محبوب د مخه ده ، د محبوب دپاره ده ـ د ازغو نه دا طمع توقع نه شي کېدے ـ جميل او جمال د الله پاک صفات دي ـ ګل هم جميل دے هم د جمال مظهر دے ـ د ګل وجود رحماني پېرزوئينه ده ـ ګل د ښائست دوېم نوم دے ـ ښائست کۀ په تن کښې وي کۀ په روح کښې ، ستائينه ئې کيږي ـ دا چې وائي چې هغه خو ئې په رنګ ښائسته دے ـ نو مطلب ئې دا وي چې د هغۀ وجود لکه د ګل دے ـ هم خوش رنګه دے هم خوش مزاجه دے ـ هغه څوک چې ددې دواړو نه عاري وي د هغۀ مثال د ګنډېر وي چې داسې يادولے شي چې ګنډېره ګله ، چې نۀ دې رنګ شتې نۀ دې بوئين چاله ورځينه ـ داسې پېدا اوښت کۀ ازغن نه هم وي ولې ژوند وربانديې زهر ګنډير وي ـ ګل هغه دے چې هم بې ضرره وي هم ئې رنګ ښائسته وي او هم ئې په خوشبويۍ هر طرف معطر کيږي ـ چې د سترګو تور وي ، د زړۀ سرور وي ، مشام پرور وي منظور نظر وي ، بيا نو هر څوک وائي چې :-

هاغــــه ګلونـــــو پســــې ګـــــرځم
چــې ورلــه وينــې مــې د زړۀ ورکــړې دينــه
هاغــــــه ګلونــــــه رانـــــــه ورک دي
مــا چــې پــه وينــه د زړګـي لـوئے کـړي وونــه
ګـــــل پکښـــــې ســـــتا د رضـــــا ګـــــورم
ځکــه مــې زړۀ د هــر ګلشــن طـواف کوينــه
دا خــــو څــــۀ جــــرم نــــۀ دے خدايـــــه
دنيا چمـن مـا پکښـې ګـل خوښ کـړے وونه
څــوک چــې د چــا د بــاغچې ګــل شــي
مناسـب نـۀ دي چـې سـوکړې پـرې تېروينـه
خلـــق ګـــل وکـــري ګـــل واخلـــي
مــا ګــل کرلــي مالکنــډۍ تــرې ټولۆمــه
چـــې بوراګـــان پـــرې خفـــه کيـــږي
خزانــه تــا پــه ګـل کښـې څۀ مونـدلي دينــه

دومـــره پـــه بخـــت زورور نـــهٔ يمـــه
چــې د تــالا باغــه دې راؤړم زيــړ ګلونــه
پــه هــر يــو ګــل کښــې بــه مــا وينــې
کــهٔ محبـت دې پـه رښـتيا راسـره وينـه
پــه سـترګو ړونـد شـې راتـه ګـوره
پـه تـور اوربـل مـې قطـار کـړي دي ګلونـه
پــه سـترګو ړونـد شـې راتـه ګـوره
پـه شـين چمـن کښـې لکـه ګـل ولاړه يمـه
چـې د يـو ګـل نصـيب مـې نشـته
پـه بـاغ د سـرو ګلـو دې راشـي خزانونـه
عـالمـــه راشـــــئ تماشـــــې دي
لالـي پـه تـور اوربـل کښـې ايښـي سرهٔ ګلونـه
لکـــه د ګلـــو ډکـــه ځانګـــه
زهٔ د اشـنا پـه لـور کـږه ولاړه يمـه
ګـل دې پـه تـور اوربـل کښـې خونـد کـړي
سـردې راټيـټ کـه چـې در اوټـومبم ګلونـه
د سـيند پـه منـځ کښـې دې ګـل راکـړو
لاس دې رانـهٔ کـړو د مهـو خـوراک دې کړمـه
پــاس پــه کمــر ولاړه ګلــه
نصـيب د چـا ئـې اوبـهٔ زهٔ درڅېژومـه
ګـل بـه دې حسـن تـه حېـران شـي
کـهٔ ئـې زمـا پـه سـترګو ولېـدې مئينـه
ګـل د هغـو پـه لاس کښـې خونـد کـړي
چـې د ببلتـون چېـې پـرې وار نـا وار راځينـه
کـــهٔ د راتلـــو نـــه دې خبـــر وے
مـا بـه پـه لار کښـې ګـل سـمن کرلـي وونـه

غنچـــــه د ګلـــــو مـــــې پـــــه لاس ده
کـۀ څـوک ګلونـه بوینـوي نـو رادې شـینه
ســـــتا د ښائســـــت ګلونـــــه ډېـــــر دي
جـولۍ مـې تنګـه زۀ بـه کـم کـم ټولومـه
تـــــا د نـــــاموس ګلونـــــه راؤړل
نـۀ پـرې پـوهېږم چـې بـه کـوم کـوم خوښـومه
د ګـــل پـــه رنـــګ جانـــان مـــې څـــۀ شـــو
زۀ ئـــې بـــورا يمـــه غمـــژن ورپســـې يمـــه
د ګـــل ګـــذار چـــې پـــرې چـــا نـــۀ کـــړو
نـن ئـې پـه سـر بانـدې ورېـږي سـرۀ اورونـه
پېغمبـــرې ګـــل بـــه تـــرې جـــوړ شـــي
ک دې پـــه لنـــډه زنـــه اووهـــل خالونـــه
د ګـــل کېـــدو امېـــد مـــې نشـــته
جانـــان پـــه زمکـــه د ملتـــان کرلـــي يمـــه
ګلونـــــــه ډېـــــــر درســـــــره راؤړه
زۀ پـــه اوربـــل دپاســـه چتـــر جوړومـــه
زمـــــا جانـــــان ګـــــل شـــــهزاده دے
دومـره ښائسـته دے ښـاپيرې ورلـه راځينـه
ګلونـه ډېـر دي خـدائے دې ئـې ډېـر کـړي
د ګـــلاب ګـــل پســـې ســـرتوره اووتمـــه

پښتون وګړے چې فطرتاً د ګلونو شيدائي دے ـ په ګل مئين دے ـ په غرونو ، مېدانونو ، دشتونو او صحراګانو کښې زيات وخت د کوچ او سفر په حال کښې وي ـ په دغه سفر کښې دے په راغو رغزو په ګل د امانونو هم تېرېږي راتېرېږي ـ کۀ په غرۀ ورخېژي هم او کۀ د غرۀ نه کوزېږي هم هر چرته ئې د ګل په بدن زړۀ خوشحالېږي ـ دا ګلونه ډېر هم وي او رنګ په رنګ هم وي ـ کله په غاټيولو پېښ شي کله د ريدي سره مخ شي ـ يو رنګ ، دورنګه حد دا چې اترنګ ګلونه ئې هم مخې له راځي ـ ګل کۀ هر رنګ وي خو ګل وي ، ښائسته وي ، محبوب وي ، په

لیدو ئې زړۀ خوشحالېږي ، سکون ورته حاصلېږي ـ ولې کوم رنګ چې د ے د سپرلي د راتلو استازے ګڼي هغه زیړ رنګ دے ـ کۀ په دشتونو کښې وي کۀ په صحراګانو په پټو کښې وي او کۀ په کوه دامانونو کښې د ښائست د نمر دا پلوشې پې مخي زیړ ګلونه وي دا د ژمي په اخر کښې او د سپرلي ول په سر کښې اول په نرګس زارونو بیا په سبزه زارونو او بیا په اوربل دپاسه په قطارونو د خوند او ښائست مظاهره کوي ـ زیړ ګل نرګسي وي کۀ شړشمي وي کۀ د جغاغې وي کۀ شود پیے او کۀ د پلیے یا چمپالیے ګل وي ـ دا د پښتون وګړي زړۀ ته پرېوتے دے ـ دې وربانديې داسې مئین دے چې د خپل محبوب مشابهت ئې هم تل د زیړ ګل سره کړے دے ـ خپل بخت ، خپله مینه ، خپل ارمانونه او خپلې آرزوګانې ئې په زیړو ګلو پورې تړلي دي ـ د باغ سره په رشته کښې ئې تر ډېره حده خپل ځان د زیړو ګلو سره تړلے دے ـ دا ددۀ مزاج دے دا ئې فطرت دے دا ئې پښتو ده ـ ددۀ د زیړو ګلو سره دا مینه لکه چې دایمي ده ـ په دې چې رنګ او نور او خوشبویې او سرور ئې لکه چې ددې نه موندلے دے ـ وائي :-

ما د شړشم د ګلو ځار کړې
هم ترې سابۀ خورم هم پرې ځڼې غوړومه

ولې دا مینه یوازې د شړشم په ګل پورې نۀ ده ـ دا مینه لامحدوده ده ـ دا د زمان او مکان دواړو په وسعتونو خوره ده ـ دا د ژوند او جانان قبصه ده ـ نۀ د لنډېدو ده نۀ د ختمېدو ده ـ زیړ ګلي هر کال هر چرته ګل کیږي ـ اوربل هر مال او هر ځل د زیړو ګلو پامتنه دار او طلبګار وي ـ زیړ ګلونه د دوئي د ژوند په خوند رنګ کښې ځلا او رڼا پېدا کوي ـ د زیړو ګلو باغ ، د زیړو ګلو ګېډۍ د زیړو ګلو غنچې ، د زیړو ګلو چتر دا هر څۀ ئې زړۀ ته نزدې دي تل ئې ستائیلي دي ، مینه ئې پرې راغلې ده او منیه ئې ورسره کړې هم ده ـ

دا تۀ چې ځې اخر به لاړ شې
د زیړو ګلو باغ په چا سپارې مئینه
اشنا په نورو ګلو مست دے
د چنې شاته ئې وراستۀ شو زیړ ګلونه

پــــه علامــــه د ســــپرلي پــــوئې شــــوم
جینکـو راؤړل پـه اوربـل کښـې زیـړ ګلونـه
ولــــــې بــــــه نــــــۀ ژاړم عالمــــــه
پــه زیــړو ګلــو مــې چیــنجے ولګېدونــه
خلــــــق دې وائــــــې تهمتونــــــه
زۀ پـه تهمـت کښـې زیـړے ګـل ولاړه یمـه
وطــــن د زیــــړو ګلــــو بــــاغ دے
مـا کبـرجن ورتـه شـا کـړې اوس تـرې ځمـه
خدایــــه د خېــــره بــــاران وکــــړې
چې اوچې ډاګې رازرغـون کـړي زیـړ ګلونه
وار خــو د زیــړو ګلــو تېــر شــو
بویـه چـې بیـا سـپرلے راځـي سـپړي ګلونـه
تــا د ســفر مــوزې پــه پښــو کــړې
د زیـړو ګلـو بـاغ پـه چـا سـپارې مئینـه
هلکــــه روغ بــــه لېــــونے شــــې
کـۀ پـه اوربـل دپاسـه کېـږدم زیـړ ګلونـه
کــۀ د زړګــي مــراد مــې پــوره شــو
پـه زیـارتونو بـه انبـار کـړم زیـړ ګلونـه
پــه اختــر تــۀ ځــه چــې زلمــے ئــې
په سپرلي مـا پرېـږده چې راؤړم زیـړ ګلونه
پــــه لاره تلــــې کــــږه وږه شــــوې
د ډېـره خیالـه دې زیـړ ګـل اوشـرموؤ نـه
مــــخ پــــه قبلــــه بلبلــــې لاړې
پـه ځلورمـه ورځ بـه راؤړې زیـړ ګلونـه
ســپرلے بــه ســتا د کبــره خــوار شــي
پـه زرغونـه جوتـو دې مـات کـړل زیـړ ګلونـه

خدایـــه ورکـــوتې ککـــې لـــوئې کـــړې
چې مور له راوړي په ټوپۍ کښې زیړ ګلونه
پـــه لـــوړو غـــرو بـــه ســـره خېـــژو
پـــه زنګنـــؤ پـــه زیـــړ ګلونـــه مـــاتوؤ نـــه
پـــه لاره تېـــر شـــوم ګنهګـــار شـــوم
د زیـــړو ګلـــو پـــه تهمـــت مـــې لاس تړینـــه
یـــار مـــې د تـــورو ګـــډو شـــپون دے
مالـه بـه راوړي سـپیني ژاولـې زیـړ ګلونـه
پـــه زیـــړو ګلـــو کبـــر مـــهٔ کـــړه
خـزان بـه راشـي بیـا کـوي بـه ارمانونـه
دومـــره پـــه بخـــت زورور نـــهٔ یمـــه
چـــې د تـــالاباغـــه بـــه راوړم زیـــړ ګلونـــه
جانـــان زمـــونږ پـــه کلـــي راغـــے
زمونږ په کلي دې رب ډال کړي زیړ ګلونه
کـــهٔ ګـــل پېـــدا وي خـــزان نـــهٔ وي
د زمکـــې ســـر بـــه امـــاني وي زیـــړ ګلونـــه
اوړے دې ټـــول پـــه چتـــرال تېـــر کـــړو
پـه ژمـې راغلـې رانـه غـواړې زیـړ ګلونـه
یـــار مـــې د للمـــې زیـــړے ګـــل دے
نـــرۍ ویالـــه بـــه د دیـــن مـــې ورولمـــه
لُنګـــۍ پـــه ســـر کـــه بهـــر راشـــه
چې د لنګۍ ول کښې دې کېږدم زیړ ګلونه
د جیلخـــــانې د مېـــــنځ پیپلـــــه
رب دې زیړ ګل که چې قېدیان دې بونیوینه
تـــهٔ د ګـــلاب پـــه شـــان تـــازه ئـــې
زهٔ د زیـړ ګلـې پـه رنـګ زیـړ درپسـې شـومه

خلقـــه را داؤ کــــئ تماشــــي لــــه
لیلی په تور اوربـل کښـي اېښـي زيـړ ګلونه
د زړۀ غــــوټۍ مــــې اېښــــې نــــۀ شــــوې
پــه خــوب اودۀ رانــه تــالاشــو زيــړ ګلونــه
د لیلـــــی کــــــور راتـــــه معلـــــوم دے
مجنـون ئـې خـوا پـه خـوا کرلـي زيـړ ګلونـه
خـــزان چـــې شـــته خوشـــحالي نشـــته
بلبلـه نـن صـبا بـه تـوئې شـې زيـړ ګلونـه
ګــــل د اوربـــــل ســـــره جـــــوړېږي
راشـه اوربـل بانـدې قطـار کـه زيـړ ګلونـه
کـــــــــۀ ژاړم ژاړم زۀبـــــــــه ژاړم
پــه زيــړو ګلــو مــې خــزان ولګېدونــه
هلکـــــه روغ بـــــه لېـــــونے شـــــې
کۀ پـه اوربـل بانـدې قطـار کـړم زيـړ ګلونـه
مــــخ دې د زيــــړو ګلــــو بــــاغ دے
لکــه چــراغ دے پتنګــان ورلــه راځينــه
خــــزان پــــه زيــــړو ګلــــو راغــــے
مالیــار ، بلبـل او بـورا ګـډ پـه ژړا شـونه
باغوانـــه شـــپول تـــرې نـــه چـــاپېر کـــه
جانـان پـه بـاغ کښـې دې کرلـي زيـړ ګلونـه
عـالمـــه خـــاورې مـــې پـــه ســـر شـــوې
پــه زيــړو ګلــو مــې خــزان ولګېدونــه
زمـــا دې څـــۀ نصـــيب کـــړو خدايـــه
چې لاس په زيـړو ګلـو ږدم ازغـي ئـې وهينـه
د اور لمبـــــې پـــــرې راورېـــــږي
په پښـتونخوا کښـې پـاتې نۀ شـو زيـړ ګلونـه

زمـــا جانـــان ګـــل د بينـــډۍ دے
پروت په پېنډۍ دے هېڅ خبر ئې نۀ راځينه
زمـــا جانـــان ګـــل د پلـــۍ دے
بهـــر ملـــۍ دے کـــور ښوبـــاړي چلوينـــه
د اور لمبــــــې پــــــرې راوربـــــړي
پـه بـاجوړ کښـې پـاتې نـۀ شـو زيـړ ګلونـه

هسې هر ګل الله پاک د حسن مظهر او د خپل جمال د صورت ګرۍ پـه هنـر ښائسته کړے دے او دغه ټولې خوبيانې ، ښکلاګانې ئې د انسان ذات ته هم منتقلې کړي دي ـ او انسان ئې د خپلو پنځو حواسو د قوت او فضيلت په برکت ددې جوګه کړے دے چې د هر ګل دنوع د ښکلا معترف هم شي او د ښائست درجه بندي ئې د خپل فهم و ادراک په تابين وکړي ـ ددۀ زړۀ خو دا وائي چې :-

ګلونــه ډېــر دي خــدائے دې ډېــر کــړي
د اور بــل ګــل بــه خپــل اشــنا لــه وركومــه

د اوربل ددغې ګل شناخت کول او په صحيح جوړ له پېژندل د معرفت مقام ته اشاره کوي ـ په دنيا د ګل معرفت ددۀ د ظاهري ښائست ،کړو وړو ،رنګ روات، هئيت او خوشبويۍ سره دے ـ د ګل په پائيدارۍ تر ډېره هېڅ کله هم باور نۀ وي په دې چې هر ګل له فنا ده ـ ولې د لږې ښتې په دې خو بيا نو چې ګل څومره زيات متصف وي هغه هومره ئې قدر او اهميت وي ـ د هر چا نظر ورته راګرځي ـ هر څوک ئې په ښائست مئينېږي ـ په خوشبويۍ ئې معطر کيږي په ځان ئې پېرزو کيږي او په خپل محبوب ئې سود کيږي ـ دغه ګل چې د اوربل زينت کيږي او په اشنا پيرزو کيږي د ګلونو سرتاج وي ـ د دنيا د ګلونو دغه سرتاج ته ګلاب وائي ـ دا ښائست دے ښکلاه ده ، رنګيني ده ، نزاکت دے ، خوشبويي ده ، دا په دې عالم آب و ګل کښې د جمال او جميل خالق د جماليـاتي تخليق کـارو يوه نمونه ده ـ ددې زينت او ښکلا د انسان مشاهداتي قوت له د فکر و نظر د پروازونو داسې وزر ورکړے دے چې هم ئې ترې بلبل هزار داستان جوړ کړے دے او هم ئې ترې د ګلستان بورا ساز کړے دے ـ هم ئې په باغ مئين کړے دے هم په بوستان ـ بيا خپله دا مينه ئې په رنګ رنګ طريقو او بېلو بېلو اندازونو په خپل

جانان پېرزو کړې ده ـ ددې نـه ئې فنون ساز کړي دي ـ هنرونه ئې تخليق کړي دي ، سازونه او نغمې ئې ترې پېدا کړي دي ـ د نُور او سرور جهانونو لـه ئې پکښې وده ورکړې ده ـ هم دغه جذبې ددۀ نه مصور ، تخليق کار او فنکار ساز کړے دے ـ دا د آدم د رباب نغمه شوې ده او د ګل اندامې دُرخو د مخ کالے شوے دي او د اوربل زينت شوے دے ـ ګلاب د حسن او ښکلا د رنګينو مظهر شوے دے ـ

د ګلاب قسمونه بلا ډېر دي ـ هم د رنګونو او هم د جسامت د مخه ـ دا کۀ د ګل بوټو سرتاج دے نو د انسان نوغي د عالي صفاتو نمائندګي هم کوي ـ د ګلاب رنګونه ، جسامت او خوشبويي د انسان د روح او تن په ښکلاګانو کښې هم لټولې کيږي ـ ځکه خو ئې تل دا خيال ملګرے وي چې :-

کـم اصـل ګـل تـه مـې اسـره کـړه
اصـلي ګـلاب رانـه خـزان ورېژونـه

ګلاب ګل دے ،ګل ښائست دے ،جمال دے ،حسن دے ـ دا د نُور او سرور سبب کيږي ځکه خو ورنه ګلستانونه جوړولے شي ـ ارماني زړونه تل ددې په ارمان وي چې :-

ګـل د ګـلاب سـپورے د ولـې
بوئين د سنځلې خوب د جل په مړوندونه
ګـل د اصـيل ګـلاب پکـار دے
کم اصل ګل کۀ بونيوم ډک دي باغونه
تـۀ د جانـان نـه ښائسـته نـۀ ئـې
ګلابـه مـۀ سـپړه سـحر صـبا ګلونـه
تـۀ د ګـلاب پـه شـان تـازه ئـې
زۀ د زيړ ګلي په شان زيړ دړيسې شومه
تـۀ د ګـلاب پـه شـانې سـور ئـې
لکـه نـاريج دړيسـې تکـه زيـړه شـومه
تـۀ د ګـلاب هسـې تـازه ئـې
زۀ دې زيـړ ګلې کړم جانانـه د ډېـر غمـه

د ګـــلاب ســـري غـــوټۍ تـــه وايـــه
د رنګـه تـور بـورا دې ډېـر ډېـر يادوينـه
د ګــلاب ســري غــوټۍ تــه وايــئ
د مرغــوني پـه شـان زيـړ وريـسـي شـومه
نــهٔ بــه ګــلاب بــې خــاره لــوئے شــي
نـهٔ بـه ژونـدون بـې مرګـه پـاتې شي مئينـه
ګــل د ګــلاب چــې خــدائے رانــهٔ کــړو
د نــورو ګلــو مــې بــاغچې ولاړې دينــه

خوشحال بابا څهٔ د کار خبره کړې ده . ددغې نابغـه دا وېنا د پښتون وګړي د ثقافت د انداز يو ښائسته مثال دے . دا ئې د مينې او وفا دليل هم دې او د جمالياتي تسکين يو انداز ئې هم دے . داسې انداز چې هم حقيقت دے ، هم ښکلا لري او هم ئې خوارۍ او افلاس پلو اشاره کوي . هغه وائي چې :-

پـه بـل ځـائے مـې پېـرزو نـهٔ ئـې د يـار غمـه
تــهٔ زمــا دزړهٔ د مــات کــودي ريحــان ئــې

مطلب ئې ظاهر دے دا د مينې د سوچه والي اظهار ، د زړهٔ په کور کښې د خپل محبوب مينه ساتل ، د خپلې کم مـائيګۍ او مفلسـۍ اعتـراف او د جانـان د خوبيانو ، صفاتو او خوندونو په ځان پېرزو کول د زړهٔ مات کودي او د ريحان په اصطلاحي وېناؤ کښې يادګيرنه کول ټول د يو عجيبه خوند رنګ صورت حال ته اشاره کوي . دا د ريحان ، ببري او کشمالي سره تړلې هاغه وېنا ده چې هر څوک ئې د حقيقت اعتراف کولے شي . دا د ښتونخوا د معاشرتي ژوند هغه خاکه ده چې د کشمالي د ګل سره تړلې ده . د کشمالي صفت پکښې شوے دے . د کشمالي ګل له پکښې د محبوب د مينې د غم سره تشبيهـ ورکړې شوې ده . د هغه محبوب او معشوق غم چې کله چې دا غم څوک خپل کړي او د زړهٔ په کور ئې مېشتهٔ کړي نو په مشام او خوشبوئۍ ئې ټول ګرد و پېش معطر شي . دا د بدن زيبائش او د روح ښکلا ده . دا ددې ساده باده وګړي د مينې انداز او د جذبو ترجماني ده . کله چې دے دې ته متوجه کېږي نو وائي چې :-

ما ته د پېغلې کور معلوم دے
په دېوالۀ ئې کشمالي کرلي دينه
د کشمالي د زمبق توره
د بوئين د زوره دې په جېب کښې گرزومه
د کشمالو منجيله اوکه
چې خوشبوئي دې د منگې د وېخه ځينه
په بلې مۀ ژاړه کاسيرې
د کشمالو څوکې دې يار رودلي دينه
په تورو بد مۀ وايئ خلقه
تور کشالي دي شهزادگان ئې بونيوينه
زما هغه غښتلے يار دے
چې په پټکي کښې کشمالي شمله کوينه
پاس په اسمان کښې گرزهار شو
جينکې ژاړي کشمالي رلې وهينه
د لېونې کوڅه ښکاره ده
په دېوالۀ ئې کشمالي کرلي دينه
پړے پرې ځکه نۀ راکاړم
دې ستا غوايۀ مې کشمالي خوړلي دينه
د جلېخاني د مېنځ پيپله
رب دې ببري (کشمالي) که چې قېديان دې بونيوينه
په کشمالو کښې کوکې راکه
مور ته دې وايه چې بورا خوړلې يمه
د کشمالو به دې باغوان شم
تازه غنچې به دې اوربل له جوړومه
خلقه را داؤ کړئ پناه کېږي
د کشمالو گېډۍ نوکر وسره وړينه

پــــه کشـــــمالو کښـــــې ورتـــــه پـــــټ شـــــه
جینـــۍ اوربـــل کښـــې کشـــمالي ږدي رابـــه شـــینه
د صـــــــــــــابزاده کـــــــــــــره دننـــــــــــــه
عمـــــر غوېمنـــــډ د کشـــــــمالو ســـــره کوینـــــه

هر څو کهٔ پښتانهٔ د رنګ او نسل د مخه په خپل ګرد و پېش کښې په مېشتهٔ خلقو ځان له فوقیت ورکوي ـ او دا خپل افتخار ګڼي نورو هم لکه چې د دوئي دا فوقیت او افتخار منلے وي ولې بیا هم دوئي ددې خبرې معترف دي او اخلاقاً لکه چې دا هم مني چې د رنګ روات تر حده په چا بد وئیل یا ورته کم نظر کول څهٔ ښهٔ خبره نهٔ ده ـ په دې چې هغوي دا مني چې :-

پـــه رنـــګ ســـړے نـــهٔ ســـړے کیـــږي
سړے هغه وي چې ئې خوئي د سړو وینه

د اخلاقو ، کردار او خوئي بوئي د سپېځلتیا خوبیانې د چا د رنګ روات سره هېڅ تعلق نهٔ لري ـ دا هغه صفات دي کوم چې د انسان د کردار او عمل سره تعلق لري ـ د ښهٔ سیرت خاوندان په خپل عمل پېژندے شي ـ ځکه خو وائي چې :-

پـــه تـــورو بـــد مـــهٔ وایـــئ خلقـــه
تـور کشـمالي وي شـهزادګان ئې بونیوینـه
د کشـــــــــمالي د رنګـــــــه تـــــــوره
د بـوئن د زوره دې پـه جېـب کښـې ګرزومـه

د پسرلي په موسم کښې هر کال د پښتونخوا ګل دامانو نه یا خو په زیړ ګلو او غاټولو ښائسته او رنګینه وي او یا ئې بیا سور ګلي ، ګل لالا او د ریدي ګلونه زینت وي ـ د ریدي د ګل سره د مېرې په سېل د کوره د بهر وتلو پېغلو خوږې او زړهٔ راکښونکې سندرې ددې سیمې د روایاتو دلچسپ او خوندور باب دے ـ د لالا په هر ګل کښې موجود تور داغ د شاعر د توجه مرکز او د شاعرانه ذوق د رابېدارولو مستقله ذریعه ده ـ د مئین د محبوب مینې چې د هغهٔ زړهٔ په کوم جوړ داغدار کړے وي ـ د هغې عکس هغهٔ ته د لالا په ګل کښې لیدے کیږي ـ ځکه چې کله هم خپل غمونه رامخ ته کوي او خپل غمونه ژاړي ـ د خپل محبوب د فراق او جدایۍ سندرې وائي نو په دې وېنا سر وي چې :-

زما په زړۀ کښې داسې داغ دے
لکه تور داغ چې د لالا په ګل کښې وينه

او کله چې خپل محبوب ته مخاطب کيږي نو ورته وائي چې :-

د ريدي ګل به ترې نه جوړ شي
کۀ دې په لنډه زنه ووهل خالونه

چتې او غنچې د ګلونو نه جوړيږي ، جوړولے شي او د ګلو ګېډۍ او غنچې د مينې د سوغات په دود يو بل ته ورکولے ، لېږلے او استولے هم شي ـ دا د انسان د تمدني ثقافت يو په زړۀ پورې او منلے ټاکلے دستور دے ـ ولې ددې سره چې کوم شرطونه په معاشرتي جوړ له ترلي شوي دي هغه هم په خپل ځائے ډېر درانۀ او سپېځلي دي ـ دا روايات يوازې د پښتونخوا تر حده محدود نۀ دي ـ دا د عربستان د قبائلو په رواياتو کښې هم شامل دي ـ د ذات او نسب صفاتو ته تل نسبتونه شوي دي ـ ځکه خو د قرېشو قبيلوي برتري په نورو عربو قبائيلو شکاره او مميزه وه ـ د ولديت اعلی نسبي د پېغمبرانو شان ګڼلے شوے دے ـ د بني اسرائيلو ټول انبياء د حضرت ابراهيم عليه السلام په اولاد کښې دي ـ د دوؤ کونو سردار محمد صلي الله عليه وسلم هم ددغې ابو الانبياء په زرياتو کښې ؤ او خوشحال خان باباهم چې په فخريه انداز د پښتنو جونو په باب داسې وائي چې :-

په ښائست باندې ئې ختمه دا وېنا ده
چې د اصله د يعقوب [۴] والاتبار دي

نو دا د ذات زريات هغې منلے شوي حقيقت پلو اشاره ده کوم چې د انساني نوغي په سرشت کښې تل موجود پاتې شوې ده ـ دے په قبائيلو کښې د نسب نامو د يادو ساتلو دستور له وده ورکړې ده ـ دے د خاندانونو او تبردارو د رشتو او ترون غوټې مضبوطې کړې دي ـ په اتلسمه صدۍ عيسوي کښې چې په هندوستان کښې د روهلکنډ په سيمه د ابادو پښتنو د خپلو قبيلوي رشتو مزي په سستېدو شول او د شوکېدو او شلېدوخطره ئې رامخې ته شوه نو ددغې وخت يو نامتو او نوموړي سردار نواب حافظ رحمت خان روهيلي شهيد دا ضروري وګڼله چې ددغه ټولونو اباد کارو نسب نامې په خپل يو کتاب خلاصة الانساب

کښې مرتبې او منضبطې کړي ـ ددې دپاره چې څوک هم د خپلې آبائي رشته دارۍ نه لاس په سر او محرومه نهٔ شي ـ په پښتونخوا کښې لانن هم ددې روایت پاسداري کیږي او خیال ئې ساتلے کیږي ځکه خو په دې خبره هر کله زور ورکوي چې :-

یاري د سیال سره پکار ده
کم اصل یار په یارۍ خلق شرموینه

دا هغه انتباه ده چې پښتانهٔ ئې د خپل هر راتلونکي نسل غوږ ته رسول غواړي ـ بیا کله هم چې د ګلونو نه د غنچو جوړولو ذکر راځي نو هم دغه څهٔ ئې رامخې ته کیږي ـ

ګل د اصیل ګلاب پکار دے
غنچه ترې هله جوړوه چې اصیل وینه
کم اصل ګل ته مې اسره کړه
اصیل ګلاب رانه خزان وریژونه

ولې کله چې د ګلو غنچه چاله په لاس ورشي او په خپله ئې په خوند رنګ او خوشبویۍ خوشحاله او شادان شي نو نورو ته ئې هم د فیض او خبر رسولو آرزو او خواهش په زړهٔ کښې رابېدار شي او په دې وېنا سر شي چې :-

غنچه د ګلو مې په لاس ده
کهٔ څوک ګلونه بونیوي نو رادې شینه
غنچه په باغ کښې په خندا شوه
بورا د صبر دروازې نیولې دینه
غنچه د باغ به اخر ګل شي
بورا به صبر ورته ورځې تېروینه
غنچه د ګلو مې په لاس ده
بورا ته پټ وایه چې ځان رارسوینه
زلفې غنچې دي اوېزاندي
د شونډو لاندې دې سپین غاښ مزه کوینه

کـــۀ خـــدائے کـــوي غنچـــه بـــه ګـــل شـــي
پـــه صـــبر صـــبر ورتـــه شـــپې صـــبا کومـــه

ښائست چې زور شي نو نظر ماتے ورله پکار وي ـ په دې چې د بدو سترګو نه هر ښوک ويره کوي ـ ګلونه کۀ هر څو د باغ ښائست وي ولې چې بدې سترګې وريسې شي نو د خزان د بادونو ورته مخه شي ـ څوک هم چې د خپلې ښېلخانې او خپلې کورنۍ د مينې د باغ خبر غواړي هغه تل دا سوالونه کوي چې د بدو سترګو په امان شي ـ ډېرې دعاګانې ، ډېر دودونه او دستورونه داسې دي چې دوئي ئې د خپل باغ د حفاظت او خوند رنګ سېوا کولو په غرض ترسره کوي ـ په دې دستورونو کښې يو دستور لوګے کول هم دي ـ لوګے د نظر د آفاتو دفع کونکے ګڼلے شي ـ دا کۀ د عودو وي کۀ د نظر پاڼې يا د سپېلنو څۀ فرق نۀ پرېباسي ـ سپېلني د پښتونخوا په مېرو کښې هر چرته ښۀ ډېر پېدا کېږي ـ د دې تخم راټولولے شي او د نظر ماتې په غرض لوګے کولے کېږي ـ لوګے ئې ډېر خوشبويه وي ـ هېڅ تريخوالے نۀ لري او نۀ ورنه څوک ډډه کوي ـ نظر ماتې ټوټکه د سپېلنو په لوګي کولو هم ترسره کولے شي څکه خو وائي چې :-

ســـــبر ســـــپېلني ورتـــــه لـــــوګے کـــــه
زيـارت لـه تلـې چـا بـه ئـې مـخ ليـدلے وينـه
ســـتا دې قســـم وي مـــخ راســـتون کـــه
د ســـپېلنو پـــه شـــان لـــوګے درپســـې شـــومه
کـــۀ دې دشـــمن تـــه مـــاتې ورکـــړې
د ســـپېلنو پـــه شـــان بـــه ځـــان درلـــوګے کړمـــه
څـــۀ خـــو دې مـــخ را اوجارباســـه
د ســـپېلنو پـــه دود لـــوګے درپســـې شـــومه

دا ګلونه ، دا باغونه او دا چمن زارونه دلربا هم دي او مشام پرور هم دي دا د محبوبِ حقيقي د حسن پرتو ده ـ د هغۀ ورکړۀ دي ، انسان له ئې ورباندې تصرف ورکړے دے ـ دا د محبوب حقيقي د بې پاياوه حسن کرشمې دي ـ دا د جنت د باغونو هاغه تصورات او عکسونه دي چې انسان د ځان سره راوړي دي او هم د هغې په يادو کښې ئې د خپلې طبعې د تسکين او د خپل محبوب د مينې او

خوشحالۍ دپاره په هر دور کښې هر چرته دا ساز کړي ، مزين کړي او ستائيلي دي .د دنيا د باغ و راغ مالک هغه پاک ذات او عظيم تخليق کار دے چې د سمک نه تر سماء ئې هر څۀ کن فيکون کړي دي .ځکه خو د يقين او نظر خاوندان چې کله دې هر څۀ ته نظر کوي نو په دې نتيجه رسي چې :-

لېلـــــــو بـــــــاغ د بـــــــاغوان دے
مونږ لکه طوطيان يُو نن دلې صبا به ځونه

چې باغ وي نو باغوان او ماليار ئې هم وي .هغه د باغ د بوټو او ګلونو خصمانه کوي .خيال ئې ساتي ، شپول ورنه تاوه وي .ګوډ چاري ئې ورته هر وخت نيولې وي .روشونه ئې سموي ، جاړې بوټي ترې بېرته کوي ، په پوله کنډاؤ ئې ګرزي ، په خاوره سره ئې مړوي .چټې غنچې او ګلدستې ترې نه سازوي .ماليار ، باغوان د مالک ، محبوب او دلدار په مينه هر کار کوي .د باغونو ، چمنونو او ګلزارونو ښائست د ماليار د مخه وي .چې ماليار ئې نۀ وي نو باغ شاړ شي .چمن ويرانه شي .ځنګل شي خار زار شي .د باغ ښائست په باغوان وي .دا هر کله د ماليار په مخ ودان وي .ماليار او باغوان يو نوم دے .د يو کردار او عمل خاوندان دي .د دنياوي باغونو دا هنروندان د زمکې د مخ ښائست راولي .دا د جنون اوجانان دمينې هاغه راهروان دي چې نۀ يوازې ګلونه اوګلبوټي ښائسته او تازه ساتي بلکې دوئي د ګل او بلبل او د بورا او د ګل د مينې او سندرو سرودونو د شتۀ کولو او سپوا کولو ذريعه هم دي .د ژوند ښائست او خواږۀ د ماليار د مخه وي .د شاتو عسل او ګبين هم د دوئي د مخه جوړېږي .د ماليار کردار د زمکې په مخ د تعمير او ودانۍ د ښائست او ښکلا او د زېب و زينت د سپوا کولو وي .دماليارژوندرحمت دے،سعادت دے.ځکه خوډېر ډېر ستائيلے شي اوپه رنګ رنګ صفتونه اوتعريفونه ئې کيږي داسې لکه چې وائي :-

وختونـــــه نـــــور شـــــو وخـــــت بـــــدل دے
اول ماليار ووم اوس په سوال غواړم ګلونه
د زړۀ پـــــه بـــــاغ مـــــې خـــــزان راغـــــے
چې دوصال باغوان راځي تالا به وينه

اول د ســـــرو ګلــــو مالیـــــار ووم
اوس پـه تـالابـاغونو ګـرځم پـاڼې خورمــه
خـدائے دې مالیـار پـه سـترګو ړونـد کـړي
چې څانګه ګل غواړي دے خاورې ورکوینه
د کشــــمالو بــــه دې بـــاغوان شـــم
تــازه غنچــې بــه دې اوربــل لــه جوړومــه
بــورا بــه خــدائے پــه ګلــو مــوړ کــړي
مالیـاره ستا نیمګـړے نیـت مـې ژړوینـه
ســتا پــــه اوربــــل کښــــې نــــرۍ لاړ ده
لکه پـه بـاغ کښې نرۍ لاړ مالیـار پرې ځینه

انسان چې کله هم د ژوند د حوادثو سره مخ شـوے دے ـ نو ډېر ځله ئې فطرت باغي شوے هم دے او د خېر په ځائے ضرر په مائل شوے دے ـ مضر شوے دے هم د ځان دپاره هم د بل دپاره ـ کله په یو رنګ کښې او کله به بل رنګ کښې ـ یا مقاتل شوے دے او یا داسې کاروبار پله مائل شوے دے چې یا خو په خپله د خپـل ځـان دشـمن شـوے دے او یـا د خپـل نـوغي ، ددهٔ دې عمـل او حرکـاتو مخدرات پېدا کـړي دي ـ د تمـاکو د نسـوارو او چیلم نـه ئـې راواخلـه ، بـرش ، تنـډائي ، چـرس ، افـیم ، مـدک ، هیـروئن او شـراب وغېـره دا هـر څـهٔ ددهٔ پـه استعمال کښې دي په داسې خبائثو کښې بنګ هم شامل دي ـ غالباً چې دا تـوکے پښتونخواته بهرنو راوړے دے ـ په دې چې فارسي وان داسې وائي چې :-

از بنگ سبز رنگ دل تنگ نہ باشد
آں ملک خراب است کجا بنگ نہ باشد

اوس نو دغه بنګ چې استعمال ئې په څو څو رنګه د نشه ایز توکي په جوړ کـولے شي ـ په پښتو کښې هم په اولسي سندرو کښې یادولے کېږي ـ غندنه ئې کېږي ، کړلے شي ښهٔ ورته نهٔ شي کتے لکه چې وائي چې :-

بنګـــــو لېـــــونے کـــــړې جانانــــــه
تالـه د بنګـو ګولۍ چـا درکـړي دینـه جانانـه

یا دا چې :- بنګي حرامي ، چرسي حرامي تاله د بنګو جوتې چا درکړي دینه ۔
بنګي حرامي چرسي حرامي ۔
د اردو ژبې نوموړي شاعر غالب دا وائي چې :-

مے سے غرض نشاط ہے کس روسیاہ کو
اک گونہ بیخودی مجھے دن رات چاہئے

بیا نو پښتنه معشوقه به ولې دا نۀ وائي چې :-

کـــۀ مــــې تـــۀ روغ لېـــونے نـــۀ کـــړې
بیـــا مـــې د بنګـــو پیالـــه مـــۀ بولـــه مئینـــه

د نورو بلیاتو په ذکر کښې هم چې خپله رائې سرګندوي نو وائي :-

اول چرســـــي ووم بیـــــا بنګـــــي شــــوم
پـــه دې ډاربـــږم شـــرابي نـــۀ شـــم مئینـــه
چـــــــیلم د چرســـــــو رالـــــــــه راؤړه
چــې پــه نشــه کښــې د یــار وکــړم دیدنونــه
مـــورې چرســـي هلـــک مـــې خـــوښ دے
چـــې د صـــبا پـــورې تـــوخي راتـــه کوینـــه
اول چرســـــي وې بیـــــا بنګـــــي شـــــوې
مـولادې خبـر کـړي پـوډري نـۀ شـې مئینـه
اے دونهـــــــــې د ســـــــــر ملنګـــــــــه
د مینـــې بنګـــه لېـــونۍ درپســـې شـــومه
مـــورې چرســـي ځـــوان لـــه مـــې ورکـــه
چې مازیګر شي کور ته سرې سترګې راځینه
زمـــــــا دلـــــــــداره نشـــــــــه داره
زۀ مزېـــداره خـــولګۍ تـــالره ســـاتمه
کـــۀ چیلمـــي ئـــې خولـــۀ بـــه درکـــړم
کـۀ نسـواري ئـې رانـزدې نـۀ شـې مئینـه

مـــــولا دې ورک کــــړه شــــبر عالمـــــه
د تمـــاکو پـــه پـــاڼو چـــا کـــړي مرګونـــه
د پښـــــــتنو پـــــــه حجـــــــره راغلـــــــم
چـــیلم ولاړ وو زلمـــي جنـــګ لـــه تلـــي وونـــه
کـــــه د محلـــــت پېغـــــور مـــــې نـــــهٔ وے
مـا بـه لالـي لـه ډک چـيلم حجـرې لـه وړونـه
حجـــره کښـــې ناســـت چـــيلم پـــه لاس يـــم
لـوګي سـره کـړم رنـګ پـه رنـګ د غـم آهونـه
يـــــار مـــــې ورکـــــوتې چـــــيلم کـــــش د ے
د تمـــاکو کڅـــوړه جېـــب کښـــې ګرځومـــه
پـــــه چـــــيلم راغلـــــه کـــــش ئـــــې ورکـــــړو
د خـونړي پېـزوان ئـې شـنې لـوخړې ځينـه
چـــــيلم وهـــــه چـــــيلم کـــــش يـــــاره
د تمـــاکو بخخـــه بـــه زهٔ درلـــه راوړمـــه
چيلمـــــه تـــــهٔ ډېـــــر بختـــــور ئـــــې
چې جانان خولهٔ دربانـدې ږدي دواړه لاسونه
مالـــــه حجـــــرې لـــــه چـــــيلم راوړه
کلـي وال نشـته پـه پټـو کښـې کـار کوينـه
شـــابې چـــيلم ډک کـــړئ چـــې لاړ شـــو
غـنم پاخـهٔ دي پـه لـؤ لاس پـورې کوؤنـه
زمـــــا دلـــــداره نشـــــه داره
زهٔ مزيـــداره خـــولګۍ تـــا لـــره ســـاتمه

# حیوانات

بنیادم د حیوانیت د لارې نه د انسانیت پله سفر کړے دے ـ ددۀ زوکړه الله پاک پــه احسن تقــویم کښې کړې ده ـ پـه دې دنیـا ئې دۀ لـه د خپـل نیابت او خلافت ذمه دارې ورکړې ده ـ ددې دپاره ئې ورله لاشعور ، شعور ،عقـل ، فکـر او نظر ورکړې دي ـ ددې خپلو عالي قوتونو او صـفاتو د استعمال په برکت ئې ژبـه موندې ده ، ناطق شـوے دے ـ د خبرو اترو عـادي شـوے دے ـ یو تـر بلـه د عَلَّمَ الۡاَسۡمَآءَ کُلَّهَا د منتقل کولو جوګه شـوے دے ـ پـه خپـل نـوع کښـې د علـم و فـن د خورولو په لاره روان شوے او د ایجاد او اختراع په اسرارو او رموزو پوهـه شـوے دے او د خپل خالق د ورعطا کړي خلا قیت او نیابـت کولـو اهلیـت ئـې پـه ځـان کښې پیدا کړے دے ـ

د جنت نه د رالړه کېدو او راوتو په وخت ئې د تن لباس نۀ درلـودو ـ بربنډ وجود ئـې دنیـا تـه راؤړے ؤ ـ یـا خـو ورتـه پـه هاغـه مـال د حجـاب داسـې خـاص ضرورت نۀ ؤ یا دا د هاغه د وخت او موسم تقاضا نۀ وه ـ بیا کله چې داسې وخت ئې په سر راغے نو د اونو په پاڼو ئې د خپـل ستر پټولـو مخـه جوړه کړه ـ وخـت ، زماني او خپل ضرورت او حاجت ورته د خپل وجود د ستر او پردې ، د خپـل ځـان د حفاظت ،د ګرمۍ سړزۍ سره د مقـابلې او د خپـل آرام او راحتـې لارې او چلونـه ور وښائل ـ دغه شان ئې د اختراع او ایجاد عمل روان کړو ـ د غارونو او ځنګلونـو نـه رابهـر شـو ـ د مېوؤ ، ګیاګـانو او بوټـو پـه خوړلـو د ګـذران کولـو نـه ئـې ګـام راواړوو ـ د ښکار شوق ئې پیدا شـو ـ غوښـه ئـې هـم خپلـه روزي کـړه ـ ښـاروي ، ځناور او د صحرا مرغـۍ او مارغـان ئـې د ځـان ملګـري کـړل اوئـې سـاتل ، پـۍ ، ماستۀ ، غوړي ، چرګ ، چرګوړي او اګۍ ئـې خوراکـه شـوې ـ د تمـدني ارتقـاء پـه لاره روان شو د خپلې سورلۍ او بار بردارۍ او ښکار او پیکـار دپـاره ئـې اسـونه ، خرۀ، قچر ، اوښان پکار کړل ـ غوا ، غوائي ، مېښـه ، سـنډا ، ګـډه ، چېلـۍ ئـې د

ځان د خبر کړل او سپےئې ورله څوکيدار او محافظ کړو ـ د ژوند کاروان ئې هم دغه شان په مخه روان کړو ـ په دې جوړ ئې د ځناورو او مارغانو يوه لويه ډله د ځان ملګرې کړه ـ په دوئي کښې لکه چې ورمبے ضرورت د سورلۍ دپاره د اس د شا ؤ ـ ډېره موده ئې په شاتورې اسونو سورلي کوله هم به ئې پرې ښکارونه کول او هم به ئې پرې نور مالونه ساتل ـ د ځان د حفاظت او په بل د هېڅ کولو کار به ئې ترې نه اخېستو ـ دا چې وائي چې په دې دنيا اول د اسونو باچائي وه هم به ئې مرغزار ؤ هم به ئې ګلې کنډکونه وو هم به ئې رمې ګورمونه وو ـ دا د ملکيت د رانيولو ، قبضه کولو او خپلولو ذريعه وه ـ د اسونو سورلي هم حريت ؤ هم مزاحمت ؤ او هم مدافعت ؤ ـ ځکه ورته په نورو څلوربولو فوقيت حاصل ؤ ـ ډېره زمانه زين کړي اسونه د ژوند او حرکت نخښه وه ـ دا به په رزم او بزم دواړو کښې پکارېدل ـ ځکه ورسره مينه کېده ـ خوشامنده به ئې کولې شوه ـ خصمانه او حفاظت به ئې کېدو ـ د پښتونخوا د اولس د ژوند ډېر دار مدار هم په اسونو ؤ ـ مينه وه کۀ جنګونه وو سفر ؤ کۀ حضر ټول د اس د سورلۍ محتاج وو ـ ځکه خو به ئې په سندرو ستائينو کښې هم اسونه ډېر ډېر يادول ـ لکه داسې چې :-

اس مې زين کړے روانېږم
زۀ مسافر په مېلمستيا راغلے يمه
اس مې زين کړے دے روان يم
زۀ مسافر د لږ ساعت يم لاړ به شمه
اس مې زين کړے روانېږم
زۀ مسافر يمه مېلمه راغلے يمه
اس به مې ولې مستي نۀ کړي
چې د جانان په کور مې اخلي قدمونه
اسپه دې زين کړه روانېږه
تر غوړاشو څيو دې مزي اونغښتۀ نه
اس ئې په منډه منډه راغے
د ميرحتم توره نېزه را رسوي نه

چې په سورو شي ماته ګوډه
د اسه کوز شه ډال دروازه مئینه
په پټلۍ سپین اس راښکاره شو
راته ښکارېږي زما جان کور ته راځینه
ښنستنو پاسئ وسله واخلئ
رزمک ئې لاندې کړو د اسپو په نالونه
په اسپه سور جانان راتیت شو
د پښو څوکې لګوم خوله ورکومه

د بار برداری بل هر ښاروے لکه خر ، ټټو ، قچر ، غوائي یا اوښ عن دا چې هاتي هم د ښکلا وقار او رفتار په مېدان کښې اس ته نۀ شي رسېدے ـ ولې بیا هم په هره زمانه هر دور او خپل مخصوص ماحول کښې د دوئي ټولو ضرورت او حاجت انسان ته پېښ شوے دے ـ او دا ټول ښاروي او چوپایان ئې په خپل ضرورت ترسره کولو کښې پکار کړي دي ـ کۀ اوښ ئې د دشتونو او صحراګانو د سفر ملګرے شوے دے نو خر ئې هم ورسره هر چرته په لکۍ پورې تړلے روان کړے دے ـ د کلي د صحرا د کور او د پټي په ډېرو کارونو ئې خر پېر کړے دے ـ هم ئې ترې کار اخېستے دے هم ئې په خوراک ورله داسې ځان نۀ دے پېر کړے ـ دغه حال د اوښ هم دے ـ اوښ نۀ خو ډېرو اوبو ته لېوالـه دے او نۀ په خوراک پسې انګولي ، اوږده غړانګه ئې هم لاندې د زمکې ګیا ته رسېدے شي هم د اونو بوټو سرونه خوړے شي ـ ځکه خو وائي چې خوري ځوزان او بار پرې مهران ـ ټټو او قچر د خر او د اوښ مینځ و میانه کارونه سرته رسوي ـ ځکه ئې حق په حقه منلے کیږي ـ او داسې وئیلے شي چې قچر توبره په کار زیاتوي ـ یعنې زیات کار زیاته توبره د قچر برخه نۀ خوږه ده او نۀ ترخه ـ

اوښانو بیا غاړې کړې کړې
چې پرې سورېږي سپینې خولې زیړ پېزوانونه
په ښنو چالاکه اوښه ګوډ شي
د یار دیدن به مې کاوۀ تېره دې کړمه

اوښـــــانو بيـــــا غـــــاړې اوږدې کـــــړې
چـې پـرې سـوربـږي سـپينې خـولې تـور اوربلونـه
بخـــت چـــې کوټـــه شـــي دا مـــې واؤره
کۀ ځوک د اوښ دپاسه سور وي سپي ئې خورينه
خلقـــو هـــوا بانـــدې زيـــن کېښـــوؤ
زۀ د ټټـــو د کتـــې لاتـــدې زخمـــي شـــومه
نـــــن مـــــې لابلــــه واورېدلـــــه
مېښـــې ګـــډېږي خـــر ســـورنې ورتـــه وهينـــه
نـــن خـــود بلـــې نـــه خبـــر شـــوم
قچـــر ګـــډېږي اوښـــان ډول ورتـــه وهينـــه
بـــس دے پـــه دغـــه ځـــائے بـــه ئـــې پرېـــږدو
ســـړے اودۀ ؤ برېـــت ئـــې خـــر چيچلـــي وونـــه
خـــدائے دې زمـــا کـــړه غونـــډې مونـــډې
لنـــډے قچـــر بـــه چلـــوؤم تـــا بـــه ســـاتمه

د انسان وفادار ملګرے ، ددۀ څوکيدار ، محافظ، د ګډو رمو پوؤنکي ، ددۀ د مزلونو او سفرونو ملګرے ، د ښکارونو ښکاري ، د قرنونو او زمانو راسې ددۀ په ثقافتي او معاشرتي ژوند کښې ورسره يو ځائے را روان دے . دے په هاغه وخت کښې هم د انسان ملګرے ؤ چې انسان به په دشتونو او صحراګانو کښې خېمه زن وو او ښکارونه به ئې کول او په هاغه زمانه هم ددۀ په خوا کښې وو چې اصحابِ کهف په غار کښې ننوتل او پټېدل . د دشمن نه د ځان ساتلو په غرض ، د ژوندې پاتې کېدو په خاطر او د خپلې عقيدې او ايمان د محفوظ ساتلو دپاره ، په داسې حال کښې ورسره سپے هم ملګرے ؤ . د غار په خولۀ کښې ورته ناست ؤ څوکيۍ ئې ورله کوله . داسې ګڼ روايات د انساني تاريخ حصه شوي دي سپے د مشرق او مغرب د انسان يو مخلص ملګرے دے . د انسان سره ددۀ دا مينه لکه چې فطري هم ده او ازلي هم ده . دے په دوست دشمن کښې تميز کولے شي . غېر غماز په ور در نۀ پرېږدي . دا ئې خوبي ده او دا ئې صفت دے او دے شاکر هم دے د خپل مالک سره په اوچه سپوره ګذران کولے شي . په هډ هډوکي

مئين د ے ـ هم اوچه خوړے شي هم لمده ـ هم سپوره تېروي هم د غوړې نه مخ نۀ اړوي ـ غوښه ئې خوښه ده ګيا وابنۀ له خولۀ نۀ وروړي ـ عادتونه ئې هر چاته معلوم دي ـ کله کله د انسان ځينې عادتونو او خويونو ته هم د سپي د عادتونو او خويونو نسبت کولے شي ـ وائي خدايه صبر د سپي راکړې او خوئي د سړي راکړي ـ سپے او سړے د ژوند په کاروان کښې د يو بل ملګري دي ـ ځکه خپل ملګرے ځوک نۀ هېروي ـ هر وخت ئې يادوي د زړۀ مينه ئې وي ورسره ـ چې کله ئې په زړۀ را وورېږي راياد شي ورته نو وائي چې :-

جانان سود خور شو مخ ئې تور شو
لکه د کډې سپے په هر چا پسې ځينه
سړے مې درغے رانغلې
چې سپے مې درغے پرې سور راغلې مئينه
اول دې سپي راپسې تو کړل
بيا دې راغږ کړو چې دې اونۀ خوري مئينه
ما ته يوه کړي بل ته بله
جانان په يو هډوکي دوه سپي غولوينه
کۀ په کوځه کښې ئې غار غار کړي
د ليلى سپي ته مجنون کورې نۀ وائينه
صورت مې خوار زړۀ مې دړمن دے
ګورې چې سپے به مې د چا په در کښې خورينه
بېلتونه خوار شې زۀ دې خوار کړم
خدائے خبر سپي به مې کوم ځائے کښې خرړوينه
ستا د يارۍ نه به وانۀ وړم
کۀ لنګه سپۍ مې سر کوځو کښې تښتوي نه
چې بې وفا جانان خبرېږي
د دشمنانو سپو به زۀ داړلې يمه
سپي ته چې کورې ووې لاړ شي
عاشق سړے د سپي بتر وي نۀ پاسي نه

پـــــــه پنجــــــــورو ســــــــــپو راواوره
پـــه خوښــــو چـــړو بــــه زهٔ درتېـــره شــــمه
پـــه نیمـــه شـــپه د ســـپو غپـــا شـــوه
پــه بــاوري یــار مــې بــاور د ے رابــه شــینه
پـــه مـــخ مـــې شـــین زړوکـــے خـــور کـــړئ
زهٔ د جانـــان د کـــوڅې ســـپو خـــوړلے یمـــه
پرېـــږده چـــې ســـپي مـــې غوښـــې وخـــوري
زهٔ د مجنـــون میـــراث تـــه ډېـــر خوشـــحالېدمه
پرېـــږده چـــې ســـپي مـــې غوښـــې وخـــوري
زهٔ د پـــردو کوڅـــو نـــه نـــهٔ قلارېدمـــه
بـــې وختـــه مـــهٔ ګرځـــه کوڅـــو کښـــې
ســپي بــه دې وخــوري لېــونے بــه دې ګڼــي نــه
لـــه خـــروړو ســـپو تـــه راتېـــر شـــه
لــه دې ملالـــې خـــولې بــه زهٔ درتېـــره شـــمه
جینـــۍ بخیلـــه مـــور دې مـــړه شـــه
چـې پیشـو ګـړب کـړي نـو دا نېغـه ناسـته وینـه

هسې خو د سپي پیشو خبرې په چا ښې نهٔ لګي ولې الله پاک خو جولاګي، مچ او مېږے حد دا چې د ماشي وزر هم د علم او زدکړې مېدان ګرځولے دے ـ دا زمونږه کم فهمي او بې علمي ده چې مونږه ترې ځان ناخبره ساتلے دے ـ انسان ته خو د علم الاسماء کلها حکم دے ـ دا د انسانیت معراج دے ـ دا ئې د ترقۍ او پرمختګ معیار دے ـ ځکه نو دا په پتنګ یا بورا پورې محدوده نهٔ ده ـ په دې چمن کښې نور هم ډېر زنده سري اوري را اوري ـ څوک په صحرا کښې ځرېږي پېږي ـ څوک په ځنګل کښې لوئېږي څوک په چمن کښې چغېږي ، څوک هڼېږي ، څوک ډرقېږي او څوک برړېږي ـ د چا جالې وي د چا نشېمن وي ـ څوک په غارونو کښې وي څوک په کهسارونو کښې ـ څوک په لوړه کښې څوک په ژوره کښې د چا په اوچه ګذران وي او څوک په اونو کښې خوشحاله وي ـ د ځنګل او صحرا او د باغ و راغ دا استوګن کله خو د تنهایۍ او کله د رمو او ګورمونو په صورت

کنبې ګرځي ـ د ګډو بزو رمې د پښتونخوا په خوره وره سیمه او کهسارونو کنبې هر چرته لېدے کیږي ـ چې امن امان وي قلاره قلاري وي نو د دوئي ژوند هم په ارام تېرېږي ولې کله چې اړے ګړے شي بد امني شي او زور د زورور شي نو په داسې حال کنبې کۀ څوک دا اووائي چې :-

د شـــــــــرمخانو باچــــــــــائي ده
ځنګــل شــاهي ده خدایــه چرتــه اوتښــتمه

د ځنګل په ځناورو کنبې ګیدړ یو داسې ځناور دے چې په چالاکۍ او په مکارۍ ئې شهرت موندے دے ـ د کلیله و دمنه اوږد داستان کۀ د بېدیائي حکیم د دوربین نګاهۍ ثمره ده ولې مرکزي کردارونه ئې دوه ګیدړان کلیله او دمنه دي ـ ددغې دوؤ ګیدړانو کرتوتونه چې دغه داستان ئې رامخ ته کړے دے او د لویذیزي نړۍ جدید انداز ئې مکي ماوس ، پنګ پینتهر او ډانلډ ډک ته منتقل کړے شوي دي ـ د ګیدړانو ذکر په پښتني فولکلوري قصیو او سندرو کنبې هم عام دے ـ د کلو پېغلې چې کله صحرا ته په سېل وتې وي نو داسې سندرې ئې هم په ژبه راسمې وي چې :-

زمــا دې یوړلــه د لســو پیســو چرګــه
ګیـدړه ځـواني مرګـه پـه ګوتـو بـه رانـۀ شـې

او خوشحال بابا خو وائي چې :-

ګیدړ هر ځائے کنبې خپل وخت ساعت بدل کړي
ازمــري لــره غــر بویــه یــا ځنګــل

په ګیدړ پورې څۀ نه دي وئیلي شوي ، چا نۀ دي اوریدلي ـ دا د حجرو ، چوکونو او د نغري د غاړې د مېلسونو یوه پخوانۍ موضوع ده دلچسپه او خوندناکه هم په ماشومانو ښۀ لګي ـ هم ورته د مشرانو غوږ وي ـ لابیا دا چې کله څوک اووائي چې :-

پـــه پـــانو پټـــه خربـــوزه یـــم
لالیــه زر مــې شــوکوه ګیــدړ مــې خورینــه
پــه ټــول ځنګــل کنبــې خوشــحالي ده
زیــري ورکیــږي چــې ګیــدړ وادۀ کوینــه

نن د ګيدړ ماما واده دے
مېښې ګډېږي خر سُرنئ وهينه

ولې څوک چې د ژوند د اړې ګړي نظام نه تنګ شوي وي .د حاکم ، حکمران کرتوتونه وربانديې ښئ نئ لګي .د بد وخت د تېرېدو او د ښو وختونو راتلو ارمان ئې په زړهٔ کښې وي نو هر کله ئې دا په زړهٔ کښې تېرېږي چې ګيدړه ، تر هغې دې ښادي چې څو نمر ختلے نئ دے .په عملي ژوند کښې د ګيدړ طوره انسانانو دا کردار همېشه راسې کړلے او غندلے شوے دے .د دکن هغې شهيد ټيپو سلطان به وېل چې د زمري د يوې ورځې ژوند د ګيدړ د سل کاله ژوند نه ښئ دے .د ځنګل په ځناورو کښې پاتې په جسامت کښې د بل هر ځناور نه غټ او مضبوط وي په تن او توش او زور او قوت کښې ورته بل ځناور نئ رسي .وېلے شي چې هاتي چې ژوندے وي يو لک وي او چې مړ شي دوه لکه شي .بيا دا هم ورپورې تړلې شوې ده چې هاتي کئ د تندې مري هم ولې په خېټه کښې ئې يوه چاتۍ اوبئ پرتې وي .دا د دنياداري خبرې دي چې په غټو مالدارو او سرمايه دارو خلقو پورې په متلونو کښې راغلي دي .د هاتي کردار د زور او قوت د مخه هم منلے کيږي په يوه زمانه کښې به دا د شاهانو ، راجګانو ، سلاطينو او اميرانو د سورلۍ د پاره هم استعمالولے شو .جابرو حاکمانو ، سلاطينو او بادشاهانو به خپل دشمنان د هاتي د پښو لاندې کول او وژل به ئې .دا د مېدان جنګ قوت ګڼلے شو .په قرآن کريم کښې د سورة الفيل واقعه د هاتي د خاوندانو په ضمن کښې راغلې ده .تاريخ د هاتي په باب له د انسان د جنګ او پېکار ډېر داستانونه او ډېر واقعات محفوظ کړي دي .هاتي د انساني معاشرې په تعمير او ترقۍ کښې خپل يو ځان له کردار لري .د هاتيانو ګڼ نسلونه د دنيا په مخ په بېلو بېلو ځنګلونو کښې پېدا کيږي .دا سبزي خورک ځناور دے په وښو ګياګانو ګذران کوي .د هندوستان ، برما ، مشرق بعيد او افريقې په ځنګلونو کښې ښئ په ګڼ شمېر کښې وسېږي .هاتيان په اجتماعي ژوند تېرولو ياد دي .د پښتونخوا په سيمه د هاتي وجود نااشنا شان دے .تش د نوم پورې ورسره خلق بلد دي ولې بيا هم په متل او سندرو کښې يادشوے دے .دا زياتره مزاحيه انداز لري لکه داسې چې:-

نــــــن د هــــــــاتي مامــــــا وادهٔ دے
مېښـــې ګـــډېږي خـــر سُـــرني ورتـــه وهينـــه

د اکبر باچا د وخت سره په منسوب عشقيه داستان تودلے شاهي کښې د هاتي کردار هم موجود دے۔

په فالتو څناورو کښې ځينې ښاروي پيور ښاروي بللے کيږي هسې خو پئى د اوښانو او ګډو بزو د تنو نه هم بودېږي ولې زيات پئى د مېښې غوا د تنې نه حاصلولے شي ۔د غوا کلتوري اهميت په هندو سند او عرب عجم هر چرته د قديمه راسې ښکاره او ثابت دے۔په هندي آريائي کلتور او عقائدو کښې غوا ته د ګاؤ ماتا يعني د مور نسبت کولے شي ۔ځينې هندوان ئې پرستش هم کوي۔ په غوشيانو ئې د خپلې ناستې ځايونه هر سحر اخېړه کوي ۔ډېر اوهام او توهمات ئې په غوا پورې تړلي دي ۔په بني اسرائيلو کښې د غوئين ښاروي کوم واقعات چې وختونو محفوظ کړي دي او روايات ئې لاتر ننې ورځې ژوندي دي دا په قرآن کريم کښې هم په دوېم سورة سورهٔ بقره کښې ښهٔ په تفصيل سره بيان شوي دي ۔په پښتنو کښې هم لاتر ننې ورځې د غوا کلتوري اثر موجود او ښکاره دے ۔د دوئي په اولسي سندرو کښې هم په غوئينو ښاروؤ پورې ډېر څهٔ وئيليشوي دي لکه چې وائي :-

پـــه مـــلا کــــږه شــــوه ماتــــه نـــهٔ شـــوه
مـــور ئـــې د زيـــړې غـــوا شـــودهٔ وکـــړي دينـــه
شـــــاړې بنجـــــري شـــــوې ابـــــادې
اوس بـــه لېلـــى غواګـــانې کـــوم ځـــائے ځروينـــه
چـــې خـــدائے کـــوي هغـــه بـــه وشـــي
هلکـــه مـــهٔ ږده زيـــړې غـــوا پـــه زيارتونـــه
پـــــړے پـــــرې ځکـــــه نـــــهٔ راکـــــاږم
دې ستا غوايـه مـې کشـمالي خـوړلي دينـه
چـــــاړهٔ راواخلـــــه مـــــا حـــــلال کـــــه
مـــا د غوايـــه پـــه ګنـــاه مـــهٔ نيســـه مئينـــه

شـــابه تـــادي كـــوه غرمـــه شـــوه
چـيږے غوايـه چوكـه كـوه چـې اوزګـار شـونه
چـــې عاشـــقي ئـــې كـــړې نـــۀ وي
لكـه غـوئيږے چـې پـه اخـور لـوئږے شـوے وينـه
ايـــوه چوكـــه جـــغ مـــې پـــه لاس دي
زۀ پـــه قلبـــه غوايـــان تـــړم ازغـــي كرمـــه

څنګه چې فالتو څناور او څاروي د انسان د معاشرتي ژوند مهمه حصه ګرزېدلي دي ـ دغه رنګ ئې ځينې مارغـان هم د كورني ژونـد حصـه شوي دي ـ پـه داسـې مارغـانو او الوتونكـو پرنـدو كښـې چـرګ ،كمتـره ، زركـه ، تنـزري ، خـارو ، طـوطي، بـاز ، بابښـه ، مـرز وغېـره شـامل دي -پـه دوئـي كښـې د ټولـو نـه زيـات اهميت چـرګ تـه حاصـل دے ـ غوښـه او اګـۍ ئـې لـوئږے نعمـت دے ـ دا د انسـاني خـوراک يـو اهـم جُز دے ـ د پښتنو پـه ثقـافتي او معاشـرتي ژونـد كښـې چـرګ پـه ډېرو مثالونو او متلونو كښې ياد شـوے دے ـ لكه چې وائي چې چرګ دې يم خـو حلالوې به مې نه ـ چرګ په ډېران مۀ ګوره په تبخي ئې ګوره ـ چرګه د جولاړه نوم پرې د ملک اوشو ـ كۀ چرګ بانګ اونۀ وائي هم به سحر شي ـ چرګه زما ده او اګـۍ د شامان كره اچوي ـ چرګه چې چرچک وهي چرګوړې پسې چک وهي ـ داس په خېته كښې د سلو روپو بچے وي څۀ نۀ وائي د چرګې پـه ګېډه كښـې د پېسـې اګـۍ وي دنيـا ې پـه سـر اخستـې وي -دا او داسـې نـورې لنـډې اوږدې خبـرې او مثالونه چې زمونږ د معاشرتي ژوند ترجماني پكښې كيږي د چرګ په ذات پـورې تړلي شوي دي ـ دا ټولې د عبرت او سبق دپاره د مثالونو په دود كولے شي ـ څكه نو كۀ څوک دا ووائي چې چرګ د پښتنو د معاشرتي ژوند په تنسته بـوده كښـې د تعليم او تربيت په مېدان كښې خپل كردار لوبولے دے نو بې ځايه به نۀ وي ـ

نـــن مـــې همزولـــې مېلمنـــې دي
شـولې لمـدې دي چـرګ نيـوۀ نـۀ راكوينـه
د ســـحر چرګـــه مـــۀ وايـــه بانګونـــه
تـۀ چـې آواز كـړې يـار زمـا د غيـرې ځينـه

نور مارغان او مرغۍ هم چې په خپل خپل ځائے د یادوني او ستائنې په تول پوره ختلي دي نو په فولکلوري ادبیاتو کښې ورله په خپل خپل تابین ځائے وکړے شوے دے۔ دا بالخصوص په لنډیو کښې یاد شوي دي۔

باز د تهمت په ټکو رنګ دے
د خارو سرې شونډې طوطي خوړلې دینه
باز مې د عقل پسې لاړو
د یار د مخ په بلۍ کښېناست مړۀ ځانګونه
زړګے مې باز شي هوا وخوري
د یار په خوشې بورجل کښېني وژاړینه
ما د بازونو یاري کړې
دا ټپسان دي راته نۀ وهي ځانګونه
زما د باز بیه پرې لاړه
اشنا ټپس وخوت تروټه رابانديې شونه
باز مې د زړۀ په غوښو لوئے کړو
اوس چې د ښکار شولو د بل لاسو له ځینه
رب دې زما د منګل باز که
د زړۀ قطرې به درکوم تا به ساتمه
زما د باز بیه پرې لاړه
اشنا کوټه وخوت تروټه رابانديې شونه
باز د بې نیازو په ولقه شو
مرداري غوښې ورکوي سوده به شینه
جانان زما د منګل باز شو
د زړۀ قطرې به ورکوم دے به ساتمه
ساتلے باز مې رانه لاړ شو
اوس کۀ ارمان پسې کوم نۀ ئې مومه
زلفې مې مۀ پرېکوه موري
په سر پرېکړو اونو نۀ کښېني بازونه

زمـــــا د یـــــار ســــــترګې د زرکــــــې
کـارۀ بانـۀ ئـې د زړۀ سـر سـورے کوینـه
ســــترګې دې ســــرې لکـــــه د زرکـــــې
پـه ټـول ټبـر کښـې رب پـه تـا مئینـه کړمـه
ســــترګې دې ســــرې لکـــــه د زرکـــــې
یـا دې پـلار مـړ دے یـا دې کړې شـوکیرونه
قـــد دې شمشــــاد تـــګ دې د زرکـــې
رنګ د غنم پـه شـان راؤړې رنځـور دې کړمـه
ســــترګې د بـــــاز نـــــارې د زرکـــــې
کـۀ پـه نظـر کښـې مـې سـاتې غـلام دې یمـه
ټوپـــــک راواخلــــه تازیـــــان توکـــــه
د شـاه لېلـی پـه سـینه زرکـې ناسـتې دینـه
د دنیــــاګۍ بـــــازار بــــه وران شــــې
خـارو د نوکـو پـه سـر ګرځـې مـړه بـه شـینه
بــــاز د تهمــــت پـــــه ټکــــو رنـــګ دے
د خـارو سـرې شـونډې طـوطې خـوړلې دینـۀ
د کړمـــــــار د ســــــر طـــــــوطې وے
پــه اور ســتې وے تهمتـــې نـۀ وے مئینــه
کـــــــۀ د طـــــــوطې وزر زمـــــــا وے
د خپلـــه یـــاره بـــه چـــاپېره تاوېدمـــه
مـــــا د طوطیــــــانو یـــــارې کــــــړې
د جبـې ډینګـه ماتـه مـۀ وهـه ښانګونـه
زمـــــا د زړۀ طـــــــوطې نادانـــــــه
چې پـه تنکـو ښانګو کښېنې ماتې به شینه
زمـــــا د زړۀ طـــــــوطې خفـــــــه دے
چـا ظالمـانو ئـې وزر پـرې کـړې دینـه

مـــــــولا دې راولـــــــــه جانانـــــــه
پــــه فــــال دې نيســــم د کارغـــانو اوازونــه
کارغــهٔ چــې تــور د ے ســپين بــه نــهٔ شــي
کــهٔ د اتــک پــه اوبــو اووينځــي ځانګونــه
رب دې د ورايــــــه راښـــــکاره کـــــه
پــــه فــــال دې نيســــم د کارغـــانو اوازونــه
بانــــهٔ مــــې ريــــي زړهٔ مــــې وائــــي
جانــان بــه راشــي چــې کارغــهٔ نــارې وهينــه
خلــــق پــــــه جــــال مـــــړزې نيســــــي
مالــه جانــان پــه ســينه دوه ســاتلي دينــه
خلــــق پــــــه جــــال مـــــړزې نيســــــي
زهٔ د جانــان پــه بــولاره کښــې نښــتے يمــه
د بيـــــــو جـــــــان د لاس مـــــــــړزه
مــا درلــه ســپر د روپــۍ غوښــت راوړي دينــه
جانــــــان مــــــې لاړو مســــــافر شـــــو
لکــه سيســـۍ د بـــې وســـۍ نـــارې وهمــه
کــــــهٔ د مرغــــــــۍ وزر زمــــــا وے
مــا بــه د ټــولې دنيــا کــړي وو ســېلونه
کــــــهٔ د چنګــــــا د ســــــر مرغــــــۍ وے
نــور وړينګــان بــه مــې خــواؤ تــازه بــه وومــه
مــــخ دې ګــــلاب شــــونډې دې پــــاڼې
غــړۍ د زاڼــې ګرځــوې رنځــور دې کړمــه

خزنده حشرات په ډېرقسمه وي ـ لړم، چرمښکۍ (خمچکۍ) شلانتېه ، کربوړي، سمسره ، منږک ، چيندخه ، مار ، ښامار وغېره ځينې په خپته تولېږي د ځينو پښې هم وي چې ګرځي وربانـدې ـ چرمښـکۍ زيـاتې په ابـادو کورونـو کښـې پـه ديوالونو ګرځي راګرځي ـ ظاهراً بې ضرره وي په ماشو مچانو او مېږو خوړلو

ګذران کوي ـ په خزندؤ کښې ډېر زهریله هم وي ـ ځکه انسان ورنه ځان ساتي ولې کور په صحرا ئې ورسره روزګار هم وي ـ ځکه ئې پاړوګان هم وي ـ

د ښــــــــــــامارانو پــــــــــــــاړو زۀ ووم
د چرمښـــــکې نــــه راتــــه جـــوړ شـــو پســـاتونه
پـــــه کـــټ کښـــــې دوه ګـــــوتې ځـــــائې راکـــــه
لکـــــــه لـــــــړم پـــــــه دېوالـــــــۀ را اوختمـــــــه
د غـــــرۀ پـــــه ســـــر دې منګـــــور وخـــــوره
چـــې ســـرکاڼي مېـــږې دې وړي پـــه قطارونـــه
د غـــرۀ پـــه ســـر دې ښـــامار هـــوښ کـــړه
چـــې ډلـــې ډلـــې پاړوګـــان درخېژومـــه
لاړې کــــــوځې درتــــــه بنــــــدې شــــــوې
يـــاره ښـــامار شـــه پـــه بلـــې راشـــه مئينـــه
دا تـــــۀ چـــــې بـــــې زمـــــا خملـــــې
کټ دې ښـامار شـه چې دې خـوب تـه نۀ پرېږدينه
بېګـــــا پـــــه خـــــوب کښـــــې ژړا راغلـــــه
ستا پـه برستن کښې ښاماران وو اوئـې خوړمـه
چـــــې د چـــــا خپلـــــه ادې نـــــۀ وي
هغــه دې وخــوري د شــاډنډ تــور ښــامارونه
د کړمـــــــــار د ســـــــــر ښـــــــــاماره
چـــې دې خـــوړم نـــو خبـــر کـــړے بـــه دې وومـــه
عاشــــــقي لال بېلتــــــون ښــــــامار دے
ځـوک چې پـه لال پسې ورځي ښـامار ئـې خورينـه
بېلتـــون ښـــامار پـــه لار کښـــې پـــروت وو
زۀ د جانـــان ســـره جـــوړه پـــرې اوختمـــه
پـــــه زړه مـــــې تـــــور ښـــــامار لګيـــــا دے
د خوشـحالۍ وينـې تـرې څښـې د غـم پرېږدينـه

د بېلتانـــــــــــهٔ تـــــــــــوره ښـــــــــــاماره
چـــې دې خـــوږم نـــو خبـــر کـــړے بـــه دې وومـــه

ځناور ځلور بولي او الوتونکي دوه قسمه دي ـ هاغه چې واښهٔ او ګيا ئې خوراکه ده او بل هاغه چې په غوښو ئې ګذران دے ـ يو قسم چرنده يعنې ځربدونکي دي او بل قسم درنده يعني ماتونکي دي ـ ښکار کوي ـ فقط انسان داسې ژوے دے چې دے په دواړو رغبت لري ـ سبزي او غوښه ئې دواړه خوراکه ده ـ لامبوه دانه پرې سرباري ده ـ دا ددهٔ امتياز دے ـ الله پاک د دنيا په مخ هر نعمت ددهٔ دپاره پېدا کړے دے ـ په دې چې دے اشرف المخلوقات دے ـ په دې دنيا دے د الله پاک نائب او خليفه دے ـ انسان په غوښه مئين دے ـ غوښه د انسان د رزق جز و اعظم دے ـ دا د اوچې لمدې دواړو نه حاصلېږي ـ د اوچې ځلور بولي ښاروي او د هوا مرغۍ ، د درياب ماهيان او کبان وغېره د غوښې د حصول ذريعه دي ـ انسان د ابتدا نه ددې د خوراک روږدے او اموختـه دے ـ د غوښې د حصـول دپاره ښکارونه کول ،ښاروي او چرګان وغېره ساتل قديمي دستور دے ـ د ښکار کولو ډېر هنرونه او لارې چارې ايجاد شوي دي ـ د صحرا د زنده سرو ښاروؤ ، ځناورو ، مرغو مارغانو د ويشتو او رانيوؤ ترکيبونه او چلونه ددهٔ اختراع دي ـ دا ټول هنرونه او لارې چارې د انسان د تمدني تاريخ اهمه برخه ده ـ د بني اسرائيلو د کبانو د ښکار د اصراف او نافرمانۍ قيصه خو د قرآن نه هم ثابته ده ـ د انسان دا شغل ، غر په سم ، په ځنګل بيابان او بحر و بر د زمانو راسې همدغسې جاري دے ـ د دنيا د ډېرو پخوانو قومونو ، تهذيبونو او تمدنونو په قديمو آثارو کښې د ښکار کولو او ددې په ذريعه د رزق روزۍ حصول د ګوشت خورۍ بشپړ داستان دے ـ د ښکار د مناظرو قسما قسم منا توري عکسونه چې د شاهانو او شهزادګانو سره منسوب دي د خپل خپل وخت مصورانو په خپل خپل انداز جوړ کړي او دوامي کړي دي ـ

پښتون وګړے هم په غوښه مئين او د ښکارونو اموختـه دے ـ ځکه خو وائي چې اول وخوره د ځان غوښې بيا وخوره د ښکار غوښې ـ ښکار په لوړو ، ژورو او په ځنګل بيابان کښې ګرځېدهٔ غواړي ـ دا د غرونو سرونه او د دريابونو وسعتونه لټول دي ـ ښکار مردانه صفت دے ـ عسکريت دے ، عسکري تربيت

دے ۔پښتون چې د خپلې مينې اظهار په خپلو کلي والو سندرو کښې کوي نو به وائي :-

خلــق پــه لومــو مارغــان نيســي
زۀ ئې ښکار کړے په خمارو سترګو يمه
خلــق پــه لومــو مارغــان نيســي
زۀ ئې نيولے د اوربل په دام کښې يمه

بيا کله چې د غوښې ذکر کوي نو وائي :-

کــۀ اومــه ده کــۀ پخــه ده
غوښــه هــر رنګــې خــوږه ده

د خپلې ژبې ډېر اصطلاحات ، محاورې او متلونه ئې په غوښه جوړ دي ۔کله وائي چې غوښه او هډوکي نۀ سره بيلېږي ۔هغه په خپلو کښې ټول غوښې په غوښې دي ۔غوښه ئې خوره او هډوکي ئې شپېله ۔پيشو ئې د غوښو څوکيداره کړه ۔په غوښو ئې نۀ مړيږي ۔د ښو غوښو ښۀ شوروا وي ۔غوښه دې په غوښه شوروا دې سربازي ۔دا او داسې نور ډېر ۔غوښه د کب يا د مهي هم خوړے شي ۔دا د اوبو شے دے ۔په اوبو کښې اوسي ځکه د ښاروؤ يا د مارغانو په شمار قطار کښې نۀ ګڼلے کيږي ۔ولې بيا هم دا د ټپې د دام نه بهر شوي نۀ دي ۔

پــه کــټ کښــې ســپينه اوړې
لکــه د ډنــډ مهــے نيــول نــۀ راکوينــه

کله چې څوک سندرې وائي ۔مصرعې يا ټپې لړه کوي نو چې د غوښې ذکر راشي نو به وائي چې :-

عالمــه لــرې رانــه کښــېنئ
د ځوانۍ غوښې مې وريتېږي بوئين ترې ځينه
غوښــه د ســيخ پــه ســر وريتېــږي
نــامردې تــا پــرې سراســر نيــولے يمــه
بــاز د بــې نيــازو پــه ولقــه شــو
مــرداري غوښــې ورکــوي ســوده بــه شــينه

رامــــداد ئــــي ســــور پــــه وينـــو راوړو
چـا وے رامـداد د ے چـا وے غـوښـې خرڅـوينـه
مـــا چـــې د زړۀ پـــه غوښـــو لـــوئے کـــړل
نـــن در پـــه در خـــاورې پـــه ســـر ورپســـې يمــه

د غوښې د ذکر سره قصاب ضرور رامخې ته شي ـ د قصـاب هنر غوښه هډوکي بيلول دي ـ دا يوه لرغوني پېشه ده ـ چې د پخوا راسې په هره متمدنه معاشره کښې موجوده پاتې شوې ده ـ تبرګے ، چاړۀ او پړے ئې نظر انداز کېدے نۀ شي ـ د هغۀ تبر چاړۀ او رسۍ هغه اوزار دي چې د څاروي د مرګ استازے ګڼلے کيـږي ځکه خو په متل او محاوره کښې ښۀ په ازاده ددې د اظهـار دپاره استعمالېږي ـ لکه چې وائي چې :- چيلي ته خپله چاړۀ په اوبو کښې ښکاري ـ هغه د مرګ نه پټېدو د قصاب کره ئې شپه شوه ـ فلانے د فلانکي د سر قصاب دے ـ او کله وائي چې :-

قصــــابه تبـــــر بــــه دې مــــات شــــي
زمـــا هـــډوکي بېلتانـــۀ اوچ کـــړي دينـــه
جانانــــه ســـر مــــې درنــــه ځـــار شــــه
کـۀ پـه قصـاب مـې خرڅـوې درسـره ځمـه
پـــه قصــــاب بــــد مــــۀ وايــــئ خلقــــه
قصـــاب څـــاروي پښـــتانۀ ورور حلالوينـــه
بېلتـــون قصـــاب زۀ ئـــې حـــلال کـــړم
د قصاب سپے مې غوښـې هر خوا تښتوينه

د غسې پئی ، شودۀ ، ماستۀ ، کُچ ، غوړي ، پنير ، متـر ، تخې او شوملې او قورت وغيره هم د څاروۀ د برکته انسان ته ميسر دي ـ هر څوک ئې رغبت لري ، خوښ ئې دي ، حاجتمند دي ورته او د رزق روزۍ يوه مهمه برخه ئې ده ـ د چا په برخه ډېر او د چا په نصيب کښې کم يا په نيشت ورپورې وي ـ

تــــوره بــــه نــــۀ کــــړې نــــو بــــه څــــۀ کــــړې
چــــې ئــــې شــــودۀ د پښــــتنې رودلــــي دينــــه

تخـــي ئـــې کـــور پـــه کـــور خـــورې کـــړې
پـــه خـــوار مـــد کې ئـــې تـــروې نيـــولې دينـــه
زمـــــا پـــــرې ســـــتا مينـــــه مـــــاتېږي
دا کشـره خـور دې رالېـږه چې شـوملې وړينـه

خبره د ماشي ، مېږي وي او کهٔ د بلبل او د بورا وي خو د دنيا پـه چمـن زار پـورې ليکه وي ـ دا چمن د ګل او بورا په مينه اباد دے ـ ګل کهٔ د حسـن نمائنده دے نو بورا د مينې مظهر دے ـ د باغ روايات يا د ګل او د بلبل دي او يا د ګل او د بورا دي ـ د انساني تمدن په ټولو زينتونو او خوندونو حسن او عشق حاوي دے ـ ګل د بې حجابه حسن سرګندې ننداري رامخ ته کوي او بورا د عشق او مينې صحيفې رقم کوي ـ د انساني نوغي د تمدني ارتقاء ټولې کرشمې د دوئـي د مخه دي ـ دا کله د ګل او بلبل راز و نياز وي او کله د شمعې او پتنګ سوز و ګداز ـ لنډه دا چې د حسن و جمال او د بېلتون او وصال په آرزو ئې ناتمام ژوند روان وي په دې لوبه کښې د ژوند د رنګينو او ښکلاګانو د موندو ارمانونه رازېږي هم او فنا کيږي هم ـ دا روداد څهٔ داسې دے چې :-

بهـــار بـــه بيـــا پـــه ګلـــو راشـــي
بـــورا تـــه وايـــئ څـــان دې نـــهٔ خفـــه کوينـــه
بهـــار کښـــې مـــهٔ راځـــه خزانـــه
بـورا بـه مړ شـي خـون بـه ستا پـه غـاړه شـينه
بـــــورا د ګــــل کــــره مېلمـــــه دے
ګل د زړهٔ مېنځ ورله په خولـهٔ کښـې ورکوينه
چـــې بوراګـــان پـــرې خفـــه کيـــږي
خزانــه تــا پــه ګـل کښـې څـهٔ ليـدلي دينـه
بـــورا بـــه خـــدائے پـــه ګلـــو مـــوړ کـــړي
ماليـاره سـتا نيمګـړے نيـت مـې ژړوينـه
تـــا چـــې خـــالق مالـــک اســـره کـــړو
تـــهٔ مـــې بـــورا زهٔ دې د ګلـــو غنچـــه يمـــه

پتنـــــګ زمـــــا نــــه مينــــه زده کـــــړه
ځکـه خـوارۀ ښانګونـه شـمعې لـه ورځينــه
پتنګـــــه خـــــاورې دې پــــه ســــر شـــوې
شمعو له جوړ شو په شيشو کښې مکانونه

مچـۍ ، مـچ او ماشـې کـۀ څـۀ هـم د کرکـې او ګنـدګۍ سـره تړلـي دي ولـې پـه معاشرتي ژوند کښې د کوم کردار سره چې د دوئي نسبت کولے شي۔ دا په خپل ځائے ډېر معني خېز او دلچسپ دے۔

لکـــــه د مـــــچ منګـــــولې مـــــروړم
تېـر شـوے وخـت بـه بيـا پـه ببرتـه نۀ راځينـه
خاونـــــده ماشـــــې پــــرې لګيـــــا کـــــړې
چې سنبال شـوے کـټ کـوټې تـه خېژوينـه
د مـــــوزيګي نـــــه ماشـــــے ښــــۀ دے
چې نيمه شپه شي لـوټ پـه لـوټ مې اړوينـه
خاونـــــده بيـــــا دې مـــــازيګر کـــــړو
پـه ګـودر پرېواتـۀ د سـرو مچـو سـېلونه
ســـترګې دې نـــۀ دي ســـرې مچــۍ دي
زمـا پـه زړۀ بانـدې ئـې ګـک اونښـلاوۀنه

# ادم ذات

## ( بنیادم )

انسان اشرف المخلوقات دے .د روح او د تن دا مجموعه احسن الخالقین الله پاک په احسن تقویم کښې زېږولې ده.ددۀ د تن په شپېلۍ کښې ئې د روح باد وربوکلے دے.او دے ئې د ساه اخېستو جوګه کړے دے.انسان د خپل ابدي مسکن سره خپلو یادونو وابسته کړے دے .او د خپلې دغه د جدایۍ او بېلتانۀ نوحه د رومي سالک په ژبه داسې تکراروي چې :-

بشنو ازمنے چوں حکایت می کند

وز جدائی ہا شکایت می کند

خپلې دې جد ایۍ دے د وصال ارماني کړے هم دے او د فراق زنداني کړے ئې هم دے.انسان د آدم په وجود کښې دنیا ته راغلے دے.دلته مېشتۀ شوے دے او د ژوند د تودو سړو اموخته شوے دے ، محبوب شوے دے ، مئین شوے دے ، معشوق شوے دے ، عاشق شوے دے ، د حسن او د مینې ، د دوستۍ او دشمنۍ په رازونو پوهه شوے دے.د محبوب سره د دوستۍ او د شېطان سره د دشمنۍ حکم ورته شوے دے .دلته دے حاکم شوے هم دے او محکوم شوے هم دے.باداري ئې هم کړې ده او باربرداري ئې هم په نصیب شوې ده .انسان په دې هر څۀ عملاً تېر شوے دے.کله ئې ځان د دنیا په باد جنتي کړے دے او کله ئې ژوند هم د ځان دپاره او هم د نور جهان دپاره دوزخ کړے دے.خپل عمل ئې تل د لارې مل شوے دے.په دې هر څۀ کښې انسان ، انسان دے خېر او احسان او خطا او نسیان ئې په سرشت کښې دي په دې چې وجود ئې د څلورو عناصرو مجموعه ده .هم حسین او جمیل دے هم خطا کار او کلانکار دے.رحماني او شېطاني صفات او خویونه ئې په سرشت کښې یو تر

بله اغېزلي شوي دي ـ وائي انسان چې ماشوم وي نو انسان وي چې په روزګار اولګي نو خر شي چې ددې نه فارغ شي نو سپے شي او کله چې په دې هر څۀ راتېر شي نو بيزو شي ـ شادو شي ، د نورو د خندا او د ټوقو د مسخرو شي ـ ولې بيا هم دے اشرف المخلوقات دے ـ ښکلې جوثه ، ښکلے قدقامت ، شائسته رنګ روات ، ښائسته اندامونه ، د وجود ټول جزئيات ئې د دنيا د نور مخلوق نه مميز او افضل دي ـ هم په کړو وړو کښې هم په ليدو کتو کښې ـ د عقل او پوهې سره د وينا او خبرو صلاحيت او په بې شماره طريقو خپل فکر او خيال بل ته د منتقل کولو او ورسولو د چل هنر امتيازي صفات لري ـ انسان په انسانيت انسان دے کۀ انسانيت ته ئې شا شي نو حېوان دے محض حېوان او د حېواني دنيا يو نوغے دے ـ يو قسم ئې دا دے چې اتلس زره قامه دنيا ياد ېږي دا لکه چې ټول د الله پاک د پېدا کړي مخلوق انواع دي قسمونه ئې دي چې يو پکښې انسان هم دے ـ

دا کچه کنډول د هر يو بختور دے
سفالي دے برابر د سېم و زر دے
د جمشيد د جام صفت هر کله کيږي
دا خاورين لوښے خو هم د چا هنر دے

چې په دغې ټولو باندې ورته فضيليت حاصل دے ـ ددۀ حواس خمسه ، ددۀ ددې فضيلت غمازي کوي ـ دے د زړۀ خاوند دے ـ زړۀ لري د زړۀ په خوښه او رغبت هر کار ته ور لاندې ووزي ـ د زړۀ ئې ځانله دنيا ده ـ د زړۀ دنيا د هر چا خپله وي ـ دے د خپل زړۀ باچا دے ـ ولې خپله دا باچائي ئې هم وېشلې او تقسيم کړې ده ـ په خوښه او نا خوښه ئې وېشلې ده ځکه خو وائي چې :

کله د زړۀ باچائي او کله د سرې
زړۀ ددۀ د مينې کور دے

جنت او دوزخ لکه چې دواړه ئې دۀ د زړۀ په کور کښې دي ـ زړۀ د ژوند په هره ښۀ بده کښې شريک دے ـ زړۀ د خوشحالو او غمونو آماجګاه دے ـ په زړۀ پورې ډېر څۀ وئيلي شوي دي او وئيلې کيږي ـ ماضي ، حال او مستقبل ټول د زړۀ په کتاب کښې موجود دي ـ دا کتاب د خفي او جلي علمونو نه جوړ دے ـ دا په زړۀ

کښې خوندي دے هم ئې لوستے شي او هم پرې پوهېږي ، هم ئې لولي ، هم ئې لولولے شي او هم پرې عمل کوي ـ زړۀ د تن حاکم هم دے او محکوم ئې هم دے ـ آقا ئې هم دے او غلام ئې هم دے ـ دے په بې شماره خوبيانو او په بې شماره صفتونو متصف دے دا تشه د سرې غوښې ټکړه نۀ ده او نۀ تشه د وينې د راکښلو او خورولو کومه آله او ذريعه ده ـ زړۀ زړۀ دے ، قلب دے ، مرکز دے ، محور دے وائي زړۀ ملغلره ده چې مات شي بيا د لباس په خندا ناخلي کوشېږونه ، ژوند ددۀ نه تاوېږي او په دۀ منحصر دے ـ دے لاروے هم دے او رهبر هم دے ـ کۀ په سمه روان وي خير وي کۀ په روانه سر شي نو شر شي ـ خير او شر ددۀ نه راولاړېږي ددې هر څۀ د مخه ئې کله صفتونه کيږي او کله غندلې کيږي ، کله ئې خوبۍ بيانېږي او کله ئې خرابۍ په ګوته کيږي ـ زړۀ زړۀ دے د چا په واک کښې نۀ دے خيالونه ټول په زړۀ کښې پېدا کيږي :

برخيالے جنگ شان و برخيالے صلح شان

کله خو د کا ېي نه سخت وي او کله د اوبو نه نرم وي کله د بادو په ټټو سور وي او کله سُور اور وي ـ کله د بزم په خندا هوس مست او خوشحاله وي او کله د رزم په بوخته کښې ورګډ وي ـ زړۀ د هرې لارې لاروے دے ـ ځکه خو په هره بڼۀ بده کښې يادېږي ـ داسې لکه چې وائي :-

## قطعه

چې په خوله باندې وي خوږ په زړۀ کريهه
مۀ ئې وينه کۀ هر څو وي ډېر وجيهه
دانايانو نه مې دا دي اورېدلي
دا خبرې زما نۀ دي في البديهه

او بيا دا چې :-

اول مې نۀ وے اوس ئې وايم
په زړۀ ئې توره وينه ډنډ شوه دا دے مرمه
اماني زړۀ مې درله درکړو
بې ننګه يار تا په اور کښې اوسېزونه

مئـــــــین د زړۀ پـــــــه صـــــــبر پـــــــائي
نـــــامرده تـــــا پـــــه ژړا ځـــــان اوشـــــرموؤنه
پـــــه زړۀ مـــــې تـــــۀ وې خـــــدائے رانـــــۀ کـــــړې
نـور بـه د خـدائے پـه در کښـې نـۀ کـوم سـوالونه
پـــــه زړۀ مـــــې پنـــــډ د ګیلـــــو پـــــروت دے
هلـه بـه ئـې وایـم چـې دې سـر پـه منګـل کړمـه
پـــــه زړۀ دې غـــــتمه تېګـــــه کېـــــږده
لـه مـا دي تـاؤ د مجبـورۍ کلـک زنځیرونـه
پـــــه پټـــــو زړونـــــو خبـــــرداره
پروردګـــــاره لېـــــونے وربـــــې شـــــومه
پـــــه زړۀ مـــــې ســـــرې منګـــــولې کېـــــږده
چـې د هجـران د اور لمبـې ئـې سـړې شـینه
پـــــه زړۀ مـــــې ســـــرې منګـــــولې کېـــــږده
چـې لــږه سـاه مـې پـه قـلاره اوخېژینـه
پـــــه زړۀ دې یـــــو پـــــه خولـــــۀ دې بلـــــه
بیـا مـې د حـال پوښـتنه خلـه کـړې مئینـه
پـــــه زړۀ مـــــې تـــــاؤ د عاشـــــقۍ دے
کـۀ د سـرونو واؤرې خـورم لـه تنـدې مرمـه
پـــــه زړۀ دې څـــــۀ دي راتـــــه وایـــــه
خمـــارو ســـترګو دې ګیلـــې راؤړې دینـــه
پـــــه زړۀ مـــــې ســـــتا د مینـــــې تـــــاؤ دے
کـۀ پـه مـابڼ کښـې واؤرې خـورم لـه تنـدې مرمـه
پـــــه زړۀ مـــــې ښـــــخ د غـــــم خنجـــــر دے
راتـه یـاد شـوي د لېلـۍ شـینکي خالونـه
پـــــه زړۀ مـــــې تـــــور ښـــــامار لګیـــــا دے
د خوشـحالۍ وینـې تـرې څښـي د غـم پربېږدینـه

پــــه زړۀ دې غشـــــے رالـــــه ښـــــخ کــــړو
سـترګې پــه وار پورتــه کــوه زخمـــې دې کړمـــه
تــــۀ دې د زړۀ برجونـــــه ټينــــګ کـــــه
مـــا خپژولـــې پــه خيـــالي اوربـــل توپونـــه
د زړۀ پــــه بــــاغ مـــې خـــزان ګـــډ شـــو
چــې د وصـــال بـــاغوان راځـــي تـــالا بـــه وينـــه
چــــې زخمـــــي زړۀ پـــرې ټکــــور کيــــږي
هاغــه اشــنا بــه خلقــه کــوم کلــي کښــې وينــه
دا مــــــې پــــــه زړۀ دې درتـــــه وايـــــم
چــې دا بـــاقي عمـــر بـــه يـــو ځـــائے تېروؤنـــه
زمــــــا د زړۀ نــــــه وينــــــې څـــــاځي
کچکـــول د صـــبر تـــرې نـــه لانـــدې ګرزومـــه
چـــــې ورتـــــه ګـــــورم خوشـــــحالېږم
د چـــا يادونـــه دې پـــه زړۀ کښـــې ئـــې ســـاتمه
خلـــــق بـــــه وائـــــې چـــــې وړه ده
وړې زمــــا پــــه زړۀ چـــړې منـــډلې دينـــه
د مئـــــــين زړۀ جمـــــــات خانـــــــه ده
کــۀ مسـلمان ئـې وران ئـې نـۀ کـړې دېوالونـه
د زړۀ کنــــــډر مـــــې جانـــــان وکـــــړو
د خوشـــحالۍ ســـامان ئـــې ټـــول وچلوؤنـــه
ګـــــوره د زړۀ مـــــې وينــــې څــــاځي
جانـــان پـــه غشـــو د ښـــو وېشـــتلے يمـــه
زمــــا د زړۀ نــــه کبــــاب جــــوړ کــــه
ځـان پـرې ښـۀ مـوړ کـه چـې زړګے دې صـبر شـينه
زمــــا پـــــه زړۀ دې لـــــوبې وکـــــړې
لکـــه ماشـــوم پـــه جنجښـــې لـــوبې کوينـــه

زړۀ مې سورے وینې تـرې ښاخې
یار مې راپاسې په رومال ئې اوچوینه
زړۀ مې هغه ؤ چې تا یوړو
ګلاب خو نۀ دے چې دوبار سپړې ګلونه
زړګیه صبر دې په خدائے شه
جانان دې لاړ شو مسافر شو نۀ راځینه
زما دې زړۀ ارې ارې کړو
تا له الماس په لاس کښې چا درکړې دینه
زړۀ مې چائې جوش په جوش کښې راغے
د جانان مینه ورته چائې ورغورځومه
زما د زړۀ دمه پرې کیږي
د سور پېزوان مېرمن دې بیا د ېوال ته شینه
زړۀ مې په دوؤ کلو مئین دے
چې مازیګر شي زۀ ئې په مېنځ کښې ودرېږمه
زما په زړۀ کښې درته شته دے
کۀ د پنځو بچوړو مور شې یار دې یمه
زړۀ مې سورے وینې ترې ښاخې
مژګان د یار ترې تېر وبېر ختلي دینه
زما د زړۀ اونه رېږي
بیلتون ئې تال په څوکښې کښې واچوؤنه
زړۀ مې صندوق په مخکښې پروت دے
ستا د دیدن کنجي ئې ورکه ده مئینه
زړۀ مې سورے باد پکښې لګي
د جانان غم پکښې ولې وبستلي دینه
زما د زړۀ صبر مشکل دے
سترګې صدف اوښکې مرجان پکښې ساتمه

زړۀ مې د هاغې فن موضوع شوه
چې معمولات پکښې د غم ثابتومه
زړۀ مې هغه ؤ چې تا یوړو
ختګې نۀ دے چې به نیسي نور ګلونه
زړۀ مې حباب په باد ریږي
مۀ رالیږه په غم لړلي جوابونه
زړۀ مې صندوق په لار کښې پروت دے
پکښې راخېژي ستا د مثل کاغذونه
زړۀ مې په توپو نۀ نړېږي
ستا په نرې خندېدو دړې وړې شینه
زړۀ مې ماشوم شو راته ژاړي
زما نه غواړي د پردو سینو خوبونه
زړۀ سوداګر ستر ګې دلالې
دې خوار صورت له مې د غم سودا کوینه
زما د زړۀ صلاح رانغله
د دروازې ملنګ له ورکه رخصتونه
زړۀ مې هغه ؤ چې تا یوړو
تشې پنجرې د ګوګل څۀ له ګرځوؤمه
زما د زړۀ قطرې دې پرې کړې
تاله الماس په لاس کښې چا درکړي دینه
زړۀ مې د یار په غم کښې سور دے
سر پوخ تنور دے غرغرې وهي مئینه
زړۀ مې اوچت شي هوا وخوري
د یار په دنګه بلې کښېني وژاړینه
زړۀ مې د شګو شین کمر دے
د بېلتانۀ خوږګې ئې رو رو نړوینه

زړۀ تـــه بـــه ســـل ســـوګنده ورکـــړم
پـــه مـــاښي تلـــے يـــار دې بيـــا نـــۀ يادوينـــه
زمـــــا د زړۀ پـــــه تختـــــــی ليکـــــه
هېـر بـه مـې نـۀ شـي کـۀ مـې خـاورې شـي هډونـه
زړګيـــــــه هلتـــــــه پـــــاتې کيـــــــږي
چـې پـه سـيخونو دې ټـومبي پـه اور دې ږدينـه
زمـــــا دننـــــــه زړګـــــــــے ژاړي
د ســـترګو نـــم رابانـــدې کلـــے خبروينـــه
چـــــې پـــــه توپونـــــو نـــــۀ خـــــوزېږي
پښـــتني جونـــه قبلـــوي دغســـې زړونـــه
زمـــــــــا دې زړۀ ذرې ذرې کـــــــــــړو
تالـه پـه خولـۀ ښـې الـمـاس چـا درکـړي دينـه
زړۀ تـــه بـــه ســـل ســـوګنده ورکـــړم
چـې بـې وفـا جانـان دې بيـا نـۀ يادوينـه
زمـــــا د ســـــــوي زړۀ ملهمـــــــــه
څـۀ بـه دې کـم شـي کـۀ لـږ رو ږدې قدمونـه
زړۀ تـــه پـــه دې کښـــې څـــۀ ګنـــاه ده
سترګې ئې خوښ کړي زړۀ پرې ورک لېونے شينه
زړۀ مـــې پـــه شـــمار څلـــور ټـــوټې شـــو
هـره ټوټـه نـارې وهـي چـې يـار دې يمـه
زړۀ دې صــــلاح کـــړه جـــواب راکـــه
زۀ دې د بـــل د يـــارئ اوو پســـتم مئينـــه
زمـــا زړګـــے دې لکـــه ګـــل کـــړو
پـه اخـري جـواب دې ډېـر خوشـحاله کړمـه
زړۀ مـــــې انجـــــڼ پـــــه زور روان دے
پـه هـر سټېشـن د ببلتانـۀ نـارې وهينـه

زړګـــــــي زمـــــا كـــــــوي دردونــــــه
د جانـان غـم پـه مـا زيـات شـوے مـړ بـه شـمه
زړۀ خـــــــتګے هجـــــــران چـــــــاقو دے
رقيـــب ظـــالم دے تـــرازې تـــرې پرېكوينـــه
د زړۀ صــــــدف دې رالـــــه مـــــات كـــــړو
ســـــترګې مـــــې ژاړي ملغلـــــرې تويوينـــــه
زړۀ مــــې ســـــورے وينـــــې تـــــرې خـــــاخې
د اشـــنا غـــم د زړۀ پـــه ســـر وېشـــتلے يمـــه
د زړۀ انګـــــار مـــــې تـــــازه كيـــــږي
جانــــان ببــــوزے د بڼـــو ورتـــه وهينـــه
د زړۀ مثـــــــال د ســـــــــوداګر دے
چــې چرتــه خــوښ شــي هلتــه واړوي بارونــه
د زړۀ مثـــــــال د مســــــــافر دے
چــې چرتــه خــوښ شــي هلتــه عمــر تېروينــه
ســـړے كـــۀ ډېـــر پـــه زړۀ ســـندان شـــي
خــو چــې ئــې يــار د غېـــږې ځــي ژړا ورځينــه
ســـــتا نـــــه مـــــې زړۀ خفـــــه دے يـــــاره
خــو ســتا يادونــه مــې ارام تــه نــۀ پرېږدينــه
غشـــــــے د يـــــــار د مخـــــــې راغـــــــے
پـه ټـول بـدن كنبـې مـې پـه زړۀ اولګېدنـه
كـــۀ اســـوېلي مـــې د خـــولې نـــۀ تلـــے
د زړۀ پـــه ســـر بـــه مـــې ديګونـــه پخېـــدۀ نـــه
كـــۀ لېـــونے درپســـــې نـــۀ شـــــوم
د زړۀ ســـودا بـــه مـــې تـــر عمـــره عمـــره وينـــه
كـــــۀ دې كتلـــــې راتـــــه نـــــۀ وے
د زړۀ ارمـــان بـــه مـــې تـــر عمـــره پـــاتې وونـــه

نـــامردي داســـې خـــو ځـــوک نـــهٔ کـــړي
پـرده زړهٔ واخلـي پـه خپـل ټـک وهـي مېخونـه
ولاړه يــــــم لاړه بـــــــه نـــــــهٔ شــــــم
تـا بـه د زړهٔ پـه رنـځ اختـه کـړم بيـا بـه ځمـه
يـــــا خـــــو زمـــــا پــــه زړهٔ تيـــــارهٔ ده
يـــا د تمـــامې دنيـــا مـــړهٔ دي مشـــالونه
د قبـــــل کېــــدو نصـــيب مـــې راغـــــے
د زړهٔ پــــه ســـر ئـــې رالـــه اوليکـــل غمونـــه
د يـــــو زړګـــــي نــــه بـــــل تــــه لار وي
چـې زمـا خـوښ ئـې ستا بـه ولـې بـدي شـمه

د انسان ژوند ددهٔ په سر دے ـ ځکه خو وائي چې سر حيات وي نو ټوپۍ ډېرې ـ شمار ئې هم په سرونو کولے شي ـ ښکلا او ښائست ئې هم د سر سره دي ـ سر د دماغو لوښے دے ، په حواس خمسه يعني په پنځو حواسو کښې د څلورو حواسو لارې په سر کښې دي ـ ليدل ، اورېدل ، بوئيول او څکل په دغه لارو کيږي ـ سر کله د تاج شي کله د تاراج شي اوکله د پرېکېدو شي ـ دا د فکر ، پوهې ، عقل ، ذکاء ، علم او ادراک منبع ده ـ د ژوند ټولې ذمه وارۍ په سر دي ـ د روغې ناروغي اظهار سر کوي ـ په سر کولے شي او په سر سر کيږي دا ټوله د سر سر دردي ده ـ ځکه خو د ژبې په روز مره او محاوره کښې هم په رنګ رنګ طريقو يادولے کيږي لکه سر ئې په سر اودروؤ ، سر ته دې خبر وي ، د خپل سر خبر غواړه ، سر توره مهٔ شې ، ستا په سر مې دې قسم وي ، سر ئې راواخله ، سر ئې اوخوړ ، سر ئې تمام شو ، په سر اولګېده ، سر ته شه ، په سر اوختو ، د زړهٔ سر مې دے سردار ، د سر سړي ، سر ئې اوچقوه ، سر ئې ورک کړه ، د سره ئې کړه ، سر پرې کېږده ، سر ته نهٔ رسي ، سر په سر ده ، دغسې سرتاج ، سر زوري ، سر خوړلے وغېره داسې نور بې شماره ـ بيا کله چې د عقيدې او مينې خبره وي نو هم ئې اظهار په سر کولے شي ـ سر د ځارولو دے ، سر د لوړولو دے ، سر د وينځلو دے ، سر د پورته کولو دے ، سر د ستائيلو دے ، سر د غندلو دے او بيا سر د پرېکولو هم دے ـ د سر دا مقام د جنون او جانان ، د ګټې او تاوان او د جان او

پهچان د هرې لارې لاروے دے ـ ځکه خو کله چې د ځان او جانان خبرې له راشي نو وائي چې :-

سر زما سامان زما ځار شه تر جانان زما

د سر و مال په قربانۍ کښې هم سر وړاندې وي په دې چې وائي چې مال مې د سره ځار شه او سر مې د عزته ځار شه ـ د سر قرباني د هر څۀ نه افضله او د مينې او ايمان ثبوت وي ـ چې په دغه لاره کښې څوک د سره تېر شي ـ هغه شهيد شي ـ د دنيا نه پرده اوکړي ولې دايمي ژوند ئې نصيب شي ـ په دې چې شهيد له مرګ نشته ـ هغۀ په مرګ برے موندے وي ـ مرګ ئې د پښو لاندې کړے وي ـ دايمي رزق ئې د الله پاک سره مقرر وي هم هغه ئې روزنه کوي ژوندے ئې ساتي په دې چې د حق په لاره کښې ئې د سر قرباني ورکړې وي ـ او د سر په قربانو لوئے داسې دوام او افضليت موندے وي ـ خوشحال بابا وائي چې :-

ننګيالي دي چې ياد بړي په سندرو هم په وير

دا سر تېري هم ښاغلي وي هم د الله پاک نازولي ورته وائي ـ ولې سر خو د هر چا وي ، په هر چا پورې وي ـ هر څوک په سر حيات وي ـ نو د سر او د ژوندانۀ لوبه چې روانه وي نو ستائيلے به هم شي او کړلے به هم شي ـ دا د فولکلوري سندرو بالخصوص د ټپې يوه په زړۀ پورې موضوع ده لکه چې وائي :-

کۀ سر مې لاړ شي پروا نشته
خو چې جانان مې په عزت کښې پاتې شينه
په سر ويربړي راتلے نۀ شي
څوک چې ياري کړي سر په لاس کښې ګرځوينه
جانانه سر مې درنه ځار شه
په ستړ مې اېښي قربانۍ له ئې وروړمه
په سر سنډلو به خلاص نۀ شي
ما دې د زړۀ په سر پاڼې وهلي دينه
په سر ويربړي راتلے نۀ شي
په خولۀ کمرې نړوې چې در به شمه
په غوريدلي سر مئين شوې

بیا مې توبه ده سر به نهٔ چوټتي کومه
په سر سرتور درته ښکاره شوم
ځکه دې پټ کړل د لنډۍ زنې خالونه
چې سر زما وي ځنګل ستا وي
مزه به دا وي چې اوده د عمر شمه
چې سر زما وي ځنګل ستا وي
د هاغې ورځ په انتظار یم رابه شینه
چې مې په سر کښې سپین ښکاره شو
وارخطائي مې په جانان راغله مئینه
ما سره سر په بالښت کښېږده
زما په غوږو بادرۍ چیچل کوینه
سر مې وړې وړې کمځۍ که
وړې کمځۍ مې یار په تول تللي دینه
سر مې وړې وړې کمځۍ که
غټې کمځۍ مې د یار ډډې خوږوینه
سر مې په ګټو د ویښتو دے
چې زورورو ته مې لاس په تندي ږدمه
تر سره لوټه لاندې ښهٔ ده
پکار مې نهٔ دي د منت سپین مړوندونه
تر قلا دوې ګوتې سر لوړ که
چا دې صفت راته کوؤ راغلے یمه
په سر مې مهٔ وهه لالیه
توري کمځۍ مې د بې بې د کوره دینه

د سر قبصه داسې په لنډو په سر د لګېدو نهٔ ده. څهٔ رنګ چې وربانډې وېښتهٔ ډېر دي دغه رنګ ئې قبصې معاملې هم ډېرې دي. سر د وېښتو، اوربل، پیکي، څونډې، ځڼو، زلفو، کمځو، کاکل، کجک، ږیرې او برېتو نه علاوه باڼهٔ، سترګې، پوزه، خولهٔ، کوکۍ، غوږ، غاښونه او ژبه هم لرې، خبرې،

ناريې او غړونه هم کوي ـ خبره اوري هم او په زړهٔ کښې ئې خوندي کوي هم ـ سر د مشام اوبويونو سره هم اشنا دے او ويني ګوري هم ـ دا مخ ، اننګي ، شونډې ، عن تر غاړې ، سټ او مرئ پورې دے ـ دا ټول په سر حساب دي ـ د وجود دوه حصې دي ـ يو سر او بل تن ـ سر د پورتنئ حصې نوم دے او تن ښکتنئ حصې ته وائي ـ سر په تن د پاسه وي ځکه ئې قيصه هم د قيصو ده ـ د سر ده د شروع ده ـ لکه د سر وېښتهٔ چې سر وربانديې پټ وي هم اوږدهٔ ، هم خوارهٔ وارهٔ وي ، هم رنګونه او هم توپيرونه لري ـ د سر وېښتهٔ د وجود د ښائست دے ـ دا نُور دے ، دا حيا ده دا حسن دے، دا وقار دے دا درناوے دے دا محبوب دے ګران دے د زړونو ارمان دے ځکه خو ډېر ډېر ستائيلے شي :-

وېښتهٔ په اور باندې کړېږي

ځکه ئې زلفې په رخسار تاؤ شوي دينه

دا چې زلفې شي نو د مينې کور شي ـ کشش پکښې پيدا شي ـ هر څوک د ځان پله راکاږي ، دامونه شي ، ښکار وربانديې کيږي ، د زړونو ښکار کوي او د مينې او محبت ټالونه ترې ترې ساز شي ـ د ژوند خوشحالي ورسره اوتړلے شي ـ ارمانونه پکښې پانډه شي ـ په تعريف ئې څوک نهٔ مړيږي ـ نهٔ پرې مړيدهٔ شته ـ زلفې او جانان ملګري دي ـ دا د محبوبا د ښائست او د عاشقانو د زانګو ټالونه دي ـ د ګرفتارئ ولقې دي ، تيزندئ دي ، زنځيرونه دي ، زولنې دي ، د عشق او رومان په جهان د دوئي راج دے څهٔ رنګ چې د جانان او محبوب په سر سورے دے داسې ئې د مئينانو په زړونو هم پيرے دي ـ دوئي ورنه رپ نهٔ شي وهلے ، هر عاشق د خپل جانان د زلفو اسير وي ، په دغه ټال زانګي کهٔ په وېښه وي او کهٔ په خوب کښې وي ـ تک تور سوے اوربل چې د يار د مخ اور ترې لاندې بل وي ـ ددهٔ د زړهٔ شب ديجور وي تورتم ئې وي ـ هم ددې لاندې ئې د يار د نوراني مخ شمع بلېږي او روښانه وي ـ په ځلا وي ـ څهٔ رنګ چې د محبوب د مخ دغه چراغ د زلفو په تورتم کښې ځلېږي او رڼا کوي ـ دغسې د دواړو په ذات کښې د هغهٔ ښائست ، حسن او ښکلا د مئين د زړهٔ د کور تورتمونه روښانه کوي هم دا هغه موضوع ده ـ چې د شاعر خوښه ده ـ ځکه نو شاعر کهٔ د هر نوع وي ـ په دې موضوع ورپسې وي ـ ددې په يادولو او ستائيلو نهٔ مړېږي ـ ددې عشق او

ددې مينې اظهار چې کله په ټپو او مصرعو کښې کيږي نو لکه مصري او نبات ورنه سازيږي چې هم ئې خوږلت وي او هم نعمت وي لکه چې وائي :-

جانانـــــه زلفـــــې دې شـــــانه کـــــه
والـو لـه ټـال ورکـه چې زيـر کـړي عالمونـهٔ
اټـــې اټـــې زلفـــې دې تـــوئې شـــوې
د پاغوندې په دود دې سر سپين شو مئينه
بـــربښ مـــې د کچـــې پوښـــتۍ خېـــژي
زهٔ د جانـــان د زلفـــو اوس پرېـــوتے يمـــه
پـــه تـــورو زلفـــو بـــه ئـــې بنـــد کـــړم
پـه لـونګين بـه ئـې وهـم رام بـه ئـې کړمـه
تـــور دې زلفـــان تـــور دې چشـــمان دي
تـور دې کاکـل پـه زړهٔ مـې داغ اولګېدونـه
ټـــولې پوښـــتۍ مـــې برېښـــېدلې
زهٔ د اوږدو زلفـــو د ټـــال پرېـــوتې يمـــه
جـــلال آبـــاد ســـخته ګرمـــي ده
لنګۍ خېمـه کړه زلفـې کـش کـړه طنابونـه
چـــې مـــې د تـــورو زلفـــو وار ؤ
د چـا پکـار ووم چـا بـه هسـې غـږ کاؤنـه
ځيګـــر خـــوني بـــه دې نصـــيب شـــي
کـهٔ دې خپـل ځـان د تـورو زلفـو اسير کـهٔ نـه
د تـــورو زلفـــو مـــې زړهٔ بنـــد دے
زهٔ پـه بلـۍ جانـان مـې ښـکته زنګوينـه
د زلفـــو تـــار پـــه اشـــرفۍ دے
مـا د جانـان پـه لاس ګېـډۍ ورکـړي دينـه
د زلفـــو تـــار دې رالـــه راکـــه
کـهٔ مسـافر شـومه نـو مـلا بـه پـرې تړمـه

د زلفــو ســپورے دې رنګــين شــو
د اننګــو پــه ســر دې مـړاوي شــول ګلونــه
د زلفــو جــال کښـــې دې بنـــدي کـــړم
مستې ناترسې زلمې چا بند کړي دينه
د زلفـــو بـــار ئـــې پـــه اوږو دے
څکــه جانــان مــې رو رو اخلــې قدمونــه
د زلفـــو دام ئـــې راتـــه خـــور کـــړو
زۀ مســافر پــه لاره تلـم بنـدي ئـې کړمــه
د زلفـــو فـــوځ ورســـره دے
د زړۀ باچـا مـې د لحـد پـه لـوري ځينـه
د زلفـــو فـــرش مـــې غـــوړولے
د سـترګو اوښـکې پـه جانـان پسـې لېږمـه
د زلفـــو تـــار راتـــه راکـــوز کـــه
ستا د هجران کوهے ژور دے ډوب به شمه
زلفـــې ئـــې شـــاته واړولـــې
ټال ئې ترې جوړ کړو خپل اشنا پرې زنګوينه
د ســرې غرمــې خــوب دې رايــاد کــه
چې زمـا زلفـې دې پـه مـخ سپورے کاؤنه
جـام د جمشـيد مـې پکښـې اوليـد
چې مې د تـورو زلفـو څنـګ اولټاؤنـه
دا دې د زلفـــو خوشـــبوئي ده
کـۀ دې د عطـرو پـه اوبـو لامبلـې دينـه
کـۀ رب دې زلفـې پـه لاس راکـړې
د سمسرې غوندې به اوخورې غورزنګونه
راشــه پــه زلفــو کښــې مــې پـټ شــه
چې دشـمنان دې پـه کتنـه سـترې شـينه

زلفې دې تورې راخورې کړې
په ما تيرې شوې جوړ نمر تندر اونيوؤنه
زلفې سنبل مخ دې ګلاب دے
زنه دې سيب د سمرقند دُر دې غاښونه
زلفې اوربل دې توره شپه ده
جبين دې نمر پکښې ښکاره شي صبا شينه
زلفې اوږدې پريږدم کۀ لنډې
دومره به ئې پريږدم چې لالے پرې زنګومه
زلفې به ستا د تورې بند کړم
کۀ په دشمن باندې دې اوکړل ګذارونه
زلفې مې تاؤ کړې کږې نۀ شوې
د مسافر جانان په سر اوويريدمه
اشنا په ټوقو نۀ پوهيږي
ما په خورو زلفو وهو مرور شونه
زلفې لمدې ګودر نه راغلله
لکه بلبله چې باران وهلې وينه
زلفې مې مۀ پريکوه مورې
په سر پريکړو اونو نۀ کښيني بازونه
زلفې دې خدائے په لاس کښې راکه
د اباسين د چپو ډير لېوالہ يمه
سپين ګيينه مې پکښې بيا موند
چې مې د تورو زلفو بند اولټاؤنه
شرق ئې د زلفو په مخ راکړو
د ايرانو تورو ئې سخت دي پرهرونه
کۀ د دشمن سر دې قلم کړو
اتې اتې زلفې به تاته خورومه

کـــۀ تـــۀ مـــې روغ لېـــونے نـــۀ کـــړې
دا تـــورې زلفـــې بـــه مـــې خوشـــې ګرځومـــه
مالـــــه د زلفـــــو بالخـــــت جـــــوړ کـــــه
زۀ شـــــوګیرو د بېلتانـــــۀ وهلـــــے یمـــــه
مالـــــه د زلفـــــو نـــــه تـــــار راکـــــه
د مرګ نه مخکښې پرې کفن ځان لـه ګنډمـه
وار مـــــې د تـــــورو زلفـــــو تېـــــر شـــــو
مـــا کـــابلي انګـــور خـــواړۀ پـــه کـــور دننـــه
وړوکـــے مـــــا پـــــه یـــــارۍ پـــــوئې کـــــړې
پـــه تـــورو زلفـــو دې اوس بـــل وهـــي لاسـونه
پـــــه تـــــورو زلفـــــو بـــــه دې قېـــــد کـــــړم
پـه لـونګین بـه دې وهـم چـې مـړ دې کړمـه

چې زلفې وي اوربـل بـه هم پکښې جوړېږي ـ دا د پېغلتوب نخښـه ده ، د وجود ښائست دے ، د حسن سینګار دے ، ډول دے ، پېغلې په اوربـل ویاړي ، ښـۀ پرې ښکاري ـ د حسن د عشوؤ نازونو ځینې کرشمې په اوربـل ښکاره کیږي ـ ددې کشش زړونـه ځـان پلـه راکـاږي ـ اوربـل د زړونـو کـاه رُبـا دے ـ پـه زړونـو خـورېږي ـ اوربـل د ښـادو خوشـحالو راوسـتونکے دے ـ هـم ددۀ پـه مـخ ښـادي تودېږي چې پېغله ودېږي نو اوربل ئې خورېږي ځکه خو وائي چې :-

اوربـــــــل پـــــــه تـــــــوره نـــــــۀ ورانېـــــــږي
چـې وخـت ئـې راشـي سـلائي ئـې ورانوینـه

کله چې داسې وخت راشي او اوربـل د سـلائي پامتـه دار شي نو د خپلې مخې وېستو ته هم تیار شي ـ بیا دغه په سلائي خورېدونکے اوربـل اخر د پـلار د کـوره بهر شي او چې د پلار کور پرېږدي نو د لالي جان کور ئې خپل کور شي ـ هم دغه د خور شوي اوربل مېرمن شي ـ بیا د نورو اوربلونو د پېدا کېدو مخه جوړه کړي او د جوړېدو سبب ئې شي ـ دغسې د ژوند دا کـاروان په مخـه روان وي ـ د ژونـد د قافلې ساروانان قافله د وخت په لاره په مخه بیائي او اوربلونه ستائي ـ دا د دوئـي د ژوند ثمره وي د دوئي د مینې اظهار وي د دوئي د حسِ لطیف اواز وي د دوئـي

په نظر کښې اوربل محض د وېښتو غنچک نۀ وي بلکې نور هم ډېر څۀ وي ـ دا دوئي خوشحالي او ارمانونه وي چې هم ئې ستائي هم ئې خوشحالول غواړي ، هم ئې ارماني وي ، هم ورسره مينه کوي او هم ئې خپلول غواړي ـ د دوئي ارمانونه د دوئي حيلې ، د دوئي آرزوګانې او د دوئي غوښتنې لکه چې د بوراګانو په څېر د اوربل د ګل نه چارچاپېره تاوېږي راتاوېږي ـ هم ورسره رقصېږي ، هم ګډېږي کله خندېږي او کله ورسره ژړېږي ـ اوربل ئې په زړۀ اور بل کړے وي ـ د زړۀ باغ ئې ورله تالاکړے وي ـ او ددغې باغ ګل ئې پاس اوربل ته ختلے وي ـ ځکه نو کله هم چې يادولے شي نو وائي چې :-

اوربـــــل دې پـــــولې پـــــولې راغــــــے
ســخ د هغــو چــې بــه ئــې پــولې روانوينــه
پـــــه اوربـــــل مـــــۀ وهـــــه لاســـــونه
اوربل چې وران شي بيا بـه نۀ شي ولونـه ولونه
زړۀ مــــــې غمونــــــه لاتــــــدې باســــــي
لکــه اوربــل چــې لانـدې باسـي شـنۀ خالونـه
بـــاور م نـــۀ شـــي چـــې بـــه جـــوړ شـــم
زۀ د کـــاږۀ اوربـــــل شـــمال وهلــــے يمــــه
تــــــوره تيـــــــارۀ ده نـــــۀ دې ويـــــــنم
پــه تــور اوربــل بانـدې دې بـل کـړه مشـالونه
تبـــه مـــې نـــۀ ده چـــې بـــه جـــوړ شـــم
د تـــور اوربـــل شـــمال وهلـے مـــړ بـــه شـــمه
خلـــق پــــه لومـــو مارغـــان نيســـــي
زۀئــې نيــولے د اوربـــل پـــه دام کښــې يمــه
د اوربلونـــــــــــو ســـــــــــوداګره
اول مــې بيــه کــړه شــينکي دواړه خالونــه
روپـــــۍ څـــوک څــۀ کـــوي جانانـــه
کليمـــه داره پـــه اوربـــل مــــزه کوينـــه

ستا پـه اوربـل کښې نـرۍ لاړ ده
لکـه پـه بـاغ کښې نـرۍ لاړ مالیـار پـرې ځینـه

کـۀ دې اونـۀ خـوړم اوربلـه
پـه تـا بـه جـوړ د اشـرفو کـړم قطارونـه

نـامردې څـۀ تـه راتـه ګـورې
اوربـل جالـه کـړه تـورې زلفـې طنابونـه

اوربـل مـې بیـا پـه وروځـو خـور کـړو
لکـه شـپونکے چې بـزې قـط پـه غرونـو کـړینـه

پـه خـور اوربـل دې رلـۍ اوشـه
چې پـه سـپینکي مـخ دې کلـواړه ټولومـه

اوربـل دې بیـا پـه کُچـو غـوړ کـړو
لکـه دوربـین د فـرنګـي بربښنا کوینـه

کـۀ تـور اوربـل مـې میراتـیـږي
د ننـګ غـزا ده جانـان نـۀ منـع کومـه

کـۀ مـې انګریـز د ملکـه ورک شـو
زۀ بـه پـه تـور اوربـل کښـې کیـږدم زیـړ ګلونـه

ګـل دې پـه تـور اوربـل کښـې کیـږده
سـر دې راټیـټ کـه چې بـار خود ښـکلومه

جونـو اوربـل کښـې ګـلان راوړل
راتـه ښـکاریږي سـپرلي اوشـیندل ګلونـه

د پسـرلي پـه راتلـو پـوئې شـوم
جینکـو راوړل پـه اوربـل کښـې زیـړ ګلونـه

اوربـل دې جـوړ پـه غـنم لـؤ کـړو
زۀ خـوار بـه لـؤ کـړم کـۀ بـه ستـا دیـدن کومـه

چـې رسـالدار شـې نامـه کـټ کـه
زمـا پـه تـور اوربـل کښـې سپین اولګیدونـه

اوربـل پـه تـوره نـۀ رنګېـږي
ناترسـره ډمـه ئـې پـه ګوتـو رنګوينـه
اوربـل مـې جـګ کـړه خـال مـې ګـوره
د جنـت ګـل دې پـرې تـازه بـه شـي مئينـه
تکـل بـه کلـه د راتلـو کـړې
زمـا پـه تـور اوربـل کښـې سـپين اولګېدونـه
پـه لښـتي ټـوپ کـه بيـا راټـوپ کـه
چـې د اوربـل روپـۍ دې ګـډې وډې شـينه

اوربـل ، پېکـے ، ځونډے ، زلفـې ، کمڅـۍ ، څڼې ، کاکل ا و کجـک څۀ جدا ځيزونه نۀ دي ـ ټول د وېښتو نه جوړ دي ـ ټول د وجود زينت او د معشـوقې ښـکلا دي ـ دا کۀ لکه د بي بي بانګې ملو د سر د وېښـتو د سرو زرو تارونه وي يـا کـۀ د معشوقو د مخ اور سوزولي وېښتۀ وي خو د ښائست او جمـال پـه نوراني کولـو کښې خپل کردار ترسره کوي ـ انساني حسن د ډېرو اعضـاؤ د ښائسـت او ښـکلا مجموعـه وي ، نـوراني مـخ ، درازې زلفـې ، د سـروې قـد ، د اواز تـرنم ، د نـاز خبرې ، د شونډو مسـکا ، د سترګو حيـا ، د نظر ګذارونه او د مينې او احسـان نېک نظر دا ټول چې يو ځائے شي نو د محبوب د جسم پېکر ورنـه سـاز شي ـ دا مجازي معشوقې د مجازي سندرو ، نغمو او آهنګونو موضـوع وي ـ دا د فنکـار د فـن باعـث شـي ـ د دنيـا جهـان د فنونـو د ودې او ترقـۍ اصـل باعـث د مجـازي محبوب د ښکلا نمانځنه ده ـ مصور يو مظاهر ئې ډېر وي ـ دا چې وائي چې د بـام سر ته رسېدو لـه پـوړې پکـار وي دغـه شـان د محبوب حقيقي تـر څنګـه ورنـزدې کېدو ته هم د عشق دغه د مجاز زينه استعمالېږي ـ د مشرقي حسـن د نمـانځنې پـه ډېرو تقاضو کښې يوه دا هم ده چې د حسن د پېکر تور وېښتۀ ، درازې زلفې ، د زلفـو ولونـه ، څڼې چـوټـۍ ، نـرۍ او غټـې کمڅـۍ ، تـورپېکي ، کجـک ، ځونډے ، او ول ول کاکل دې يـاد کـړے شي اودې ستائيلے شي ـ د معشـوقانه کرشمو خوندونه دې واخېستے شي ـ د خوږ شـوي زړۀ د ارام او سـکون دپـاره دې پکار کړے شي ـ د زخمي او دردېدلي زړۀ پاهې مرهم دې کـړے شي ـ د نزديکت او قربت زينې او پوړۍ دې کـړے شي ـ د وصـال د شـپې تيـرې دې ئـې کـړې ، د

ژوند د مابنامونو د تورتم رڼا کولو استازے دي کړے شي او د فراق او بېلتانهٔ د جل وهلو د ارام ذریعه دي شي ـ د محبوب زلفې داسې نادرې او بېش بها دي چې د سالک عبد الرحمان بابا په شان چې :-

کـهٔ یـو ځلـې مـې سـتا زلفـې پـه لاس راغلـې
یـو وېښـتهٔ بـه ئـې پـه درسـت جهـان ورنـهٔ کـړم

دا د معشوق په تن د ټوکېدلو وېښتو شان دے ـ دا ئې مقام دے ، دا ئې مرتبه ده چې څوک ئې خریدار وي هغه ئې په قیمت او په بیه خبردار وي ـ هرې قربانۍ ته پرې تیار وي ـ دا د عشق او رومان هغه باب دے چې د سلوک د خاوندانو ، د رندانو عاشقانو ، د محبوب د مئینانو او د شعور د خاوندانو د یاد او داد دنیا پرې اباده ده ـ دا د سلوک او عرفان د لاروؤ د هغوي اصل منزل ته د یون او سفر لاره ده ـ ددې نه د شاعر سندرې او د فنکار نغمې جوړې دي ـ ښائستونه ، خوندونه او د غنائیت آهنگونه ددې جانانه تارونو نه راولاړېږي ـ د رٍباب په تارونو او د دلربا په سازونو دا حاوي وي ـ دا د مصور د تخلیق کار او معمار فنکار د فن دنیا ده ـ په رنګ رنګینه ، په خوند مرغوبه ، حیات افرینه د ژوند رڼا ده ـ د یار دا درازې زلفې چې لکه د چندڼ لښتې پا ئې تر سر د صنوبر په قد راخورې دي هاغه علامتونه دي چې د صدق و صفا خاوندان ئې په ستائینه نهٔ مړېږي لکه داسې چې :-

وېښـتهٔ پـه اور بانـدې کړېـږي
د جانـان زلفـې پـه رخسـار تـاؤ شـوي دینـه
پـېکې مـې جـګ کـړه خـال مـې چـپ کـړه
د جنـت ګـل دے پـرې تـازه بـه شـي مئینـه
چپـه پېکـي دې لېـونے کـړم
یـا ئـې بیـاتي کـړه یـا ئـې غوټـه کـړه سـرونه
د لویـو غـرو سـېورے پـه سـمه
د تـور پېکـي سـېورے د وروځـو پـه سـر وینـه
تـور دے پـېکے نـرۍ دې وروځـې
کـهٔ تـهٔ را اوځـې مـا بـه ورک کـړې د وطنـه

پېـــــــــېکړے مــــــــې مـــــــۀ پرېکـــــــــوه مـــــــــورې
پــــه ســــر پرېکـــــړو اونـــــو نـــــۀ کښـــــېني بازونــــه
پـــــــېکړے دې يـــــــو خــــــوا تــــــــه شـــــــانه کـــــــه
چې وروځو مېنځ کښې دې شين خال راښکاره شينه
اختـــــــــر پـــــــــرون ؤ پـــــــرون تېــــــــر شـــــــــو
تـــا پـــه دې تــور پېکــي کښـــې نـــن اېښــي ګلونـــه
پـــــــېکړے دې بيـــــا پـــــه کُچـــــو غـــــــوړ کـــــــړو
لکـــــه ښيښــــه نمــــر تـــــه شـــغلې وهــــي مئينـــــه
د پېکــــــــــــــي ول دې را خـــــــــــــراب کـــــــــــــړو
راســـم دې نـــۀ کــړو چــوټۍ ســـر بـــه ناســـته يمـــه
پـــــــه تـــــــور پېکـــــــي مـــــــې خـــــــاورې واوره
کـــــرې شــــملې دې لېــــونۍ ســــپېلنۍ کړمـــــه

ولې دا قيصه څۀ يوازې تر پېکي محدوده نۀ ده۔ددې لمن ډېره ويړه ، پلنه ده۔دا کله څونډے شي کله کجک شي او کله کلالے يا کاکل شي او چې اوږقېړي نو چې د چا ورته نظر شي بيا وائي ورته چې :-

څونـــډے دې بيـــا پـــه کُچــو غـــوړ کــړو
لکـــه دوربـــين د فېرنګـــي پړقـــا کوينـــه
تــــر دا کــــاړۀ کجـــک دې ځـــار شـــم
پـه تنـدي سـتا وي خونـد وماتـه راکوينـه
جينـــــۍ کوڅـــــه پـــــه کوڅـــــه راغلـــــه
کجــک وېښــتۀ ئـې پـه سـالو ختلـې دينـه
تـــور دې کاکـــل تـــورې دې وروځـــې
کـــور تـــه جـــاروزې مـــخ راواړوه مئينـــه
څڼـــــو لــــه لنــــډې غــــوټې ورکــــړه
چـې دې ښـکاره شـي د کـرو وروځـو سـرونه
څڼـــې اوږدې ښـــې دي کـــۀ لنـــډې
د لنـــډو څڼـــو ســـوداګر راغلـــي دينـــه

ځنې دي هسې رنګې خوند کا
لکه د غرۀ په سر کښې باد وهي ګلونه
په جانان هاغه نخښه وایه
چې چوټې ځنې په پالنګ به ورختمه
د لېونې د کمځو ځار شم
ما دي پرې ترې چې مې کور ته وارونه
مورې نرې کمځۍ را وکه
غټې کمځۍ مې د یار ډډې خوروینه
تند ے وهه کمځۍ اوباسه
کمځۍ به بیا اوشي جانان به خاورې شینه

بختور هاغه څوک دي چې د روڼ تندي خاوندان وي ـ په دې چې د نوراني رڼا نمر په تندي ځلېږي ـ تند ے چې روښانه وي د زړۀ دنیاودانه او شادانه وي ـ په ژوند کښې سکون وي، راحت وي، ارام وي ـ تند ے ، وچولے ، کوټې په څومره څۀ محاورو ، مثالونو او متلونو کښې اړولے را اړولے شوي دي ـ یادولے کیږي ـ د نصیب تقدیر او بخت علامتي نخښې نښانې پکښې لید ے کیږي چې تند ے ئې روښانه وي ـ دنیا ئې ودانه وي ـ تریو تند ے ، بوټ کوټے ، د قهر غصې او خفګان او ناراضه کېدو په وخت رامخ ته کیږي ـ دا د محفل او ماحول خوند رنګ خرابوي ـ په خپلوۍ او دوستۍ کښې د بدګمانۍ سبب کیږي ـ خوشي او اطمینان د مېنځه وړي ـ بې اطمیناني او نا ویسائي پیدا کوي ـ خوش طبعي او خوش مزاجي د تندي نه ظاهرېږي ـ روڼ تند ے د مېلمه قدر افزائي ده ـ د کوربه خوش اخلاقي او فیاضي ده ـ د محبوب او معشوق د رضا مندۍ او خوشحالۍ اظهار د ے ـ کرم فرمائي ده ، وابستګي ده ـ ځکه خو وائي چې تالي ته مۀ ګوره تندي ته ګوره ـ د ګټې تاوان خبره چې کیږي نو وائي چې په منډه نۀ ده په ټنډه ده ـ ټنډه تند ے د ے ـ د بختورو تند ے روڼ وي ـ ځکه خو کله هم چې د تندي ذکر کیږي نو په ستائینو کښې راځي چې :-

نن به اترنګ کړم په لاس پورې
یار ته سلام کوم په اوچ ولي ئې بردمه

تنـــــد ے کوټـــــه مــــې د ے جانانــــه
ســـنګ پــارس مـــې پــه دمـــړي نــهٔ ارزوينـــه
چــــې د تنـــــدي چـــــراغ ئـــــې مــــړ وي
کهٔ بـل مشـال پـه لاس کښـې وړي ټکـرې خورينـه
خـــــوار شــــې زمــــا خـــــواره تنديـــــه
د بـــدبختۍ د لاســـه ســـر پـــه شـــاړو يمــه
د خپـــــل تنــــدي نـــه ګيلـــــه منــــد يـــــم
چــې شــا مـدام پــه هــر مقـام ټکـرې خورمــه
دا مـــــــــې د وس خبـــــــــره نـــــــــهٔ ده
د تنــدي برخــه پســې ځــم وطــن پرېږدمــه
چــې پــه تنــدي کښـــې مـــې څــهٔ ليــک دي
ماتــه رارســي ځــان پــرې نــهٔ ســتړے کومــه
يـــار مـــې بېـــزار شـــو نصـــيب خـــوار شـــو
زهٔ د جانــان پــه غــم کښــې ســر تنــد ے وهمــه

څوک چې د مينې په روزګار اخته شي ، خوب خوارهٔ ئې حرام شي ـ وجود ئې ناقلاره او بې ارامه شي ـ په تن ستړے ستومانه شي ـ د جانان غم ، د هجران غم ، د ګټې غم ، د تاوان غم دا ټول غمونه د بېدارۍ او اګاهۍ سره رامخ ته کيږي ـ جانان کهٔ ياد يږي هم غم وي کهٔ بيلېږي هم غم وي ـ هم دغه اور د هجران او د دنيا د ګټې او د تاوان هم وي ـ چې غم سېوا کيږي وجود ستړے کيږي دا چې په سر پېټے کيږي او چې څومره ډېرېږي نو پېټے درنېږي ـ چې بوج سېوا کيږي نو وجود ستړے کيږي او ستړے وجود بيا د ارام لېواله کيږي ، ارام غواړي ، اودهٔ کېدل غواړي ، خوب ئې ارمان شي ، په دې چې هغه دا هر څهٔ هېرول غواړي ، ولې کله داسې هم کيږي چې :-

جانانـــــه خـــــوب زمـــــا دشـــــمن شـــــو
کټ مې سور اور د ے ماله خوب کله راځينه
بيګـــا پـــه خـــوب کښـــې رابنـــکاره شـــوې
د مينـــې لاس مـــې درکـــاوؤ راويښـــه شـــومه

بېګــــا پــــه خــــوب کښــــې ژړا راغلــــه
يار مې نېستمن شو هواګير لـه ملکه ځينه
بېګــا پــه خــوب کښــې خنــدا راغلــه
ستا پـه نـازک بـدن مـې لاس اولګېدونـه
خــوب چــې کــوي خــاورې بــه يوســي
شـاه د هغـو چـې شـوګيرې پسـې کوينـه
خــوب کښــې د يــار د مــخ شــغلې وې
پـه بېـدارۍ کښـې مـې کتـې پـه ژړا شـومه
څــــۀ دې غوښــــتۀ هغــــه دې اوکــــړل
اوس مې پلؤ په مخ راخور که خوب راځينه
تــــر ويښــــې ښــــۀ يــــم چــــې اودۀ يــــم
چرته کۀ تېر ساعت په خوب کښې اووينمه

دا هغه آرزو ده ، هغه خواهش دے چې سترې وجود ته مرغوب دے ـ هر سترے وجود ورتـه لېوالـه دے د ژوند ارام پـه خوب انحصار لري ـ خوب او ويښـه ، يـو ارام او بـل بې قـراري ده ، نـا ارامي ده ، سترلے والـے دے ، ځيګـر خـون دے او عـلاج ئـې ارام دے ، سـکون دے ، اطمينـان دے ـ ددې د حصـول ستره نسـخه خوب دے ـ ځکه هر څوک ورباندې مئين دے ـ دا غالب چې وئيلي دي چې :-

*اک گونہ بے خودی مجھے دن رات چاہئیے*

دا ځکه چې په خوب سترګې پټېږي ، سترګې دمه کيږي ، سترګې د نظر لاره ده ـ ليدل کتل پـه سترګو کيږي ـ چې نظر وي دنيـا ليـدے شـي ، د دنيـا کاروبـار پـه سترګوکيږي ـ د رنګونو پېژندنه، د حسن ليدنه ، د ځان ساتنه ، د ورکو موندنـه، د لارې کتنه ، تر منزل رسېدنه ، په رڼا کښې تلنه او د تيرې پېژندنه د سترګو کـار دے ـ دا په سترګو کيږي ـ دا چې کوي نو سترګې سترې کيږي ـ کۀ سترګې نۀ وي نو دا هېڅ به نۀ وي ـ او چې دا هېڅ نۀ وي نو ژوندون به نۀ وي ـ ژونـدون د ديـدوان لېواله دے او ديدوان د سترګو د زړۀ سترګې د مخ د سترګو نه نُور مومي ـ پـه دې چـې مينـه پـه ليـدو پيـدا کيـږي ، ښـائسـت سترګې وينـي ، اشـارې پـه سترګو کوي ـ د زړۀ حال سترګې معلوموي ـ ژړا پـه سترګو کـولے شـي ـ مينـه د سترګو د

مخه وي ـ سترګې يا د يعقوب پېغمبر وي يا د زلېخا وي ـ ارمان ئې د يوسف ديدار وي ـ کله دا انتظار کوي او کله ديدار کوي ـ کله په ژړا وي کله په خندا وي ، چې ژاړي د اوښکو ملغلرې تويوي چې خاندي نُور او سرور پېدا کوي ـ ګلپاشي کوي ـ يا ديدن کوي يا ځارنه کوي ـ په ښو سترګو کاتۀ د خوشحالۍ نويد شي د بدو سترګو نظر اور شي آفت شي ـ د مينې يو انداز د ښو سترګو کاتۀ دې ـ په بدو سترګو کتل عداوت دے دشمني ده نفرت دے کدورت دے ، سترګې په رنګ رنګ دي د هر رنګ د سترګو خپل قدر وي خپل ئې قيمت وي ـ دا تورې هم وي ، شنې هم وي او سپينې هم وي ـ کله سرې وي او کله برګې وي ـ غټې سترګې زرزې سترګې ، زيړې سترګې ، خوږې سترګې ، مړې سترګې او مَړې سترګې ، برندې سترګې او مړاوې سترګې ، رڼې سترګې او ړندې سترګې خړې سترګې او سمې سترګې ، پټې سترګې ، غړېدونکې سترګې او ملالې سترګې غرض دا چې هم ئې شمار ډېر دے هم ئې کار ـ دنيا په سترګو اباده ده ـ په سترګو ليدے کيږي او د سترګو د خاوندانو ده ـ د لېلى او دلربا ديدن او ديدوان د سترګو محتاج دے ـ د سترګو کچکول د مينې خېر غواړي ـ خوښه نا خوښه سترګې کوي ـ دا د شرم او حيا ځائے دے ـ بينا سترګې د سترګه ورو وي ـ پټ حالونه په سترګو وئيلې کيږي ـ سترګې چې زړۀ ته نزدې شي نو په حال ئې خبر شي ـ د اوچو، لمدو ، ورانو ، شېطانو، خوارو ، هوښيارو او کلانکارو سترګو د ژوند په لوبه کښې خپل خپل کردار دے ـ نۀ خو ټولې سترګې په يو رنګ دي او نۀ د ټولو کردار او عمل يو شان کېدے شي ـ سترګې سترګو ته حال وائي او سترګې د سترګو نه شرمېږي ـ سترګې په سترګو پوهېږي ـ سترګې د زړۀ کار داري دي او زړۀ د سترګو بخښه ده ـ سترګې ئې خوښوي او زړۀ ته ئې وراچوي ـ ځکه نو چې سترګو ته د چا سترګې شي نو په سترګو پورې چې څۀ وائي څۀ به وائي او څنګه به ئې وائي ، هغه چې ټپه شي نو څۀ دا رنګې شي :-

اوس به دې يو موټے ايرې کړم
خمارې سترګې کۀ در واړوم مئينه
په سترګو تا راته اونۀ کړې
په خوزيدلي سر دې زۀ نۀ پوهېدمه

په سترګو ړوند درپسې نۀ شوم
لکه بادام سورے سورے درپسې شومه
سترګې دې سرې زلفې دې تورې
ماته چې ګورې لېونے دې کړم مئينه
په سترګو سترګو کښې حال وايه
چې دې زما د يارۍ شوک منع کوينه
سترګې ئې تورې په ځنګ ګورې
د جينۍ سترګې مې د ملکه ورکوينه
په خمارو خمارو سترګو
په ژړا راغله چې موزي وهلې يمه
سترګې دې تورې په چل ګورې
د لېلٰى خورې په کتو دې مئين کړمه
په سترګو ړوند شې راته ګوره
په ګلبدن کښې لکه ګل ولاړه يمه
سترګې مې زړۀ ته په ژړا شوې
چې د اوربل په ځائے مې ګل ټومبلې دينه
سترګې وهل مې درنه زده کړو
اوس راته ښايه د ښهو اشارتونه
په سترګو ړوند شې راته ګوره
د چمچه مار په شان غږۍ درته وهمه
په سترګو ړوند شې راته ګوره
په سرو جامو کښې لکه ګل ولاړه يمه
په سترګو ړوند شې راته ګوره
کچه خالونه مې د نيل وهلې دينه
سترګې خو سترګې د جانان دي
خۀ له په نورو سترګو نوم د سترګو ږدمه

ســـــترګې پــــه چـــــل غـــــړوه يـــــاره
عاشــقان ګرځـــي غتـــې ســـترګې خوښـــوينه
پـــــه ســــــترګو ړونــــد شـــــوم زمـــــا يـــــاره
پـه انتظـار کښـې مـې سـتا ډېـر ژړلـي دينـه
صـــــبا بــــــه دواړه ســــــترګې ژاړي
چــې يـــو مئــين د بـل نـــه اخلــي رخصــتونه
زمـــــا د ســـــترګو تـــــاوان راکــــــه
چــې تــهٔ بــه نــهٔ وې مــا بــه لاړې تــه کاتــهٔ نــه
تـــاوان د ســــترګو پـــــه څـــــهٔ درکـــــړم
څــوک چــې مئــين وي هغــه تــل لاړې څارينــه

ســــــترګې دې بيــــا تـــــورول غــــواړي
لکـــه د للمـــې پـــتهې غــــواړي بارانونــــه
ســــــترګې مـــــې تاتـــــه تـــــورولې
چـــې تـــهٔ رانغلـــې پـــه ســالو ئـــې پاکومـــه
پـــه تـــورو ســـترګو مـــې ړنـــده کـــړې
چـــې جانـــان نشـــته زهٔ ئـــې چاتـــه تورومـــه
ســــترګې خــــو تــــا و رکــــړې خدايـــــه
قجيـر بانـهٔ ئـې پـه زرګـر جـوړ کـړي دينـه
عـالمــــه ســـــترګو تــــه ئــــې ګــــورئ
دا کـــج بانـــهٔ ئـــې تـــر ســـالو ختلـــي دينـــه
تـــورې دې ســـترګې تـــور دې خـــال دے
تـورې دې وروځـې تـور اوربـل زړګـے مـې وړينـه
لـــه دې وطنــــه بـــــه دې ورک کــــړم
زهٔ پـــه يـــو نـــيم ســـلائي ســـترګې تورومـــه
تــــا خــــو بــــه ســــوال وې راتــــه کــــړے
مــا بـــه پـــه تـــورو ســـترګو ايښـــي وے لاســـونه

ما بـه پـه سـترګو کښـې راتېـر کـړې
مـور مـې مېـره ده زمـا سـترګې لټوينـه
تـر خمـارو سـترګو دې ځـار شـم
چـې ئـې راوارووې لـه مـا واخلـې غمونـه
مـا د هلـک د سـترګو ځـار کـړې
ملالـې سـترګې خـو ئـې خـور تـه تلـې دينـه
ماتـه پـه سـمو سـترګو ګـوره
زۀ مسـافر جانـان پـه خـدائے سـپارلې يمـه
ټوپـک وېشـتلے بـه خـدائے جـوړ کـړي
سـترګو وېشـتلے بـه کړېـږي مـړ بـه شـينه

ټـول بـه د خپـل يـاره قربـان کـړم
دا تـورې سـترګې ، شـينکي خال او سرۀ لاسونه
چـې د يـارىٔ قابلـه نـۀ وه
ماتـه ئـې پـه تـورو سـترګو څـۀ لـه راکاتـۀ نـه
چـې پـه شـنو سـترګو دې مئـين کـړم
اوس زۀ د تـورو سـترګو څـۀ پـروا لرمـه
سـترګې کچکـول کـه ديـدن واخلـه
ملنګـه يـاره پـه بانـه راغلـې يمـه
ځـان دې تـرې بـچ سـاته زړګيـه
د پيـر بابـا پـه رنجـو سـترګې توروينـه
مالـه د سـترګو تـاوان راکـه
چـې تـۀ بـه نـۀ وې مـا بـه لارې تـه کاتـۀ نـه
ځـان ئـې سـنبال کـړو روانېـږي
د پيـر بابـا پـه رنجـو سـترګې توروينـه
دا مـې د سـترګو خپـل قصـور دے
چې د دوئي خوښ شي زړګے خود ورپسې ځينه

د تـــــورو ســـــترګو ډزې کيــــږي
زړهٔ پـه منګـل کښـې ګرځـوم چـې مـړ بـه شـي نـه
د ســـــترګو نـــم مــــې نـــهٔ اوچيــــږي
پـه کپـرۍ کښـې مـې تـازه شـو سـتا غمونـه
د فيــــل کيـــدو نصـــيب مـــې راغـــے
يـار مـې لګيـا دے نـرۍ سـترګې توروينـه
دا ئــــې زمــــا ســــره پښــــتو ده
چـې سـترګې تـورې کـړي لکـې ورلـه پريږدينـه
د ســـترګو بـــاز مــې پســې پرېښــود
يـار مـې کـور نـهٔ ؤ بېرتـه راغـے مـړهٔ ځانګونـه

دې مخـــــامخ کتـــــو دې اوســـــوم
د رب بـې انصـافي سـترګې ښـکته کـړه مئينـه
د ســــترګو تــــور د زړهٔ ملهمـــــه
نـهٔ مـې وه طمعـه چـې لـه تـا بـه جـدا شـمه
د پټـو ســــترګو قســـم نــهٔ خــورم
ځــومره چــې ســترګې غــړوم تــا يادومــه
د جانـــان دې فيشـــن تـــه ګـــوره
چـې سـترګې تـورې کـړې لکـې ورلـه پريږدينـه
د تــــورو ســــترګو اشـــارت کـــړه
د سـپينو غاښـو خنـدا مـهٔ کـړه ځـوک بـه وينـه
مينـــه پـــه ســـترګو کښـــې مـــزه کـــا
چـــې غمـــازان درپـــس نـــهٔ وهـــي لاســـونه
د خمـــارو ســـترګو دې ځـــار شـــم
دا تـور بانـهٔ دې پـه قلـم جـوړ شـوي دينـه
مالـــه د ســــترګو تــــاوان راکــــه
درتـه پـه مينـه مـې کاتـهٔ چيخـون دې کړمـه

دا ستا په شاني سترګې نشته
کۀ پسې اوغواړمه واړه عالمونه

خلقه قولي سترګو له اوکړئ
بسکه چې ما اشنا ته ډېر کتلي دينه

د خمارو سترګو دې ځار شم
چې په ژړا شي ملغلرې تويوينه

د سترګو تور د زړۀ ملهمه
د جانان غمه بلخوا مۀ ځۀ مړ به شمه

زۀ د وطن ارماني نۀ يمه
زۀ ارماني د يار د تورو سترګو يمه

زما د يار سترګې د زرکې
کارږۀ بانۀ ئې د زړۀ سر سورے کوينه

زما په دې وطن کښې څۀ دي
ملالو سترګو د اشنا بند کړے يمه

زما په زړۀ کښې درته سوال ؤ
ستا د ملالو سترګو ډېر اوشرمېدمه

زما د سترګو تاوان راکه
چې تۀ به نۀ وې ما به لارې ته کاتۀ نه

سترګې دې لال مخ دې مشال دے
دا پنځم کال دے چې مئين دربانديې يمه

سترګې دې تورې په چل ګورې
د لېلى خورې په کتو دې مئين کړمه

سترګې خو تا ورکړې خاونده
په دغه سترګو بې ګناه کوي قتلونه

سترګې دې نۀ دي تماچې دي
زۀ دې پرې مړ کړم نور دې خدائے ځينې ساتينه

ســــــترګې دې ډکـــــې تمـــــاچې دي
زۀ دې پـــه ډکـــو تمـــاچو وېشـــتلے يمـــه
ســــــترګې دې لال مــــخ دې مشـــــال دے
ماتــه دې خيــال دے پــه ديـدن پسـې دې مرمـه
ســــترګې کـــۀ ســــترګې دي د يــــار دي
څـۀ لـه پـه نـورو سترګو نـوم د سترګو ږدينـه
ســـــترګې دې ســـــرې لکــــــه د زرکـــــې
پــه ټـول ټبـر کښـې رب پــه تـا مئينـه کړمـه
ســـــترګې زمـــــا د يـــــار ښائســـــته دي
دا الـــول بانړــۀ پــرې ســم ختلـــې دينـــه

يـــار مـــې پـــه مـړو ســـترګو مئـين دے
د يـــار دپـــاره بـــه ئـــې مـــړې غړومـــه
ســــترګې خـــو تـــا ورکـــړې خدايـــه
دا تــور بانـړۀ ئـې پـه زرګـر جـوړ کـړي دينـه
د خمـــــارو ســــترګو دې ځــــار شــــم
چـــې پـــه ژړا شـــې ملغلـــرې تويوينـــه
ســــترګې کچکـــول کـــه ديـــدن واخلـــه
ملنګـــه يـــاره پـــه بانـــه راغلـــې يمـــه
اوس بـــه دې يـــو مـــوتيے ايـــرې کـــړم
خمـــارې ســـترګې کـــۀ در واړوم مئينـــه
ســـترګې دې نـــۀ دي ســـرې مچـــۍ دي
زمـــا د زړۀ پـــه ســـر ئـــې ګـــک اونښـــلاؤنه
دا ســـتا پـــه ســـترګو کښـــې پيريـــان دي
چـې پـه تـا راشـې غـوټې مالـه راکوينـه
ســـترګو دې جنــــګ راســــره وکـــړو
بانـړۀ دې تلـــې دي لښـــکرې راولـــې نـــه

سـتـرګې خــو هـــر چـــا تـــورولې
پـه تمـامي کنـدي کښـې زۀ پـه ګوتـه شـومه

چـــې د یـــارۍ قابلـــه نـــۀ وې
ماتـه پـه تـورو سـترګو ولـې دې کاتـۀ نـه

سـتـرګې دې مـــړې راواړولـــې
لکـه چـې زړۀ دې يـارانې تـه شـوے وینـه

د تـــورو ســـترګو ډزې کيـــږي
اجـــل نيـــولے ورلـــه مخـــې لـــه ورځینـه

ســترګې د شـــرم حيـــا ځـــائے دے
چـې مينـه راشـي حيـا واخلـي رخصـتونه

د جانـــان هـــر ځـــۀ ښائسـته دي
په ټول وجود کښې ئې په سترګو مئین شومه

سـترګې راپټـې کـړه راپرېوځـه
زۀ بـه تېـر شـوے مـانړے نـۀ دریادؤمـه

د ســترګو تـــور د زړۀ ملهمـــه
د جانـان غمـه تـا د ځـان سـره سـاتمه

سـترګې مـې زړۀ تـه رانـزدې کـه
چـې پکښـې اووينـې د سـرو وينـو ډنډونـه

سترګې مـې خـوږ وے چـې ويښ ناسـت وے
مانـه پـه خـوب کښـې جانـان زړۀ اوتښـتاؤنه

سـترګې د ټـول وجـود نعمـت دے
چـې ځـۀ عـزت دے هغـه زړۀ تـه ورکوینـه

سـترګې د سـترګو نـه شـرمېږي
جرګـه کښـې سترګې د يـار سـترګو لـه لېږمـه

سـترګې د بـاز نـارې د زرکـې
کـۀ پـه نظـر کښـې مـې سـاتې غـلام دې یمـه

ستا تورو سترګو اثري کړم
د ناز خندا دې لېونے د غرونو کړمه
سترګې دې سرې لکه د زرکې
يا دې پلار مړ دے يا د کړې شوګيرونه
ستا تر خمارو سترګو ځار شم
کاږۀ بانۀ دې د زړۀ سر زخمي کوينه
سترګې د سترګو تفاوت دے
د جانان سرې سترګې اصيل غلامونه
سترګو ته رنګ د رنجو ورکه
شونډو ته رنګ د دنداسې ورکه مئينه

سترګو ته رش د رنجو ورکه
د مسافرو وخت نزدې دے رابه شينه
سترګو پخوا ليدلي ياره
پکښې پراتۀ دي لاتر اوسه ديدنونه
سترګې راپورته که برګ سترګې
د برګو سترګو سوداګر راغلي دينه
ماته په سترګو کښې حال وايه
لارې کوڅې د غمازانو ډکې دينه
د سترګو تور مې دې ړاندۀ شي
کۀ به ئې ستا په مينه بل ته غړومه
نن خو دې بيا سترګې لمدې دي
د کور کافرې درته څۀ وئيلي دينه
دا ستا د دوؤ سترګو دپاره
د کلي جنګ د مور خبرې تېرومه
سترګې دې وې وتلے نۀ وے
چې په ګاونډ دې لوئيدم نۀ دې ليدمه

آ تیـــــز دې نـــــهٔ وي صـــــفا ســــــتار وي
فــېس دې د مــون رڼــا کــوي حېــران ئــې کړمــه

د سترګو خوند رنګ او ښائست تش په ګاټو نهٔ د ے نهٔ دا یوازې د نظر پـه لیـدو کتو پورې ده ـ لیدۀ کاتهٔ خو چغر ، چپ سترګي ، بتاګـان او پـه یوه سترګه هـم کېدے شي ـ د سترګو نُور کهٔ سپوا کیـږي او ښائست ئې دوبالـه کیـږي هغـه نـور څۀ هم دي ـ غتې او رڼې روښانه سترګې هغه وخت خپـل خوند رنګ معشـوقانه کړي کله چې د ښو تیر اندازه لښکرې ئې په څنګ اودرولے شي ـ بانهٔ د زېزمـو هـم وي او د وروځو هم ـ د سترګو دا لښکرې لکه د تیـر اندازو د زړۀ سـنګر پـه غشـو ولې ، زخمي کوي ئې ، ژوبلوي ئې ، ښکار کوي ئې ، اسیر کوي ئې او د غلامـۍ په زنځیرونو ئې تړي ـ سترګې چې بې ښو وي سیر او ښکلا ئې نهٔ وي ـ خوند ئې نهٔ وي بې مزې وي ، لښکر ئې نهٔ وي ، نهٔ ئې کشش وي نهٔ ئې اثر وي ، نهٔ غشـي لیندې لري، نهٔ ویشتل ، نخښه کول کولے شي نهٔ ئې تیر وي نهٔ تیـر اندازي وي ـ سترګې د خپل حسن ، خپل ښائست او خپلې ښکلا مظاهره د لشـه دارو ښو پـه زور کوي ـ بانهٔ د سترګو ښائست او رنګیني هم وي او زینت او حیـا هـم ـ دغـم او خوشحالۍ د اظهـار حرکتونه پـه وروځـو او زېزمـو ولاړ بانـهٔ کـولے شـي ـ ګـورې وروځـې د خفګـان او بـد نیتـۍ علامـت وي ـ د زېزمـو بانـهٔ د اوښـکو ملغلـرې ایسـاروي او سـرګندوي ئـې ـ دا د ژړا او غـم ، د فـراق او بېلتانـهٔ هاغـه رازونـه ښکاره کوي چې د ډک ئې د زړۀ په مطبخ باندې وي ـ ددې تاؤ ، تـپ او بـړاس چـې کله د سترګو پـه لاره خـارجېږي نو نمي او لوندوالے ئې د ښو پـه جـاروکش جـارو کیږي ـ ددې زړۀ راښکونکي او غم انګېز کیفیت نه په ډېر کرته نغمې او سـندرې جوړیږي ـ دا په ټپـو او پـه مصرعو کښې بـدلېږي ـ د غـم درد او د خوشـحالۍ او خندا د اظهار دا وېناګـانې او ټکـۍ چې څوک هم اوري خونـد ورکـوي سـکون او قرار ورباندې مومي ـ دا هم غم رُبا وي هم دلربـا ـ هم د خوشـحالۍ او د خنـدا وي او هم د غم او د ژړا ـ لکه چې وائي :-

د ســــپني خـــولې نظـــر مـــې واخېســـت
تـــهٔ رالـــوګے کـــه د نـــرو وروځـــو ســـرونه

باڼــــۀ ازغـــــي شـــــونډې دې پــــاڼې
اشــنا رو رو ئـــې خــوزوه زخمـــې دې کړمــه
زمـــــا پــــه زړۀ دې باڼــــۀ ښــــخ کــــړل
ســترګې دې رو رو خــوزوه ژوبــل دې کړمــه
ســـتا تـــور باڼـــۀ مـــې پــه زړۀ ښـــخ دي
پــه اننګـــو مـــې وينـــې ډنــډ ولاړې دينـــه
ســـترګې وهـــل مــــې درنــــه زده کـــړل
اوس راتــــه ښــــايه د ښـــو اشــــارتونه
ســـترګې خـــو تـــا ورکـــړې خدايـــه
قجيــر باڼـۀ ئـې پـه زړګـر جـوړ کـړي دينـه
عالمــــه ســــترګو تــــه ئــــې ګــــورئ
دا کــج باڼـــۀ ئـــې تـــر ســالو ختلـــي دينـــه
تــــورې دې ســــترګې تــــور دې خــــال دے
تـورې دې وروځـې تـور باڼـۀ زړګے مـې وړينـه
د خمـــــارو ســــترګو دې ځـــــار شــــم
دا تـــور باڼـــۀ دې پــه قلــم جــوړ کــړي دينـــه
زمـــــا د يــــــار ســــــترګې د زړکـــــې
کــاږۀ باڼـــۀ ئـــې د زړۀ ســـر ســـورے کوينـــه
ســـــترګې زمـــــا د يـــــار ښائســــــته دي
دا الـــول باڼـــۀ پـــرې ســـم ختلـــي دينـــه
ســـترګو دې جنــــګ راســــره وکـــړو
باڼـــۀ دې تلـــي دي لښـــکرې راولينـــه
ســـتا تـــر خمــــارو ســـترګو ځـــار شـــم
کــاږۀ باڼـــۀ دې د زړۀ ســـر زخمـــي کوينـــه
تـــورې دې ســـترګې تـــورې وروځـــې
تور دې اوربل دے تور دې خال زړګے مې وړينه

نـــن خـــو دې بيـــا بانهـــهٔ لامـــدهٔ دي
د کـــور کـــافرې درتـــه ځـــهٔ وئيلـــي دينـــه

د بڼو او د وروځو ښائست د وجود ځير سېوا کوي ـ دا د انسان د وجود يو داسې جمالياتي عنصر دے چې هسې په ظاهره خو ډېر کمي او بې وقعته ليدے کيږي په دې چې د طب او حکمت خاوندان ئې نهٔ خو د اعضائې رئيسه سره سموي او نهٔ ئې د نورو اعضاؤ سره په شمار قطار کښې کله اودروي ـ هغوي لکه چې دا د تن يوه اضافي برخه ګڼي په دې چې نهٔ خو دا لکه د وجود د روغ ناروغې په مهال لکه د تن د نورو اعضاؤ څوک په عذابوي او نهٔ څوک ځان پله متوجه کوي او نهٔ کله دا د غوږزېدو ، کمېدو يا سپينېدو په وخت څوک اوتر کوي ـ ولې د دې باوجود د تن په ښکلا او وقار کښې چې دا څومره لاس کوي او د سترګو په حسن او ښائست کښې کوم کردار لوبوي د دې اندازه لګول د هر چا په وس کښې نهٔ دي ـ څنګه چې د ګل په ښائست کښې د ګل د هرې پاڼې خپل ځائے وي دغه رنګ د سترګو ښکلا د دغه مجموعي عناصرو د رنګ اميزۍ منت باره وي ـ وروځې او بانهٔ د سترګو د کوغالو لکه محافظ او پهره داران دي ـ دا د لوئے مصور د تصوير ښائست دے ـ د تن شائستګي ده ، کمے ئې هله محسوسېږي کله چې کوم خاکي مصور او مجسمه ساز د خپل فن شبيهـ د تکميل تر منزله نزدې کړي ـ الله پاک چې احسن الخالقين دے د انسان د جسم په ښکلا کښې د ښائست او جمال دې عنصر له خاص مقام ورکړے دے ځکه داسې په خوند رنګ ستائيلے کيږي ـ دا د شاعرانو او سخنورانو د خوښې يوه داسې موضوع ده چې سترګې ورباندې اوچتېږي او زړهٔ وربانديې خوشحالېږي ـ وروځې د تندي او د پوزې په حد فاصل ايسارېږي ـ پوزه د تن پوزه ده ـ د تن د جمال او ښائست تکميل دے ـ د دې رغونه د وجود د کړو وړو د تکميل نمائندګي کوي ـ د قومونو او نسلونو انساني توپېر په پوزه هم کولے شي ـ د پوزې ساخت د انسان نسلونه د يو بل نه بېل کړي او مميز کړي دي ـ آريائي ، منګول ، سامي ، عجمي ، افريقني او هندي نسلونه د پوزې په توپېر پېژندے کيږي ـ څوک اوچت پوزي څوک چيت پوزي څوک پلن پوزي او څوک خورم پوزي نسلونه دي ـ داسې وائي چې پخوا په زمانه چې د انسان دپاره د وريسته پرتو قامونو او اولسونو سره د ګډون او ليدنې کتنې

وسائل داسې نۀ وو ـ آمد و رفت ئې يو ځېله ډېر کم ؤ نو په داسې وختونو کښې يو يورپين سياح د چين په سيمه ورپېښ شو ـ بيا کله چې هغۀ په موده نېټه پس خپل وطن ته مراجعت وکړو ـ او خپل د سترګو ليدلے حال ئې بيانوؤ نو وئيل به ئې چې د چين اولس هسې خو زمونږ غونډې دے ښائسته هم دي ولې پوزې ئې چيتې دي مونجې دي ـ بس هم دغسې په يوه موقع چې د چين د مخې يو سياح د آريا نژادو په ملک پېښه وکړه او د آريائي نسلونو رنګ روات ، حليه موشاده ئې اوليده نو کله چې بېرته خپل وطن ته ورسېدو او د خپلو تاثراتو اظهار به ئې کوؤ نو وېل به ئې چې ددغه قامونو او اولسونو قد قامت او نورې موشادې او کړۀ وړۀ هر څۀ ئې زمونږ په رنګ دي بس دا ده چې پوزې ئې دنګې دي ـ

پوزه د انساني نسلونو د توپير علامت دے ـ دا علامت د پخوا راسې همدغسې را روان دے ـ غالباً چې د دنيا په اولسونو کښې پښتون اولس يو داسې نسل دے چې د پوزو هر شکل و صورت پکښې موندے کېږي ـ چيتې پوزې ، دنګې لوړې پوزې ، غونډې پوزې ، پلنې پوزې ولې د پوزې درناوے او احترام هر څوک په ځان لازم ګڼي ـ ځکه خو چې چاته څوک د عزت او درناوي په سترګه ګوري نو وائي چې هغه خو د خاندان ، خېلخانې ، قبيلې ، قام يا د اولس پوزه ده ـ بيا کله چې څوک ئې د نظر نه راپرېوزي ، سپکوي ئې يا شرموي ئې نو په داسې حال کښې ئې پوزه پرېکوي ، پوز پرېکړے ورته وائي ـ او د پوزپرېکړي نسبت ورته کوي ـ پوزه د معاشرتي آدابو ډېرې خبرې ترسره کوي ـ ځکه خو کله چې څوک چا ته دا وائي چې ياره نور به هر څۀ ئې خو دا پوزه دې مونجې ده ـ په داسې حال کښې د هغۀ في البديهه جواب هم څۀ دا رنګې وي چې هو وروره ساه وربانديې اخلو څۀ ډول خو پرې نۀ کوؤ ـ مطلب دا چې پوزه د شکل و شباهت د ښائست او ښکلا نمائنده ده ـ څۀ رنګ چې ټول انساني نسلونه او قومونه د پوزې د مميز مقام او اهميت نه خبردار دي ـ دغه شان پښتنو هم د پوزې اهميت منلے او ستائيلے دے ـ د پښتونخوا د شفاهي ادب وافره برخه پوزې ته وقف ده ـ

لــــوړه دې پــــوزه غټـــې ســــترګې
دواړه غمبــــرې دې ګــــلاب مــــزه کوينـــه

بیـــا بـــه پېــزوان پـــه پـــوزه نـــۀ کـــړم
اشنا شـپېلۍ وهـي پېـزوان پکښـې سـتائینه
چارګـــل پـــه لـــوړه پـــوزه خونـــد کـــا
لکـه پـه لـوړ چنـار کښـې واچـوي ټالونـه
غـــابښ دې یـــاقوت لـــب دې مرجـــان دي
پـــوزه بلـــور مـــخ دې قمـــر سـترګې لالونـه

د پوزې هر کالي هغه پېزوان وي کۀ مېخکې یا چارګل وي او کۀ تتکۍ کله هم چې څوک دوئي په ستائینو او په سندرو کښې یادوي نو مطلب ئې تش د خپل محبوب او معشوق د پوزې ستائینه وي. بیا کله چې د چا د پوزې په سپېړمو ئې نظر پرېوزي نو دا هم نظر انداز کولے نۀ شي. دا کۀ پچموزې یا خندا هم ولې نۀ وي څۀ باک ئې نۀ وي وائي چې :-

زمـــا د یـــار داســـې ســـپېړمې دي
لکـه د شـاړې کـوټې ور چـې بېرتـه وینـه
پـه کـټ کښـې چـق شـي راتـه کښـېني
الله دې خـاورې کـړه څپـر څپـر غوړونـه

انساني حسن د مخ په په څېر او ددې په ښکلا موقوف دے. انسان کۀ الله پاک په احسن تقویم کښې پېدا کړے دے او د بشریت په ټولو اعلی صفاتو ئې متصف کړے دے نو په دغه صفاتو کښې د مخ نور ، ښکلا او زینت ته امتیازي حېثیت حاصل دے. وائي چې مینه د مخ په نُور کېږي او د مخ نُور د حسن او ښکلا یو جدا او ځانګړے باب دے. ددغې باب ورونه همد مخ د مخه بېرته کېږي دا د رزق روزۍ ستوني ته د رسولو لاره ده. د خېټې د تنارۀ خشاک دغې تنارۀ ته په دغې لاره ورکوزولے شي. د وجود دغه دروازې ته خولۀ هم وائي. خولۀ د حلق ، تالو ، ژبې ، غابښونو ، ورو او شونډو نه جوړه ده. هسې خو د وجود ددې ټولو اعضاؤ ترون په خوله حساب دے. ولې دا بېل بېل خپل مقام او خپل اهمیت هم لري. بیا هم خولۀ خولۀ ده. د خولې د اهمیت نه انکار نۀ شي کېدے په دې چې ژوند په خولۀ دے. خولۀ نۀ خو بندېدے شي او نۀ تړلے کېدے شي. د خولې کردار تش د خوراک خو نۀ دے ددې نورې هم ډېرې ذمه وارۍ دي - چې دغه

مذکوره اعضاء ئې د خولې د مخه سر ته رسوي ـ داسې لکه د څۀ ښيز څکنه ، ژوئنه، چيچنه ، تېرونه ، شوکونه ، وئينه ، ژړېدنه او خندېدنه دا ټول په خولۀ دننه ادا کيږي او کولے کيږي ـ هم دا د خولې ذمه ده دا ئې امتياز دے او دا ئې پيرزوئنې دي ـ مينه او زورنه ، دوستي او دشمني ، مننه او پيرزونه ټول په خوله دي ـ خولۀ هم د زړو کتمالئ ده ـ هم شليدلے وربخله (پينځه) ده ـ د انسان ټول درناوے او سپکاوے په خولۀ دے ـ ځکه نو کۀ څوک دا وائي چې :-

پـــه ډاګـــه وايــم خولـــۀ ئـــې راکـــړه
صـــادق عاشـــق يـم کـذابي نـۀ يـم مئينـه
پـــه خولـــۀ زمـــا ســـره راضـــي دے
د امرســو دســمال ئــې کــوز کنــدي لــه ځينـه
پـــه خولـــۀ پســـته پـــه زړګـــي ټګـــه
د صـــابون ځګـــه پـــه لاس نـــۀ راځـــي مئينـــه

پـــه ســـپينه خولـــۀ بـــه دې کـــافر کـــړم
د تـــورو زلفـــو بـــه زنـــار درواچومـــه
پـــه خولـــۀ يـــوه پـــه زړۀ دې بلـــه
مرګ دې مېلمه شه چې دې خلاص د غمه شمه
چـــې کلـــه کلـــه راپـــه يـــاد شـــي
کـۀ خولـــه مـــې ډکـــه د خنـــدا وي اوژاړمـــه
چـــې ســـپينه خولـــۀ دې راپـــه زړۀ شـــي
لـــه ســترګو اوښــکې تويــوم ســلګئ وهمـــه
خولـــۀ مـــې غوښـــته ســـينه ئـــې راکـــړه
خدايـــه ســـخي لېلـــى لـــه ورکـــړې جنتونـــه
خولـــۀ د ډيـــوې رڼـــا کښـــې راکـــه
په توره شپه کښې دې زلفان خولې له راځينه
خولـــۀ دې مجمـــه غـــابښ دې کمـــو دے
د زنـــې خـــال دې لکـــه مـــرچ خـــولې لـــه راځينـــه

خولـــــــــهٔ دې د زرو کوټـــــــــالۍ ده
هـــم دې خبـــرې پـــه کنـــډه تللـــي دينـــه
خولـــهٔ دې غـــوټۍ د ګـــل ګـــلاب ده
شـــونډې دې پرانيـــزه چـــې اوســـپړې ګلونـــه
خولـــهٔ دې يـــاقوت غـــابښ دې مرجـــان دي
پـه بيـه ګـران دي زمـا جـوړ پـرې نـهٔ راځينـه
خولـــهٔ دې پـــه پاســـتې کښـــې حلـــوا ده
پـلار دې طبيـب د ے رنځـوران پـرې جوړوينـه
خـــولګۍ دې راکـــړه پـــه خنـــدا شـــوې
زهٔ دې د خـولې نـه پـه خنـدا خوشـحاله شـومه
خولـــــهٔ د مُـــــلا د لـــــور خـــــوږه ده
چـــې ئـــې خـــوړلې حلواګـــانې شـــربتونه

خولـــــهٔ د مُـــــلا د لـــــور خـــــوږه ده
مُـــــلا خـــــوړلي دي د ډېـــــرو خېراتونـــــه
خولـــــهٔ دې د کـــــان ژبـــــه دې ټـــــوکے
زهٔ ســـوداګر ټـــوکے پـــه غـــابښ معلومومـــه
خولـــــهٔ دې د کُچـــــو نـــــه پســـــته ده
ځکـــه دې مـــور پـــه چـــوارو خوشـــحالومه
خولـــهٔ دې د چـــين مـــاچين چينـــه ده
د هـر وطـن طوطيـان راځـي اوبـهٔ تـرې ښـښينه
خولـــهٔ دې د اصـــله تکـــه ســـرهٔ ده
کـهٔ دې پـرې پـان د هندوسـتان خـوړلي دينـه
خولـهٔ مـې پـه خولـهٔ کېـږد لـوئے مـهٔ شـې
لاس مـې پـه زړهٔ کېـږده د زړهٔ بيمـاره يمـه
خولـهٔ مـې سـپين ږيـري سـړي يـوړه
لکـه ځمځـۍ چـې پـه سـبو ککـړه وينـه

يـــو واري ټيټهـــه شـــه خولـــۀ راکـــه
خلـق بـه وائــي چــې چيلــۍ ده څـر کوينـه
مســـــافر ګلـــــه ســــتړے مــــۀ شـــے
اول خولـــۀ درکــړم کــۀ دې جېــب اولټومــه
خــولګۍ مــې خــوره څــو ئــې خــوړے شــې
شــکره نــۀ ده چــې پــه تــول بــه کمــه شــينه
خــــولګۍ دې خورمــــه نــــۀ مړېــــږم
نــامړدې ټولــه راپــه شاشــه چــې دې ورمــه
خــــولګۍ دې ســــرۀ لکــــه ګــــلاب شــــوه
ځکــه ئــې واړه بلــبلان صــفت کوينــه
خولـــۀ بـــه پـــه زور درڅخـــه واخلـــم
وړوکــے نــۀ يــم چــې نــارې درتــه کومــه

خولــــۀ دې د دواړو خــــــواؤ راکـــــه
يــو دې همـــزولے بــل منـــت درتـــه کومــه
خولـــۀ بـــه لـــه خپلـــه يـــاره ځـــار کـــړم
چـــې لـــه خـــوارۀ وطنـــه ســـر قربانوينـــه
خولـــۀ بـــه د شـــونډو لاتـــدې درکـــړم
پـه سـپينو غابنـو مـې لونـګ جـوئيلي دينـه
خولـــۀ بـــه د خـــدائے پـــه رضـــا درکـــړم
مـــنګے مـــې ولـــې چړپـــوې لمـــده دې کړمـــه
خولـــۀ دې ټوپـــک خنـــدا دې ټـــق دے
د زنـــې خـــال دې مړدکـــي اودې ويشـــتمه
خولـــۀ دې قـــلا غـــابن دې عســـکر دے
دا نـــرۍ ژبـــه دې ســـالار حکـــم کوينـــه
خولـــۀ د مُـــلا د لـــور نـــه واخلـــه
د شـــکرانې چرګـــان ئـــې دِ بـــر خـــوړلي دينـــه

ښکلـــه دې غوټـــۍ مونـــده خولـــۀ ده
ورې خبـــرې دې پـــه تـــول تللـــې دینـــه
د ســـپینې خـــولې یـــاران ئـــې نـــور دي
شـــوتلې پنـــدې لـــه ئـــې زۀ ســـاتلے یمـــه
د هـــاغې خـــولې بـــه څـــۀ مـــزه وي
چې دې پـه تـورو سترګو کېـږدې سـرۀ لاسـونه
د ســـپینې خـــولې نظـــر مـــې واخېســـت
تـــۀ رالـــوګے کـــه د نـــرو وروڅـــو ســـرونه
د ســـپینې خـــولې دې داســـې خونـــد دے
لکـه بـادام چـې څـوک د قنـدو سـره خورینـه
د ســـپنې خـــولې بیـــه دې وایـــه
چې سر پـې ورکـړم بـاقي دار بـه څومره شـمه

د ســـپینې خـــولې تـــن راتـــه کېـــږده
کـۀ د چـړو پـه څوکـو لاړ وي در بـه شـمه
د ســـپینې خـــولې لاس رالـــه راکـــه
بیـا دې دادا لـه چـاره ورکـه چـې راځینـه
د ســـپینې خـــولې بـــلا دې واخلـــم
ایلـه مـې اوس زړګـے پـه ځـائے اولګېدونـه
د ســـپینې خـــولې واک مـــې درکـــړے
د زنـې خـال مـې ګـورے وران نـۀ کـړې مئینـه
راځـــه راځـــه چـــې خـــولګۍ درکـــړم
صـبا بـه چڼـو لـؤ لـه ځـو تـروه بـه شـینه
زمـــا دلـــداره نشـــه داره
زۀ مزېـــداره خـــولګۍ تـــالره ســـاتمه
لـــه دې خـــروړي ســـپي راتېـــر شـــه
لـه دې ملالـې خـولې بـه زۀ درتېـره شـمه

کـــۀ اســـوېلي مـــې لـــه خـــولې نـــۀ تلـــے
د زړۀ پـــه تـــاؤ بـــه مـــې د ېګونـــه پخېدونـــه
کـــــۀ راکـــــوې خـــــولګې بـــــه راکـــــړې
ګنـــي مېـــزرے پرېکـــوم ځـــان پـــرې تړمـــه
کـــــۀ راکـــــوې خـــــولګۍ دې راکـــــه
ګنـــي بيـــا دومـــره مئـــين نـــۀ يمـــه چـــې مرمـــه
کـــۀ خولـــۀ مـــې اخلـــې زر ئـــې واخلـــه
وروســـتو ســـړے مـــې د لالا پـــه شـــان راځينـــه
کـــۀ يـــوه خولـــۀ وے مـــا بـــه درکـــړے
چـې زړۀ دې ډېـرې مـزې غـواړي څۀ ئـې کړمـه
يـــو خـــو دې خولـــۀ ده غونـــډه مونـــډه
بـــل پـــه ســـينه دې لـــونګين تـــالۍ و هينـــه

راځـــه راځـــه خـــولګۍ مـــې واخلـــه
ګرانـــه جانانـــه پـــه ديـــدن دې مړومـــه
راځـــه راځـــه خـــولګۍ مـــې واخلـــه
زۀ دې د عمـــر لېـــونۍ محتاجـــه يمـــه
کـــۀ چيلمـــې ئـــې خولـــۀ بـــه درکـــړم
کـۀ نسـواري ئـې خوالـه رامـۀ شـې مئينـه
کـــۀ خولـــۀ دې راکـــړه څـــۀ بـــه اوشـــي
زړۀ به مې ښـۀ شي خولـۀ به بيـا ستا سره وينه
کـــۀ مـــې اجـــل ســـتا پـــه خـــولګۍ وي
صـــبا کفـــن پـــه ســـر تـــړم تالـــه درځمـــه

د سپينو غاښونو دُر داني د خولې زينت وي۔ خوله په غاښونو جوړه او ښائسته ليدے شي۔ چې د خولې غاښونه مات ګوډ ، کاږۀ واږۀ ، نيمګړي يا وتلي وي نو سړے بيا په داړور ، کنډاس ، کړشپ يا چينګ داړي وغېره په څۀ څۀ نوم نۀ يادېږي۔ څۀ رنګ چې پوزه د مخ زينت او ښکلا ده دغه شان غاښونه د خولې

ښائست د ے ـ دا هم ښائست د ے ، هم ژرنده ده هم د خولې قفل ( جرنده ) ده ـ انسان له چې الله تعالٰی د ګويايۍ کومه ذريعه ورکړې ده او د ے وربانديې د هرې ښې بدې اظهار کوي هغه ددۀ خولۀ ده چې د خبرو او نطق ذريعه ئې ژبه ده ـ ژبه کۀ څۀ هم د غوښې ده ولې بيا هم دا په قابو کښې ساتل غواړي ځکه خو الله پاک دا په تالو پورې جختـه تړلې ده ، د شونډو په دروازو دننـه ئې ساتلې ده او د غاښونو څوکيداران ئې پرې مقرر کړي دي ـ خولۀ د ژبې کور د ے ـ د غاښونو درداني چې پوره او سالمې وي نو خولۀ وربانديې ښۀ ښکاري ـ ولې څومره چې عمر په شا کيږي او انسان سپين ږيرے يا سپين سرے کيږي نو دغه دُرداني هم وار په وار خوزيږي ، رژيږي ، دوړيږي او خپل ځائے پريښوؤ ته مجبوريږي ـ بيا يو داسې وخت هم په سر ي راشي چې ځان ته ئې پام شي او وائي چې :-

غـــاښ مـــې وتلـــي ږيـــره ســـپينه
چې راويښ شومه لـه خوبـه توبـه لـه بوډاتوبـه

پسرلے ئې شريک د ے ـ کله چې د ځوانۍ پسرلے وي نو غاښونه درداني وي او ښائست هم په جوبن کښې وي ـ په داسې حال کښې کۀ څوک دا وائي چې :-

غـاښ دي پـه خولـۀ کښـې داسـې ښـکاري
لکـه موتيـان چـې پـه الـوان ايښـلي وينـه
غـاښ دي پـه خولـۀ کښـې داسـې ښـکاري
لکـه صـدف نـه چـې الـوان خپـل کـړي وينـه
غـــاښ دي يـــاقوت لـــب دي مرجـــان دي
پـــوزه بلـــور مـــخ دي قمـــر ســـترګې لالونـــه
د ســـــپينو غاښـــــو دې بريښـــــنا شـــــوه
چـــا وې ږلـــى ده پـــه تيـــراه ئـــې ورويـنــه
غاښـــــــونه دُر شـــــــونډې مرجـــــــاني
مــې د جانــان دي بــل لــه خــاورې ورکومــه
پـــــه ســـــالو خـــــال کلـــــه ورانيـــــږي
پټيــد ے نــۀ شــي ســتا د غاښــو پرهرونــه

کومه ژبه چې په تالو کښې تړلې شوې ده ـ په خولهٔ کښې مېشتهٔ ده او د غاښو څوکې وربانديې هم ولاړه وي ، لا د شونډو په ورونو هم دننه وي نو ددې سالميت او اهميت د هر انسان دپاره په هر حال ضروري دے ـ په دې چې د ژوند لوبه دا کرموي ، ددې کردار د ژوند د هرې لارې مل دے ـ دا د مهد نه تر لحده د ژوند د ټول حساب کتاب ذمه داره ده ـ يو انسان هم ددې د اهميت نه انکاري کېدے نهٔ شي ـ دا کهٔ يو خوا د شخوند او خوند ذايقې او څکنې په کار معموره وي نو بل خوا د نطق او خبرو اترو ذمه واري هم ورپه غاړه ده ـ هسې خو الله پاک انسان له دوه سترګې او دوه غوږونه ورکړي دي ـ ددې دپاره چې ډېرې ته ئې نظر وي او ډېرو ته ئې غوږونه ، ولې ژبه ئې ورله يوه ورکړې ده ـ چې لږې پرې وائي ـ بيا ئې دا په تالو پورې تړلې هم ده چې لکه د مار د ژبې بهر ته نهٔ را اوځي ،ورسره ئې د غاښونو په ولقه کښې ګرفتاره کړې هم ده ـ چې په قابو کښې وساتلے شي او ددې هر څهٔ دپاسه ئې وربانديې د شونډو دروازې هم پورې کړې دي چې پخه په واک کښې وي او بنديوانه وي ـ سره ددې بيا هم وائي چې د تورې ګذار جوړېدے شي ولې د ژبې ګذار نهٔ جوړېږي ـ لا دا چې سړے په ژبه سړے کيږي او په خوږه ژبه ښار خوړے کيږي ـ د چا د ژبې لړونه چې کاږهٔ وي ـ د هغهٔ مخه هم ورانې ته وي ـ په دې چې ژبه هم قلا ده هم بلا ده ـ چې د چا ژبه په قابو کښې وي هغه لکه چې په قلا کښې محفوظ وي ولې د چا ژبه چې په قابو کښې نهٔ وي هغه لکه چې په خپله خپل ځان په بلا ګرفتاروي ـ شيخ فريد چې دا ويل چې خولهٔ پټه بهتري ده نو مطلب ئې ژبه په قابو کښې ساتل وو ـ د دنيا په مخ ډېر شرونه ، فسادونه د ژبې پېداوار دے ـ کهٔ ژبه په روغه رضا وي نو خوشحالي او خندا وي ولې کهٔ په شر اماده وي نو د وير د ژړا وي ـ د ژوند د تمثيل دا دواړه کردارونه په ژبه ادا کيږي ـ ځکه نو کهٔ څوک وائي چې :-

دا ستا د ژبې تر سر ځار شم
ورې ورې خبرې کړې غلط دې کړمه
ځم چې بياتي چرته پېدا کړم
د بې وفا جانان نه ژبه پرېکومه

زمـــــا جانـــــان دې مـــــرور كــــړو
د ژبـــې ســـره پـــه قينچـــۍ دې پرېكومـــه

خبرې ، نارې ، غړونه او سندرې د ژبې په زور كيږي - چې ژبه نۀ چلېږي انسان نۀ وئيېږي ، د زړۀ تنور ئې سر پوښ وي كۀ اور پكښې بل وي بړاس ئې نۀ راخېژي - څوك پرې نۀ خبرېږي - غم خوشحالي دواړه ئې نۀ ظاهرېږي - ددې هر څۀ اظهار ژبه كوي - ځكه نو هره وېنا كۀ هغه د خندا وي او كۀ د ژړا كۀ د ثنا وي او كۀ د ګناه كۀ خوږه وي او كۀ ترخه ، كۀ د شور وي كۀ د غوغا كۀ زما وي كۀ د بل چا كۀ د شرم وي كۀ د حيا كۀ د وفا وي كۀ د جفا يا كۀ د ښېرو وي كۀ د دعا دغه ټولې خبرې نارې غړونه او سندرې چې د خولې نه رابهر كيږي نو په ژبه ادا كيږي دا هم خوشحالي راولي هم غمونه هم د ژړا سبب ګرځېدے شي هم د خندا -ځكه نو چې د چا ورته غوږ وي اوري ئې نو خولۀ ورته كوكۍ كيږي او وائي چې :-

كــــوكۍ پــــرون دې رالـــــه راكــــړه
پـــه شـــونډو نـــن ژبـــه وهـــم خونـــد تېرومـــه

زمـــــا د يــــــار كــــوكۍ منــــې دي
رنــې رنــې دي د چـــا لاس پـــرې ن پرېږدمـــه
د پــــوال ســــورے كـــه كـــوكۍ راكـــه
مـــور تـــه دې وايـــه چـــې لـــړم چيچلـــې يمـــه
جانــــان زمـــا پـــــه كــــوكۍ مــــړ دے
عـالمـــه مـــۀ ئـــې لمبـــوئ شـــهيد بـــه وينـــه

هم په دغه كوكۍ د زړونو حالتونه ظاهرولے شي - خبرې وربانډې كيږي مينه او دوستي پرې پاللے شي - ياراني دوستانې پرې روزلے شي - خپلوۍ ، عزيز ولۍ پرې سرته رسولے شي - قسماقسم خبرې ، خوږې ترخې خبرې ، سپكې او درنې خبرې، وړې وړې خبرې ، لنډې اوږدې خبرې ، كلكې پستې خبرې ، روغې او ورانې او سرسري او ژورې خبرې لنډه دا چې د هر رنګ او هر نوع خبرې په كوكۍ كولے شي او كله لاداسې هم كيږي چې وائي :-

خبــــــره لاړه ډنــــــــډوره شــــــوه
لالیــه خپــل غــم دې کــوه خپــل بــه کومــه
دا ســـــــتا یــــــوه نیمــــــــه خبــــــره
په زړۀ مې لیـک ده تورو خاورو لـه بـه ئـې وړمـه
د لېونـــــو ســــــره مـــــې کـــــور دے
د خـــولې خبـــرې مـــې کـــوټې تـــه خېژوینـــه

یا دا چې :-

نـــارې وهـــم غـــږ راتـــه نـــۀکړې
بیـا بـه جهـان راپسـې ګـورې نـۀ بـه یمـه
دا نـــــارې مـــــۀ وهــــــه درځمــــــه
پــه الاړ پــرو دې ټــوکرۍ نســـکورومه
نـــارې وهـــم نـــارې مـــې نـــاورې
هله بـه ئـې واورې چې زۀ تـورې خاورې شـمه
اشـــنا زمـــا نـــه مـــخ پنـــاه کـــړو
لکــه سیســـۍ د بــې وســـۍ نـارې وهمــه

او کله داسې هم وائي چې :-

کـــۀ یارانـــه راســـره نـــۀ کـــړې
پــه مینــه غــږ راتــه کــوه خوشــحاله یمــه
تـــا چـــې پـــه ایـــوه بانـــدې غـــږ کـــړو
زۀ پــه ســـړه مــانۍ کښــې لـــره بـــره شــومه
پـــــه ادیـــــره د مـــــړو راغلـــــم
وژلـــې خـدائے وو غـږ ئـې ماتـه نـۀ کاؤنـه

د کوکۍ احترام په هر چا وي ـ مینه ورسره هر شوک کوي ، خبرې ئې په هر چا ښې لګي ـ کوکۍ د ماشومانو وي ـ دا معصومه وي ، خوږه وي ، نازکه وي او تنکۍ وي ـ وړې خوږې خبرې ئې د زړۀ کلۍ ګل کوي ـ کوکۍ چې کله په خپله ګل کیږي او رامخ ته کیږي نو مخ ترې سازیږي ـ لکه د پړاق شوي ډال شول ګل معشوقانه صورت اختیاروي ـ د ځوانۍ د سپرلي د باد سره اشنا کیږي خوند

رنګ ئې سپوا کیږي دا بیا لاچې لونګ شي - بې پروا شي - نُور په نمک شي - بیا نو داسې وخت پرې راشي چې د یو مخه سل مخه ښئ شي او د یو مخه سل مخه بدي شي - کله چې مخ د مخ سره مخ کیږي نو د مینې او عشق چینه راخوټیږي رابهیږي د فراق او وصال رودونه ترې سازیږي - وائي د بنده مخ د خدائے د نوره دے - دا د ژوند علامت دے د ژوند هڅه ده - د ژوندي پاتې کیدو آرزو ده د مخ د مخه ژوند محبوب شي ، سندرئیز شي ، مخ د کتو شي د ستائلو شي ، د نمانځلو شي - د دنیا مخ د محبوب په مخ ښائسته شي - کله چې دا منظر راښکاره شي نو په داسې حال کښې خبره د اوریدو او غوږ ورته د کیښوؤ شي چې څۀ به وائي دا کنه چې :-

مـــخ پـــه مړونـــد کلــــه پټیـــږي
ظالمــــه تاتـــه ســــلامي ولاړه یمــــه
پــه مــخ دې بیــا ســرخي پیــدا شــوه
لکــه پــه واوره چــې د وینــو څــاڅکي وینــه
ســـرخی د مـــخ دې شــــغلې وکـــړې
لکه سرخي د ماښام سرۀ کړي غاړې غرونه
ســـتا د ګـــلاب پـــه شـــاني مـــخ دے
زۀ دې بـــورا یـــم لیـــونے درپســـې شـــومه
راښـــکاره مـــۀ شـــې ســـپینه مخـــه
یـوه ګـړی دې خوشـحالي ډیـر دې غمونـه
د بـــاغ پـــه ګلـــو مینـــه نـــۀ کـــړې
لیلـی د ګلـو سـرۀ دسـته پـه مـخ لرینـه
د ســـالوګي نـــه دې قربـــان شـــم
چې په سپین مخ ئې ریـوې ستي دې کړمـه
چـــې څـــۀ دې کـــړل هغـــه دې وکـــړل
اوس مې پلـۀ پـه مـخ راخـور کـه خـوب راځینـه
چـــې چـــا ئـــې مـــخ لیـــدلے نـــۀ ؤ
هاغـه بیبیـانې پـه چکـړه لاړی کښـې ځینـه

کلــــــه چـــــې دا پــــــه لاره درومــــــې
یــــا پــــه حیــــا وي یـــا لـــه مـــا مـــخ پټوینـــه
تــــهٔ بــــه پــــه کــــوم ځــــائے کښــــې وســــیږې
زهٔ دې د مـخ انـوار پـه سـترګو کښـې سـاتمه
تــهٔ بــه پــه کــوم ځــائے کښــې مېشــتهٔ ئــې
لیـدے دې نـهٔ شـم مـخ دې هـر وخـت یادومـه
چــــارې د خــــدائے رابانــــدې وشــــوې
پــه مــخ مــې زخــې اوختــې بدرنګــه شــومه
تــــا چــــې پلــــؤ د مــــخ لــــر کــــړو
مــا و ې شــوقدر شــو معــراج لــره ورځمــه
تـــــاثیر د مـــــــخ دې غلبـــــــه د ے
ځکــه پــه در دې شــهزادګان ســلام کوینــه
پــــه مــــخ ئــــې ســــپینې روپــــۍ زانګــــې
جینــۍ پــه ځنــو لاس وهــې یــار لــه ورځینــه

پــــه مخــــه راغلــــې مــــخ دې پــــټ کــــړو
د دلــــه لــــورې زهٔ دې پونــــدې پېژنمــــه
پــــه مــــا دې کــــــړې ځــــهٔ بــــلا ده
په مخ مې غبرګې اوښکې ځي خولهٔ درکومه
پــه مــخ مــې شــین زړوکــے ویــــږ کــه
چــې پــه کوځــه کښــې دې لېوانــو ماتــه کړمــه
پــــه مــــخ مــــې اوښــــکو لارې وکــــړې
لکــه نـرۍ اوبـهٔ پـه خـوړ کښـې لار کوینـه
مــخ دې پــه ســپین کښــې ســرخي وائــې
لکـه پـه سـپین څـادر کښـې پنـډ د ګلـو وینـه
اشــــنا زمــــا نــــه مــــخ پنــــا کــــړو
لکــه سیســـۍ د بــې وســۍ نــارې وهمــه

مخ خو دې سپین خال پکښې شین دے
خندا دې سیند دے عالمونه غرقوینه
مخ ته دې سم کتلے نهٔ شم
لکه د نمر شغلې وهي ما ړندوینه
مخ دې اسمان خالونه ستورې
سینه بخمل سترګې بادام رنځور دې کړمه
مخ دې جنت خوئې دې دوزخ دے
زهٔ په دوزخ کښې شپې جنت ته تېرومه
مخ دې کابل خولهٔ دې خېبر دے
د زنې خال دې افریدے داړې کوینه
مخ دې ګلاب سترګې دې شمعې
زهٔ ئې بورا شم کهٔ پتنګ وربانډې شمه
مخ ته مې مهٔ ګوره کافر شوې
زهٔ مسافر لاړلې په خدائے سپارلې یمه
مخ دې تهانګه زلفې دې واګې
دا شینکے خال دې پرې کوچوان اوخېژونه
مخ دې کعبه دیدن دې حج دے
سینه غونډې د عرفات ور اوختمه
مخ دې کعبه دیدن دې حج دے
د زنې خال دې عرفات سوال پرې کومه
مخ دې آفتاب بلکې لازیات دے
زما په حق کښې سوے اور شوې اودې سومه
مخ دې ګلاب شونډې دې پانې
غړې د زانې ګرځوې رنځور دې کړمه
مخ دې ګلاب سترګې دې شمعې
خدایه ګلاب شم کهٔ پتنګ وربانډې شمه

مـــخ ئــــې اســـمان خالونـــه ســــتوري
زلفـې وريځـې غـابښ برېښـنا پکښـې کوينـه
مـــخ دې چـــراغ ســـينه دې بـــاغ دے
زړۀ مې داغ داغ دے چې بـورا کۀ پتنګ شـمه
مـــخ دې ګـــلاب ســـترګې دې پـــانړې
د تـــن خولـــو نـــه د عطـــرو بـــوئين راځينـــه
کـــۀ ديـــدن کـــړې تلـــوار پـــرې وکـــړه
پـــه مـــخ مـــې شـــال د بېلتانـــۀ اوغوړېدونـــه

مخ په دوؤ اننګو ښائسته وي ـ دا نازک وي ، نرم وي ، پاستۀ وي رنګدار ، غوړ ، ښائسته او خوارۀ وي ـ مينه پرې راځي مينه ورسره کيږي ـ خوښولے شي خپلولے شي ـ دا د هر بنده د مخ ښېر وي ـ محبوب په دې محبوب وي ـ ځکه نمانځلے شي تعريف ئې کيږي ستائيلے شي ـ داسې لکه چې وائي :-

ســـرۀ اننګـــي ئـــې ســـرۀ انـــار دي
دا تـورې زلفـې ئـې تـاؤ کـړي تـرې شـپولونه
پـــه بـــود بـــې بـــود دې نـــۀ پـــوهېږم
چـــې دې پـــه کـــوم اننګـــي خولـــۀ اولګومـــه

خبره په دې نۀ تمامېږي ـ د زړۀ نور حالونه اخر شونډو له راشي ـ مينه سېوا شي ، بغون په رپا شي شونډې اوخوزي ، اننګي اوتخنېږي او پـه شـونډو اوخـوزېږي نـو ژبـه ګويـا شـي او رازونـه افشـا شـي ـ د زړۀ رازونـه ، د مينـې رازونـه ، دوه زړونـه دغسې د يو بل تر خوا شي ـ دا ټول د شونډو کرامت وي ـ چې شـونډې شربت شي نو د هجران د مېرې د جل وهلي تنـده وربانـدې ماتـه شـي ـ د شـونډو دا خـوبي دا خوندونه ، دا ورکړۀ دا پېرزوينې په ستائينو او نمانځنو يـادې شـي ـ دا سـتائنې د روح ارام او د زړۀ تسـکين شـي د زخمـي زړۀ ټکـور شـي دا د عـاشق دپـاره آب زلال شي تسنيم و کوثر شي داسې چې هم ئې وائي او هم پرې پائي ـ کۀ پـه خـوب کښـې وي او کۀ پـه ويښـه خـو د خپـل محبـوب خپـل جانـان او خپـل ګلجـان شـونډې بـه ستائي لکه چې وائي :-

شـــــونډې شـــربت کـــه رالـــــه راکـــه
زۀ د هجــران مېــرې وهــم تــږے بــه شــمه
يـــا دې د ځايـــه شــــونډې ســـرې دي
يــا دې زمــا د بــدن وينـــې څښــلې دينــه
مالــــه دې شـــونډې خولـــۀ کښـــې راکـــه
خلـــق طوطيـــانو لـــه شـــکرې ورکوينـــه
مــــــا يارانـــــــه کلـــــــه کولـــــــه
ســتا د نــرو شـــونډو مســـکا لېـــونے کړمــه
شـــــونډې دې مـــــــزے د رېښـــــــمو
مرواري غـابښ دې پـرې ښائسـته رڼا کوينـه
شـــونډې دې لال غـــابښ دې الـمـــاس دي
تــورې دې لاس دي عاشــقان زخمــي کوينــه
شـــــونډې دې پـــــانړې د ګـــــلاب دي
د اســـمان زانــې پکښــې وائـــي ســـبقونه
شـــونډې دې ســرې دي مــخ دې سـپين دے
لکــه سـپين جـام کښـې د ګلابـو پـاڼې وينــه
شـــونډې دې ســـرې پـــه دنداســـه دي
کـۀ دې پـرې پـان د هندوسـتان خـوړلي دينـه
ســتا د ســورکو شـــونډو نــه ځــار شــم
چـې پـه خنـدا شـې غـوټۍ اوسـپړي ګلونـه
زمـــا ســـرې شـــونډې پـــرې تـــوربړې
خـال د رنجــو پــه زنــه مـۀ ږده غــل بــه شــمه
د شـــــونډې خـــــال دې مېلســــــي دے
د زنـــې خـــال دې مـــرور پخـــلا کوينـــه
د يــــار د ســــرو شـــــونډو بهـــــاره
پـــه لپـــو لپـــو دُر د ســـترګو درکومـــه

د سـر پـه بيعـه بـه ئـې اخلـي
ويړيـا مـې نـۀ دي د سـورکو شـونډو سـرونه
د شـونډو رنـګ دې ځکـه سـور دے
چـې دې زمـا د زړۀ قطـرې خـوړلې دينـه
چـې پـه شـبنم او پـه ګـل خانـدي
دغـه د سـرو شـونډو غابنـونه دي مئينـه
شـونډې دې دواړه داسـې سـرې دي
لکـه پـه سـپينه لوپټـه وي سـرۀ ګلونـه
اشـنا مـې ځـي نـۀ پـاتې کيـږي
کـۀ ورتـه کېـږدم د سـورکو شـونډو سـرونه
خـوږه جانانـه سـتا دپـاره
سـنبال مـې ايښـي د سـورکو شـونډو سـرونه
زمـا پـه زړۀ کښـې دې داغ جـوړ کـړو
پـه نبـاتي شـونډو دې خـدائے کېـږده داغونـه

داسې هم کيږي چې د زړۀ تمنا او آرزو چې کله شونډو لـه راځي نو دعا کيږي ـ دعاګانې د ارمانونو او آرزوګانو ترسره کېدو غوښتنې دي ـ ددې دپاره د شونډو خوزېدۀ لازم وي ـ پـه ټول وجود کښې يو شونډو تـه دا فضيلت حاصل دے چې شونډې پښتنې وي په پښتو به خوزي ، په پښتو بـه اصرار کوي او د پښتو اقرار به د شونډو په سر وي ـ دا ئې دنيا هم ده اخرت ئې هم دے ځکه وربانديې پائي هم او مري پرې هم ـ د شونډو مرګ او ژوند نۀ خو بې خدايـه دے نۀ بې خدايـه کېدے شي او نۀ بـه بې خدايـه شي ـ ځکـه خو د زړۀ هره تمنا هره آرزو او هر خواهش چې د شونډو سر لـه راځي نو دعا کيږي ـ دعا د شرک او عصيان نـه پاکـه وي دا مينـه وي د مينې نـه کيږي او پـه مينـه کيږي مينـه د مينـه والـو سره وي د دشمن سره نۀ وي نۀ دا د باطل سره وي او نۀ د شېطان سره ـ مينه پـه محبوب راځي دا د جانان سره کيږي ـ مينه جان دے ، جنون دے او جانان دے ـ منزل او ماوئ ئې د ابدي نُور تـر خـوا رسائي ده ـ د داسې ټولـو غوښـتنو آرزوګانو او ارمانونو اظاهر په شونډو کيږي ـ دا تش لعليني او ګلابي خو نۀ وي او نۀ پاکې

خرېلې وي ـ دا د جمال او جلال دواړو په رنګونو رنګ وي ـ د دوئي نوراني ښکلا کۀ د دوئي په جمال کښې وي اوحجاب او پرده ئې د جلال وي نو دا لکه د شپول په شونډه دپاسه وي دا په برېتو يادېږي ـ برېت د مردانګۍ نخښه ده ، سرېتوب دے ، درناوے دے ـ ددې خپل روايات دي خپلې تقاضې ئې دي ـ خپلې ذمه وارۍ ئې دي ـ کۀ دا سرته رسولے شي يا ئې رسوي نو جلال ئې رحمت شي دا د زمرو او د شېرانو کردار دے ـ ولې کۀ داسې نۀ وي نو هسې خو د منږک او د نر غوټ پيشو هم برېتونه وي ـ ځکه نو تشه په برېتو نۀ ده په عمل ده ـ د برېتو عمل داسې بويه چې د شان لايق ئې وي ـ ګني هسې خو کۀ څوک :-

صابزاده خورشيد په رنګ کۀ برېتور شي
يا قاضي عبدالحکيم شان ږيره ور شي
څۀ په ږيره يا په برېتو موقوف نۀ ده
ښۀ به دا وي چې سړے په عمل ستر شي

چې کله دا حال وي نو د برېتو مقابل هم ئې د عمل په تله تللے کېږي ـ ګني هسې خو نۀ وائي چې :-

په برېتو مۀ وهه لاسونه
مرګ زورور دے روغې خونې ورانوينه
تۀ چې په برېتو کښې مسکے شوې
حال راته وايه په تا څۀ تېر شوي دينه
تۀ چې په برېتو کښې مسکے شوې
ګمان مې کېږي چې څۀ چل به شوے وينه
ايمان دې ښۀ راته معلوم دے
په بازاري برېتو دې مۀ وهه لاسونه
پېزوان مې ستا برېتو کښې بند شو
د دروازې پورې بندې درسره تلمه
دا پېغلتوب مې د غم دود کړې
راپسې مرې ښکلې ځوانان کاږۀ برېتونه

د یـــــار مـــــې نـــــوې ږیـــــره راغلـــــه
دا نـــري بربـــت بـــه ئـــې پـــه ژبـــه ســـمومه

متل دے چې بربت ښۀ بربت دي خو په دوسه شونډه ولاړ دي ـ دا هغه کمے دے چې د بربتو جلال نقصاني کوي ـ د سړي شخصیت زیان من کوي ـ د سړي نه تش بربتا ، بربتو ، بربتـور سـازوي داسې کس نۀ خو په عمل صـابزاده وي او نۀ په خوئي بـوئي اصیل زاده ـ بربت چې داسې شي د خرئیلو شي په دې چې دا د محبوبا د لعلینو شونډو مسـاوي نۀ وي ـ سیال ئې نۀ وي ـ د جلال او جمـال د نزدیکت خپلې تقاضې دي ـ په پوره کېدو کښې ئې د وصـال خوندونه دي ، مزې دي ، خوشحالۍ دي ـ دا د نوم د تشو بربتو سره نۀ وي ـ دغه بربت بـازاري وي ځکه خو معشوقې هم ورنه انکاري وي ـ دغه حال د ږیرې هم دے ـ ږیره حجاب هم دے او د مخ نور هم دے ـ ږیره چې ږیره وي حیا وي ایمان وي عقیده وي ، عقیدت وي ، توره وي ، غیرت وي ، ږیره د مردانه مخ درنـاوے دے ، عـزت دے ، ځکه خو چې کم کار د کولو نۀ وي او ځوک پرې بد ښکاري یا ئې پرې په بدو د یادېدو ویره وي نو کۀ د کولو نه ئې سکوت انکار کېږي نه نو په دې وینا خو سر کېږي ضرور چې ,, کۀ کوم ئې نو ږیره مې کل کېږي ،، د ږیرې کـل کېدل سپکاوے دے ـ د ښځې سر خېل او د سړي بربت یا ږیره کل کول یو برابر دي ـ دا د سپکولو او شرمولو اقدام وي ـ ځکه نو د ږیرې عزت او حرمت لازم وي ـ په دې عزت او حرمت د ږیرې خاوند قدرمن کېږي ـ دا د انسان په خپـل اختیـار کښې دي ددۀ په خوئي بوئي اوپه عمل کښې دي ـ اوس نو چې څوک چاته دا وائي چې:-

تاتـــه لاچـــا وئیـــل چـــې مئـــین شـــه
پـه سـپینه ږیـره دې پـه مـخ اوښـکې راځینـه
پـــه ســـپینه ږیـــره لېـــونے شـــوې
چـې شـین خـالۍ رایـادوي مـړې لاسـونه
پـــه ســـپینه ږیـــره لېونیـــه
پـــه لاره ځـــه پـــه ګتـــو اولـــه زیارتونـــه
پـــه ســـپینه ږیـــره ډ یـــره مینـــه
پـه تـور پېکـي مـې لاس وهـي ژړا راځینـه

پـــــه ســــــپينه ږيـــــــره ليونيـــــــه
پــه لنګــوټي پــورې دې بنــګ ترلــي دينــه
خدايــه ســپين ږيــرے پــلار ئــې مــړ کــړې
د ورځې خوب د شپې په دې څوکۍ کوينه
تــــۀ پــــه کوڅــــه راښـــکاره مــــۀ شـــې
ږيــره شـــانه او بربــت دې ور لـــرې کوينـــه
د يـــــار مــــــې نـــــوې ږيــــــره راغلــــــه
لکــه جــوهر چــې پــه فــولاد ختلــي وينــه
د يـــــار مــــــې نـــــوې ږيــــــره راغلــــــه
زمـــا ميراتـــه ســـينه نـــۀ ســـپړې ګلونـــه
د يـــــار مــــــې نـــــوې ږيــــــره راغلــــــه
دا نـــرې بربـــت بـــه ئـــې پـــه ژبـــه ســـمومه

ږيره د زنې دپاسه وي ـ لکه شونډه چې په بربتو پټه وي دغسې د زنې حجاب ږيره ده ـ دا د سړو سرېتوب دے ، حيا ده ، جلال ئې دے ، حد فاصل ئې عموماً د سر وېښتۀ وي ـ چرته چې د سر وېښتۀ تم کيږي د هاغه ځايه د ږيرې عملداري شروع کيږي ـ دا مردانه زينت دے ـ ږيره هم جمالي ده هم جلالي ده ـ د قومونو او نسلونو په ږيرو کښې هم تفاوت وي څۀ رنګ چې د دوئي پوزې يو تر بله توپير لري ـ دغسې ئې ږيرې هم د بېل بېل مقدار او د بېل بېل انداز وي ـ بريت يا ږيره چې په خپله مرضۍ خرئيلې شي څوک پرې بد نۀ وائي ـ ولې کله چې بل څوک ئې د چا نه خريي نو دا د زغملو نۀ وي ـ د سړو زنه د ږيرې په وېښتو پېژندے کيږي ـ د معشوقو زنه په خالونو ښائسته کيږي ـ دا د زنې زينت وي ـ زنه چې په معشوقانه خوبيانو معموره وي ـ غونډه مونډه وي ، پاکه صفا وي ، دلپزيره وي او دلربا وي ـ ښائسته وي ، زړۀ راکښونکې وي ـ چې په صفاتو او خوبيانو پوره وي نو د ستائينو وي ـ ستائيلے شي داسې لکه چې وائي :-

اســــمان پــــه ســــتورو ښائســــته ښـــکاري
د يـــار پـــه زنـــه شـــنۀ خالونـــه خونـــد کوينـــه

په زنه خاپ منګکې مې مات شو
زۀ به بخیلې مور ته څۀ جواب کومه
تر دا لنډې زنې دې ځار شم
لکه انار د قندهار زړۀ سروي نه
مُلا د خدائې په روئې بانګ وایه
د زنې سر مې اشنا کندې کندې کړۀ نه
مُلا د خدائې دپاره زر کړه
د زنې سر مې جانان کندې کندې کړۀ نه
جانانه خولۀ ترې لاندې باسه
د زنې سر مې ګبینه اوڅڅېدونه
خدایه د مور ئې ورته پام کړې
چې په لنډې زنه ئې اووهې خالونه
زړګې مې هاغې جانان وړے
چې په لنډې زنه ئې ایښې شنۀ خالونه

د سر لاندینۍ حصه د زنې د ججورې نه په ښکته وي ـ دا غاړه وي ، دا مرۍ وي ، مرۍ د وجود هم وي مرۍ د ښائست هم وي ، ښائست په مرۍ پورې هم وي او دا د مرۍ نه تاوېږي هم ، مرۍ مرجان او ملغلرې هم چې امېل کیږي نو د مرۍ نه تاوېږي دا وربندې ښائسته کیږي ـ مرۍ په مرۍ سینګار کیږي ـ د پخوا راسې د انساني تمدن اوچت معیار مرۍ ده ، غاړه ده ، دا مینه ده دا ساز دے دا سرود دے نغمه ده ، حنجره ده ، صراحي مرۍ او غندلې غاړه ، په امېلونو ښائسته کیږي ، هارونه ورته اچولے کیږي ، تبریکونه ئې په برخه وي ، هم په عزت حرمت ښائېږي هم د تېرې تورې او تېرۀ خنجر ښکار کیږي ـ کله د مامونۍ غاړه شي کله د نورجهان ، کله پرې څوک زار شي کله د چانه زار شي ـ دنیا په دې هر څۀ خبر ده چې :-

په سور سالو په بام ولاړه
امېل په غاړه شوکوي د خلقو زړونه

غنـــدل دي غـــاړه خولـــه دې ګـــل د ے
زۀ ددې ګــل پــه طمـع خوالــه دې درځمــه

په مرۍ د سر او د تن تړون کیږي ـ تن تنه د انسان د وجود د لاندینۍ حصه ده دا سینه ده ـ قد دے ، قامت دے ، صورت دے ، ځواني ده ، دا د صورتګر شاهکار تصویر دے ـ د دنیا جهان خوندونه ، رنګونه ، رنګینۍ ، ښائستونه په دې تصویر پورې دي ددۀ د مخه دي ، ددۀ دپاره دي ، دا تصویر د حسن و عشق مرکب دے ـ هم نوري دے هم ناري دے ، دا هم خاکي دے هم بادي دے هم آبي دے هم ناري دے ـ دا چې د چا شاهکار دے هم د هغۀ پکار دے ـ هغۀ ته عزیز دے په هغۀ ګران دے ـ هغه احسن الخالقین دے ـ ځکه خو ئې په خپل جمال او په خپل جلال کښې خپل دا شاهکار حصه دار کړے دے ـ په خپله مینه ئې روزلے او پاللے دے ـ د احسان په خوږو ئې نمانځلے دے ـ په مینه ئې پوهه کړے دے د عشق سره ئې اشنا کړے دے ـ د بشریت او شرافت عالي مقام ته ئې رسولے دے دا تصویر د عظیم مصور د لاس جوړ دے ـ د ستائینې دے ، د نمانځنې دے ځکه خو ځان ته چې ګوري نو کله خو وائي چې :-

تـــن مـــې د شـــنې نکریـــزې پاڼـــه
ظـاهر تـازه دننـه رنـګ پـه وینـو یمـه

او کله بیا په دې وینا سر وي چې :-

زمـــا دې تـــن پـــه تـــبڼ مـــات کـــړو
ســـتا دې رانشـــي د دکـــن نـــه مهرانونـــه
تنـــه بـــه هلـــه ســـتا خخیـــږي
چـــې دې بـــدل د دشـــمنۍ واخلـــم مئینـــه
زخمـــي زخمـــي پـــه ســـینه راشـــي
یـاره پـه شـا چـې ګـولۍ اونـۀ خـورې مئینـه
تـوپـــک راواخلـــه تازیـــان توکـــه
د شـاه لیلـی پـه سـینه زرکـې ناسـتې دینـه
ورشـــــئ قلـــــم مشـــــوانۍ راوړئ
زۀ د ســـینې دوتـــر پـــه یـــار پســـې لیکمـــه

زړۀ مــــې ماشـــــوم شــــو راتـــــه ژاړي
زمـــا نـــه غـــواړي د پـــردو ســـينو خوبونـــه
مـــــا د ســــــينې پـــــه تخــــت اودۀ کــــــه
زۀ شـــــوګيرې د بېلتانـــــۀ وهلــــې يمــــه
پــــه ليــــدو مينــــه نـــــۀ مــــاتېږي
څوئــې د سـپينې سـينې تـاؤ نـۀ کـړې لاسـونه
پـــه کشــــميري الـــوان کښــــې ګرځـــې
سـپينه سـينه بـه پـرې رنګينـه کـړې مئينـه
وړانــــدې ســــينې تــــه لاس راتېــــر کــــه
پـه لاس بـه درشـي سـرې منـې پاسـتۀ سـرونه
مــــازيګر کـــــور ماښــــام پـــــه لاره
ننـنـۍ شـپه بـه د جانـان غېـږې لـه ورمـه
خدايـــه تـــۀ مـــا د ګـــلاب ګـــل کـــړې
چـې د جانـان پـه غېـږ کښـې پـاڼې پـاڼې شـمه
پــــــه اړولـــــــې لاس مــــــــې اووه
چـې پـه خنـدا خنـدا دې غېـږې لـه درځمـه
ټينګـــه مـــې مـــۀ نيســـه پـــه غېـــږ کښـــې
تـــې مـــې تنکـــې دي ســـږنۍ بالغـــه يمـــه
مــــنګې پــــه ســــر مخـــې لـــه راغلــــه
منګې ئـې کېښـوؤ زۀ ئـې پـه غېږ کښـې اونيومـه
صـــبا اختـــر دے يـــار مــــې نشــــته
د کــالو ډکـه بـه د چـا غېـږې لـه ځمـه
راشـــه چـــې لاس کښـــې درلـــه درکـــړم
د خـــدائے کـــلام دے پکښـــې لولـــه ســـبقونه
رب دې زمـــــا د منګـــــول بــــاز کـــــه
د زړۀ قطـــرې بـــه درکـــوم تـــا بـــه ســـاتمه

چې رخصت اخلې منګول راکه
په زنګدن کښې ئې په زړهٔ دپاسه ږدمه
راشه چې لاس تر لاسه نیسو
بادام به ګل شي نوکرۍ به ګرانې شینه
لاس په لستوني کښې راتېر که
چې د کابل په خربوزو دې واړومه
لاس په ولاړې راچاپېر که
د کښېناستو پورې زړهٔ وار نهٔ راکوینه
لاس به په سپړدې قرآن کښېږدم
ملامت نهٔ یم جانان تور راپورې کهٔ نه
لاس دې لستوني کښې ښکاره که
لکه ښامار چې خولهٔ کښې لال نیولے وینه
لاس دې په سرهٔ لستوني کښېږده
تا به د سرهٔ لستوني ډېر ارمان کوؤنه
لاس مې تر غاړې راچاپېر که
نرۍ نرۍ خبرې کړه چې خوند کوینه
لاس مې د زړهٔ په وینو سرهٔ دي
خلقو ته وایم ما نکریزې ایښې دینه
لالتېن ئې بل په لاس کښې راکړو
د بیلتانهٔ تورو تیرو ته مې لیږي نه
یو ځلې لاس دې په لاس راکه
بیا مېړنې راپسې خوشې کړه مئینه
افسوس افسوس ارمان ارمان دے
خالي لاسونه د جانان د خوا نه ځمه
نن به اترنګ کړم په لاس پورې
یار ته سلام کوم په اوچ ولې ئې ږدمه

دا سپینه لېچه دې اوږده کړه
یو وار مې پرېږده چې پرې سر اولګوؤمه
چې سر زما وي ځنګل ستا وي
مزه به دا وي چې اوده د عمر شمه
چې سر زما وي ځنګل ستا وي
د هاغې وخت په انتظار یم رابه شینه
سر په کړه ځنګل کښې کېږده
تا به د دې خبرې ډېر ارمان کوؤنه
په پښو معذوره یم تلے نۀ شم
د تنګ په لار په ډانګورو ورسره ځمه
تلې د پښو مې شو تنهاکې
اوس مې منګولې لګوم یار له ورځمه
سپینې دې پښې سپینې دې بانکې
د پلار په غولې لوئیدې رنځور دې کړمه
په مخه راغلې مخ دې پټ کړو
د دلـه لوري زۀ دې پوندې پېژنمه

د ژوندانۀ ټولې لارې په ګامونو او قدمونو کچ کیږي ـ د انسان هر اقدام هغه د خېر پله وي او کۀ د شر پله ټول د وړاندې کېدو وي ـ دے په مخه روان وي او د پښو خاپې او چاپونه ئې وروستو پاتې کیږي ـ ژوند په مخه تېرېږي په دې کښې چرته په یو پړاؤ هم ېېرته راګرځېدۀ نشته ـ ولې په دې کښې هم دغسې شپه د ورځې او ورځ د شپې نه وړاندې کیږي ـ پسرلے ئې هم په خپل ټاکلي وخت راځي او خزان هم ـ ګلونه ئې په خپل وخت ګل کېږي او د میوې د پخېدو وخت ئې هم مقرر دے ـ دا قدمونه دغسې د ژوند د کاروان ملګري دي ـ کاروان روان دے ـ قدم پورته کیږي ایښلے کیږي فاصلې لنډېږي او منزلونه کچ کیږي او نزدې کیږي ـ د ژوندانۀ لوبه هم دغسې روانه ده ـ د حیات مستعار ټول قدمونه د شمار دي ـ څوک ورباندې خوشحالېږي او څوک ورباندې زهرېږي ـ په داسې حال کښې کۀ څوک دا وائي چې :-

باران وربــــړي غـــولـې ډنـــډ شـــو
قـــدم زمـــا پــــه قـــدم ږده راځـــه دننـــه
جانانـــه دومـــره پــــه مـــا ګــــران ئـــې
چـې تـهٔ روان ئـې زهٔ دې شـمارم قدمونـه
دومــــره بــــه نېـــغ درپســـې ګـــــورم
تـــر څـــو دې ويــــنم اړولـــي قدمونـــه
صـــــنم قـــــدم د کـــــرم کېـــــږده
نور ستم مهٔ کړه زيات مې غم درپسې شونه
ورســـــتي ټيرونـــــه مــــې زاړهٔ شـــول
لاندې مې نـهٔ کـړل سـتا د ډسکو قدمونـه

د ژوندانهٔ په دې جاري سفر چې څوک روان وي نو کله خو تشه بې خبرې وي ، دغه لار ئې د زلمي توب تر منزله وي بيا د شباب او مستۍ سره مخ شي دا د جنون او بې پرواهۍ منزل وي ـ ددې نه پس سفر په زوير شي ځواني لاړه شي پيري راشي ـ انسان په پيرۍ کښې د هر هغه څهٔ نه رو رو محرومه کېږي لاس په سر کېږي کناره کش کېږي کوم چې د ژوند په سپرلي کښې ددهٔ د مستۍ ، خوبروېۍ ، ښائست او ښکلا باعث وي ـ ځکه نو په داسې حال کښې کهٔ څوک دا وائي چې :-

ځـــــــــواني د زرو روپـــــــــو اس دے
چې د هجران بارونه وړي سوده به شي نه
ځوانـــانو مـــرګ پــــه ځـــان قبـــول کـــړو
پېغلـې رنـدې شـه چـې کونتـون نـهٔ قبلوينـه
د ځـــوانۍ ژونـــده لـــږ ايســـار شـــه
مـا تـه يـو ښـکلي د ارتلـو وئيلـې دينـه
د ځـــوانۍ اونـــه مـــې زړه شـــوه
لاد حـرص غنچـې مـې اوس سـپړي ګلونـه

په ما دې ځوانه ځواني اور کړه
په تا دې اور شي د ځوانانو مېلسونه
په ما دې تېر د ځوانۍ وار کړو
ستا دې رانه شي د دکنه مهرانونه
چې په ما تېر د ځوانۍ وار شي
په دې به څۀ شي کۀ تۀ راؤړې مهرانونه
دنګه ځواني د چندڼ لښته
د بېلتانۀ په اور ئې ږدم چې سکارۀ شينه
دنګه ځواني دې لکه لښته
چې د بېلتون په اور ئې ږدې سکارۀ به شينه
يا به مظلوم کشمير ازاد کړم
يا به مې لوړه ځواني خاورې ايرې کړمه
په ځوانۍ رانغلې بېلتونه
په پيرۍ مۀ راځه کمزورے درته يمه
چې مې ځواني له تانه ځار کړه
دا بوډاتوب به درنه څنګه اوساتمه
چې ستا ځواني زما پيرې شوه
په ځان دې څۀ رنګې پيرزو کړمه مئينه
غرور په خپله ځوانۍ مۀ کړه
ځواني د ژمي مازيګر تېره به شينه
لال د ځوانۍ مې رانه ورک دے
په ټيټه ملا وريسې ګرځم نۀ ئې مومه
وار د شها د ځوانۍ تېر شو
له منګو پرېوته کوزې راډکوينه

قدقامت د وجود ښائست وي ، د تن وقار وي ، په دې کښې د ښائست اسرار وي کۀ خوک بې خرته لوړ يا ډېر مندرے وي پسته قد وي داسې انسان په دواړه حالتونو کښې د ښائست د نعمت نه محرومه حسابېږي ـ د ښائست ټول عناصر

په ځواني کښې سرګند ېږي ـ دنګه لوړه ، سروقده ځواني د ژوند په جمالياتي صحيفه کښې د تعريف او ستائنې لايقه ګڼلې شي ـ په قد قامت خوش رنګه د هر چا په سترګو کښې ښۀ ليدے کيږي ـ صفتونه او ستائنې ئې کيږي ـ داسې ځوان چې ناموسي شي نو په ويرونو او په سندرو دواړو کښې ياد ېږي ـ او کله هم چې دغه وخت ورباندې په تېرېدو راشي نو ځان ته ئې پام شي ـ د تېرو وختونو ارمان ورشي ـ حال ئې زبون شي په دغه حال کښې کله داسې وائي چې :-

په قامت خم په زړۀ زبون شوم
په سترګو ړوند شوم غمزده نارې وهمه

تېر وختونه چې د ځواني وو د مستي وو خپل ځان به ئې په ګوته ښندو ، د سروې صنوبر سيالي به ئې کوله نو چې خپله محبوبا ئې ستائيله نو هم به ئې د هغې د قامت تعريفونه کول او وئيل به ئې چې :-

په رنګ ښائسته په قامت سمې
په زړۀ محکمې لېونې درپسې شومه
قد دې په مثل د الف دے
لکه د دال د غمه کوږ درپسې شومه

يا دا چې :-

قد دې شمشاد تنګ دې د زرکې
رنګ د غنم په شان راوړې رنځور دې کړمه

د دې تن په ساخت پرداخت او جوړخت کښې د هډ هډوکي او د وينې لوئے لاس دے ـ د دې دواړو نه بغېر نه خو وجود شتۀ کېدے شي او نۀ ژوند موندے شي ـ ژوند ټول د عناصرو په اعتدال په ترتيب موقوف دے ـ دوئي چې ترتيب او موومي نو د وجود تخليق ته لاره سمه شي ـ د اردو ژبې يو چکبست شاعر وائي چې :-

زندگی کیا ہے عناصر میں ظہور ترتیب
موت کیا ہے انہی اعضاء کا پریشاں ہونا

دا ترتيب چې قايم شي نو د وينې دوران روان شي هډوکي پيدا شي ـ د وجود په پنجره کښې روح مېشتۀ شي ـ او د ژوند مخه روانه شي ـ چې وينه چلېږي وجود

ژوند ے وي ـ چې وينه کميږي مخونه زيړيږي ـ وينه هم ژوندون د ے هم ښائست د ے ، هم نُور د ے هم سرور د ے ـ هم توان د ے هم طاقت د ے ـ په وينه د وجود گلستان شاداب وي اباد وي ښائسته وي دا د جسم آبياري ده ـ ولې کله داسې هم وي چې :-

په وينو سور کلي ته راشه
د بې ننگۍ اواز دې رامهٔ شه مئينه
رامداد ئې سور په وينو راؤړو
چا وې رامداد د ے چا وې غوښې خرڅوينه
په زړهٔ مې توره وينه ډنډ شوه
د جانان غم پکښې جالۍ شو مړ به شمه
په وينو سرهٔ لاسونه راؤړه
ملک له بدې ورکوه نشته مرگونه
اوس به د وينو سېلاب راشي
پاس په تانه کښې شپږ خانان حلالوينه
په ناوکۍ کښې اوبهٔ نهٔ وې
د مامونۍ د وينو راغلهٔ سېلابونه
ارام د زړهٔ مې پرې نهٔ کيږي
کهٔ مې د سرو سترگو نه وينې تويومه
تن مې فانوس زړهٔ مې ډيوه ده
وينې مې تېل شوې اند ېښنې پرې بلومه

د وجود عمارت په هډوکو ولاړ وي ـ هډوکي د وجود د کوټې د ېوالونه ، ستنې ، لهړي او ښونه دي ـ کهٔ هډوکي نهٔ وي تن به پړومبه وي ـ د ښې توښې به نهٔ وي ، نهٔ به د کار وي نهٔ په کار وي ـ نهٔ به يار وي نهٔ به دلدار وي ـ وجود چې يار وي دا چې دلدار وي ، گل وي گلنار وي په هر چا گران وي ـ د هر چا د کار وي ـ د وجود هره خوبي د هډوکو نه تاؤده ـ هر ښائست ئې په هډوکو راټينگ د ے ـ د حسن اطلاق د وجود په روغمنۍ وي او د وجود د روغمنۍ د هډوکو په توان وي ـ کهٔ څهٔ هم ژوند د هډوکو توان ته لېواله او پامته دار وي ولې چې د دلدار په کار شي

نو دا هم د يار شي ـ او دا چې د يار شي نو د مئين د زړۀ نه دا اواز راپورته شي چې :-

زمـــا هـــډوکي ورلــــه يوســــئ
کـۀ د جانـان پکـار راځـي مېـده دې کړينـه

او کله چې ګيله مند زړۀ د خپل نازولي نګار نۀ ګيلې کوي نو وائي چې :-

ماتــه يــوه کــړي بــل تــه بلــه
جانـان پـه يـو هـډوکي دوه سـپي غولوينـه

کله چې په داسې حال کښې د مئين زړۀ ارمانونه د پوره کېدو نۀ وي ـ او ژوند ورباندې بوج او وجود ئې د هډوکو پنجره شي او د بېلتانۀ قصاب ته حواله شي نو په داسې حال کښې په زبان حال ګويانه شي او ورته وائي چې :-

قصــابه تبــر بــه دې مــات شــي
زمــا هــډوکي بېلتانــۀ اوچ کــړي دينــه
چرتــــه چـــې علـــم حاصـــلېږي
هلتـه بـه خـاورې کړمـه خپـل غوښـې هډونـه

د غسې پوړۍ په پوړۍ د وجود تصوير مکمل شي او د زړۀ په دېوال نقش شي ـ دا محبوب شي ـ معشوق شي ، د حسن پېکر او د ښکلا مظهر شي ـ دا هاغـه د جمال ، جلال او کمال نقش وي کوم چې بې مثلـه مصور پـه دې دنيـا د خپـل فـن شاهکار نمونه ګرځولې ده ـ دا انسـان دے ، اشرف المخلوقات دے ـ خليفة الله دے ـ په احسن تقويم کښې پېدا دے ـ او احسن الخالقين د خپلو اسماء الحسنٰی د صفاتو پـه وافـره برخـه متصـف کـړے دے ـ ځکـه خـو هـم محبـوب دے ، هـم معشوق دے هم دلدار دے او هم نګار دے ـ پـه دې چې انسان دے نو حق لري کۀ څوک دا وائي چې :-

تـــاثير د مــــخ دې غلبـــــه دے
ځکـــه پـــه در دې فرشـــتې سـلام کوينـــه

# معاشرت

پــــه کـــور مـــې مـــهٔ راځـــه جانانـــه
پـه کـور مـې راشـه پکښـې بـل کـه مشـالونه

کور د معاشرتي ژوند هاغه اکائي ده چې خاندان پکښې مېشتهٔ وي .دا ئې لکه چې ورمبۍ زينه ده .د سر پاتکے ئې دے .د کور تعلق د پلار مور او بچو سره وي، کور په دوئي جوړېږي ، هر رنګې چې وي ، هر چرته چې وي .دا په چار ديوارۍ دننه وي يا کهٔ ددې نه بهر وي .محل وي ، مانۍ وي ، جونګړه وي ، يورت وي ، خېمه وي ، کشتۍ وي او کهٔ کېږدۍ وي .خو چې خپل دا ټبر پکښې راټول وي .نو دا کور وي ، ټيکاوے وي ، ارام ګاه وي .ژوند پکښې تېرېږي ، تېرولے شي . د ژوند مېوه پکښې خوړے کيږي .راشه درشه او غم ښادي پکښې کولے شي .مېلمه مېزمه او خويښي دوستي پکښې پاللے شي ..د خپل ژوند او روزګار حاجتونه پکښې راټولېږي هم او سر کيږي هم .د ژوند ابتدا او اغاز د کوره کيږي .صلاح مشوره ، روغه ورانه په کور کيږي .دا د توليد او تهذيب مرکز وي .مطلب دا چې کور د عملي ژوند د لارې سر دے .کور د مينې او وينې نه جوړ وي .هسې خو نهٔ وائي چې د کور خبرې په صحرا نهٔ کيږي .چې دا نهٔ وي کور نهٔ جوړېږي ځکه خو چې په خوند او په قدر ئې ځوک پوهېږي نو هغوي وائي چې :-

يـــا مـــې پـــه دنګـــه ډېـــرۍ کـــور وے
يـــا دې د کـــوره چـــاپېر نـــهٔ وے دېوالونـــه
د کمرګـــــۍ پـــــه ســـــر مـــــې کـــــور دے
زړهٔ مـــې نســـکور دے ديـــدن راؤړه مئينـــه
چـــې کـــور تـــه ګورمـــه کـــور وران شـــو
چـې يـار تـه ګـورم کـور دې لـوټې لـوټې شـينه

خاونـــــده څـــــهٔ کـــــانې را وشـــــوې
یـو مـې یـار بـائیلو بـل مـې کـور د کلـي ځینـه
کـــــور دې زمـــــونږ د کـــــور د لاتـــــدې
د ورایـــه خانـــدې لېـــونے درپسـې شـــومه
تـــهٔ چـــې د کـــور پـــه لـــوري تللـــې
مـــا لاپخـــوا درتـــه ټـــاپو نیـــولے ؤ نـــه
کـــــور دې نـــــزدې کوځـــــه دپاســـــه
وختـي راپاسـه چـې دې مـوږ پـه دیـدن کړمـه
کـــور دې زمـــونږ د کـــور پـــه څنـــګ دے
مـــا ئـــې ملنـــګ کـــړې د دیـــدن لېوالـــه یمـــه
شـــــعار ئـــــې کـــــور کـــــالي ډوډۍ ده
کـور ئـې شـو ګـور ، کـالي کفـن ډوډۍ غمونـه
نـــن بـــه د چـــا پـــه کـــور غوغـــا وي
ببلتـون مـې سـرې سـترګې لیـدو پـه لارې تلونـه
ارمـــــان ارمـــــان د دادا کـــــوره
د ډکـــه شـــکوره بـــه چـــاپېره ګرزېدمـــه
کـــهٔ لـــوئې کـــړم راســـره ښـــائې
یـــو ښائســـته یـم بـــل د لویـــه کـوره یمـــه
د دادا کـــور بـــه غلـــط نـــهٔ کـــړم
د ســـرو ئـــې ســـتني د روپـــو ئـــې دېوالونـــه
نـــهٔ مـــې څـــوک وو نـــهٔ مـــې پکـــار شـــو
د کـــور خځلـــه ؤم ډېـــران تـــه پرېوتمـــه
ســـتا یـــارانې مـــې ســـپیني مـــړې کـــړې
مـــا د خځلـــې ډېـــران کـــور ونښـــلاؤنه
دې میراتیـــــانو تـــــه چـــــا څـــــهٔ وے
چې کور ئې پرېښوؤ پـه صحرا ئـې ځان ژاړهٔ نه

د جانـــان کـــور مـــخ پـــه قبلـــه دے
مـخ مـې قبلـې تـه کـړئ چـې سـاه مـې وخېژينـه
د جانـــان کـــور پـــه نمـــر خاتـــهٔ دے
کـهٔ پـه قبلـه وے مـا بـه نمـونځ ورتـه کاؤنـه
د کـــور پـــه شـــا مـــې رنځـــور پـــروت دے
کـهٔ چـا وريپښـوم پـه ديـدن ئـې جوړومـه
حـــال دې د کـــور راتـــه معلـــوم دے
مـــهٔ کـــوه ماتـــه د شـــړيو صـــفتونه
چـــې زهٔ کـــور نـــهٔ يـــم تـــهٔ رامـــهٔ شـــې
تاتـه بـه لار پـه ښـو ځـوک جـارو کوينـه
چـــــې د مئينـــــو کمـــــے غـــــواړي
پـه کـور ئـې پرېوځـه د جـرمن اړن بمونـه
پـــه مـــا دې وکـــړهٔ پـــه تـــا وشـــه
پـه کـور دې راشـه بـې بارانـه سـېلابونه
پـــه ګـــور مـــې مـــهٔ راځـــه جانانـــه
پـه کـور مـې راشـه پکښـې بـل کـه مشـالونه
پـــه مـــا دې کـــړې ځـــهٔ بـــلا ده
کلـه چـې ستاسـو کـور لـه راشـم وژاړمـه
تـــهٔ چـــې د کـــوره راپســـې وې
کـم عقلـه يـاره غـږ دې ولـې نـهٔ کاؤنـه
خدايـــه ودان کورونـــه ئـــې وران کـــړې
څـوک چـې زمـونږ پـه جـدايۍ خوشـحاله وينـه
خدايـــه ودان کورونـــه ئـــې وران کـــړې
چـــې پـــه مئـــين د کبـــر ژن ګمـــان کوينـــه

هسې خو وائي چې کور کول اسان دي خو اور بلول ګران دي - ولې کور خو ودانې هم غواړي دا کهٔ د ښنستو ګټو وي يا کهٔ د خاورو ختو - کهٔ محل ماڼۍ وي کهٔ جونګړه کېږدۍ وي - د ډېرو دا خواهش وي چې اوچت په ډېرۍ وي - چې هم ورنه

سپل کیږي او هم ورنه ښارنه . د کور ودانۍ چې په دنګه غونډۍ وي او د مینې کور وي کډه پکښې راټوله وي کوڅې ته ئې مخه وي او لاره ئې خپله وي چار دیواري ترې تاؤ وي نو وجود په ارام وي . ولې د کور ودانۍ خو په کور ودانه وي . دا هم د خپل کور اختیارمنه وي او هم ئې محافظه او څوکیداره وي . کور په کورودانه ودان وي . چې دا پکښې نۀ وي نو کور وران وي . کور چې ددې په لاس راټولېږي نو کټوه ، څمڅۍ او کټ پوزي ته حاجت پېښېږي . دا چې راټولېږي کډه ترې جوړېږي . چې کډه په کور وي نو کور په نُور وي ، اباد وي خوشحاله وي، د ارام وي . کور د راحتې وي . خوند رنګ ئې ټول د کورودانې د مخه وي . د هغې سره د نغري د تنور ، د کټوې څمڅۍ ، د ټوکرۍ د کندو ، د تبۍ تبخي او د چج غلبېل فکر وي . کور چې په دې هر څۀ پوره وي نو هغه د فارسي وانو په شان چې :-

آنکس کہ دو وقت نانے دارد
در گوشہ شہر آشیانے دارد
نے خادم کس بودونہ مخدوم کسے
انصاف بکن چہ خوش جہانے دارد

ولې د پښتونخوا د کلو وسېدونکے چې د کمرګۍ په سر د خپل کور نه ټپه لږه کوي نو وائي چې :-

د کمرګــــي پــــه ســــر مــــې کــــور دے
زړۀ مــې نســکور دے دیــدن راؤړه مئینــه

په داسې کور کښې د تن خوشحالي په دیدن وي . او دیدن هله اسان شي چې سړے په کور پوره شي . وارۀ وارۀ د ژوند تېرولو حاجتونه ئې ترسره کیږي . لکه دا چې د کور د کوټې دے خاوند وي . په دې چې کوټه پرده وي ، حجاب وي ، تخلیه وي . دا چې وائي چې د دنیا چارې روا دي خو د خلقو نه په غلا دي . دا حیا ده ، شرم دے حجاب دے . ځکه خو ډېرې دنیاوي چارې پرده غواړي . په پرده کښې کیږي د پردې محتاجې وي . چې په کور کښې کوټه نۀ وي نو کور

نیمګړے وي ـ بیا نۀ پرده وي نۀ حجاب وي ـ کوټه په کور دننه هم وي او پاس په چت هم وي نو کۀ څوک دا وائي چې:-

پــــاس پـــه کوټـــه کتﯚنـــه ډېـــر دي
بنګـړو لـه شـړنګ ورکـه چـې اودې پېژنمـه
تــا پـــه کوټـــه کښـــې اخ ټـــوخے کـــړو
مـــا پـــه کوټـــه کښـــې ډینجقـــي اوښـــلاؤنه
پـــه کوټـــه رو ځـــه پښـــې دې پرېوځـــه
ستا د قـدم لانـدې مـې زړۀ دے اوبـه چوینـه
خاونـــده ماشـــي پـــرې لګيـــا کـــړې
چـې سـنبال کـړے کـټ کـوټې تـه خېژوینـه
د کـــوټې تیـــر رابانـــدې پـــروت دے
رابانـدې نـۀ وي د نـامړد سـړي لاسـونه
تـــۀ د کـــوټې د مخـــه راشـــه
د څوارلسـم غـوړګي د لانـدې ملاسـته یمـه
پـــه کوټـــه غلـــے غلـــے راشـــه
زۀ به په کټ کښې ستا پـه طمعـه ناسـته یمـه

د کور بورجل ، چنه چاردیواري چې مضبوط وي او محفوظ وي نو نۀ بیا د غـل غدو ئې ویره وي او نۀ د تربور دشمن بلوسه وربانديې کېدے شي ـ د کور خاوند بې غمه ژوند تېروي ـ خوب خوارۀ ئې د ارام وي ـ دا د هر چا ارمان وي ځکه ئې زړۀ هم دا غواړي چې دا دې اباد وي ـ کۀ داسې نۀ وي نو بیا به وائي چې :-

بورجـــل دې ؤ تـــۀ پکښـــې نـــۀ وې
مـا دې خـالي بورجـل تـه وکـړۀ سـلامونه
جانـــان د لـــوئے ســـفر رهـــي شـــو
زۀ بـه ئـې کومـه تـش بورجـل تـه سـلامونه

بورجلونه د محلونو او ماڼو هم وي او د خوارۍ نیستۍ د کورونو کنډرو هم وي ـ څوک چې دې ته فکر کوي نو د کوز او د پاس دا امتیازي زور ئې خفه کوي ئې ،

هم ئې کړوي او هم ئې ژړوي ، هم ئې دا احتجاج د زړهٔ د ازار په صورت کښې رامخ ته کيږي چې وائي چې :-

سپينې ماښې دې شه نسکورې
په مونږه ښاخي پخواني کچه ښپرونه
لورې ماښې دې کندوالې شه
زما ياد يږي د کېږدې يخ شمالونه

کور کهٔ ماڼۍ وي کهٔ جونګړه ولې بې بامه به نهٔ وي ـ بام به لري ـ د کور بنديان به ورته خېژي کوزيږي ـ هم به ترې سېل کوي هم څارنه او ددې دپاره به په بام ودريږي هم ـ په داسې حال کښې چې کله څوک پې مخې ګل رنګې او ګل څوکې محبوبا په بام ولاړه د چا شاعر مزاجه څارونکي په نظر شي نو حتماً به دا وائي چې :-

تهٔ چې په بام باندې ولاړه وې تا چاته کتل
خلق زما په ننداره وو چې ما تاته کتل

بيا نو په داسې حال کښې چې ټول ماحول سندرئيز شوے وي کهٔ څوک دا وائي نو حق به لري چې :-

په سترګو رونډ شي راته ګوره
په سرو جامو کښې پاس په بام ولاړه يمه
په بام ولاړې هوا دارې
مرګے دې هېر دے په اوربل وهې لاسونه
په بام دې هسکه ټيټه کيږي
د زنې خال دې په پرچال وسولاؤنه
په کوځه تېر شوې بيا راتېر شوې
نصيب دې نهٔ وو زهٔ په بام ولاړه وومه

د بام يو سر په بلې هم تماميږي ـ هسې خو دا چارچاپېره وي ـ څهٔ د کوڅې بلې وي څهٔ د ګاونډ ولې کومه بلې چې د کور دالان ته مخامخ وي هغې ته د هر چا پام وي ـ د هر چا پرې نظر وي ـ هر څوک ورته کتے شي او ګوري ورته ـ دې ته پوړۍ ، اندرپايه لګېدلې وي ـ تلهٔ راتلهٔ ورباندې کېدے شي ـ د بلې نه ليدهٔ هم کيږي او

پناه کېدے تري هم شي ـ دا چې وائي چې ,, هلکه بلی مۀ نړوه لیدے مې نۀ شي، زۀ پناه ولاړه یمه ،، دا هم د داسې کېفیت اظهار وي ـ اوس نو کۀ د کور د مخې بلی ته دا امتیاز حاصل دے چې د کور سره رابطه وربانديٍ قائمېدے شي نو کۀ څوک دا ووائي چې :-

پــــه لـــــی غلــــے غلــــے راشــــه
د څوارلسم غـوړکي د لانـدې ملاسـته یمـه
پــه ســـترګو ړونــد شـــي راتــــه ګـــوره
پــه خپــل کالــۀ پــاس پــه بلــی ولاړه یمــه
پــــه بلـــــی مـــــۀ ژاړه کاســــیرې
د کشــمالو څــوکې دې یــار رودلــي دینــه

نو دا به د فطرت تقاضا هم وي او د میني تاؤنه هم ـ دا د خپلې مور زورنه هم کېدے شي او د کور څارنه هم ـ په بلی د کور لاره خو نۀ وي ـ د کور لاره په دروازه وي ، کوټې ته هم واتۀ ننواتۀ په دروازه کیږي ـ هسې خو د کور د چار دیوارۍ شا ټوله په چنه حسابېږي ولې کومه چنه چې ور طرف ته وي هغې ته ورچنه وائي ـ ځکه خو کله چې چاته څوک د بهرنه اواز وکړي نو وائي چې ورچنې را اوځه په دغه ور کور ته د وتو ننوتو لاره وي ـ دا دروازه وي ـ د کور نه د دروازې پورې جلب کول د کور خاوند له پکار وي ځکه نو کۀ څوک دا وائي چې :-

تـــــر دروازې بــــــه درســـــــره یــــــم
پــه اخــوا ځــه الله دې مــل شــه مســافره
د دروازې ســـــــــړیه څــــــــوک ئــــــــې
زۀ آدم خـــان د درخـــانۍ ســـلام لـــه ځمـــه
پېـزوان مــې ســتا برېتــو کښــې بنــد شــو
د دروازې پـــورې بنـــدي درســـره تلمـــه

دروازې په درشل پورې وے ـ د پوخ دېوال او د ورۀ د لارې بېلتون په درشل کولے شي ـ دغه حال د کور د کوټې هم وي ـ نو کله هم د کور درشل چې په داسې وخت کښې د چا د مئین سترګو ته شي چې معشوقه ئې وربانديٍ رابهر کیږي نو په داسې حال کښې ددۀ زړۀ دا غواړي چې د وجود د ټول لوړ ژور خوندونه ئې

واخلي او ځان ورباندې خوشحاله کړي ځکه خو ورته څۀ دا رنګې سوال هم کوي چې :-

لاس پـــــه ولاړه درشــــــل کېــــــږده
چـې تماشـې دې د بـاغچې سـینې کومـه

د کور پرده په دېوالونو وي ۔دېوالونه د کور نه تاؤ وي ځکه نو دا کۀ یو پلو د حفاظت، پردې او حجاب کار ورکوي ۔نو بل پله جدائي ، بېلتون ، فاصلې او لرې والے هم راولي ۔دا چې وائي چې څۀ د غرۀ پنا څۀ د دېوالۀ پنا دا هم دغه کېفیت پله اشاره وي چې د کور چار دیواري د بېلتانۀ علامت وي ۔په ورۀ لاره کور ته ورځي او ورونه په دېوال کښې لګېدلي وي ۔ځکه نو د غر او د ور پنائي وي یا کۀ د غر او دېوال پنائي دواړه یو برابر وي ۔ولې سره ددې د مینې او رومان رنګ آمیزي دېوالونه ښائسته کوي هم او نړوي ئې هم ۔بیا کله چې څۀ داسې نوبت راځي نو دې وینا ؤته هم خولۀ جوړېږي چې :-

پـــه دېـــوال هســـکه شـــه خولـــۀ راکـــه
مـــور تـــه دې وایـــه چـــې سـپیاکې اړومـــه
چـــې راپـــه یـــاد شـــې خپلـــه یـــاره
دېـوال تـه مـخ کـړم زړۀ تـه کېـږدم زنګنونـه
دېـــوال ســـورے کـــه کـــوکۍ راکـــه
مـــور تـــه دې وایـــه چـــې لـــړ چیچلــې یمـــه
لــــــږه ئـــــــې رو رو وړه ښاروانـــــــه
د دېوالـۀ خـوا کښـې ئـې یـار سلګۍ وهینـه
دېـوال چـې ړنـګ شـي بیـا بـه جـوړ شـي
ښنګـه بـه جـوړ شـي د زخمـي زړۀ پرهرونـه
پـــه دېـــوال غنـــې راتـــه مـــۀ ږده
د شـــرمخانو لارې چـــا نیـــولي دینـــه
پـــه دېـــوال غنـــې راتـــه مـــۀ ږده
زۀ بـه درواؤړم سـتا خـواري بـه لاهـو شـینه

اخــــر بـــه ځـــان پـــه چـــا حـــلال کـــړې
پـــه لارې ځـــې غـــاړه دې ږدې پـــه د ېوالونـــه

په کـور دننه د غـم ښـادۍ ګڼه ګوره پـه غـولي ، دالان راټـولېږي ـ مېلمانـهٔ پکښـې عذر کېږي ـ دا په اوړي ژمي پکارېږي ـ د اوړي شپه او د ژمي غارمه پـه دالان وي ـ ډېر کارونه چې د نمر په رڼا کښې د کولو وي بهر په غـولي کښـې کـولے شي ـ نمر نعمت دے ـ دا نعمت د کور د دالان په برخه دے ـ پـه کـور کښـې کـهٔ څـهٔ اونـه بـوټے نـالیږي د هغـوي ځـائے دالان وي ـ کلـه خـو دا چمـن وي او کلـه پکښـې د ګلونـو کیارۍ وي ـ کهٔ اوبهٔ د کوره وي نو کوهے په دالان کښې وي ـ ځکه ئې په هر جوړ پـه کور کښې حاجت ضرورت وي ـ ددې ضرورت د مخه نظر انداز کېدے نـهٔ شـي ډېر خوښولے شي او چې خوښېږي نو ستـائیلے کیـږي او یـادولے کیـږي هـم ـ داسـې چې :-

غـــولے جـــارو کټونـــه ســـم کـــړئ
ســپیني لمنـــې اېریـــدۍ راغلـــې دینـــه
غـــولے جـــارو چراغـــان وکـــړئ
د ســوات د ســره مېلمنـــې راغلـــې دینـــه
ځلـــور کـــوټې ځلـــور دالانـــه
د صحبت خان ویر ئې پـه سرو غرمـو کوؤنه
بـــاران ورېـــږي غـــولے ډنـــډ شـــو
قـــدم زمـــا پـــه قـــدم ږده راځـــه دننـــه

بهـر د کـور کوڅـه لاړ پلـه وي ـ تلـهٔ راتلـهٔ وربانـدې کیـږي ـ د غـم ښـادۍ او د کـور کېدلے هره ښهٔ بده پرې سر کـولے شي ـ خلق پرې تېرېږي ، روغ رنځـور ، تپـوس پوښتنه ، واښهٔ ګیا ، څاروي بارونه ، غله دانه ، ښهٔ بـده او خـوارهٔ څښـهٔ د کـور پـه کوڅه کور ته راؤړے کیږي ـ ځکه د کور او کوڅې یو تر بله مستقله او پخه رابطـه وي ـ دغې رابطې په هر رنګ کښې د کور د خلقـو ژونـد پـه ځـان پـورې تـتې کـړے وي ـ د وتو ، ننوتو ، تښتېدو راتښتېدو ، منډې ترړې ، کـار روزګـار ټولـه مخـه کوڅې ته وي ـ ځکه خو په رومان او داستان او په ټپو سندرو کښې هم کوڅه ډېره ډېره یادېږي ـ چې مینه راشي نو د لېلٰی د کوڅې سپے هم قدرمن شي او چې کینـه

زور شي نو هر فقير د کوڅې د سپو دشمن شي ـ دا ډرامه تل روانه وي ـ په کوڅه کښې ډېرې روغې ، ورانې پېښېږي ـ ژوند په دې غورزو پرزو کښې په کور کوڅه کښې تېرېږي ـ کوڅه هم د رحمت لاره وي هم د زحمت ـ دواړه ورباندې د کور په دروازه دننه بهر کيږي ـ هسې خو وائي چې کور ته خوشحالي په دروازه راځي او غم په دېوالهٔ ـ ولې دا دواړه هم په کوڅه راتېرېږي ـ ځکه خو دا په يو وخت کښې هم د چا نه نهٔ هېرېږي ـ يادوي ئې ، ستائي ئې او غندي ئې لکه :-

په کوڅه تېر شوې بيا راتېر شوې
يا دې څهٔ ورک دي يا دې زهٔ ليدلې يمه
مړ مې د يار په کوڅه يوسئ
چې نور زما په رنګې نهٔ ازارويـنه
ما مالکونډي کرلي نهٔ دي
جانان زمونږ کوڅې له ولې نهٔ راځينه
په کوڅه تېر شوې بيا راتېر شوې
نصيب د نهٔ وو زهٔ په بام ولاړه وومه
لارې کوڅې درته بندې شوې
ياره ښامار شه په بلې راشه مئينه
خلق به وائي چې اودهٔ دے
ما به د يار کوڅه کښې ځان وژلے وينه
کوڅې له راشه اواز وکړه
خېر راؤړه خدائيګو ياره زهٔ د لوږې مرمه
تا په کوڅه کښې اخ تهوخے کړو
کندول په لاس منګې ته تړې ودرېدمه
تهٔ په کوڅه راښکاره مهٔ شې
رېږه شانه او برېت دې ور لرې کوينه
په کوڅه تېر شوې بيا راتېر شوې
لار دې ژوره کړه اوبهٔ راستنوينه

پــه کوڅــه تېــر شــوې بيــا راتېــر شــوې
د دلــه زويــه ستا نــه څــۀ ورک شــوي دينــه
څــوک چــې د يــار کــوڅې لــه لاړ شــي
مناســب نــۀ دي چــې خفــه ورنــه راځينــه
کـــــور دې نـــــزدې کوڅـــــه دې لـــــرې
دېـوال دې پرېوځـه چې وېرېـا شـي ديدنونـه
پــه کوڅــه راغلــې مــخ دې پــټ کــړو
د دلـــه لـــورې زۀ دې پونـــدې پېژنمـــه

د کوڅې نه چې سړک ته شي نو مخه ازاده شي .لاره ئې خپله شي چې کوم خوا تـه ئې مخه وي هغې خوا تـه ئې تګ شي . هره سورلۍ چې وي ورسورېږي پکښـې ځکه خو د سړک دا يون لا په دې ټولنه سم راست نۀ دے او داسې غندنه ئې هم کيږي . چې :-

پـــــه جرنيلـــــې ســـــړک روانـــــه
لکــه د مېښــې پرشــېده ډډې تــه شــومه

په کور دننه د ضرورت سامان ته کډه وائـي . بغېر د کډې کور جومـات ښـکاري . ځکه نو بايد چې دا په کټ پوزي بړستن تولاتي پوره وي . کټوې ځمڅۍ ئې برابر وي ، کندو نغري پکښې جوړ وي . د خوندي کولو او پخولو سمام ئې سم ؤ . چې کور وي نو اور به هم وي . هسې خو نۀ وائي چې کـور کـول اسـان دي خو اور بلـول ګران دي . په کور کښې د اور اهتمام او انصرام محنت او خواري غـواړي . تبۍ ، تنور ، شکور او سکور ، چراغ او مشال ، لرګي او لوګي ، نغري او مجمر ، پخلے او خمبير ټول اور غواړي . کور ته د تنور هم حاجت وي په اور هر پخکړے پخېږي او تـودولے کيـږي . ددې اهتمـام د کـور پـه نغـري او تنـارۀ بانـدې کيـږي او تنـور او نغرے د اوره بغېر نۀ تودېږي . دا ابۍ چې د تبۍ سره يادېږي يا دا چې وائـي چـې د تبۍ سر ته دې خبر وي نو دا ځکه چې ډوډۍ پخول تود تنور ، توده تبۍ او تـود تبخے او د ابۍ لاسونه غواړي . پخلے کۀ په کټوۍ کښې وي کـۀ پـه دېګچې کښې وي کۀ سماوار تودول وي يا کۀ چائې جوش ټولو ته د نغري حاجت وي . چې نغـري نۀ وي اور ماتره وي چې نۀ پـه کـور کښـې لـوګے وي نـۀ لمبـه وي نـو کـور هـم سـوړ

سمغ وي ـ دا هر څۀ چې کور ئې غواړي نو کۀ څوک ژاړي او کۀ خاندي پېدا ګير ئې لازم وي ـ دا ټول تګ و دوؤ منډه تړه او محنت مشقت چې څوک کوي د تود نغري د خاطره ئې کوي ـ بيا کله چې اوزګار وي نو په زړۀ کښې ئې څۀ داسې تېرېږي او شونډېو له ئې هم کله کله دا خبرې راځي چې :-

پــــه تـــورو بــــد مــــۀ وايــــئ خلقــــه
تـــوره تبـــې وي ډوډې ســـپيني پخوينـــه
تبـــې راواخلـــئ مـــخ مـــې تـــور کـــړئ
چـــې د ناکســـو اشـــنائي مـــې قبلولـــه
تبـــې راواخلـــئ مـــخ مـــې تـــور کـــړئ
چې په بې نيـازو پسې تلم ستومانه شومه
مـــوزيګي ښـــۀ دي بـــد خـــو نـــۀ دي
چې تنور تـود کړم قلپـي ګـې رالـه راؤړينه
زړۀ مـــې د يـــار پـــه غـــم کښـــې ســـوزي
ســر پــوخ تنــور د ے غرغــرې وهــي مئينــه
د تنـــــــارۀ لمبـــــــه کـــــــړه شـــــــوه
د شـــاه ئـــې وســـول د کـــړو زلفـــو ســـرونه
پــــــــه تنــــــــارۀ پــــــــورې ولاړه
لالــے مــې تلــے د ے ســابۀ رالــه راؤړينــه
د مـــــامونې د مـــــرګ اواز شـــــو
جينکــو پرېښــودې قلپــې پــه تنورونــه
پــــه ســــره غرمــــه دې تنــــور تــــود کــــړو
شينکي خالونه دې خولو کښې غوپه خورينه
پــــــــه تنــــــــارۀ ولاړې پېغلــــــــې
ډوډې دې نـۀ خــورم د ديــدن اوږے دې يمــه
ارمـــــان ارمـــــان د دادا کـــــوره
د ډکــه شــکوره بــه چــاپېره ګرزېدمــه

دا زۀ چې تور لکه د سکور شوم
د تورو سترګو په انګار ختلے یمه
سبر سپېلني ورته لوګے که
زیارت له تلې چا به ئې مخ لیدلے وینه
مخلوقه حال مې د مجمر شو
پټ په شکم کښې جانان شنه لوخړه کړمه
چراغه بلې لمبې اوکه
د بېلتانۀ په بالخت خوب درته کومه
چراغ ته ګورم راپه یاد شې
خولۀ مې خندا ته جوړوم په ژړا شمه
چراغ جانان زما یاد ېږي
هره ګړی ئې په خپل زړۀ کښې یادومه
چراغ چې بل شي بیا به مړ شي
زړۀ چې مئین شي همېشه لمبې وهینه
چراغ مې مړ تېل مې تمام شو
د یار قلم مې په تیارۀ کښې پاتې شونه
چراغه بلې لمبې اوکه
ورستې دیدن دے بیا به نۀ وي دیدنونه
چراغ د حسن دې رڼا که
چې شبیني زلفې تار تار دې اووینمه
چراغ د حسن دې تابان که
ستا علت منې سترګې نۀ وائي حالونه
دشمن به خوا رایخه نۀ کړي
کۀ زۀ شاخېله شم چچونه خرخومه
ډیوې به بلې د وفا کړم
چې عاشقان وربانډې لار معلومونه

تـــن مـــې فـــانوس زړهٔ مـــې ډيـــوه ده
وينـې مـې تېـل شـوې اند ښتـنې پـرې بلومـه
ولـــې دې بلـــه ډيـــوه مـــړه کـــړه
اوس بــه طوطيـان بلبلـې ګـډې وډې شـينه
ډيـــوه کـــړه بلـــه چـــې رڼـــا شـــي
زمـونږ دسـتور دے پـه رڼـا خولـهٔ درکومـه
اشـــــنا رانغـــــے ســـــحر کيـــــږي
د تـورې شـپې پـه ډيـوه پرېوتـل ګردونـه
زمـــا جانـــان داســـې ښائســـته دے
لکــه مشــال د نيمــې شــپې رڼــا کوينــه
پـــه ګـــور مـــې مـــهٔ رائـــه جانانـــه
پـه کـور مـې راشـه پکښـې بـل کـه مشـالونه

څهٔ رنګ چې په کور کښې د کټوی ، نغرې د ضروریاتو پوره کول اهمیت لري دغه شان ئې د کټ پوزي حاجتونه سرته رسول هم لاژم وي . د کټ پوزي په حساب کښې د کور د کډې زیاته برخه وي . په دې کښې څهٔ خو د هرې ورځې د استعمال وي او څهٔ پکښې وخت په وخت پکار ېږي . څهٔ د غم ښادی وي او څهٔ د اوړي ژمي د بېل بېل موسم د استعمال وي . په دوئي کښې ځینې ضروري څیزونه لکه کټ کټکے یا پالنګ پېړی ، بالخت متکه ، بړستن تولاڼي ، بستره ، منګے او مېچن یا بغری داسې ضروري څیزونه دي چې په کور کښې وخت بې وخته پکارېږي . څهٔ رنګ چې د دوئي راتولول او پیدا کول ضروري وي دغسې ئې خوندي کول او په خپل وخت استعمالول هم پکار وي . سړے چې په کور پوره وي نو بې غمه وي په دې چې د چا نه په غوښتلو یا په سوال کولو خو کار نهٔ کیږي . دا ده چې په وخت د ضرورت کهٔ څهٔ نیمګړتیا محسوس شي نو د ښې ټبرداری ، عزیز ولی او ګاونډ ګیری دا تقاضا وي چې د یو بـل سره په داسې موقع لاس وکړي . دا چې وائي چې خبره د خدائے دپاره او ډانګ لوړ د ورور عزیز دپاره . دا هم په داسې موقعو وئیلې کیږي بیا ګاونډي هم په ګاونډي پړ وي . ښهٔ ګاونډ ګیري د الله پاک رحمت دے . د ګاونډي حق منل په هر چا لاژم دي . هغه چې وائي چې زهٔ ستا دارو

او تهٔ زما دارو نو مطلب ئې دا وي چې د يو بل به وخت بې وختـه پکار يږو ـ د يـو بل امداد او اعانت به کوؤ ـ د ضرورت په وخت کښې به د يو بـل سره لاس نسيا هم کوؤ او په ښهٔ بده کښې به د يو بل سره اودريږو هم ـ دا د ګاونډ ګيرئ تقاضې دي چې پوره کول غواړي ـ ځکه نو کهٔ د ضرورت په وخت په کـوم کـور کښې د څهٔ شي حاجت شي او دغه وخت د چا نه عاريتاً واخېستے شي نو عېب پکښې نهٔ وي د کـور کارونـه پـه دې جـوړ چليږي ـ د هـر اسماني مـذهب هم دا تعليم د ے چې ګاونډي په ګاونډي پـړ د ے ـ د ځـان پـه شـان مينـه ورسره کـول غـواړي ـ چې کـور ودان وي او قلاره قلاري وي نو زړهٔ تـه سـکون حاصـل وي ـ ډېرې خبرې پـه داسـې حال کښې سرې ته رامخ ته کيږي دا کله د خوند وي او کله د ارمان وي په دې چې په کور کښې دواړه پېښـيږي ، اوريـد ے کيـږي او ليـد ے کيـږي ـ پـه داسـې خبـرو کښې د کټ پوزي ذکر هم کولے شي لکه چې وائي :-

تــهٔ چــې راځــې مــا بــه خبــر کــړې
چـې پـه پالنـګ لاچـې لونـګ اوغـوړومـه
پــه ســور پالنــګ را ســره کښــېنه
په سور پالنـګ کښې دوه مئين خوشحاله وينـه
د جينکــو نــه ســختې نيشــته
چې پـه پـردي پالنـګ کښې مـات کـړي زنګنونـه
د مســافرو بــه څــهٔ حــال وي
نهٔ بـه ډوډئ وي نهٔ بـه ئې خوب پـه پالنـګ وينـه
پــه ســور پالنــګ بــه دې درخيــژم
کهٔ چا پـرې مـړ کـړم پـه پالنـګ بـه شـهيد شـمه
تـهٔ بـه پـه سـور پالنـګ کښـې خـوب کـړې
زهٔ کلکــې تيــږې مــې د ســر لانــدې کومــه
ځــان مــې پــه خپلــه يــار تــه ســپک کــړو
ســم د مابنــامه ئــې پالنــګ تــه اوختمــه
پالنــګ ئــې پــاس پــه لــوړه کېــږدئ
چــې د تــاڼې خانخېـل ئـې عـذر لـه راځينـه

پالنګ کټ وي او کټ د دمې ، ارام کولو ناستې، سملاستو او خوب کولو دپاره وي ـ کټ کور حجرې دواړو له ډېر ضروري دے ـ په کوټه کښې وي کۀ پاس په کوټه وي يا کۀ بهر په غولي کښې ـ دا په غرمو او په سوري دواړو کښې پکارېږي وينه او خوب وي کۀ خبرې اترې وي ـ جرګه مرکه وي ، روغ رنځور وي ، توليد تولد وي ، غم وي ښادي وي يا کۀ خواږۀ ښنۀ وي ټول په کټ کښې کيږي ـ ځکه نو کټ کټکي کمے زياتے په کور دننه هر څوک محسوسوي د هر چا ورته خيال وي او د هر چا ورباندې نظر وي ـ د کور د مېرمن د خپل کور په ضروورياتو کښې د هر څۀ نه وړمبے د کټ پوزي حاجت ترسره کولو ته خيال وي ددې دپاره چې څوک ورپورې دا اونۀ وائي چې نۀ ئې پالنګ نۀ ئې پېړۍ پکې په څۀ شوه قيمتي ـ د کټ پوزي دې ضرورت او اهميت په فولکلوري سندرو هم ډېرې اغېزې کړي دي ـ د کټ پالنګ ناسته پاسته دکور د راحتې او ارام حصه وي ځکه هم يادېږي هم خونبيږي او هم داسې ستائيلے کيږي لکه چې وائي :-

والله کۀ کټ کښې درته کښېنم<br>
کۀ دې ګولې په شا خوړلې وه مئينه<br>
په کټ کښې سپينه سپينه اوړي<br>
لکه د ډنډ مهے نيوۀ نۀ راکوينه<br>
په کټ کښې سمه شه ځائے راکه<br>
زۀ د ډيوټۍ نه په چتۍ راغلے يمه<br>
په کټ کښې سپينه سپينه اوړي<br>
د واؤرو غونډه پشکال له دې ساتينه<br>
کټ مې د پښو نه اواز وکړو<br>
چې يار دې نشته په ما مۀ کوه خوبونه<br>
په کټ کښې سپينه سپينه اوړي<br>
زما د سترګو نه دې خوب اوتښتاؤنه<br>
کټونه سم کړئ په حجره کښې<br>
د زلمو ډله به مجلس درته کوينه

زمــــا پــــه برخــــه کښــــې کټــــه ده
د کټ بــازو ورتــه پــه ډانــګ بانــدې وهمــه
راشــــه پــــه کــــټ راســــره کښــــېنه
پــه صــراحې غــاړه مــې واچــوه لاســونه
دا تــــه چــــې بــــې زمــــا خملــــې
کټ دې ښامار شه چې دې خوب تـه نـه پرېږدينه
چــې دوه يــاران پــه کــټ کښــې ناســت وي
پيارمه پرې سسته کړئ چې لاندې باندې شينه
پــه کــټ کښــې پروکــې پروکــې پــروت يــم
پــه بازوګــانو راتــه ناســت دي ســتا غمونــه
پــــه کــــټ مــــې زيــــړ ګــــلاب پراتــــه دي
زه ووم د خوبــــه ګــــلان چــــا راوړي دينــــه
کــــټ ئــــې پــــه لــــوړه غونــــډۍ کېــــږدئ
ورې ورې خــــانخېلې ســــتر ماتوينــــه
بــــې د جانانــــه پــــه ســــور کــــټ کښــــې
لکه چې ځائے مې د دوزخ پـه مېنځ کښې وينه
قمــيص ئــې تــور دے ګــل پــرې ســور دے
د بنګــړو شــور دے کــټ کــوټې خيژوينــه
پــــه کوټــــه غلــــے غلــــے راشــــه
زه بـه پـه کـټ کښـې سـتا پـه طمـع ناسـته يمـه
پــه کــټ کښــې پــروت يــم خــوب مــې نشــته
چــــې د اشــــناخبرې مخــــې تــــه راځينــــه
پــه کــټ کښــې چــق شــې راتــه کښــينې
الله دې خــاورې کــه ځپــر ځپــر غوږونــه
پــه کــټ کښــې دوه ګــوتې ځــائے راکــه
لکــــه لــــړم پــــه دېوالــــه ختــــلے يمــــه

پــــه کــــټ کښــــي کښــــېنم انتظـــــار کــــړم
چـــې د راتلـــو نېټـــه دې راشـــي ټبـــره شـــينه
تـــا چـــې پـــه کـــټ کښـــې راتـــه شـــاه کـــړه
زۀ دې د پـــــلار د کـــــوره څلــــه راوســــتمه
تـــۀ چـــې بغېـــر زمـــا نـــه خـــوب کـــړې
کټ دې سور اور شه چې تا خوب ته نۀ پرېږدينه
چـــې ماســـخوتن شـــي زړۀ مـــې تنـــګ شـــي
کـټ جنـازه شـي غـم مـې خـوب تـه نۀ پرېږدينـه
څــــۀ شــــي کــــۀ ناســــته مــــې دلــــې ده
ارواح مــې ســتا پــه کــټ منګــولې لګوينــه
ورشــــــــئ شــــــــلېدلې کــــــــټ اوګــــــــورئ
د ببلتانـــۀ د چـــړو غـــوځ بـــه پکښـــې وينـــه
صـــــورت مـــــې خپـــــل کـــــټ کښـــــې اودۀ دے
ارواح مــې ســتا پــه کــټ منګــولې لګوينــه
پــــــه بســــــم الله کــــــټ تــــــه ورخېــــــژې
د پېغلـې کـټ د چلغـوزو دے مـات بـه شـين
خاونــــده ماشــــې پــــرې لګيــــا کــــړې
چـې سـنبال کـړے کـټ کـوټې تـه خېژوينـه
مــــــوزې د کــــــټ د ختــــــو نــــــۀ دے
د کـټ پـه خـوا کښـې راتـه سـپو او خـرړاؤ نـه
مــــــوزې د کــــــټ د ختــــــو نــــــۀ دے
پــه نيمــه شــپه انــدر پايــه راؤړم د کومــه
مــــــوزې د کــــــټ د ختــــــو نــــــۀ دے
انــدر پايــه بــه د ورخــاړې ورتــه ږدمــه
ښېــــــتنه بيــــــا دې ماســــــخوتن کــــــړو
د ګلــو لښــتې د موزيــانو کــټ لــه ځينــه

د کټ په دې اهمیت هر څوک خبر دي ـ کور په کټ کور کیږي ـ دا کهٔ په دالان کښې وي او کهٔ په کوټه منډو کښې ـ ډېر سهولت ئې وي ـ هسې خو ټول کټونه په یو رنګ وي ولې د کور او د حجرې د کټونو استعمال یو شان نه وي ـ د حجرې کټونه تش د نارینه ؤ په استعمال کښې راځي ولې د کور کټونه د ښځو او نرو او لویو وړو د هر چا دپاره وي ـ وادهٔ نا وادهٔ ، پېغلې زلمي ، بوډۍ ګانې او بوډاګان او د کور وارهٔ د کور د کټونو خوندونه اخېتسے شي ـ هم پکښې کښېني هم پکښې څملي او هم پکښې لوبې کوي ـ ولې کوم چې ډېر ماشومان وي د هغوي دپاره زانګو پکاریږي ـ په دې چې ماشوم ته د ارام ډېر ضرورت وي ـ او تنکے وجود ئې ارام غواړي ـ خوب ته لېواله وي ـ چې مور ئې په کار وي د ے په زانګو کښې ورته خوب کوي هغه د چا په شان چې :-

لـــوئے خـــو دې زوګ یـــا روغـــه کانـــدي
زهٔ پـــاک ماشـــوم خـــو د ارام لېوالـــه یمـــه

د ماشوم د ارام ځائے یا خو د مور غېږ وي یا زانګو وي ـ چې د ے پکښې پروت وي هم پکښې زانګولے شي هم پکښې اودهٔ کولے شي ـ دا چې وائي چې زانګو دویمه مور وي دا د زانګو د اهمیت دلیل د ے ـ

دا عاشـــــــقي د غـــــــم زانګـــــــو ده
پــه چــا زنګېــږي پــه چــا اوشــلوي لړونــه
د پـــــلار زانګـــــو مـــــې زنګولـــــه
په دې کښې غږ شو چې نیکهٔ مې پېدا شونه

په کټ کښې د ډډې وهلو د سر کېښولو او ارام او دمې کولو دپاره د هرڅهٔ نه وړمے د بالخت متکې ضرورت وي ـ په بالخت سر دمه کیږي ـ ارام ورباندې کیږي ـ د سترې وجود د دمې ځائے بالخت وي ـ دا هم ارام د ے هم عزت د ے هم درناوے د ے ـ بالختونه په رنګ رنګ وي ـ دا سپک هم وي او درانهٔ هم وي ـ څهٔ د چېرړو وړې یا بډګووې ځینې د پرو بڼو یا د رېښمو وي ـ اوس لاد پولیسټرو او د هوا یا اوبو ډک بالختونه هم جوړیږي ـ څوک خپل څادر ځان ته بالخت کوي او څوک د یار څنګل ولې د مسافرو په برخه کښې بالخت یا د ګټې وي یا د لوټې ـ

دا د قدرت نظام دے هم دغسې چلېږي ـ کور په صحرا او په حجره دېره هر چرته بالخت پکارېږي ـ ځکه خو وائي چې :-

بالخـــت د کـــوره ځـــان لـــه راوړه
مړوند مې خپـل دے نور ئې نۀ درلانـدې ږدمـه
مـــا ســره ســر پـــه بالخـــت کېـــږده
زمـــا پـــه غـــوږو بـــادرۍ چیچـــل کوینـــه
زمـــا د پـــلار دېـــرې لـــه راشـــه
چـــې درتـــه کېـــږدې د رېښـــمو بالختونـــه
چـــې ښـــکته ځـــې پـــه لېلـــی ورشـــه
لېلـــی جـــوړ کـــړې دې د پـــرو بالختونـــه
ســـر د ســـادین پـــه لوټـــه کېـــږده
پـــردے وطـــن دے پکښـــې نشـــته بالختونـــه
د ســـر نـــه لوټـــه کـــړه د لاتـــدې
مســـافر نـــۀ غـــواړې د پـــرو بالختونـــه
چراغـــــه بلـــــې لمبـــــې اوکـــــه
د بېلتانـــۀ پـــه بالخـــت خـــوب درتـــه کومـــه

د دنیا دا نظام به هم داسې روان وي د چا سر ته د چېړو چاته د مالوچو د چا په برخه د پرو بالختونه وي ـ شوک د یار په ځنګل خوبونه کوي ـ او د چا په برخه یا ګټه وي یا د سادین لوټه ـ په هر حال ستړے سر دمه کول غواړي ـ او دمه په بالخت کیږي ـ
وخت چې تېرېږي نو اوړے ژمے هم پکښې راځي ـ حاجتونه او ضروریات هم بدلېږي رابدلېږي ـ چې اوړے وي تش په خادر کښې هم ګذاره کیږي ولې چې ژمے شي نو خلق د بړستن او شیرک محتاج شي ـ وجود تودیدۀ غواړي ـ خوب بې بړستنې نۀکیږي ـ چرته زول باران وي چرته واوړې ورېږي ـ چې یخنې سېوا کیږي نو تود ځان پکارېږي ـ ځکه نو پوستین ، شړۍ وړۍ ، سندلۍ او بړستن ، شیرک هم غوښتے کیږي ـ هوښیارانو خۀ د کار خبره کړې ده ـ چې جېټ هاړ دننه ، ساوڼ باردو په اونه ، اسو کتک په غنه ، دې نورو له لمبه ، تنبه ، خمبه او پنبه ـ مطلب

دا چې ژمے په پنبه تودېږي او سندلۍ ، شیرک او بړستن د پنبې د برکته تر لاسه کولے شي ـ دا هم د ارام وي هم د خوب کولو او اودهٔ کېدو دپاره وي ـ

پـــه بړســـتن ګـــۍ کښـــې راپټېــــږه
چـــې د کابــل پــه خربــوزو دې واړومـــه
پـــه بړســـتن ګـــۍ کښـــې راپټېــــږه
چـــې د انـــارو پــــه دانــــو دې اوروزمـــه
بېګـــا پـــه خـــوب کښـــې ژړا راغلـــه
ستا په بړستن کښې ښاماران وو اوئې خوړمه
کـــهٔ مـــې زګـــه شـــړۍ پـــه ســـر ده
جانانـــه تـــا بـــه پـــه بخملـــو کښـــې ســـاتمه
زمـــا پـــه غـــاړه دې شـــړۍ وي
دا ســـتا قمـــیص بـــه د بخملـــو جوړومـــه
تـــهٔ د بهـــر نـــه ســـترړے راغلـــے
شړۍ در څکه کړه چې ملا دې غوړه کړمه
تـــهٔ پـــه بســـتر کـــوه خوبونـــه
پـــه مـــا بـــه خـــاخي د دکـــن زاړهٔ څپرونـــه

په یخه یخنۍ او سوړ ژمي کښې کهٔ یو پله د مالوچو او وړۍ سره روزګار وي نو بل پله د نغري خوا څوک داسې په اسانه نهٔ پرېږدي ـ دا چې وائي چې د سپرلي د ګلو د ژمي اور ښهٔ دے دا هم ددې د ضرورت د مخه ور پورې وئیلې کیږي ـ یا لکه هاغې بوډۍ چې د ژمي په موسم اور ته تودېده او د ځان دپاره ئې دا سول کړے وو چې خدایه پاکه اخر په دنیا مې بې اوره مهٔ کړې نو دا ئې فقط د وجود د هاغې ارام ، تودیدو او ټکورېدو د مخه لکه چې کړے وو چې د نغري غاړې او د اور سکروټو وربانديې پېرزو کړے وو ـ او وجود ته ئې پرې ارام رسېدلے وو ـ د نغري دا اور خشاک غواړي ـ خشاک یاخو لرګے وي یا شتۍ سپیاکې ـ سپیاکې د ښاروو د غوشیانو نه جوړېږي ـ هسې خو د اوښانو او ګډو بزو پچې هم دا ضرورت پوره کوي ـ ولې اهمیت سپیاکو ته حاصل دے ـ د زمیدارۍ په ډېرو کورونو کښې او د مالونو او ښاروؤ د خاوندانو کره د سپیاکو ګواټې ولاړې وي ـ

دغه سپیاکې په اور پسې کولے شي ـ نغرے پرې تودېږي ـ او پخلي وربانديې کېږي ـ کله چې څوک د کور ماشومان مشغولوي قېصې ورته وائي نو څۀ وخت چې قېصې خلاصه شي نو قېصې کوؤنکے وائي چې قېصې لاړه ګواټې له مونږ ترې راغلو پراټې له ـ دغه ګواټې د سپیاکو وي او سپیاکې د اور د بلېدو وي ـ ولې چې څوک ئې يادوي نو داسې ئې هم يادوي چې :-

پــــــه دې بانــــــه بهــــــر را اوځــــــه
مــور تــه دې وايــه چــې ســپياکې ټولومــه
نــــن مــــې جانـــــان لېـــدلے نـــۀ دے
پــه دېوالــۀ ســپياکې ګــډې وډې ږدمـــه
جانانـــه داســـې خـــو څـــوک نـــۀ کـــړي
لکـــه ســـپياکه دې پـــه اور ورپســـې کړمـــه
نـــۀ مـــې څـــوک وو نـــۀ مـــې پکـــار شـــو
اوچـــه ســـپياکه ووم تنـــور تـــه الوېدمـــه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لار کښېـــې راکـــه
چـــې دا تـــور مـــخ دې پـــه ســـپيالکه اوولمـــه
پـــه دېـــوال پورتـــه شـــه خولـــۀ راکـــه
مـــور تـــه دې وايـــه چـــې ســـپياکې اړومـــه

د کور او د اور قېصې ټوله د ژوند او جانان قېصې ده ـ دا کۀ يو پله د دوران غم دے نو بل پله عشق او رومان هم دے ـ په داسې حال کښې ژوندون هم اسان دے او هم ډېر ګران دے ـ چې د زړۀ نول نۀ وي ، غصه خفګان نۀ وي غم او تاوان نۀ وي ، بدي دشمنان نۀ وي ، ګناه او عصيان نۀ وي مينه محبت وي خندا هوس وي ، صبر وي قناعت وي ـ د زړونو دروازې يو بل ته خلاصې وي ـ خپلوي ، خپلولي وي دوستي اشنائي وي ـ کور وي دېره وي ـ د ارام او د قلاري مېشتۀ وي ـ نو په داسې وخت کښې هر څۀ هغه د رحمان بابا په شان چې په سرې ښۀ لګي څۀ ښۀ وائي چې :-

بادشـــاهان کـــۀ اوبـــۀ څښـــي پـــه جـــام د زرو
مـــا رحمـــان لـــره د خـــاورو کنـــډول بـــس دے

کـــۀ د چـــا څـــۀ پـــه ښـــۀ بـــده شـــوم پکـــار
دې نـــه پـــس بـــه ځـــان څـــۀ اوګـــڼم د کـــار
اوس چـــې نـــۀ د چـــا د ښـــې يـــم نـــۀ د بـــدې
مـــات مـــنګـے يـــم عبـــث پـــروت ناپکـــار

هم دا قناعت دے په دې کښې د کور د درناوے دے ـ ددې نه د کور ګړونج ، منګے ، جام او کنډول جوړ دے ـ چې په کور کښې وي نو نظر انداز کېدے نۀ شي په دې چې هر وخت د کار دے ـ د اوبو ذخيره کولو او د څښلو دا ذريعه ځوک نظر انداز کولے شي ـ بيا لاچې د قسمت نصيب يا د بخت تړون ورسره هم کولے شي نو په داسې حال کښې کۀ څوک اووائي چې :-

جـــام د جمشـــيد کـــۀ خـــدائے زمـــا کـــړو
پکښـــې بـــه اوګـــورم د خـــوږ زړګـــي حالونـــه

بيا دا منګے کۀ په کور کښې د اوبو ذخيره کولو ځائے دے نو په ګودر د ډېرو ارمانونو جواز هم دے ـ منګے او ګودر په يو بل پورې لکه چې تړلے شوي دي ـ په کور کښې ئې يو حېثيت وي او په ګودر کښې ئې بل ـ ځکه اهميت ئې په دوه ځايه وي ـ کۀ څوک وائي چې :-

منګيـــــــــه قـــــــــدر دې پکـــــــــار دے
مېـــرمن د حســـن دې پـــه ســـر دپاســـه وړينـــه
مـــــنګے ورکـــــوتے ورلـــــه جـــــوړ کـــــړئ
د ښـــاپيرۍ مـــلا ده نـــرۍ ماتـــه بـــه شـــينه
مـــــورې مـــــنګے مـــــې زر راتـــــش کـــــه
جانـــان ولاړ دے چـــې پـــه لارې ســـره ځونـــۀ
اوبـــــو لـــــه ځـــــه مـــــنګے راواخلـــــه
زۀ لېـــونے بـــه د ګـــودر پـــه غـــاړه يمـــه
مـــــنګے دې لـــــږ پـــــه زمکـــــه :کېـــــږده
ګـــوتې مـــې پرېـــږد چـــې دې زلفـــې ســـمومه
مـــــنګے پـــــه ســـــر ګـــــودر لـــــه ځمـــــه
زمـــا لالـــي بـــه راتـــه لار څـــاري مئينـــه

ګودر ته ځم راپسې راشه
ما په منګي کښې پراتې راوړې دينه
په ګودر جنګ د جينکو دے
منګي ئې مات کړل په غړو وېشتل کوينه
کۀ د دنيا شرمونه نۀ وے
تا به منګے وړو زۀ به تش درسره تلمه
منګے مې مات په زنه خاپ دے
زۀ به لنډپارې مور ته څۀ جواب کومه
مور ته دې داسې جواب اوکړه
منګے په ګټه زۀ په ختېه اولوېدمه
په ګودر جنګ د جينکو دے
پورې راپورې په منګو وېشتل کوينه
منګي مې دوه دې وړے ئې نشم
جانانه ستا دپاره سخته تېرومه
منګي مې دوه دې وړے ئې نشم
مور مې مېره ده په ما ډېر کوي ظلمونه
منګے په سر مخې له راغله
منګے ئې کېښوؤ زۀ ئې غېږ کښې اونيومه
منګے مې مات شو خپله ياره
مور مې مېره ده زۀ به ئې څۀ جواب کومه
منګے په ترخ ګودر ته لاړم
په دې ايله چې به اشنا راغلے وينه
شها زړه شوه وار ئې تېر شو
له منګو پرېوته کوزې راډکوينه
د ناچارۍ منګيه مات شې
چې تا راواخلم د هر چا دشمنه شمه

چــې مـــازیګر پـــرې ښائســـته کیـــږي
هاغــه جینــۍ لــه مــور مــنګــې نــهٔ ورکوینــه
چــې مـــازیګر پـــرې ښائســـته کیـــږي
مــنګــې نــارې ورتــه وهــي ګــودر لــه ځونــه
چــې مــنګــې واخلــې زړهٔ مــې خــوښ شــي
ځــان د ګــودر غــاړې تــه مخکښــې رســومه

د کور خځله په ډېران جمع کیږي بیا د فصلونو خوراکه کیږي ـ ځکه نو ډېران هم لکه چې د کور حصه وي ـ د هر کور خپل ډېران وي ـ دا د کلي محلت دستور د ے ښوک خځله ګندګي په کوڅه کښې نهٔ غورځوي ـ دا بد کار د ے ـ کور ګاونډ دواړه پرې بد ښکاري ـ مرضونه ترې خورېږي ـ بدبوئیونه ورنه ولاړېږي ـ د کور کوڅې په صفایۍ هر سړے پړ د ے ښوک چې ددې پابندي کوي په ښهٔ یاد ېږي ولې کله داسې هم کیږي چې خپل ځان ته د چا فکر شي چې ښوک ئې په څهٔ کښې نهٔ حسابوي نو بیا وائي چې :-

نــهٔ مــې ښــوک وو نــهٔ مــې پکــار شــو
د کــور خځلــه ووم ډېــران تــه اولویدمــه
ورشـــــه د یـــــار خبـــــر دې واخلــــه
په ډېران ناست د ے په سر خاورې بادوینه

هر څو کهٔ د تماکو کښوړه په حجره یا په کور کښې د کټ پښې ته اچولے شي ولې چیلم به همېش دپاره په حجره کښې وي ـ د مامونۍ المیه داستان ددې روایت غمازي کوي ـ ځکه نو چیلم په اصل کښې د حجرې ښیز د ے ـ دا د حجرې د بحث موضوع ده ـ ولې کله کله د خوند دپاره ئې د کور په خبرو اترو کښې هم یادګیرنه کیږي ځکه په ستائینو او مصرعو کښې هم د کور د کډې یوه حصه ګڼلے شي لکه چې وائي :-

چـــــیلم پـــــه رو راکښـــــه ظالمـــــه
مـور مـې مېـره ده اوس بـه نېغـه ناسـته وینـه
کـــهٔ د مالـــت پېغـــور مـــې نـــهٔ وے
مـا بـه لالـي لـه ډک چـیلم حجـرې لـه وړونـه

چـــــيلم وهــــه چــــيلم كــــش يــــاره
د تمـــاكو بخخـــه بـــه زۀ درلـــه راوړمـــه

كوم نابللي كسان چې د كور په كوڅه راتېرېږي او په دروازه كښې اواز كوي ـ دا يا خو ملنګ وي او يا طالب وي ـ ملنګ خېر غواړي ، طالب وظيفه غواړي ـ طالب په جومات كښې مېشتۀ وي د دين په علم كښې مشغول وي نان نفقه ئې د خواؤ شا د كورونو نه وي ـ ملنګ در په در ګرځي ـ كچكول ګرځوي اوچه لمده دواړه راټولوي ـ خېر او ديدن دواړه د ملنګانو په برخه وي ـ ولې د كوڅې د سپو هم ورسره بدي وي ـ غاپي ورپسې ـ ځكه نو ملنګ او سپي او ديدن او خېرات د ادب د دنيا داسې استعارې دي چې د ژوند پوره داستان پكښې نغښتے كيږي ـ شاعر او سخنور كۀ اولسي وي او كۀ كتابي ددې نه مخ نۀ اړوي فكر ورته كوي ـ او د شعر و سخن ملغلرې ورنه سازوي ـ بيا كله چې د طالب او د ملنګ خبرې په ټپو ، ټكو او مصرعو كښې راځي نو هم لكه د مصرو خوږې وي او هم لكه د ملغلرو رڼې او سپينې وي داسې لكه چې وائي :-

يــــه د جومـــــات تــــــوره طالبـــــــه
مالـــه تعـــويز د نـــيم ســـري وكـــړه مئينـــه
تــــوره طالبـــــه پــــه مــــا ګرانــــــه
مالـــه تعـــويز د مينـــې راؤړه ګنـــي مرمـــه
طالبــــه هلـــــه بـــــه مــــلا شـــــې
چـې لـه زړۀ وباسـې د يـار شـينكي خالونـه
طالبـــه خــــدائيګو كـــۀ مـــلا شـــې
په كتـاب پـروت ئـې يـادوې شينكي خالونه
چــې جــزو تمــام شــي زړۀ شــادان شــي
طالـب روان شـي وئ د يـار ديـدن لـه ځمـه
د جومـــات ګـــوټ پـــه طالـــب پرېـــوزه
چــې ورنـه پـاتې شـي تـاؤدۀ سـاړۀ ټوكونـه
دا مــــا بــــه خــــاورې تالـــه دركـــړي
طالبـان ډېـر دي مـونږ بـه بـل تـه ووايونـه

د طالبـــــــانو ډلـــــــي راغلـــــــي
زمـا د يـار ډلـه ورسـتۍ ده رابـه شـينه
طالـــب د ټيـــک پـــه تنـــداره شـــو
د کلپـانۍ اوبـو تـرې يـوړۀ کتابونـه
طالبـان ډيـر دي خـدائے دې ډيـر کـړي
د نـيم سـبري د تعـويز زۀ ميـړنے يمـه
طالـــب د بـــل وطـــن ســـړے دے
تـش پـه ديـدن ئـې زړګـے څـۀ لـه بدومـه
طالبـه ټينـګ شـه چـې مـلا شـې
تـا بـه ددې خبـرې ډيـر ارمـان کوؤنـه
کـۀ طالـب ځـې خفـه پـرې نـۀ يمـه
زړۀ ئـې زمـا پـه زلفـو بنـد دے رابـه شـينه
طالبـــه کلـــه بـــه رادرومـــې
د تنبـې شـا تـه چـړ پـه لاس ولاړه يمـه
ورک شـــې بېلتونـــه غـــم زرغونـــه
ماخلـه خونونـه طالـب مـري کيـږي ويرونـه
طالبـــان ډلـــې ډلـــې راغلـــل
زمـا د يـار ډلـه ورسـتۍ ده رابـه شـينه
د ازل کښـــلے بـــه نـــور نـــۀ شـــي
طالبـه ولـې تـوروې سـپين کاغذونـه
حجـره ئـې شـته طالـب ئـې نشـته
پـه حجـره کـې ئـې لکـه مـار وګرزېدمـه

ولې د ملنګ روزګار څۀ په بل رنګ دي۔لکه چې وائي :-

## قطعه

کـۀ پــه بــره کــۀ پــه کــوزه کوځــه راشــم
د خبــر راؤړئ پــه نــوا بانــدې رســوا شــم
بیــا د هــرې کــوځې ســپي راپســې غــاپي
نــۀ خلاصــېږم کــۀ هــر څــو ورنــه پنــا شــم

بیا کله چې قبصه ملنګ ته راتېره شي ـ نو ملنګ هم یو داسې کردار دے چې نۀ خو هېرېدےشي او نۀ ئې څوک دکلي کلویغۍ په شمار قطار کښې ودرولے شي ـ دا ځکه چې ملنګ ازاد وي ، نۀ وربانديې قلنګ وي او نۀ تاوان ـ نۀ پېداګیر کوي نۀ وریسې څوک ویر کوي ـ چې چرته ئې ښۀ وي هلته ئې شپه وي ـ د فقیر کچکول د هو حق په نارو ډکیږي ـ د ملنګ عبادت صبر وي ، وظیفه ئې شکر وي او کۀ لنګر ئې چرس او چائې وي نو د جونګښې د منګي اوبۀ ئې سخاوت وي ـ دے په خپل ژوند کښې په څومره څۀ لوړو ژورو تېرېږي کۀ څۀ هم وي دا هر څۀ د خپل زړۀ بخښې ته وراچوي ولې دا ددغې کوهي نه بیا بهر نۀ را اوځي ـ دا ئې د زړۀ امانت وي ـ ملنګ چې د ملنګۍ کچکول په غاړه ګرځوي نو هم د هر چا د خېر طالب کیږي او هم د دیدن خوندونه ئې په برخه کیږي ـ د ژوندانۀ ډېر خوندونه لکه چې د ملنګۍ په کچکول کښې وي ـ ځکه خو د هر چا زړۀ دا غواړي چې :-

دا زړۀ مـــــې داســـــې راتــــــه وائـــــــي
راشــه ملنــګ شــه د دنیــا وکــړه ســېلونه

ملنګي د دنیا د غمونو نه د نجات ذریعه ګڼلے کیږي ـ سالکان وائي چې په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته ـ نو هغه څوک چې ددې پړپنج نه خلاص وي ـ هغه لکه چې سپین باز وي ـ وائي چې :-

پائے گدا لنگ نیست
ملک خدا تنگ نیست

دا د ملنګۍ د ژوند خاصه ده دا یوګا (Yoga) ده ـ جوګي توب دے ـ خپله مرضي ئې وي چې کومې خوا ته ئې پرواز وي ـ څوک چې د ملنګۍ په دستور پوهه وي هغۀ ته خپل قدر و قیمت معلوم وي ځکه نو کۀ وائي چې :-

د ملنګــۍ کچکــول پــه غـــاړه ګرځومــه
وخـــت د مـــازیګر دے دیدنونـــه ټولومـــه

د دیدن خواږۀ او خوندونه د هر چا په نصیب خو نۀ وي ـ او نۀ د ژوندانۀ په کچکول کښې ئې هر څوک موندے شي ـ دا د بختورو برخه وي ـ د حیاتِ مستعار دا قېصه د کور د بامبیړ نه بهر ده ـ د کور دنیاوي ارام د غمونو جاله وي ـ دا هغه ډېران دے چې تن پکښې ورستېږي ، غمونه پکښې ټوکېږي ، زړونه پکښې خوړېږي ـ تهمتونه پکښې لګېږي ، پېغورونه پکښې جوړېږي ، ظلمونه پکښې کیږي ، حقونه پکښې وهلے کیږي ، زورونه پکښې چلېږي اورونه پکښې لګېږي دغه اورونه بیا په مخه خورېږي ـ ځکه خو کۀ څوک دا وائي چې د یو مخه سل مخه بنئ شي او د یو مخه سل مخه بدي شي نو دا ټول د کور غمونه دي ـ چې ددې غمونو نه د خلاصون لاره چا موندې وي هغه ملنګ وي ـ چا چې ملنګي اختیار کړې وي او د یار او دلدار د دیدار طلبګار شوے وي هغه د ژوند د نورو آلائشونو په غم غمژن نۀ وي ـ مخه ئې خپله وي فقط یو طرف ته وي ـ چې څۀ ئې په برخه وي هغه ئې په کچکول کښې وي ـ دغه کچکول د هغۀ د ژوندانۀ اثاثه وي ـ په دې کښې ئې د ژوند هره تجربه او هره بنۀ بده راټوله کړې وي ـ دا ئې رزق روزي وي ـ دا ئې طعمه او خوراکه وي ـ هم دا ئې د هاغې پروازونو قابل کړي چې قدم ئې تر عرشه ورسي ـ او په دنیا کښې ورنه بهلول ساز کړي ـ بالولي دانا ! وائي یو بالول ؤ یو ئې کچکول ؤ ـ

**قطعه**

بـــې خبـــر د رســـم و راهـــه د دنیـــا یـــم
د مـــاهرویو د کالـــۀ ســـره اشـــنا یـــم
کـۀ کچکـول مـې تـل پـه غـاړه ګرځومـه
ســوالګر نــۀ یمــه د یــار د در ګــدا یــم

د فقیرۍ او ملنګۍ په دې معیار او په دې تول چې څوک پوره وي هغه مرد حر وي ۔هغه ازاد وي ۔هغه سالک وي ، د سلوک د لارې خاوند وي ۔هغه ددغې لارې لاروے وي ۔دا سلسله د هاغې چا نه را روانه ده چې وئیل به ئې الفقر فخری ص ۔ دا درویشي ده ۔دا د علي مرتضیٰ رض مسلک دے ۔هم دا هغه دي چې د محبوب د دیدن حقدار دي ۔دیدنونه د دوئي په برخه دي ۔دا د ژوند معراج دې ، کامیابي ده ، کټه ئې ده ، برے ئې دے ، هم دا هغه درویش ملنګ دے چې رفتار ئې د سالک عبدالرحمان بابا په نظر کښې څۀ دا رنګې وي :

چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي
ما لیدلے دے رفتار د درویشانو

هسې خو د ملنګۍ په لباس کښې ډېر خلق ګرځي راګرځي ۔د هو حق چغې وباسي ، د خېر راؤړئ بد ولاړ یم په وېنا تورن کیږي او چې د چا په نظر کښې لاندې راشي نو ورپورې وائي چې :-

ملنګ دې څان ته دعا وکړي
د منزري څرمن ئې ستې اوسولاؤنه

ملنګي نۀ خو په جامه ده ۔نۀ په کچکول ده او نۀ په ملنګي سرود ده ۔څوک چې خبردار دي هغوي خو دا وائي چې : ؎

درویش صفت باش          وکلاہِ تتری دار

یا لکه د شاعر مشرق علامه محمد اقبال په شان چې :-

خدا کے عاشق تو یوں ہزاروں بنوں میں پھرتے ہیں مارے مارے
میں اُس کا عاشق بنوں گا جسکو خدا کے بندوں سے پیار ہوگا

اوس نو کۀ څوک دا وائي چې :-

د ملنګانو سره مل وے
سر په څنګل وي چې مې نۀ لیدے غمونه
جانانه ستا په محبت کښې
په ډېر دولت کښې زۀ ملنګ د دومې یمه

د ملنګـــــۍ کچکــــول بــــه واخلـــــم
څـو د جانـان دیـدن اونـهٔ کـړم نـهٔ راځمـه
د ملنګـــــانو ســــــره مـــــل شــــوم
د یـار تکـل کښـې تـر کعبـې اورسـېدمه
کـهٔ پـه وخـت راغلـې خېـر بـه یوسـې
بـې وختــه نشـتـه ملنګـانو لـه خېرونـه
زمــــا د زړهٔ صـــــــلا رانغلــــــه
د دروازې ملنـګ لـه ورکـړئ رخصـتونه
اے د دومـــــې د ســـــر ملنګـــــه
د مینـې بنګـه لېـونۍ درپسـې شـومه
ارمــــان ارمـــــان تېـــره ســــاعته
پېـدا بـه نـهٔ شي کـهٔ ملنـګ درپسې شـمه
ســـترګې کچکـــول کـــه دیــدن واخلــه
ملنګــه یــاره پــه بانــه راغلـې یمــه
د دیــــدن خېـــر د یــــار نـــه غــــواړم
د ملنګــۍ کچکــول پــه غــاړه ګرځومــه
فقیـــــره دوه ســــــوده دې اوشـــــول
یو دې خېر واخېست بل دې اوکړل دیدنونه
جانانـــــه راشــــه ځـــان فقیـــر کـــه
زهٔ بـه د خېـر پـه بانـه سـتا خوالـه درځمـه
ښـــهٔ ده صــــبا تـــه کـــهٔ درځمـــه
د فقیـرۍ جـامې بـه مـا اغوسـتې وینـه
زهٔ د اولـــــه فقیــــر نــــهٔ ومــــه
پـه تـا مئـین شـومه فقیـر درپسـې شـومه
اول بــــه ماتـــــه خلـــــق ناســــت وو
اوس مـې د فقـر جـولۍ بـل تـه غوړومـه

تمامـــــه ورځ مـــــې فقـــــر تـــــول کـــــړو
خـو هغـه نـهٔ وو چـې فقیـر ورپسـې وومـه
د کلـــــې فقـــــر مـــــې راتـــــول کـــــړو
اوس بـــه د یـــار چنـــې تـــه ډډهٔ لګومـــه

# ژوندون او مرګ

ژوند يو روان سفر دے ـ يو داسې سفر چې په مخه تېرېږي راګرځي نه ـ او نهٔ پکښې راګرځېدهٔ شته دے ـ څوک چې پېدا دي هغه مرګ له پېدا دي ـ کهٔ د ژوند يو سر ته پېدا کېدهٔ دي نو بل سرته ئې مړکېدهٔ دي ـ دا د هر ذي روح دپاره مقرر دي ـ انسان چې پېدا شي دنيا ته راشي ـ هر څومره عمر چې ددهٔ دپاره مقرر وي هم په هغې کښې ورځې شپې تېرې کړي ـ مياشتې وي کهٔ کلونه ، اخر سرته ورسي او د مسافر سفر تمام شي ـ منزل ئې اخر را ورسي ـ انسان نهٔ خو دې ته کله فکر کوي او نهٔ ئې ورته توجه وي ـ دے د ژوند په لوبه کښې داسې مشغول وي چې د خپل را روان منزل نه هېڅ هم خبر نهٔ وي داسې لکه چې په تيارهٔ کښې روان وي خو په دې ئې څهٔ کار غرض نهٔ وي چې شپه هم د تېرېدو وي ـ يا دا چې کهٔ هر څو تيارهٔ وي خو منې د شمار وي ـ د ژوندانهٔ د مياشتو کلونو هم څهٔ دغه رنګ حساب دے ـ ژوندون لکه د باد وي سړے پکښې څهٔ لږه نېټه ساه واخلي مسافر وي په سفر وي لاړ شي تېر شي ـ ځکه خو دنيا ته د يو داسې سرائې مثال ورکيږي چې دوه دروازې ئې دي ـ يوه دروازه ئې د ورداخلېدو ده او بله دروازه ئې د بهر وتو ده ـ دا چې وائي چې :-

د دنيـــــا درې ورځــــــې ژونــــــدون دے
پــرون راغلــے نــن دلــې صــبا بــه ځــو نــه

نو دا هم دغې دايمي حقيقت پلو اشاره ده ـ د ژوندانهٔ په دې سفر کښې چې څوک لاکمکے وي ماشوم وي ـ نو د لوئے شې او ستر شې دعا ورته کيږي چې زلمے وي ځوان وي نو عمر دې ډېر شه ورته وائي ـ او کله چې پوخ عمر او بوډا والے پرې راشي نو ورته وائي چې ايمان دې سلامت شه ـ بس دا د داسې درې ورځې ژوندون د روداد خلاصه ده ځکه نو په داسې حال کښې کهٔ ګيله مند زړونه دا هم ووائي :-

چــې پــه ژونــدون پــه ښــۀ رانغلــې
اوس مـې د ګـور د پاسـه مـۀ شـینده ګلونـه
چــې پــه ژونــدون پــه ښــۀ رانغلــې
اوس مـې د ګـور پـه خـازو مـۀ وهـه لاسـونه
ژوندتــه پــه شــا شــا داســې ګــورم
لکـه بـائیللے جـوار ګـر چـې کورتـه ځینـه
مــا تــرې د ژونــد طمــع لرلــه
بـې وفـا یـار پـه نیمـه لار کښـې پرېښـودمه
چـې پـه ژونـدون مـې پکـار نـۀ شـوې
د جنـازې لانـدې مـې مـۀ ځـه مختورنـه

ورځې شپې او میاشتې کلونه چې تېرېږي ټول په عمر حسابېږي.د چا عمر تش د ورځو شپو د شمار وي د چا هغه د څو میاشتو وي او د چا حساب ئې د څو کلونو وي.پېړۍ قرنونه یا صدۍ د هیڅ چا عمر نۀ اخلي.ځکه نو کۀ څوک دا وائي چې د عمر شپې ورځې د شمار دي یا په ساه څۀ ویسا نشته نو حقه وائي.دا د عمر ناویسائي په دې هم ده.چې مرېدۀ پرې نشته.نۀ دا ډېرېږي او نۀ د خپل وخت نه وړاندې پوره کیږي.د عمر په باب له ډېرې خبرې ارماني دي.پسخاکي دي ، غمژنې دي د ناویسایۍ دي .دا بیا بیا تکرارېږي یادولې کیږي او رامخې ته کیږي .مثال ئې د شپې او د ورځې دے .څوک پرې سترګې نۀ شي پټولے ، شاکولے ورته نۀ شي.په دې چې کله ورځ مخکښې شي شپه وریسې وي او کله شپه مخکښې وي ورځ وریسې وي .دا ژوند هم دغسې تېرېږي اخر دا چې اووائي چې :-

عمــر مــې ټــول پــه غــم کښــې تېــر شــو
قــادره خدایــه خوشــحالي بــه کلــه وینــه
د دنیـــــا عمــــــر مـــــــازیګر دے
خلق وختـي وختـي کـوي ماښـام پـرې شـینه
عمرونـــه ډېـــر تېـــر شـــو رانغلـــې
پــه فــال دې نیســم د کارغــانو اوازونــه

عمـــــر هغـــــه وو چـــــې ماشـــــوم ووم
اوس چې زلمے شوم ټول په غم کښې تېرومه
فکـــــر کـــــوم ســـــودا مـــــې واخلـــــي
چـې بـې لـه تـا بـه عمـر ځنګـه تېرومـه
عمـــــر بربـــــاد رابانـــــدې تېـــــر شـــــو
لګـه پـه لويـو غرونـو تېـر شـي بارانونـه
عمـر مـې ټـول پـه غـم کښـې تېـر شـو
نـۀ مې يـار هېـر شـو نـۀ مې وکړل ديدنونه
پـــــه عمـــــر کمـــــې پـــــه قـــــد ســـــمې
د حســـن شـــمعې پتنګـــان درلـــه راځينـــه
پـــــه عمـــــر کمـــــې پـــــه قـــــد ســـــمې
د حســـن شـــمعې لېـــونے درپســـې شـــومه

شپې ورځې هم د غسې تېرېږي شپه صبا کيږي او ورځ ماښام کيږي. سفر روان وي. اخر منزل رانزدې شي وخت رالنډ شي چې عمر په تمامېدو شي. هسې خو نۀ وائي چې مرګ په زوړ او په ځوان د ے. دا په ښته د ے. چې ښته پوره شي نو د زړۀ رفتار په کمېدو شي. د ويني رود په اوچېدو شي. د سترګو نظر په ورکېدو شي. د وجود حرارت او د تن حرکت په ودرېدو شي. روح په وتو شي چې داسې حال شي نو د زنکدن علامې راشروع شي. د مرګ فرشته عزرائيل [۴] په راتلو شي دا هغه وخت وي چې څۀ داسې حال د ليدو شي او بيا د زړۀ د تل نه دا غږ لکه چې په راختو شي چې:-

د زنکـــــدن ســـــلګۍ پـــــه وار کـــــه
غمـازان خـوا رايخـوي چـې يـار ئـې مرينـه
پـــه زنکـــدن کښـــې رابنـــکاره شـــوه
د سپيني خولې په جام کښې زهر راکوينه
پـــه زنکـــدن بـــه مـــې ارمـــان شـــي
کـۀ دې رانـۀ کـړو د سـورکو شونډو سـرونه

پــــه زنګـــدن مـــې ځـــان حاضــــر کــــه
پــه خمــارو ســترګو مــې روکېــږده لاســونه
پــــه زنګـــدن مـــې ځـــان حاضــــر کــــه
چــې زهٔ ســلګۍ کــړم ســترګې تاتــه واړومــه

داسې وئيلې شي چې مرګ حق دے او ګور کفن په شک دے ۔ دا حقيقت هر څوک مني ۔ مرګ د اخرت سفر دے او ګور کفن رختِ سفر دا اخري دنياوي برخه ده ۔ دنياوي په دې ده چې ددې نه بغېر د مسافر سره د خپلو اعمالو د پېټي نه سېوائي نور هېڅ هم نهٔ وي ۔ داسې لکه چې :

پنـــا شـــوي شـــاهجهان او اورنګزېـــب
چــې کــوؤ بــه تــاج و تخــت ورســره زېــب
يــو فقيــــر وو دلــــداده بــــل د تعميــــر وو
ملکيــــت ئــــې پــــاتې نــــهٔ دے يــــو جريــــب

اوس چې هر انسان په اخر کښې د داسې حال سره مخ کيږي ۔ نو ولې به نهٔ وائي چې مرګ حق دے خو ولې ګور کفن په شک دے ۔ سړے ددې نه هېڅ نهٔ وي خبر چې کله په کوم ځائے کښې او په څهٔ حال کښې به د مرګ سره مخ کيږي ۔ لوګه صحرا به وي ، غر کمر به وي ، درياب سمندر به وي کهٔ د کور په بستر به وي ۔ بيا دا چې د ځنګل ځناور به ئې خوري کهٔ د صحرا مارغان يا د درياب ماهيان به پرې مړېږي ۔ په اور به سوزي کهٔ د غر يا کمر لاندې کيږي به په هوا کښې به چرته الوزي او ورکيږي به او کهٔ نه په سپينو واؤرو کښې به پټېږي د مرګ د راتلو صورتونه ډېر بې شماره دي ځکه نو په داسې حال کښې دا طمع عبث ده چې ګور کفن به د هر چا په نصيب کښې وي ۔ ولې بيا هم داسې وائي چې :-

مــــا تــــه کفــــن چــــې راتېــــر نــــهٔ کــــړئ
کـهٔ مـې د ننـګ ګـولۍ پـه شـا خـوړلې وينـه
پــــــه کفانـــــهٔ مـــــــې تلــــــوار وکــــــړئ
ناوختــه کيــږي زهٔ ناشــنا وطــن لــه ځمــه
يـــار مـــې د مـــرګ دريـــاب لاهـــو کـــړو
زهٔ د کفــن کشــتۍ ګنــډم وربســې ځمــه

کفـــن مـــې واغوســـتو اودهٔ شـــوم
د جانـان غـم کښـې شـوګيرې مـې کـړي دينـه

بيا نو کهٔ د ګور هم څهٔ داسې حال وي ولې دا هم ممکن کېدے شي چې د ګور خاوره ئې په نصيب شي او د خپلې خپلخانې په شهر خموشان يا په کومه بله قريه يا مسافر خانه کښې ورته څوک ځائے ورکړي .نو کهٔ د مغلو دا خري شهنشاه بهادر شاه ظفر په رنګې څوک خپل ارماني انجام ته داسې په ژړاسر شي چې :-

کتنا ہے بد نصیب ظفر دفن کے لیے
دو گز زمین بھی نہ ملی کوئے یار میں

نو څهٔ ناشنا او ناوياته خبره به نهٔ وي .هغه هم د دهلي د تخت وارث وو .د راج تاج نوبت ئې غړېدو ولې چې د تخت نه پورته کړې شوي وو او په تخته کښېنولے شو نو لرې په رنګون کښې ئې د ناپرسانه کور خاوره په نصيب شوه .په داسې حال کښې چې د چا ګور هم په نصيب شي .نو چې کله يادېږي نو داسې لکه :-

د ګـــور تبـــے بـــه دې کـــړم لـــري
تـا بـه چينجـي خـوري زهٔ بـه ويـر درتـه کومـه
د ګـــور تبـــے مـــې نـــيم کښـــو کـــړه
مـا بـه چينجـي خـوري تـهٔ بـه وکـړې ديدنونـه
چـــې پـــه ژونـــدون پـــه ښـــهٔ رانغلـــې
اوس مـې د ګـور پـه خـازو مـهٔ وهـه لاسـونه
د ننـــګ ټوټـــه بـــه مـــې هرهـــډ وي
کـهٔ مـې د ګـور تبـے اوچتـې کـړې مئينـه
پـــه ژوندانـــهٔ مـــې پکـــار نـــهٔ شـــوې
پـه ګـور د پاسـه مـې اوس مـهٔ شـينده ګلونـه

د حيات مستعار دا وړه شان قېصے څومره خوږه څومره د خوند او څومره د مزې ده .دا قېصه د هر چا د ځان ده .د هر چا د ارمان ده .هم د ځان هم د جانان ده .مثال ئې د مرچکي دے هم خوږلت لري هم تريخ وي ، هم خوندونه لري هم

اوښکې راڅڅوي ـ هم ئې بل ته تېروي او هم ئې د بل نه اورېدل غواړي ـ د قېصې ددغې کردار ورستے ارام ګاه د لحد ډوغالے وي ـ دا هاغه مسکن وي چې د وړاندې منزل په لاره وي ـ نۀ هېرېدے شي او نۀ پردے کېدے شي ـ د ژوند قافله چې روانه وي نو هر څوک په خپل خپل وار خپل دغې مسکن ته ورکوزېږي ـ ځکه نو چې يادوي ئې نو به وائي چې :-

د تـــور لحـــد نـــه بـــه نـــارې کـــړم
زۀ د دنيـــا نـــه ارمـــانې راغلـــے يمـــه
کـــــۀ پرهرونـــــه دې خـــــوږېږي
لحـــد ســـورے کـــه چـــې ملهـــم در اولېږمـــه
چـــې تـــور لحـــد تـــه مـــې ورکـــوز کـــړې
شونډې مې ښکل که چې بيا نۀ نيسې ګردونه
اخـــــرنے ځـــــائے دې لحـــــد دے
ظالمـــه مـــۀ کـــوه پـــه خلقـــو ســـتمونه
اصـــــل زمـــــونږه کـــــور لحـــــد دے
د ســـپل دپـــاره پنځـــه ورځـــې دلتـــه يونـــه

د لحد په لور مزل د جنازې وي ـ دا هم لکه د ګور کفن په شک وي ـ کۀ څوک د چا مړي ته راټول وي او چا ته دا هم يادوي چې :-

پـرون سـور پـه انبـالۍ تلـو نـن پـه کټ د جنـازې ځـې
دا ژوندون دغه ئې کار دے چې نـن هسې پـرون هسې

کۀ په خپل هېواد وي نو قبر جنازه ئې ممکنه وي ـ دا د قومونو او اولسونو روايت او رواج هم دے او د مړ وجود د سپارلو او ډډې ته کولو دپاره لازمي هم وي ـ

د جنـــــازې بـــــازو مـــــې نيســـــه
چـرې بـه مـا پـه راستۍ خولـۀ درکـړې وينـه
پـــه جنـــازه مـــې حاضـــر نـــۀ شـــوې
اوس مـې د ګـور پـه خـازو مـۀ وهـه لاسـونه
چـــې پـــه ژونـــدون مـــې پکـــار نـــۀ شـــوې
د جنـــازې لانـــدې مـــې مـــۀ ځـــه مختورنـــه

خاونـــده مـــرګ د ځـــوانۍ راکـــړې
چـــې جنـــازه مـــې د ارمانـــه ســـره ځينـــه

دېر مړي داسې هم وي چې يا خو لاوارثه په مرده خانو کښې پراتۀ وي ـ يا بيا د طبي تعليم د محصلينو د زدکړې دپاره د هغوي په لاس ورکړے شي ـ دغسې اوس لکه چې ددغې لاوارثو مړو کاروبار هم کولے شي ـ انسان د روزۍ پېدا کولو دپاره کوم کوم روا ناروا کارونه نۀ کوي ـ دا هم د داسې کارونو نه يو کار دے پخوا نۀ وو ځکه خو ئې په ټپو کښې هم چرته ذکر نۀ دے شوے ـ

# معاش او معاشرت

په کال کښې څلور موسمونه راځي ـ دا یا خو په فصلي نومونو یادېږي ـ یا د ګرمۍ سړزۍ په اندازه ـ ولې کله دا سره ګډ وډ هم یادولے شي ـ لکه سپرلے ، خزان او اوړے ، ژمے ـ بیا جېټ هار او پشکال خو په اوړي یا ګرمۍ حساب دي او بادرو ، اسو او کتک ته منے وائي ـ توره څله او سپینه څله مګر ، پوه ، ماه وي او پګڼ د ژمي ورستے سر وي ـ پګڼ چېتپر او یساکۍ د سپرلي موسم وي ـ په پګڼ کښې ژمے په وتو شي او سپرلے په راتلو شي ـ زیړ ګلونه د سپرلي د کاروان د راتګ زیرے راؤړي ـ دغسې کال تېرېږي او کال نوے کیږي ـ کاروان روان وي د ژوند کاروان په مخه درومي ـ دا په عمر حسابیږي ـ د انسان ژوند ټولې وقفې ته عمر وائي ـ دا وقفه لنډه هم کېدے شي او زیاته هم ـ ولې ډېر ځله ئې چاته څۀ اندازه نۀ کیږي ځکه خو وائي چې په عمر مړېدۀ نشته ـ عمر د خوشحالۍ هم وي، د غم هم وي ـ د ازادۍ هم وي او د غلامۍ هم وي ـ دا د فراغت هم وي او د خوارۍ نیستۍ هم وي ـ عمر د عزت هم وي او د سپکاوي هم وي ـ هر څنګه چې وي ولې عمر د تېرېدو وي تېرېږي او تېر شي ـ دا ژ وندون دے چې د انسان خپل ځان پکښې په خپله هم د بهار او خزان سره مخ کیږي ـ ځواني د ژوند سپرلے وي ـ دا د مستۍ او خوشحالۍ ورځې وي ځکه خو ورته د ژوند سپرلے وائي ـ چې ژوند وي نو د ځوانۍ په سپرلي ئې هم زړۀ خوشحالېدے شي ـ دغه مستي او جوبن څۀ داسې وي چې زړۀ پکښې خوشحاله وي او وجود پکښې په مستۍ کښې وي ـ د ځوانۍ رنګینۍ لکه د ګل په موسېدو وي بیا په داسې حال کښې چې پرې موسم هم د سپرلي راشي نو خولۀ ئې دې وېنا ته جوړه شي چې :-

پســـــرلي وخـــــت د ګرزېـــــدو دے
تـــازه ګلونـــه زړۀ لـــه وینـــه ورکوینـــه

خاونـــــده بيـــــا دې پســـــرلے کـــــړو
غړانګـــوره شـــپونکۍ بيـــا درال لـــه ځينـــه
خاونـــــده بيـــــا دې پســـــرلے کـــــړو
لـــه کـــانړو بوټـــو د لونګـــو بـــوئين راځينـــه

پسرلي ته بهار هم وائي ـ دا د اولسي شاعرۍ يوه په زړۀ پورې موضوع ده ـ کۀ څۀ هم پسرلے ، سپرلے يا بهار د هر شاعر په کلام کښې د حسن و عشق په سندرو او وېناګانو ستائيلے کېږيیادولے کيږي ولې کوم خوندونه ، مزه او سادګي چې دا په فولکلوري وېناؤ کښې لري داسې خوند او مزه ئې بل چرته ډېره کمه مخ ته راځي ـ د پسرلي او د بهار ستائنې د خوند او د مزې ستائينې وي کۀ څوک دا وائي چې :-

بـــس هـــم پـــه دې طمـــع ژونـــدے يـــم
چـرې بهـــار بـــه پـــه دې ګـــران وطـــن راځينـــه
ســـپرلے بـــه ســـتا د کبـــره خـــوار شـــي
پـه زرغونـه جوتـو دې مـات کـړۀ زيـړ ګلونـه
پســـــرلے راغـــــے ژمـــــے تېـــــر شـــــو
د زيـــړ ګلـــو بـــوئين لـــه هـــرې خـــوا راځينـــه
د پســـــــرلي اواز چـــــــې اوشـــــــي
بلـــبلان بيـــا د خوشـــحالۍ نـــارې وهينـــه
د يـــــار د ســـــرو شـــــونډو بهـــــاره
پـــه لپـــو لپـــو دُر د ســـترګو درکومـــه
اخـــــر بهـــــار پســـــې خـــــزان وي
پـــه عاشـــقانو بانـــدې مـــۀ کـــوه ظلمونـــۀ

د پسرلي ګلونه چې په رژېدو شي او پاڼې په زيړېدو شي بيا د ځوانۍ مستۍ دا موسم چې په تيرېدو شي ـ نو وريسې د خزان وار شي ـ خزان د زړۀ نول ، د پسرلي د تيرېدو ارمان او د ګل د ښائست تـاوان وي ـ خزان د ژوندانۀ د ارمانه سره وي ـ ګلونه په خزان رژيږي ـ پاڼې په خزان زيړيږي ـ چې خزان راشي نو مېوه پخه شي ـ دا د اونې بوټي مېوه وي کۀ د ژوندانۀ او د ځوانۍ مېوه وي ـ مېوه چې پخه شي

نو یا خو د شوکېدو شي یا د بوټي نه د پرېوتو شي .بیا دا په خپل ځائے ایسارېدے نۀ شي .مخه ئې زمکې پلو شي .په زمکه راپرېوځي .د زمکې خوراک شي .پسرلے چې په خزان بدل شي نو خندا عنقا شي ، ماحول د ژړا شي چې ګلونه فنا شي نو داسې وخت راشي چې دغه وېنا شي .

عالمه ما ورسره کېږدئ
خزان به ریژي زۀ به ځائے جارو کومه
په سپرلي رامه شې خزانه
بورا به مړ شي خون به ستا په غاړه شینه
باغ په خزان تالاواله شو
بویه چې بیا پسرلے راځي سپړي ګلونه

ولې دنیا په امېد خوړے شي .کۀ تیارۀ خوره شي ولې د امېد ډیوه څوک نۀ مړه کوي .چې ژوند وي نو امېد هم وي هم د امېد په اسره د ژوندانۀ چراغ روښانه وي هغه د استاد غالب خبره چې :-

*شمع ہر رنگ میں جلتی ہے سحر ہونے تک*

په دې خیال چې لرې نۀ ده چې سپېدې ښکاره شي ، رڼا شي ، د سحر وړانګې په دنیا راخورې شي .دغه امېد او دغه تلوسې وي چې وائي چې :-

بهار به بیا په ګلو راشي
مدام به نۀ وي د خزان سپېرۀ بادونه
اخر به بیا وطن ګلزار شي
دا د خزان چپې به تېرې شي مئینه

څۀ رنګ چې د پسرلي د شمار د څو ورځو نه پرته د کال زیاته برخه په خزان کښې تېرېږي ځکه نو کۀ اوړے وي او کۀ ژمے ، کۀ هاړ وي کۀ پشکال ، سپینه څله وي کۀ توره څله ټول خزان وي .د خزان لمن ډېره خوره وره او وېره پلنه ده .ځکه نو کۀ د پسرلي نه وړاندې وروستو د هر موسم خبره کېږي نو په خزان یادېږي .دا د بېلتانۀ ، جدائي ، فراق او ارمان قیصه وي .د بلبل او بورا ارمانونه کورا کور سر وهي .غم ژړا ، یادونه فریادونه زور شي .خندا مستي لاړه شي ښائست او

رنګینۍ ماتره شي خوشحالي پاتې نهٔ شي زړونه دلګیر شي ـ او داسې حال شي چې :-

ژمـــے دې ټـــول ســـمه کښـــې تېـــر کـــړو
پـــه اوړي راغلـــې ســـلامت غـــواړې ګلونـــه
اوړے دې ټـــول قشـــقار کښـــې تېـــر کـــړو
پـــه ژمـــي راغلـــې رانـــه غـــواړې زيـــړ ګلونـــه
اوړے د غـــــم دې پـــــه مـــــا تېـــــر کـــــړو
پـــه ژمـــي راغلـــې لټـــوې بـــاغ کښـــې ګلونـــه
اوړے دې پـــاس پـــه کابـــل تېـــر کـــړو
پـــه منـــي راغلـــې چرتـــه ګـــورې ســـرهٔ ګلونـــه

پسرلے وي کهٔ خزان وي ژمے وي کهٔ اوړے وي چې راځي نو تېرېږي به هم ـ کال به اخر پوره کيږي يا د جېټ هاړ اوچه ګرمي او د نمر تاؤده غارمه وي يا بيا د پشکال د شړق باران وي يا ټول وجود خولې خولې وي يا د باران کړېږ شپې وي ـ د جېټ هاړ د غرمو دومره تاؤ وي چې کټونه هم د چا په شان چې پکښې تبې نيولې وي د هاړ غارمه دومره تاؤژن وي چې د خدائے تعالیٰ غضب ګڼلے شي ـ دا چې وائي چې :-

نـــوې يـــاري د خـــدائے غضـــب دے
لکـــه د هـــاړ غارمـــه تلـــې تنـــدي ســـيزينه

بيا کله چې د بارانونو سر اونښلي نو خلق وائي چې نر پشکال په هاړ کښې ماتېږي ـ وړاندې وي او کهٔ وروستو وي ـ ولې چې پشکار مات شي نو د بارانونو سر اونښلي ـ باران د خدائے رحمت دے ـ د زمکې ودانې ده ـ علف زارونه شنهٔ شي اونې بوټي ساه واخلي شينکے ګيا زيات شي کهٔ د هاړ د غرمو د تاؤنو زور خو کم شي ولې باد هم ورسره تم شي ـ دهوپ شي ساډوبي زياته شي خولې ساډوبي دواړه په زړهٔ راست نهٔ وي ځکه نو کهٔ څوک دا ګيله کوي چې اتلس شلې ورځې دولس مياشتې دي د کال ګنده ئې پشکارل نو بې ځايه نهٔ وي ـ ولې بيا هم په باران ئې خوشحالېږي چې باران ورېږي نو ساډوبي کميږي ـ زړهٔ ارامېږي ځکه نو په داسې حال کښې د باران په ستائينو سر کيږي اووائي چې :-

باران دې وي سېلۍ دې نه وي
سېلۍ نامراده وران وي پاخه برجونه
اسمانه ښه باران پرې وکه
يار مې د للمې کر کوي چې زرغون شينه
باران د برې مخې راغې
زما لالي له ئې لامده کړل کتابونه
باران د زمکې ابادي ده
زما د زړه ژوندون جانان د ے را دې شينه
باران ورېږي غولې ډنډ شو
قدم زما په قدم ږده راځه دننه
بارانه ښه ډېر اورېږه
جانان د للمو کر کوي چې وتره شينه
ستا د ديدن باران دې اوشي
په ما سوکړې د ښلتانه راغلې دينه
بارانه رو رو پرې ورېږه
ورې ورې جينکۍ غړه له تلې دينه
بارانه رو رو پرې ورېږه
په مسافر لالي مې نشته دالاتونه
باران د سکول د ډډې راغې
د يار په ترخ کښې مې لامده شول کتابونه
بيا به نرۍ جامې اونه کړم
باران لمده کړم جانان تيوله وليدمه
باران د زمکې ابادي ده
شېرينه ياره زه په تا اباده يمه
باران دې شا مدام ورېږي
زه د جانان ديدن له خوا مخوا ورځمه

ستا د دیدن باران دې وشي
په ما سوکړې د بېلتانۀ راغلي دينه
رلی د یار د دېدې راغله
خلق ترې تښتي زۀ ئې مخې له ورځمه
خدایه د خېره باران وکړې
چې اوچې کړسې مېرې وکړي زيړ ګلونه
وريځې ګورې ګورې راغلې
شنډې به نۀ ځي خدائے به وکړي بارانونه
باران دې اوري ښۀ دې اوري
واؤرې دې نۀ اوري چې لارې بندوينه
څوک چې د چا د باغچې ګل شي
مناسب نۀ دي چې سوکړې پرې تېروينه

واؤرې باران چې زور شي نو سېلابونه راځي . په داسې حال کښې هر سړے په ځان وي . هم ځان بچ کوي هم مال اسباب ولې خدائي ده کۀ د اوبو دغه سېلاب د کور څوک مشر چې د خپلې کلې د بچ کولو په هڅه کښې وي سېلاب ئې په مخه کړي لاهو ئې کړي نو په داسې حال کښې چې چغې نارې شي بچې ئې په امداد پسې انګولي کۀ چرته څوک ئې بچ کړي لاس ور واچوي ولې ځينې وخت دا د وس نه بهر وي ځکه نو کۀ څوک ډېر دا وائي چې ابا اوبو يوړو . ولې د بل اړخ نه به تش لکه چې هم دا جواب راځي چې ابا څۀ کوې ګورې نه چې غاړې غرونه ئې يوړل . د هندوکش ، سپین غر او تور غر په لمنو کښې داسې پېښې هر کله شوي دي . د اباسين ، آمو ، کونړ ، هلمند ، کرمې ، سوات ، پنجکوړې او ګوملي په سېلابونو داسې ډېر لاهو شوي دي . دا سېلابونه هر چرته راځي او د ډېرو په ځنګ کښې تېرېږي . چې ويني ګوري ئې نو کۀ دا وائي چې :-

پرېږده چې خړ سېلاب مې يوسي
څوک چې د شګو بند ترې اوبۀ ئې وړينه
د خړ دریاب سېلاب دې يوسه
د نامردۍ اواز دې رامۀ شه مئينه

پرېـــږده چــې خـــړ ســـېلاب مـــې يوســـي
پـــه لامبـــوزن اشـــنا بـــه ډېـــره نازېدمـــه

د ژوند روزګار کهٔ بل په هر څهٔ وي ولې پوله پټې ئې هم يوه لازمي حصه ګڼلې کيږي . د خپل پولې پټې خاوند په دې کښې هم کر کرونده کوي هم غله دانه پکښې پېدا کوي او هم د مالونو څاروؤ ګيا خوراکه ترې حاصلوي . زمکه په زميداره او کر کرونده اباده وي . څوک چې د خپل پولې پټې خيال ساتي خپل ګذران ورباندې کوي هغه ئې هم ځان په خصمانه پرې ګڼي او هم ئې کور په صحرا په ستائينه خوشحالېږي .

پـــه پولـــه کښـــېنه ځـــان دمـــه کـــړه
پـــه ســـرېنو ګنـــو کښـــې نشـــته دے ودونـــه
نخښـــه پـــه دنګـــه پولـــه کېـــږده
زهٔ بـــه نـــولے شـــم پـــه ټوپونـــو بـــه درځمـــه
تـــن مـــې پـــټے زړهٔ مـــې ګـــنے دے
د جانان غم پکښې ګانړے شوه پوک ئې کړمه
اســـمانه کړنـــګ وهـــه ورېـــږه
يـــار مـــې للمـــې کرلـــي دي چـــې پټه شـــينه
اســـمانه ښـــهٔ را اورېـــږه
يـــار مـــې د للمـــې کـــر کـــوي چـــې وتـــره شـــينه

څوک چې کر کرونده کوي نو د ايوې، غاښور سره به ئې روزګار وي . هم به ايوې کوي زمکه به اړوي هم به دا په غاښور اواروي چې نو پکښې پاتې کيږي زمکه چې ښهٔ روغه اواره وي نو اوبهٔ ترې نهٔ ضائع کيږي . په اوبو خور مړېږي کهٔ للمې وي نو د باران اوبهٔ پکښې رامنع کيږي زمکه چې هم ښېرازه وي په سره او په اوبو مړه وي نو پېداوار ئې ښهٔ وي . څکه خو متل کيږي چې زمکه وائي چې ما مړه کـه نو زهٔ به دې موړ کړم . دا د زميدارۍ اصول دي . په داسې حال کښې زميدار کور وي او کهٔ په صحرا د خوشحالۍ سندرې وائي او اوري . لکه داسې :-

تـــا چـــې پـــه ايـــوه بانـــدې غـــږ کـــړو
زهٔ پـــه ســـړه مـــانړۍ کښـــې لـــره بـــره شـــومه

جـــغ پـــه اوګـــه چوکـــه پـــه لاس کښېـــې
زۀ د هجـــران ايـــوه کـــړم ازغـــي کرمـــه
کـــۀ يارانـــه کـــړې دا دې وخـــت د ے
ګنـــي ســپرلے د ے مـــونږه ايـــوې ګـډوؤ نـــه
تـــا چـــې پـــه ايـــوه اخ ټـــوخے کـــړو
زۀ مـــې پـــه کـــور دننـــه لـــره بـــره شـــومه
پـــه غاښـــورو راکښـــې نـــۀ شـــي
مـــا تـــه وټـــې د يـــار د غـــم ولاړې دينـــه

د بزګرۍ زميدارۍ سره واښۀ ګياه لازماً يادولے کيږي. بغېر ددې نه زميداره نۀ کيږي. څاروي ساتل د زميدار دپاره ضروري وي. دوئي خوراکه غواړي اوچه او شنه دواړه ورله ضروري وي. ځکه نو پروړه ،پلالـه، شـوتل ، واښـۀ پشـکالے او نورې ګياګانې هر زميدار بزګر خپل کور ته د خپلو څاروؤ دپاره راوړي او خپل مالونه وربانديې مړوي. دا دستور هر چرته د ے. څاروي چې ساتلے شي نو پـه اخور غوجل کښې ولاړ وي. چې اخور ئې وي او څاروي پرې ولاړ وي نو ګيا واښـۀ خو به ورله راوړي اچوي به ئې پکښې. خپل څاروي به پرې مړوي. ځکه نو څوک چې په دې کښې مشغولېږي هغه کۀ دا اوري يا وائي نو ورپورې جوړېد ے شي هم او ورسره ښائي هم چې :-

اشـــنا مـــې خـــوار غونـــدې بزګـــر د ے
پـه مـا او شـنو وښـو يـو شـان مينـه کوينـه
ګېـډ ے پـه سـر خولـۀ رانـه غـواړې
مخ مې خولې د ے پرې رنځور نۀ شي مئينه
د مليـــــزو بـــــره دســـــتوره
پـه غـوړ څونډي به د شړشمو ګېډ ے وړينه
مانـــه دې څټـــه دانـــې واخلـــې
پـه سـر کونډۍ دې ګېـډي نـۀ راوړي مئينـه
مـــا نـــه دې څټـــه دانـــې واخلـــې
پـه تـا دې نـۀ کـړي تـر غرمـې پـورې لوؤنـه

فصل چې تيار شي ـ د لؤ لور وخت راشي ـ زميدار لرونه تېرهٔ کړي ـ په رېبلو پسې په اشر وځي ـ کهٔ اشر نهٔ وي نو لوګري ونيسي ـ لوؤ يا په اوړي وي يا په مني کښې وي ـ په دغه ورځو کښې زميدار ډېر ناوزګاره وي ـ څهٔ رنګې چې پسرلے او خزان دوه واره په کال کښې پېښنه کوي هم دغه رنګ اوړے او منے هم د بره کيږي ـ د اوړي خپل فصلونه وي لکه غنم ، اوربشې ، شړشم ، چڼې ، متر وغېره او د مني خپل لکه شولې ، جوار ، باجرې ، خنجري ، مهې او داسې نور ـ هم دغسې چې کله يو فصل کرلے شي نو بل رودلے شي ـ زميدار دهقان کال و سر په دې کښې مشغول وي ـ ناوزګاره وي ـ کرل رېبل ئې تل په برخه وي ـ د ژوند دا لوبه د ژوند تېرولو او ژوندي پاتې کېدو دپاره روانه وي ـ دا تل عمر جاري وي ـ کالو سر ئې همدغسې تېرېږي ـ په دې کښې مشغولېږي سندرې ټپې ورسره وائي ـ څهٔ رنګ چې کر کروندہ کولے شي هم دغسې خپل اوزار رمبے ، لور ، کشۍ ، بېلچه، ايوه ، جغ ، چوکه ، سربانډي ، بيل راشپېل ، ښابنۍ ، غابنور ، پړي وندني ، بوجۍ ، ترنګښې ورله پکار وي ـ زميدار کهٔ په پټي کښې وي يا کهٔ په درمندونو کښې وي خو په خپل کار به اخته وي ـ يا به ئې ګېډے ، بوجۍ په سر وي يا به ئې ايوه جغ په اوږه وي ـ کله به ئې غوايان په مخکښې وي کله به د خر قچر حاجتمند وي ـ يا به په ځان پورې څهٔ وائي يا به خپله دلربا يادوي ـ کله به دواړه يو بل ته څهٔ داسې پېرزوئنې کوي ـ دا ئې د زړهٔ اواز وي ځانونه وربانډې خوشحالوي ـ

لؤ مې کوؤ ګوته مې پرېکړه
په تار د زلفو ئې تړه چې روغه شينه
لؤ چې کوې ګوتې به پرېکړې
پلار ته دې وايه چې لوګري واچوينه
جانان لوګرے لؤ ئې کار دے
چې په کابل کښې غنم زېړ شي رابه شينه
د هاغه شپې سحر رامهٔ شه
چې جانان لؤ کړي ما لاتېن نيولے وينه

باچـــائي تخــت مـــې پکـــار نـــهٔ دے
جانـــان دې لـــۀ کـــړي زهٔ بـــه ورېي ټولومـــه
راځـــه راځـــه چـــې خـــولګۍ درکـــړم
صبا بـــه چنهـو لـۀ لـه ځـو تـروه بـه شـينه
ګـــډه چـــې لـــۀ لـــور شـــي خـــواري زور شـــي
پـــه بخملـــي ګوتـــو بـــه ورېي ټولومـــه
تـــهٔ چـــې لـــۀ کـــړې ګـــوتې بـــه پرېکـــړې
ســـورکے پېـــزوان پـــه نـــرۍ پولـــه درغلمـــه
يـــه ســـپوږمۍ ســـر وهـــه راخېـــژه
يـــار مـــې د ګلـــو لـــۀ کـــوي ګـــوتې ربـــي نـــه

لوؤنه چې سر ته ورسي ـ غوبلونه ترېشرې وکړے شي ـ غله دانه راټوله کړے شي او سنبال کړے شي ـ نو بوس ئې پاتې شي ـ دا د څاروؤ خوراکه وي ـ هم ددې غرض دپاره دا سنبالولے او خوندي کولے شي ـ دا د نمر د تاوه او د باد و باران نه محفوظولے کېږي ـ ځکه نو بوساړې ورنه جوړولے شي ـ دا د څاروؤ ونډه بوتاوه د ژمي د موسم خوراکه وي ـ خپل دغه محفوظ کړي بوس بيا زميدار خپلو څاروؤ لـه ورکوي ـ دغسې د ژمي په موسم کښې کله چې د شنې ګيا کمے وي ـ دغه ذخيره کړې بوساړې پکارولے کېږي ـ دا بوساړې کال په کال جوړېږي او په وخت د ضرورت پکارولے شي ـ دا د کلي وال ژوند حصه وي او د کلي منظر ورسره بدلېږي رابدلېږي ـ مينه هم ورسره کيږي او جوړول ئې هم په مينه کيږي داسې لکه :-

پـــه بوســـاړه کښـــې دې غېـــږ راکـــړه
د دلـــه زويـــه د لشـــو دې ډکـــه کړمـــه
پېـــزوان دې ســـرهٔ بخـــري نـــولي
د چـــائي وســـوې بوســـاړې د چـــا ټوپونـــه
راشـــه چـــې خولـــهٔ پـــه خولـــهٔ کښـــې درکـــړم
د بوســـاړې پـــه خـــوا کښـــې تاتـــه ناســـته يمـــه

دغسې ګانړې هم د ټېلو ويستو دپاره وي او هم د ګوړې جوړولو دپاره . د ټېلي عمر له د ټېلو د ګانړې سره روزګار وي . د ګانړې د غوائي په غاړه کښې ئې ګينګړي يا جرس ځوړند کړے وي . ټېلي خپل نور دنياوي کارونه کوي ، غوائے تاوېږي ګانړې ګرځي د هغۀ د جرس اواز ته غوږ وي کله چې دا اواز اودرېږي نو دے ئې خبر واخلي . همدغسې ګانړې روانه وي . د تخمونو نه ټېل را وځي او په لوښو کښې جمع کولے شي .

داسې وائي چې د نوې زمانې يو وکيل چې د ټېلي ګانړې وليده نو د ټېلي نه ئې تپوس وکړو چې د ګانړې دا غوائے چې ولاړ وي نو تۀ څۀ رنګ پوهه شې چې ګانړې هم ولاړه ده . ټېلي ورته ووې چې د ګينګرو اواز بيا نۀ راخېژي . وکيل ورته ووئيل چې کۀ غوائي ولاړ وي او هسې سر خوزوي نو بيا ؟ ټېلي ورته سمدستي جواب ورکړو چې وکيل صاحبه غوائے ، غوائے وي څۀ وکيل خو نۀ وي ! دغسې د ګنو ګانړې د ګوړې اهتمام کوي . ګوړه جوړوي . کۀ په سوات شات پېدا کيږي نو سمه په ګوړه يادېږي . د سمې ګوړه د ګانړې د مخه وي . دواړه قسمه ګانړې د زميدارۍ سره تړلې پېژلي دي .

عشـــق دې مـــوږ مينـــې دې زوړ کـــړم
غم دې نچوړ کړم خالي پوک د ګانړې شومه

څۀ رنګې چې په اباده انساني دنيا کښې کور د کلي محلت د يو ځائے استوګني اکائي وي دغه شان مور ، پلار او بچي د خپلخانو اکائي وي . خپلخانې د رشتو خپلوۀ نه جوړې وي . دا رشتې يا خو پلرينې وي يا مورنۍ وي دواړو ته نيکانه وئيلې شي . هر کله چې پښتنه معاشره اثاثاً پلرينه ده . ځکه ښځه هم خپل کور بيا هاغې کور ته وائي چې خاوند ئې پکښې ورسره وي . د وادۀ نه پس چې په خپل کور شي نو د کوم کوره چې وادۀ شوې وي هغې ته بيا د پلار کور وائي . په دې تړون د جدا خاندان بنياد کېښوے کيږي . داسې د نوؤ رشتو سر نښلي او مورنۍ او پلرګنۍ رشتې په وجود کښې راځي . دغسې رشتې جوړېږي او ډېرېږي . څۀ په کور دننه او څۀ د کور نه بهر . د چا نه نيا نيکۀ جوړېږي ، څوک ترۀ تربور شي . څوک پکښې ماما او ترور شي . يا ورارۀ وريره ، خوريئے او خورزه شي . يو خاندان دوه شي . دوه خاندانونه څلور شي . اخر پوره خپلخانه شي . څوک

د کوره بهر کيږي او ځوک ورته رادننه کيږي ولې ددې هر څۀ باوجود مور ادې په خپل ځائے وي اوبابا هم د ځايه نۀ خوزي. په دې چې بچي د دوئي نه پېدا وي په دوئي پورې وي د دوئي په خوا وي . ځکه خو وائي چې لرې لرې لاړ شي بچے بيا د خپلې (ادکې) مور دے. د مور غېږه ، د مور خوا او د مور لمن. ددې ټولو نه د مور مينه جوړه ده . بچے د مور په پئيو پائيدلے وي . ځکه نو د رشتو په تړون کښې هم ورمبے حق د مور وي . مور ادې ده ، مور ابۍ ده مور کۀ هر څۀ ده خو مور ده ادکه ده . مينه کوي ، مينه غواړي ، مينه ئې حق دے او مينه هم لکه چې دا وائي چې يوه مور وي چې دا تشه مينه مينه وي. بې غرضه او بې لوثه مينه. داسې لکه د هاغې زلمي عاشق سره چې خپلې معشوقې په دې شرط د وادۀ لوظ وکړو چې کۀ د خپلې مور زړۀ ئې ورله په سوغات کښې راؤړو نو خبره به ئې ومني. عاشق د معشوقې شرط قبول کړو. د مور زړۀ ئې اوشوکوؤ. د معشوقې خوا ته په دوؤ شو چې ټکره ئې وخوړه او پرېوتو نو هغه د مور زړۀ ئې د لاسه خلاص شو. ولې چې زړۀ د مور ؤ . نو د هغې نه ئې دا اواز تر غوږ شو چې ,, بچيه خوږ خو نۀ شوې؟،، بس نو دا مور وي او دغه د مور مينه . ځکه خو مور د هر چا په خولۀ وي هسې خو نۀ وائي چې خرې مورې خوږې مورې !! اوس نو چې داسې محبوب ځوک ويني نو دا به نۀ وائي چې :-

ادکــــې هــــېڅ راتــــه مـــۀ وايـــه
زۀ دې دنيـــا تـــه لېـــونے راغلـــے يمـــه
ولـــې مـــې تـــوره تـــوره بـــولې
زۀ تـوره نـۀ يـم مـور پـه نـاز بللـے يمـه
پـــه مـــلا کـــړه شـــوه ماتـــه نـــۀ شـــوه
مـور ئـې د زيـړې غـوا شـودۀ ورکـړي دينـه
چـــــې د ادې خـــــدمت ونکـــــړي
د ښـځې نـاز خـو سـړے اور تـه غورزوينـه
يـو مـې دې مـور و پـلار خـدائے مـړۀ کـړي
د دنيـاګۍ پـه سـر ئـې خـاورې ايـرې کړمـه

ادکــــــې ډېــــــر مــــــۀ راتــــــه وایــــــه
ستا لــه خبــرو بــه شــم ورک پــه هېوادونــه
ادکــــــې مــــــورې چــــــراغ بــــــل کــــــه
د مــومن خــان پــه وینــو ســرۀ شــو بالختونــه
ادکــــــې مــــــۀ راتــــــه ځــــــورېږه
زۀ د ســورکو شــونډو ســودا ځپلــې یمــه
ادکــــــې هــــــیڅ مــــــۀ راتــــــه وایــــــه
زۀ د مابنـــام نـــرے لـــوګے یـــم تېـــر بـــه شـــمه
ادکــــــې مــــــۀ راتــــــه قــــــاربېږه
د مســــــافرو کــــــډې تلــــــې ولاړه ومــــــه
ادې کوچیانولــــــه مــــــې ورکــــــه
چې تور اوربل مې د سپین غر شمال وهینه
ادې کوچیــــــانو لــــــه مــــــې ورکــــــه
چــې پــه ځوړمنــو پســې غــواړو وطنونــه
ادې کېنســــــر مــــــې نــــــۀ جــــــوړېږي
بابــا تــه وایــه چــې نــور نــۀ کــړې علاجونــه
چــــــې شاباســــــے تــــــرې نــــــه بــــــودېږي
د فلانــي مــور تــه پټې سمې کړئ چې ځینــه
مــــــورې لنــــــډے قمــــــیص راجــــــوړ کــــــه
وطــن پــردے دے بــوټي خــولې رالګوینــه
چــې مــــور و پــــلار ئــــې شــــهزادګان وي
لونـــه ئـــې ځکـــه بغـــدادي کـــوترې وینـــه
مــــــورې لنــــــډے ټوپــــــک مــــــې راکــــــه
پــه مــا مئینــه جینــۍ بــل لــه ورکوینــه
مــــــورې ټوپــــــک ګرډنــــــۍ راکــــــه
مــا د ځــان کــړې جینــۍ بــل تــه ودوینــه

اوس راتــــه نېـــغ پــــه ســـترګو ګـــوره
پتېـــه د مـــوره پـــه بانـــه راغلـــې يمـــه
مـــورې چرســـي هلـــک مـــې خـــوښ دے
چـې تــر صــبا پــورې ټــوخي راتــه کوينــه
بـــس کـــه چـــې مـــور دې ګټـــې ولـــي
مناســـب نـــۀ دي ســـتا د کوښـــو ګذارونـــه
پـــــه بلــــی راغلــــه مــــور تــــه ژاړي
د کشـمالو څـوکې مـې سـخو خـوړلي دينـه
کـــۀ تـــۀ راځـــې بېګـــا لـــه راشـــه
دادا کـور نشـته مـور مـې سـتا رضـا کوينـه
ټکـــړې ټکـــړې مـــې مـــور لـــه يوســـئ
چې شـهيد مړ يم چې اونـۀ کـړي فريـادونـه
زۀ بـــــه تـــــرې ولـــــې نـــــۀ ځـــــارېږم
چې مور ته شا کړي ماته شنه د خندا شينه
جانانـــــــــه ســـــــــتا د زړۀ دپـــــــــاره
د کلـــي جنـــګ د مـــور خبـــرې تېرومـــه
زمـــــــا لالا د مـــــــوره يـــــــو دے
خدايـه ببـرې ئـې کـړې چې اوشـيندي ګلونـه
و مـــــــورې ماتـــــــه مـــــــۀ قـــــــارېږه
د مســـــافرو کـــــډې تلـــــې ولاړه ومـــــه
د مـــــور ملـــــوکې ســـــرې دې نـــــوکې
پـاس پـه تـالو کښـې دې خنـدا مـزه کوينـه
خدايـــه ښـــېرې ورتـــه دعـــا کـــړې
بخيلـــه مـــور مـــې د زړۀ اخلـــي ازارونـــه
ټـــوخې پــــه رو کــــوه ســــر وخــــورې
مـور مـې مېـره ده اوس بـه نېغـه ناسـته وينـه

د چـــا چـــې خپلـــه ابـــۍ نـــه وي
د زړهٔ جرنـدې دې چاتــه نــه لــرې کوينــه
ادکـــــې ډېـــــر مـــــه راتـــــه وايـــــه
مينـه کښــې چـا د مـور و پـلار منلـي دينـه
ابـــــۍ دادا تـــــه ګنـــــاه نشـــــته
چـا پـه ليتکـو کتلــي نـهٔ دي نصـيبونه
ابـــۍ مـــې ومونـــده پـــه لار کښـــې
خلقـه ژړا کـړم کـهٔ ازغـي تـرې ببرتـه کړمـه
ابـۍ مـې يـو زوئـے ئـې لـوئے نـهٔ کـړو
د زنکـــدن اوبـــهٔ بـــه څـــوک راڅځوينـــه
ادکـــــې مـــــهٔ راتـــــه قـــــاربږه
پـه تـا تېـر شـوي پـه مـا اوس راغلـهٔ وارونـه
پـــه ادې مـــور مـــې ســـلام وايـــئ
پـه ميراتــې بورجــل مــې وکــرل ګلونــه
چـــې د چـــا خپلـــه ادې نـــهٔ وي
هغـه دې وخـوري د شـا ډنـډ تـور ښـامارونه
تـــوتې تـــوتې مـــې ورلـــه يوســـئ
چـې د بخيلـې ابـۍ خـوا رايخـه شـينه
زمـــــا ابـــــۍ دادا تـــــه وايـــــئ
خوشـحاله نـهٔ يـم د ناکامـه ناسـته يمـه
پـــه مـــا ادې تـــر ســـره ګرانـــه
خـو زهٔ د يـار پـه سـر ادې خفـه کومـه

مور کهٔ هر څنګه وي مور وي. د رحمت فرشته وي. د ارام غېږه وي. د سرې زړهٔ پرې دمه وي د دعاګانو چينه وي. تر څو چې کور د پلار وي او نغرے د مور وي نو بچي هم پرې راټول وي. لمده وي او کهٔ اوچه وي غوړه وي کهٔ سپوره وي ګذاره ئې روانه وي. زړهٔ ته سکون او اطمينان حاصل وي. پلار ئې راوړي مور ئې پخوي کور يو وي ذمه وارۍ ئې بېلې بېلې وي. يو د سر سبورے وي بله ئې د پتېدو

لمن وي ـ ماشومان بې غمه وي ـ د پلار حېثيت په ټولو بر وي ـ په دې چې هر غم ئې په سر وي ـ د کور د صحرا په هره ښهٔ بده ئې نظر وي ـ کور په پلار محفوظ وي ځکه چې هغه ئې بادار وي ـ ښځه وائي خاوند نوم د خدائے دے ـ سړے وائي ښځه کور دے ـ چې کور ودان وي سړے شادان وي ـ چې ښځه نهٔ وي کور د څهٔ وي ـ کور په ښځه کور کيږي ـ چې ښځه مور شي نو سړے هم پلار شي ـ پلار بيا په رنګ رنګ يادولے کيږي ـ کهٔ مينه وي کهٔ بدي وي کهٔ نوم وي کهٔ بدنامه وي خو چې کور له راځي نو پلار له وي د بابا سپورے رحمت وي ، پلار په ښهٔ کښې هم يادېږي او په بده کښې هم يادېږي ـ ژوندون ئې مينه وي او مينه ئې ژوندون وي ـ چې پلار وي نو بچي په لار وي ـ دا لاره په هره مخه چې وي د غم په لور وي کهٔ د ښادۍ ټول پرې د پلار سره روان وي ـ ستائينې او غندنې د دغې لارې ګلونه او ازغي دي ـ دا ټول د پلار جولۍ ته غورزېږي داسې لکه :-

زما د پلار قبر دې وران کړو
ظالمه ړنګ دې شه مانۍ عمارتونه
په انديري مې ورته شمار کړې
پلار دې رضا دے مور دې سر و پښې کوينه
خدايه سپين ږيرے پلار ئې مړ کړې
د ورځې خوب د شپې په دې څوکۍ کوينه
ټکرې ټکرې مې پلار له يوسئ
دا ورته وايئ چې جانان وژلې يمه
زما د پلار په حجره راشه
چې درته کېږدې د زربفتو بالختونه
په خپل همت ځان زما يار که
پلار دې ظالم دے ما و تاته نهٔ پرېږدينه
جانانه بد راسره مهٔ کړه
ما دې پرېښې مور و پلار ماشومان ورونه
ځان خو به ستا د پلار نوکر کړم
په نوکرۍ کښې به وېريا ديدن کومه

پلار به مې درنګړي موزيه
هسې دې ځان وماته مه کړه اورونه

چې بې وفا جانان خبر شي
ما به مې پلار له تورو غرونو وړوينه

پلار خو دې ډېره دنيا غواړي
که ستا رضا وي چليکار به د چا شمه

خاونده پلار مې ليونے کړې
د اشنا غېږ پسې رنده شمکوره شومه

پلاره کوچيانو له مې ورکه
چې تور پېکے مې د سپين غر شمال وهينه

ولې خفه ئې خفه مه شې
خفه به زه يم چې د پلار د کوره ځمه

په ما دې ټول عالم خبر کړو
په تا دې يو دادا خبر شو زړه دې چوينه

که ته راځې بېګا له راشه
دادا کور نشته ادې ستا رضا کوينه

د دادا کور به غلط نه کړم
د سرو ئې ستني د روپو ئې دېوالونه

ارمان ارمان د دادا کوره
د ډکه شکوره به چاپېره ګرزېدمه

غمژنه يار چرې لاړې
زه د دادا انګن کښې ګوښې ناسته يمه

چې ډوډۍ خورم دادا قاربږي
چې روپۍ شرنګ کړي دادا شين د خندا شينه

خوله به په زور درخخه واخلم
ستا په دادا مې ځلور نيمې روپۍ دينه

یـــو ځلـــې خولـــهٔ پـــه مینـــه راکـــه
بیـــا دې دادا لـــه تـــوره ورکـــړه چـــې راځینـــه
جینـــــۍ د یـــــار پـــــه ننـــــداره شـــــوه
د پـــلار پرتـــوګ ئـــې پـــه څوبـــاړي اوشـــلاؤنه

په کور کښې د هرې ښځې او خاوند په زړهٔ کښې دا ارمان وي چې نېک او صالحه اولاد دې ورله خدائے ورکړي ـ کله چې په کور کښې ماشوم وزېږي نود خپلې مور غېږ ئې وړمبۍ د مینې دنیا ، د خوراک دسترخوان ، د روغ ناروغه درملتون ، د زدکړې مدرسه او د تربیت ښونځے شي ـ د مور د غېږې نه دبچي د ژوند سفر شروع کېږي ـ ددهٔ هر حرکت ، هره مسکا ، هره ژړا د مور د خوا وي ـ هر حرکت ته ئې د مور نظر وي ـ کله وربانديې خوشحالېږي او کله پرې زهېرېږي ـ اوړے ژمے ، شپه ورځ د مور زړهٔ د خپل ماشوم سره ناقلاره وي ـ ډېر زر ماشوم د غېږې نه زانګو ته کړے شي ـ مور ئې د کور په کار اخته وي ، ماشوم په زانګو کښې پروت وي ـ زانګو ئې زانګي د ے یا اودهٔ وي یا په کښې هسې لاس پښې خوزوي ـ پاس په سر چې څهٔ ورته ښکاري هغې ته ګوري ـ کله ئې په مخ مسکا خوره وي او کله په شونډو ژړا ـ چې په ژړا شي مور ئې زانګو له ټالۍ ورکړي مور ئې بیا په خپل کار شي ددهٔ ژړا ته ئې هم غوږ وي ولې په زړهٔ کښې ئې دا هم تېرېږي چې هله به زارېږم چې د کاره وزګارېږم ـ دغسې ماشوم حرکت کوي ، اول په خپاړو شي ـ د یو ځائے نه بل ځائے ته د ورخوزېدو په چل پوهه شي ـ کښېناستو ته هم جوړ شي او بیا یو وخت داسې راشي چې پل واخلي چې قدم پورته کړي د ګرزېدو شي نو مور ورته خوشحالېږي پاپلې پاپلې پل واخله پل دې بختور شه پسې بل واخله ورته وائي ـ دا هغه د تربیت لارې دي چې مور ته معلومې وي ـ مور پرې پوهېږي ـ د صبر ، د زغم ، د برداشت ډ ناکام ، دا هر څهٔ د مور په سر وي ـ د ننګ او پت کوم خواهش ، کومه آرزو چې دې په زړهٔ کښې لرلې وي او د کوم دپاره چې ئې تل د الله پاک نه دا سوالونه کړي وي چې :-

خدایـــه بـــې ننګـــه زوئـــے رامـــهٔ کـــړې
کهٔ په دیدن پسې ئې ړنده په سترګو شمه

نو دغه ماشوم اوس ددې په حواله وي ـ ددې د تربيت لېواله وي ـ ددې د غېږې د ښونځي نه مخ په وړاندې قدم پورته کوي ـ دا زوے وي او کۀ لور وي ـ د مور په خوئي بوئي لوئېږي ـ ځکه خو وائي چې کۀ :- سل خويونه ئې نور وي ولې يو به ئې د مور وي ـ يا دا چې کۀ : مور ئې غلـه وي نو لور به يې سُسکۍ وي ـ هېڅ څوک هم د مور په بدو نه خوشحالېږي او نۀ ورته د بدو نسبت کوي ـ کۀ څوک هم کله د چا مور په بده ياده کړي نو قدرتي ده چې هغه هم په څۀ داسې وېنا مجبور شي چې تۀ زما بده مور مۀ ښکنځه زۀ به ستا ښۀ مور ښکنځم ـ د ماشوم د ابتدائي ژوند د ښې بدې ټول دار مدار په مور وي ـ ولې مور هم چې ګيله منده شي نو وائي چې : د مور زړۀ په زوے او د زوے هغه په اوچ کاڼي ـ د مور راوړے ورور وي خور وي ـ ورور د خور نه او خور د ورور نه رنګ اخلي ـ د وينې رنګ ، د مينې رنګ ، د خوشحالۍ رنګ د خفګان رنګ ، په دې چې دوئي د يوې بخځې نه رابهر شوي وي ـ په يوه غېږه کښې رالوئے شوي وي په يوه زانګو کښې ئې زانګلي وي او يوې مور ورته پاپلې پل واخله وئيلي وي ـ زوے او لورد مور او پلار وي ـ هغوي ئې دعوېدار وي هم هغوي ئې وړومبۍ حقدار وي ـ په ښادۍ ئې ښادمن وي او په خفګان ئې غمژن وي ـ ځکه نو کۀ دا دعا کوي چې :

خدايــه بــې ننګــه زوے رامــه کــړې
کۀ په ديدن پسې ئې ړنده په سترګو شمه

نو د خپل دې ارمان د پوره کېدو تلوسه ئې هم وي چې :-

زوي مــې ځــوانۍ تــه قــدم کېښــود
د وادۀ غــم ورلــه کــوم چــې راضــي شــينه

بيا چې د لور نوم کله د چا په خولۀ راځي نو کۀ نسبت ئې د هغې مور و پلار ته وي او کۀ نه ذکر ئې کېږي ـ د مور او د لور د زړونو ټول رازونه يو وي ـ ځکه نو وائي چې مور او لور جنګ وکړو کم عقلو پرې باور وکړو ـ د کور خبره په کور تېره شي ولې کله خو وائي چې :-

پــه نصــيبه بــه مــې پرتــه وه
چرتــه مــوزي چرتــه زمــا د ابــا خونــه

عالمه راشئ مخ مې تور کړئ
د باچا لور ووم په جولا مئینه شومه
وړوکې نۀ ئې چې شرمېږې
پلار ته مې وايه چې په لور دې مئین يمه
په تا کېده په ما دې وکړه
په نازولې لور دې اوشه پساتونه
د میر زمان مغلي لونه
نن د باټي په مخکښې ځي سرتور سرونه
د میرزمان مغلي لونه
د سرکاڼو په ډاګ کښې وړې ټولوینه
ورک شي زما بده نصیبه
چرته موزي چرته زما د ابا خونه

لور او زوے ، جینۍ او هلک وي ـ د کور خوند رنګ په دواړو جوړېږي ـ د مور پلار مینه په دواړو ماتېږي ـ دواړه نونهال د ژوند د باغ تنکي بوټي وي ـ په دې بوټو د ژوندانۀ باغ ښائسته کېږي ـ دا هم چنډڼ وي هم بېره وي ـ هم خوشبوئي خوروي هم مېوه نیسي ـ دا د باغ ښائست او د باغ ښکلا وي ـ د دواړو د ژوندانۀ په دې باغ کښې خپل خپل ځائے وي ـ نۀ هلک د جینۍ ځائے نیوے شي او نۀ جینۍ د هلک ـ دواړه د ژوند د را روان پسرلي ګلونه وي ـ دا چې وائي چې هلک د ګلو ټال دے چینۍ د ګلو ځانګه ده ـ نودا خود ژوند د پسرلي یادګیرنه ده کنه ـ د ژوند پسرلے چې د چا نصیب شي نو هغه هلک وي او کۀ جینۍ وي زړونه ورباندې خوشحالېږي ـ بیا هم دا ځانګې ټالونه د ژوند د رنګینو سره همغاړې کېږي ـ د بختونو کاروان ئې روانېږي چې کاروان روان وي د حسن د رعنایۍ او د ژوند د خوشحالۍ سندرې ورسره اورېدے شي ـ کله هلک ستائيلے شي کله د جینۍ خوبروئي په زړۀ راورېږي ـ چې داسې حال وي نو کۀ څوک داوائي چې :-

د جینکو ټیکاوي لوبې
دا هلکان لکه خرګي لتې وهینه

مـــا د هلـــک د ســـترګو ځـــار کــړي
ملالـي سترګي خـوئـي خـور تـه تلـې دينـه
هلکـــــه روغ بـــــه لېـــــونے شـــــې
کـــځ د ګـــودر مـــازيګرے دې وليدونـــه
هلکـــه ټينـــګ بـــه راتـــه نـــځ شـــې
زځ د روپـی بنګـړي پـه ټپـل کښـې ماتومـه
هلکـــــه روغ بـــــه لېـــــونے شـــــې
کـځ د بـد رنګـې جينـۍ قيـنـج دې وليدونـه
هلکـــــه روغ بـــــه لېـــــونے شـــــې
کـــځ دې د زلفـــو پـــه ټـــال وزانګـــل مئينـــه
هلکـــه خـــاورې بـــه ډاکټـــر شـــې
ګـورې کتـاب تـه زوتـوې شـينکي خالونـه
اشـــــنا زمـــــا نـــــادان هلـــــک دے
چې خولګۍ ورکړم پـه صحرا وائـي حالونه

او کله چې جينۍ رامخې ته شي نو بيا د هغې په ستائيلو زړونه خوشحالوي ـ د عمر په پسرلي ئې نازېږي ، ويـاړ پرې کوي ـ قدر ټول د ځوانۍ وي ـ د ښېغلتـوب وي ـ د ښائست وي ـ د ژوند د پسرلي وي چې ګل غوټۍ ئې په ګل کېدو راغلې وي نو چې د چا نظر هم ورباندې پرېوځي نو د ماشاء الله او چشمِ بد دور سره دا هم وائي چې :-

خلـــــق د جونـــــو صـــــفت کانـــــدي
مـــا د بــې نيـــازه جينــۍ نـــاز رنځوروينـــه
نـــن مـــې خفـــه زړګـــے خوشـــحال شـــو
جينـــۍ پـــه ســـرو منګولـــو وکـــړځ ســـلامونه
جينـــــۍ د بـــــام پـــــه ســـــر کـــــېږه شـــــوه
لکـــه چـــې مياشـــت د غـــرځ پـــه ســـر ولاړه وينـــه
جينـــــۍ بخيلـــــه مـــــور دې مـــــړه شـــــه
چـې پيشـو ګـړپ کـړي نـو دا ښغـه ناسـته وينـه

جینـــــی کــــړه شـــوه ماتــــه نــــه شـــوه
کلــــه مــــاتېږي د چنـــدڼو شـــنهٔ ښـــاخونه
جینکـــــــو ښــــــې ســــــندرې وایـــــئ
داســـې ناویاتــــه ښـــادي کلـــه کلـــه وینـــه
جینــــــــی ولاړه پـــــــه نمانځـــــــــه ده
پېـرزو مـې نـهٔ شي تـور اوربـل پـه خـاورو ږدینـه
جینـــی پـــه بـــاغ کښـــې ســـره منـــه شـــوه
نـــادان بـــاغوان ئـــې پـــه اوربشـــو خرڅوینـــه
جینــــــی د یــــــار پـــــه تماشــــه شـــــوه
د پـــلار پرتـــوګ ئـــې پـــه څوبـــاړي وشـــلاؤنه
جینــــــی د یــــــار پـــــه تماشــــه شـــــوه
څـــاروؤ ئـــې وخـــوړل د بـــاغ سمســـور ګلونـــه
جینــــــی کوڅـــــه پـــــه کوڅـــــه راغلـــــه
کجـــک بانـــهٔ پـــه ســـالو ختلـــې دینـــه
جینکـــــو جنـــګ پـــه ګـــودر تـــود کـــړو
مشــره ویشــتل کــړي کشــره غشــي ورکوینــه
جینکـــــــی نــــــوے فېشــــــن غــــــواړي
زهٔ لیـــونی ورلـــه د لنـــګ تابیـــا کومـــه
د جینـــــــی درې لوېشـــــــتې غـــــــړی ده
اشـــنغری ده پـــه ریـــوړو خولـــه ورکوینـــه
د جینــــــی ســـــپینې ســـــپینې متـــــې
لکـــه د چـــړمهے نیـــوۀ نـــهٔ راکوینـــه
د جینــــــی مــــــړاوې مــــــړاوې ســـــترګې
لکـــه ګـــلاب چـــې د درې نیمـــو ورځـــو وینـــه
د جینکـــــــو نـــــــه ســـــــختې نشـــــــته
چـې پـه پردي پالنـګ کښـې مـات کـړي زنګونـه

د جينـــــــــۍ اونـــــــــه د بـــــــــادام ده
ســـپيني ســـيني ئـــې نارنجـــان نيـــولي دينـــه
وړه جينـــــۍ پـــــه يـــــارۍ پـــــوئې شـــــوه
لکـــــه لـــــړم پـــــه دېوالـــــۀ خولـــــۀ لګوينـــــه
د جينـــــۍ تـــــورې غټـــــې ســـــترګې
تـــر مرګـــه نـــه اوځـــي زمـــا لـــه زړۀ مئينـــه
مـــــورې لنـــــډې ټوپـــــک مـــــې راکـــــه
پـــه مـــا مئينـــه جينـــۍ بـــل لـــه ورکوينـــه
د جينـــــۍ تـــــورو ســـــترګو وســـــوم
كـــور ئـــې تالـــه شـــه رانجـــۀ چـــا ورکـــړې دينـــه
مـــــا د جينـــــۍ د ســـــر ســـــالو کـــــړې
چـــې نـــرې بـــاد شـــي مـــا ســـيني تـــه جختوينـــه
د جينـــــۍ ټکـــــي مـــــخ دے
يـــار ئـــې زرګـــر دے ســـتارې بـــه پکښـــې ږدينـــه
زمـــــا يـــــادېږي پېغلـــــې جونـــــه
د خراســـان تـــر واؤرو ســـپين ســـپين مړوندونـــه
د جينـــــۍ ټکـــــي مـــــخ دے
لکـــــه پـــــه ســـــره منـــــه لونـــــګ ټـــــومبلي وينـــــه
د جينـــــۍ خـــــال د عقـــــرب ســـــتورے
د لويـــو غـــرو پـــه ســـر ئـــې مـــړاوي کـــړل ګلونـــه
د جينـــــۍ ســـــرو لاســـــونو وســـــوم
زۀ بـــه ښـــبرې د کـــاروان مشـــر تـــه کومـــه
د جينـــــۍ مـــــخ پـــــردے وطـــــن دے
څوک چې پردي ملکونه خوري سر به پرې ږدينه
د جينـــــۍ مـــــړاوې ســـــترګې
لکـــه ګـــلاب چـــې د دوه نيمـــو ورځـــو وينـــه

د جینـــــــــۍ اونـــــــــه د چنـــــــــار ده
ســـپیني ســـیني ئـــې لاټوګـــان نیـــولي دینـــه
د جینـــــــــۍ خـــــــوئي د غرڅنـــــــۍ دے
غرڅـــه چـــې خـــولې پرېکـــوي وطـــن ښارینـــه
د جینکـــــــــــو اصـــــــــله خویـــــــــه
چې خولـۀ تـرې واخلـي سترګې ښـکته واچوینه
د جینـــــــــۍ درې خیـــــــزه مـــــــزه کـــــا
ارتـــه ســـینه ارتـــه کرتـــه لنـــډ قدمونـــه
د جینـــــــــۍ درې خیـــــــزه مـــــــزه کـــــا
ارتـــه ســـینه ګېـــډے پرتـــوګ لنـــډي ګامونـــه
زمـــــــا تـــــــرې طمـــــــع د یـــــــارۍ وه
جینـــۍ لالا لالا کـــوي رنځـــور ئـــې کړمـــه
ســـــوال ښائســـــته جینـــــۍ تـــــه وکـــــه
یـا بـه ئې منظـور کړي یـا بـه شـنۀ د خندا شینه
مالـــــــــه وره جینـــــــــۍ وادۀ کـــــــــړئ
چې نیمـه خـورم نیمـه پـه جېـب کښـې ګرځومـه

د ژوندانۀ په سفر چې جینۍ او هلک وړاندې قدم پورته کوي نو د ځوانۍ غوټۍ ئې رو رو ګل کیږي۔ دا هغه وخت وي چې حجاب ئې مانع شي۔ دې ته ئې خیال شي۔ حیا ئې په سترګو کښې ځائے ونیسي کۀ څۀ هم د آدم اولاد د خپل نیا نیکۀ په پل د قدم د کېښوؤ شوي وي۔ ولې هغوي ته هم چې کله د شجرِممنوعه نه د مېوې په خوړلو د خپلو شرمګا هونو د پټولو حاجت پېښ شي او شرم و حیا ئې سترګې کوزې کړي او د اونو پاڼې د ځان حجاب کړي۔ په دې چې دواړه اوس لکه چندڼ او ببره په خپله خوشبوئي خورولو او مېوه نیولو راغلي وو۔ دا خوشبوئي او دغه مېوه د زلمیتوب او پېغلتوب وي چې د آدم نه تردې دمه د حجاب او حیا په پرده کښې د ځان پټولو کوشش کوي۔ دا چې وائي چې :

ځانګـــه بـــه نـــن صـــبا کښـــې ګـــل شـــي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ لیدلي دینه

یا دا چې :-

بـــاغ تـــه دې تلـــل مناســـب نـــهٔ دي
ګـــلاب شـــرمېږي مـــخ پـــه پـــاڼو پټوينـــه

او دا چې :-

بيـــا بـــه نـــرۍ جـــانې اونکـــړم
بـــاران لمـــده کـــړم جـــان ټولـــه اوليدمـــه

دا هم دغې کېفيت پلو اشارې دي. د زلميتوب او پېغلتوب ګل چې څهٔ وخت په ګل کېدو شي نو د باغ ټول منظر ورسره په بدلېدو شي. د باغ هر بلبل ئې په ننداړو شي. د سحر د سپېدو وړانګې رو رو په خورېدو شي. د شبنم قطرې په ځلېدو شي. عطربيزه نسيم نسيم په الوتو شي. شوريده بلبل په چغېدو شي او بورا د ګل مخ ته په ګډېدو شي. دا زلميتوب وي دا پېغلتوب وي بيا نو دا وخت د آدم او حوا په قدم د قدم د کېښوؤ وي. دا هاغه وخت وي چې د شجر ممنوعه هغه مېوه هم د خوړو شي دا د نفس تقاضا وي. د نفس اماره تقاضا. دا وسوسه ده کهٔ جبلت دے ولې د ابوالابا بابا آدم عليه السلام او ادې حوا څخه په رواثت کښې راغلے دے. دې ته کهٔ څوک هر څهٔ وائي ولې دا د فطرت تقاضا ده. مېوه چې په پخېدو راشي نفس ئې خوراک ته آماده شي. اشتها ئې ورته سېوا شي. بيا نو هاغه دستور سرته د رسېدو شي چې آدم او حوا دواړه ئې د جنت د خوړو او باغونو نه محرومه کړي وو. د الپورۍ هاغې حافظ څهٔ سپينه خبره کړې ده چې وئيلي ئې دي :-

جنـــت څـــائے د تواصـــل تناســـل نـــهٔ ؤ
د غـــنم دانـــه بانـــه شـــوه و انســـان تـــه

هم دا هاغه جبلت دے چې آدم زادو ته په وراثت کښې راپاتې دے. دا د فطرت تقاضا او د انساني نسل د فروغ او خورېدو سبب شوے دے. دا د بشريت تقاضا ده. د يوم الست د هاغې لوظنامې چې د ارواحو سره شوې وه د تکميل لاره ده. د ښي اړخ او کيڼ اړخ ټول ارواح په خپل خپل وار په انساني صورت دنيا ته پېښنه کوي او په دې فاني رباط کښې د څهٔ وخت ايسارېدو نه پس بېرته په دايمي سفر مخ په وړاندې درومي. دغسې د بشريت تقاضې تر سره کيږي. دا په

انسان کښې د حېوانيت د زنځير کړۍ دي ـ دا د ګل نه د تخم او د تخم نه بيا د ګل د راټوکېدو عمل دے ـ چې د ازل نه جاري دے او تر ابده به هم دغسې جاري وي ـ هم به سپرلے راځي ځانګې به ګل کېږي مېوې به نيسي تخمونه به پېدا کېږي ـ هم به خزان راځي ګلونه به ريژي ـ مېوې به پخېږي ـ ټول به په دې عمل دغسې تېرېږي ـ د ټوکېدو ، ګل کېدو او رژېدو دا عمل به تل روان وي ـ دا آفاقي عمل دے ـ هر څوک به ئې په ننداره وي او دا به وائي چې :

څوک ټوکيږي څوک ګل کيږي څوک رژيږي
دا د ګلـــو کاروانونـــه چـــې تېريـــږي

زلمي او پېغلې ددې ژوند د چمن زار ددې روان کاروان ګلونه ګلغوټۍ دي ـ چې يو د کوږ پټکي جانان شي نو بله د سور سالو ماه خوبان شي ـ بيا نو يو بل ته ئې پام شي ـ د غنم دانه ئې ارمان شي ـ نفس ئې اوهوسېږي او آدم زاد د بابا آدم په قدم روان شي ـ په يو بل ئې د زړۀ مينه سود شي ـ په داسې حال کښې کۀ پېغله دا وائي چې :-

شـه رانـزدې چـې پکښـې ګـل اولګومـه
زمـــا د کـــوږ پټکـــي جانانـــه

نو زلمے به ولې دا نۀ وائي چې :-

پــه ګــودر ســور ســالو ښــکاره شــو
چا وې چې تورو اوبو اور واخېست مئينه

لاشعور او شعور خو به د حېوانيت په دور کښې هم موجود ؤ ـ په دې چې عقل او وجدان ددې زېږون دے ـ ولې هاغې وخت ته د ژوند په معاشرتي او تمدني لاره کښې لکه چې څۀ مانع نۀ ؤ ـ عشق او محبت يو جذباتي عمل او کېفيت ؤ چې د مينې عملي صورت ئې اختيارولے شو ـ د آدم د نوغې په سرشت کښې ددې خمير موجود ؤ ـ ولې کله چې پوهه ، فکر او علم راوړاندې شول نو د کلچر ، تهذيب او تمدن رده کېښوې شوه په دې چې کله معاشرتي ژوند د عمارت بنا شروع کړې شوه نو زلمے او پېغله د شرم او حيا محتاج شول ـ او شرم او حيا حجاب او پردې ته لېواله شول ـ په دې چې اوس دواړه زلمے او پېغله چندڼ او بېره وو ـ دوئي د

معاشرتي ژوند د ټېرولو حاجتمند شوي وو. کۀ د زلمي نه به دا توقع وه چې ننګ او جنګ ته دې هر وخت تيار وي او دا به وئيلې شول چې :-

د ځټــوک مــارو مېنــدو خوېنــدو
زلمـي پـه شـا وټپـوي چـې جنـګ لـه ځينـه
کــۀ زلمــي واړه ســتا پــه رنــګ وي
خدائې دې پـه داسې زلمو خاورې واړوينـه
د ننګيــالو پــه حجــره راشــه
چيلم ولاړ وي زلمـي جنـګ لـه تلـي وينـه
کــۀ د زلمــو نــه پــوره نــۀ شــوه
ګرانــه وطنــه جينکــۍ بــه دې ســاتينه
کــۀ د زلمــو نــه پــوره نــۀ شــوه
فخــر افغانــه جينکــۍ بــه دې ګټينــه
زمکــــې قلنــــګ دې زورور دے
زلمـي تـرې اخلـي رالېـږي تـش پالنګونـه
پښــې پــه قــلار ږدۀ خــاورې نــۀ دي
هاغـه زلمـي دي چـې کـاږۀ د خيالـه تلـۀ نـه

کۀ د زلمي د زلميتوب د ژوند کردار داسې وي نو پېغله هم د پېغلتوب په وخت په عملي ژوند کښې حصه داره لېدے شي ولې کم دليله وربانديې نۀ پوهېږي. کۀ زلمي ننګ او جنګ له پېدا وي نو پېغلې د مينې او ژوند ودې او فروغ له جوړې وي. کله چې د مينې او ژوند ددغې لوبې سر ننبلي نو ددې وجود پکښې په نخښنه کيږي لکه :-

دا پېغلتــوب مــې د غــم دود کــړې
خيـالي ځوانـانو راپسـې مـري خونکـاره شـومه
دا پېغلتــوب مــې د غــم دود کــړې
راپســې مــري ښــکلي ځوانــان کــاږۀ برېتونــه
ماتــه د پېغلــې کــور معلــوم دے
پــه دېوالــۀ ئــې کشــمالي کرلــي دينــه

وار بــــه دې تېــــر د پېغلتـــــوب شــــي
د پېچکــــي پــــه ځونــــډو مــــۀ وهــــه لاســــونه
پېغلتـــــــوب عمـــــــــر د خـــــــانۍ دے
خـان چـې د چـا در تـه ورځـي قـدر ئـې وينـه
مـــــا درتـــــه وې چــــې پېغلــــه اوکــــه
پېغلـه ګنـے دے بنـد پـه بنـد خونـد راپرېږدينـه
پېغلتـــــــوب نيمـــــــه باچـــــــائي ده
ورک ناوې تـوب شـه چې دوه نيمې ورځې وينـه
اول دې لـــــــوبې راســـــــره کـــــــړدې
اوس د جتـو پـه ځوکـو ځـې چې پېغلـه شـومه
پېغلـــــې دا ســـــور ســـــالو خېـــــرات کـــــه
اشـــنا دې تـــور دکـــن تـــه تلـے رابـــه شـــينه
د پېغلــــــې درې ځيــــــزه مــــــزه کــــــا
ارتــه پيپنــۍ ترنځــه ســينه لنــډې ګامونــه
د پېغلــــې هاغــــه تــــګ مــــې خــــوښ دے
چې مــازيګر مــنګے پــه سـر ګــودر لــه ځينــه
دې کنګــــې پېغلــــې تــــه دې خيــــال دے
چې پــه متيــازو ښــخ ټيکــرے ټپلــه کوينــه
پېغلــــه پــــه شــــګه کښــــې رهــــۍ کــــړه
پښـې بـه ئـې سـوزي خولـۀ بـه زر زر درکوينـه
چــــې پېغلتــــوب مــــې راپــــه زړۀ شــــي
د پېغلتـوب ارمـان پـه سـپين سـر کښـې کومـه

د کور د بامبير سر هله اونښلي کله چې ښځه په دې وپنا سر شي چې وائي چې نګور وم نو خوابښې مې ښۀ نۀ وه ـ اوس چې خوابښې شوم نو نګور مې ښۀ نۀ ده ـ په داسې حال کښې سخر او خوابښې د ژوند د کتاب داسې پاڼې شي چې خط پرې کيږي ولې ليک پرې خوربږي ـ بدۍ ئې رامخ تـه کيږي او نيکۍ ئې رو رو

هېرېږي بيا داسې وخت راشي چې دواړه د کارغهٔ د هغې قيصې د کردارونو په شان شي.

داسې وائي چې يو کارغهٔ به د يو هندو دکان ته مخامخ په اونه کښې کښېناستو. هندو به هم خپله دکانداري کوله او هم به ئې خپل ماشوم بچې قلاروو. عمرونه تېر شو. هندو بوډا شو. او چې بوډا والے پرې راغے نو خوئي ئې د ماشومانو شو. د زوے سره به په دکان کښې ناست ؤ. هاغه څهٔ چې دهٔ به په يو وخت کښې د خپل ماشوم بچي د خولې نه په مينه او په ناکام اورېدل هغه اوس ددهٔ په خولهٔ هم راتلل. دهٔ چې به هاغه څهٔ تکرارول نو زوے به ئې ورته قهرېدو. يوه ورځ هاغه کارغهٔ د اونې په څانګه کښېناست ددغې پلار او زوئے تماشه ئې کوله چې پلار کارغهٔ ته ګوته اونيوه. او خپل دغې زوئے ته ئې ووې چې کارغهٔ خو ناست دے. نو زوئے ئې په غصه ورته ووئيل چې ناست به وي کنه نو زهٔ څهٔ وکړم. بوډا هندو غلے شو. ولې کارغهٔ دا واورېدل. غږ ئې پرې وکړو چې ځوانه تهٔ چې ماشوم وې نو تا به هم ماته داسې ګوته نيوله او دې پلار به دې خبره په ډېره مينه اورېدله اوس چې تهٔ ځوان شوې او ددهٔ مثال د ماشوم شو نو تهٔ ئې زورې او رټې ئې. تاله شرم پکار دے. شرم هو شرم. څوک چې د مور و پلار احسان هېروي هغهٔ له شرم پکار وي.

مور و پلار چې سخر خوابنې شي نو کور د بل شي. کهٔ هر څو ئې دوئي دعوېدار وي ولې چې څوک ئې ويني ګوري نو دا به وا ئې چې :-

اختـــــر شــــــوقدر مـــــــې رانغــــــے
خوابنې مې مړه ده سخر مې نهٔ کوي دودونه
خوابنـــــې مـــــې بنـــهٔ ده بــــده نـــهٔ ده
د تنـــارهٔ پـــه ســـر ډوډۍ راتـــه شـــمارينه
زمـــــا پـــــه خوابنــــې ســــلام وايــــئ
خلـــق اخـــر کــــړي زهٔ زارهٔ پېوندومــــه

د ژوندانهٔ په دې لوبه کښې کله نا کله په کور کښې خردې بدل هم راځي. د يو نه دوه ، د دوؤ نه درې يا د درېو نه څلور کيږي هم. په داسې حال بنې بنتون شروع شي. يوه بنځه چې د بلې دپاسه راخېژي نو کهٔ وړمبۍ دا اووائي چې :

د بنـــــي غــــــږ رابانـــــدې اوشـــــو
لکـــه ډوډۍ پـــه تنـــارۀ خمســـوزه شـــومه

بیا چې کور ئې سره شریک شي ـ نو متل پورې کیږي چې یو لرګے اور نۀ کوي ـ او دوه بنې کور نۀ کوي ـ هغه د دروغژن قیصه ترې سازه شي ـ داسې وائي چې دوه دوستان وو ـ کورونه ئې ودان وو ـ هغې یو دوېم وادۀ وکړو ـ چې کور ته به راغـے نو لابه ساه صورت شوے نۀ ؤ چې بهر دیرې ته به راوتے ؤ ـ د حجرې په کټ کښې بـه پرېوتے ؤ ـ د هغې بل دوست ئې دې خبرې ته خیال ؤ ـ وئیل ئې زۀ نۀ پوهېږم چې تـۀ دا څنګه داسې سمدستي بهر دیرې ته را اوځې ـ هغۀ ورته اووئیـل چـې یـار څۀ بـه ئې وائې زما خو مزې دې کنه ـ ښځې مې دوه دي ـ چې په کور ور دننه شم یوه رانـه ایوه سر بانډ ے واخلي بله قلبه غوایان په اخور اوتړي ـ زۀ لا په کټ کښې ناست نۀ یم چې یوې راته کوزه په لاس کښې نیولې وي ولې لاس مې لاوینځلې نۀ وي چـې بلې راته ډوډۍ ایښلې وي ـ بس نو بیا نور څۀ وي خو بهر راواتۀ وي ـ دلتـه راشـم او په ارام ډېره اولګوم ـ هغې دوېم دوست چې ئې دا واؤرېدل نو شـېطان پـرې سـور شو ـ هغۀ هم بل وادۀ اوکړو ـ ولې په اول ځل چې د صحرا نه ستړے ستومانه کـور ته راغـے نو چا هم ورته څۀ توجه اونۀ کړه ـ یوې وئیل چې زما د لاس کـار دې خـوښ نۀ ؤ نو کوي دې اوس دا بله ـ ولې هغې بلې اووئیل چې زۀ دې څۀ مـزدورۍ لـه خـو نۀ راوستم کوي دې درله کنه ـ بس هم دغسې څو ورځې تېرې شوې ـ ولـې د سـړي ناکام ؤ ـ مجبوري ئې وه ـ هغه به هم پـه کـور دمـه کېـد ے نۀ شـو ـ بیـا یـوه ورځ پـه دېره کښې ناست ؤ ـ دېوالۀ ته ئې ډېره وهلې وه ـ د خپـل خیـرن شـوي پرتـوګ بـډې ئې لټولې ، سپږې ئې ترې راویستې چې په دې کښې ئې هاغه بل اشنا پرې راغـے وئیـل ئې ښۀ چارې ! دا څۀ کوې یار ؟ هغۀ نه یوه کړه نۀ ئې بله وئیل ئې تـۀ ګـورې نه دا څۀ کوم د دروغژن په بچې رالګم ـ د بنو د کور څۀ داسې حال وي ـ کۀ څۀ هم څوک دا وائي چې :-

د بنـــــو جنـــــګ زمـــــا یـــــادېږي
ستـا دې قسـم وي پـه مـا دوه وکـړه ودونـه
زمـــــا پـــــه بنـــــي ســـــلام وایـــــئ
کـۀ تـۀ سـپین سـان ئـې زۀ بخـې پـه تـا وهمـه

زمــــا پــــه بنـــې ســــلام وايــــئ
کـهٔ تـهٔ شـين بـاغ ئـې زهٔ سـېلاب در اوختمـه
پــــه مـــــا د بنــــې اواز اوشــــو
لکــه ډوډۍ پــه تنــارهٔ خمســوزه شــومه
نـــن مـــې د بنـــې زوئـــے مـــړ دے
ســترګې مــې ژاړي زړهٔ مــې دَوَر غړوينــه
بنـــې بنــــزي رابانـــدې تېـــر شـــو
زهٔ د دوزخ د لمبـــو ځـــهٔ پـــروا لرمــــه

د ماشوم دغه دوېمه مور چې د پلار په بل وادهٔ په کور رادننه شي نو مېره ورته وائي ـ مېره چې د بهر د زمکې وي نو دشت او صحرا وي ـ چې په کور کښې وي نو هر څوک دا وائي چې کهٔ مېرې ښې وے نو اوبهٔ به پکښې وے ـ او مېره دا وائي چې کهٔ پردے بچے څوک په خېټه کښې ومنډي خو پښې به ئې زانګي ـ دا ئې يقين وي چې پردے نهٔ خپلېږي ـ نتيجه ئې دا وي چې کله چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي او بچے د لوئې لارې قلندر شي ـ ولې بيا هم د ژوند ګاډے روان وي ـ خوېندې ورونړه هم پېدا کيږي په خپل کور لوېږي او لوئېږي ـ دوئي چې رالوئي شي نو مخه ئې خپله شي ـ کهٔ څهٔ هم دواړه د يو بل نه ځارېږي او هم په يو بل خوشحالېږي او هم په يو بل زهيرېږي ولې د ژوند مرامونه ئې سره بيل وي ـ څهٔ ارمانونه خو ئې د شريکې وي ولې څهٔ ئې بيا د ځان ځان وي ـ خور ته کهٔ خپل خوېندې ورونړه يادېږي نو دا د فطرت تقاضا وي د وس نه ئې بهر وي ـ کله چې د ورور خواله راشي نو کهٔ دا وائي چې :-

وروره وادهٔ پــــــه پســـــــرلي کــــــړه
خــور چــې لســتونړے غــورزوي ګــل شــوکوينه
زمـــــا د ورور ډولـــــــۍ درنــــــه ده
پــه بازوګــانو ئــې بلبلــې ناســتې دينــه
اخـــــر بــــه مـــــا پـــــه لالامـــــړه کـــــړې
چــې دې ربيــار د ورځــې دوه ځلــه راځينــه

زمـــا لالاچـــې کـــور تـــه راشـــي
غـــولې رنـــا شـــي بلـــې اوســـپړي ګلونـــه
پـــه ګـــودر څـــۀ بـــلا ښـــکاره شـــوه
چـــې کشـــر ورور ئـــې بدرګـــه ورســـره ځينـــه
ورور دې وادۀ پـــــه پســـــرلي کـــــړي
چـــې خـــور لســـتونې غـــورزوي ګـــل شـــوکوينه
زمـــا پـــرې ســـتا مينـــه مـــاتيږي
دا کشـــر ورور دې رالېـــږه چـــې شـــوملې وړينـــه
ســـتا مـــېخکې پـــه پـــوزه مـــۀ شـــه
ورور مـــې د ژمـــي شـــپه پـــه ورۀ کښـــې تېروينـــه
وړوکـــې ورور ئـــې پـــه ژړا کـــړئ
چـــې شـــين خـــالې خـــور ئـــې پـــه بـــام را اوخېژينـــه
چـــې وروڼـــه څـــې خوېنـــدې دې بيـــائي
چـــې ئـــې پـــه لحـــد کښـــې مـــخ لـــه دوړو پاکوينـــه
چـــې خوېنـــدې کښـــېني وروڼـــه ســـتائي
چـــې وروڼـــه کښـــېني خوېنـــدې بـــل لـــه ورکوينـــه
پـــه کوټـــه رو څـــه پښـــې دې پرېوځـــه
زمـــا جـــوړه وروڼـــه اودۀ دي ويښ بـــه شـــينه
ورور خـــو مـــې شـــته بـــې وروره نـــۀ يمـــه
کـــۀ مـــې تـــۀ نـــۀ ســـاتې خپـــل ورور بـــه مـــې ســـاتينه
وروره د تـــور ټوپـــک دې ځـــار شـــم
دا د کونداغ ځونډې دې خور جوړ کړے دينه
پـــه اشـــارت بـــه دې را غـــواړم
پـــه جـــوړه وروڼـــو بـــه دې پړوکـــي پړوکـــي کړمـــه
کـــړي لـــه ډډ ورکـــه زرګـــره
زۀ د اوؤ وروڼـــو خـــور يـــم قدرمنـــه

وروره پــــردي وطـــن تــــه مــــۀ ځــــه
کـۀ تـۀ امیـر ئـې همسـایه بـه دې ګنهـي نـه

او کۀ خور ئې دا وائي چې :-

روکـے چـې سـور شـي د خپـل کـور شـي
لالـے دې سـور شـي چـې سـوره وریـسي ځمـه

خو کۀ څۀ هم لارې بیلې شي ولې زړونه ئې نۀ بیلېږي ـ کله چې لارې بیلې شي نو کورونه ئې هم بیل بیل شي ـ یو کور د ورور شي بل کور د خور شي ـ ولې ورور د خور او خور د ورور میني ته تل لېواله وي ـ د دواړو په یو بل حق وي ـ ددې نه منکرېد ے خو نۀ شي ـ کۀ څۀ هم ورور د بل د خولې شي ولې بیا هم ورور ورور وي د خور زړۀ ورسره تړلے وي ـ خپل ورور وربانديې ګران وي ـ د ے کۀ څۀ هم بې پروا وي ولې خور ئې پروا داره وي ـ ځکه خو تل په دې وېنا سر وي چې یه وروره کافره یه خورې بې شرمي ـ دا د خور نا رغېدن وي ـ په دې چې فطرت ئې نۀ بدلېږي اوس نو چې حال داسې وي نو کۀ څوک دا وائي چې :-

خوبنــدې چــې کښــېني ورونـــه ســـتائي
وروڼـه چـې کښـېني خوبنـدې بـل لـه ورکوینـه
زمــــــونږ د ګنهــــــو خوبنــــــدو وروره
پــه دکــان کښـېنه رالــه غــوره کـړه شــالونه
مــــا پـــــرې ګمـــــان د نارینـــــه کــــړو
هلـک د خـور پـه وار پېـدا ؤ ډوبـه ئـې کړمـه
بــــې وروره خــــور پــــه کلـــې راغلــــه
نـاره ئــې اوکــړه شـپه بــه چـا کـره کومـه
خـــور ئـــې پـــېکے ورلــــه رمـــنځ کــړو
پــه تنـدې خـال ورلــه د یـار د مینـې ږدینـه
پــــه ور کښــــې دوه خوبنــــدې ولاړې
په مخ ئې برغګې اوښکې ځي ورک شې بېلتونه
زمـــــا پــــرې ســـتا مینـــه مـــاتېږي
کشـرۍ خـور دې رالېـږه چـې شـوملې وړینـه

چــې پــرې مئــين ئــې پــرې ئــې نــۀ ږدې
کــۀ پــه نکــاح ولاړه خــور دې پکښــې ځينــه

کۀ ورور د خور او خور د ورور وي نو ترله او تربور هم ددغې زنځير ګوته تر مېنځ کړې وي . ډېر ځله ئې کور هم يو وي . ځکه د ژوند لوبې ئې شريکې وي . کۀ ګيلې وي کۀ مانې وي بيا هم يو بل ته نزدې وي . کۀ څۀ هم ځوک دا وائي چې :-

ترلــــې تــــه مــــۀ وايــــه چــــې خــــورې
چې لاس اوچت کړي دعا خپل ورور ته کوينه

دغسې کۀ ترله هم دا ګيله کوي نو حق لري چې اووائي چې :-

تربــــور تــــه مــــۀ وايــــه چــــې وروره
د ســرداری پــړونے خپلــې خــور لــه ورينــه

کۀ د داسې څۀ پېښې امکان وي نو بيا ددې د اظهار لاره هم ازاده وي . کۀ ځوک دا وائي چې :-

ترلــــې تربــــور دې پکــــار مــــۀ شــــه
داســــې تربــــور د جونــــو قــــدر کموينــــه
پــــه مورچــــه دوه تربــــوران خونــــد کــــړي
چـې يـو زخمـي شـي بـل پټـی پـرې لګوينـه

بهـابي ، ورنـدار د ورور ښـځه وي . د ورور کـور تـه را وادۀ شـوې وي . د پـلار کـور ترې پاتې شوے وي او د ورور د کور حقداره شوې وي . څۀ رنګ چې دا د ورور د کـور حقـداره وي دغـه شـان پـه دې هـم د ښـتـن د وروڼـو خوېندو حق وي نـو کـۀ هغوي ورته دا وائي چې :-

زمــــا ورکــــوټې ورنــــدار ګــــوټې
د سـر ککـوټې ئـې پـه زړۀ کښـې ګرځومـه

نو دا ئې د خپلې ورندار سره د مينې اظهار وي . پـه هـره معاشـره کښـې ځينـې داسې کردارونه هم وي چې مثال ئې د غاړې د غور وي . دا نۀ خو پرېکېږي او نۀ خوښېږي . نۀ خو د ے د چا په ځان پېرزو کېږي او نۀ ورنه د چا شلاؤن کيږي . په خوښه وي او کۀ په ناخوښه ګذران ورسره کېږي . دغـه کـردار هـم د خندا وي هـم د ژړا وي . هم کـړلے کېږي او هم ورپورې پچموزې ، خنداګانې کېږي . دا د موزي

کردار وي ـ موزي په خپل عمل او په خپل کردار پېژندے شي ـ دا يو نۀ دے ډېر دي ـ هر ځائے دي هر ځنګه دي ـ موزي خوئي په رنګ بدرنګ وي ـ سپور وي بې نمکه وي ـ ځکه خو د بديشئ وي ـ په چا هم ښۀ نۀ لګي ـ هر څوک وربانديې پټمې منه وائي ـ او څوک خو لا دا هم وائي چې :-

کــۀ مــوزي يــو وے مــا بــه مــړ کــړے
پــه هــره خونــه کښــې موزيــان دي بدمخونــه

د هر چا د کور خپل خپل موزي وي ـ معاشره په موزيانو لتاړېږي ـ د هر چا ورته خيال وي ـ ورته وائي چې اوځه ننوځه د موزي بده وربوزه ـ موزي چې د کور وي د کور د تابيا وي چې د کورنئ وي کورنئ له زوال وي ـ چې د قام وي د قام د نقصان وي ـ او چې د وطن وي نو د وطن د تاوان وي ـ موزي موزي وي ـ په هر رنګ او په هره جامه کښې چې وي ـ ګوته ورته نيوے کيږي ـ کورنئ ، قام ، وطن ټول وربانديې شرمېږي ـ موزي خانه خراب وي کۀ قام شرمے وي او کۀ د وطن زيان وي خو موزي چې موزي وي نو د سمېدو نۀ وي ـ کۀ هر څوک ورنه د هر څومره زړۀ چاؤدے وي ولې بيا به هم وائي چې :-

د مــــــوزيګي د زوره نــــــۀ يــــــم
د لاس بنګــــړي مــــې خرڅــــوي ژړا راځينــــه
ســــل جــــوارګر خونيــــان ازاد کــــړئ
يو موزي مړ کړئ چې ترې جونه خلاصې شينه
د مــــوزيګي نــــه کونــــډه ښــــۀ يــــم
تــوره څرخــه بــه ګرځــوم ځــان بــه ســاتمه
يــــــه موزيګيــــــه بلاګيــــــه
نــۀ دې بــلا خــوري نــۀ دې جونــه قبلوؤينــه
دا مــــــوزيګے بــــــه درتــــــه وايــــــم
کــۀ دې رانــه وړۀ د شــنډي انــار ګلونــه
څــادر پــه ســر کــه تــرې را اوځــه
تــا د مــوزي پــه کــور کښــې څۀ ليــدلي دينــه

چې د سنګر د ختو نۀ ؤ
موزیګے ولې په تور بریښي جنګرېز له تلونه
پسې راواوره موزي مړ کړه
کونډۀ به زۀ شم ډب به تاته اوخېژینه
په موزیګي مې پېرزو نۀ شې
د خاورې خټ شې چې دعا درته کومه
په نصیبه به مې پرته وه
چرته موزي چرته زما د ابا خونه
په هوا تلم په جال بندي شوم
په پلګواخو کښې د موزیانو ونښتمه
جانانه زر په منډه راشه
موزي اودۀ دے چې خولګۍ درکړم مئینه
چا خو وئیل موزیان تمام شو
یو مې لیدو د ښځې سر ئې لتاؤنه
صبا ته بیا د ننګ غزا ده
نران به مري موزیان به بیا کور ته راځینه
چا راته وې موزیان تمام شو
زما د برخې موزي شتې ما ژړوینه
چې بې کینې جانان خبرېږي
زۀ به موزي په تیزندۍ وژلې یمه
ښتنه بیا دې ماسخوتن کړو
د ګلو لښتې د موزیانو کټ له ځینه
خاونده دا به ستا رضا وي
چې موزیګي راپورې هم خندلي دینه
خوا بد ے مۀ شه زما یاره
زۀ د موزي په لاس کښې یم چې جدا یمه

خــــواري د خـــدائے د لــــوري راغلـــه
مـوزي پـه مـا منت کـوي چې خـوار دې کړمـه
د رنجيــــت کــــور تـــه بـــه وادۀ شـــم
خـو مـوزيګي لـه بـه ځـان ورنکـړم مئينـه
د مــــوزيګي نخښـــه ښـــکاره ده
خـولۍ ئـې خيـرې ککـرۍ ئـې نمـر وهينـه
مــــوزي د کـــټ د ختـــو نـــۀ دے
د کـټ پـه خـوا کښـې راتـه سپو اوخړاؤنـه
شـــــېرينو دا رنګـــــه نـــــاره کـــړه
پـه نيمـه شـپه کښـې مـې موزيـان ازاروينـه
صـــبا تــــه بيـــا د جنــــګ وعـــده ده
موزيــانو وتــړل پـــه شـــنو لتــو ســرونه
مـــوزي دې خـــوب پـــه پالنــګ نــۀ کـــړي
حـق د هغـوي دے چې هېـواد پـه تـورو خورينـه
ورک شــــــې زمــــا بــــده نصــــيبه
چرتـــه مـــوزي چرتـــه زمـــا د ابـــا خونـــه
چـــې پـــه توپونـــو ســـوارۀ نـــۀ شـــي
د خــر ســورلي پــه مېـدان هـر مـوزي کوينـه
خدايـه موزيـانو کښـې مـرګ ګـډ کـړې
چـې د غېـرت لېـونۍ جونـه خلاصـې شـينه
د مـــــوزيګي نـــــه ماشــــے ښـــۀ دے
چې نيمـه شـپه شـي لـوټ پـه لـوټ مـې اړوينـه
مـــوزي پـــه مينـــه ځــــۀ پـــوهيږي
پـه ګېـډه ئـې مـوړ کـړۀ تـر صـبا کـوي خوبونـه
مـــوزي د کـــټ د ختــــو نـــۀ دے
پـه نيمـه شـپه اندرپايـه راؤړم لـه کومـه

مـــــوزي د کـــــټ د ختـــــو نــــۀ دے
اندرپا يـــه بـــه ورخـــاړي ورتــــه ږدمـــه
مـــوزيګے ښـــۀ دے بـــد خـــو نــۀ دے
چې تنـور تـود کـړم قلپـي ګـې رالـه راؤړينـه
صـــبا بـــه دنـــګ چنـــار تـــه چيـــژم
د مـــوزيګي د ښــخې ستـــر ماتومــــه
بـــې ننګـــه يـــاره خـــدائے دې واخلــه
خلاصــه دې نـۀ کـړم د مـوزي لـه پيغورونـه
ښـۀ شـــوه چـــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
يـه مـوزي خانـه تـل تـور بـرېښ بـه دې کاوؤنـه
پـــاس پـــه ســـنګر ټکونـــه وشــــول
مړونـه مـري مـوزي بـه بيـا کـور تـه راځينـه

# دويمه حصه

# کلتور او ثقافت

د معاشرتي ژوند قیصه هم خوندناکه وي هم دردناکه. سر ئې د کور نه نښلي. کله چې ګڼ کورونه او ډېر وګړي یو ځائې راجمع وي. په ګډه ژوند تېروي. لار والۀ ئې شریکه وي. په ښۀ بده کښې د یو بل پکار ېږي. مړے ژوندے او غم ښادي ئې یو وي. ژبه، جامه، خوارکه ئې په یو رنګ وي. د روغې ورانې باوجود ټول سره یو وي. خویښي دوستي ئې روانه وي او دغه شان خربوزه د خربوزې نه رنګ اخلي. خویونه، دستورونه، رواجونه ئې جوړېږي. د کلچر، ثقافت، تهذیب او تمدن ټول داستان د انسان د ارتقائي ژوند تاریخ دے. چې آغاز ئې د دوئي د ابو الاباد وختو راسې شوے دے. انسان چې د کله نه د پوهې او فکر خاوند شوے دے. د هاغې وخته ئې خپل مدافعت ته هم پام شوے دے کله د ځنګل د ځناورونه، کله د خزنده حشراتو نه، کله د باد و باران نه، کله د زلزلو او د اورونو نه او کله په خپله د انسان په انسان د یورشونو، چپاؤنو، حملو او ظلمونو نه، د وحشت نه د بربریت نه د ظلم او تعدي نه، په یو بل د ورختو نه.

جنګونو، یورشونو انسان ته د معاشرتي ژوند د تېرولو ډېر خوارۀ تراخۀ ورښودلي دي. دا ټول ئې کله خو دۀ د زړۀ په تختۍ لیکلي دي او کله ئې په خپلو روایاتو شمېرلي دي. خپل اخلاقیات، عادتونه، خصائل ئې هم ددې نه موندلي دي. د دین لارې ئې ورنه خپلې کړي دي. او د ژوندون تېرولو او په معاشره کښې په یو ځائې د وسېدلو بود بې بود، روایات، دستورونه، عادتونه او خصائل ئې خپل کړي دي. دغسې بېلو بېلو معاشرو وجود موندے دے. په خپل بېل بېل کلچر کښې ئې وده کړې ده. د جدا جدا ثقافتونو حېثیت ئې اختیار کړے دے. د ځان ځان ته تهذیب او تمدن وارثان شوي دي او په دې هر څۀ ئې د خپل کردار او عمل مهرونه او ټاپې لګولي دي. دغسې ئې خپلې خوبۍ

خپل خصلتونه ، خپل عادتونه ، خپل صفات څرګند کړي دي ـ په دوئي نازيدلي هم دي او زوريدلي پرې هم دي ـ دا ئې د خپل ژوند سرمايه کړي دي ـ او په دې ئې د معاشرتي ژوند خپل تصوير ساز کړے دے ـ ځکه چې په دې ئې پوخ يقين دے چې :-

زمـــــا عمـــــل زمـــــا قـــــانون دے
يـا مـې سـرے کـړي يـا مـې دار تـه رسـوينه

د هر انسان کردار او عمل د معاشرتي ژوند د عمارت خښتې وي ـ کۀ دا سمې کينبوے کيږي نو عمارت ته پرې څۀ نقصان نۀ رسي ولې کۀ په دې کښې د څۀ قسم کمزوري کچه والے ، کږليچ يا خلل ورانے پيدا کيږي نو په معاشرتي ژوند کښې ورسره هم د خلل او وراني پيدا کيدو خطره وي ـ ځکه خو د ژوند په دې روان عمل کښې د هر چا خپل حقوق او خپل فرائض دي ـ دغه حقوق او فرائض بايد چې هر فرد په ذاتي جوړ لـه ترسره کوي ـ په خپلو حقوقو دې کلک ولاړ هم وي او ورسره دې خپل فرائض هم ښۀ په احسنه طريقه سرته رسوي ـ دا عمل د کور د ډيرې ، کلي اولس او قام او هيواد د هر حيثيت او هرې ذمه دارۍ د خاوندانو دپاره بلا تخصيص ضروري او لابُدي دے ـ دغسې معاشرتي ژوند په توله کښې وي ـ نۀ څوک د چا حقوق غصب کولے او تروړلے شي او نۀ څوک د خپلو فرائضو نه غافله کيدے شي ـ ددې د مخه په معاشره کښې انصاف وي عدل وي او زړونه هم پکښې مطمئن وي کله چې ددې خبرې ذکر راځي نو داسې مثال ئې رامخ ته کولے شي چې :-

راشـــــئ انصـــــاف عـالمـــــه ګـــــورئ
عمـــرؓ پـــه خپـــل زوئـــے د دُرو حکـــم کوينـــه

په داسې کار تر سره کولو کښې اخلاص ، بې غرضي ، د نور اولس خير او فائده او د هر چا دپاره ددې يو شان والے هم لازمي وي ـ په دې چې قانون د هر چا دپاره په يو رنګ وي ـ اوس نو کۀ څوک ددې تقاضا کوي چې :-

زۀ د اخـــــلاص پـــــه پُـــــل ولاړ يـــــم
تـۀ د لبـاس پـه خنـدا راغلـې ډوب دې کړمـه

نو د اخلاص په لاره کښې د لباس خندا داسې عمل وي چې په معاشرتي نظام کښې خلل پېدا کوي. او هاغه خطره رامخ ته کوي د کومې نه چې کور او بهر او کوز او پاس دواړه محفوظول ضروري وي. کهٔ داسې نهٔ وي او څوک دې وېنا ته مجبور شي چې اووائي چې :-

بس دے هوښيار شومه اوس پوئې شوم
ستا د لباس په خندا ډېر تېروتې يمه

نو حق ئې لري. په موجوده دور کښې لباسي خندا ته سياست وائي. دا سياست کهٔ د کور وي کهٔ د دېرې وي کهٔ د کلي وي او کهٔ د قام سياست چې د لباسي خندا ګانو وي. نو هر څوک پکښې بې ارامه وي. هم دا په اصل کښې د حقوقو تروړل او د فرائضو سر ته نهٔ رسول دي. دا د ټول شر او فساد جړ وي. هم دا هغه عمل وي چې خرابي پېدا کوي د بې اطمينانئ باعث کيږي. يو بل ته پکښې ګوته نيوے کيږي.

خندا هسې خو په ډېر قسمه ده. ډېر رنګونه ئې دي. کله دا د خوشحالئ وي کله د مينې وي کله په ځان پورې وي کله په بل پورې وي کله د ګل خندا وي کله د محبوب ، ولې کله دا د دشمن زهر خند هم شي. چې هم زړهٔ خوږوي او هم سترګې ټيټوي. د لباس خندا هم په دوئې کښې شامله وي. خندا خندا وي. په انداز کښې ئې فرق وي. کول ئې په رنګ رنګ وي. خندا چې کولے شي نو داسې هم روپوري وئيلې شي چې :-

خندا له تا سره ښائيږي
ماته پراتهٔ دي په انبار انبار غمونه
په خندا هره جينئ خاندي
چې ليلى خاندي ملغلرې توېونه
زما په تشه خندا مسته
کهٔ خولهٔ مې درکړه لېونے به شې مئينه
په خندا چرې يار رانغے
مدام په بوټ وربوز راځي راؤړي غمونه

په خندا هره جینۍ خاندي
دا یوه نیمه د زړۀ زنګ لري کوینه

خندا په روغو زړونو کیږي
داغلے زړۀ به د چا څۀ خوشحاله شینه

خندا د یار د سورکو شونډو
هسې مزه کا چې د زړۀ غمونه وړینه

خندا دې بې اجله مرګ دے
په بې اجله مرګ مې مۀ وژنه مئینه

خندا د یار د ګل ګذار دے
بد ئې کتل دي چې سړے رنځوروینه

ډېر راته مۀ خانده جانانه
ستا به وي شا زما به اوښکې په مخ ځینه

زما د یار داسې خندا ده
لکه د نمر سترګه په غر کښې هسکه شینه

زما د یار داسې خندا ده
د سلو کالو مرور پخلا کوینه

ستا په نرۍ خندا مئین یم
د رب دپاره راته اوخانده مئینه

کۀ دې خندلے راته نۀ وے
غریب سړے ووم خپل روزګار به م کاؤنه

ماته د وراپه په خندا شوه
ټولې ګیلې مې د زړۀ ووتې مئینه

ننداني مۀ خانده په مینه
دا ستا د غاړې سوداګر راغلي دینه

کلے مالت راپوري خاندي
د جانان مینې د جهان د خندا کړمه

ماتــــه د ورایـــــه پـــــه خنــــدا شــــه
چــې وسوســې مــې د زړۀ لــرې شــي مئینــه
زمــــا پــــه تشـــــه خنـــــدا مســـــته
کـۀ خولـه مـې درکـړه لېـونے بـه شـې مئینـه

دا د خندا بېل بېل اندازونه ، شکلونه او صورتونه دي ـ هم پکښې مینه ظاهرولے شي او هم لباسي وي یا پکښې د مینې او اخلاص څرګندونه کیږي ـ اخلاص عمل دے ، اخلاص مینه ده ، اخلاص تعلق دے او اخلاص تعمیر او ودانې ده هم د زړونو هم د کور هم د خپلخانې هم د قام قبیلې او هم د ملک او د وطن ـ خبره د کوم ځایه کوم ځائے ته ورسي ـ خندا چې لباسي وي نو انجام ئې څۀ وي او چې د اخلاص وي نو څۀ نتیجې راوړي ـ هر څوک په دې پوهېږي د هر چا دې ته خیال وي ـ اخلاص د مینې زانګو ده ـ په دې کښې چې څوک زانګي زړونه هم شادان وي او شونډې هم خندان وي او په سترګو کښې هم خندا ځلېږي ـ دا پت وي دا ننګ وي او هم دا غېرت وي ـ دا د انسان خوبیانې او د انسانیت تقاضې دي ـ پتي ، ننګي او غېرتي انسان د کور ، د ډېرې او د معاشرې دپاره رحمت وي ـ دے هم صابر وي هم شاکر وي هم خپل خېر غواړي هم بل ته خېر رسوي ـ دا سړیتوب دے ـ انسانیت دے ، پښتونولي ده ـ

## قطعه

نـۀ د ژبـــت پـه چــل شـو پوهـه نـۀ د پـت
په ګاونډ کښې په څۀ جوړ وي ژبست مروت
تـول پـه شـاړو بانـدې سـر یُـو نـاخبر یُـو
پـه څـۀ جـوړ لـه سـمبډ ے مـو شـي سـمت

چې څوک داسې کوي دهغۀ سخ وي ـ هغه ستائیلے هم شي اویادولے هم شي داسې لکه:-

پـــه پـــت کښـــې تـــور مصـــلي ښـــۀ دے
بې پته یار کۀ شهزاده شي څۀ به ئې کړمه

دا تــهٔ چــې ځــې بــې غمــه اوســه
زهٔ پښتنه یـم سـتا پـه پـت بـه ناسـته یمـه
بــې پتــه زوئــے د چــا اومــهٔ شــه
بـې پتـه کـس تـول خانـدان اوشـرموینه
تــهٔ پــه ســفر کښــې خفــه نــهٔ شــې
لـوظ مـې دا دے ستا پـه پت بـه ناسته یمه
عـالمــه راشــئ مــخ مــې تــور کــړئ
مــا د بــې پتــه یــاري کــړه اوشــرمېدمه
تــــوري د هاغــــه زلمــــو کـــــار دے
چې پلار پـه ویـاړ او مـور پـه پت پاللي وینـه
بـــدن دې تـــول غلبېـــل غلبېـــل شـــه
د بـــې ننگـــی اواز دې رامــهٔ شــه مئینــه
مــا بــه تــرې ســر و مــال قربــان کــړے
ولــې جانـان مـې د ننـګ نـهٔ لـري خویونـه
بـــدن دې تـــول ســـورے ســـورے شـــه
د بـــې ننگـــی اواز دې رامــهٔ شــه مئینــه
دا تــهٔ چــې ځــې مــا پــه چــا ســپارې
مـا پـه بـې ننګـو خلقـو مـهٔ سـپاره مئینـه
بـــدن دې تـــول ټـــوټې ټـــوټې شـــه
د بـې ننگـی احـوال دې رامـهٔ شـه مئینـه
پـــه کټــــارو پرهــــر پرهــــر شــــې
د بـــې ننگـــی نامــه دې وانــهٔ ورم مئینــه
یــــاره د مــــرګ اواز دې راشـــــه
د بـــې ننگـــی اواز دې رامــهٔ شــه مئینــه
بـــــې ننګـــــه یـــــاره ګلعـــــذاره
پـه بـې ننگـی دې پښـتون قـام وشـرموؤنه

کـــهٔ د وطـــن پـــه ننـــګ شـــهيد شـــوې
ســـتا پـــه مـــزار بـــه لوپټـــه جنـډا کومـــه
پـــه چـــړو ټـــول ټـــوکر ټـــوکر شـــې
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــهٔ شـــه مئينـــه
د بـــــې ننګـــــۍ اواز دې لاړ شـــــو
د بابـــا زويـــه ســـتا پـــه نـــوم وشـــرمېدمه
مـــا تـــه کفـــن چـــې راتيـــر نـــهٔ کـــړې
کهٔ مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وينه
تـــهٔ د اســـلام پـــه ننـــګ شـــهيد شـــه
زهٔ بـه مـخ روښـې پـه مالـت کښـې وګرځمـه
ځـــان د وطـــن پـــه ننـــګ شـــهيد کـــه
چـــې جينکـــۍ دې د مـــزار ســـلام کوينـــه
کـــهٔ جنـــګ دې بـــائيلو چـــې رانـــهٔ شـــې
زهٔ د بـــې ننګـــو خلقـــو نـــهٔ کـــړم خدمتونـــه
ځـــان د وطـــن پـــه ننـــګ شـــهيد کـــه
چـــې د همزولـــو ســـره هســـکه غـــړۍ ځمـــه
هـــــره ناپســـــنده بـــــه دې يوســـــم
د بـــې ننګـــۍ غـــږ دې هـــر ګـــز نـــهٔ قبلومـــه
ځـــان د اســـلام پـــه ننـــګ ټـــوټې کـــړه
هـــره ټوټـــه بـــه دې الله الله کوينـــه
زمـــا پـــه مـــخ توکـــانې تـــوکې
کهٔ مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وينه
ځـــان د اســـلام پـــه ننـــګ شـــهيد کـــه
چـې دې نامـه پـه شـهيدانو کښـې راځينـه
بـــې ننګـــه يـــاره خـــدائے دې واخلـــه
خلاصـه دې نـهٔ کـړم د مـوزې لـه پېغورونـه

د ننــــګ ټوټـــه بـــه مـــې هرهـــله وي
کـــۀ مـــې د قبـــر تبـــې پورتـــه کـــړې مئينـــه
بـــې ننګـــه ننـــګ راباســـدې وکـــه
صبا مـې ستا پـه سر پانسـې تـه خېژوينـه
بـــې ننګـــي ونـــۀ کـــړې جانانـــه
پـه بـې ننګـې جنګونـه چـا ګټلـي دينـه
د ننـــګ ټوټـــه بـــه مـــې هرهـــله وي
کـۀ پس لـه مرګـه مې پـه ګـور راشې مئينـه
زۀ بـــه پـــه ننـــګ و نـــاموس ځـــۀ کـــړم
چـې د ښائسـته جانانـه ببـل وخـت تېرومـه
کـــۀ پـــه وطـــن دې ننـــګ ونـــۀ کـــړو
ګرانـه لاليـه بـې ننګـې لـه دې سـاتينه
کـــۀ پـــه مېونـــد کښـــې شـــهيد نـــۀ شـــوې
ګرانـه لاليـه بـې ننګـې لـه دې سـاتينه
جانانـــه پـــام د غېـــرت ځـــائے دے
غېـــرت کـــونکي بـــه زازو جنـــت لـــه ځينـــه
چـــې بـــې غېرتـــه مـــې مـــړ نـــۀ کـــړې
کـۀ غېرتـي سـړے مې مړ کـي خـون بخښـمه
د غېرتــــي ســـړي نـــه ځـــار شـــم
دا بـې غېرتـه خـو د مـال څـوکې کوينـه

د ننـګ ، پـت او غېـرت تقاضـا صـبر او شـکر دے ـ د د انسـانيت خاصـه ده ـ درناوے ئې دے ـ عزت ، حرمت ئې دے دا د فطرت تقاضـا هم ده او مشـيت ئې هم دے ـ د صبر تلقين او تاکيد د ازمائش په هر مقام او هره ګړۍ د اميـد مشـال روښـانه کـوي ـ څـوک چې شـاکر وي هغـه د اميـد دغـه مشـال د لاسـه هـر ګـز نـۀ غورزوي ـ دا د کاتبِ تقدير سره د رابطې ذريعه ده ـ د زړۀ سکون او اطمينان هلـه راشي څوک چې دغه رابطه ترلاسه کړي په دې چې :-

د خـــــدائے کارونـــــه ټـــول د خبـــــر وي
بنـده لـه ښـائي چـې د ے شـکر پـرې کوينـه
ولې کۀ څوک دا وائي چې :-
زۀ بـــه پـــه دې کښـــې څنګـــه جـــوړ شـــم
غمونـه خـورم د صـبر ګـوټ پسـې کومـه
صـــــبر د قبـــــر پـــــه مثـــــال د ے
زۀ چـې مـدام صـبر کـوم خـاورې بـه شـمه
صـبر مـې کلـک زړۀ مـې سـنګين د ے
مالـه افسـوس پـه بـې وسـۍ خپلـه راځينـه
خلـــق د ښـــو برخـــو صـــفت کـــړي
زمـا دې صـبر پـه دې خپلـه برخـه وينـه
صـــــبر کـــــوم پـــــه صـــــبر پـــــايم
الله پـــاک مـــل د صـــابرينو ســـره وينـــه

د ننـګ ، پـت او غيـرت خاونـدان وفـادار وي پـه لـوظ ټينـګ وي ۔د سـړيتوب خاوندان وي۔نېـک وي ، نېکي ئې کار وي خبر ښېګړه ئې د ژوند شعار وي۔ ترسي وي ، د ملامتې نه ځان ساتي ، رسوائي ، بدنامي کۀ په هر رنګ کښې وي د هر طرفه کۀ وي او د هر چا نه چې وي داسې انسان ترې همېش دپاره ځان لـرې ساتي ۔څوک هم چې د خپـل معاشرتي تهذيب په دائره کښې ژوند تېروي دا د هغوي د عمـل او کـردار حصـه وي ۔د پښتنو پـه معاشـرتي ژونـد کښـې دا ټولې خبرې ډېرې ضروري ګڼلے شي۔ځکه خو ستائيلے او يادولے هم شي۔
د وفـــــا لاس مـــــې ورلـــــه ورکـــــړو
پښـــتون بـــه نـــۀ وي چـــې لوظونـــه ماتوينـــه
پـــــــــه دې خبـــــــــره آمنـــــــــا ده
داسـې بـه نـۀ يـم چـې لوظونـه ماتومـه
د لوظـــــه تېښـــــته رانـــــه نـــــۀ شـــــي
د پښـتنې مـور پـه شـودو سـتر شـو ے يمـه

لوظونــه وکـــړي بيــا ئـــې مـــات کـــړي
ژبه تـرې پرېکـړئ چې بيـا نـهٔ کـوي لوظونـه

څوک چې څان په سړو کښې حسابوي د هغهٔ خويونه هم د سړيتوب وي ـ سړے په سړيتوب ښهٔ ښکاري ـ دا انسانيت دے ، دا پښتو ده دا پښتونولي ده چې دا نهٔ وي خبره ورانه وي ـ انسانيت حيوانيت پله مائل کيږي ـ دا هم د څان درناوے وي او هم د قام اولس او د ملک د خېر وي ـ چې دا نهٔ وي نامردي رسوائي وي ـ چې دا وي نو حال ئې بدي وي ـ

چــې زهٔ ســړدے وم تــهٔ مــې ســړے کــړې
چې تهٔ سړے شوې زهٔ دې ورک د ملکه کړمه
د کـــوتې تيـــر رابانـــدې پـــروت وے
رابانـدې نـهٔ وے د نـامرد سـړي لاسـونه
پــه ســر مــې چــج کمڅــې خــورې دي
رانــزدې مــهٔ شــه د نـامرد سـړي لاسـونه
چـــې مـــې ښـــېګړه پکښـــې نـــهٔ وي
کهٔ مې سکه د دادا زوے وي ورک دې شينه

څوک چې ښېک وي هغه به د ښېکۍ کارونه کوي ـ ښېکي خېر وي چې د چا د لاسه نورو ته رسي د هغوي د خوشحالۍ سبب کيږي ـ نکېي د عمل هاغه اړخ دے چې رڼا ترې خورېږي ـ تورتمونه پرې ورکيږي ـ زړونه صفا کوي ـ ژوند آسوده کوي ـ خوشحالي او فراغت راولي ـ کهٔ څوک دا وائي نو هغه د خپل خواؤ شا په حال زار ګيله مند وي څکه ئې وائي چې :-

ښېکـــــي کـــــوم راتــــه بــــد ېږي
په داسې حـال کښې بـه ښـهٔ چا سره کومـه
چــې مــې ښېکــي پــه ســيند لاهــو شــي
په داسې حـال کښې بـه زهٔ څـهٔ اسره کومـه

ولې د ښېکو کارو ، صابرينو خلقو دا ايمان وي چې ښېکي کوه درياب ته ئې لړه کوه ـ مهٔ ئې زباده وه او مهٔ ئې يادوه ـ د مينې سوغات چې څوک چاله ورکوي هغه ددې نه بې نيازه او بې پروا وي په دې پو هه وي چې :-

اجـــــر جـــــزا د عمـــــــل حـــــــق دے
څوک چې د نېکو عمل کړي نېکي به وړينه

بس هم دا هغه انسان وي چې د رحم ، ترس او احسان په خدائي صفاتو متصف وي ـ د چا په زړۀ کښې چې ترس نۀ وي ـ په چا ئې رحم نۀ راځي د احسان د صفاتو نه بې برخې وي هغه په ظالم ، بخيل او حريص حساب شي ـ د داسې خلقو نه هسې هم دا توقع نۀ وي چې په چا ورحمېږي ـ ترس ورباندې وکړي په داسې حال کښې چې :-

رحـــــــم د يـــــــو الله پکـــــــار دے
څۀ به بنده وي څۀ به ئې رحم په چا وينه

کله چې څوک د ترس خبره کوي نو د معاشرتي چارو د انتقاد موقع هم پکښې پېښېږي ـ دا پېښې نۀ خو ناشنا وي او نۀ ناوياته ـ د هر ځله داسې روا نا روا کولے شي ـ د وخت او نوعيت خبره وي ـ کله په يو رنګ وي او کله په بل رنګ کۀ څوک دا وائي چې :-

تـــرس پـــه ناترســـه يار کښـــې نشـــته
د غـم پـه تېـغ مـې د زړۀ غوښـې پرېکوينـه
تـــرس پـــه ناترســـه يـــار کښـــې نشـــته
د لاس بنګـــړي مـــې خرخـــوي ژړا راځينـــه

د ظلم زور د خاوندانو په خلاف د احتجاج لار يوه خو نۀ وي او نۀ ګني د ظلم او جبر خاوندانو ته خپلې ناپسندې څۀ بدې ليدے شي ـ ناپسندې کيږي او احتجاجونه روان وي ـ کۀ څوک وائي چې :-

د ظالمـــــــانو زور اوبـــــــۀ شـــــــه
نـن مـې اشـنا پـه کوڅـه غلے تېرېدونـه
د ظـــــالم دې ظلـــــم تـــــه ګـــــوره
هـم مـې وهـي هـم مـې ژړا تـه نـۀ پرېږدينـه

قصـور ، ملامتـه ، رسـوائي ، بـدنامي او ددې پـه نتيجـه کښـې د ګوګـل نـه راختونکے ازار د وخت د ناکړدو نتيجه وي ـ دا انفرادي هم وي او اجتماعي هم ـ

داسې ښېښې په معاشره کښې هر کله متوقع هم وي او کيږي پکښې هم ـ ګيلې مانې هم ورسره سمې وي ـ څکه نو :

خلقــــه ګيلــــه د چـــا نــــه وکــــړم
قصور مې خپل دے چې کتل مې سپين مخونه
نصـــيب تقـــدير تـــه ګنـــاه نشـــته
قصـــور زمـــا دے چـــې پـــه تـــا مئيندمـــه
د ملامتـــــو ملامـــــت يـــــم
څـــائے د تهمـــت يـــم چـــې پـــه تـــا مئيندمـــه
ملامـــت مـــا مـــهٔ کـــړې خاونـــده
ملامـــت يـــار ښـــهٔ دے چـــې زمکـــه ګروينـــه
د ســـــحر بـــــاده ســـــتمګره
پـــه ملامتـــه يـــار مـــې وايـــه ســـلامونه
د بـــــدنامۍ پـــــروا مـــــې نشـــــته
جانانـــه ستا پـــه سر بـــه خپـــل پـــردي کومـــه
دا تـــهٔ چـــې څـــې پـــه مـــخ دې ښـــهٔ شـــه
زهٔ ښـــتنه يـــم تـــا بـــه نـــهٔ رســـوا کومـــه
د څـــــوانۍ اونـــــه مـــــې زړه شـــــوه
لاد حـــرص څـــانګې مـــې اوس ســـپړې ګلونـــه

کهٔ ددې په نتيجه کښې د چا ازار شوي د زړهٔ اواز په آهونو ، ښېرو کښې بدل شي او کهٔ دعاګانې ئې هم ښېرې شي نو دا بهٔ څهٔ ناشنا خبره خو نهٔ وي ـ په دې چې دعا خو د ښهٔ زړهٔ نه کيږي او ښېرې د دړدولي شوي زړهٔ نه راپورته کيږي ـ

د پچـــي ګـــرام ملـــک تـــه وايـــئ
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې درته کوينه
د جنــــدول خــــان عمــــرا خانــــه
ډېرې دې کونډې کړې نور مهٔ اخله ازارونه
پـــه دعاګـــانو خـــو ونـــهٔ شـــوه
اوس به ښېرې څان ته کوم چې دعا شينه

مــــــا یارانـــــــه کلــــــــه کولـــــــه
ســـر تـــور ولاړ وې د ښـــېرو دې ویرېدمـــه

هسې خو یو انسان د بل انسان په خاطر مدار کولو فخر کوي. ولې کله چې څوک د چا په عشق کښې گرفتار شي او د زړهٔ مینه ئې ورسره پیدا شي. نو بیا لکه د پتنگ د خپل دغې محبوب نه خپل ځان هم قربانوي. مینه د سیرت او صورت دواړو سره کیږي. څوک د چا په صورت مئین شي څوک د چا د سیرت غلام شي. هغه د یو شاعر په شان چې :-

سیرت کے ہم غلام ہیں صورت ہوئی تو کیا
سرخ و سفید مٹی کی مورت ہوئی تو کیا

مینه د فطرت یو داسې سوغات دے چې هم د زړهٔ دنیا ابادولے شي هم ئې ورانولے شي. دا هم نُور دے هم اور دے. هم ژړا ده هم خندا ده. د فراق او وصال ټول دردونه خوندونه د عشق په گلستان کښې دي. ځکه نو کهٔ څوک ددې رازدان وي هغه به وائي چې :-

عشـق عاشـق لـره یـو هسـې گلسـتان دے
چــې دې بـــاغ وتـــه ئـــې لار د خـــزان نشـــته

اوس نو په داسې باغ کښې چې څوک ورداخل شي هغه د بل هر څهٔ نه بې نیازه او بې پروا شي. او چې د مینې مذکور ئې وظیفه شي نو کهٔ هغه دا وائي :-

پـــــه عاشــــــقانو زېـــــرے وشــــــو
د حســـن شـــمعغې پتنگـــان درلـــه راځینـــه
پـــه عمـــر کمـــې پـــه قـــد ســـمې
د حســـن شـــمعې پتنگـــان درپســـې مرینـــه
عاشـــــق کـــــم عقـــــل وي چـــــې ژاړي
اوبـــهٔ پـــه کـــاڼي بانـــدې څـــهٔ اثـــر کوینـــه
عاشـــــقي ښـــــهٔ ده بـــــده نـــــهٔ ده
څلـور یـاران زمـونږ رسـول خـوښ کـړي وونـه

پــــــه عاشـــــقانو زړــــــرے وشـــــو
وصـال باچـا شـو بېلتـون قېـد د عمـر شـونه
دا عاشـــــــقي د غــــــم زانګـــــــو ده
پــه چـا زنګېـــږي پـــه چـا وشـــلېږي لړونـــه
د عاشـــــــــق اووۀ ســـــــــــره وزرې
عــرش نــه تــر فرشــه جهانونــه كـــچ كوينـــه
د عاشـــــــقۍ بــــــــازاره وران شـــــــي
جـوړ كـړے مـا وې سـودا نـور دركښـې كوينـه
زمــــا د بــــــل كتـــــاب زړۀ تــــور شـــــو
چـې پـوهنځي د عاشـقۍ كښـې داخـل شـومه
عالمـــــه عشــــق كښــــې ګنــــاه نشـــــته
ماتـــه مـــلا پـــه ممبـــر پـــاس وئيلـــي دينـــه
عاشــــــــقي پتـــــــــه باچـــــــائي ده
څـوک چـې خوښـيار وي پـه هنـر ئـې چلوينـه
عاشــــــــقي نيمــــــــه باچـــــــائي ده
چـې څـوک پـوهېږي پـه انصـاف ئـې چلوينـه
عشــــــق زمــــــرے نصــــــيحت لښــــــته
دا شــنۀ زمـري پـه لښـتو چـا سـم كـړي دينـه
عاشــــــقي لال بېلتـــــــون ښـــــامار دے
څوک چې په لال پسې ورځي ښامار ئې خورينه
عشــــق ثــــواب دے كـــــۀ عـــذاب دے
موليـــــانو وګـــــورئ د شــــــرعي كتابونـــــه
عشــــــق اول ســــــړے باچــــــا كــــــړي
د بـې شـرمۍ تـاج ورلـه وروسـتو پـه سـر ږدينـه

## مينه

اے د مينـــې طلبګـــاره خپـــل ارام زمـــا نـــه واخلـــه
كـۀ پـه دې دې زړۀ سـمېږي دا انعـام زمـا نـه واخلـه

ما پـه لاس درتـه نيـولي دغـه ستا د مينـې جـام دے
کۀ ستا تنـده پـرې مـاتېږي راشـه جـام زمـا نـه واخلـه

مينـه د عشـق نـه پيـدا ده .دا د مـور ناوياتـه تحفـه ده .د پـلار سـپورے دے .د محبوب د کوڅې لاره ده.مينه د ګل خوشبوئي او د بلبل نوا ده.دا د حسن تقاضـا ده ، غوښتنه ئـې ده.مينـه سـود ، پېرزوئينـه ده ، تعميـر دے ودانـي ده.مينـه هـم حـرم دے هـم جومـات دے .دا قعـود دے دا قيـام دے دا سـجود دے .هـم دا محراب ممبر او مصله ده.دا رڼا ده دا نُور دے دا سرِ هم دے او سُرور هـم دے. دا د وصال خندا ده او د فراق ژړا ده.مينه د ازل نه را روانه او د ابد پـورې پـه سفر ده .هغه څوک چې ددې د لارې ملګرے دے هغه کامياب دے هغوي خپـل منـزل هم مونډے شي هم ورتـه رسېدے شي.څوک چې پـه دې راز خبـر دي هغـوي بـه وائي چې :-

مينـــې دې دومـــره احســـاس راکـــړو
پـه مېـرې پښـه نـۀ ږدم کـۀ يـار ئـې پـاتې شـينه
مينــــه کښـــې دومـــره بـــازي بـــس ده
چـې سـر و مـال جانـان تـه دواړه وسـپارينه
کـــۀ مـــې د مينـــې غـــوټۍ ګـــل شـــوې
پـه خوشـبوئۍ بـه ئـې هـر وختـې تـازه يمـه
د مينـــــې يـــــو ټـــــولګے عـــــالم وي
د بېلتانـــۀ ســـره د شـــام پـــورې فوځونـــه
د مينـــــي ميـــــر شـــــه اباســـــين شـــــه
چـــې خلقـــې دې پـــه اوبـــو ښـــېرازه شـــينه
د خـــدائے پـــه ښـــکلو مئـــين ښـــۀ دے
کـافر هغـه دے چـې پـه بـل څـۀ مئـين وي نـه
چـــې دوه مئـــين چرتـــه يـــو ځـــائے شـــي
دريم دې خـوار شـي چـې دپاسـه پـرې ورځينـه
تاتـــــه بـــــه مينـــــه ټـــــوقې ښـــــکاري
زمـــا پـــه ټـــول بـــدن ئـــې اور اولګـوژنـــه

مینه فراق باندې زیاتېږي
وصال په مینه باندې اور ولګوینه
اخر په خپله خدائے مئین کړم
ما په مئینو پورې ډېر خندلي وونه
مینه د خدائے د رسول ښهٔ ده
مجازي مینه سړے اور ته غورزوینه
یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل دې مئین په زورورو خلقو کړمه
مینه په تلو راتلو زیاتېږي
کله راځه کله به زهٔ درځم مئینه
مینه کومه غلا خو نهٔ کړم
خدایه دا ستا بندیان مې ولې تنګوینه
مینه مې پټه درسره ده
ښتانهٔ کله په ښکاره مینه کوینه
مینه خو تا کړه ما خو نهٔ کړه
چې اوس ئې لنډه پرېکوې ژړا راځینه
ما ته په مینه مینه ګوره
چې خطرې مې د زړهٔ لرې شي مئینه
غلے زما په خنګ کښې پرېوځه
زهٔ خپل مئین د خپل وزر لاندې کومه
چې پرې مئین ئې پرې ئې نهٔ ږدې
کهٔ په نکاح ولاړه خور دې پکښې ځینه
مینه روا ده خورې واؤره
پرون ملا په ممبر پاس وئیلي دینه
مینه ثواب دے کهٔ عذاب دے
مولیانو ګورئ د عشق کتابونه

بــس د ے پــه دغــه ځــائے بــه ئــې پرېــږدو
ځـوک چې مئـين وي هغـه تـل د تنـدې مرينـه

په معاشرتي ژوند کښې د روزمره ذمه وارو سرته د رسولو د عمل جاري ساتلو دپاره دا ضروري شي چې کورنے ژوند دې د مينې وي. په دوستئ ګاونډګيرئ او کلي اولس کښې دې يو تر بله د مينې د اظهار او فروغ خيال ساتلے کيږي. دا د قام قامولئ او وطن دوستئ تقاضې هم دي بايد چې هر څوک ئې د خپلو خپلو ذمه وارو تر حده په پوره په مينه او ښئ په اخلاص سرته رسوي. مولانا حالي چې په خپل وخت کښې دا خبره کوله نو په ځائے ئې کوله چې :-

ہندو سے لڑیں نہ گبر سے بیر کریں
شر سے بچیں اور شر کے عوض خیر کریں
جو کہتے ہیں یہ کہ جہنم ہے دنیا
وہ آئیں اور اس بہشت کی سیر کریں

مطلب دا چې مونږ په خپله دا دنيا په ځان دوزخ کړے د ے. نۀ کور په ارام نۀ په صحرا. په داسې حال کښې به ګيله د چا نه کيږي. د مينې د فروغ نتيجه صله رحمي وي. دا د انسانيت امتياز د ے. په دې انسان اشرف المخلوقات د ے. دا هغه جذبه ده چې کور په صحرا رحمت د ے. دا د معاشرتي ژوند روح د ے. کله چې دا جذبه موجوده وي د انسان انفرادي اعمال په تعميري لاره په يون وي. د وخت سفر جاري وي چې وختونه په سفر وي نو يون هم جاري وي انتظار ساقط وي. په دې چې د مينې رود هم بهيږي. هسې خو انتظار د قتل په مثال د ے ځکه هيڅ څوک هم ورته داسې په اسانه نۀ جوړيږي. ولې دا چې وائي چې کۀ په نصيب قې درشي نو ژامې پرې کلکې کړه. انتظار هم څۀ داسې عمل وي کۀ څوک نۀ هم غواړي ولې کول وي او چې کولے شي نو بيا خو به دا وائي چې :-

پــــه انتظـــــار مــــې شــــپه صــــبا کــــړه
نــۀ جانــان راغــے نــۀ ئــې راغلــل جوابونــه
پــــه انتظـــــار کښـــې ئـــې ز ۀ نـــۀ يمـــه
اشــنا د ټېښــتې ســړے نـۀ د ے رابــه شــينه

مولانا جلال الدين رومي چې دا وائي چې :-

خشک تار و خشک چوب و خشک پوست
از کجا می آید این آواز دوست

انتظار د هجران د پېشرفت د مخه وي ـ جدائي ، بېلتون ، طمع ، امېد د انتظار لاره جوړوي ـ جدائي او بېلتون چې کله هجر و فراق ته ورته شي نو زړۀ هم نولجن شي ـ دړدمن شي ـ زخمي شي لېواله شي په ژړا شي ـ هاغه څۀ يادوي چې زړۀ ئې غواړي کۀ دا ميسر وي زړۀ په قرار وي کۀ ددې نه محروم وي هجران ئې نوم شي ـ چې د محبوب اواز اوري ولې ليدے نۀ شي دغه هجران دے ـ هجران بېلتون دے هجران ژړا ده ـ تل په ژړا وي جانان به غواړي ، دلجان به غواړي ، ګلجان به غواړي ، کۀ داسې نۀ وي بيا نو هجران دے ـ هجران ډېر ګران دے ځکه خو وائي :-

ځـــــــواني د زرو روپـــــــــو اس دے
چـې د هجـران بارونـه وړي سـوده بـه شـينه
د هجــــران غــــم رانــــه چـــاپېر شــــو
د تصــــور پــــه قلابنـــد ارمــــان کومــــه
افســــوس افســـوس ارمــــان ارمــــان دے
اور دې هجران دے نور مې مۀ سيزه مئينه
زۀ د هجــــران پــــه دام کښــــې ګېــــر شــــوم
چـې د وصـال ښـکاري راځـي نـو مـړ بـه يمـه
هجـــــران دې وســـــومه ايــــره شــــوم
بـــې وفـــا يـــاره ســـتا رانغلـــو جوابونـــه
هجــــران کښــــې وســـومه ســـتې شــــوم
د بـــې وفـــا جانـــان رانغلـــو جوابونـــه
جـــغ پـــه اوږه چوکـــه پـــه لاس کښـــې
زۀ د هجـــــران ايـــــوه تـــــرم ازغــــي کرمــــه

رحمان بابا څۀ ښۀ وئيلي دي چې :-

نـوري نـارې نشـتـه يـو نـارې د بلتانـۀ دي
راشـه كـۀ ئـې اورې د ربـاب لـه هـره تـاره

هجران د بېلتانۀ خېمه ده ـ چرته چې بېلتون خېمه زن شي نو فراق نغمه زن شي ـ زړۀ ژاړي ، ستركې ژاړي ، اوښكې بهېږي ، ملغلرې توئېږي ـ جانان يادېږي ـ مينه نولېږي چې څۀ به كېږي هېڅ نۀ پوهېږي ـ جان ئې يادېږي وائي جانه جانانه، ګرانه ګلجانه، د زړۀ ارمانه تۀ چرته لاړې تۀ چرته لاړې ـ په كوم هېواد ئې ـ په كوم مقام ئې جانان به غواړي تل به دا وائي ـ بېلتون بلا ده ، بېلتون سزا ده تل به دا وائي ـ بس دا به وائي چې :-

بېلتـــون ربـــاب پـــه لاس كښـــې راكـــړو
اوس ئـــې د خيـــال پـــه ګوتـــو رو روټنګومـــه
اولـــــــه شـــــــپه د بېلتانـــــــۀ ده
ماښـــام نـــه ژاړم شـــپه بـــه څنګـــه تېرومـــه
بېلتـــون بـــاتور مـــې پـــه ســـر ګرځـــي
زمـــا د زړۀ كمتـــره ســـېل تـــه نـــۀ پرېږدينـــه
بېلتانـــــۀ اوســـــوم غـــــم ايـــــرې كـــــړم
خوښـه د بـاد ده چـې مـې كـوم طـرف تـه وړينـه
بېلتـــون پـــه خـــړه اســـپه راغـــے
مـــا وې ســـلام كـــوم دۀ وې كـــور دې ورانومـــه
بېلتـــون مـــې خـــوږ جانـــان جـــدا كـــړو
د ســـتركو اوښـــكې پـــه جركـــو ورلـــه لېږمـــه
بېلتـــون پـــه لـــوړو غرونـــو راغـــے
راكـوز ئـې مـۀ كـړې مـور او لـور جـدا كوينـه
بېلتـــون د كلـــي پـــه خـــوا راغـــے
رابـــرغ ئـــې مـــۀ كـــړې ورانـــوي ابـــاد كورونـــه
بېلتـــون پـــه هـــر چـــا مېلمـــه كيـــږي
چـــې پـــه مـــا راشـــي نـــو ســـنګرې جوړوينـــه

بېلتونـــــه کـــــور دې راتـــــه ښـــــايه
د زور دې نـــۀ يـــم ننـــواتې لـــه درځمـــه
بېلتونـــــه اوچ کـــــوهي تـــــه پرېـــــوځې
چـــې تـــۀ راخېـــژې زۀ چـــاپې درغورزومـــه
بېلتونـــــه مـــخ دې چـــا تـــــه مـــۀ شـــه
ماتـــه دې مـــخ شـــو د ســـيالۍ دې وويســـتمه
بېلتـــــون يـــــواځې پـــــه مـــــا نـــــۀ دے
بېلتـــون شـــمال دے هـــره اونـــۀ خوځوينـــه
بېلتونـــــۀ ځـــــۀ دې پـــــه لاس راغلـــــل
پـــه يـــوني کـــال دې جـــدا د يـــاره کړمـــه
بېلتـــون مـــې زړۀ تـــه ســـړک جـــوړ کـــړو
د غـــم بګـــۍ پکښـــې پـــه منـــده زغلوينـــه
بېلتونـــــه اوچ کـــــوهي تـــــه پرېـــــوځې
چـــې تـــۀ راخېـــژې زۀ دې پـــاټکي ورانومـــه
بېلتـــــون زمـــــا کشـــــرے ورور دے
پـــه ميراثـــه کښـــې رانـــه يـــار جـــدا کوينـــه
بېلتونـــه خـــوار شـــې زۀ دې خـــوار کـــړم
بيـــا دې محتاجـــه دبـــې ننګـــو خلقـــو کړمـــه
بېلتـــون قلنـــګ پـــه مـــا جـــاري کـــړو
ګـــوهر د اوښـــکو رانـــه وړي مـــا ژړوينـــه
بېلتونـــــه دومـــــره صـــــبر وکـــــړه
چـــې د جانـــان لُنګـــۍ زاړۀ کـــړي پلوؤنـــه
بېلتونـــــه کـــــور دې مـــــولاوران کـــــه
ښائســـته زلمـــي عمـــر پـــه غـــم کښـــې تېروينـــه
بېلتـــون د کلـــــي پـــــه مېـــــنځ راغـــــے
اواز ئـــې وکـــړو دوه مئـــين جـــدا کومـــه
پـــــه بېلتانـــــۀ مـــــې عرضـــــي ورکـــــړه

په کمېشن مې غمازان مقرر شونه
جغ په اوږه چوکه په لاس کښېږي
د بېلتانهٔ ايوې ترم ازغي کرمه
د بېلتانهٔ په ژرنده دل شوم
اوس مې غماز په غلبېلونو چڼوينه
د دريابونو لامبوزن ووم
د بېلتانهٔ په چړ مې مات شو زنګنونه
د بېلتانهٔ داسې چپه ده
لکه په زيړو ګلو رنګ شي د ېوالونه
د بې غمۍ په خوب اودهٔ ووم
بېلتون په مخ څپېړه راکړه ويښه ئې کړمه
دا ګل دې بيا په بېرته واخله
په ما سوکړه د بېلتانهٔ ده اوچ به شينه
د بېلتانهٔ توره ښاماره
چې دې خوړم نو خبر کړے به دې وومه
رامعلومېږي يار مې نشته
د بېلتانهٔ په جوارګرو پېښه شومه
راځه چې کلي ته نزدې شو
بېلتونه زهٔ دې په صحرا مونډلي يمه
راځه چې دواړه ورته يو شو
يواځې زهٔ په بېلتانهٔ کمزورې يمه
زما او ستا ياري د ګل وه
بېلتون چينجے شو د ګل مېنځ ئې وخوړونه
عالمه غوږ کېږدئ غوغا ده
بېلتانهٔ بيا په تالان پورې کړو لاسونه
کهٔ زهٔ خبر وے چې بېلتون دے
ما به اشنا د لاس نيولے ګرځوؤنه

کـــــۀ زۀ خبــــر وے چــــې بېلتــــون دے
مــا بــه د يـار سـترګو تـه ډېـر کتلـي وونـه
کــــۀ چـــا بېلتـــون ليــــدلے نــــۀ وي
د ســـکول ټلـــیٖ د بېلتانـــۀ نـــارې وهينـــه
کـــۀ زۀ خبـــر وے چـــې بېلتــــون دے
يـاره سـتا مـخ تـه بـه مـې ډېـر کتلـي وونـه
اشــــنا بېلتـــــون راســـــره وکـــــړو
نـۀ بـه زمـا پـه لـور راځـي نـۀ بـه ورځمـه
اخــــر بــــه پړمخــــې راپرېـــــوځم
د بېلتانـــۀ پـــه سـفر ځـم ټکـرې خورمـــه
مـــا وې د غـــاړې بــــه دې هـــار شـــم
د بېلتانـــۀ پـــه تـــاؤ، غټېـــوکې رېژومـــه
رب دې بېلتـــــون تـــــه مخـــــامخ کـــــړه
چـې در پـه يـاد شـي د تـودې غېـږې خوبونـه
بېلتـــــون پـــــه لار مخـــــې لـــــه راغـــــے
ځـائے مـې د تېښتې چرتـه نـۀ ؤ ګېـر ئـې کړمـه
بېلتـــون قصـــاب زۀ ئـــې حـــلال کـــړم
د قصـاب سـپي مـې پـوټې هـو خـوا تښـتوينه
بېلتونـــه خـــدائے دې ســـزا درکـــړي
زۀ دې د يـــاره ترقيامتـــه جـــدا کړمـــه
بېلتونــه خـــوار شـــې زۀ دې خـــوار کـــړم
ګورې چې سپي به مې د چا په در کښې خورينه
بېلتونـــه غبـــرګ زامـــن دې مـــړۀ شـــه
چـې يـو دې مـري او بـل سـلګیٖ درتـه وهينـه
بېلتونـــه کـــور دې رامعلـــوم کـــړه
جنـګ لـه بـه نـۀ درځـم ګيلـې لـه بـه درځمـه

دبېلتانـــهٔ مـــې ځـــان شـــاګرد کـــړو
مـا لاشـروع پـرې کـړې نـهٔ وه عـاق ئـې کړمـه
چـــې د دنیـــا بنیـــاد ئـــې کېښـــود
اول پـــرې دور د بېلتـــون وغړېدونـــه
بېلتـــون ښـــامار پـــه لار کښـــې پـــروت ؤ
زهٔ د جانـــان ســـره جـــوړه پـــرې وختمـــه
چـــې څـــهٔ کـــوې لاس دې ازاد دي
زمـــا وار تېـــر دے اوس دې دور دے بېلتونـــه
مـــا د ســـورو نـــه ســـلام ناخېســـت
بېلتـــون کمـــزورے کـــړم د پلـــو ســـلام کومـــه
اشـــنا مـــې لاړ شـــو مســـافر شـــو
زهٔ یـــک تنهـــا بېلتـــون ظـــالم تـــه پـــاتې شـــومه

ژوند هسې هم ارماني وي د بېلتون چېچې ئې نور هم ارماني کړي ـ هاغه څهٔ چې د زړهٔ د خوشحالۍ سبب وي هغه د زړهٔ نول شي ـ زړهٔ ونولېږي په غـم اختـه شي چې څهٔ غواړي هغه ورله په لاس نهٔ ورځي ـ ارمـان یـو نهٔ وي ، بې شـماره وي ـ پـه مخـه تېوکېږي ـ په مخه ډېرېږي ـ په مخه خورېږي ـ څو چې ډېرېږي بیـا نـهٔ سرکېږي ـ زړهٔ ارمـاني شـي ، اور زنـدګي شـي ، ژونـد د ارمـان شـي ، کلـه ځـان ژاړي کلـه یـار غواړي ، کله محزون وي کله مجنون شي ـ تل بیا په ځان وي ځان کهٔ څو ګران وي تنګ بیا په ځان شي ـ تنګ په جهان شي ، تنګي خواري شي ، خواري هجران شي هجران ارمـان شـي بیـا نـو دا وائـي ـ ارمـان ارمـان دې زړهٔ پرېشـان دے ورک مې جانان دے په کوم جهان دے کور د زړهٔ وران دے ـ په وران کالـهٔ کښې وخت نهٔ تېرېږي ، زړګے نـولېږي سترګې ژړېږي ـ جدائي اور دے بېلتـون نېـران دے ـ خلاصون ترې نشته ، ارمان ارمان دے ، بس دا به وائي ، هم دا به وائي :

ارمـــــان کـــــول زمـــــا عبـــــث دي
تېـر شـوے وخـت پـه بېرتـه بیـا کلـه راځینـه
ارمـــان بـــه وکـــړې وخـــت بـــه تېـــر وي
راځـه راځـه چـې سـره غـاړه غتـې شـونه

ارمــان بــه وکــړې وخــت بــه تېــر وي
پــه دلبــر جــان بــه وي د خــاورو انبارونــه
پــــه زړهٔ مــــې ډېــــر دي ارمانونـــــه
پـوره بـه نـهٔ شـي زهٔ بـه تـورې خـاورې شـمه
پــه تـــا کېـــده پـــه مـــا دې وکـــړه
کـهٔ مـا در وکـړه بيـا کـوې بـه ارمانونـه
افســـوس افســـوس ارمـــان ارمـــان دے
خوشے مېـدان دے سـترګې چاتـه واړومـه
افســـوس افســـوس ارمـــان ارمـــان دے
پـه پاکـه مينـه مـې غلـط ګمـان کوينـه
مـــا وې ارمـــان بـــه مـــې پـــوره شـــي
ارمان ارمان دے په ارمان کښې پاتې شومه
خدايـــه مـــرګے د ځـــوانۍ راکـــړې
چـــې جنـــازه مـــې د ارمانـــه ســـره ځينـــه
دا ســـــتا ارمــــــان الله پـــــوره کـــــړو
اوس بـه ارمـان مـې د خپـل زړهٔ پـوره کومـه
ارمـــــــان ارمـــــــان د دادا کـــــــوره
د ډکـه شـکوره بـه چـاپېره ګرزېدمـه
راځـــه راځـــه چـــې روغـــه وکـــړو
فـاني دنيـا ده بيـا بـه څـهٔ ارمـان کوؤنـه
زمـــا ارمـــان دا ســـتا ارمـــان دے
ستا دا ارمـان بـه پـه خپـل ژونـد پـوره کومـه
مســـــافر مـــــهٔ وژنـــــې خاونـــــده
پـه زنګـدن کښـې د وطـن ارمـان کوينـه

ارمان چې غم شي د زړګي نول شي ـ انسان سول بول شي بيا حق حېران وي ـ هېڅ نه پوهېږي چې څهٔ کول دي ـ څهٔ ته زيربېږي ـ سترګې ئې ژاړي ـ زړهٔ ئې غمژن وي ـ هېڅ هم نهٔ غواړي ـ خو هر څهٔ غواړي ـ په داسې حال کښې سم لېونے شي ـ سر پـه

سودا شي ـ سودا د ځان وي ـ ځان ته حېران وي ـ واک ئې بې واک شي کاواک کاواک شي ـ ژوند ئې پسخاک شي ، ځان ته به خاندي ځان ته به ژاړي ـ په داسې حال کښې سر په سودا وي هم دا به وائي بس دا به وائي :-

کـــۀ لېـــونے درپســـې نـــۀ شـــوم
دغـــه ســـودا بـــه مـــې تـــر عمـــره ژړه وينـــه
فکـــر ســـــودا پـــــه مـــــا زيـــــاتېږي
راتــه ښــکارېږي د بربــر لېــونے شــومه

چې داسې حال شي نو بې ارزي رامخې ته شي ـ مېدان خوشے شي ـ سمه سوګياړه شي ـ ورانه ويجاړه شي ـ خوشحالي لاړه شي ـ ژوندون پيشاړه شي ـ په داسې حال کښې چې څوک د چا په څنګ کښې نۀ وي ـ څوک ئې د لاس د ورکولو نۀ وي ـ څوک ئې د تسلۍ د خواخوږۍ نۀ وي ـ هغه څوک نۀ وي چې پرې نازېږي ـ چې ددۀ ورسره مينه وي ـ يا ددۀ سره مينه کوي ـ دۀ له ډاډ ورکوي ـ په دۀ خفه کېږي زهيرېږي پرې ـ ددۀ په شا ولاړ وي دے پرې را ټينګ وي او د سيالو سيال وي ـ سترګې ئې پورته وي ـ چې داسې نۀ وي د بې ارزۍ وار شي ژوندون په دار شي ـ زړۀ هم زبون شي ژوند شواخون شي ـ سترګې خونبار شي ـ بې ارزي دا وي ځکه به وائي :-

نـــۀ مـــې څـــوک وو نـــۀ پکـــار شـــو
د بـــې ارزۍ ژړا چـــې راشـــي وخاندمـــه
د بـــــې ارزۍ کچکولـــــه مـــــات شـــــې
چـې در پــه در دې ګرځـوم تـش دې راوړمــه
خپـــل پـــردي ټـــول راتـــه معلـــوم شـــو
د بـــې ارزۍ د ژونـــد احســـان نـــۀ هېرومـــه
شـــــناخت د بنېـــــر مينـــــه د ســـــمې
دا بې ارزي په سوات کښې ډېره ده مئينه
مينـــــه د ســـــم يـــــا د بنېـــــر ده
يو بې ارزي په سوات کښې ډېره ده مئينه

د بـــــې ارزۍ نــــــر يــــــه رنځـــــه
غوښـې مـې تـوئـې شـوې لکـه ګـل ورژېدمـه

چې داسې حـال شـي نو انديښـنې زور شـي ـ انديښـنه د غـم زانګـو ده ـ د فکـر ټـال دے ـ د ذهن داسې بيماري ده چې نۀ ئې دارو شته او نۀ ئې علاج شته انديښـنې د اور بخرے دے ـ مخې ته الوزي چې الوزي نو بربښي چې مړۀ شي نو ايره شي ـ ايره هم داسې چې په لاس نۀ راځي ـ د انديښنو سر په سر نۀ لګي څو چې ئې ځان وي څو چې د ځان وي څو چې په ځان وي د انديښنو دا کـاروان بـه هـم داسې روان وي او دا به وائي چې :-

د انديښـــــنو پـــــه ګــــاډي ســـــور ووم
د غـم پـوليس راپسـې راغلـو کـوز ئـې کړمـه
پــــه انديښـــــنو مــــې ځــــان باچــــا کــــړو
چې سر مې پورته کړو ملنګ د دهوئين وومـه
انديښــــــنې مـــــــۀ کـــــــوه جانانـــــــه
انديښــــنې وينـــه وچـــوي رنـــګ زيړوينـــه
د غــــــم جلـــــب دې پــــــه لاس راکـــــړو
د انديښـــنو پـــه اسـپه سـور درپسـې ځمـه

د انديښنو په دکـان چې څوک سودا کـوي د هغـۀ ټوله سودا د وار خطـايۍ وي ـ ځکه نو څۀ هم ورله په لاس نۀ ورځي ـ د چا چې وار خطا شي هر څۀ ترې خطا شي ـ کۀ سم روان وي خو قدم ئې وران وي ـ چې قدم وران وي د پرېوتو امکـان وي ـ چې څوک راپرېوځي د بل د لاس شي ـ وار نور خطا شي ـ په داسې حال کښې نۀ دے د ځا ن شي نۀ د بل چا شي ـ محتـاجي راشي ، ژونـد د ژړا شي ـ دا بيـا نۀ وائـي ـ دا دې زما شي ـ بې قابو ځان ئې بيا د بـل چـا شي ـ هـر څـوک پـرې خبـژي ـ ورک شي رسوا شي ـ وار پرې د بل شي چې وار خطا شي کـام ئې ناکـام شي چې وار خطا شي اوس کۀ دا وائي چې زمـا جانـه ماتـه راګوره لاس رالـه راکـه ـ نـو دا بـه اوري ، څوک ورته وائي :-

ګـــــوره چـــــې وار دې خطــــا نــــۀ شـــــي
د وار خطــــا پــــه ځــــائے دې زۀ ولاړه يمـــــه

وار خطا ژوند د ناکامۍ شي ، د محتاجۍ شي ، دلاوري ، زړورتيا ، خود اعمادي د مېنځه لاړ شي ـ محرومي په سر سوره شي ـ ناکاميابي مقدر شي ـ بنده نامراده شي ـ څوک چې په ژوند کښې ناکامه او نامراده شي نو ارماني ځان ئې بيا په هېڅ تسلي نۀ شي موندے ـ چې ژوند داسې شي نو د ويرډنډورسره ئې روزګار شي ـ کۀ په ظاهره نۀ ژاړي خو زړۀ ئې په ژړا وي ـ د بې اوازه ژړا مثال بيا کله د سرپوښ تنور وي ـ کۀ اور پکښې بل وي ولې لمبه ئې نۀ رابهر کيږي ـ بيا کله داسې هم وي چې سترګې په ژړا شي ، اوښکې را رواني شي حد دا چې اواز هم راپورته شي او داسې انداز اختيار کړي چې :-

پــــــه ژړا مــــــۀ راپســــــې ژاړه
مـا پـه دعـا کښـې يـادوه مسـافر شـومه
پــــــه ژړا هاغــــــه خلـــــــق ژاړي
چې د پنجرې نه ئې ساتلي طوطيان ځينه
پــــــه ژړا هاغــــــه خلـــــــق ژاړي
چې د محفل ياران ئې توري خاورې شينه
خـــــدائې ژړولے يــــــم ځــــــان ژاړم
پرېـږدۀ عالمـه چـې ځـان مـړ پـه ژړا کړمـه
زۀ بــــه دې پــــس لــــه مرګــــه ژاړم
چـــې دې نيکـــۍ د ژوندانـــۀ رايادومـــه
زۀ چـــې پيـــدا شـــوم پـــه ژړا شـــوم
پـه دنيـا خـور نصـيب بـه چرتـه ټولومـه
قســـم پـــه خـــدائے بـــاور پـــرې اوکـــه
چـې د مجنـون پـه شـان ژړا درپسـې کړمـه
کـــۀ وصـــال غـــواړې تـــل بـــه ژاړې
شـبنم د ګـل سـره واصـل پـه ژړا شـونه
کـــــۀ ژاړم ژاړم زۀ بـــــــه ژاړم
چـــې دې نېکـــۍ د ژوندانـــۀ رايادومـــه

کـــــــــۀ ژاړم ژاړم زۀ بـــــــــــه ژاړم
جانـــان زمـــا دیـــدن ئـــې نـــور خلـــق کوینـــه
مـــــا وے چـــــې زۀ بــــــه ورتــــــه ژاړم
زما نه مخکښې اوښکې ستا په مخ راځینه
مـــــا وې چـــــې زۀ بــــــه ورتــــــه ژاړم
پـه مـا نـه مخکښـې نـورې تـا وکـړې مئینه
مـــــا وې چـــــې زۀ بــــــه ورتــــــه ژاړم
جانـان د وړا یـه سـترګې سـرې نیـولې دینـه
پـــــــه ژړا نــــــــۀ دریســـــــــې ژاړم
تـــا پـــه دعـــا کښـــې یـــادوم ژړا راځینـــه
ولــــــې بــــــه نـــــــۀ ژاړم عـالمــــــه
چـــې لاس تړلـــې مـــې بـــوډا لـــه ورکوینـــه
ولــــې بـــــه نـــــۀ ژاړم تـــــالاشــــــوم
پـــه شـــنو غنمـــو مـــې سـرخے ولګېدنـــه
اشــــــنا مـــــــې بیـــــا پـــــه ژړا راغـــــے
چـــې غمـــازانو ورتـــه څـــۀ وئیلـــې دینـــه
د اشــــــــنا دې ظلـــــــم تـــــــه ګـــــــوره
هـم مـې وهـې هـم مـې ژړا تـه نـۀ پرېږدینـه

د ژوندانۀ دا لوبـه د ژړا او خندا پـه غوغـا تـودېږي ـ پـه دې لوبـه کښـې د هـر برخـه اخېستونکي لوبغاړي خپل خپل کـردار وي ـ دا کردارونه وخت پـه وخت بـدلېږي رابدلېږي ـ کله څوک د چا مل کیږي کله څوک د چا ـ دا بـدلون دغسې روان وي کله داسې هم وشي چې څوک پکښې بې وختـه هم خپلـه لاره بـدلول شـروع کـړي ـ ځان د لوبې د خپل ملګري نه په څنګ کړي ـ سترګې ئې بدلې شي ـ مېلان ئې بـل پله شي ـ ولې چې څۀ وخت ورته د بل ملګري پام شي نو ورته اووائي :-

خـــدائے بـــه دې بیـــا راتـــه متـــاز کـــړي
کـــۀ مـــې پـــه لنـــډه زنـــه ووهـــل خالونـــه

خـــدائے بـــه دې بيـــا راتـــه متـــاز کـــړي
ډېـر پـه ښائسـته ؤ پـس مـۀ ګرځـه مئينـه

د ژوندانۀ دا لوبه چې روانه وي نو ګيلې او جنګونه هم پکښې پېښېږي ـ څۀ د بې ارزۍ د مخه ، څۀ د محتاجۍ د ويرې وي ـ څوک په محرومۍ ګيله مند شي څوک په ناخوالۍ ـ د ګيلې مانې وجهې او سببونه ښۀ ډېر دي ـ چرته چې د ژوندانۀ زيست روزګار روان وي هلته د ګيلې مانې هر وخت امکان وي ـ څوک د جانان نه ګيله مند وي څوک د ځان نه څوک د يار اشنا نه ګيله مند وي څوک د دنيا نه ګيله مند وي ـ نن په يو څۀ ګيله مند وي صبا په بل څۀ ـ د ژوند د روانې لوبې سره دا هم يو روان عمل دے ـ وائي :-

ډېـــــرې ګيلـــــې زمـــــا پـــــه زړۀ دي
کـۀ پـه فـانې دنيـا کښـې بيـا راغلـۀ وارونـه
ســـتا بـــه زمـــا نـــه ګيلـــه کيـــږي
زۀ پـــه ولقـــه د زورورو ناســـته يمـــه
تـــا چـــې ګيلـــې کـــړې مـــا څـــۀ نـــۀ وې
چې ماګيلـه کـړه سـر دې ښـکته کـړو مئينـه
اشـــــنا يـــــو وارې خوالـــــه راشــــه
يـــو څـــو خبـــرې د ګيلـــې درتـــه کومـــه
ګيلــــه د چـــــا نـــــه اخـــــر وکـــــړم
پښـتانۀ خپـل وطـن پـه خپلـه روانوينـه
ببلتونـــــه کـــــور دې رامعلـــــوم کـــــړه
جنـګ لـه بـه نـۀ درځـم ګيلې لـه بـه درځمـه

يوه جذبه يو کړان يو کوشش چې په ډېر انهماک او ښۀ په تسلسل د څۀ مرام د سر کولو دپاره پوره په يکسويۍ ، مينه او کنجکاوي سره کولے يا روزلے شي او انجام کار ورباندې هغه مرام تر سره کړے شي دغه عمل په ځيګر خون ياديږي ـ په ځيګرخون سرته د رسولي مرام هغه زيارکش چې کله په خپل حق د دغې مرام د استفادې ، ګټې او خوشحالۍ څخه په څۀ سبب محرومه کولے شي ـ په دې باب له د څۀ قيود و پابند کولے شي ـ نو په داسې حال کښې د کوم کېفيت په اظهار

چې څوک مجبور شي دغه اظهار ته ګيله وئيلے شي ـ د ځيګر خون دا عمل ډېر ادق ، ګران او په ازمائشونو د راتېرېدو وي ـ کله د فکر و نظر ، کله په دماغ سوزۍ ، کله په محنت او کله د لاسو پښو په خدمت ـ دا هم دغسې يو مخيز زړۀ سترے عمل وي ځکه ورته ځيګرخون وائي ـ په داسې کارکښې د زړۀ درد ، مينه او وينه هر څۀ شامل وي ـ ځکه دا د هر چا د وس کار نۀ وي نو کۀ څوک ورباندې د اګاهو نه داسې خبردار کولے شي چې :-

ځيګـــــر خـــــوني بـــــه دې نصـــــيب ش
کۀ دې خپـل ځـان د تـورو زلفـو اسير کـۀ نـه

په حديث کښې راغلي دي چې حيا نيم ايمان دے ـ د کور د چارديوارۍ ښځه د حيا سرښنلي ـ حيا د شرم او ناموس سره شريک ژوند تېروي ـ ځکه شرم و حيا ، دواړه يو وي ـ کله يو حاوي کيږي کله بل ولې په خبرو په ناسته پاسته په واخله راکه او په وخوره ورکه کښې هر وخت د شرم و حيا حاجت پېښېږي ـ دا د پښتنو د معاشرتي ژوند بنيادي اصول دي ـ دا چې په مجموعي جوړ لـه د چا د ذات حصه وي ناموس ورته وائي ـ ناموس شرم هم دے ناموس حيا هم ده ـ ناموس عزت هم دے ناموس احترام هم دے ـ ناموس کور دے ناموس کورودانه ده ځکه د کور مېرمن په ناموس يادېږي ـ

کــــور تــــه چــــې تللــــې مــــا ليــــدلې
خــو مــخ مــې نــۀ در اړوؤ زۀ شــرمېدمه
مــــا درتــــــه نــــــۀ وے شــــــرمېدمه
د ســرې جــوړې ســره پېــزوان مــزه کوينــه

ناموس چې په ځائے وي حيا په ځائے وي ، سړے چې درونـد وي د عـزت خاوند وي احترام ئې کيږي ، ناموسي يادېږي ـ په داسې حال کښې نوم ناموس يـو شي ـ د کور د ېرې درناوے شي ـ د اعتبار خاوند شي ـ مقام ئې لوړ شي ـ نشان ئې ستر شي د قام رهبر شي ـ سر شي سرور شي ، قام پرې نازېږي ـ کۀ داسې نۀ وي څوک د چا ياد وي ـ نوم ئې ورکيږي بس خو پېدا شي لوئے شي فنا شي ـ رحمان بابا تـه غوږ ته شه، څۀ داسې وائي :-

ډېر هندکي په دنيا ګرځي د چا ياد دي
عشق ژوندی نامه د هير او د رانجها کړه

داسې مقام چې د چا نصيب شي هم ئې نامه شي هم ناموس وي۔چې داسې نهٔ وي نو دا په وائي چې:-

زهٔ نو په ننګ په ناموس څهٔ کړم
چې د ښائسته جانان نه بېل ژوند تېرومه
بيا به دې نوم په خولهٔ وانخلم
بېګا دې مور د دروازې شړلے يمه
يو ځل مې نوم په بدو لاړ دے
اوس کهٔ زهٔ ښې چارې کوم بدو له ځينه
زما پرې هسې نوم بدنام دے
په تبسم خندا د بل سره کوينه
لاليه ستا سر دې تېټ نهٔ شي
سر مې دې غوڅ شي خو ناموس به دې ساتمه

مينه د ژوندانهٔ په پاڅکو پورته خاتهٔ دي دا په معاشره کښې د عزت او احترام سبب وي۔مينه د هغه چا سره وي څوک چې د چا زړهٔ ته نزدې وي۔زړهٔ ته نزدې محبوب وي۔د مينې سر هم د کور نه ښېلي۔د مينې مرکز بدلېږي رابدلېږي ولې بيا هم مينه په ځائے وي په دې چې ددې محور او مدار ازلي دے۔قايم او دايم دے۔کله چې مينه دنياوي شي نو کور ته راشي او خپل دنيا وي مرکز د کور نه ساز کړي۔دا هغه مرکز وي چې د وخت سره پکښې بدلون واقع کيږي۔څهٔ رنګ چې موسمونه بدلېږي دغسې دنياوي مينه هم کله د ځان وي کله د جانان وي کله د مال وي کله د اولاد وي کله د يار وي کله د روزګار وي۔کله څوک اشنا پرست کړي کله د چا نه زرپرست جوړ کړي۔څوک حق پرست شي او کله بيا قام پرست يادېږي دا رنګې ئې منزل او مقام اوچت شي ۔مينه يو فطري عمل دے د هر انسان په سرشت کښې ده دا د انساني صفاتو اهم ترين جزو دے۔انسان چې اشرف المخلوقات دے دخپل دې صفت د برکته دے ۔ددهٔ نور صفات ددې عکس دي۔صله رحمي،خپلوي ، دوستي ، تعاون ، ايثار ، قرباني ، راهنمائي ،

مشري تهول په مينه کيږي ـ چې مينه وي دا هر څۀ وي چې مينه زائيله شي دا هر څۀ زائيل شي ـ چې دا وي نو تړون وي اتحاد وي وررولي وي ، نزديکت وي ، تعمير وي عمل وي علم وي د تهذيب او تمدن هره ارتقاء په مينه کيږي ـ د ژوندانۀ ټولې خوشحالۍ او ټول خفګانونه مينه راوړي ـ ځکه د ژوند هره خوشحالي او هر خفګان په مينه منحصر وي ـ

په خوشحالۍ راځه جانانه
زۀ تورې څڼې ستا دپاره جوړومه
دا خوشحالي د تن جامه ده
زما د تن په جامو اور ولګېدونه
چې خوشحالي وه ياران ډېر وو
چې غم پرې راغے واړو واخېستۀ لاسونه
په مور و پلار مې سلام وايئ
خوشحاله نۀ يم له ناکامه ناسته يمه
خفګان د زړۀ ژړا د ستر ګو
جلۍ د زړۀ په اسوېلو منع کومه

مينه په خاطر مدار پړه ده ـ دا د مينې صفت هم دے او مجبوري ئې هم ده ـ څوک چې د چا سره مينه کوي نو د هغۀ خاطر هم پرې ګران وي په دې چې زړۀ ته نزدې وي ـ دا د معاشرتي آدابو يو اهم جزو دے ـ د يو بل په خاطر کولو معاشره قايمه وي ـ دا د يووالي او اتحاد مخه سموي ـ هم دا نزديکت راولي د تعاون او تړون باعث کيږي ـ څوک چې د چا سره مينه کوي خاطر مدار به ئې هم کوي ـ په دې د زړونو ګلغوټۍ ګل کيږي ځکه خو وائي چې :-

خاطر دې ډېر رابانندې ګران دے
زۀ په ملالې خولګۍ لاس کله پرېږدمه
مينه په تللو راتللو زياتيږي
کله راځه کله به زۀ درځم مئينه

داسې په معاشره کښې د عملي ژوند کاروان په مخه روان وي ـ د هر انسان د وړاندې وروستو عمل په چاپونو ټول سوارۀ پلي قدم پورته کوي او په مخه

تېرېږي ـ کۀ لاره سمه وي سفر ئې اسان وي کۀ لاره ئې ورانه وي کشالې رامخ ته کيږي ـ په داسې حال کښې د امېد شمع روښانه ساتل د ژوند وړمبې تقاضا وي ـ په دې چې وړاندې منزلونه د امېد په مشالونو بلولو سر کيږي ـ د کاروان د سر پرې مشال بردار کۀ دا وائي چې :-

مونږ د ژوند د پېشمنې ورستې ډيوې يُو
پس له مونږ به په جهان رڼا رڼا وي

نو اشاره ئې هاغې صباؤن پله وي چې د سپېدو دښکاره کېدو امېد ئې لري ـ هر څوک دا وائي چې دنيا په امېد خوړے شي ـ ځکه نو امېد د لاسه ورکول نۀ وي پکار په دې چې نامېده شېطان دې ولې کله داسې هم کيږي چې :-

دنيا خوړلے په امېد شي
زۀ د جانان غم نا امېده کړم مئينه

هر څوک په دې پوهه وي چې د زړونو په حال يو الله خبر وي ـ يو انسان کۀ د بل انسان نه دا تپوس کوي چې حال دې څنګه دے نو دا تپوس به ئې تش د څو لمحو د حال په باره کښې وي ولې چې په يو حال خو يو خدائے وي د انسان حال خو د وخت د بدلېدو سره په مخه بدلېږي ـ څۀ رنګ چې موسم بدلېږي رابدلېږي ـ دغسې حال هم بدلېږي رابدلېږي ـ د عمر تېرېدۀ او د حال بدلېدۀ يو روان عمل دے ـ انسان تل دا امېد و بيم په دنيا کښې وسي ـ بيم و رجا ئې د ژوند ملګري دي ټول حال ئې په دې پورې تړلے وي ـ نو کۀ څوک دا وائي چې :-

دنيا کښې داسې طبيب نشته
چې ګوري لاس او حال د زړۀ معلوموي
څوک مې د حاله خبر نۀ شو
زۀ د بېلتون د لاسه اوچ کخکرے شومه
څوک مې د حاله خبر نۀ دي
په خپلو وينو کښې مې زړۀ وتلېدونه
په حال مې هېڅ څوک نۀ خبرېږي
زما د زړۀ وينې خوراک شوې مړ به شمه

زمـــا د حـــال تپـــوس تـــرې وکـــه
مخــې لــه ستا مــې درلېږلــي ارمانونــه
ښــهٔ شـــوه چــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
مـا سـر و مـال پـه تـا شـيندو هوښـياره شـومه
ښــهٔ شـــوه چــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
په موزي خانـه تـل تـور بـر ښن بـه دې کاوؤنـه
ښــهٔ شـــوه چــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
د مېـــرې زوزه د ازغـــو دې ډکـــه کړمـــه
ښــهٔ شـــوه چــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
کـور تـه دې راغلـم مـور دې لنـګ وهلـے وونـه
ښــهٔ شـــوه چــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
د مېـــرې خـــراړه د ګـــذاره ســـره ځينـــه
خـــدائے دې زمـــا پـــه حـــال خبـــر کـــړه
چـې ناسـته ملاسـته دې د غمـه سـره وينـه

دبيم و رجا دا عمل هم دغسې جاري وي ـ انسان تل په ويره کښې وي ـ کله د ځان و يره ، کله د اولاد ويره ، کله د مال ويره ، ويره چې هر څنګه وي ويره وي ـ کۀ څۀ هم په دې پوهېږي چې ويره يو د الله نه پکار ده ـ څوک چې د الله پـاک نـه ويرېږي هغه يو د هغۀ په پناه کښې ځان ور رسوي ـ چې دا ئې نصيب شي ويره مفقود شي ـ ورکه شي عنقا شي باطله شي ختمه شي ـ ځکه خو په هر حال کښې ورنه دا تقاضا کيږي چې ان لله و ان اليـه راجعـون دې وائـي ـ دا هاغـه نسـخه ده چې د يـو حکيم طبيب په لاس کښې نۀ ده ـ دا نۀ د ډاکټر حکيم د فيس محتاجه ده ـ او نۀ طلب او وېنا ته ئې څۀ بندېز حائل کيږي ـ دا د ايمان او يقين هاغـه نسـخه ده چې ټولې دنياوي ويرې او خطرې د مېنځه وړي څوک چې د دې پـه اسـتعمال پوهـه وي هغه کامياب وي ـ بامراده وي او ازاد وي چې داسې نۀ وي نو تـل مـلال وي او تـل په ويره کښې وي ـ تش دا به وائي چې :-

د ويـــرې غـــرۀ کـــولے نـــۀ شـــم
د ســوال يــاري ده اوس بــه دړې وړې شــينه

داسې ټولې خبرې په شعوري جوړ له انسان خپلوي هم او عمل هم ورباندې کوي ـ شعور د انسان په جلبت کښې وي ـ دا هاغه خصلت دے چې د نورو حېواناتو په رنګ ئې انسان هم د ځان سره د پېدائش په وخت راؤړي ـ د ځان تحفظ ، د ژوندي پاتې کېدو خواهش ، د خوراک او رزق طلب ، مينه کول ، د اولاد روزنه وغېره داسې ډېرې خبرې انسان د شعور د تقاضو د مخه کوي ـ د ژوندي انسان د ناستې پاستې عمل شعوري وي ـ کله چې دا تقاضې پوره کيږي نو انسان په عملي ژوند کښې د برخې اخېستو قابل وي کله چې په دې کښې پاتې راشي نو د عملي ژوند نه هم لاس په سر شي داسې لکه چې وائي :-

د پاســـېدو طاقـــت مـــې نشـــته
حســاس رګونــه مــې شــعور شــلولي دينــه

هر باشعوره انسان د عقل او علم په يوړو مخ په وړاندې قدم پورته کوي ـ هغه د خپل عملي ژوند د هرې کاميابۍ حاصلولو دپاره د خپل عقل او علم و دانش پوړۍ پکاروي ـ علم کۀ کسبي وي کۀ روحاني دواړه په کوشش حاصلېږي ـ پوهه او عقل په علم سېوا کيږي ـ دا چې وائي چې علم په زدکړه دے ـ ځکه ئې د زانګو نه تر لحده د زدکړې او اخذ تقاضا کيږي ـ علم زدکړه ده ، تجربه ده ، پوهېدل دي چې علم راشي پوهه سېوا شي ـ ځکه خو پوهان وائي چې :-

پئ علم چوں شمع باید گداخت
کہ بے علم نتوان خدا را شناخت

ځکه نو علم رحمت هم دے ابادي او وداني هم ده نُور هم دے او رڼا هم ده ـ چې علم نۀ وي رڼا نۀ وي ـ چې رڼا نۀ وي انسان په ټکرو وي ـ تورتم خورېږي ، جهالت او حېوانيت زياتېږي ـ په داسې حال کښې هر څۀ سوزېږي ـ اور پرې لګېږي ـ

علـم د ربـه کـړه حاصـل عشـق طاقـت او سـربازي
چې دا څو توکي حاصل کړي بيا کوه پرې شاه بـازي

عقل او علم د عمل لار ده ـ چې عمل ئې په دې وي مرام موندے شي کاميابي حاصلولے شي ـ ځکه نو انسان دغې درې واړو توکو ته حاجتمند دے او هېڅ کله

هم ددې نه بې نیازه کېدے نۀ شي ـ خوک چې په دې سرې کار نۀ لري هغه ته وائي چې :-

عقــــل دې کـــــم فکـــــر دې خـــــام دے
چـې د حباب پـه غـوټي ړدې پاخـۀ برجونـه
عقـل جمـدر ځـان مـې پـرې غـوخ کـړو
فکـر ملهـم پـرې لګـوم کـۀ روغـه شـمه
عقـــــل هغـــــه لـــــره پکـــــار دے
چې پـه جانـان پسـې د قـېس پـه شـانې ځينـه
علـــــم چـــــې چرتـــــه حاصـــــلېږي
هلتـه بـه خـاورې کړمـه خپـل غوښـې هډونـه
چـې علـم کـړې عمـل پـرې نـۀ کـړې
لکـه پـه خـرۀ بانـدې چـې بـار وي کتابونـه
خاونـــده علـــم مـــې نصـــيب کـــړې
چـې مـې د علـم پـه رڼـا سـرفراز شـمه
خاونـــده علـــم مـــې نصـــيب کـــړې
هم مې طبيب کړې چې علاج د يار کومه
علـــم تفســـير پوهـــه ده ګرانـــه
زۀ ســـرګردان د کـــافيې دلاســـه يمـــه
علـــم دريـــاب طالـــب ئـــې کـــب دے
شـېطان جـالګر ورتـه پـه غـاړه ځينـه
علـــم دريـــاب طالـــب او بـــاز دے
يـا بـه لاهـو شـي يـا بـه سـر کـړي مقصـدونه
علـــم دريـــاب طلـــب غـــواص دے
يـا خـو بـه ډوب شـي يـا بـه بيـا مـومي لالونه
علـــم کـــوې عمـــل پـــرې نـــۀ کـــړې
د اباســـين چپـــې دې يوســـه کتابونـــه

نېک عمل وکړه چې صالح شې
کور د لحد کښې درته بل شي مشالونه
زما عمل زما قانون دے
یا مې سرے کړي یا مې دار ته رسوي نه
دا خپل عمل د لارې مل وي
هر يو سړے د خپل عمل په لاره ځينه
علم کوي عمل پرې نۀ کړې
لکه د خر په شا چې بار وي کتابونه

د سوزېدو خطره هله پېدا کيږي کوم وخت چې څوک د دې نه غافله شي ـ علم او عمل ته ئې شا شي ـ وحشت او بربريت په سېوا کېدو شي ـ د دې د لاسه همېش دپاره ودانې ورانېږي اور پورې کيږي چې اور لګېږي ن هر څۀ سوزېږي ـ دا سوزېدل د ظاهر هم وي او د باطن هم وي ـ د سوزېدو بلا رنګونه او بلا مرحلې دي ـ په ښکاره اورونو ښکاره څيزونه سوزېږي ـ ولې پټ سوزېدل د پټو اورونو وي ـ د داسې اورونو تاؤنه ، لوګے او لمبې لېدے کيږي نه ولې کله هم چې دا ولګي نو اثر ئې بې حده زيات وي هم په ځان هم په جهان ، خو چې په ځان وي نو به وائي چې :

دا سوے يم سوے به ګرځم
سوے به اخلم سوے ځان به پرې سيزمه

څوک چې د پوهې خاوند وي نو د سوزېدو نه به ځان ساتي ـ نۀ به ځان سېزي نۀ به د بل د سوزولو هڅه کوي ـ څوک چې په دې هنر نۀ پوهېږي هغه نادان وي ناپوهه وي ـ ناداني او ناپوهي د بې فکرۍ او بې علمۍ نه ولاړېږي ـ پوهه په علم او تجربه سېوا کيږي ـ چې علم او پوهه ئې نۀ وي هغۀ ته ناپوهه وائي ـ ناپوهه نادان وي ناداني ئې مل وي ـ کارونه ئې د نادانۍ وي ـ هم په کار کښې تېروځي هم په ګفتار کښې تېروځي ـ د عمل نادان چې په خپل عمل کله ستومانه شي نو وائي چې :-

زما نه پورته نادان نشته
چې د حباب په غوټو ږدم پاځۀ برجونه

نادان دانا کیږي کله چې خبره ئې غوږ ته رسیږي چې څوک اوري هغه پوهیږي پوهه په اوریدو زیاتیږي - غږ د خبرې غوږو ته رسولو ته وائي - چې غږ راځي غوږونه ئې اوري غوږ ورته کینبوے کیږي - څوک چې غوږ لري هغه هم داسې کوي - ولې څوک چې غږ ته غوږ نۀ ږدي یا غږ نۀ اوري هغه ناخبره وي ، ناپوهه وي نادان وي ، په کومه معاشره کښې چې ناداني خوره وي هلته د نادانو زور وي هلته شور وي هلته غوغا وي - مثال ئې د نقار خانې وي - په نقار خانه کښې څوک د چا غږ نۀ شي اوریدے - چرته چې داسې حال وي نو هلته کۀ څوک دا وائي چې :-

نــــارې وهـــم غـــږ راتــــه نـــۀ کــــړې
بیــا بــه جهــان راپســې ګــورې نـۀ بـه یمـه
کــــۀ یارانــــه راســــره نــــۀ کــــړې
پــه مینــه غــږ راتــه کــوه خوشــحاله یمــه
تــا چـــې پـــه ایــوه بانــدې غــږ کـــړو
زۀ پــه ســړه مــانړۍ کښــې لــره بــره شــومه

غږ عموماً جواب غواړي - غږ کۀ د سوال وي نو جواب ئې پکار وي په دې چې سوال بې د جوابه بې مطلبه شي - ځکه نو سوال جواب د غږ نتیجه وي - چې غږ کیږي نو سوال جواب هم کیږي - سوال جواب په ډېر قسمه وي - د مینې محبت ، د جرم و سزا د زور ضابطې ، د غم د خوشحالۍ او د ژړا د خندا د سوال جواب په تعلق هر څوک خبر وي - لکه :

ددې خبــــــرې جــــــواب راکــــــه
کور ئې د سیند په غاړه دے له تندې مرینه
ددې خبــــــــرې جـــــــــواب دا دے
چې څوک مئین شي اوبۀ خوند نۀ ورکوینه
ددې خبــــــرې جــــــواب راکــــــه
چې غشے یو مرغۍ ئې دوه ویشتلي دینه
ددې خبــــــــرې جـــــــــواب دا دے
جینــۍ یــوه یــاران ئــې دوه نیــولي دینــه

ددې خبـــــرې جـــــواب راکـــــه
ځانګـه يـوه ګـلان ئـې دوه نيـولي دينـه

د چا غږ کۀ د سوال جواب نه بغېر هم جواب وغواړي نو کله دغه جواب ډېر معنې خېز هم شي داسې چې زړۀ اوتزنوي په ترارو ئې کړي ـ ددې په اوربـدو اوربـدونکے وبوږنېږي او وائي چې :-

دا خـــو دې داســـې جـــواب راکـــړو
لکـه چـې څـوک پـه مـړي خـاورې واړوينـه

بيا کله داسې هم کيږي چې :-

جـــــواب دې راغــــے تــــۀ رانغلــــې
پـه تـش جـواب دې د راتلـو خوشـحاله کړمـه
جـــــواب دې راغــــے تــــۀ رانغلــــې
پکــار مــې نــۀ دې بــې ديدنــه ســلامونه

دا د معاشرتي ژوند لارې چارې دي ـ څۀ نېغې دي څۀ کږې دي ـ څۀ لنډې دي څۀ اوږدې دي ـ څۀ معروفې دي څۀ غېر معروفې ـ څۀ ورانې دي څۀ ودانې دي ـ څۀ روا دي څۀ ناروا دي ـ چې په دې ټولو لارو عام اولس تېرېږي راتېرېږي نو انګازې خو به ئې هم خورېږي او هم به په غوږو راځي ـ دا کۀ د لرې نه وي او کۀ د نزدې نه ولې دوئي په شفاهي ادب کښې راپورته کيږي ـ ډېر څۀ په مخه تېر شي د وخت په پردو کښې پټ شي او ورک شي ولې هغه څۀ چې د اولسي ادب لمن تـه پريـوځي هغه نۀ ورکيږي ، ياد پاتې شي ـ يا سندره شي يا ټپې شي يا بيـا داسـې متـل شي چې دوام ولري ـ او د هر زړۀ په تختۍ لکه د کاڼي کرښه شي لکه داسې چې :-

زمــــا د عمـــــر ســـــره ســـــمه
ميــراث شــې غمــه پــه خنــدا دې تېرومــه
زړۀ ملغلـــــره ده چـــــې مــــات شــــې
بيــا د لبــاس پــه خنــدا نــاخلي کوشــېرونه
ســــتا بــــه د ګلــــو دوران تېــــر شــــې
زمــا بــه پــاتې شــې د ســوي زړۀ داغونــه

په بن کښې نورې اونې ډېرې
خوار موزیګے په بُکیانه مئین شونه
دومره په بخت زورور نهٔ یمه
چې د تالاباغه دې راؤړم زیړ ګلونه
په ما دې تېر د ځوانۍ وار کړو
ستا دې رانهٔ شي د دکن نه مهرانونه
ناړې وهم غبر راته نهٔ کړي
بیا به جهان راپسې ګورې نهٔ به یمه
کهٔ سیند ته دانګم سیند مې نهٔ وړي
بخت د موزې دے بیا مې غاړې له راوړینه
سل جوارګر خونیان ازاد کړئ
یو موزې مړ کړئ چې تړې جونه خلاصې شینه
اندر پائې مې جوړولې
ما وې لالے به سپینې خولې ته خېژومه
وار د شها د ځوانۍ تېر شو
له منګو پرېوته کوزې راډکوینه
کهٔ زهٔ خبر وے چې به شلېږي
د فکر تالهٔ زهٔ به ولې درختمه
په پت کښې تور مصلي ښهٔ دے
بې پته یار کهٔ شهزاده شي څهٔ به ئې کړمه
ملنګ دې ځان ته دعا وکړي
د منزري څرمن ئې ست وسلوؤنه
چا خو ویل موزیان تمام شو
زما د برخې موزې شتے ما ژړوینه
ستا د ښائست ګلونه ډېر دي
جولۍ مې تنګه زهٔ به کوم کوم ټولومه

کارغــهٔ چــې تــور د ے ســپين بــه نــهٔ شــي
کـهٔ د اټـک پـه اوبـو وينځـي خپـل ځانګونـه
د ويــــــرې غــــــږ کــــــولے نشـــــم
د ســوال يــاري ده اوس بــه درېې ورېې شــينه
اوړے دې ټــول قشــقار کښــې تېــر کــړو
پــه ژمــي راغلــې ســلامت غــواړي خالونــه
اول د بــــــــــاغ ماليــــــــــاره زهٔ وم
اوس پــه ســوره نــارې وهــم تــالا دې شــينه
ملامــــت يــــار مخــــې لــــه راغـــــے
د خپلــو بــدو شــرمېدو کــوز ئــې کاتــهٔ نــه
خاونـــده مـــا ملامـــت مـــهٔ کـــړې
ملامــت يــار ښــهٔ د ے چــې زمکــه ګروينــه
د مـــــوزيګي شـــــليدلي کټــــه
چــې زهٔ دې لنګــه ټينګــوم بــازو دې ځينــه
ځانګــه بــه نــن صــبا کښــې ګــل شــي
مـا ئـې پـه سـر کښـې سـرې غـوټۍ ليـدلي دينـه
پــه اندېښــنو مــې ځــان باچــا کــړو
چــې سـر مـې پورتـه کـړو ملنـګ د هـوئين ومـه

داسې ډېر مصرعې دي چې د متـل پـه دود مقبـولې دي ـ او پـه استعمال کښـې راځي پال نيـول ، پـال کېښـودل د معاشـرتي ژونـد د توهمـاتو پـه لـړ کښـې يـو اهـم مقام لـري ـ پـه عـرب ، عجـم او د هنـدي و سـند پـه معاشـرو کښـې هـم پـه هـر ځـائے کښې په مختلفو طريقو او په بېلو بېلو شکلونو دا رواج لري دا کله خو حدسيات وي او کله تش توهمات وي ولې بيـا هـم د سـکون او قـرار مونـدو دپـاره پکـارولے کيـږي ـ دا پـه الهـامي کتـابونو کښـې هـم نيـوے کيـږي او د شـعر و شـاعرۍ پـه ديوانونو کښې هم رواج لري لکه د حافظ شيرازي او عبدالرحمان بابـا ديوانونـه چې دي ـ دغسې د کارغهٔ اواز او ټپې هم په پـال نيـوے کيـږي ـ زيـاتره داسـې ټپـې

چې د لرې نه اوربدے شي ـ چرته خو دا خبرې د یقین تر حده مقبولې او منلې کیږي او چرته دا محض رواجي اود توهماتو بته لري ـ
د یال مقبولیت د نارینه ؤ په مقابله کښې په زنانه ؤ کښې زیات وي ـ د هغوي یقین او باور په دې د عقیدې ترحده وي ـ د معاشرتي ژوند په بې شماره توهماتو کښې په یالونو یقین درلودل هم شامل دي ـ د ټپې مصرعې یا لنډۍ ځینې یالونه ددې د نفسِ مضمون د معنوي مفهوم سره تعلق لري ـ ولې په یوه نیمه مصرعه کښې په کومه بله ذریعه د یال نیولو ذکر هم کیږي لکه چې وائي :-

خـــدائے بـــه دې راولـــې جانانـــه
پـــه یـــال دې نیســـم د کارغـــانو اوازونـــه
خـــدائے دې ناســـاپه را روان کـــه
پـــه بلـــې اورم د کارغـــانو اوازونـــه

کومه داسې پېغله چې په یوه کورنۍ کښې په داسې عمل یاده شي چې د خپلخانې معاشرتي قدغنونه او پابندۍ پامال کوي ـ یا ورسره د متصادم کېدو احتمال ئې وي ـ داسې پېغلو ته خپلې مېندې هم چې کله په قهر شي نو د ډېره سوخته ورته څۀ داسې لفظ د خولې نه را وباسي کوم چې په عام معاشرتي ژوند کښې معیوب ګڼلے شي ـ په ځینو لنډیو ، ټپو ، مصرعو او ټکونو کښې داسې ټکۍ هم وئیلې کیږي چې حاجت ئې د روایاتو د قایم ساتلو او تحفظ د خاطره ضروري وي ـ په دې چې قومي خصائص هم دغسې په قام کښې ژوندي پاتې کیږي ځکه نو کۀ څوک کله داسې ټپه یا ټکۍ واوري نو عېب ژنه ورته نۀ وائي ـ بلکه تعمیري اړخ ته ئې فکر کوي ـ لکه داسې چې :-

د دلـــه ګـــانو دلـــه تـــۀ ئـــې
کنجـــره زۀ ووم چـــې پـــه تـــا مئینیدمـــه
پـــــه بلـــــې مـــــۀ ژاړه کاســـــیرې
د کشـــمالو څـــوکې دې یـــار رودلـــې دینـــه
اول د علـــم کتـــاب خـــلاص کـــه
د کنجرتـــوب کتـــاب ورســـتے مـــزه کوینـــه

د قام کلتوري اړانه په روایاتو استواره وي۔ روایات د قام د مزاج سره سم وي۔ او په مزاج کښې ئې داسې ګردش کوي لکه د وجود په رګونو کښې چې وینه ګرځي دا د معاشرتي ژوند هاغه خوبیانې یا کمزوریانې حسابیږي چې هم منلے شي هم کړلے شي ځکه خو وائي پښتونیم کفر دے یا دا چې پښتو د خرۀ ذیل دے۔ پښتو د پښتنو د روایاتو نوم دے۔ مثبته پښتو او منفي پښتو۔ مثبته پښتو د اسلام په تعلیماتو راسته ده۔ منفي پښتو په شیطاني افعالو ، اعمالو او طرز فکر ولاړه وي ځکه خو د داسې کردار او عمل خاوندان د چا په نظر کښې ښۀ نۀ راځي۔ کوم داسې کار یا عمل چې د چا دلاسه سرزد شي۔ چې ځوک ورته ښۀ نۀ وائي۔ داسې کار په بې پښتو انګېرلے شي۔ په پښتنه معاشره کښې ډېر داسې کارونه کولے شي چې بې پښتو وي ولې سره ددې دا رواج شوي وي په روایاتو کښې شامل وي ۔خلق ورته بد هم وائي او کړي ئې هم۔ داسې لکه چې نشه ښۀ کار نۀ دے ولې بیا هم چیلم د حجرې زینت دے۔ د ښځو احترام ضروري دے ولې لور خور د پردي کور ښائست دے۔ ورور عزیز ، د صله رحمۍ حقدار دے ولې تربور ته د سترګو ازغے او د ببرې بور وائي۔ چې په کور وي نو دا به وائي چې پلار ته بې موره مۀ شي ۔ورور ته بې زویه مۀ شې ، تربور ته بې وروره مۀ شې ولې دشمن ته بې تربوره مۀ شي۔ میرځي دشمني ختمېدل نشته دا روانه لوبه وي۔ دا ټولې خبرې یا داسې نورې ډېرې کۀ څۀ ناپسندي ناروا ګڼلے کیږي ولې په روایاتو کښې شمېرلے کیږي ۔ورسره د پښتو او پښتونولۍ صفات او خوبیانې لکه مېلمه دوستي ، پناورکول ، ننګ ، شرم ، غېرت ، سړیتوب ، نارینتوب ، خدمت، حیا او ننواتې وغېره داسې اقدار دي چې په مثبته پښتو کښې شامل دي ۔ داسې پښتو د اسلامي تعلیماتو سره سمه ده ځکه خو وائي چې پښتو اسلام دے ۔هر کله چې دا ټول مثبت اقدار د اسلام د راخورېدو نه اګاهو هم په پښتو کښې موجود وو او د پښتنو په روایاتو کښې شامل وو۔ ځکه نو د اسلام د تعلیماتو په قبلولو کښې ورته د څۀ قسمه اشکال مخې ته نۀ وو او ټول پښتانۀ په لوه د اسلام په دائره کښې شامل شول۔ او داسې مثال ئې قایم کړو چې نۀ خو دا په عربو کښې ؤ او نۀ په عجمیانو کښې۔ په دې چې په عربو کښې عیسائي عرب، یهودي عرب ، د روزي او مجوسي عرب او نور غېر مسلم عرب اوس هم موجود دي۔

دغسې په عجميانو کښې هم فارسيان، آتش پرست او سورج پرست او ستاره پرست ورګډ دي ـ ولې تش پښتون يو داسې اولس دے داسې قام دے او داسې نسل دے چې بغير د مسلمان نه هډو بل څۀ کېدے نۀ شي ـ دے کۀ آريا نژاد دے او کۀ سامي النسل دے خو پښتون دے ـ پښتو ئې کردار دے په پښتو ولاړ دے ـ پښتو کوي او پښتو ئې کړې هم ده ـ د پښتون په پښتو کښې د بت مترادف لوظ نشته ځکه نو دے په يو وخت کښې هم کله بت پرست نۀ دے پاتې شوے ـ تل ئې د خپل ناليدلي محبوب سره مينه کړې ده ـ په نمر کښې ګرزېدلے دے او اور ته تود شوے هم دے ولې ددې دواړو پرستش ئې نۀ دے کړے ـ نۀ ئې نمر ته بد وئيلي دي او نۀ ئې د اور غندنه کړې ده ـ دواړه ئې تل په خير شميرلي دي ـ اوبۀ ، باد او خاوره ئې د خپل ژوند په لازمي جز و حساب کړي دي ولې لکه د يونانيانو يا د هندوانو د اساطيري تمدن حصه کړې ئې نۀ دي ـ پښتانۀ په ازاد ماحول کښې وسېدلي او پاتې شوي دي او په ازاده ئې ژوند تير کړے دے ـ په خپل داسې ماحول کښې کۀ دوئي ډير څۀ موندلي دي نو ډير څۀ ئې بائيللي هم دي ـ دغه ټوله ګټه ببلات د دوئي معاشرتي کرونده ده دا ئې کلچر دے ، دا ئې تهذيب دے هم دا ئې تمدن دے ـ په دې کښې موجودو ټولو منفي او مثبتو اقدارو ته دے پښتو وائي ـ کله چې وړاندې وروستو ګوري نو دے هميش دپاره په ننګ ميړانه ، غيرت او توره باندې وياړي او فخر ورباندې کوي ـ دا ئې خپل طرۀ امتياز ګرځولي صفات دي ـ هر کله ئې په ټپو ، ستائينو او سندرو کښې ذکر کوي کله به وائي چې :-

بـــدن دې ټـــول غلبيـــل غلبيـــل شـــه
د بـــې ننګـــۍ آواز دې رامـــۀ شـــه مئينـــه
مـــا بـــه تـــرې ســـو ومـــال قربـــان کـــړے
ولـــې لالـــے مـــې د ننـــګ نـــۀ لـــري خويونـــه
بـــدن دې ټـــول بســـمې بســـمې شـــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې وانـــۀ ورم مئينـــه
دا تـــۀ چـــې ځـــې مـــا پـــه چـــا ســـپارې
مـــا پـــه بـــې ننګـــو خلقـــو مـــۀ ســـپاره مئينـــه

وجود دې ټول ټوټې ټوټې شه
د بې ننګۍ احوال دې رامهٔ شه مئينه
په کتارو پرهر پرهر شې
د بې ننګۍ نامه دې وانهٔ ورمه مئينه
په کتارو پرهر پرهر شې
د بې ننګۍ غږ دې وانهٔ ورم مئينه
ياره د مرګ اواز دې راشه
د بې ننګۍ اواز دې رامهٔ شه مئينه
بې ننګه ياره اسفنديار ه
په بې ننګۍ دې پښتون قام وشرماؤنه
کهٔ د وطن په ننګ شهيد شوې
ستا په مزار به لوپټه جنډه کومه
په چړو ټول ټوکر ټوکر شې
د بې ننګۍ اواز دې رامهٔ شه مئينه
د بې ننګۍ اواز دې خور شو
د بابا زويه ستا په نوم وشرمېدمه
ماته کفن چې راتېر نهٔ کړې
کهٔ مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وينه
تهٔ د اسلام په ننګ شهيد شه
زهٔ به مخ روښې په مالت کښې وګرځمه
ځان د وطن په ننګ شهيد که
چې جينکۍ دې د مزار سلام کوينه
کهٔ جنګ دې بائيلو چې رانهٔ شې
زهٔ د بې ننګو خلقو نهٔ کړم خدمتونه
ځان د وطن په ننګ شهيد که
چې د همزولو سره هسکه غړې ځمه

هره ناپسنده به دې يوسم
د بې ننګۍ غېږ دې هر ګز نۀ قبلومه
ځان د اسلام په ننګ تېوتې که
هره ټوټه به دې الله الله کوينه
زما په مخ لاړې راتوې کړئ
کۀ مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وينه
ځان د اسلام په ننګ شهيد که
چې دې نامه په شهيدانو کښې راځينه
بې ننګه ياره خدائے دې واخله
خلاصه دې نۀ کړم د موزي د پېغورونه
د ننګ ټوټه به مې هرځه وي
کۀ پس له مرګه مې په ګور راشې مئينه
بې ننګي مۀ کوه جانانه
په بې ننګۍ جنګونه چا ګټلي دينه
د ننګ ټوټه به مې هرځه وي
کۀ مې د قبر تبۍ پورته کړې مئينه
بې ننګه ننګ راباندې وکه
صبا مې ستا په سر پانسۍ ته خېژوينه
زۀ به په ننګ او ناموس څۀ کړم
چې د ښائسته جانان نه بېل ژوند تېرومه
کۀ په وطن دې ننګ ونۀ کړو
ګرانه لاليه بې ننګۍ له بد ساتينه
کۀ په مېوند کښې شهيد نۀ شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه
جانانه پام د غېرت ځائے دے
غېرت کوُنکي به همېش جنت کښې وينه

چې بې غېرته مې مړ نهٔ کړې
کهٔ غېرتي سړے مې مړ کړي خون بخښمه
د غېرتي سړي نه ځار شم
دا بې غېرته خو د مال څوکۍ کوینه
توره په لاس تورپک په غاړه
یمه ولاړه هر کلے درته کومه
توره به نهٔ کړې نو به څهٔ کړې
چې ئې شودهٔ د پښتنې رودلې دینه
توره په لاس تورپک په غاړه
یمه ولاړه سلامي درته کومه
د روسي سر په توره غوڅ که
نوره ګناه ده چې کوې د ناز خوبونه
بې تورې هېڅ شے مزه نهٔ کا
بخت د هغو دے چې وطن په توره خوري نه
توره په لاس مېدان کښې ګډ شه
چې د همزولو د پېغوره خلاصه شمه
توره د هاغه زلمو کار دے
چې پلار په ننګ او مور په پت لوئے کړي وینه
توره راواخله جنګ له لاړ شه
مدام به نهٔ وې د حضرت په دین جنګونه
بس دے په دغه ځائے به ئې پرېږدو
څوک چې د تورو جنګ له ځي ورسره ځمه
په تورو ټوک ټوک شې مړ مهٔ شې
چې پرهرونه دې ګنډم خولهٔ درکومه
توره په لاس تورپک په غاړه
راځئ چې واړه د کفارو جنګ له ځونه

تـــــوره پــــه لاس ټوپـــــک پـــــه غـــــاړه
یمـــه ولاړه چـــې جانــــان مـــې نـــن راځینـــه
چـــې پـــه دشـــمن صـــرفه ونـــۀ کـــړې
زۀ بـــه دې تـــوره پـــه مېـــدان معلومومـــه
چـــې تـــوره کـــړې بـــرے بـــه مـــومې
خـدائے همېشـه د توریـالو مرسـته کوینـه
د پښـــــتنو د تـــــورې شـــــرنګ دے
دشـمن چـې سـر پورتـه کـوي ککـرۍ خورینـه
تــــۀ پــــه تېــــرو تــــورو راتېـــــر شـــــه
د خـــونړو چـــړو بـــه زۀ درتېـــره شـــمه
چـــــې تـــــوره وباســـــې ګـــــډه به یو
مـا پـه همزولـو پـورې ډېـر خنـدلي دینـه
یــار مــې پــه جنـګ کښـې تـوره وکـړه
ځکــه همزولــې راتــه کوښــې ســموینه
پـــه ســـپین مېـــدان بـــه درســـره یـــم
زۀ پښـــتنه د تـــورو نـــۀ تښـــتم مئینـــه

د ننګ د خاوند نه چې څۀ داسې خطا کار وشي چې بغېر د ننواتې ئې نوره څۀ مداوا نۀ وي ـ خپله خطا ورته مخې ته شي ـ خپل ځان هم ورته ملامته ښکاره شي نو په داسې حال کښې د قاعدې مطابق ننواتې ته مجبور شي ـ د ننواتې ډېر قسمونه دي ـ د جرګې ننواتې د ستانه دارو ننواتې ، د تور سرو ننواتې ، په خپل سر و مخ د څۀ پېښې یا حادثې په موقع په ننواتې ورتلل ، چاړۀ په لاس پړے په غاړه چاله په ننواتې ورتلل دا ټول د ننواتې هاغه قسمونه دي چې یو ګناهګار یا مجرم او ملامته وربانـدې د مظلوم د کـور تشفي او د خپلې خطا درګذر کول غواړي ـ د پښتنو په روایاتو کښې دا دستور ډېر د پخوا راسې را روان دے ـ هر چا منلے دے او هر څوک ورنه خبر دي ـ څوک چې په چا ننواتې کوي ـ جولۍ ورته غوړوي ـ پښو له ئې ورځي او چاړۀ په لاس پړے په غاړه چاته ورمخامخ کېږي نو مطلب ئې دا وي چې خپل تقصیر مني او د خپل مرګ او ژوند ټول اختیار بل ته

سپاري ـ کله چې داسې ماحول جوړ شي نو په چا چې ننواتې شوې وي ـ د هغهٔ اختیار وي چې په منلو ئې سمے راځي او کهٔ نه ـ کهٔ منلو ته ئې جوړ شي نو په روغه صلاح تیګه کیښوې شي ـ بدل ، سوره ، تاوان کهٔ څهٔ ورکول وي د هغې لوظ اقرار وکړے شي ـ دغسې خفګان او بدي د مېنځه اوځي او مخالفین په مېنځ کښې سره روغ شي ـ کهٔ ننواتې ونهٔ منلے شي نو تاؤ تریخوالے نور هم سېوا شي ـ بدي طول واخلي او تیګه ماته شي ځکه خو وائي :-

پــــه ننـــــواتې دې ښــــهٔ نــــهٔ شــــي
ځـو چـې اونـهٔ ګـالي پـه سـر بانـدې غمونـه
پــــه ننـــــواتې بــــــه ورځمــــــه
پــه مـــرور لالـــي بـــه غېـــږه تاوهمـــه
پــــه ننواتــــو خــــو ونــــهٔ شــــوه
اوس بـه پـه خپلـه جـولۍ یـار تـه غوړومـه
وینـــې د تـــن زمـــا خـــوراک شـــوې
اوښــکې جــولۍ کښــې ننــواتې ورلېږمــه
پــه ســپین جانــان مــې مینــه راغلــه
مشــر ئــې څــوک دے ننــواتې بــه ورځمــه

د پښتنو په معاشرتي روایاتو کښې د مېلمه دوستۍ روایت ډېر پخوانے او عالمګیر دے ـ د نولسمې صدۍ عیسوي د سر یو مستشرق الفنسټون د خپلې تجربې په رڼا کښې دا وائي چې پښتونخوا د دنیا په مخ یو داسې ځانګړې سیمه ده چې کهٔ پکښې څوک مسافرت ته مجبور شي او د یو سر نه تر بل سره پکښې وګرځي نو نهٔ خو به کله په خېټه نهر پاتې شي او نهٔ شپې ته بهر په صحرا ـ حجره ، ډېره د هر کلي وي شپه پکښې په ارام تېرېدے شي ـ چې په حجره ورد ننه شي نو د کلي مېلمه شي ـ خوراک څښاک ئې هم د هغوي په ذمه شي ـ دا هر څهٔ به کیږي ولې د مېلمه مسافر د جیب نه وربانډې سره پېسه هم نهٔ خرڅ کیږي ـ دا د مېلمه دوستۍ روایت دے ـ د پښتنو دستور دے هر څوک ئې منې هر څوک پرې پوه دے ـ مېلمه د سر ګل ګڼي ـ او د مېلمه نه ځارېږي ـ وائي مېلمه خپل نصیب خوري ـ ځکه نو مېلمه عذر کول خپل فرض او خپله ذمه واري ګڼي ـ

مېلمــه لــه هــر چــا پــه مــا ګــران دے
کۀ نور څۀ نۀ وي دا خپـل زړۀ بـه ورتـه ږدمـه
مېلمـــه راځـــه تـــۀ ســـتړے مـــۀ شـــې
سترګې مې دواړه ستا پـه لـور نيـولې دينـه
چـــې چرتـــه ځـــې پـــه مـــا مېلمـــه شـــه
چې د بالخت په ځائے مې زړۀ درلاندې کړمـه
خـــدائے دې زمـــونږ کـــره مېلمـــه کـــړه
چـې درتـه کېـږدم د سـورکو شـونډو سـرونه
خاونـــده ټولـــه مـــې تـــرې ځـــار کـــړې
د يـــار د کلـــي مېلمانـــۀ راغلـــي دينـــه
نـــــن مـــــې همزولـــــې مېلمنـــــې دي
پـــه چـــم کښـــې ګـــرځم بالختونـــه ټولومـــه
حجـــــره د ټـــــول کلـــــي د ســـــره
خـو مېلمانـۀ مـې زمـا جـا ن عـذر کوينـه
نـــــن مـــــې همزولـــــې مېلمنـــــې دي
شـولې لمـدې دي چـرګ نيـول نـۀ راکوينـه
مـــا وے مېلمـــه دے اوس بـــه لاړ شـــي
بېلتـــون زمـــا پـــه زړۀ قـــلا ودانوينـــه
ارمـــان ارمـــان جانـــان مېلمـــه دے
ماښـام رالنـډ شـو نااشـنا وطـن لـه ځينـه
اس مـــــې زيـــــن کـــــړے روانېـــــږم
زۀ مســـافر پـــه مېلمســـتيا راغلـــے يمـــه

کوچ ، کوچے ، سفر ، مسافرت د پښتونخوا پـه ټولـه سيمه کښې همېشـه راسې جاري پاتې شوے دے ـ کوچ او سفر يا خو پـه خپـل سر و مـخ کولے شي يـا ئې د جلب بـدرګې سره کوي ـ پخوا چې بـه کاروانونـه پـه بېلـو بېلـو قبيلـو تېرېـدل راتېرېدل نو د حفاظت د خاطره بـه د جلب بـدرګې ورسـره کـول يـوه لازمـي خبـره ګڼلے شوه ـ دغسې به مسافر په حفاظت د خپلې قبيلې د حد نـه تېريسـتے کېدو ـ

بیا کله چې به د پولې نه واوړېدو نو د بل په غاړه به ئې کړو ـ د وړومبۍ ټپې ذمه واري به ختمه شوه ـ د مسافر د سفر او مسافرت سره دا روان عمل د معاشرتي ژوند خاصه وه ـ ددې ذکر چې کله هم کیږي نو د مسافرۍ روایاتو ته پکښې اشاره کولے شي ـ

مســــــافري ســــــخته خـــــواري ده
زمـــا زاري ده یـــاره مـــۀ ځـــه لـــه وطنـــه
مســــــافري دې ډېـــــــره وکـــــــړه
بـــس دے راځــه رزق بــه خــدائے را رســوینه
د مســــــافرو دې خـــــدائے مـــــل شــــي
بې کوره کس وي ځوک ئې څۀ پروا لرینه
مســــــافري ســــــخته خـــــواري ده
مــور تــه دې وایــه مســافر دې ښــۀ ســاتینه
ځـــوک پــــه رضـــا پـــه ســـفر نــۀ ځـــي
یــا ډېــر غریــب شــي یــا د یــار د غمــه ځینــه
اس مـــــې زیــــن کــــړے دے روان یــــم
زۀ مســـافر د لـــږ ســـاعت راغلـــے یمـــه
اس مـــــې زیــــن کــــړے دے روان یــــم
زۀ مســـافر پـــه مېلمســـتیا راغلـــے یمـــه
مســـافر تـــۀ شـــوې ګرمـــه زۀ شـــوم
چـــې رالیــږې پـــه غـــم لړلـــي کاغذونـــه
اوبـــو لـــه ځـــه مـــنګے پـــه ســـر کـــړه
زۀ مســـافر بـــه د ګـــودر پـــه غـــاړه یمـــه
مســــــافري د غــــــم زانګــــــو ده
پـــه چـــا زنګېـــږي پـــه چـــا وشـــلوي لړونـــه
اس مـــــې زیــــن کــــړے روانېــــږم
زۀ مســـافر وومـــه مېلمـــه راغلـــے وومـــه

مسافر تهٔ شوې خواره زهٔ شوم
خواره دې مور شه چې سفر له دې لېږينه
مسافر تهٔ شوې ګرمه زهٔ شوم
ما ته د کلي جينکۍ پېغور کوينه
مسافر مهٔ شې خوږه ياره
زهٔ مسافر ووم چا به خبر نهٔ راکوؤنه
کهٔ مسافر جانان مې راغے
د خوشحالۍ نه به ګلونه پرې شيندمه
د مسافرو ياري مهٔ کړئ
سرے د زړهٔ په رنځ اخته کړي بيا ترې ځينه
کهٔ مسافر لالے مې راغے
بېلتونه ستا به په سر خاورې واړومه
تر دروازې به درسره يم
مخکښې دې نوره اسره خدائے شه مسافره
زما جانانه مسافره
رب دې سبب د خپل وطن وکړه مئينه
د مسافرو سلام اخله
د مسافرو سلام کله کله وينه
د مسافرو کډې راغلې
زهٔ پکښې ګورم چې اشنا به کوم ځائے وينه
د مسافرو کډې راغلې
زهٔ مې جانان له سترې مشې له ورځمه
د تور د کن مسافر ستون شول
د اديرې هغه بندي د ے نهٔ راځينه
د مسافر به مې څهٔ حال وي
يا به نهر وي يا به سپو خوړلے وينه

د مســــــــافرو لويـــــــــه خدايــــــــه
ســـره ډوډۍ خـــوري ســـر پـــه لوټـــه لګوينـــه
د مســـــــافر بــــــه مــــــې څـــــۀ حـــــال وي
نۀ به ډوډۍ وي نۀ ئې خوب په پالنګ وينه

کوچيـان هاغـه مسـافر وي چې ژوند ئې مدام په سفر کښې تېرېږي ـ يا ورسره اوښـان وي مالونـه پـرې بـار وي ـ يـا ئې د ګـډو رمې پـه مخکښې کـړې وي پـه مرغزارونـو ، چراګـاهونو ئې ګرځـوي ، څـروي ئې ـ د هـر موسـم سـره ئې مخـه بدلېږي خپله کډه کوډۍ هم ورسره وي ـ چرتـه چې ايسـارېږي ، پړاؤ کـوي هلتـه کېږدۍ لګوي ـ دا روايت ډېر قديمي دے وخت او زمانه ئې نۀ ده معلومه ولې د سفر قاعدې قوانين ئې ژوندي او پائيدار دي ـ دا چې کله يـادولے شي نو د دوئـي دژوند يوه عمومي نقشه پکښې رامخ ته کيږي ـ لکه داسې چې :-

خدايـــــه کوچيـــــان پــــه کــــوچ روان کـــړې
چـــې ښائســـــته بــــدرنګې ګـــډې وډې شـــينه
خدايـــــه کوچيـــــان د ملکــــــه ورک کـــــړې
زمونږ په ملک کښې ئې جوار ګران کړي دينه
جانـــــان کـــــوچے ؤ کـــــوچ ئـــــې وکـــــړو
زۀ ئـــې کومـــه تـــش پالنـــګ تـــه ســـلامونه

ژوند چې د کور کلي وي نو اختر شوقدر ، غم ښادي ، وادۀ کوژدن او جنج ډولۍ پکښې پېښېږي ـ دا ټول د معاشرتي ژوند تړلي روايات دي ـ هم کول غـواړي هم سر ته رسول غواړي ـ په دې کښې هر سړے په خپل وس پر وي ـ اختـر شوقدر هم ديني دي هم دنياوي ـ په ديني لحاظ د عباداتو متقاضي وي ـ کله دا د روژې د مياشتې د ختمېدو په خوشحالۍ کښې د الله پاک د شکر ادا کولو دپاره کيږي کله د حضرت ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام د عظيمې قربانۍ د ياد تازه کولو او د حج بيت الله د مراسمو سرته د رسېدو نه پس کولے شي ـ په کال کښې دوه اخترونه په خپل ټاکلي وخت راځي ـ د اختر مراسم هر چرته په اخلاص او مينه اداکيږي ـ دا چې په لنډيو کښې کله يادولے شي ـ نو وائي :-

اختـــــر شـــــوقدر مــــــې رانغــــــے
خوابښې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه
اختــــر پــــرون ؤ پــــرون تېــــر شــــو
تا دې په تور پېکي کښې نن کېښول ګلونه
اختــــر پـــه وخــــت د ګلــــو راغــــے
زمــا نــازک زړګــي نــه خېــژي فريادونــه
اختــر چــې تېــر شــي بيــا بــه راشــي
د نـادانۍ عمـر چـې تېـر شـي نـۀ راځينـه
اختــــر بــــه وي جانــــان بــــه نــــۀ وي
خدايــه تــۀ ورک کـړې بـې ديدنـه اخترونـه
اختــر پــه ورځ دې ځــان ســينګار کــړو
څـوک دې پـه زړۀ دې چـې ډاډه وهـې خالونـه
اختــــــر تــــــه ځکــــــه خوشــــــحالېږم
چــې مــرور اشــنا بــه کلــي تــه راځينــه
پــه اختــر تــۀ ځــه چــې زلمــے ئــې
سپرلي تـه مـا پرېـږده چـې راؤړم زيـړ ګلونـۀ
تـــۀ د اختـــــر پـــــه ســـــحر راشـــــه
زۀ بـه در اوځـم تـورې سـترګې شـنۀ خالونـه
خلـــق اختـــــر تـــــه خوشـــــحالېږي
زۀ چـې د يـار ديـدن لـه ځـم خوشـحاله يمـه
خلـــق جـــامې کـــوي اختـــــر د ے
زۀ د شـهيد جـامې پـه تـرخ کښـې ګرځومـه
خدايـــه وطـــن بانـــدې اختـــر کـــړې
چــې مســافر جانــان زمــا راشــي مئينــه
چـــې مـــې جانـــان راســـره نـــۀ وي
پکـار مـې نـۀ دي بـې جانانـه اخترونـه

اختــــر تـــه ځکـــه خوشـــحالېږم
چـې مـرور جانـان بـه مـا پخـلا کوينـه
اختـــر د چـــا د مـــور مېـــړهٔ دے
چـې کـورا کـور جينکـۍ ځـان سـنبالوينه
اختــــر د وارو مبـــارک شـــه
زهٔ بـه مـې سـرهٔ لاسـونه يـار لـه ورکومـه
اختـــر پـــه ټوقـــو ټوقـــو راغـــے
نـهٔ مـې بنګـړي شـته نـهٔ د غـاړې تعويزونـه
زهٔ د اختـــر پـــه جونـــو راغلـــم
ټيکونه ئې بربنـې ، پېکـړې شـړنګا کوينـه

چرتـه چې ښـادي وادهٔ وي ډولـۍ بـه هم وي ـ ډول تماشـه بـه هم ورسره وي ـ دا د خوشحالۍ اظهار وي ـ په ښـادۍ کښـې د دعـوت اهتمام هم وي ـ دا د معاشرتي ژوند تقاضې دي ـ دا پوره کول غواړي ـ چې اهتمام ئې کيږي نو يادولے هم شي ـ دا تمدن دے ـ د چا چې څومره وس وي څهٔ ئې استطاعت وي د هغې په اندازه دا سرته رسولے شي ـ په داسې موقعو چې ئې ذکر راځي نو داسې به وائي چې :-

خدايـه پـه کـور کښـې ښـادي راکـړې
چـې غـولے تنـګ وي پـه کوټـه ګـډا کومـه
دغـــه ښـــادي دې مبـــارک شـــه
دې سـتا ښـادۍ لـه پـه خوشـۍ راغلـې يمـه
خانـــه ښـــادي دې مبـــارک شـــه
الـۍ ښـاديان دې پـه ښـادۍ راغلـې دينـه
نـــهٔ بـــه پـــه خپلـــه ښـــادۍ ښـــاد شـــم
چې بـه څمڅـۍ پـه لاس کښـې چګـه ګرځومـه

بيـا کلـه چـې د ډولـۍ ذکـر کـولے شي او ډولـۍ يـادولے شي نـو کلـه پـه خنـدا خوشـحالۍ او کلـه د نـاخوالۍ پـه انـداز کښـې پـه مصـرعو کښـې د ډ ،لـۍ ذکـر راؤړے کيږي کله به وائي چې :-

تــهٔ بـــه د ســـرې ډولـــۍ خاونـــد شـــې
زمــا پــه مــخ بــه اوښــکې لاړې جوړوينــه
دا ســـتا ډولـــۍ چـــې پـــه مـــا راغلـــه
لکــه ماشــوم د دېــوال خــوا تــه ودرېدمــه
ډولـــــۍ تـــــه خېـــــژم پـــــه ژړا يـــــم
نــهٔ مــې ادې شــته نــهٔ دادا خوالــه راځينــه

او کله به وائي چې :-

صـــــبا بـــــه ســـــختې ننـــــدارې وي
ډولــۍ بــه ســره وي هلكــان بــه پســې ځينــه
صـــــــبابه بلــــــــه ننــــــــداره وي
سره به ډولۍ وي مونږ به ټول ورپسې ځونه
وره جينـــــۍ ډولـــــۍ تـــــه خېـــــژي
د پېغمبــر امــت ئــې ټــول دوزخــي كــهٔ نــه
خدايــه تــهٔ مــا د ګــلاب ګــل كــړې
چــې د لالا پــه ډولــۍ پــانړې پــانړې شــمه
صــبًا بـــه ســـتا ايمـــان معلـــوم شـــې
زما ډولۍ به ستا د كور په خوا كښې ځينه

د وادهٔ ښادۍ په داسې موقع چې خوشحالي كولے شي نو ډول ډمامه هم پكښې ټنګولے كيږي . په كور دننه د زنانهؤ مېلس تود وي او بهر په حجره كښې نارينه زارهٔ زلمي راټول وي . خپله خوشحالي كوي كله چې مېلس تود شي نو څهٔ داسې مصرعې هم پكښې اورېدے شي چې :-

پـــــه ډمـــــامو څپېـــــره كېـــــږده
پــه ځــان راكېــږده يــار دې بــل وطــن تــه ځينــه
پـــــه ډمـــــامو څپېـــــره كېـــــږده
پـــه ځـــان راكېـــږده يـــار دې بـــل وادهٔ كوينـــه
تـــــهٔ ډمـــــامې وهـــــه زهٔ تمبـــــل
خـدائے بخشـنده دے مـونږ بـه دواړه وبخښـينه

ډمامې پاس په بلې کېږدئ
چې انګازې ئې د دشمن کره ورځینه
د ډمامو چل مې ایزده کړو
دا پنځه ګوتې به دزخ ته غورځوینه
نغارې پاس په بلې کېږدئ
چې انګازې ئې ددشمن کور ته ورځینه

په وادهٔ کښې په خپل خپل معیار دعوت ، مېلمستیا هم کیږي ـ چاته چې په داسې دعوتونو کښې بلنه ورکړې کیږي هغوي عموماً د وادهٔ د کور سره متعلقه خلق وي ـ په داسې موقع کله دعوتِ عام هم وي او مېلمانهٔ پکښې لکه چې څهٔ داسې خبرې هم کوي چې :-

لالیه ښهٔ ګېډه مړه کړه
مدام به نهٔ وي د پیپلو دعوتونه

کله چې ماشوم په کور کښې د ګرزېدو شي نو د زدکړې او تربیت عمل ئې روان شي ـ سر ئې د کلیمې وي ـ بسم الله ورته یادولے کیږي ـ بیا ئې د نمانځه او عبادت د زدکړې او ادا کولو وخت شي ـ دا ټولې بنیادي زدکړې ماشوم په خپل کور د خپل مور و پلاره زده کوي بیا ئې د جومات ، مکتب ، مدرسې د تلو وخت راشي ـ د کتاب ، قلم ، تختۍ ،کاغذ استاذ سره مخ شي الف باء ئې سبق شي کتاب ته ئې لاس شي ـ چې په کتاب خبرې شي نو څوک خو به وائي چې :-

کلیمه کال جمع کښې ټکے
مُلا سر خان د کتاب پاڼه واړوله
اول د علم کتاب خلاص که
د کنجرتوب کتاب ورستے مزه کوینه
چې راپه یاد شي خپله یاره
کتاب کړم پورته په لاسونو وژاړمه
کتاب کړه ټپ مخ ته مې ګوره
کتاب به تل وي دیدن کله کله وینه

طالبـــه خــدائیګو کــۀ مــلا شـــې
په کتـاب پـروت ئې یـادوې شینکي خالونـه
زمـــا دې علـــم پکـــار نـــۀ دے
د اباســـین چپــې دې یوســه کتابونـــه
چــې علــم کــړي عمــل پــرې نــۀ کــړي
لکــه پــه خــرۀ دپاســه بــار وي کتابونــه

هر څۀ چې وي خو علم د کتاب نه حاصلېږي۔ کتاب د علم مور ده۔ کتاب په قلم لیکلے کیږي۔دا چې وائي چې :-

عشق هے ام الکتاب ، علم هے ابن الکتاب

دا په دې چې زدکړه د کتاب څخه کیږي۔ او لیک هم د کتاب نه په قلم زده کیږي دغه شان کتاب او قلم پاخۀ ملګري دي ۔داملګرتیا د الف با د زدکړې نه روانېږي ۔دا د علم هاغه لاره ده چې د زانګو نه تر مزاره رسېدلې ده ۔د قلم برکات د کتاب په برکاتو پورې تړلي دي ۔څکه د قلم ستائینه د کاغذ نه بغېر نیمګړې وي ۔قلم زیات په کاغذ ګرځي ۔لیک پرې کوي ۔د زړۀ حال پرې څرګندوي ۔څکه قلم د زړۀ رېبار شي ۔د زړۀ دا رېبار چې د زړۀ حال کاغذ ته وربنائي نو خود به ورته وائي چې۔

مالـــــه قلـــــم مشـــــوانۍ راوړئ
یو څو مصرعې په وینو سرې یار ته لیکمه
قلـــم پـــه لاس ګـــوتې مـــې رېـــږدي
د عاشـــقۍ لنـــډۍ پـــه زړۀ خـــوږلے یمـــه
مالـــــه قلـــــم او کاغـــــذ راؤړئ
د ګـران وطـن تـاریخ پـه سـرو وینـو لیکمـه
قلمـــــه مـــــات تـــوتې تـــوتې شــــې
ستـا پـه تحریـر رانـه جانـان مـرور شـونه
قلــم بـــه مـــات ګـــوتې بـــه پـــرې کـــړم
کاغـــذه تـــا کـــۀ جانـــان اونـــۀ ژړاؤنـــه

بې د کاغذه د قلم ګذاره ګرانه ده ـ قلم لیک هله کوي چې د کاغذ سره مخ شي ـ چې د کاغذ لمن خوره شي نو قلم په حرکت کښې راشي ـ د زړهٔ رازونه هویدا شي ـ د علم بازار وغوړیږي ـ دغه غوړیدلے بازار د هر چا د سود سودا شي ـ څوک چې په دغه بازار سودا کوي مخه ئې رڼا کیږي بیا د قلم او کاغذ برکت راڅرګند شي چې داسې وخت راشي نو کهٔ څوک دا وائي چې :-

کاغـــذ لـــیکلے تـــرې نـــه واخلـــئ
د اوسـنۍ زمـانې یـار د ے ټـګ بـه وینـه
کاغـــــذه ورشـــــه ورتــــه وایـــــه
پـه دکـن پـروت اشـنا دې ډیـر ډیـر یادوینـه
کاغـــذه داســـې وخـــت کښـــې ورشـــه
چـې د مابښـام ډوډۍ تـه ناسـت وي اوژاړینـه
قلـــم بـــه مـــات ګـــوتې بـــه پـــرې کـــړم
کاغـــذه تـــا کـــهٔ جانـــان اونـــهٔ ژړا ؤنـــه
پـــه هندوســـتان دې خلـــے جـــوړ شـــه
کاغـــذ دې راشـــه چـــې بنـــدې ازاده شـــمه
تـــن مـــې د غمـــه نســـکور ګرځـــي
د زړهٔ پـــه وینـــو رنګـــوم ســـپین کاغذونـــه

کله چې شاګرد د استاذ نه زدکړې ته کښېني نو د علم د خزانې کنجي ئې په لاس ورشي ـ استاذ خپل شاګرد ته قلم په لاس کښې ورکړي په تختۍ کاغذ ئې د لیک اموخته کړي د کتاب د لوستو مخه ئې روانه کړي ـ د حروفو سره ئې اشنا کړي ـ د حرفونو په جوړښت ئې د ټکو او کلیمو په ساخت پوهه کړي ـ دغه شان ئې د علم ګاډے روان کړي ـ دغه ګاډے د مهد نه تر لحده تلے شي کهٔ څوک ئې بیائي ـ دا د استاد کرامت دے ـ دا ئې برکت دے ـ دا ئې اعجاز دے ځکه استاذ محترم دے د پلار په ځائے دے ـ کهٔ پلار د تن په روزۍ ملامته پړ وي نو استاذ د علم په روزنه ځان پړ ګڼي ـ د علم ډیوه د شاګرد په وړاندې استاد بلوي ـ ځکه نو استاد تل په ښهٔ یادیږي هم په ویر هم په سندرو لکه داسې :-

کـــهٔ مـــې جانـــان دا وارې پـــاس شـــو
د سـرو ګـړۍ بـه ئـې استـاذ لـه ورکومـه
اســـتاذه ســـوال مـــې درتـــه دا دے
چې زمـا جـان لـه چټـي ورکـه چې راځينـه
اســـتاذه ســـل وارې مـــې فېـــل کـــه
زهٔ نالايقـــه د جانـــان د لاســـه يمـــه

د ماشوم وړومبے سبق د الف با وي ـ دا د استاذ وړومبۍ پېرزوئينه وي چې په خپل شاګرد ئې کوي ـ استاذ نور هم د ډېر څهٔ استاذ وي ـ د هر علم د هر هنر زدکړه د استاذ نه کيږي ولې خبره کهٔ هر څو اوږده وي ولې سر ئې الف با وي ـ ددې په اهميت هغه څوک پوهېږي چې تحصيل تمام شي ـ د علم دستار ئې په سر شي ـ د علم او هنر په خوږو پوهه شي ـ ددې نه متمتع شي استفاده ورنه وکړي ـ هوښياران وائي چې لرګي تراشه سړي ورنه جوړوه ـ د استاذ دغه هنر زده وي ځکه وائي چې :-

پئے علم چوں شمع باید گداخت
کہ بے علم نتوان خدا را شناخت

دا د علـم اعجـاز دے چـې ددې پـه برکـت د خـدائے تعـالٰی د پېژنـدو اهليـت پيدا کيږي ځکه نو الف با د علم د خزانې د ژرندې ببرته کولو کنجي ده ـ څوک ورباندې د اشنا کيږي او څوک د بېلتانهٔ په راز پوهه کوي او ولې چاته د توبې دروازه هم په ګوته کوي ـ ځکه خو وائي چې :-

الـــف اشـــنا کـــړم ب بېلتـــون شـــو
ت پـه تـوب، ورلـه ورځـم کـهٔ پخـلا شـينه

سکول ، مکتب ، مدرسه يا ښونځے کهٔ چرته په مسجد يا جومات کښې وي يا په کوم ځان له ځائے کښې ولې د زدکړې محصلين طالب علمان ورته راټولېږي ـ دا د زدکړې مرکز وي ـ استاذ پکښې هر زده کوؤنکي ته درس ورکوي ـ د ليک لوست درس ، د کتاب او تختۍ سره ئې بلدوي ـ د خبرو او تقرير هنر ورته ښائي ـ د استاذ کار په مکتب کښې لولونه او ښودنه وي ـ د هر فن او هر هنر پوهاند

استاذ بللے کیږي ـ استاذ لار ښود وي ـ راهنما وي ـ معلم وي ـ مکتب ته مکتب ځکه وائي چې کتاب پکښې لولولے شي ـ دا په مدرسه ځکه یادېږي چې درس و تدریس پکښې کیږي ـ سبق پکښې ښودلے او لولولے کیږي ـ دلته د استاذ ، کتاب او شاګرد تر مېنځه رشته جوړېږي ـ دا رشته د علم و هنر رشته وي ـ د پوهې ، فکر او نظر رشته وي ـ دلته عقل او پوهې له نُور او ځلا ورکیږي ـ په مدرسه کښې د ژوند د لارو لاروۈ ته د کامیاب ژوند د سفر لارې ښودلے کیږي ـ دلته د علم د نور شمعې بلولولے کیږي ـ دلته نونهالان د ژوندانهٔ د چمن د ښائست سېوا کولو دپاره تیارولے شي ـ ځکه د مکتب او مدرسې د مقام اهمیت ددغې ځائے په ګنبده و مینار او در و دیوار نهٔ وي بلکه ددغه ځائے په کار او معیار وي ـ د تعلیم او تربیت په وظیفه وي ـ د هلکانو او جینکو دپاره درس اخېستل ، تعلیم حاصلول او هنرونه زده کول لازم دي ضروري دي ـ هره زدکړه د مدرس او درس اخستونکي په تعلق وي ـ او د تقریر او تحریر په مېړانه وي ـ دا ځائے کۀ د فکر فکر و نظر د ودې زیاتولو وي نو مقام او اهمیت ئې د ستائیلو وي په دې چې :-

د مدرســــــې مثـــــــال د اونـــــــې
استاذ ئې څانګه شاګردان ئې زیړ ګلونه

په مکتب ، مدرسه او ښونځي کښې د طالب علم د زدکړې د جاج اخېستو دپاره د امتحان مرحلې هم راځي ـ شاګرد په دغې مرحلو تېرولے کیږي ـ کۀ څۀ ئې زده کړي وي په څۀ پوهه شوے وي او د مخکښې ګام پورته کولو جوګه وي نو مخه ئې روانه وي کۀ داسې نۀ وي نو ایسار کړے شي ـ دا ازمېښت وي دا امتحان وي استاذ دا معلومول غواړي چې دۀ چې په تېر وخت کښې خپل شاګرد ته څۀ ورښودلي شاګرد ئې په دې پوهه شوے هم دے او کۀ نه ـ د پوهې او ناپوهې تول جوک په امتحان کیږي ـ ځکه نو د تدریس او زدکړې د عمل جاري ساتلو دپاره په دې پُل تېرېدل ضروري دي ـ امتحان امتحان وي ـ هر څوک پکښې په ځان وي ـ هم پکښې د پاتې راتلو او د فېل کېدو ویره وي او هم د کامیابۍ ، کامرانۍ او پاس کېدو خوشحالي ـ ځکه نو چې کله دا د چا په سر شي نو به وائي چې :-

پــه امتحــان کښــې کــۀ دې پــاس کــړم
دغــه نېکــي بــه دې تــر عمــره يادومــه
پــه امتحــان کښــې دې خــدائے فېـل کــه
يو ځلې ستا پـه غم کښې زۀ فېل شوې يمه
پــه امتحــان کښــې کــۀ جــان پــاس شــو
د ســرو ګــړۍ بــه ئــې اســتاذ لــه ورکومــه

دنيـا هسـې هـم دارالامتحـان ده .د ژونـد پـه هـر ډګـر او هـره پـوړۍ انسـان پـه ازمېښتونو او امتحانونو راتېرېږي ـ د درس او تعلم امتحان او پرچې ورکول يو داسې عمل وي ـ سوالونه په پرچو حل کېږي ـ هر سوال د خپل متعلقه مضمون د زدکړې تپوس وي ـ کۀ خپل دغه مضمون چا سم زده کړے وي او ياد کړے ئې وي نو د سوال په صحيح جواب ورکولو کښې به پاتې نۀ راځي ولې کۀ خپل وخت ئې عبث تېر کړے وي او د ددې زدکړې څۀ زيار کوشش ئې نۀ وي کړے ځان ئې وربانديې نۀ وي پوهه کړے د خپلو يادو په بخڅه کښې ئې نۀ وي محفوظ کړے نو د پرچې يا د کاغذ په مخ چې څۀ راځي هغه ددې ځرګندونه کوي ـ د پرچې مخه استاذ د خپل شاګرد د زدکړې د علمي معيار رازدان شي ـ شاګرد هم په دې پوهېږي چې دا زۀ چې څۀ ليکم نو رازېږې ځرګند ېږي ـ ځکه ئې دا ويره وي چې :-

پرچــه لــيکم اوښــکې مــې څــاڅي
د جانــان مينــې مــې پــه زړۀ ايښــې داغونــه
پرچـــه لـــيکم زړۀ مـــې ريېـــږي
دا تورې کرښې مې ځرګند نۀ کړي حالونه
پرچـــې مـــې ډکـــې د وفـــا وې
زۀ مې ظالم جانان پـه قصد فېل کړې يمه
پرچــه لــيکم ســترګې مــې ژاړي
خدايــه پــه څــۀ جــوړ ورلــه ورکــړم جوابونــه

په سکول ، مدرسه يا کالج کښې امتحان اخېستے کېږي ـ دا امتحان ګاه وي پرچې دلتـه ورکېږي او هـم دلتـه حـل کېږي .د شـاګرد د زدکـړې دمعيـار تـول پارسنګ دلته کولے شي ـ کالج وي، لېسه وي او کۀ ښونځے وي دا د بدبينو نظر

هم ځان ته راکاږي ـ د هغوي رائې هم د توجه قابل وي ـ په دې چې هغوي خو وائي چې :-

کالجـــه خـــږ ســـېلاب دې يوســـه
هلکـــان درشـــي جينکـــۍ درنـــه راځينـــه

چې زدکړه راشي د خط کتابت لاره ازاده شي ـ خپله خبره بل ته د رسولو کار اسان شي ـ فاصلې رالنډې شي ـ راز رازدار ته رسول اسان شي ـ ربېار د مېنځه اوځي ـ دلدار ته مخاطب کېدل اسان شي ـ قلم ئې ربېار شي کاغذ په لار شي ـ راز دار پکار شي ـ لفافه ئې راز دار شي ـ چې زړۀ ئې غواړي هغه د يار شي د خپل نګار شي ددې دپاره بيا انتظار شي ځکه به وائي :-

يـــا ســـرکاري ډاکخـــانې بنـــد شـــوې
يـــا مـــې جانـــان د لفـــافې ناچـــاره شـــونه

د معاشرې د کلتورې اډانې ځينې اړخونه کۀ د ستائنې وي نو ځينې داسې هم وي چې کرېلے هم شي ـ غندنه ئې هم کيږي ـ په سپکه هم ياديږي او هېڅ څوک ورته ښۀ نۀ وائي ولې بيا هم دا په معاشره کښې موجود وي ـ کۀ وفادار په وفا او په پت ښۀ ښکاري يا څوک د چا حوصله اوچتول غواړي او چاله ډاډ ورکوي نو دا د معاشرتې ژوند خوبي ګڼلے کيږي ـ ولې چې څوک په چا تهمت لګوي ، چا له په څۀ پېغور ورکوي يا د چا څۀ عمل د توغ تاوان باعث کيږي نو دا ئې هاغه منفي اړخونه دي چې ښۀ نۀ شي ګڼلے کېدے ـ ځکه نو چې داسې څۀ موقع راشي نو کۀ څوک دا اووائي چې :-

دې زمانـــــه کښـــــې وفـــــا نشـــــته
څۀ لـه څـوک چـا لـه د زړۀ وينـې ورکوينـه
وفــــادار يــــــار رانــــه خفــــه شــــو
بـې وفـا خپـل نـۀ شـو يـواځې پـاتې شـومه
نـــــۀ دې وفـــــا راســــره وکــــړه
نـۀ مـې زړګے ستا پـه جفـا صـبر کوينـه
تــۀ بــې وفــا شــوې زۀ دې هېــر کـړم
زۀ بــې وفـا نــۀ يــم چــې تــا بــه هېرومــه

په بې وفا جانان مئین یم
چې ورته اوګورم مخ بل خوا واړوینه
بې وفا یاره خدائے دې واخله
زۀ ستا د لاسه ارماني لاړم مئینه
په بې وفا کۀ مئین نۀ وے
ولې به زۀ اوس د دنیا د خندا ومه

د میني او همدردۍ د دستور دا تقاضا وي چې د هاغې چا همت افزائي دې کیږي څوک چې د څۀ کشالې د نۀ حل کېدو د مخه د نامېدۍ په ډګر ولاړ وي . کارونه ټول الله پاک سرته رسوي . ولې انسان له ئې ددې د کولو یا نۀ کولو یا په دې کښې د کامیابۍ موندلو یا نۀ موندلو د سعي او کوشش اختیار ورکړے دے . ددۀ دغه تکل د ډاډګیرنې متقاضي کېدے هم شي . څوک چې په داسې موقع چاله ډاډ ورکوي حوصله افزائي ئې کوي نو د کامیابۍ موندلو په پېشرفت کښې ئې اضافه کیږي اوس نو کۀ څوک په داسې موقع دا اووائي چې :-

د اشنا ډاډ دې راسره وي
کۀ د نمرود د اور لمبې وي پرې ورځمه

نو د خپلې ذمه وارۍ او خپلو تکلونو سرته د رسولو ددې نه ښۀ نسخه شاید چې بله نۀ وي . ولې ځینې وخت په ټولنه کښې یو نیم تهمتي کیږي هم . مخالفت کونکي ئې قصداً عمداً په تهمت تورن کوي . تهمت څۀ داسې الزام وي چې څۀ غلط کار د چا د لاسه سرزد شوے نۀ وي ولې بیا هم وربانديې تور لګېدلے وي . تهمت لګول یو داسې معاشرتي کمزوري ده چې تش د خولې په خبره ځان څرګندوي . نه دا د لاس او پښو کړاؤ غواړي او نۀ ورباندې څۀ خرڅ یاتاوان کیږي ځکه لګول ئې هم ګران نۀ وي . ولې ددې کمزورۍ علاج د معاشرې سره ډېر کم وي . دا یوه داسې بیماري ده یو داسې مرض دے چې کۀ څوک ئې نۀ هم غواړي ولې دا په معاشره کښې موجود وي . کۀ د قبلولو او منلو نه هم وي وې بیا هم منلے او قبلولے کیږي . نو کۀ څوک دې وېنا ته مجبور شي چې :-

ټول تهمتونه مې قبول دي
ګرانه ئې داده چې بېلتون مې ژړوینه

په تهمت کلي نۀ ورانيږي
په پېغور کوزې شي راځي له پالنګونه

چې تهمتونه مې وانخلې
کله به اومومې زما د زلفو ولونه

د شيرينۍ په تهمت مړ شوم
خاوره کښې خړ شوم اومې نۀ کړل ديدنونه

د ملامتو ملامت يم
ځائے د تهمت يم چې په تا مئينېدمه

دا ستا تهمت په ما ويل شي
لنګۍ دې راکه چې په سر ئې ګرځومه

باز د تهمت په ټکو رنګ دے
د خارو سرې شونډې طوطي خوړلې دينه

د يار تهمت د ډيلي تخت دے
چې د جانان په تهمت رنګ شوم باچا شومه

ستا د تهمته نۀ خلاصيږم
کۀ زۀ هر څومره چاته خورمه قسمونه

ما پرې د کلي تهمت واخيست
جانان زما په رضا نۀ راځي مئينه

باغوان په باغ ګلونه ويشي
زۀ د تهمت د لاسه تشه جولۍ ځمه

په تهمت مۀ شرمېږه ياره
تهمت وسله ده ښۀ ځوانان ئې ګرځوينه

په تهمت مۀ شرمېږه ياره
په ښو ځوانانو پسې تل وي تهمتونه

په لارې ځم شنامې خېژي
د تهمتونو مې ګينګړي په غاړه دينه

په ټولنه کښې ډېرې خبرې داسې هم سرزد کېږي چې واقع کېدۀ ئې د چا نۀ خوښېږي ـ کله په څۀ وجه او کله په څۀ وجه ـ څوک هم چې کله د داسې کړدو ناکړدو نه خبرېږي يا جاج ئې اخلي نو خاميانې خرابۍ ئې په ګوته کېږي او چې د چا دلاسه سرزد شوي وي يا چا وربانديې سترګې پټې کړې وي ځان ئې پرې نانګاره کړے وي ولې بيا هم د نورو ورته يام وي نو داسې خبرې د پېغور باعث کېږي ـ پېغور د سپکاوي عمل دے ـ دا چې وائي چې د تورې ګذار جوړېږي ولې د ژبې ګذار نۀ جوړېږي ـ دې ته پېغور وائي ـ په پښتنه معاشره کښې پېغور د تورې د ګذار نه هم زيات سخت وي ـ نۀ دا پېغور ورکونکي له خبر جوړوي او نۀ چې پېغور ورته کېږي هغه بيا قلار کښيناستے شي ـ ځکه نو په داسې خبرو کښې کۀ د ژبې لړونه په قابو کښې نۀ وي نو ډېر نقصان کوي ـ داسې لکه چې وائي :-

په تهمت کلي نۀ ورانېږي
په پېغور کوزې شي راښي له پالنګونه
توره په لاس مېدان کښې ګډ شه
چې د همزولو د پېغوره خلاصه شمه
بې ننګه ياره خدائے دې واخله
خلاصه دې نۀ کړم د موزي له پېغورونه
اوس راته نېغ په سترګو ګوره
ستا له پېغوره په ارمان له ملکه ځمه
جامه دې سپينه مخ دې تور دے
په ما پېغور دے چې په تا مئينه شومه
کۀ د مالت پېغور مې نۀ وے
مابه لالي له ډک چيلم حجرې له وړونه
څنګه په څنګ رانه تېرېږې
د دله زويه دا پېغور به درکومه
اوس راته نېغ په سترګو ګوره
چې د پېغور شوه ملاتړه درسره ځمه

اوس راتـــه نېـــغ پـــه ســـترګو ګـــوره
ستـا لـه پېغـوره سترګې ښـکته ګرځومـه
پرېـــږده چـــې ســـترګې مـــې ځلـــور شـــي
یـا بـه پېغـور شـي یـا بـه وكـړم دیدنونـه
پېغـــور خـــو ډېـــر راكـــړئ عالمـــه
كـځ خپـل دشـمن مـې پـه تګـې وژلـې وینـه
تاتـــه پېغـــور چـــې مـــې بـــد ښـــكاري
پلو راغونډ كـه چې مـونږ بـل وطـن تـه ځونه
تـــول بـــه ورځـــو د جنـــګ مېـــدان تـــه
نـه چـې پېغـور د كـوم غلـیم راپـاتې شـینه
جانانـــــه دې جـــــولۍ تـــــه ګـــــوره
چـې راتـه جـوړ نـۀ كـړې د خلقـو پېغورونـه
جانانـــه ســـتا پېغـــور ئـــې راكـــړو
سترګې مې پټې كړې په زړۀ خوشحاله شومه
چـــې دجانـــداد ښـــځه بنـــدي شـــوه
د احمـــدزو دپـــاره جـــوړ شـــو پېغورونـــه
تـــۀ پـــه لوســـتلو صـــرف مـــۀ كـــړه
جونـه پېغـور راكـئ چـې یـار دې امـي شـونه
نېســـــتي پېغـــــور نـــــۀ ده جانانـــــه
زۀ پـه چـرګ بـان مېچنـه سـتا دپـاره كړمـه

توغ ، تاوان ، نقصان او ببلات په معاشرتي ژوند كښې هر وخت پېښېږي او واقع كیږي. دا د عملي ژوند حصه ده. د زیان تاوان ډېر رنګونه او بلا قسمونه دي. دا نقصان كله مادي وي ، كله اخلاقي وي ، كله روحاني وي كله مالي وي او كله جسماني وي. كله دا د سترګو تاوان وي. كله د زړۀ او د ژبې نقصان وي او كله د عمل او كردار. چې ګټه وي زړۀ خوشحاله سكون ورته حاصل وي. چې تاوان وي زړۀ بې قراره شي سكون ئې زائل شي. په اعتدال كښې توله برابره وي. په دې

چې د ګټې تاوان د کېدو پېښېدو امکان په هر حال دي. چې دا احتمال وي نو د ګټې سره دې تاوان ته هم خيال وي. په دې چې کۀ څوک دا تقاضا وکړي چې :-

مالـــــه د ســـــترګو تـــــاوان راکـــــه
چـې تـۀ بـه نـۀ وې مـا بـه لارو تـه کاتـۀ نـه
مـــا لــــه د حســـن تـــاوان راکـــه
تـا پـــه نهـــرو ســـترګو زۀ خـــوړلے يمـــه

کۀ داسې کيږي نو بيا به څۀ حال وي. خو غل چې غلا کوي نو قرآن هم په سر ګرځوي. څوک چې تاواني کيږي هغه ځينې داسې لارې هم لري چې ځان پرې د تاوان نه بچ کولے شي. دا غلې لارې وي. غلې لارې د غلو وي. دا غل ته معلومې وي. کله چې غلا له ځي نو په دغه لارو روانيږي. داسې څوک د مينې غلا کوي. څوک په مينه غلا کوي څوک غلچکي وي څوک د غلچکو ملګري وي . په معاشره کښې د غلو يوه ځان ته بيله دنيا ده. څۀ روا ده څۀ ناروا ده. څۀ پټه ده څۀ ښکاره ده. دا چې وائي چې د دنيا چارې روا دي خو د خلقو نه په غلا دي. ځکه نو د روا کارونو په غلا څوک بد نۀ وائي ولې د داسې کارونو غل هم چې غلا کوي نو د غلې لارې لاروے کيږي څوک ئې په ښکاره کولے نۀ شي بس دا قدرې وي چې :-

غـــــل دبهـــــر جاســـــوس د کلـــــي
زمـا د زړۀ کنـډر ئـې وکـړو لـوټ ئـې کړمـه

داسې غل سپين سترګے وي هم غلا کوي او هم تښتي نه. نۀ په غلا شرميږي او نۀ په تېښته ورته ځان ښۀ ښکاري. او نۀ ئې تښتېدۀ د ګټې وي. په داسې غل پورې چې څوک دا وائي چې کۀ غل نۀ تښتي نو مل دې اوتښتي چې غلۀ ته لاره صفا شي. بيا نو کۀ داسې وخت راشي نو به وائي چې :-

تېښـــــتۀ کـــــول مــــې عــــادت نـــــۀ دے
دا مې عادت دے چې په مخکښې مخکښې ځمه

مخکښې تلل غلا نۀ ده ولې خپل د ژوند کردار او عمل مخکښې کول دي. کاميابي حاصلول دي، پېشرفت کول دي، د کار نوعيت ئې شرط نۀ دے. غلا، زنا، نشې، تماشې، جوارې دا د معاشرې قباحتونه دي . په چا ښۀ نۀ لګي

ځوک ورته ښۀ نۀ وائي ـ ولې دا هر ځۀ په معاشره کښې موجود وي ـ کۀ غل د غلا نه مخ نۀ اړوي نو جوارګر هم په جوارۍ نۀ شرمېږي ـ دې ته لوبه وائي ـ لوبه خو لوبه وي ماشومان ئې هم کوي ـ ولې د وړو په لوبه او د سترو په لوبه کښې فرق وي ـ د سترو لوبه د تاوان وي د بېلات وي ـ د دې ګټه او بېلات په يو رنګ وي ـ ځکه ئې غندنه کيږي ـ دا په لوبه نۀ حسابېږي ـ جواري ورته وائي ـ د وړو لوبه يو رنګې وي ـ د جوارګر لوبه د وخت او د مال دواړو په تاوان وي ـ چې ځوک پوهېږي نو هغه وائي چې :-

دا جــــــواري خوشـــــے روزګـــــار دے
تــاوان ئـې تــل ګټــه ئــې کلــه کلــه وينــه
پــه جــوارۍ مــې هــر ځــۀ بــاج کــړل
پرتوګ مې بائيلو پلانداماں مې باد وهينه
د جـــــوارګر عبـــــث ژونـــــدون دے
نـۀ پـرې عزيـز نـۀ پـرې توبـور اعتبـار کوينـه
د جـــــوارګرو عمـــــر خـــــوار وي
خوار و زار ګرځي همېشه په غم کښې وينه
جـــــوارګر نـــــۀ وم جـــــوارګر شـــــوم
ما د جانان مينه کښې هر ځۀ په داؤ کړونه
ځمـــه چـــې ځـــان ورلـــه ګانـــه کـــړم
پــه جــوارګر لالــي مــې اوخاتــۀ قرضــونه

د خبرې سر په فقر او دورېشۍ ځکه د لګېدو شي ـ چې د معاشرتي ژوند لارې د کور نه تر ګوره د دنياوي چارو په بازار راتېرېږي ـ انسان کله هم د دې نه فراغت نۀ مومي ـ بس خو هر وخت ئې د غمونو دروند پېټے په سر وي ـ کله يو غم کله بل غم کله خندا کله ژړا ، کله ګټه کله تاوان ـ کله موړ کله وږے ، کله زورور کله کمزورے ، کله روغ کله ناروغه او کله ښۀ او کله بد ـ ژوند ټول د غمونو ژاله ده ـ بس د دوئي نه يو طرف ته کېدو يوه لاره ده فقر او درويشي ـ داسې چې هم په دنيا کښې اوسي هم د دنيا نه لرې وي ـ هم خبر غواړي هم خبر ويشي ـ فقر کوي هم او

په فقر کښې اوسي هم ـ بس خو دا چې فقر ئې فخر وي او د هاغي چا په نقش قدم روان وي چې الفقر فخري ( ﷺ ) به ئې ويل بيا نو کۀ دا وائي چې :-

د کلـــــي فقـــــر مـــــې راتـــــول کـــــړو
اوس بـــــه د يـــــار چنـــــې تـــــه ډډه لګومـــــه

نو حق به ئې لري ـ دا د رحمت اللعالمين ﷺ پيروي ده ـ

په دې دنيا کښې هر انسان په خپله برخه پائي ـ څۀ چې ئې نصيب وي هم هاغه وررسي ـ د ښې او بدې اختيار ئې خپل نۀ وي دا ازلي مشيت وي ـ د بنا او فروغ لارې ئې د اګاهو نه مقررې وي ـ خپل ماحول او خپله معاشره ورله هغه څۀ ورکوي کوم څۀ چې ددې تقاضا وي ـ د ژوند د روان کاروان سفر په هر حال کښې جاري وي ـ د سفر دا عمل تاريخ ساز هم وي او د تمدن د ارتقاء باعث کيږي هم ـ مدنيت د معاشرتي ژوند د اصولو د پوخ والي او دوام نوم دے دا د مهذب انسان د ژوند د فکر و نظر او تعمير او ارتقاء په هر عمل محيط دے ـ ځکه د معاشرې د ساخت و پرداخت ټول رنګونه په تمدن راجوتيږي هم او حسابيږي هم ـ د تمدن د عمل سريکار د روزمره ژوند د کاميابو او ناکامو سره وي ـ ددې انحصار د فکر او وجدان په رڼا وي ـ دغه رڼا د فنونو په تخليق کښې کار فرما وي ـ کومه معاشره چې څومره په دغه رڼا منوره وي هغه هومره ئې په تمدني لوړتيا کښې برخه وي ـ د ژوند او جهان نه د ځان دپاره جنت سازول او ددې نه ځان ته دوزخ جوړول د معاشرې په افرادو انحصار لري ـ هغه څوک چې عمل او خوئي بوئي ئې رحماني وي هغوي دلته هم د جنت حقدار وي او په هغې بل جهان کښې به هم د جنتيانو په ټولي کښې د شمار وي ـ او هغه څوک چې عمل او خويونه ئې شيطاني وي خپل ژوند د نفس او شيطان په غلامۍ کښې ورکوي د هغوي دپاره دا دنيا هم جهنم وي او په هاغه دنيا به هم د دوزخ په لار وي ـ دا د عمل مکافات دي دا چې وائي چې :-

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری ہے

دا عمـل وي چـې ژونـدون جنـت دوزخ کـړي
تن خـاکي د ے ، نۀ نوري د ے نه نـاري د ے

نو دا هم په دې خبره دلالت کوېي ـ د چا چې څۀ روزګـار وي صـله هـم ورتـه د خپـل روزګـار پـه تـابين ورکيـږي ـ دا مشيت د ے دا د فطرت قـانون د ے ـ دا د انسـان هـاغه برخه ده چې د ے ئې پـه خپـل روزګـار تـر لاسـه کـوي ـ د روزګـار دپـاره عمـل شـرط د ے ـ ولـې د عمـل دپـاره د خپـل مـرام حاصـلولو يـا د کاميـابئ منـزل تـه رسېدل ضروري نۀ دي ـ ډېر د عمـل خاوندان خپـل دا سفر نيمګـړے نيمـه خـوا پاتې کوي ـ د سفر منزلونه بې شماره دي ـ پړاؤنه ئې هم بې حده او بې حسـابه دي ـ کاميـابي او نـاکـامي دواړه مشـروط دي ـ دا د چـا د وس خبـرې نـۀ دي ولـې د کاميابئ د حصول پلو سعي او کوشش لازم د ے دا جهاد د ے ، دا جدوجهـد د ے دا چې کوي هغه مجاهد د ے ـ هر هغه څـوک چې پـه دې جهـاد کښـې کاميـاب او کامران شي مجاهد ورته وائي ـ چې په دې کښـې د ژونـد نـه لاس اووينځـي شـهيد شـي ـ د شـهادت رتبـه او مقـام ئـې نصـيب شـي ـ مجاهـد پـه دواړه صـورته کښـې کامياب وي ـ ناکامي چې دچا پـه برخـه وي هغـه تـن اسـانه ، غـافـل او خـوبن وي ـ هغـه د عمـل د مکافـاتو نـه بـې پـروا وي ـ ولـې ناکـام خـو د پښـتو پـه معاشـرتي اصطلاح کښې صبر ، زغم ، برداشت ، نګهداشت ، پامتـه داري او خـدمت کـولـو تـه هـم وائـي ـ ناکـام د وړو سـره هـم کيـږي ـ د زړو سـره هـم کيـږي د معـذورو او بوډاګـانو او ضـعيف العمـره کسـانو سـره هـم کـولے شـي ـ او د لېـونـو سـره هـم کـول غـواړي ـ ځيني وخت ناکام د ډېرو مجبورو د مخه هم لازم شي ـ کۀ زړۀ ئـې غـواړي او کۀ نۀ ئې غواړي ولې چې ناکـام ضـروري شـي نـو کـول بـه غـواړي ـ ددې روايـت جرړې په ټوله پښتونخوا کښې ډېرې پخې دي ـ دا د صـله رحمـئ جـزو هـم د ے او د ځان د تحفظ سنګر هم ـ دا د احسـان د لارې حصـه ده ـ کۀ څۀ هـم د ناکـام ژونـد تېرول په هر لحاظ ډېر ګران وي ـ ولې تېرول غواړي ـ اوس نو په داسې حـال کښـې کۀ څوک دا اووائي چې :-

د زنګـــــــدن د ســــــــلګو ســــــــخته
د ناکـــام وختـــه پـــه خـــوارئ دې تېرومـــه

کـــهٔ لېــــونے ئـــې زمـــا يــــار ئـــې
خلـــق ناکـــام د لېونـــو ســــره کوينـــه
چـــې لېـــونے شـــې پـــه مـــا راشـــه
خلـــق ناکـــام د لېونـــو ســــره کوينـــه

انسان ، انسان دے ـ دے چې کله خپل رحماني قوتونه په کار راولي نو رحمت شي ـ د خپل کور ، خپلې خپلخانې ، خپل اولس او خپل هېواد دپاره رحمت شي د ښېګړې او خېر سبب شي ـ ولې کله چې شېطان ورباندې غالب شي ـ سور شي ورباندې او فکر او نظر دواړه ئې د نفس او شېطان تابع شي ـ نغوته ئې خپله کړي پرې روان شي نو خوئي بوئي او عمل ئې هم شېطاني شي ـ بيا ئې مخې ته هم شاته او هم په ښۍ او ګسه هر اړخ ته د شېطان غلبه شي ـ شرارت ، منافقت ، خود غرضي ، خودبيني ، خودستائي ، خود پرستي ، انانيت او بې خبري ئې عمل او کردار شي ـ د بل وړور انسان د ځېرلو د هغه د حق تلفۍ کولو ، رنځولو او سپکاوي په يو کار هم صرفه نهٔ کوي ـ د خطا کارۍ او عصيان تېرهٔ چاړهٔ راواخلي مفسده آغازه کړي کور په صحرا ئې عمل د بل د نيشت او نابوده کولو شي ـ دے په ځان لکه تور خولے ټوپک شي ـ دغه ټوپک بيا په هر رنګ او په هر انداز چلېږي ، خلاصېږي او ډزېږي ـ کله ئې اواز وي او کله دا بې اوازه وي ـ دا چې هر څنګه وي څو چې ددهٔ په لاس کښې وي نو دے ئې استعمالوي او د معاشرې تذليل ، تضحيک او سپکاوے ورباندې کوي ـ دے په خپله خو په دې خپل عمل نهٔ شرمېږي ولې کور کلے قام اولس ورباندې شرمېږي ـ داسې انسان په هر رنګ کښې چې وي او په هر حېثيت کښې چې وي ولې چې د فساد ټوپک ورسره وي ـ يا ئې اختيار لري نو په داسې حال کښې په خپل مدافعت مجبوره شوے انسان کهٔ د ناخوال په داسې نارو سر وي او دا وائي چې :-

اے د ټوپکـــــــــــو کـــــــــــاريګره
کهٔ ځوانان مړهٔ شو خون به ستا په غاړه شينه
ســـــتا ددې ښـــــکلي ټوپـــــک زار شـــــم
پـــه اوږه ســـتا دے کـــږه زهٔ درســـره ځمـــه

چې سربازان ټوپک ته لاس کړي
هاغه ساعت په دشمن بل کاندي اورونه
په چړو تول ټوکر ټوکر شي
د بې ننګۍ احوال دې مهٔ راځه مئینه
زلمو چړو له موتي ورکړل
صبا غزا ده ملندرۍ له به ورځینه
چاړهٔ را واخله ما ونډۍ کړه
د جدايۍ نوم راته وانخلې مئینه
چاړهٔ په باټ راله تېرهٔ کړه
د دروغژن جانان نه ژبه پرېکومه
په خوړو سپو تهٔ راتېر شه
په خونړو چړو به زهٔ درتېره شمه
توره په لاس ټوپک په غاړه
زهٔ خپل جانان ته سلامي ولاړه يمه
په تور ټوپک وشتلې راشي
د بې ننګۍ اواز دې رامهٔ شه مئینه
توره په لاس ټوپک په غاړه
يمه ولاړه چې جانان مې نن راځینه
يار مې توپچي ټوپک په لاس کښې
زهٔ ئې رسا د زړهٔ په سر ويشتلې يمه

مدافعت او د خپل ځان حفاظت د هر چا حق دے چې مفسد نهٔ وي او دا ورسره وي نو هم محافظ دے او هم کالے دے ـ نارينه وربانديې ښهٔ ښکاري ـ کور په سنګر دواړه ځايه پکاريږي ـ د زور زياتي ، ظلم او تيري خلاف مدافعتي عمل هم دغسې تل جاري وي ـ دا چې وائي چې :-

ستیزہ کار رہی ہے ازل سے تا امروز
چراغ مصطفوی ﷺ سے شرار بولہبی

دغسې همېش دپاره مدافعتي قوتونه هم کور په صحرا د ورانې او فساد خورؤنکو په خلاف برسر پېکار وي ـ خپله هره جائزه حربه او هرد تنګ عمل په دې کښې پکار راولي کۀ په دې کشمکش کښې د هر قسمه زور زياتي ، صعوبت او تکليف سره مخ کيږي ولې په هېڅ جوړ خپل سنګر نۀ پرېږدي ـ دا ددۀ غزا وي،جهاد ئې وي دے ددې مېدان مجاهدوي سربازئې وي ـ دے د مدافعتي جنګ د مېدان د سورو د رسالې او د پيادؤ د لښکر ملګرے وي ـ امن راوستل او امن خورول ددۀ مشن وي ـ د ورورولۍ او صله رحمۍ عمل ئې مرام وي نۀ ئې د غنيمت مال ته هڅه وي او نۀ وطنونو نيوؤ ته ئې بډې وهلې وي ـ د ژوند مرام ئې تش خېرخورول وي اوددې مشن ترسره کولودپاره خپل جدوجهدتل جاري ساتي ـ هر ګذار په خپل سر اخلي ـ دے مومن وي او د مومن شان داوي چې :-

محفل کښې د يارانو هسې پوست لکه ريښم وي
باطل ته په سنګر لکه فولاد وي مومن

دا ئې کوشش وي چې مظلوم د شر نه وساتي ـ محفوظ ئې کړي ـ په امان ئې کړي ـ قلارے او امن راولي ـ اولس په ارام کړي قام په ټيکاؤ کړي او خېر پله ئې مائله کړي ـ دے تل د خوشحالۍ سوکالۍ او خېرطلبګار وي ـ ځکه په سنګر کښې ولاړ وي او په سنګر ورخېژي ـ

تۀ په سنګر باندې ورخېژه
تر نيمائي مورچې به زۀ درسره ځمه
په تود سنګر کښې به دې ستايم
مازيګرے به دې د مينې يادومه
پاس په سنګر ټکونه وشول
مړونه مري موزي به روغ کورته راځينه
چې د سنګر د ختو نۀ ؤ
موزيګے ولې په تور بربښ جنګرېز له تلونه
د سنګر خوا ته شۍ غازيانو
د فيرنګي ګولۍ وريږي په شکرونه

چې د سنګر د خته نۀ وي
فېرنګه ولې دې پرتوګ نښان کوؤنه
بیا د کشمیر په خاوره جنګ دے
غازیان د سوات او ملاکنډ وریسې ځینه
بېګا مې خوب لیدو عالمه
په سره ډولۍ کښې بابا جي غزا له ځینه
په پاک الله زما باور دے
ځکه په تش لاس د کشمیر غزاله ځمه
خاونده ګټه ورله ورکړې
زما جانان توره په لاس غزاله ځینه
کۀ په غزا کښې شهید نۀ شوې
جانانه خونو کښې به تېتېږې سترګې شمه
کۀ د مېدان نه غازي راغلې
لکه د ګل به دې په تور اوربل کښې ږدمه
چې بې غېرته مې مړ نۀ کړې
کۀ غېرتي سړے مې مړ کړې خون بخښمه
اے د ټوپک کاریګره
کۀ ځوانان مړۀ شو خون به ستا په غاړه شینه
د مجاهد د توري شرنګ دے
روسیان په ماته په ژړا ماسکو له ځینه
ما د سورو نه سلام ناخېست
نصیب محتاج کړمه د پلو سلام کومه
رساله رو بیایه کپتانه
خړې وردۍ دې زما جان نه پېژنمه
د تېغ ګذار د رغېدو وي
د خولې ګذار په زړۀ تناکې جوړوینه

ددې هر څه په نتیجه کښې برے بېلات هم پېښېږي ـ بیا په داسې حال کښې کله چې زور د زورور شي ـ نو د تخم سره ئې پټے ئې هم خپل شي ـ مظلوم په ژړا شي ـ په دې وېنا شي چې خدائے حق دے او زور حق دے ـ دستور ، قانون هر څه پایمال شي ـ چې دستور او قانون د پښو لاندې شي نو د تېرې کوؤنکو مخه خپله شي ـ ناروا ورله روا شي مظلومان ناچاره او بې نوا شي ـ چې داسې وخت راشي نو په ژړا شي او وائي چې :-

دا ناچــــــاري تــــــوره بــــــلار ده
تــــوره بـــلا د ســـړي خونـــه ورانوینـــه

ناچاري په ډېر قسمه وي ـ د زور طاقت نۀ لرلو ناچاري ، د وجود ناچاري ، د مال حال ناچاري ، د لاس امداد ناچاري ، د پیسې ټکې ناچاري د مېړو ځوانانو ناچاري ، څوک د زور په وړاندې ناچاره وي ، څوک د دولت او سرمائې په نۀ لرلو ناچاره وي ـ څوک د رنځ او بیمارو د لاسه ناچاره وي او څوک د ضعف او بوډاوالي د کمزورۍ د مخه په داسې حال وي ـ ناچاري په یو رنګ کښې ښۀ نۀ ده ولې بیا هم په څۀ نا څۀ صورت کښې دا په انسان پېښه کوي ـ کۀ څوک دا دعا غواړي چې :

خدایــــه هـــېڅ څـــوک ناچـــاره مـــۀ کـــړې
پـردے تـرې تښـتي خپـل تـرې پـوزه پټوینـه

نو حق لري ـ هسې خو وائي چې توانګری به دل است نه به مال ـ ولې مال بیا هم مال وي ـ دا دنیا ده ، دنیا ورته وائي ـ ددې سره هر څوک دومره زیاته مینه کوي چې دا ورپورې وئیلې شي چې زوے د زړۀ نه دنیا له پرینه تر زوے لادنیا شیرینه دنیا چې مال دے او مال سرمایه ده دا دولت دے دا شته مند والے دے چې دا ئې نۀ وي خواري ، نیستي او ناچاري ئې ملګرې وي ـ د ننګ نه معذوره وي په قلنګ مجبوره وي ـ نیستي بلا ده ـ څوک چې خوار ، نادار ، ملنګ ، فقیر وي نو حال ئې ابتر وي ـ په دعاګانو سر وي ـ کچکول په لاس وي ـ در په در وي ـ سر په ژړا وي ـ د فقر و فاقې نه امان به غواړي ـ دنیا ارام دے د ژوند مرام دے مال د دنیا دے چې فیض ئې عام دے پیسې کۀ مال وي زر کۀ زردار وي چې ښۀ

روزګار وي د حق د لار وي په حق په کار وي بیا نو کۀ څومره سرمایه دار وي واړه حلال وي دولت کۀ مال وي څکه خو وا ئي :

کـــۀ نېســـــتۍ څنـــګ زمانـــه وکـــړو
بیـا بـه پـه قـام کښـې پـه جرګـو بللے شـمه
نېســــــتي پېغــــــور نـــــۀ ده جانانـــــه
زۀ پــه مابښــام مېچنــه ســتا دپــاره کړمــه
پــه مــرګ دې نــۀ مــري جانــان ګــران دے
بـده نېسـتي ده پـه نېسـتۍ دې پمـن شـینه
څـــوک پـــه رضـــا د ملکـــه نـــۀ ځـــي
یـا بـه نېسـتمن وي یـا د یـار د غمـه ځینـه
یـــاره نېســـتۍ تـــه خفـــه نـــۀ شـــې
نېسـتي د خړو اوبـو ډنډ دے اوچ بـه شـینه
وطـــن بـــه ســـتا د تېـــه پرېـــږدم
خلـق بـه وائـي لـه نېسـتۍ اوتښـتېدونه

دنیا چې د مال ده او مال سرمایه ده ، دنیا دولت دے چې شته مني ده نو دا د خوارۍ نېستۍ او ناچارۍ نه په ډډه ده -په ارام او راحته د ژوند تېرولو او د انسان د مادي ضروریاتو د پوره کولو ذریعه ده - سرمایه په جدید دور کښې د ژوند د ګاډي پایه ده - په دې پایه روزګار روان وي - ددې پېدا کول هم جائز دي - ولې په جائزه لار - نۀ په جوارۍ ، سټه بازۍ ، حرام خورۍ ، په ناجائز کاروبار ، په زور زیاتي ، په غلا غلتۍ او نۀ ئې الوزول په خراباتو ، خمریاتو ، بدکارۍ یا ظلم کارۍ چې داسې وي نو دا حرامه ده -چې داسې نۀ وي نو هم حلاله ده هم رحمت دے هم راحت او هم دولت دے -زیاتي خور سرمایه دار کۀ د رواؤ په ځائے په نار واؤ کښې بوخت وي او کارونه ئې د غندنې وي نو عام وګړے هم ورته بیا په ښۀ نۀ ګوري - بد پرې وائي - په بده ئې یادوي بیا داسې حال شي چې بې غېرته کۀ مړ شي ولې انګولائې پاتې شي او د سرمایه دار په خلاف څۀ داسې انګازې د تل دپاره خورې پاتې شي چې :-

سرمايه داره کور دې رنګ شه
محنت د بل وي ډکوې پرې خپل جېبونه
خوړلے مال دې ستا نصيب شي
ماته د ناز خندا کوه خوشحاله يمه
چې مال دولت راسره ډېر ؤ
ياران مې ډېر وو اوچت سر به ګرزېدمه
منت پرې مۀ کړه زما ياره
درځني غواړي په قچرو دولتونه
دنيا ګټه دنيا پرسته
زما په تور اوربل کښې سپين اولګېدونه
هندوستانے شه روپۍ راوړه
په کورنۍ دنيا مې پلار نۀدرکوينه
ورشه د بلخه دنيا راوړه
په کورنۍ دنيا مې پلار نۀ درکوينه
په دنيا تول د سړو نشته
تول د پېسو دے جولاګان خانانوينه

د دنياداريۍ دا لوبه هم دغسې د اخره پورې ورانه وي. دا يو داسې خوږکے دے چې مړېدۀ پرې نشته. د دنيا دار، سرمايه دار مثال د منږک وي. مخکښې راکني شاته ئې ډېرے کوي. ډېرے ډېرېږي دے نۀ ودرېږي ځکه خو ورپورې متل کېږي چې منږکه خاورې کنه دغه خاورې دې په کونه. د دنياداريۍ عمل هم دغسې روان وي. ځکه خو کۀ د سالک دې قول ته فکر وکړے شي نو حقيقت پرې ښکاره شي. چې سوال ورنه وشو نو اوئې وئيل :-

گفت چشمِ تنگِ دنیا دار را
یا قناعت پُر کند یا خاک گور

يار اشنا، خپل پردے او دوست دشمن هر څوک لري. چې په ټولنه کښې اوسي. د معاشرتي ژوند غړے وي. څوک هم چې وي د معاشرې په ښۀ بده کښې به

شریکیږي ـ غم ښادي به سرته رسوي َ ـ څوک به ورنه رضا وي څوک به ترې نارضا وي خفه وي ماڼېجن وي ـ کله مینه او دوستي خپلوي وروروليي شي او کله خفګان او تاؤ تریخوالے دشمني شي ـ دوستي او دشمني ، خوېښي او خپلوي د باهمي رضا مندو او رنجشونو نه پېدا کیږي دا چې وائي چې د توري ګذار جوړیږي ولې د ژبې ګذار ۀ جوړیږي ـ ځکه نو کله چې ژبه تېره شي یا بې واکه شي ترخه شي نو سره د پسخاکه شي ـ ژبه د نیتونو ترجمانه وي دا ئې اظهار کوي نیک نیتي او بدنیتي د خېر سګالۍ او بدسګالۍ تخمونه کري ـ چې ژوند روان وي دا هم پکښې روان وي ـ کله د ګلونو او کله د ازغو کرونده کیږي ـ ګلونه زینت او ښکلا سېوا کوي او ازغي تن او وجود روګي بوګي کوي ـ ولې معاشره د دواړو نه جوړه وي ـ کردارونه ئې ډېر دي ـ چې اشنا وي خو د مینې او دوستۍ ګلدسته ئې په لاس کښې وي مینه کوي او د مینې حقدار هم وي ـ ځکه نو چې یادولے شي نو په مینه او په ښۀ یاد یږي ـ مینه ورسره کیږي ، عزت او احترام ئې کولے شي ـ سود پېرزوئینه پرې کیږي ـ زړۀ وربانديې خوشحالیږي ـ قربت ته ئې هوسیږي ـ په بېلتون ئې خفه کیږي ـ نزدیکت ئې غواړي په جدایۍ ژاړي ـ تل به دا وائي :-

اشــــنا قبلــــې طـــرف تـــه مـــخ کــــړو
زۀ پــه دنیــا د بــې شــرمۍ وربشــې خورمــه

اشـــــــــنا لازم زۀ وو ملـــــــــــــزوم وم
بېلتـون ظـالم تقابـل راوست بېـل ئـې کړونـه

اشـــــــنا یادونــــــه دي مــــــاران دي
پـه ټـول بـدن کښـې مې پـه زړۀ چـک لګوینـه

چــې یــو اخــلاص کــړي بــل لبــاس کــړي
دا لباســـي اشـــنا دي خـــدائے وشـــرموینه

ګــاټلۍ تــرې پورتـــه کـــړئ همزولـــو
پـــه بنجــاري مــې د اشـــنا ګمــان راځینـــه

چــــې کبــــرجن اشــــنا خبرېــــږي
زمـــا بـــه زلفـــې بېلتانـــۀ پرېکـــړې وینـــه

اشنا ښېلتون راسره اوکړه
تهٔ به زما په لور راځې نهٔ به درځمه
اشنا مې وږې رانه لاړ شو
چې دسترخوان لره ورځم ژړا راځينه
اشنا په سمه زهٔ په سوات يم
سمه دې ورانه شي چې دواړه سوات له ځونه
اشنا د تورو غرو اوښه دے
د هندوکش تر زانو لوړ کړي مزلونه
اشنا د لوړو غرو شپونکے دے
پټ په شپېلۍ کښې راته وائي ټول حالونه
اشنا د مور و پلاره خوږ دے
ځکه مې اوښکې د جانان د غمه ځينه
اشنا رانغے او سحر شو
د تورې شپې په ډيوه پرېوتل ګردونه
اشنا رباب ته ګوتې وروړې
زهٔ ښهٔ پوهېږمه چې ما زهيروينه
اشنا زما سره پخلا ؤ
پخلا اشنا رانه ښېلتون مرور کهٔ نه
اشنا سالو په مخ راخور کړو
ماله ورمې د تورو زلفو ئې راځينه
اشنائي وے جدائي نهٔ وے
خدايه په درکښې به دې څهٔ کم شوي وونه
اشنا مې کډې د غويو کړې
زما ياد ېږي د اوښانو قطارونه
اشنا يو خوار شاني بزګر دے
په ما او شنو وښو يو شان مينه کوينه

اشـــــنا مـــــې لال د بدخشـــــان دے
زۀ ملغلــــره د دريـــاب راغلــــې يمـــه
الـــــف الفــــت د اشـــــنا غـــــوارم
ب د ښيلتـــون د لاســـه روغ لېـــونے شـــومه
اشــــنا پـــــه ټوقــــو نـــــۀ پـــــوهېږي
مـــا پــه خـــورو زلفـــو وهـــو مـــرور شـــونه

په داسې حال کښې کۀ څوک په دې وېنا مجبوره کيږي چې :- ـــ
کے رابـــه کس آشنائی نـــــه بود ے
چه بود ے که رسم جدائی نه بود ے

دا هاغه صورت حال دے چې د هر چا مخې ته دے ـ هر څوک ورسره مخ کيږي ـ په معاشرتي ژوند کښې کله هم دغه څۀ پېښېد ے شي ـ د ژوند دا نظام هم په دې جوړ روان دے ـ په دې کښې نه خو د رنګ او نسل تخصيص شته دے هر څو که زبان يار من ترکی و من ترکی نمی دانم وی ـ ولې بيا هم اشنا اشنا وي ـ تخصيص نۀ لري ـ نۀ د ژبې او لباس او نۀ د زورور او د کمزوري ـ په دې روانه لوبه کښې هر څوک شريک دي ـ دا تړون دے دا مينه ده دا محبت دے ـ دا هاغه خوارۀ دي چې د چا تر خولې شي نو بيا وائي چې :

جانـــــان د مـــــور و پـــــلاره خـــــوږ شـــــي
چـــې د سـينې خـولې ئـې ګـډې وډې شـينه

دا د ژوندانۀ په ګلخانو کښې د يو بوټي ستر ګې به بل بوټي کښې لګول دي ـ دا د نوي پود راټوکېدو هاغه عمل دے چې انسان ئې د جنت نه بهر کړے او د دنيا د ژبست روزګار سره ئې اشنا کړے دے ـ دا د آدم او د حوا د تخم ريزۍ او د کروندې هغه روان عمل دے ـ د خپل قام ، خپل اولس هغه مزاج شناس ستر خوشحال بابا چې دا وئيلي دي چې :-

چـــا پـــه وخـت د زنګـدن اووې مجنـون تـــه
وخت اخر دے پـه زړۀ يـاد لـره خپـل خدائے

وئيـل ئـې زړۀ مـې د لېلـى پـه يـادو ډک دے
پکښـــې نشـــته د ے د نـــورو يـــادو ځـــائے

دا دلبري مينـه الله پـاک د انسـان پـه زړۀ کښـې اچـولې ده ـ ددې نـه ئـې محبـوب او جانان جوړ کړے دے ـ دا خاوند دے ، خداوند دے دغه محبوب او محبوبا دي مينه چې د جنون تر حده ورسي نو مئين مجنون شي ـ او مجنون حال مست شي ـ چې حال مست شي نو بې نيازه شي ـ خپل محبوب ئې لېلى شي نظر ئې پـه لېلى مرکوز شي ـ دا د خود فراموشۍ کېفيت وي ـ هر طرف ته ئې لېلى لېلى وي ځکه نو نور يادونه ئې د زړۀ نه بهر شوي وي ـ بس خوجانان جانان وي ـ چې هر پلـه ګوري نظر ئې په جانان وي ـ دا جنون دا خود فراموشي دا لېونتوب تر هاغې جاري وي تر څو چې په خود کښې شوے نۀ وي ـ د بې خودۍ پـه رموزو کښـې دا هم شامل دي ـ کله چې دا حالت د چا د ژوندانۀ ملګرے شي نو قيل و قال ئې هم څۀ دا رنګې وي ـ چې جانان به غواړي ـ جانان به ياد ېږي ـ جانان به ستائي او جان به ژاړي ـ د جانان دا قيصه څۀ داسې نۀ ده چې د يو چا ده او د بـل نـه ده ـ دا د هر چا ده ـ ضروري نۀ ده چې هر څوک دې مجنون فرهاد رانجا يا آدم خان شي يـا دې هره محبوبا ليلى ، شيرين ، هير يا درخانۍ شي ـ دا ده چې محبوب جانان شي او جانان د زړۀ کور ته دننه شي نو مور و پلار هم شاته شي ـ ځائے ورتـه پرېږدي ـ جانان د جانان شي دا ئې بس په ژبان شي چې :-

کـــۀ جهـــان ټـــول جانـــان جانـــان شـــي
زمــا د يــار پـــه شــان جانــان بـــه چرتـــه وينـــه
د جانـــان غـــم مـــې هلـــه کـــم شـــي
چـــې څـــو مصـــرعې پـــه زوره زوره اووايمـــه
افســـــوس ارمـــــان د ے جانـــــان راغـــــے
دې تـورو خـاورو مـې وراسـتۀ کـړل انداموـنه
اســـــــماني تنـــــــدر و ے جانانـــــــه
پـــه مـــا راپرېـــوتے ذرې ذرې دې کړمـــه
پـــه ســـپين جانـــان مـــې مينـــه راغلـــه
مشـــر ئـــې څـــوک د ے ننـــواتې بـــه ورځمـــه

پاس په هوا راشه جانانه
لاندې کوځې د غمازانو ډکې دينه
ته به مې هېر نه شې جانانه
کۀ د لحد چينجي مې خاورې کړي هډونه
جانان د مور و پلاره خوږ دے
ځکه مې اوښکې د نيازبينو سترګو ځينه
جانان مې مري لالا بيمار کئ
چې د لالا په بانه يار ته اوژاړمه
جانانه سر مې درنه ځار شه
په سپ مې ايښي قربانۍ له ئې دروړمه
جانانه ځار دې تر نامه شم
چې نوم دې اخلم د زړۀ باغ مې تازه شينه
جانانه ستا په جدايۍ کښې
لکه غنم د زړۀ په سر چاؤدلے يمه
جانانه راشه چې پخلا شو
عمر د ژمي مازيګر دے تېر به شينه
جانانه راشه چې پخلا شو
بېګا مې مړ په خوب ليدې په ژړا شومه
جانانه سترګو کښې دې اور دے
ماته دې اوکتل ستي دې کړم مئينه
جانانه داسې خو ځوک نۀ کړي
لکه د سوال قطره دې اور ته اونيومه
جانانه مري کۀ پاتې کيږي
دا مې عادت دے نرۍ سترګې تورومه
جانانه چګه درته نۀ شوم
تر پښو مې لاندې شو د زلفو طنابونه

جانانــــه روغ بــــه لېــــونے شــــې
کــځ د اوربــل د پاســه کېــږدم زيــړ ګلونــه
جانانــــه روغ بــــه لېــــونے شــــې
کــځ د اوربــل دپاســه کېــږدم ســرۀ ګلونــه
جانانــــه راشــــه کــــځ مــــې ګــــورې
پــه ســرو جــامو کښــې لکــه ګــل ولاړه يمــه
جانانــــه مــــرې کــــځ پــــاتې کيــــږې
پــه تــور اوربــل مــې ســوداګر اوګرزېدونــه
جانانـــــــه اومــــــــې غولــــــــولې
خال خو مې خوشے د رنجو دے رنګ به شينه
جانــــان پــــه ســــرو ســــترګو مئــــين دے
زۀبــه دا تــوري ســترګې چرتــه بدلومــه
جانــــان کــــځ مــــرې کــــځ پــــاتې کيــــږې
دا مــې عــادت دے اشــارت ورتــه کومــه
جانــــــان پــــه اوږد ســــــفر لاړ شـــــو
د خـدائے دې هيـره شـم چـې دې بـه هيرومـه
جانانــه داســې خــو څــوک نــځ کــړې
لکــه ســپياکه دې پــه اور وريســې کړمــه
جانــان مــې نــور پــه خــاورو پــټ کــړئ
لاســونه ئــې پريــږدئ چــې ګلونــه ورکومــه
جانــان مــې نــور پــه خــاورو پــټ کــړئ
لاس ئې ښکاره کړئ چې جرګې پرې سر کوينه
جهــان دې مــرې جانــان دې نــځ مــرې
يــو ئــې ځــواني ده بــل ئــې ډېــر دي ارمانونــه
جهــان دې مــرې جانــان دې نــځ مــرې
يــو ئــې ځــواني ده بــل ئــې کــړې جهادونــه

جــوره جــوړه پــه بــاغ کښــې ګرځــي
چــې جانــان نشــته زۀ د چــا ملګــرې شــمه
جانــان پــه خــاورو کښــې مــخ پــټ کــړو
زۀ ئــې د خــاورو پــه ډيــرۍ ايســاره شــومه
جانــان مــې ســتورے د اســمان دے
تمــام جهــان ئــې د سپين مــخ ديــدن کوينــه
جانانــــه پاســــه راتـــــه ګـــــوره
شــين خــال پــه زنــه ســلامي ولاړه يمــه
زمــــا جانــــان دې بنــــديوان کــــړو
تــۀ بنــديوان شــې د کــانګړې غټــه اخونــه
جانانــــه تــــۀ پــــرې پوهــــه نــــۀ شــــوې
خــال مــې د خــامو نيلــو ايښــے وران بــه شــينه
جانانــــه عمــــر دې رب ډيــــر کــــړه
لکــــه د بيــــرې پــــاڼې اوړے ژمــــے وينــــه
جانانــــه خپــــل وطــــن تــــه راشــــه
پــــردے وطــــن د ســــړي قــــدر کموينــــه
جانانــــه خپــــل وطــــن تــــه راشــــه
کــۀ خلــق ډيــر دي پــرې ابــاد دي خپــل کورونــه
جانانــــه دومــــره پــــه مــــا ګــــران ئــــې
چــــې ســــپينې واؤرې وريــــدې در اووتمــــه
جانانــــه دومــــره پــــه مــــا ګــــران ئــــې
چــې تــۀ روان ئــې زۀ دې شــمارم قدمونــه
جانانــــه راشــــه ځــــان اوبــــۀ کــــه
پــاس پــه تنــدي مــې خــولې ډنــډ ولاړې دينــه
جانــــان د تــــورو پــــه بربښــــنا کښــــې
زمــا مړونــد پــه لاس کښــې کلــک نيــولے وينــه

جانـــان مـــې مـــرګ پـــه ځـــان قبـــول كـــړو
زۀ دې ژونــده شــم چــې كوتتــون نــۀ قبلوۀمــه
جانانـــــــه ســـــــتا د زړۀ دپـــــــاره
زۀ دې د ټـــولې خپلخـــانې ســـلام كومـــه
جانانـــــه تـــــۀ پـــــه خـــــوب اودۀ وې
زمـــا پـــه مـــخ راتلـــۀ د اوښـــكو ســـېلابونه
جانانـــــه ســـــتا پـــــه انتظـــــار كښـــــې
د ځــوانۍ عمــر پــه ســور اور كښــې تېرومــه
جانـــان چـــې بـــل وطـــن تـــه لاړ شـــو
زمـا پـه دې دنيـا كښـې نـور څـۀ پـاتې دي نـه
جانـــــان زمـــــا نـــــه مـــــرور د ے
اوس پـه جرګـه بـه ورلـه سـرې اوښـكې لېږمـه
جانانـــــه تـــــۀ خـــــو داســـــې نـــــۀ وې
د چـــا خبـــرې دې ضـــرور منلـــې دينـــه
جانانـــــه بـــــل وطـــــن تـــــه مـــــۀ ځـــــه
ځـان بـه ګانـه كـړم ولـې تـا بـه پـرې سـاتمه
جانانـــــه راشـــــه چـــــې پخـــــلا شـــــو
ســوے بېلتــون پــه دنيـا شـتـه جـدا بـه شـونه
جانـــان مـــې بيـــا كلـــي تـــه راغـــے
پـــه رقيبـــانو بانـــدې بـــل شـــو ســـرۀ اورونـــه
جانـــــان زمـــــا د منګـــــل بـــــاز د ے
د زړۀ قطـــرې بـــه وركـــوم د ے بـــه ســـاتمه
جانانـــــه غـــــم دې را پـــــه ســـــر كـــــړو
رقيبـــان تيـــپ شـــو پـــه ګولـــو ئـــې اوويشـــتمه
جانـــان چـــې جنـــګ لـــه روانېـــږي
زۀ ورلـــه تـــوره ډال د غېـــږې وركومـــه

چـــې خپـــل جانـــان مـــې راســـره وي
کــۀ پــه مــا ګټــې چلــوي خوشــحاله يمــه
جانـــان دې بـــد کـــړي زۀ بـــه ښـــه کـــړم
څـو چې مـې نيت د يـارۍ وي ناسـته بـه يمـه
چـــې پکښـــې اونښـــتې جانانـــه
زمـــا د زلفـــو ول دې ولـــې لټوؤنـــه
چـــې جانـــان مـــري مـــا ئـــې کفـــن کـــړئ
چې پـه لحـد کښـې سـره دواړه خـاورې شـونه
د هاغـــه شـــپې ســـحر رامـــۀ شـــه
چې جانـان لـؤ کـړي مـا لاټـېن نيـولې وينـه
د چـــا جانـــان چـــې بـــې وفـــا شـــي
لکه انسان چې په خپـل قـام کښـې غريـب شينه
راځـــه راځـــه خـــوږه جانانـــه
زۀ دې د عمـــر لېـــونۍ محتاجـــه يمـــه
راځـــه جانانـــه پـــه مـــا ګرانـــه
د خپلـــه ځانـــه درتـــه زړۀ منجـــره کومـــه
کـــۀ مـــې جانـــان پـــه رضـــا راغـــې
شـــمس و قمـــر بانـــدې بـــه اور اولګومـــه
کـــۀ جانـــان بـــد کـــړي زۀ بـــه ښـــۀ کـــړم
څـو چې مـې نيت د يـارۍ وي بـد بـه ئې ورمـه
جانـــان زخمـــي نـــۀ دے نـــو څـــۀ دے
د تـــورې مـــوټې لګـــوي کـــور تـــه راځينـــه
ګـــاټلۍ تـــرې پورتـــه کـــړئ همزولـــو
پـه بنجـارې مـې د جانـان ګمـان راځينـه
پـــه لاعلاجـــه مـــرض پـــروت يـــم
پـه جانـان دوه قدمـه ګـران دې نـۀ راځينـه

لکــــه ققــــنس پــــه اور ســــتي شــــوم
زمــــا د مخــــې جانــــان بــــل تــــه اوکاتــــهٔ نــــه
جانــــان زمــــا پــــه کــــوکۍ مــــړ دے
عالمــه مــهٔ ئــې لمبــوئ شــهيد بــه وينــه
مــا وې چــې خوالــه بــه مــې راشــي
جانــان مــې لاړ پــه پېښــور اولګېدونــه
جانانــه تــور چــېلے حــلال کــړه
خښــنې اوشــو پــه کالــهٔ دې پــاتې شــومه
اســتاذه شــل ځلــې مــې فېــل کــه
زهٔ نالايقــه د جانــان د لاســه يمــه
مخلوقــه حــال مــې د مجمــر شــو
پــټ پــه شــکم کښــې جانــان شــنه لــوخړه کړمــه
يــا زلزلــه ده زمکــه خــوزوي
يــا مــې جانــان دے د فوځونــو ســره ځينــه
کــهٔ مــې جانــان پــه وطــن راغــے
زمــا بــه ژونــد د پســرلي ګلونــه شــينه
لکــه بهــار پــه تېرېــدو يــم
جانــان پــه زمکــه د ملتــان کــرلے يمــه
يــو خــوا پښــتو بلخــوا جانــان دے
زهٔ د پښــتو زنځيــر شــلوؤم جانــان لــه ځمــه
زمــا جانــان دې راســره وي
پــه مــا دې ګټــې د مېــرو راچلوينــه
زمــا جانــان د ګلــو اونــه
د هــرې څــانګې ئــې جــولۍ ګلونــه وړمــه
پــه پــاتې ژونــد بــه څــهٔ روزګــار وي
يــوم مــې پــه لاس پــه جانــان خــاورې اړوينــه

جانانــــه ســــختي تــــه مــــې ټينـــګ شـــه
خــوارۀ يــاران بــې ســختي چــا مونــدلي دينــه
جانــــــان د مــــــور و پــــــلار خـــــوږ دے
ځکـــه ســـلام پـــه دوه لاســـي ورتـــه کومـــه

چې مينه راشي نو زړۀ مئين شي ، مينه يو سر دے ، مينه يو راز دے ـ په زړۀ دننه د يار د دپاره ،د زړۀ اواز دے ـ اظهار ئې کيږي په څو څو رنګه ،کله په سترګو، کله په ژبه ، دا عملي شي چې قرباني شي ـ هسې خو خيال وې اظهار ئې کيږي ـ کله ريبار ته ،کله دلدار ته ـ د مينې کور وي، په زړۀ دننه ـ په دغه کور کښې،مدام اوسيږي ـ مينه چې راشي، نو زړۀ مئين شي ـ زړۀ چې مئين شي، ژبه ګويا شي ژبه وئيېري ، جانان ياديږي ، مينه په سترګو کښې ، بيا اوغړيږي ، مينه خنديږي ، مينه ژړيږي ، مينه چې ژاړي، اوښکې توئيږي ، د مينې رود هم داسې بهيږي ، ګلزار د ژوند پرې سېرابه کيږي ، ګلان غوړيږي، ګلان خنديږي ، ژوند جانانه شي ژوند د جانان شي ـ مينه چې راشي، ګل په خندا شي ، مينه چمن کښې، ګل غوړيدل دي ـ مينه چې ګل شي، جوړ ترې ګلزار شي ـ مينه خندل دي، مينه ژړل دي ـ مينه د زړۀ نه ،چې جوتيږي ـ کۀ په هرجوړ وي،يار ته رسيږي ـ کۀ زړۀ ملال وي، مئين خوشحال وي ـ شمع بليږي، پتنګ سوزيږي ـ مکان د زړۀ پرې، روښانه کيږي ـ زړۀ چې رڼا شي ،دنيا رڼا شي شاته ترې پاتې، غم د دنيا شي ـ مينه خندا شي، مينه ژړا شي ،چې مينه راشي ،مئين ګويا شي ـ بيا داسې وائي :-

مينـــــه پـــــه تلـــــو راتلـــــو زيـــــاتيږي
کلـــه راځـــه کلـــه بـــه زۀ درځـــم مئينـــه
مينــــه کومــــه غــــلا خــــو نــــۀ کــــړم
خدايــه دا ســتا بنــديان مــې ولــې تنګوينــه
مينــــــه فــــــراق بانــــــدې زيــــــاتيږي
وصــــال پـــه مينـــه بانـــدې اور اولګوينـــه
اخـــــر پــــه خپلــــه خــــدائے مئــــين کــــړم
مــا پــه مئينــو پــورې ډېــر خنــدلي وونــه

مینــــــه مـــــې پتـــــه درســــــره ده
ښتــــانهٔ کلــــه پــــه ښــــکاره مینــــه کوینــــه
مینــــه خــــو تــــا کــــړه مــــا خــــو نــــهٔ کــــړه
چــې اوس ئــې لنــډه پرېکــوې ژړا راځینــه
مینــــې دې دومــــره احســــاس راکــــړو
پــه میــرې ښــه نــهٔ ږدم کــهٔ یــار ئــې پــاتې شــینه
مینــــه کښــــې دومــــره بــــازي بــــس ده
چــې ســر و مــال جانــان تــه دواړه اوســپارینه
ماتــــه پــــه مینــــه مینــــه ګــــوره
چــې خطــرې مــې د زړهٔ لــرې شــي مئینــه
کــهٔ مــې د مینــې غــوټۍ ګــل شــوې
پــه خوشــبویۍ بــه ئــې هــر وختــې تــازه یمــه
غلــې زمــا پــه خنــګ کښــې پرېوځــه
زهٔ خپــل مئــین د خپــل وزر لانــدې کومــه
د مینــــې یــــو تــــولګې عــــالم وي
د بېلتانــــهٔ ســــره د شــــام پــــورې فوځونــــه
د مینــــې میــــر شــــه اباســــین شــــه
چــې خلقــې دې پــه اوبــو ســرابې شــینه
چــــې دوه مئــــین چرتــــه یــــو ځــــائې وي
درېــم دې خــوار شــي چــې دپاســه پــرې ورځینــه
تاتــــه بــــه مینــــه تــــوقې ښــــکاري
زمــــا پــــه تــــول بــــدن ئــــې اور اولګاؤنــــه
مینــــــــه روا ده خــــــــورې واوره
پــرون مــلا پــه ممبــر پــاس وئیلــې دینــه
مینــــه ثــــواب دے کــــهٔ عــــذاب دے
مولیــــانو وګــــورئ د عشــــق کتابونــــه

چې پرې مئین ئې پرې ئې نۀ ږدي
کۀ په نکاح ولاړه خور دې پکښې ځینه
یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل دې مئین په زورورو خلقو کړمه
د خدائے په ښکلو مئین ښۀ دے
کافر هغه دے چې په نورو مئین شینه
مینه د خدائے د رسول ښۀ ده
مجازي مینه سړے اور ته غورزوینه
بس دے په دغې فیصله ده
څوک چې مئین وي خدائے دې نۀ رسوا کوینه

مینه د محبوب سره کیږي . محبوب هغۀ وي چې زړۀ ته نزدې وي . د زړۀ نزدیکت مینه ده . دا په محبوب راځي . محبوب منظورِ نظر وي . محبوب دلبر وي محبوب جانان وي محبوب لکه ځان وي . په مئین ګران وي . د جانان مینه وي د ځان مینه . په خپل مئین باندې جانان ډېر ګران وي . هر څۀ چې ګران وي بیا د تاوان وي تاوان دمال وي یا کۀ د ځان وي . په داسې حال کښې ټول د جانان وي . کله چې مینه د محبوبا شي محبوب شي ، حب د مولا شي ، جوړه په مینه دغه دنیا شي . چې مینه راشي یار ئې محبوب شي دا محبوبا شي ، ژوند خوشحالي شي ژوند په خندا شي ، حق د ژوندون هم داسې ادا شي :

زما محبوب چې کله پاس شي
مشر استاذ له به ئې د زړو ګړۍ وړمه

دا ارمانونه، دا سوغاتونه، کۀ د محبوب وي، د محبوبا وي . د مینې زار وي، د مینې کار وي . محبوب حبیب دے، حبیب طبیب دے . حبیب حبیب دے څوک چې دا وائي ښۀ پرې پوهیږي :

چې پاک حبیب ﷺ د چا طبیب شي
کۀ په ناعلاجه مرض پروت وي جوړ به شینه

طبيبان ډېر دي، خو داسې نۀ دي ـ د دوئي په لاس کښې، د تن علاج وي ، د تن مرض له، شفا کۀ ګورې ـ ددې دپاره ، طبيب به ګورې ـ رنځور د مينې، د روح رنځور وي ـ د مينې رنځ له ،حبيب پکار وي ، حبيب چې راشي ، حبيب دوا شي ځکه خو وائي :-

پــــه طبيبـــــانو بـــــه جـــــوړ نـــــۀ شـــــم
جانـــــان د حســــن پــــه ګولــــو ويشـــتلے يمـــه
پــــه نـــــالايق طبيـــــب مــــې ســــر شــــو
مـــــــرض د زړۀ دوا ســـــــترګو راکوينـــــــه
ويشــــــتل کـــــوي طبابـــــت نـــــۀ کـــــړي
 څوک چې ويشتل کړي ملهم جېب کښې ګرځوينه
پــــه طبيبــــــانو خــــو جـــــوړ نـــــۀ شـــــو
اوس مــــې لالــــے پــــه زيــــارتونو ګرځومــــه

د ژوندانـۀ سـره قسماقسـم رنځونـه ، مرضـونه او بيمـاريـانې تړلـي دي ـ څـۀ بيماريانې د تن وي څۀ د روح وي ـ ولې يوه بيماري داسې هم ده چې تن او روح دواړو ته پېښېږي ـ دا بې خودي ده ـ خود فراموشي ده ـ جنون د ے لېونتوب د ے ـ د تن لېونے چې، ازخود رفته شي ـ نو يا به ځان ولي، يا به بل ولي ـ نۀ بيا په ځان وي، نۀ په جهان وي ـ يا هواګير شي، يا د زنځير شي ـ

ويشـــتي کـــاڼي لېـــوني ســـره راتـــول شـــو
خـو کـۀ خيـال ئـې د ويشـتو شـولو نـو بيـا ؟

جنون د مينې، غم د جانان کړي ـ دا لېونتوب ئې، جهان حېران کړي ـ صحرا چمن کړي، کور بيابان کړي ، بيدي بيد ياته مئين روان کړي ، سردالوند نه، رود را روان کړي ـ رباب ته کښېني، آه و فغان کړي وجود ئې نې شي، سر په ګريان شي ـ غوړ ورته کېده، داسې ګويان وي :-

بشـــنو از نـــے چـــون حکايـــت مـــی کنـــد
وز جـــدائي هـــا شـــکايت مـــی کنـــد

دا لېونتوب وي، دا لېوني وي ـ دا لېونۍ وي، دا لېونۍ وي ، دا درخانۍ وي ـ په خپل اولس کښې لېوني ګران وي ـ کۀ لېونے وي، کۀ لېونۍ وي ـ چې څوک پرې وياړي، چې څوک ئې ژاړي نو دا به وائي :-

لېــــونۍ لاړه کلــــے چــــول شــــو
څنګ به په چول کلي کښې شپې صبا کومه
جنـــون مجنـــون ســـره ښــــائېږي
په لېونتوب دې نورڅوک ځان نۀ شرموينه
پــه لېونــو کښــې ځکــه شــمار شــوم
لېونــو سـترګو پــه ګــودر خــوړلے يمــه
خلـــق بـــه مـــا لېـــونے بـــولي
لېـونے نـۀ يـم د يــار غــم لېــونے کړمــه
جنګـــۍ زمـــونږه ټــال پکښــې دے
د لېـــونۍ ســره ورځــم چــې اوزانګمــه
د لېـــــونۍ داســــــې خنـــــدا ده
د ســـلو کـــالو مـــرور پخـــلا کوينـــه
کـــۀ لېـــوے ئـــې زمـــا يـــار ئـــې
دا لېـــوني د کلـــي چـــا شـــړلي دينـــه
چـــې لېـــونے شـــې پـــه دې راشـــه
خلـــق ناکـــام د لېونـــو ســـره کوينـــه
چـــې لېـــونے لېـــونے ګرځـــې
يـــا لېـــونے ئـــې يـــا دې زۀ لېـــدلے يمـــه
چـــې لېـــونے شـــوې حـــال دې ووے
روغـــو بـــه کلـــه چاتـــه وې د زړۀ حالونـــه
د لېونـــــو کـــــانې را وشـــــوې
پـــه اشـــنا کلـــي کښـــې کـــوڅې نـــۀ پېژنمـــه
د لېـــــونۍ ارمـــــان پـــــوره شـــــو
د چکـــدرې مـــذوب تـــه شـــونډې بوڅوينـــه

د لېونـــــــو کـــــــانې را وشـــــــوې
پـه جرنيلـي سـړک چـې ځـم ټکـرې خورمـه
د لېونـــــــو د لارې مـــــــل شـــــــوم
د يــار تکــل کښــې تــر کعبــې ورســېدمه
د لېونـــو غونـــدې بـــد حـــال يـــم
پـه سـپينو اوښـکو مـې بانـۀ لړلـي دينـه
د لېونـــــــو د لارې مـــــــل شـــــــوم
د يـــار پـــه مينـــه تـــر منـــزل ورســـېدمه
د لېونـــــــو کـــــــانې را وشـــــــوې
پـــه غرونـــو ســـر يـــم ابـــادې نـــۀ پېژنمـــه
د لېونـــــــو د لارې مـــــــل شـــــــوم
د يـــار پـــه مينـــه پـــه يثـــرب اولګېدمـــه
د لېـــــونۍ د چـــــل نـــــه ځـــــار شـــــم
اوبـۀ بانـه کـړې جـام کښـې مينـه راکوينـه
د لېونـــــو ســـــره خوشـــــحال يـــــم
زمـا ئـې خـوښ دې دا شـلېدلي ګرېوانونـه
د لېـــــونۍ د کـــــوتې تېـــــر شـــــوم
پـه مـا ئـې جـوړ کړلـو د خـاورو انبارونـه
دا لېـــــــونې لېـــــــونې ګرځــــــه
پـه چـم کښـې ګرځـه چـې ډاډه دربانـدې يمـه
د لېـــــونۍ کوڅـــــه ښـــــکاره ده
پـه دېوالـۀ ئـې کشـمالې کرلـي دينـه
لېـــــونۍ بيـــــا مخـــــې لـــــه راغلـــــه
پـه سـور سـالو کښـې د اشـنا ديـدن لـه ځينـه
فکـــــر ســـــودا پـــــه مـــــا زيـــــاتېږي
ګمـان مـې کيـږي د بربـر لېونـې شـومه

لېــــونى ســــرۀ لاســــونه راغلــــه
بيــا ئــې د چــا پــه لړمانــۀ منــډلي دينــه
کــــۀ لېــــونے درپســــې نــــۀ شــــوم
دغــه ســودا بــه مــې تــر عمــره عمــره وينــه
لېـــــونى لاړه کلـــــے وران شـــــو
چــې بيــا راځــي شړشــم بــه وکــړي زيــړ ګلونــه
لېـــــونى اونـــــه د چنـــــار ده
کـۀ راکـاږۀ ئـې کـړۀ زمـونږ پـه کـور ښـاخونه
لېـــــونے نـــــۀ وم لېـــــونے شـــــوم
چــې لېونــو پســې ځــوک ځــي لېــونے شــينه
لېـــــونے مـــــۀ ولـــــى پـــــه کـــــاڼو
د ازار شـــــوۀ خلقـــــو مـــــاخلئ ازارونـــــه
خلـــــق مـــــې ټـــــول لېـــــونے بـــــولي
لېــونے نــۀ يــم خــو بېلتــون لېــونے کړمــه
د لېونـــــو ســـــره مـــــې کـــــور دے
د خــولې خبــره مــې کــوټې تــه خپژوينــه
لېـــــونے يـــــار د چـــــا هېرېـــــږي
کورونـه ئـې روان شـه چـې پـه مـا ئـې هېروينـه
لېـــــونى ولـــــې خفـــــه کېـــــږې
چــې تــۀ ځــۀ غــواړې هغــه ټــول درلــه راؤړمــه
مـــــا نـــــه دې ځټـــــه دانـــــې واخلـــــې
پـــــه لېـــــونى دې وړې نـــــۀ راټولوينـــــه

دا لالے دے، دا لېلى ده ـ لاچې ګل شوے نۀ وي ـ په خېز راغلے نۀ وي او د ځوانۍ پسرلي لا تزنولې نۀ وي ـ لاد شجر ممنوعـه د مېوې د خوراک ځکه ئې نۀ وي کړې ـ نۀ لا نه خو د چندڼ بوټي خپلې وړمۍ پرېښې وي او نۀ لا بيرې د مېوې نيوۀ ته ځان جوړ کړے وي ـ په داسې حال کښې د را روان سپرلي بلبل چې په چغار شي نو دا به وائي چې :-

ځانګـــه بـــه نــن صـــبا کښـــې ګـــل شـــي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ ليدلي دينه
زمـــــا نــــــه ځټــــــه غــــــنم واخلـــــه
پـه ځانګـه مـهٔ کـړه د غرمـې پـورې لوؤنـه
خلقـــه رادؤ کــړئ مـــا تـــرې خـــلاص کـــړئ
ځانګه د بور په شان سرهٔ شوه مات ئې کړمه
ځــــانګې پوښـــــتنې لـــــه مــــې راشـــــه
صـــبا بـــه بيـــا رالـــه راځـــې پـــه زړهٔ غمژنـــه
ځــــانګې پوښـــــتنې لـــــه مــــې راشـــــه
د وينـو سـرې جـامې بـه تاتـه پـاتې شـينه

بيا داسې وخت راشي چې ځانګه لېلى شي يا شاه لېلى شي . دوست ئې لالے شي ګل د لالا شي . لالے اشنا شي اشنا محبوب شي . محبوب عاشق شي . معشوقه دا شي . عاشق معشوق له مينه روا شي . دواړه په يو بل باندې مفتون فدا شي په داسې حال کښې مينه سودا شي . په روا مينه زړګے قرار شي . لېلى لېلى شي لالے اشنا شي داسې وخت راشي چې همکنار شي . کهٔ داسې نهٔ وي بيا نو دا وائي :

بيـــا بـــه مـــې دوســـت چاتـــه نـــهٔ وايـــم
اول مې يار بيا مې قاتل شي سر مې خورينه

ولې کله ورته خپله لېلى شاه لېلى هم ورياد ېږي . زړهٔ ئې کښې منې کيږي . خپله لېلى ورته مخې مخې ته کيږي . په هغې باندې خفه کيږي اود ځان سره داسې وئيېږي .

مانـــــه دې ځټــــه دانــــې واخلـــــې
پــــه شـــــاه لېلـــــى دې وړې نـــــهٔ راتولوينـــــه
د شــــــاه لېلـــــى کـــــور مـــــې ليـــــدلے
پاس په مونډي ئې کشمالې ګل شوي دينه
پـــــه مـــــازيګر کښـــــې مـــــنګے واخلـــــې
دا شـــاه لېلـــى د ګـــودر غـــاړې لـــه راځينـــه

د لالي نوم د لېلى د نوم سره ترلے پېرلے دے۔ دا ترون د ارواحو ترون دے۔ څۀ ننني نۀ دے۔ ډېر پخوانے دے۔ يا ازلي دے يا ابدي دے۔ دا په دنيا په کښې په يو ځائے شوي په يو بل ناز کړي يو بل ته ګوري۔ چې خوا په خوا وي لالے لېلى وي۔ په مينه ژوند کړي په مينه پائي۔ يو بل ته ګوري يو بل ته وائي :-

صبا د چيګو غرو بهير دے
لېلى په چيګو غرو کرلي دي ګلونه
د باغ په ګلو مينه نۀ کړي
لېلى د ګلو سره غنچه په مخ لرينه
د لېلى نوم مې وظيفه دے
چې لاالـه وايم لېلى خولې له راځينه
د مجنون چارې په ما وشوې
چې لاالـه وايم لېلى خولې له راځينه

د لېلى زړۀ هم په خپل لالي روغ وي۔ لالے ئې د سترګو تور وي او د زړۀ ټکور وي۔ زړۀ ته ئې قرار وي دے چې په کور وي۔ د يار په مينه عمر تېرېږي۔ ياري ياري شي چې يارانه شي۔ ژوند ئې شريک شي چې همخانه شي۔ يادا قيصې شي يا افسانه شي۔ مينه چې زور شي دا معشوقه شي۔ زړۀ د لالي کښې بيا ئې مېشته شي۔ چې لالے نۀ وي لېلى به وائي :-

اول د هېڅ چا پکار نۀ وې
چې ما لالے کړې خلقې درپسې ځينه
اندر پائي مې جوړولې
ما وې لالے به سپينې خولې ته خېژومه
روکے چې سور شي د خپل کور شي
لالے دې سور شي چې سوره ورپسې ځمه
ددې نه زياته سخته نشته
چې زۀ ولاړه لالے غواړي رخصتونه
زما په خپل لالے باور دے
کۀ د چړو په څوکو لار وي رابه شينه

زمـــا لالـــے ډېـــر بـــې وفـــا دے
مئـين پـه مـا دے نـاز د نـورو خلقـو وړينـه
ليکـــه ورځـــه پـــه مـــخ دې ښـــۀ شـــه
پـــه ممـــتحن دلالـــي وايـــه ســـلامونه
لالـــــــے د رنګـــــــه شـــــــهزاده دے
چـا دلـه ګـانو پـرې تـاركول مرلـي دينـه
لالـــے مـــې خپـــل وطـــن تـــه راغـــے
زمـا د زړۀ پـه صـحرا راغلـۀ بهارونـه
لاليـــه ســـتا پـــه انتظـــار کښـــې
کۀ سر مې سپين شي زۀ به تاته ناسته يمه
لاليـــه ســـتا ســـر کـــۀ تيتېـــږي
سر به مې غوځ شي خو ناموس به دې ساتمه

دوستي چې پخه شي دغه ياري شي هم يارانه شي - پت ئې شريک شي ننګ ئې شريک شي - نوم او ناموس هم د دواړو يو شي - دومره نزدې شي دومره خواږۀ شي - په يو بل پائي په يو بل مړۀ شي - دوه قالبونه روح پکښې يو شي - يو په يو پائي بل په بل پائي - دا يارانه شي دغه ياري شي لکه چې وائي :-

يـــــــاري د دوؤ زړونــــــــو ســـــــودا ده
کـــۀ زړۀ دې نـــۀ وي ډېـــر دې نـــۀ مجبورومـــه
نـــوې يـــاري د خـــدائے غضـــب دے
لکـــه د هـــاړد غارمـــه تلـــي تنـــدے ســـيزينه
يـــاري د شـــنو لښـــتو ګـــذار دے
څکـــه پـــه ډډو مـــې تغمـــې ولاړې دينـــه
يـــا بـــه مـــې دا يـــاري يـــاري شـــي
يـــا بـــه مـــې ســـر د غرغـــرې شـــمال وهينـــه
يـــا بـــه مـــې دا يـــاري يـــاري شـــي
يـــا بـــه مـــې ســـر د دار پـــه ســـر تـــالۍ وهينـــه

يارانـــــــه پتهـــــه باچـــــــائي ده
چـــې بختـــور وي هغـــه نـــۀ وائـــي حالونـــه
هـــــــره ناپســـــــنده بـــــه دې يوســـــــم
يـــو پـــه يـــارۍ کښـــې دې شـــريک نـــۀ قبلومـــه
وړوکـــــې مــــا پـــــه يـــــارۍ پـــــوئې کـــــړې
اوس دې پـــه ســـپينه کـــوکۍ بـــل وهـــې لاســـونه
مــــــــا يارانــــــــه کلــــــــه کولــــــــه
ســـــر تـــــورو ولاړ وې د ښــــــېرو وويرېدمــــــه
شـــــــان د يــــــــارۍ درســـــــــره نشـــــــته
د هنـــدو تلـــه ئـــې هـــر ځـــوک دې ګړبوينـــه
ســــــتا د يـــــــارۍ نـــــــه بـــــــه وانــــــۀ وړم
کـۀ لنګـه سـپۍ مـې سـر کوځـو کښـې تښـتوينه
ســــــتا د يــــــارۍ بــــــه توبــــــه نــــــۀ کــــــړم
کـۀ مـې کـارغـان پـه سـر کښـې جـالې جوړوينـه
ســــــتا يارانــــــه مــــــې خوښــــــه نــــــۀ ده
ســــتا يارانــــه پــــه خلقــــو کلــــے خبروينـــه
ســــــتا يارانــــــــه د اونـــــــې ســــــــېورے
کلـــه پـــه مـــا کلـــه پـــه نـــورو خلقـــو وينـــه
ســــــتا يارانـــــــه د شـــــــکو بنــــــد دے
ځـوک چـې د شـکو بنـد تـړې اوبـه ئـې وړينـه
د يــــــار د ســــــر لانـــــدې چـــــې نـــــۀ شـــــې
مړونــــده زۀ دې د چينجــــو خــــوراک ګنمــــه
تالــــــــه مــــــــې نــــــــۀ درکــــــــوي يــــــــاره
زړګـــے دې ولـــې خوړينـــوي د ځـــان دشـــمنه
تـــــول بـــــه د خپـــــل يـــــاره قربـــــان کـــــړم
دا تـورې سترګې شـينکې خـال سـرۀ سـرۀ لاسـونه

چــې دســـیالۍ پـــه تـــول پـــوره شـــې
بیــا بـــه دې یـــار ګـــټم اخـــر پښــتنه یمـــه
یـــار مـــې پـــه جنـــګ کښـــې تـــوره وکـــړه
ځکـــه همزولـــې راتـــه کوښـــې ســـموینه
یـــاره ګـــودر غـــاړې تـــه راشـــه
د تـــور ســـحره انتظـــار درتـــه کومـــه
رلـــــۍ د یـــــار د لـــــوري راغلـــــه
خلـق تـرې تښـتي زۀ ئـې مخـې لـه ورځمـه
پـه مـا بـه هـر ځنګـه وخـت تېـر شـي
سخ د هغـو دے چـې د یـار پـه خـوا کښـې وینـه
بـې یـاره خـوب مـې د دشـمن شـه
کټ مې سور اور دے اوس مې خوب ته نۀ پرېږدینه
بـــې وفـــا یـــاره رب دې واخلـــه
د ژوندانـۀ نـه دې پـه مـرګ خوشـحاله یمـه
یـــاري د دنګـــې جینـــۍ ښـــۀ ده
چـې زلزلـه شـي یـار پـه غېـږ کښـې تښـتوینه
یـــاري د دنګـــې جینـــۍ ښـــۀ ده
د پلـــو لانـــدې ســـرے غلـــے تېروینـــه
کاغـــذ لـــیکلے تـــرې نـــه واخلـــئ
د اوســـنئ زمـــانې یـــار دے ټـــګ بـــه وینـــه
بـــس دے پـــه دغـــه ځـــائے بـــه ئـــې پرېـــږدو
کـۀ څـوک د یـار د غمـه مـري ورسـره مرمـه

په یارانه کښې د رېبا منت کول ، لازئې ځارل ، د عاشق او معشوقې تر مېنځه د دواړو رابطه ساتل ، داسې دي ـ چې د رېبار نه بغېر ئې امکان نۀ وي ـ سترګې غوږونه هر وخت د رېبار په لور وي ـ رېبار د مینې پېغام رسان وي د مینې استازے وي ـ په داسې حال کښې د یارانې د سمند ملونې د رېبار په لاس وي ـ چې کوم پله ئې تاوهي هاغې طرف ته ئې تاوهلے شي ـ ځکه نو عاشق او معشوق

دواړه د رېبار محتاج وي ـ رېبار د دوئي پرده دار وي ـ د رېبار تولې خبرې ورله خوند ورکوي ـ د هغهٔ وېنا ته ئې غوږ وي ـ د رېبار دوستي ، په رېبار اعتماد او باور د مينې د کاميابۍ او د مئينانو د وصال ضمانت وي ـ وصال د عشق منزل وي ـ هاغه منزل چې عاشقان ئې په تلوسه وي ـ روح او تن دواړه د وصال پامته دار وي ـ دوئي په وصال کښې سکون مومي ـ ريبار دوه بې قراره زړونه د سکون او قرار تر منزله رسوي ـ دا د رېبار وظيفه ده دا ئې منصب دے ځکه رېبار د عشق د لارې په هر مسافر ډېر ګران وي ـ

ما د ورکوتي رېبار ځار کړې
د يار خبرې په سلګو رته کوينه
ما د واړهٔ رېباره ځار کړې
د يار خبرې په بار بار راته کوينه
اخر به ما په لالا مړه کړې
چې دې رېبار د ورځې دوه ځله راځينه
په رېبارانو پوره نهٔ شوه
اوس په جولۍ په خپله يار ته غوړومه

د ديدن لېواله زړهٔ هره ګړۍ د يار د ديدن په ارمان تيروي ـ کله د رېبار د خولې نه څهٔ داسې خبرې واوري چې دا امېد ئې پيدا شي چې د ديدن ارمان به ئې اورژېږي ـ ددې نه انتظار جوړ شي ـ هاغه انتظار کوم چې د قتل نه هم زيات سخت او اشد ګڼلے کيږي ـ د يار د ديدن انتظار کوم چې د رېبار د راؤړي پېغام د مخه په ناخواله او نامراده زړهٔ کښې د ديدن د امېد سبب شوے وي ـ د وصال ارمانونه ئې رالړزولي او راتازه کړي وي ـ هم دا هغه وي چې د يار يادونه د دلدار يادونه په زړهٔ او په دماغو راخوروي ـ او د ديدن لېواله مئين لکه چې د خود کلامۍ په انداز کښې د خپل ځان سره په دې وېنا مشغولېږي چې :-

يار چيټاکۍ ديدن رانهٔ کړو
زهٔ لېونۍ ورته خمبې جارو کومه
يار مې په سرو لاسو مئين دے
زهٔ به نکريزې په خپل کور کښې شنې کومه

يـار مـې پـه زيـن کښې راتـه کـوږ شـو
د پښـو خـوکې لګـوم خولـه ورکومـه
يـار بـه مـې سـر راپورتـه نـهٔ کـړي
کـهٔ پـه خـازه پـورې ولاړه اوچـه شـمه
يـار خـو مـې لـوړ زهٔ ټيټکـې يـم
د پښـو خـوکې لګـوم خولـه ورکومـه
يـاره د سـر سـالو مـې زوړ شـو
اوس مـې تـرې اوځـي د ګرګـوټي سـر سـرونه
يـار مـې د ملکـه مسـافر دے
زهٔ پـه کچکـول پتـري وهـم وريسـې ځمـه
يـار مـې د مـرګ دريـاب لاهـو کـړو
زهٔ د کفـن کشـتۍ ګنـډم وريسـې ځمـه
يـاره سـختي راسـره مـهٔ کـړه
ورور مې مېجر دے ګورے قېد بـه شي مئينه
يـار مـې د غېـر پـه غېـږ کښـې وليـد
لکـه کتـاب چـې د ماشـوم پـه لاس کښې وينـه
يـار خـو مـې سـپيني جـامې وکـړې
بېګـا پـه لارې پـه مـلا غلطـه شـومه
يـار مـې تـوپچي تېـک پـه لاس کښـې
زهٔ ئـې رسـا د زړهٔ پـه سـر ويشـتلې يمـه
يـار بـې وفـا مـې پـه خـوا تېـر شـو
بـاور مـې نـهٔ شـي چـې راتلـو پـه ژړا وونـه
يـاره زمـا پـه سـترګو ګرځـه
پـه زمکـه مـهٔ بږده نـازولي قدمونـه
يـاره نېسـتۍ تـه خفـه نـهٔ شـې
نېسـتي د خـړو اوبـو ډنـډ دے اوچ بـه شـينه

يـــار د مېونـــد غـــزا لـــه تلـــې
د فېرنګـــي خونــه بـــه درېږ ورېږ کړينـــه
يـــار مـــې ټګـــي راســـره وکـــړه
څـادر لـــه ســـتېه تـاوهم د ملکـــه ځمـــه
وړوکـــې يـــار د چـــا مـــړ مـــۀ شـــه
وړوکـــې يـــار د زړګـــي مرانـــدې پرېکوينـــه
وفـــادار يـــار پـــه دکـــن ښـــۀ دے
بې وفـا يـار کۀ ګاونډي شي څۀ بـه ئې کړمـه
ناترســـه يـــار چـــې حکمـــران شـــي
صـــبر وکيـــل شـــي لګـــوي پـــرې تهمتونـــه
نـــن مـــې د يـــار د راتلـــو ورځ ده
پـــه ســـينه ځـــم پـــه بڼـــو لار جـــارو کومـــه
نـــن مـــې د يـــار د راتلـــو ورځ ده
وړې وړې جينکـــۍ زېـــري لـــه راځينـــه
مـــا وې زمـــا د مينـــې يـــار ئـــې
د لارې مـــار ئـــې پـــه اعتبـــار دې وخوړمـــه
مـــا وې يـــوازې زمـــا يـــار ئـــې
د کلـــي لار ئـــې خلقـــې دربانـــدې ځينـــه
نـــن شـــهزادګان مخـــې لـــه راغلـــل
بدرنګـــه يـــاره پـــه شـــپالۀ دې ورمنډمـــه
د يـــار مـــې ټکـــي ټکـــي مـــخ دے
چـــې لـــږه لويـــه شـــم غمـــي بـــه پکښـــې ږدمـــه
منـــت پـــرې مـــۀ کـــړه زمـــا يـــاره
درځنـــې غـــوارې پـــه قچـــرو دولتونـــه
د يـــار پـــه پښـــو کښـــې مـــې حـــلال کـــړئ
چـــې زر زري لمـــن ئـــې ســـره پـــه وينـــو شـــينه

د یـــــار مـــــې څـــــۀ خــــوږې قیصـــــې دي
چـــــې د دلال د لارې مــــل مــــې وي مئینــــه
د یـــــار مــــې نـــــوې ږیـــــره راغلــــه
لکــــه جــــوهر چــــې پــــه فــــولاد ختلــــي وینــــه
د یـــــار مــــې نـــــوې ږیـــــره راغلــــه
زمـــا میراتــــه ســـینه نـــۀ ســـپږې ګلونـــه
د یـــــار مــــې نـــــوې ږیـــــره راغلــــه
دا نــــري بریــــت بــــه ئـــې پــــه ژبــــه ســــومه
د یـــــار د حــــــده جــــــوابي شـــــوم
ځکــــه مــــې کــــډه پــــه زیــــړي مــــازیګر ځینــــه
یـــــار مــــې د ســــکول د کهیـــــل عـــــادي دے
لکــــه فــــتې بــــال پــــه زړۀ کښــــې لتــــې راکوینــــه
د مینــــــې یـــــــار مــــــې غـــــــریبے دے
کــــۀ زۀ جــــولۍ وراچــــوم قطــــر تــــه ځینــــه

څۀ ښۀ وائي چې :-

عشـــق عـاشـــق لـــره یـــو هســـې ګلســـتان دے
چـــې دې بـــاغ وتـــه ئـــې لار د خـــزان نشـــته

د عشق داستان نۀ خو د ختمېدو دے نۀ به دا چرې ختم شي ۔ دا یو روان عمل دے ۔ د معاشرې د تعمیر ټولې لارې او ټول منزلونه د عشق لارې او منزلونه دي ۔ عشق انسان لـه د پرواز ووزرې ورکـوي ۔ عشق د ژوند آرزو او د ژوند تمنا ده ۔ عشق د فروغِ ذات او فروغِ نسل ذریعه ده ۔ دنیا د عشق لـه مخه اباده ده ۔ علم د عشق پېداوار دے ۔ عمل د عشق لاره ده ۔ عشق انسان تـه د انسانیت منزلونه پـه ګوته کړي ۔ په عاشق او معشوق چې کله عشق راخرګند شو نو ژوند پـه حرکت کښې راغے ۔ انسان په انسان کښې د خپلې معشوقې وجود ومونډو ۔ د دوئې ترون کور شو او کور د معاشرتي ژوند د وړومبۍ پوړۍ نوم شو ۔ معشوقه ددې حرم مېرمن شوه ۔ معشوقه به د یارپه پت کښې ژړېدله ۔ تشه دا قدرې وېنا بـه ئې کوله ۔

کــهٔ د لـــرې تـــور د کنـــه جانـــان راغـــے
لوېتهـــه بـــه مـــې خېـــرات کړمـــه دا خپلـــه

د ژوندانهٔ د لارې مسافر عاشق د خپلې معشوقې د مينې خوګر شو په دې چې په دې ئې باور شو چې :-

د معشـــــوقې مـــــې دا عـــــادت د ے
بانـــه لـــوګے کـــړي ژړا مـــا پســـې کوينـــه

په داسې حال کښې دا د عاشق باغ شو ـ دا ئې ګلستان شو ـ يو داسې ګلستان چې د مينې د سپرلو سره همراز شو ـ د عشق په دې ګلستان د خزان لارې بندې شوې ـ عشق د ژوند عندليب شو او عندليب په ګل مئين شو ګل ګلستان شو د عشق کاروان د ژوند کاروان شو ـ په مخه روان شو او هر عاشق د خپل دې روان کاروان حدي خوان شو او د معشوقې د مينې او چې د ژوند ترجمان شو نو په دې وېنا سر شو چې :-

پـــــه عاشـــــقانو زېـــــرے وشـــــو
د حســـن شـــمعې پتنګـــان درلـــه راځينـــه
عاشـــــق کـــــم عقـــــل د ے چـــــې ژاړي
د حســـن شـــمعې عاشـــقان درپســـې مرينـــه
پـــــه عاشـــــقانو زېـــــرے وشـــــو
وصـــال باچـــا شـــو بېلتـــون قېـــد د عمـــر شـــونه
عالمـــــه عشـــــق کښـــــې ګنـــــاه نشـــــته
مـــا تـــه مُـــلا پـــه ممبـــر پـــاس وئيلـــي دينـــه
عشـــــق زمـــــرے نصـــــيحت لښـــــته
دا شـــنهٔ زمـــري پـــه لښـــتو چـــا ســـم کـــړي دينـــه
عاشـــــقي لال بېلتـــــون ښـــــامار د ے
څوک چې د لال سودا کوي ښامار به ئې خورينه
عشـــــق ثـــــواب د ے کـــــهٔ عـــــذاب د ے
مولیـــانو وګـــورئ د شـــرعې کتابونـــه

عشـــــق اول ســــــړے باچــــــا کــــــړي
د بې شرمۍ تاج ورلـه وروستو پـه سر ږدینـه
عاشـــــــقي نیمـــــــــه باچـــــــائي ده
چې څوک پوهیږي پـه انصـاف ئې چلوینـه
عاشـــــق کـــــم عقـــــل دے چـــــې ژاړي
اوبـهٔ پـه کـانړي بانـدې څـهٔ اثـر کوینـه
دا عاشــــــــقي د غـــــــم زانګـــــــو ده
پـه چـا زنګیـږي پـه چـا اوشـلوي لړونـه
د عاشــــــقانو ســـــــترګې ســـــــرې دي
تېزمــاره تــا پــه ژړا ځــان وشــرموؤنه
د عاشــــــــقۍ بــــــــازاره وران شــــــــې
جـوړ کـړے مـا وې سـودا نـور درکښې کوینـه
عاشــــــــقي پټــــــــه باچـــــــائي ده
څـوک چې هوښیار وي پـه هنرۍ چلوینـه
زمــــا د بـــــل کتــــاب زړهٔ تــــور شــــو
چې پوهنځي د عاشقۍ کښې داخل شومه
د عاشـــــــــــــــق اووهٔ ســـــــــــــوه وزرې
عـرش نـه تـر فرشـه جهانونـه کـچ کوینـه
عاشـــــــقي ښـــــــهٔ ده بـــــــده نـــــــهٔ ده
څلـور یـاران زمـونږ رسـول خـوښ کـړي وونـه

لنډه ئې دا چې :-

د عشـــــق یـــــو ســـــبق کـــــافي دے
نـــــور د کـــــل جهــــان دفتــــر هــــیڅ

عشق د وصال آرزو وي۔ وصال کامیابي ده۔ وصال برے دے۔ وصال فتحمندي ده۔ وصال ګټه ده۔ د چا چې دا نصیب شي هغه کامیاب دے هغه کامران دے۔ هغهٔ خپل منزل بیا موندو۔ هغه واصل شو۔ د معشوقې تر خوا شو۔ د محبوب منظور نظر شو۔ په جانان ګران شو۔ د شمعې پروانه شو۔ د ګل بلبل شو۔ د ګل

مدح خوان شو ـ په ځان جانان شو ـ د وصال دې خوشحالۍ او دې خوندونو انسان انسان کړو ـ د ژوند کاروان ئې په مخه روان کړو ـ وصال چې ګران شو ځکه ارمان شو ـ

ستا د وصال په طمع ناست يم
زما روژه به تر قيامته پورې وينه

د ژوندانهٔ روزګار تش د خوشحالو نه دے ـ دا داسې عمل دے چې هم طلب دے هم آرزو ده او هم ځيګر خون دے ـ چې د شريکې ژوند وي نو هم پکښې روغه وي هم پکښې ناروغي وي ـ هم پکښې پخلا کېدهٔ وي او هم پکښې مرورتيا وي ماڼي وي ـ څوک په لړه پخلا کيږي څوک په لړه مروريږي ـ مرور کېدل د مخ اړولو يو انداز دے ـ دا د پخلا کولو متقاضي وي ـ کله معشوقه مروريږي او کله جانان ـ دوئي کهٔ په ظاهره داسې شي ولې زړونه ئې يو وي ـ د يو بل پخلا کول ورله پکار وي ـ ترڅوچې يو دبل نه مرور وي ـ نوزړهٔ به ئې په دې وېناسر وي چې:-

جانان په ټوقو نهٔ پوهيږي
ما په خورو زلفو وهو مرور شونه
اشنا زما سره پخلا وو
بېلتون ظالم رانه پخلا مرور کهٔ نه

د مينې او دوستۍ په ګلستان د خزان باد د غمازانو له خوا راځي ـ غماز هاغه مخالف قوت وي ـ چې دوه زړونه يو کېدو له نهٔ ورکوي ـ د ژوند په هر هر قدم خنډ کيږي غماز ازغے وي ـ د ګل نه تاؤ وي ـ ازغي کله د مخې شي کله د لارې کله د سترګو او کله د زړهٔ په سر کښې ور ښخ شي ـ ـ ددې ډېر قسمونه دي ـ څهٔ ليدے کيږي ولې ډېر داسې هم دي چې په نظر نهٔ راځي ـ دا څهٔ په چمن کښې وي، څهٔ په لاره کښې وي او څهٔ په کور دننه وي ـ د کور ازغے ښے بنزے وي ـ د لارې ازغي خپل يا پردي وي ـ خپل عزيزان وي يا تربوران وي ـ پردي غليمان وي هم دشمنان وي داسې يادېږي :-

خلقه په تيرو د ويشتو يم
چې مې غماز ته د زړهٔ حال ښکاره کوؤنه

د سحر باده غماز ګره
زۀ مې د يار په خولو لوند ووم اوچ دې کړمه
عقل مې کم فکر مې خم شو
غماز پرې ګرم شو خپل نصيب مې ژړوينه
خدائے دې د بامه را ايله که
ظالم غمازه چې مازغۀ دې سپي خټي نه
د خپله قوله به وانۀ وړم
کۀ غمازان مې سر د تورو سره وړينه
غمازه خدائے دې ځواني مرګ کړه
چې د مئينو بدي کړي ازار به وړينه
غماز په بار کښې کوړ لړګے دے
کۀ غماز نۀ وے زۀ به څۀ له ژړېدمه
غماز دې خپله غمازي کړي
زما جانان په لوظ ټينګ دے رابه شينه
غماز دې کور ته خاورې يوسي
زۀ مې د ګلو غنچه لاس کښې ګرځومه

د شريکې د ژوند د معاشرتي استوګنې خلق په دوه قسمه وي ـ خپل او پردي ـ خپل په يو بل زهيرېږي خفه کيږي ، په ښۀ بد ه او په غم ښادۍ کښې شريکيږي ـ د يو بل په کار راځي په خفګان ئې خفه کيږي په خوشحالۍ ئې خوشحالېږي ـ د يو بل سره د خپلوۍ سلوک کوي ـ چې داسې نۀ وي خپل هم پردي شي ـ نۀ د پردو نه د چا څۀ طمعه وي نۀ ورنه څۀ ګيله کيږي ـ پردي کۀ د چا سره د پردو سلوک اوکړي نو بد پرې نۀ ښکاري ـ داسې کيږي داسې کولے شي دا دستور دے ـ پردي د چا څۀ پروا نۀ لري ـ ځکه خو وائي چې :-

پردے راوړے نۀ خپلېږي
کۀ ئې همېش دپاره وکړې خدمتونه

د مخالفت سر چې د هر څۀ نه ونښلي چې دا زياتېږي دشمني ترې سازېږي ـ دشمني د کور هم وي ـ د صحرا هم وي ـ دا د مفادو د مخه راولاړېږي ـ د خود

غرضو نه پیدا کیږي ، دا د بدنیتو نتیجه وي ـ هر هغه څۀ چې د زړۀ خبرے سپوا کوي دشمنۍ ته لار سموي ـ دشمني د شېطان لمسه ده ـ د شېطان په لمسه کارونه ورانېږي له ورانو کارونو نه دشمني جوړېږي ـ دشمن دشمن دے داکۀ ښکاره دے کۀ د باطن دے ـ دشمني اور دے اور چې لګېږي هر څۀ سوزیږي ـ دشمن غلیم دے غلیم شېطان دے۔

نـۀ مـې زړګـے درتـه دعـا کـړي
نـۀ د دشـمن پـه شـان ښـېرې درتـه کومـه
کـۀ د دشـمن سـر دې قلـم کـړو
اتـې اتـې زلفـې بـه تاتـه خورومـه
دشـمن بـه خـوا رایخـه نـۀ کـړي
کـۀ زۀ شـاخېله شـم چجونـه خرڅومـه
ټوپـک دې واخلـه تـوره راکـه
چـې دې د خـوا نـه دشـمنان لـرې کومـه
پـه ډمامـه منګـولې کېـږده
چـې د دشـمن زړګـے دې دړې وړې شـینه
دورونـه پـاس پـه بلـې کیـږدئ
چـې انګـازې ئـې د دشـمن کـره ورځینـه

د کور دشمني د بنو بنزو نه ولاړېږي ـ هسې خو نۀ وائي چې یو لرګے اور نۀ کوي دوه بنې کور نۀ کوي ـ د ښځې ژوند د کور دشمنۍ په دار کوي ـ وائي سړے لمبېدلے اس دے۔دا دشمني عموماً د سړي سر له نـۀ وي ـ ولې د سړي د مخه وي ـ نو کۀ څوک وائي چې بنې بنزي د سترګو ازغي د کور په دشمنۍ د سړي کار نۀ وي دے تش تماشګیر وي کۀ په دار وي نو ښځۀ په دار وي ـ په داسې سړي پورې به هم داسې وئیلې شي۔

ړانـده یـوه ښـځه دې وکـړه
په دې دوبمه دې کور جوړ کړو غوئمنډونه
بهـر تـه راشـه کـۀ بـادر ئـې
د ښځو مینځ کښې غورزوې دواړه لاسونه

بیا کله داسې هم کیږي چې ښځه پاتې شي او سړے رخصت شي - ولې د ژوند پایه په مخه تاویږي - ښځه هم ددې ملګرې وي ولې په داسې حال کښې ورته کونډه وائي - معاشره ئې بیا د ژوند د عملي حرکت ملګرې نۀګڼي - دا لکه یوه زیاتي ګړي پرزه وي - نۀ د چا پکار وي او نۀ ئې څوک پکاروي - هغې ته خپل ځان هم معلوم وي - چې په خپل حال ژاړي نو خود به وائي چې :-

څوانـــانو مـــرګ لـــه غــاړې ورکـــړې
پېغلـې رنـدې کـړئ چـې کوتـتـون نـۀ قبلوینـه
پـه مـړو مـوړ شـوې کـۀ مـوړ نـۀ شـوې
ډېـرې دې کونـډې کـړې ښـېرې درتـه کوینـه
جانـان مـې مـرګ پـه ځـان قبـول کـړو
زۀ دې رنـده شـم چـې کوتتـون نـۀ قبلومـه
خلـــق بابـــا لـــه پراتـــې وړي
زۀ د جـوارو پـولۍ وړم چـې کونـډه یمـه
خـال مـې د کونـډې پـه مـخ ولیـد
پېغلـې لـه ښـائي چـې څلـور کېږدي خالونـه

# جامه پېزار

په انساني تمدن کښې د شرم و حیا معاشرتي حاجت د هاغې وخت نه راپه د ېخوا را روان پاتې شوے دے۔د کله نه چې انسان دې دنیا ته راغلے دے او په غارونو او ځنګلونو کښې مېشته شوے دے ۔د خوراک پېدا کولو نه پس ئې د ژوند ورمېږے ضرورت د ځان و تن د حفاظت او د خپلو شرمګاهونو د پټولو او پردې محسوس کړے دے۔هسې خو ژوند په هر رنګ تېرېدے شو۔په دې چې په سېوري او نمر ، د نمر او ګرمۍ مخه نیوے کېدے شوه په غار دننه او پاس په اونه وخت هم تېرېدے شو۔کۀ څۀ حاجت ؤ نو د حیا ، حرمت ؤ ، ځکه ئې په اول سر کښې د اونې پاڼې د تن حجاب کړې۔ځان ئې پرې پټ کړو۔حیا ئې وکړه۔ حجاب ئې راوست۔ددې نه جوړه شرم و حیا شوه۔دغه شان رو رو انساني نوغے متمدن شو۔جامه پېزار ، ډول سینګار شو۔قمیص پرتوګ شو سالو دستار شو۔ وجود صفا شو صفائي راغله۔داسې د هر چا ژبست و روزګار شو۔چرته جولا شو چرته چمیار شو ۔کالي پترې له زرګر په کار شو ۔ائین منګز شوه ، نکریزې راغلې په زمانو پس صابون تیار شو۔رانجۀ رنګ نیل بیا کړې سترګې تورې په زنه باندې خال د دلدار شو۔حسن ښکاره شو ښائست څرګند شو۔زیبائش راغے جوړ ترې نګار شو۔دا تمدن شو معاشرت شو۔وو کۀ څوک پوهه کۀ نابلد وو۔ ولې د هر چا دا ضرورت شو۔

دا چې وائي چې بنده یو نُور او جامه ئې دوه نُوره هم دا تهذیب دے دا تمدن دے ۔داسې وائي چې کله چې مسلمانانو مصر فتح کړو او حضرت عمرؓ خلیفه دوېم ئې عمر بن العاصؓ ګورنر کړو ۔نو هغۀ یوه ورځ د اسلام خلیفه ته دا عرضداشت واستوؤ۔چې دا ملک یو متمدن ملک دے۔په دې سیمه د جامه زېب انسان خبرې ته د خلقو غوږ وي ۔د هغۀ خبره اورېدے شي ۔او عمل ورباندې کیږي۔نو هر کله چې ددې سیمې د عامل ذمه زما په غاړه کړے شوې

ده نو ماته دې دا اجازت راکړے شي چې زما لباس دې هم ددې خلقو د خوښې وي ـ د هغهٔ دا عرضداشت خلیفه منظور کړو او هغهٔ ته د فاخره لباس د زیب تن کولو اجازت ورکړے شو ـ هم داسې یوه واقعه د خراسان په سیمه هم پېښه شوې وه ـ کله چې د ګلستان او د بوستان د چمن زار لوئے سخنور او د سلوک او صدق و صفاد ترجمان حضرت شېخ سعدي دغلته په راتلو ددغه سیمې بادشاهِ وقت خبر شو نو شېخ ته ئې د مېلمستیا دعوت ورکړو. شېخ په مقرر شوي وخت دربار ته د حاضریدو په نیت لاړ شو ولې د محل چوبدارانو دننه د ورتلو نه منع کړو ـ شېخ بېرته خپل ارام ګاه ته راستون شو ـ د څهٔ وخت د انتظار نه پس بادشاه د شېخ د نهٔ راتلو په حقله تپوس وکړو ـ بادشاه بیا ورپسې جواب واستوؤ ـ دا ځلې شېخ په مقرر وخت په حرم کښې داخل شو ـ کله چې دسترخوان خور کړے شو او د طعام د خوړلو وخت شو نو شېخ هم په دسترخوان کښېناست ـ ولې په داسې حال کښې چې خپل لستوڼے ئې په شوروا کښې لمدوؤ ـ د شېخ په دې حرکت د بادشاه نظر ؤ تپوس ئې ترې وکړو چې یا شېخ دا څهٔ مصلحت دے چې په خپله خوراک نهٔ کوې او لستوڼے په شورا کښې ږدوې ـ شېخ ورته په جواب کښې ووې چې د بادشاه مېلمه لګیا دے خوراک کوي کنه ـ بادشاه حېران شو وئیل ئې دا څنګه ـ شېخ ورته ووئیل چې تېر ځل هم زهٔ د دربار تر دهلیزه رارسېدلے وم ولې حاجبانو راته د دننه راتلو اجازت نهٔ وو راکړے په دې چې زهٔ د مسافرۍ په جامه کښې وم ـ اوس چې ما جامه بدله کړه نو راپرېښوے شوم او دلته را ورسېدم ـ ځکه دا وخت مېلمستیا زما حق نهٔ دے دا زما د لباس حق دے ـ او دغه حق ئې ادا کوم ـ

په پښتنه معاشره کښې د جامې دروندوالے په خصوصیت سره ستائیلے کیږي ـ وائي سړے په جامه درنېږي ـ څوک چې د عزت برکت خاوند وي ورته د نامې جامې خاوند وائي ـ خپله معشوقه هم چې کله ځان پلو مائله کوي نو ورته وائي چې :-

کهٔ مې زګه شړۍ په سر ده
جانانه تا به په بخملو کښې ساتمه

دا عام دستور دے دا روايات دي دا د پښتنو د معاشرتي ژوند يو سپيڅلے اړخ دے ـ پښتون په درنه جامه کوږ دستار او څادر دروند ښکاري دا ددهٔ درناورے دے ـ جامه زيب انسان په هر چا ښهٔ لګي ـ ځکه نو لباس چې پاک وي صفا وي نو کهٔ ريمن وي او ساده وي بيا هم د کړلونه وي ـ د دستار شمله د دستار د خاوند سره خوند کوي ـ هسې خو دستار د ډېرو په سر وي ولې چې دستار ئې په سر زيب کوي داسې خلق په معاشره کښې خال خال موندے کيږي ـ دا خوشحال بابا چې وائي :-

چې دستار تړي هزار دي    د دستار سړي په شمار دي

نو ددې روايت تعلق تش د هغهٔ د زمانې سره نهٔ ؤ ـ دا حقيقت نن هم موجود دے ـ ځکه خو کهٔ څوک ددې ارماني وي چې اووائي چې :-

وار د رامداد د پګړۍ تېر شو
نور ممندان دې پګړۍ نهٔ پسروينه

نو په ځائے وائي ـ په لنګۍ او پټکي فخر هغه څوک کولے شي چې په قدر و قيمت ئې خبردار وي ـ داسې کس د قام اولس درناوے وي ـ د هرې ښې بدې ذمه دار ئې وي ـ د قام غم ئې په سر وي ـ دستار د قام د خېر ښېګړې او سود پېرزوئنې نشان دے ـ څوک چې دا حق ترسره کوي نو کهٔ دستار يا د لُنګۍ شمله چګه ګرځوي نو حق ئې لري ـ دا د اهليت دخاوندانو سره زيب کوي ـ بيا نو کهٔ څوک دا وائي چې:-

پګړۍ دې ول په ول مزه کا
لکه چې زلفې ول په ول مزه کوينه
پګړۍ کږه تړه جانانه
يو خوښه ايشي بل ئې پېغلې خوښوينه
پټکے په مېنځ د وروځو کېږده
زهٔ د همزولو په ټولي کښې ناسته يمه
تر دا کږې پګړۍ دې زار شم
ترلې تا ده کږه زهٔ د خيالـه ځمه
تا چې پټکي ته پيچې ورکړې
زهٔ به ټيکري ته زر زري ور واچومه

زمــــا هغــــه غښتــــتلے يــــار دے
چې پـه پګـړۍ کښـې کشـمالي ګلونـه ږدينـه
مــــــولا دې دا کبـــــــر زوال کــــــه
پګــړۍ يـــوه شــملې دې دوه پرېښـې دينــه
پګــــــړۍ دې ول پــــــه ول مــــــزه
کــۀ د يـــار زلفـــې ول پـــه ول مـــزه کوينـــه
پګـــړۍ پـــه مېـــنځ د وروځـــو کېـــږده
وطــن پــردے دے چــې ډاډه درســره ځمــه
خــــدائے دې د ورايــــه را روان کــــه
چــې ننــداره دې د خــورې شــملې کومــه
تــــۀ پــــه کوځــــه راښــــکاره مــــۀ شـــې
ســتا دا کــږه وږه پګــړۍ مــې بــدې شــينه
پــــــه شــــــملګۍ دې شــــــوم غلطـــــه
کــور تــه دې راغلــم مــور دې لنــګ وهلے وونــه
پــــه تـــور پېکـــي مــــې خــــاورې واؤړه
کـــږې شـــملې دې لېـــونۍ ســـپېلنۍ کړمـــه
کــــــۀ د خيبـــــر غرونـــــه اوچــــت دي
زمـــا د يـــــار شــــمله ســــنګرې نږوينـــه
خدايـــــه نــــرے نــــرے بــــاران کــــړې
چــې ســالو والــه د لنګــۍ محتاجــه شــينه

د شملې د خاوند سترګې د محبوبا په سالو وي ـ د هغې لوپټه ، پړونے ، ټيکرے ئې هر وختې په خيال کښې ګرځي ـ په زړۀ ئې راورېږي ـ چې فکر ئې واخلي او د خيال په دنيا کښې په سېل ګرځي نو د ځان سره لکه چې وائي چې :-

هاغه دې بيا د خيال دنيا کښې مې څو سرې لوپټې
د ســرو منګــو ســره روانــې شــوې ګــودر تــه لاړې

د سرو لوپټو او سور سالو رنګيني د پښتونخوا د معاشرتي ژوند زيبائش دے دا ئې ښکلا ده دا ئې حسن دے دا ئې ښائست دے دا ئې شان دے ـ په دې وياړي

په دې فخر کوي ددې صفت کوي دا ستائي هم او سر هم وربانديې ورکوي کله چې ددې په ستائينه سرشي نو به وائي چې :-

مـــا درتـــــه نـــــهٔ وے شـــــرمېدمه
د ســـور ســـالو ســره پېــزوان مــزه کوينــه
پــــه ســـــور ســـــالو پـــــه بـــــام ولاړه
امېـــل پـــه غـــاړه شـــوکوي د خلقـــو زړونـــه
پـــه کلـــي ســـور ســـالو راګـــډ شـــو
چـــا وې ســـالو دے چـــا وے اور ولګېدونـــه
د رنګينـــــــه ســــــالو مېرمنـــــــې
د خولې مې وينې غـورزوم رنځـور دې کړمـه
پـــه ګـــودر ســـور ســـالو ښـــکاره شـــو
چـا وې چې تـورو اوبـو اور واخېست مئينه
مـــا د جينـــۍ د ســـر ســـالو کـــړې
چې نـرے بـاد شي مـا سيني تـه جختوينه
خدايــــه نـــرے نـــرے بـــاران کـــړې
چې سـالو والـه د لنګـۍ محتاجـه شـينه
هـــيڅ پـــه وېنـــا ئـــې پوهـــه نـــهٔ شـــوم
د ســور ســالو لانـدې ئـې وچيچـل غاښـونه
د اونـــې ســـپورې لانـــدې پـــروت وم
لېلــۍ پــه مــا بانــدې ســالو وغوړاؤنــه
مـــا د لېلـــۍ د ســـر ســـالو کـــړې
چې نـرے بـاد ئـې رپـوي سـيني لـه ځينـه
د ســـور ســـالو زېـــرے بـــه ورکـــړم
کـهٔ چـا دې زېـرے د ديـدن راؤړو مئينـه
بـــاده ســـالو دې تـــرې نـــه يـــوړو
زړهٔ مـې خوشـحاله شـو دعـا درتـه کومـه

د یـــــــاراني مــــــې ورتــــــــه ووے
د سـور سـالو لاندې ئـې وچيچـل غاښـونه
د شـــــــمله دار ســــــــالو مېرمنـــــــې
قـدم دې رو کـړه سـوال جـواب درتـه کومـه
د غـــــرۀ د ســــره مــــې ســــهي کــــړې
دا سـور سـالو دې د بېلتـون شـمال وهینـه
د ســــــالوګي نـــــه دې قربـــــان شــــم
چې په سپين مخ ئې رېوې ستي دې کړمـه
د پېښـــور دســـــتور مــــې خــــوښ دے
جونـه ئـې واړه سـور سـالو پـه سـروینه
دومـــــره بــــه نېــــغ درېســـــې ګـــــورم
چـې څـو دې ويـنم دسـالو سـرۀ پلوۀنـه
ســالو مــې وو پــه ســر مــې نــۀ کــړو
اوس پـه ګـودر کښـې ارمـاني ولاړه يمـه
کــۀ خــدائے مــې ښــۀ ســاتي کــۀ بــده
راتــول بــه نــۀ کــړم د ســالو ســرۀ پلوۀنــه
مــــوري دا ســـــور ســـــالو مــــې راکـــــه
زۀ د شـــينکي بابـــا زيـــارت لـــره ورځمـــه
مــــــولادې لويــــــه ســــــزا درکـــــــړي
په سور سالو کښې پټه ځې رنځور دې کړمه
چـــې ســـور ســـالو ئـــې درېســـر کـــړو
ابـک دې مـړ شـه جينـۍ سـږ دې ودوینـه
اشــــنا ســــالو پــــه مــــخ راخــــور کــــړو
مالـه وربـمــې د تـورو زلفـو تـرې راځينـه

د سالو عمر چې په تېرېدو شي نو د لوپټې قدر پېدا شي ـ دا داسې وخت وي چې مينې په زړۀ کښې کور کړے وي ـ پېغله سالو واله د کور مېرمن شوې وي ـ خپل قدر دان قدرمنه کړې وي ـ سالو کوز شوے وي لوپټه ور په سر کړے شوي وي ـ

لوپټه د هر رنګ وي ـ سر وربانديِ پټ وي ـ د وجود ښائست پرې سېوا کيږي لوپټه د کور د مېرمن حيا وي ـ کله دا لکه د سالو په رنګ سره هم وي چې د چا ورته پام شي نو به وائي ـ

سـره لوپټه ئـې بيـا پـه سـر ده
لکه تـازه ګـل چې ګلاب سپړدلے وينه
پـه سـر مـې سـپينه لوپټه ده
خوابې مې مړه ده سخر مې بل وادهٔ کوينه
پـه سـر درنـه لوپټه نـهٔ وړم
درنې درنې خبرې ستا دپاره وړمه
ستا لوپټه مې دې کفن شي
چې تور لحد رابانديِ زيړ ګلونه شينه
پـه لوپټه مـې دې قسـم وي
ستا دا ښېستو بـه زهٔ تر عمره يادومه

د ناوې جينۍ په سر يا بنارسۍ اچولے شي يا ورنه سلارۍ تاوهلے شي ـ سلارۍ عموماً ريښمينه او زر ري ياد يږي .د ناوې ښائست وربانديِ سېوا کيږي ـ سلارۍ د ناوې توب نخښه ګڼلے کيږي چې پېغله ود يږي سلارۍ ترې تاو يږي په داسې موقع داسې وائي چې :-

نـرۍ نـرۍ بـه درنـه ځـار شـم
لکه چې تاوه سلارۍ له ناوې شي نه
کابـل کښې ځـهٔ غـواړې نادانـه
کابـل کښې نشته سلارۍ سرهٔ پلوؤنه

څهٔ رنګ چې سالو ، لوپټه د سر پټولو دپاره وي دغه شان ټيکرے هم پسرولے کيږي ـ ټيکرے د ميانه حال مېرمنو په سر وي ـ په دې کښې هم د کور کارونه کوي هم پکښې ګيا ، سابهٔ کوي ـ د ټيکرې دپاره د عمر قيد نشته ـ ولې ډول ډال وربانديِ نهٔ کيږي ـ ځکه ئې عوامي بولي ـ دا عوامي جامه ده کار روزګار پکښې کيږي ځکه چې شوک ئې ذکر کوي نو وائي چې :-

تـــهٔ چـــې صـــبا لـــه باغـــه راشـــې
د پرخـې ډک ټیکـرے پـه مـا ځنـډه مئینـه
زمـــا پـــه ســـر تـــوره ټیکریـــه
وربـه دې نـهٔ کـړم د زربفتـو پـه شـالونه
هــیڅ پــه وینــا ئــې پوهــه نــهٔ شــوم
د تـور ټیکـري لاندې ئـې اوچیچـل غاښـونه
د شـــــمله دار ټیکــــــري مېرمنـــــې
قـدم دې رو کـه سـوال جـواب درتـه کومـه

د خپل وس او استطاعت په مطابق د هر کور زنانه څهٔ د خاص قسم اغوستوني حاجت هم لري ـ د داسې وخت دپاره ئې په خپله بخخه کښې څهٔ شال څادر هم خوندي کړے وي ـ شال په بیه ګران په رنګ ښائسته او په هنر جوړ وي ـ دا یا ریښمین وي یا زر زري وي ـ کله خو دا په کور دننه اچولے شي او کله د بل چا کره د ښادۍ خوشحالۍ په موقع پکاریږي ـ د شالونو د استعمال روایت ډېر قدیمي دے ـ دا د شاهانو ، امیرانو ، سردارانو ، خانوادؤ او مالدارو کورنو څخه رواج شوے دے ـ د موسم سره ئې هم ژور تعلق دے ـ ځکه نو ریښمین او وړین شالونه ددې په مطابق کارولے شي ـ په پښتونخوا کښې کشمیري شالونه ډېر قدرولے کیږي ـ د ناموسي کورنو مېرمنې ئې ډېر خوښوي او یادوي ئې هم په خبرو اترو کښې هم او په ټپو سندرو کښې هم ـ لکه چې وائي :-

اباســـین غـــاړې راغـــے
پـه سـر ئـې راوړو کشـمیري د خیـال شـالونه
ولـــې بـــه زهٔ وریـــې نـــهٔ مـــرم
چې کشمیرےشال ئې په سر اوبو له ځینه

هسې خو عام شالونه هم صفتیلے کیږي ـ د شال مېرمن ورباندې مینه کوي ـ حفاظت ئې کوي ـ خوندي ئې ساتي ـ لمدیدو ، ګندہ کېدو له ئې نهٔ ورکوي ځاځکې باران پرې نهٔ پرېږدي ـ دا به وائي چې ,, شال مې لمدېږي درتلے نهٔ شمه باران دے ،، شال د قدر شے دے ځکه خو قرباني کولے هم په داسې موقع شي چې کله څوک څهٔ یادګاري کارنامه ترسره کړي یا د یو لوړ مقصد دپاره د خپل

سرقرباني ورکړي او د شهادت په مرتبه فائز شي .بیا نو هاغې مشروط عمل ته لاره سمه شي. چې په مصرعو او سندرو کښې یاد ېږي. لکه داسې :-

تــهٔ د وطــــن پــــه ننــــګ شـــــهید شــــه
زهٔ بــه خپـل شـال سـتا پـه زیـارت وغوړومـه

د شهید مرتبه د الله پاک په نزد هم ډېره عـالي او اوچتـه ده .او د معشـوقې پـه زړهٔ کښې هم بې شانه د قدر ده ځکه خو د خپل شال په قربانۍ ئې ارزي. دا د پښـتنو د معاشرتي ژوند د سپېځلو روایاتو حصه ده. د شهید د څلي خـاورې پـه شـالونو پټېږي. د شال یادونه په رنګ رنګ کیږي لکه چې وائي :-

د خــــــــونړي چنــــــــار د لانـــــــــدې
شـال ئـې ګانـه کـړو رانـې زئ سـرتوره ځینـه
د ملاکنــــــــــډ بــــــــازاره وران شــــــــې
تـا کښـې خرڅـېږي د رامـداد د کـور شـالونه
شــــــال د شـــــړۍ مناســــــب نــــــهٔ دے
جانـان زمـا مسـاوي نـهٔ دے مـړ دې شـینه
ولـــــې بـــــه زهٔ وریســــې نــــهٔ مـــــرم
چې کشمیرے شـال ئـې پـه سر اوبـو لـه ځینـه

د شهید په څلي د شـال غوړولـو دسـتور لکـه چې د خانـه کعبې د غـلاف نـه اخذ شوے وي .دا د شهید احترام او درنـاوے دے .ددې نـه بدعت هاغـه چـا جـوړ کړے دے څوک چې د صوفیاؤ ،اولیاؤ او بزرګانو د مزارونو متولیان شـول او دا ئې د نذر و نیاز او دنیاوي منفعت یوه بې کړاوه ذریعه شوه .په داسې مزارونـو شالونه غوړوي نور څوک او فائده ئې دوي ته خېژي .ددې نه یو غټ کاروبـار جوړ شوے دے .په هندو سند او پنجاب کښې ددې رواج ډېر عام دے .په کومـه سیمه چې کوم روایت جوړ شي هغه د هاغې سیمې د کلچر او ثقافت حصه شي هم په سندرو کښې اوریدے شي او هم ئې په ژړا کښې څوک هېرولے نهٔ شي. د شال عزت او حرمت هم یو سپېڅلے روایت دے. دا د پښتنو مېرمنو درنـاوے دے د عزت نخښه ئې ده. د احترام مېرمنې د شالونو مېرمنې وي. ولې شالونه په سړو راست نهٔ دي. دا د ښځو دي. څادر هم د ښځو وي هم د سړو وي. دواړه

ئې په سروي ـ دواړه ئې حاجتمند وي ـ د څادر استعمال په پښتنو کښې ډېر عام دے ـ ځيني خلق ورته پټکے هم وائي ـ په دې چې ځينې وخت دا د سره هم تاويږي کله د چا غاړې ته هم پرېوځي ـ د پټکي د څادر سره پخه رشته ده ـ د نارينه کار روزګار هم د پټکي وي هم د څادر وي ـ ښځه هم چې د خپل کوره اوځي نو څادر پسروي ـ دا د هغې پرده ده د هغې حيا ده دا ئې ستر دے ځکه څادر د پښتنو د سر جامه ده ـ دا د هر چا ده څادر د هر چا پکار دے ـ هر وختې د کار دے ـ دا پرده ده ، وائي څادر غر دے لمن کمر دے ـ ځکه ئې په صفت نۀ مړېږي ـ

غـــل د باچـــا ســـپي ورتـــه غـــاپي
بـــاران وربـــږي پـــرې لمـــد ېږي څادرونـــه
ســـپي د باچـــا غـــل ورتـــه غـــاپي
څـــادر وربـــږي پـــرې لمـــد ېږي بارانونـــه

په پښتو کښې د داسې لطائفو ظرائفو څۀ کمے نشته ـ ولې داسې ادبي خوند تهوتې لاچا راټولې کړې نۀ دي ـ ګنې دا هم د معاشرتي ژوند د روايـاتو يـوه خوندوره برخه ده ـ لکه چې داسې وئيلے شي چې په تېره زمانه به د باجوړ په سيمه د ښۀ نسل اسونه ساتلے کېدل ـ ددې تجارت به د ډيلي او دکن پورې کولے شو ـ د چکدرې د ظريف خان او مابي روماني داستان ددغې روايـاتو يو يادګار دے ـ دا خدرے ځلے چې د ادينزو په سيمه يادېږي دا د ظريف خان ترۀ ؤ او د داسې اسونو ددغې تاجر په کالبوت دا ځلي جوړ شوي دي ـ هغه خدري نومېدو ـ نو وئيلے شي چې په يوه زمانه د چيندا خوري نومې يو کلي ملک يوه د ښۀ نسل اسپه ساتلې وه ـ هغۀ باجوړ ته د خپل يو اشنا کره واستوله ـ په دې غرض چې د ښۀ نسل کُچے ئې پېدا شي ـ څۀ موده پس چې اسپه بلاربه شوه نو اشنا ئې د ملک د خبرولو دپاره خپل يو کاردار ورواستوؤ ـ د کار دار دا خيال ؤ چې څۀ نه څۀ بوده به په زېري وکړم ـ په خوشحالئ روان ؤ ـ خبره ئې د ځان سره جوړوله ـ د زېري خبر ؤ ـ په زړۀ کښې ئې وئيل ئې په حجره ورشم نو وړمبے به شل لک کړم بيا به ورته داسې اووايم چې ,, د چيندا خوري ملک خانه ، خانا کاکا اسپه دې بلاربه شوه ،، ـ نو ملک به زما په دې زېري خوشحاله هم شي او ډېر څۀ به هم راکړي ـ بس دا مسوده ئې په زړۀ کښې تياره کړه ـ ولې کله چې په حجره وردننه

شو نو چغه ئې کړه چې ,, شل لکه ، دې مبارک ، د ملاک خورې چيندا خانه اسپه کاکا خانه دې بلاربه شوه ،، ـ ملک په خبره اورسېدو مسکے شو او خپل مېلمه ئې عذر کړو ـ

خــادر پــه ســر کــړه تــرې را اوځــه
تـا د مـوزي پـه کـور کښـې څۀ ليـدلي دينـه
چــې پــه پلــو مــې پټــولې
اوس مـې پـه خرِ خـادر کښـې ونغـاړه مئينـه

څادر په هر موسم کښې پکارېږي ـ دا د هر موسم جامه ده ولې شړۍ تشه د ژمي جامه ده ـ دا وړينه وي ـ زګه وي ولې توده وي ـ وجود ګرم ساتي ـ هم پسرېږي ، هم اغوستے شي ـ هم په باد و باران کښې پکارولے شي ـ شړۍ د وړۍ نه جوړېږي ـ دا د نارينه ؤ جامه ده ـ نارينه ئې پسروي اغوندي ئې ـ په جړۍ باران کښې ئې ګونج کوي څان پرې د بارانه بچ کوي ـ او کله چې خپلې معشوقې ته مخاطب کيږي نو ورته وائي چې :-

کــۀ مــې زګــه شــړۍ پــه ســر ده
جانانـه تـا بـه پـه بخملـو کښـې سـاتمه
زمــا پــه غــاړه دې شــړۍ وي
دا سـتا قمـيص بـه د زربفتـو جوړومـه
تــۀ د بهــر نــه ســترے راغلــې
شړۍ درڅګه کړه چې ملا دې غوړه کړمه
شــال د شــړۍ برابــر نــۀ دے
جانـان زمـا مسـادي نۀ دے ورک دې شينه

د څادرونو ډېر قسمونه دي ـ سپين ، تور او رنګينه پړونې د ښځو ،سپين او خړ څادر د نارينه ؤ ـ ولې کوم څادر چې زنانه د بهر وتو مالې په سروي هغوي ورته عموماً چيل يا پړونے وائي ـ د چيل رواج په صوابۍ او چڇ هزاره عام دے ـ پړونے په سمه سوات او نورې پښتونخوا په هره سيمه رواج لري ـ

غــولے جــارو کټونــه ســم کــړئ
ســپيني پړونــې افريــدئ راغلــې دينــه

تــــور دې پــــړونے ســــره ئــــې غــــاړه
مــا پکښــې نغــاړه مســافر راغلــے یمــه

ستروندې پېغلې چې چرته په لاره روانې وي ـ نو د ستر حیا د مخه چې څوک پردے څوک مخې له ورشي ـ نو خپل پلو مخې ته ونیسي ـ دا عموماً د شادر پیسکے وي ـ د خپل شادر پیسکے مخ ته کړي او د لارې نه په ډډه شي چې نارینه تېر شي نو مخه ئې خپله شي ـ دا منظر د هېرولو نۀ وي ـ چې د چا ورته خیال وي هغه به وائي چې :-

دغــــه زمــــا د مــــرګ ســــبب دے
چــې مخــامخ شــمه پلــو مخــې تــه وړینــه
پلــــو مــــې مــــه اخلــــه جانانــــه
زۀ پښــتنه یــم بــې پــړدې بــه شــم مئینــه
د ګــــودر هــــر بــــوټے دارو دے
پــــرې لګېــــدلي دي د پېغلــــو پلوڼــــه

پلو په بله معنٰی هم استعمالېږي ـ دا د کلي یوې برخې ته هم وائي ـ ځکه نو په یوه نیمه موقع ئې ذکر هم کیږي لکه چې وائي چې :-

زمــــا تــــرې طمــــع د یــــارئ ده
د امرســو شــکرئ ئــې بــل پلــو لــه ځینــه

هاغه ټوکے چې کله ورباندې مخ وچولے شي ـ کله پرې پوزه پاکیږي او کله د لاس وینځلو په وخت پکارېږي ـ په رومال او دسمال یادېږي ـ دا د ښېوه ګرو د جامې حصه وي ـ په جېب کښې ئې ګرځوي ـ د ناوې په لاس کښې ورکیږي ـ په غم ښادئ کښې پکارېږي ـ تحفې تحائف پکښې ورکیږي ـ دسمال د قدر شے ګڼلے کیږي ـ په ښۀ یادېږي ـ د سود پېرزوئنې اظهار ورباندې کیږي ـ کۀ څوک دا وائي چې :-

د لاس دســــمال بــــه ورلــــه ورکــــړم
شېرین جانـان بـه مـې خپـل مـخ پـرې پاکوینـه
ســپین دې دســمال دے شــین دې خــال دے
دا دریـم کـال دے چـې مئـین درباندې یمـه

پــــه خولـــۀ زمــــا ســــره راضـــي ده
د امرسـو دسـمال ئـې کـوز کنـدي لـه ځينـه
زړۀ مـــې ســـورے وينـــې تـــرې ځـــاځي
يـار مـې راپاسـي پـه رومـال ئـې اوچوينـه

زمانه نوې شوه وختونه بدل شول ـ تعليم د سکول کالج شو ـ بيا چې کله د طب او ډاکټرۍ د سبق مخه هم جوړه شوه ـ نو جينکو هلکانو ته اورآلونه ور واچولے شول دا د نوې زمانې تقاضا وه ـ جينۍ هلک دواړه ورباندې رضا وو ـ دا عموماً د سپين ټوکي نه جوړيږي ـ د کار په وخت اچولے شي ـ اوس نو د زلمو او پښغلو په شونډو دا ستائينې هم عامې اوريدے شي ـ چې :-

پــــه اورآل بـــــه خطـــــا نـــــۀ شـــــم
د زړګــــي ســــره زۀ دې پونــــدې پيژنمــــه
اورآل ډيـــر شـــو خـــدائے دې ډيـــر کـــړي
جانانــــه تــــا بــــه پکښــــې ښنګــــه پيژنمــــه
پــــه اورآل کښــــې مـــــخ تــــه ارغلــــه
لکـه زنځيـر ئـې زنګيـدل د زلفـو ولونـه
د اورآل مېـــــــــــرمن تـــــــــــه وايـــــــــــه
پـه ستېسـکوپ مـې د زړګـي واخلـه حالونـه

د وجود د ستر پوشۍ اصل جامه قميص پرتوګ وي ـ دا د هر پښتون او پښتنې د وجود ستر پوش وي ـ زړوکے هم ورته وائي او نمري هم ـ زړوکي يوه عامه اصطلاح ده او نمري به په څۀ زمانه کښې ورته په داسې سيمو کښې وئيلے شول چرته چې به دا د ورځې اغوستن او پوشاک ؤ ـ ولې د شپې مالې سملاستو په وخت به وېستے کېدل ـ غالباً چې يو سبب خو به ئې ورکې سپړې او منګوڼ وو چې په هاغه زمانه به د کور په کوټو اوکټونو کښې ښۀ ډير وو ـ بيا چې پرتوګ قميص ته به ننوتل نو د ورځې به ئې هم څوک په ارام نۀ پرېښودل ـ د پرتوګ بډې به د سپړو پېمانه وې ـ خلق د وجود او جامې دواړو د صفايۍ داسې زيات عادي نۀ وو ـ تش په ځان د اوبو په تويولو صفائي نۀ شوه کېدے او نۀ د جامو په اوبو کښې په ړيولو دا پاکېدے شوې ـ ځکه نو په جامو کښې به خيري جمع کېدل ـ دا

به د سپړو خوراکه وه ـ خيرې سپرګې به عام وو ـ ځکه نو سپړې به هم ښځۀ خوشحاله وې ـ د سپړو څو قسمونه وو ـ اګی به ئې ريچې وې ـ ورپسې به کنې وې چې غتې به شوې ورته به ئې سپړې وئيلې ـ دا به په غټو هم پېژندے شوې ـ د سر په وېښتو او په رېړه کښې او د پرتوګ په بډه کښې به دا زياتې وې ـ د چا بدن چې به څومره خيرن وو سپړې به هم پکښې په هغې اندازه زياتې وې ـ سپړوړک به ورته وئيلے کېدو ـ تيراه والې سپړې محمد اکبر خادم په خپلو شعرونو کښې يادې کړې دي ـ هر کله چې د کورونو کوټې به هواداري نۀ وې او رڼا به هم دننه نۀ ورتله ځکه په داسې کوټو کښې به ورګې او بروړي هم ښځۀ ډېرې وې ـ کټونه به د منګوټو ډک وو ځکه نو د شپيه به په اغوستو جامو کښې څوک په ارام نه شو سملاستے نۀ به ئې پکښې خوب کولے شو ـ دغه سبب وو چې جامې به د ورځې رڼا ته اغوستے شوې هم له دې کبله به ئې ورته نمري وې ـ د ښځو قميصونه به عموماً رنګدار وو ـ د تور رنګ جامه زياته وه ـ اوس هم تور قميص خوښولے شي ـ د نارينه ؤ هغه به يا سپين وو يا به ئې ورله د کټو يا د ميزري د ايرې رنګ ورکړے ؤ ـ جامې به دوبيانو رنګ کولې د نيلو د رنګ استعمال زيات ؤ ـ جامې د سندرو او ټپو يوه په زړۀ پورې موضوع وه ـ وئيل به ئې :-

چې را په ياد شي حال مې نور شي
جامې مې اور شي اندامونه مې سيزينه
ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړو
لکه په وران کښې باغ د ګلو وينه
زۀ دې په تورو جامو نۀ يمه
کړه وړه په لارې تلې مئين دې کړمه
د جامو رنګ دې سپين ليدۀ شي
زما د وينو غوټه ورکه چې سرې شينه
جانان مې سپينې جامې وکړې
چې رابهر شوم په ملا غلطه شومه
جامې مې تن کښې سور انګار شي
خطا مې وار شي چې جدا له تانه يمه

جـامې مـې سـتا پـه وينـو رنـګ شـوې
پـه وينـو رنـګ جـامې بـه چرتـه ګرځومـه
جـامې مـې سـتا پـه وينـو رنـګ دي
په وينو رنګ جامې به کوم ځائے بدلومه
خدايـه د نيلـو قـدر کـم کـړې
شنئ نمري ډېر شول خپل اشنا نئ پېژنمه

قميص ، پيپنۍ يا ګګره د جامو ډېره اهمه برخه ده . د قميص رواج په معاشرتي ژوند کښې ډېر پخوانے دے . پښتانئ ښځې نر ټول په يو وخت کښې هم کله بې قميصه نئ ګرځي . دا د دوئي د وجود د ستر پردې او حيا ساتلو دپاره يو اهم ثقافتي ضرورت ګڼلے شي . د پښتنو په معاشره کښې ځوک په ډاګه د وجود نمائش رواداره نئ دي او نئ ځوک د لغړ بربنډ ژوند تېرولو عادي دي . ځکه نو قميص په هر حال کښې د دوئي د تن پټ ساتلو دپاره ورله پکار وي . قميص کئ هر څنګه وي چې وجود پرې پټ وي دوئي ته عزيز وي . په دوئي ګران وي . قميص لکه چې د هر چا ځان و تن وي ځکه نو کله چې ئې ذکر کوي نو په سپکه ئې نئ يادوي . ستائينه او صفت ئې کوي لکه چې وائي :-

پـه تـور قميـص دې شـه اور پـورې
زمـا د سـپينې سـينې رنـګ ئـې واړوؤنـه
مـورې لنـډ ے قميـص راجـوړ کـه
وطـن پـردے دے ترخـې خـولې رالګوينـه
قميـص مـې لنـډ اونيسـه مـورې
وطـن پـردے دے بـوټي خـولې رالګوينـه
قميـص دې تـې پـه سـر سـورے دے
لکـه غـاټول چـې لـه پـردې وتلـے وينـه
کـئ سـور قميـص دې رالـه راؤړو
دړې اوربشـې بـه دې درې کالـه کومـه
کـئ سـپنې للمـې خـدائے وکـړې
ماتـه لالـې د سـور قميـص وئيلـې دينـه

قمیص دې تور دے ګل پرې سور دے
د بنګړو شور دې کټ کوټې ته خېژوینه
قمیص ئې تور متې دې سپینې
لکه ښامار چې له چندڼ تاؤ شوے وینه
بیا به نرے قمیص ونۀ کړم
د شړق باران ؤ جانان ټوله ولیدمه
قمیص مې ښۀ تور کړه رنګریزه
زۀ د ریښمو چمچمار پرې جوړومه
صورت دې سپین قیمص دې شین دے
لکه نرګس چې شین ئې نار سپین ئې ګلونه
زما په غاړه دې شړې وي
دا ستا قمیص به د بخملو جوړومه
دا سور قمیص دې مبارک شه
تۀ رانزدې شه چې تنې دې اوترمه
د چا په دار قمیص مېرمنې
په لاره راشه چې چاپې دې وشمارمه
دا شین قمیص دې مبارک شه
خواله مې راشه چې مې زړۀ خوشحاله شینه
ترکړکې قمیص دې جار شم
چرمه کاري صدري دې اور رالګوینه
تر ګلاګل قمیص دې ځار شم
سپینه سینه دې د غرۀ واؤرې شرموینه
تر ګلاګل قیمص دې ځار شم
ستا د ګرېوانه د جنت هوا راځینه
تا چې قمیص خپل کمر چین کړو
ما د غماز په ستوني کېښودۀ لاسونه

کـــــۀ ســـــړنے وړے خـــــدائے وکـــــړو
ماتــه جانــان د ســور قــيمص وئيلــي ديــن

پرتوګ د قميص بل ملګرے دے - د پرتوګ نه بغير پوره جامه نۀ وي - قميص پرتوګ دوه داسې جوړه حاجتونه دي - چې په جوړه هم ياديږي - ددې حاجت هر څوک لري - ځکه خو په عامه اصطلاح کښې په دغه نوم يادېږي - جوړه ، جامې ، قميص ، پرتوګ ته وئي - چې يو پکښې کم وي جوړه نيمګړې وي - د وجود پرده پرې نۀ راځي - ثقافتي او تمدني تقاضې نۀ پوره کيږي - دا هله سرته رسي چې دواړه موجود وي - د خپل اهميت د مخه پرتوګ د هر چا د ژوند لازمي ضرورت دے - دا د وجود حيا ده ، پرده ئې ده قميص د تن ښائست دے درناوے ئې دے - د وجود د حيا او پردې دپاره هر څوک د پرتوګ محتاجه وي -

د قميص درې غټې برخې دي - ګريوان ، لمن ، لستوڼي ، کۀ په دې کښې يو هم کم وي نو قميص نيمګړے وي - درې واړه بېل بېل په خپل خپل حېثيت کښې يادولے کيږي هم او ستائيلے کيږي هم لکه چې د ګريوان ذکر کيږي نو به وائي -

خيـــــرې ګريـــــوان حيـــــران ولاړ يـــــم
د خپــل جانــان لارې څــارم چــې رابــه شــينه
خيـــــرې ګريـــــوان وريــــــې کـــــرځم
د مئينـــــانو برخـــــې خـــــوارې وي مئينـــــه
خيـــرې ګريـــوان د ګـــل پـــه شـــان يـــم
اوښـکې سـهار لکـه شـبنم مـې پـه مـخ ځينـه
خيـــــرې ګريـــــوان مـــــۀ ګرځـــــه يـــــاره
خلـق بـه وائـي چـې مئـين بـه چرتـه وينـه

همدغسې کله چې په لستوڼي راشي او ددې ذکر کوي نو به وائي چې :-

د پاســـــه ســـــرۀ لســـــتوڼي راغلـــــه
د بـــام پـــه ســـر ورتـــه پيريـــانو ونيومـــه
لاس پـــه لســـتوڼي کښـــې راتيـــر کـــه
چـــې د کابـــل پـــه خربـــوزو دې واړومـــه

خلقـــــه اخـــــره زمانـــــه شـــــوه
يـار لـه لسـتوڼي ورکـوي لاس تـرې سـاتينه
لاس پـــه لســتوڼي کښــې ښـــکاره کـــه
لکه ښـامار چې خولـه کښـې لال نيـولے وينـه
لاس دې پـــه ســـرۀ لســـتوڼي کېـــږده
تـا بـه د سـرۀ لسـتوڼي ډېـر ارمـان کوۀنـه

د قميص پلنې او لوئې برخې په لمن حسابېږي ـ لمن کله جولۍ شي کله پشـواز شـي ـ دا کلـه ګـوره وي کلـه ارتـه وي کلـه خـوره وي کلـه راټولـه وي ـ ددې ډېـر حېثيتونه دي ـ ټول په خپـل خپـل ځـائے اهم دي ـ دا پـه غـم او ښـادۍ دواړو کښې خپل کردار ادا کوي ـ په دې ماشوم پټولے شي ـ دا د امـان ورکولـو دپـاره پکـارولے شي ـ دا د سوال زارۍ او منت دپاره مخکښې کولے شي ـ لمن پرده هم ده ، حيا هم ده او درناوے هم دے ـ ځکه ئې هر چاته حاجت او ضرورت هـم وي ـ دا د قـدر شے دے او قدر ئې هم کيږي چې يادوئي ئې نو به وائي چې :-

پــــه ربيـــارانو خـــو ونـــۀ شـــوه
اوس بـه دا خپلـه لمـن يـار تـه غوړمـه
جــــولۍ دې ډکــــه مالـــــه راوړه
سـتا د ګلونـو نـه مـې ځـار شـه اندامونـه
غـــولے جـــارو کټونـــه ســـم کـــړۀ
سـپيني لمنـې مېلمنـې راغلـي دينـه
جانـــان مـــې اونـــه د رامبېـــل ده
د هـرې څـانګې ئـې جـولۍ ګلونـه وړمـه
اول بـــه ماتـــه خلـــق ناســـت وو
اوس بـه د فقـر جـولۍ بـل تـه غوړومـه
پــــه ربيـــارانو خـــو ونـــۀ شـــوه
اوس بـه دا خپلـه جـولۍ يـار تـه غوړومـه

څۀ رنګ چې قميص د دربو غټو برخو نه جوړ دے ـ دغسې د پرتوګ هم درې اهم جزونه دي ـ بډه ، پرتوګ او پينڅه ـ دا درې واړه چې يو شي پرتوګ ورنه ساز شي ـ

پرتوګ د سترِ عورت پرده راولي ـ څوک چې په چا پرده اچوي یا یوه خبره سموي نو وائي ,,پرتوګ ئې ورله جوړ کړو،، ـ چې سپکاوے او بې عزتي ئې کوي یا وکړي نو وائي چې,, پرتوګ به ترې وباسم،، یا,, پرتوګ ئې ترې ووېستو،، ـ مطلب دا چې وئې شرموؤ ـ سپک ئې کړو ـ یا دا چې خبره ډېره خرابي له لاړه شي ـ نو وائي پرتوګ ئې ورله جنډه کړو یا پرتوګ ئې ورله په چنار واچوؤ ـ دا او دا سې ډېرې محاورې متلونه دا څرګندوي چې د پښتنو په روایاتو کښې د پرتوګ ډېر اهمیت دے ـ هم د اغوستنې او پوشاک د مخه او هم د چا د درناوي او سپکاوي په لړ کښې یادولے شي ـ کله چې ستائیلے شي نو به وائي ـ

د پېغلـــې درې شـــيه مـــزه کـــا
ګیبـې پرتـوګ ، زرې پڼـې لنـډې ګامونـه
ګـــودر تـــه ځـــي پـــه مخـــه راغلـــه
ګېـډے ګېـډے پرتـوګ ئـې لاړ نـۀ راکوینـه
مـــا لـــه د چیټـــو پرتـــوګ وکـــه
پـه ګلبـدن کښـې مـې شـېطان غلطوینـه
د ســـپین پرتـــوګې جینـــۍ پـــلاره
چې سپین پرتـوګې لـور لـرې غـلام دې یمـه
چـــې د زینـــې د ختـــو نـــۀ وې
نـامړدې ولـې دې ګیبـې پرتـوګ کاؤنـه
جینـــۍ د یـــار پـــه تماشـــه شـــوه
د پـلار پرتـوګ ئـې پـه سـوبارې اوشـلاؤنه
پرتـــوګ دې ســـورې ســـورې راؤړو
چـې هـره سـوره ئـې ګنـډم ژړا راځینـه

بیا کله چې پرتوغاښ یا پینځې یادوي نو جذبات ئې ورسره بې قابو کېږي ـ په ځان پوهه نۀ شي او وائي چې :-

مـــــزې دې وکـــــړې پرتوغاښـــــه
چې جینکۍ دې د چرچې پـه ځـائے تړینـه

کـــــۀ تـــــۀ زمـــــا پـــــه رضـــــا راشـــــې
د پرتوغـــابن لاتـــدې بـــه درکړمـــه ملکونـــه
ســــــپينو پينځـــــو دې لېـــــونے کــــــړم
تـــورو کمڅـــــو دې د ســــبقه وويســــتمه
ســــــپينو پينځـــــو دې لېـــــونے کــــــړم
تـــورو کمڅـــــو دې زۀ د خوبـــه وويســــتمه

پڼې کوښې وغېره پښو پېزار ته وائي - ډېره زمانه ئې عام رواج ؤ - ډېر قسمونه ئې وو - څۀ به د ښځو وې څۀ د سړو - خپل خپل خوندرنګ ئې ؤ - څۀ به تيله دارې وې تيله به وربانديې ختلې وه - دې ته به ئې ډکې پڼې وئيلې - ځينې به نيمې تيله کړې وې دې ته به ئې يو ګوله پڼې وئيلې - يو قسم به موډې ياد ېدې - د ماشومانو پڼو ته به ئې پڼه ګی وې - په ځينو به بادام جوړ وو ځينې به ګلدارې وې - ګلونه به پرې جوړ وو - ځينې به ساده هم وې - دا پېزارونه به چمیارانو جوړول - په يو وخت کښې د پڼو په پښو کولو عام دستور ؤ - ځکه به ورته د هر چا خيال ؤ - کله به ئې ستائيلې او کله به ئې هسې زيرلې او وئيل به ئې :-

پـــــه لارې ګـــــوډه ګـــــوډه راغلــــــه
د بخملـــې پڼـــو ئـــې تنـــګ دي بادامونـــه
اشـــنا پـــه زيـــن کښـــې راتـــه کـــوږ شـــو
د پڼـــو څـــوکې لګـــوم خولـــۀ ورکومـــه
لالـــــے مـــــې لـــــوړ زۀ ټيټکـــــې يـــــم
د پڼـــو څـــوکې لګـــوم خولـــۀ ورکومـــه
د پېغلــــــو درې شـــــيه مـــــزه کــــــا
زرې پڼـــې ګيبـــې پرتـــوګ لنـــډې ګامونـــه

نارينه ټوپۍ هم په سروي - دا د سر پټولو ذريعه وي - کۀ دستار لنګۍ ، پګړۍ يا پټکے هم څوک په سروي خو ټوپۍ يا قوله نۀ شي نظر انداز کولے - په دې چې په دې دپاسه ئې تاوهي - او هم په دې ئې ټينګوي - هسې يواځې ټوپۍ هم په پسرولے کيږي - ټوپۍ د نمانځه او عبادت دپاره لازمي ګڼلے شي - واړۀ ، زلمي او زاړۀ ټول ئې په سروي - په يو وخت کښې به په حجره کښې د مشرانو په مخکښې سرتور

کښېناستل هم بد ګڼلے کېدل ـ ټوپۍ د سوال زارۍ دپاره هم پکار راځي او د يو نيم څيز د وړلو راوړلو او راټولو راجمع کولو دپاره هم استعمالېږي ـ اصل مقصد ئې د سر پټول وي ـ سرتور به پخوا چا ته ښۀ نۀ ښکارېدو ـ نۀ خو به چا نمونځ په سرتوري کوؤ او نۀ به څوک د مشرانو په مخکښې سرتور کښېناستے شو ـ چاته چې به ئې ښېرې ازار کوؤ نو سر به ئې سرتوروؤ او ټوپۍ به ئې زمکې ته را اچوله دا د معاشرې غوښتنې او روايات وو ـ ټوپۍ حيا هم وه دا پرده هم وه او تبرک هم ورته حاصل ؤ ـ دا به قدرولې شوه ستائيلې به شوه وئيل به ئې :-

تـــا چـــې ټـــوپۍ پـــه ســـر کـــړه کـــړه
زۀ بـــه دړۍ د وروځـــو مېـــنځ لـــه راولمـــه
زمـــا د ګـــران پـــه ســـر ټـــوپۍ ده
ســـپينه روپـــۍ ده پـــه بـــازار ئـــې ګرځوينـــه
ډکـــه ټـــوپۍ ملالـــې ســـترګې
مـــور دې کرکڼـــې پـــه بـــازار کښـــې خرڅوينـــه
چـــې پېښـــورۍ خـــولۍ شـــوې ډېـــرې
زۀ بـــه ړانـــدۀ لـــه بـــوڅخکۍ خـــولۍ کومـــه
مـــا بـــه دا ســـتا خـــولۍ چکـــن کـــړه
د مـــوره يـــو ئـــې نظـــرې بـــه شـــې مئينـــه
د ســـرې خـــولۍ نـــه مـــې زړۀ تـــور دے
چـــې ئـــې بـــې ننګـــه مشـــران پـــه ســـروينه
ســـپينه ټـــوپۍ ملالـــې ســـترګې
مـــور دې کرکڼـــې پـــه بـــازار کښـــې خرڅوينـــه

د ژوند کاروان په مخه روان وي ـ ماشومان رالوئېږي ـ چندڼ خپله خوشبوئي خوروي ـ ببره هم ګل کېږي مېوي نيوؤ ته ځان جوړوي ـ نظر وربانديې پرېوځي ـ ځانګه غوړېږي ـ بيا هاغه وخت راشي چې څوک دا هم اووائي چې :-

ځانګـــه بـــه نـــن صـــبا کښـــې ګـــل شـــي
ما ئې په سرکښې سرې غوټۍ ليدلي دينه

دغه څانګه آخر ناوې کړے شي ـ سنبال کړے شي ـ نُور په نمک شي ـ ښائسته کړے شي ـ چې وربل ئې خور شي نو د خپل کور شي ـ دا هاغه موقع وي چې ناوې ته د جوړېدو ښائسته کولو او سينګارولو دستورونه ترسره کيږي بيا نو هاغه څۀ چې ددې دپاره پکاريږي د هغې دپاره وي ـ وائي د ناوې سل رنګه د مور په بخڅه کښې وي ـ مېندې خپل دا فرض سرته رسوي ـ کله چې د ناوې ذکر کيږي نو د ناوې جوړونکې وائي چې :-

پـــه نـــاوې چـــج کـــالي انبـــار کـــړئ
ورســـره خونـــد د بنـــارس جـــوړه کوينـــه
لالاتـــــــۀ هـــــــم د خېـــــــره ورشـــــــه
د نـــاوې مـــور درلـــه بلبلـــه درکوينـــه
نـــاوې پـــه ګُـــټې کښـــې راتـــه ژاړي
زمـــا نـــه غـــواړي د شـــولۀ د لاس ګلونـــه
مـــونږ بـــه تـــرې خپلـــه نـــاوې يوســـو
دا مور و پلار دې ئې په پيتے اودس کوينه

د بنارس د جوړې سره د چج کالي ذکر هاغه ټول پس منظر په ګوته کوي د کوم نه چې د ناوې توب سمام سازولے شي ـ د کالي رواج دمعاشرې د تمدني ارتقاء يو روان عمل دے ـ د نوې زمانې اصطلاحي نوم ئې فېشن دے ـ دا فېشن په مخه بدلېږي ـ ولې رواج او دستور داسې زر نۀ بدلېږي ـ فرق پکښې واقع کيږي ـ کوم څۀ چې د تېرو وختونو وو هاغه څۀ کۀ د روانو وختونو سره نۀ جوړېږي ځکه نو د بدلون سره مخ کيږي رواج او دستور په خپل ځائې وي ـ څۀ وخت چې ناوې جوړيږي نو کالي خو به غواړي ـ کالي د ناوې ښائست سېواکوي ـ کالي جامه هم ده ګاڼه هم ده ـ د وجود درناوے وربانده راځي او په داسې موقعو بيا بيا يادولے او ستائيلے کيږي لکه داسې چې :-

کـــــۀ اباســـــين راغلـــــے نـــــۀ وے
پـــه نـــازوړو کښـــې بـــه چـــا مونـــدل ټيکونـــه
ټيـــــک پـــــه تنـــــدي جنيکـــــۍ راغلـــــې
ماتـــه زرګـــر پکښـــې لانـــن صـــبا کوينـــه

ټيـــــک دې باچـــــا تتــــه رانـــــې ده
ســرهٔ چـــارګلان دې جلاتيــان امـــر کوينــه
کــــهٔ کلپــــــانړې راغلـــــے نـــــهٔ وے
پـه کنګخـړو کښـې بـه چـا مونـدل ټيکونـه
چـــې ســـره ټيکـــه ئـــې راښـــکاره کـــړه
پـــه زړهٔ دننـــه راتـــه جـــوړ شـــو انګارونـــه

د پوزې کالے ئې يا خو تتکې ، يا مېخکے شي. کله پېزوان کله چارګل شي. د دوئي خپل خپل وخت وي. خپل خپل عمر ئې وي. د خپل وخت سره دا خوند کوي په وجود ښائسته لګي. تته او چارګل د ناويانو په کالو کښې حسابېږي. ولې په ځينو قبائيلو کښې زيات زور په چارګل وي. دا ستائيلے هم ډېر شي او يادولے هم شي.

ســــتا د چارګــــل ځلــــور پــــرې دي
ډېـــرې تېـــرې دي عاشـــقان حلالوينـــه
چارګـــل پـــه لـــوړه پـــوزه خونـــد کـــړي
لکـه پـه لـوړ چنـار کښـې واچـوي ټالونـه
چـــار ګـــل مـــې ښـــهٔ جـــوړ کـــړه زرګـــره
يـار مـې زلمے دے د چارګـل ارمـان کوينـه
تـــر زنځيـــر بنـــد چارګـــل ئـــې نيســـئ
تـر سرهٔ غمي لاندې ئې تېر کړو کاروانونه
ســـتا د چارګـــل پـــه پـــرو غـــوځ شـــوم
ورکـوټے لـوئے شـوم روغ مې نهٔ شو پرهرونه
چارګـــل پـــه کرمـــه کښـــې جـــوړېږي
د پېښـــور زرګـــره مـــات دې شـــه لاســـونه

د پېزوان خوند لکه چې په ټولو زيات وي. په هر چا خوږ لګي. د پېزوان زيات تعلق د پېغلتوب سره وي. جينۍ چې پېغله شي پېزان ئې په پوزه شي. په خپله پېزواني شي او زلمي ئې ارماني شي. بيا د هاغې چا شي چې د چا په نوم شي.

دا دستور ددې قام دے ـ پښتانۀ وربانديې پوهېږي ـ دوئي ئې خوښوي ـ او دوئي ئې په صفتونو نۀ مړېږي ـ د پېزوان صفت د پېغلې ستائينه شي ـ

بيابــه پېـــزوان پـــه پـــوزه نـــۀ کـــړم
اشـنا شـپېلۍ وهـي پېـزوان پکښـې سـتائينه
پېزوانــــه کـــوز شــــه اوبـــۀ اوڅښــــه
چــې د جانــان مــخ پــه اوبــو کښــې اووينمــه
پېـــــزوان مــــې خـــړو اوبــــو يــــوړو
پــه غــم شــريکه يــاره نيســه ګودرونــه
پېـــزوان پـــه کرمـــه کښــــې جـــوړېږي
د پېښـــور زرګـــره مـــات دې شــه لاســونه
پېزوانــــه کـــوز شــــه اوبـــۀ اوڅښــــه
صـبا اختـر دے پـه سـرو شـونډو بـه دې وړمـه
جانـــان بـــه بـــل ملـــک تـــه پـــرې نـــۀ ږدم
ورتــه پېــزوان د مــارګلې پــه کنــډاؤ ږدمــه
د ســـــور پېـــــزوان نــــه دې قربــــان شـــم
لـــږ پـــه رو رو ئـــې خـــوزوه چـــې بـــاد راځينـــه
دا پـــــــه کوټـــــــه ولاړه څـــــــوک ده
پېزوان ئې برېښـي ورور ئـې کـور تـه نۀ پرېږدينه
اوس راتــــه نېـــغ پـــه ســـترګو ګـــوره
سـتا د پېـزوان پـه پروغـوخ يـم مـړ بـه شـمه
لـــږ پـــه احتيـــاط مـــې خـــولګۍ واخلـــه
چــې د پېـزوان پـه پـرو غـوځ نـۀ شـې مئينـه
پېـــزوان بـــه نـــوے درلـــه جـــوړ کـــړم
تـۀ خفـه نـۀ شـې زۀ بـه سـتا رضـا کومـه
پېـــزوان دې بيـــا پـــه شـــونډو ســـور کـــړو
زمــــا د زړۀ پــــه دنيـــــا اور اولګېدونــــه

پېـــــزوان پــــه لبـــــو مقـــــرر دے
د زرو قــــدر زرګرانـــــو ســــره وینـــــه
پېـــــزوان دې ســـــرۀ بخـــــري نـــــولي
د چــا ئــې اوســوې بوســارې د چــا ټوپونــه
پېــــزوان دې کــوز لـــه شــونډو نــۀ کــړې
چــې عاشــقان دې پــه رنبــا ګــوري خالونــه

کله داسې وخت هم راځي چې ټتکۍ او مېخکے هم ستائیلے کیږي ـ په دې چې په یو وخت کښې د دوئي وار وي ـ په سترګو ښۀ لګي ـ مینه وربانديې ماتېږي ـ چې د چا ورته خیال شي نو په دې وېنا سر شي چې :-

ستا پـه ټتکـۍ کښې شـېطان ناسـت دے
هـره شـېبه مـې ستا خـولګۍ تـه لمسـوینه

لاچې د چا مېخکے په پوزه وي هغه خو لکه چې څوک په نظر کښې نۀ راوُړي ـ خپل ځان ته داسې غره وي چې کۀ خپل اشنا ئې هم ورتـه کله پـه مینـه اواز وکـړي نو دا ورته جواب ورکړي چې :-

د مېخکـــــي پــــه ډنـــــډر ســــــوره
ماتــه پــه زوره نــارې مــۀ وهــه درځمــه

د پېغلې د ناوې توب په رواجي کالو کښې د غوړونو کالے هم وي ـ په دوئي کښې والۍ او دورونه په خصوصیت سره یادولے کیږي ـ ددې قسم کالو دستور ډېر پخوانے دے ـ دا دمعاشرتي ژوند د ډول سینګار اهمه برخه ده ـ ناوې پـه دې ښائسته کیږي ـ چې ناوې جوړېږي او خوند رنګ ئې سېوا کیږي نو څوک داسې هم وي چې ورته وائي چې :-

انګرېــــزي زلفـــــې دې شـــــانه کــــه
والـو لـه ټـال ورکـه چـې زیـر کـړې عالمونـه

کله چې بیا د مئین نه د خپلو غوږونو دپاره درونه هم غواړي ـ نو ددې مطالبې په وخت ئې د وېنا انداز کله یو رنګ وي او کله بل رنګ یا خو به وائي چې :-

مالـــه پټېـــۍ دورونـــه جـــوړ کـــه
چـې پـه همزولـو کښـې سـرداره ناسـته یمـه

او یا ئې مطالبه زوري شي ـ داسې ژبه ئې اړولې شي ـ ولې څوک چې ئې بوجونه وړي هغه ئې برداشت کوي هم ـ او په دې خوشحالېږي خاندي ورته او زغمي ئې ـ کۀ هغه ورته دا وائي چې :-

ماله پټۍ دورونه جوړ که
پټۍ زما دورونه ستا د مور مړونه

نو هم ئې په بده نۀ اړوي ـ په خندا خوشحالۍ ئې فرمائش پوره کوي ـ په دې چې هغه محبوبا وي ـ

لونګین او امېل دواړه د غاړې کالي دي ـ دا د ناوې ښائست هم دے ، وقار او دبدبه ئې هم ده ـ دا پرې خوشحالېږي هم او ښائسته کېږي پرې هم ـ لونګین د ساده ژوند ساده نخښه ده ـ دا د غریبۍ د مینې پېرزوئینه ده ـ د امېل ډېر قسمونه دي ـ ډېر لړونه ئې هم وي ـ دا د بېل بېل وس خبره وي ـ چې څۀ رنګ ئې جوړوي او څۀ رنګې ئې د ناوې د غاړې زینت کوي ـ بیا هم کله چې محبوبا خپل محبوب ته مخاطب کېږي نو ورته وائي ـ

لکه زمرے په دشمن ورشه
کۀ کالتوس نۀ وي لونګین ګانه کومه
مخې له راغله په ژړا شوه
د لونګین نه مې څونډې پرېوتې دینه
په کوټه سر کړه رادننه
دا پېغلې ځان په لونګین سینګاروینه
شاه لونګین په ژړا راغے
ماله هیکل په سینه ځائے نۀ راکوینه
په سور سالو په بام ولاړه
امېل په غاړه شوکوي د خلقو زړونه
مسافر یار وطن ته راغے
ماله ئې راوړي دي د غاړې امېلونه

کوټې او بنګړي د ناوې توب د ښېوې او ښائست یو اهم جزو دے ـ بغېر ددې نه لکه چې ناوې نۀ شي جوړېدے ـ کوټې عموماً د سرو سپینو وي ولې بنګړي د

شیشې هم وي ـ ددې نه علاوه دا دواړه د نورو دهاتونو څخه هم جوړولے شي ـ قیمتي کاڼي ، لالونه جواهرات هم پکښې پکارولے شي ـ نۀ د ګوتو او نۀ د بنګړو بیه یو شان وي ځکه نو دا هم د اخپستونکي او خوښوونکي د وس خبره وي ـ چې څومره ئې وس وي هاغه رنګ ئې سودا وي ـ ځکه خو وائي چې :-

ګـــــوتې بنګـــــړي د دنیــــــا دود دے
زۀ د نېســـتمنه یـــاره نـــۀ غـــواړم دودونـــه

ولې کله چې په ستائینو راشي نو دا به وائي چې :-

بنګـــړي دې شـــور کـــړي مـــاه جبینـــې
لاس دې پـــه رو رو خـــوزوه رســـوا دې کړمـــه
بنګـــړې مـــې وو پـــه لاس مـــې نـــۀ کـــړل
د مـوزیګي پـه خوېندو راغلـم تـش لاسـونه
زمـــا بنګـــړي بـــه دې پکـــار شـــي
چې کټ خطا کړې زۀ به ئې رو رو شړنګومه
مالــــــه د ښــــــاره بنګـــــړي راوړه
په شړنګا شړونګ به دجانان غیږې له ځمه
دبـــــره مـــــه شـــــې ســـــپېره کالـــــه
بنګـــړي پـــه لاس جینکـــۍ وړې ټولوینـــه
وښـــــې بنګـــــړي د دنیـــــا دود دے
زۀ د نېســـتمنه یـــاره نـــۀ غـــواړم دودونـــه
چـــې یـــاري کـــړې بنګـــړي مـــاتېږي
دغـــه متـــل دے لېلـــی څـــۀ پـــروا لرینـــه
بنګـړې مـې ستا پـه کـټ کښې مـات شـو
کـۀ تـۀ سـړے ئـې رالـه ډک کـړه مړودونـه
تـــرس پـــه ناترســـه یـــار کښـــې نشـــته
د لاس بنګـــړي مـــې خرخـــوي ژړا راځینـــه

پیکړې د ښو کالے دے ـ د جینکو ښو ته اچولے کیږي پیکړې په مېنځ کښې ډډې وي ـ څۀ کټکي غوندې پکښې اچولے شوي وي ـ جینۍ چې روانه وي دا

شړنګيږي ـ اوربېدونکې وربانديې خوشحالېږي ـ د پېکړو خوند د دوئي په اواز کښې دے د چا چې په پښو وي خوند ورسره کوي ـ ګرزېدۀ هم پکښې هنر غواړي ولې ددې هنرپوهه مېرمنې ډېرې خال خال وي ـ ځکه نوچې پېکړې د چا بې هنري په پښو شي او د چا ورته پام شي نو معاً ئې په خيال کښې داسې راشي چې :-

دنيـــا بــــه ولـــــې نــــۀ ورانيـــــږي
چـې جولاګـانې پېکـړې پــه پښــو کوينــه

په ګرزېدو کښې په ناز نخره او قينج مکېز هره پېغله نۀ پوهېږي او نۀ ئې کولے شي ـ دا معشوقانه انداز د خاروګانو په برخه وي ـ د پل اخېستو او قدم پورته کولو او په ناز د کېښولو هنر د هنرمندو معشوقو خاصه وي ـ لااوس خو د کيټ واک زمانه هم راغلې ده ـ د پېکړو د شړنګ دپاره د داسې قدم پورته کولو د هنر زده کړه ضروري وي ـ

د ځان سنبالولو او د ډول سينګار دپاره د جامې پېزار او کالي پتري نه علاوه چې د نور څۀ ضرورت محسوسېږي په هغو کښې دنداسه ، رانجۀ ، نکريزې ، تېل ، صابون او نيل وغېره هم شامل دي ـ پخوا به په حمامونو کښې ګِلِ خوشبو د لمبلو دپاره کارولې شوه ـ په وردګو قبائيلو کښې لا نن هم ددې خاورې استعمال رواج لري ـ خلق وربانديې لامبي ـ سبب ئې يا خواري نيستي ده يا لرغونے دستور دے ـ هسې هم د صابون رواج په پښتنو قبائيلو کښې څۀ داسې پخوانے نۀ دے ـ ولې اوس ئې د وجود د صفايۍ او د زړوکو وينځلو دپاره استعمال هر چرته ضروري شوے دے ـ تيرې شلمې صدۍ عيسوي د عام اولس په عملي ژوند کښې ډېر بدلون راوستے دے ـ ځکه نو اوس داسې د ضرورت څيزونه د معاشرتي ژوند حصه شوي دي او په اولسي سندرو او ستائينو کښې نظر انداز کېدے نۀ شي لکه :-

د دوۀ پيســـــو پـــــه صـــــابون ســـــپينه
پـــه لـــوړه ګرځـــې د څرخـــې دې اوويســـتمه
صــــــبا اختـــــــر دے بختــــــــور دے
صـــابون راواخلـــه چـــې پـــرې اولامـــبم مئينــــه

د نکریزو په یادولو سرهٔ لاسونه او سرې پښې رامخې ته کیږي ـ دا وجود په نور کوي پښې لاس ښائسته کوي ـ د نکریزو رنګ او خوشبویۍ په هر چا ښهٔ لګي ځکه نو که څوک دا وائي چې :-

یــار مـــې پـــه ســرو لاســو مئــین دے
زهٔ به نکریزې په خپل کور کښې شنې کومه
تـــن مـــې د شـــنې نکریـــزې پاڼـــه
بهــر تــازه دننــه رنــګ پــه وینــو یمــه
لاس دې زمـــا پـــه وینـــو ســـرهٔ دي
نکریــزې نــهٔ دي یــاره مــهٔ وینځــه لاســونه
لاس مـــې د زړهٔ پـــه وینـــو ســـرهٔ دي
خلقــو تــه وایــم مــا نکریــزې ایښــې دینــه
مـــا لـــه د ښـــار نکریـــزې راؤړه
پـه سـرو منګولـو بـه مـې یـار چـاپي کومـه

د غوز د اوني پټ ته دنداسه وائي ـ زنانه په دې غاښونه هم پاکوي او شونډې پرې هم سرې کوي ـ دنداسه او رانجهٔ دواړه د شونډو او سترګو د ښائست سېوا کولو دپاره د زمانو راسې استعمالیږي ـ دا د لالي د خوشحالولو مجربه نسخه ده ـ ځکه خو وائي چې کهٔ شونډې سرې کومه هم تاله او کهٔ رانجهٔ پورې کومه هم تاله دا چې وائي چې ک-

ســـترګو تـــه رش د رنجـــو ورکـــه
شـونډو تـه رنـګ د دنداسـې ورکـه مئینـه
پــه دنداســه دې شــونډې ســرې کـــړې
بیـا دې نـارې کـړې یـاره تـا سـتي کومـه

رانجهٔ د یو خاص تور کاڼي په مېده کولو جوړولے شي ـ دا کاڼے ډېر پوست ، مهین او لهجن مېده کیږي ـ داسې لهجن چې تور کړے ئې سلائي توروي ـ دغه سلائي بیا په سترګو کښې تېرولے راتېرولے شي ـ دا دومره باریک مېده شوي وي چې د سترګو نازک ګاټي ئې زغملے شي ـ په دې زیزمې او بانهٔ دواړه توریږي او د سترګو لکي هم ورسره جوړیږي ـ چې رانجهٔ په سترګو پورې شي نو سترګې

نورې شي ـ خوند ئې سېوا شي ، غزالې شي ، هم ښائسته شي ـ هم خوندناکې شي او هم رنړې شي ـ رانجهٔ د سترګو ښائست سېوا کوي ـ ځکه ئې پښغلې جونه ډېر ډېر په سترګو پورې کوي ـ په پېښور او اشنغر کښې د دلدار ګړې رانجهٔ او په سوات او بنېر کښې د پير بابا د رنجو نوم خور د ے ـ د پير بابا رانجهٔ په ډېرو ټپو کښې ستائيلے شوي دي ـ لکه چې وائي :-

ځـــان ئـــې ســـنبال کـــړو روانېــــږي
د پيــر بابـــا پـــه رنجـــو ســـترګې تورويـنـــه
ځـــــان رانــــه بــــچ ســــاته جانانــــه
د پيــر بابـــا پـــه رنجـــو ســـترګې تورومـــه
زهٔ بـــه رانجـــهٔ ځـــان لـــه تـــرې جـــوړ کـــړم
جانانـــه تـــهٔ پـــه خـــاوره کېـــږده قدمونـــه
د رنجـــــو خـــــال پــــــه زنــــــه مـــــهٔ ږده
زما پـري سـپينه خولـه تـورېږي غـل بـه شـمه
صــــورت مــــې ټـــول درتــــه رپېــــږي
چـې پـه رنجـو دې تـورې سـترګې اووينمـه
خوينــــدو رانجــــهٔ راڅخـــــه واخلـــــئ
يـار مـې شـهيد شـو سـترګې چـا تـه تورومـه

خال په مخ او په زنه د خوند او ښائست دپاره کېښوے کيږي ـ دا حافظ شيرازي چې وئيلي دي چې :-

*اگر آں ترک شیرازی بدست آرد دل را*
*بہ خال ہندوش بخشم سمر قند و بخارا را*

نو لوئے مغل قهرمان تيمور لنګ چې کله دا شعر واؤريدو نو د شيراز د نيوؤ په ورځو کښې ئې د حافظ نه داسې باز پرس وکړو چې ما خوئې د ابادولو دپاره ټوله نړۍ غارت کړه او تهٔ ئې ايله بيله په يو خال وربخښې ـ نو هاغې غارت ګر قهرمان ته ددغې سخنور شاعر جواب دا وو چې سمر قند او بخارا څهٔ چې د محبوب يو خال د سرو مال په بيه هم ارزان د ے ـ ځکه خو وائي چې :

هر دو عالم قیمت خود گفتهٔ
نرخ بالا کن که ارزانی هنوز

ځکه نو چې خبره د داسې یکتا محبوب د جبین د خال شي نو دا هم د سرو مال په بیعه ارزان وي. بیا دغه خال چې پښتني معشوقې هم کله په خپل جبین کېږدي نو د تن او وجود خوند رنګ او زیبائش ئې دومره زیات شي چې کله د زلفو شانه کولو دپاره په آئین کښې ګوري نو په خپل ځان ئې مینه راځي. خال د ښائست ستورے دے. د حسن اعجاز دے. د محبوب د حسن په مخ، شونډه، تندي او زنه خالونه د انسان د معاشرتي تمدن قدیمي دستور دے. د شین خالو سندرې په پښتونخوا کښې خاص فولکلوري اهمیت لري. شین خالي په خپل دلربائي حسن او شنو خالونو د پخوا راسې یادې دي. د دلدار د ښکلا، خال یا تور وي یا شین وي یا پوخ وي یا کچه وي. یا د نیلو وي یا د رنجو وي. خالونه د معشوقو وي. د محبوبا وي، د لېلی وي د شېرینو وي د درخانو وي. دا د هر چا نهٔ وي.

اسمان کښې ستوري ښائسته ښکاري
د یار په زنه شنهٔ خالونه خوند کوینه
تهٔ به په شنو خالو مئین ئې
زهٔ دې په غوړو څڼو اوخوړم مئینه
تا چې شین خال په زنه کېښود
ما د کفن پېسې په پور راوړې مئینه
تر دېوال دوه ګوتې سر لوړ که
د زنې خال دې په دېوال اوسولاوُنه
چې چرته ځې ستا دې قسم وي
جانانه مهٔ مې هېروه شینکي خالونه
چې هورې ځې خال مې سهي که
د هندوستان د جونو نشته شنهٔ خالونه
خال مې د وروځو په مېنځ کېښود
تهٔ راته ګوره خوند کوي کهٔ وران ئې کړمه

خال دې فقير مخ دې زيارت دے
دا نرۍ وروځې دې جنډې ولاړې دينه

خال دې وهو خبر دې نهٔ کړم
ناغه دې راکه د سورکو شونډو سرونه

خال دې وهو خبر دې نهٔ کړم
کهٔ زهٔ خبر وے ما به ايښي وے نذرونه

خال مې د کونډې په مخ وليد
پېغلې له ښائي چې ځلور کېږدي خالونه

خال مې تازه سترګې مې تورې
کهٔ راته وګورې ايرې به شي مئينه

خال مې سور اور ايرې ايرې شو
اوس به خوارهٔ کړم دا ودلي پېکي ولونه

خالونه واړه شنهٔ خالونه
د زني خاله نوکري به دې کومه

خدايه د نيلو قدر کم کړې
چې پېغلې جونه باندې نه وهي خالونه

خال په پلؤ کله ورانېږي
تا پکښې جوړ کړو د غاښونو پرهرونه

خال دې د وروځو مينځ کښې کښېنود
لکه باچا چې پاس په تخت حکم کوينه

خال دې دے شين غاړه دې سپينه
خندا دې سيند دے عالمونه غرقوينه

خال خو دې ما وران کړے نهٔ دے
تا چې پلو په مخ راخور کړو وران دې کهٔ نه

غبېږ نه مې ځي خالونه يوسه
بغېر له تا مې پکار نهٔ دي شنهٔ خالونه

خال خو دې ما وران کړے نۀ دے
په پیر بابا به درته وخورم سوګندونه
د شوندې خال دې مېلسي دے
د زنې خال دې مرور پخلا کوینه
د شین خالو مرکه راغله
خواره دې زۀ شم چې مې نۀ وهل خالونه
د شینکي خال بیه دې وایه
زۀ سوداګر د پورې خوا راغلے یمه
د زنې خال دې راپه یاد شو
سترګې مې دواړه رنې اوښکې تویوینه
د زنې خال دې مبارک شه
تا په د زړۀ په ځیګر خون وهلي وینه
د زنې خال دې مېلسي دے
د تندي خال دې مرور پخلا کوینه
د زنې خال به درنه ځار کړم
تۀ په دشمن باندې مور بوره کړه مئینه
د زنې سر ئې په خوله راکړو
قسم ئې راکړو چې مې وران نۀ کړې خالونه
د تندي خال دې هسې زیب کا
لکه په سپینه واؤره کاغه ناسته وینه
زما د زنې د سر خاله
امانت ماله خپل اشنا له دې ساتمه
طالبه هله به مولا شې
چې د زړۀ وباسې د یار شینکي خالونه
والله بالله کۀ به ملا شې
په کتاب پروت ئې زوتوې شینکي خالونه

طالبــــه خــــدائیگو کــــۀ مُــــلا شــــي
په کتاب پروت ئې یادوې شینکي خالونه
اوړے دې تــول قشــقار کښــې تېــر کــړو
پــه ژمــي راغلــې ســلامت غــواړې خالونــه

دا خوندوره او قدرمنه نخښه چې د محبوب په ښکلي مخ د ښائست مهر دے او ددې د نور سبوا کېدو سبب کیږي. دا هم د کوم بارائي عنصر د مخه وي. دا عنصر یا خو په رنګ تور وي. دا رانجۀ وي او چې کوم شین والے راؤړي دغې عنصر ته نیل وائي. نیل به هم په تېرو وختونو لکه د نکریزې په شان د یو بوټي نه حاصلولے شو. نیل به په هندوستان کښې پېدا کېدو. او ډېر لوئے کاروبار به ئې کېدو. تر کومې چې په المان کښې دا کیمیاوي رنګونه لانۀ وو ایجاد شوي تر هاغې وخته هر چرته د نیلو قدر بې شانه زیات ؤ. دوبیانو به د رنګرېزۍ په کار کښې هم ډېر پکار ؤ. لانن ورځې هم په لویدیزه نړۍ کښې ټیټو په دغه رنګ کولے شي. پاخۀ خالونه هم په دې رنګ وهي. پخوا به پېغلو جېنکو هم د خالونو دپاره نیل استعمالوؤ. ځکه نو په دواړه حالته کښې به دا په حسن او ښکلا کښې د اضافې باعث ؤ. د نیل ددې خوبۍ او افادیت د مخه به عاشقانو تل دا شکایت کوؤ او وئیل به ئې چې :-

خدایــــه د نیلــــو قــــدر کــــم کــــړې
شــنۀ نــوري ډېــر شــو خپــل اشــنا نــۀ پېژنمــه
خدایــــه د نیلــــو قــــدر کــــم کــــړې
چــې پېغلــې جونــه بانــدې نــۀ وهــي خالونــه

ځنې غوړول، تېل پورې کول او د آئین منګز استعمال هم ډېر د قدیمه راسې را روان دے. د وجود د ښائست راوستو او د خپل ځان نُور په نمک کولو او سینګارولو دپاره به دا درې واړه شیونه ډېر ضروري وو. هره مشاطه او ډمه به ددې کار کسب ګره کېلې شوه دا به لکه یو ګرزنده پارلر ؤ. ساده وختونه وو. ساده خلق وو. سرخي پوډر لاچا نۀ پېژندل. د لودیزې نړۍ باد لانۀ ؤ را الوتلے. د ناویانو ښائستونه جوړول د مشاطو لېواله وو. دوئي به د آئین، منګز او تېلو، رنجو د استعما ماهرانې وې. نړۍ او غتې کمځۍ به ئې په سلائي جوړولې. دا

به ټولې د حساب او شمار سره سمې وې . دا مشاطې به کور په کور ګرزېدې وخت په وخت به ئې حاضري کوله او دغه خدمت به ئې سرته رسوؤ . ښځو چې به ځانونه د څۀ وادۀ ښادۍ دپاره سنبالوؤ او سر زړوکي به ئې کول نو دغه مشاطې ډمانې به ئې رابللې . دوئي به کسب ګرې هم بللې کېدې . بیا کله چې به ئې د وراګانو مېلس تودوؤ او تمبلونه ډمامې به ئې کیستې نو ډمانې به ورته وئیلې شوې . په داسې موقع به ئې په ستائینو مصرعو کښې کله خو دا هم وئیل چې :-

تېـــل د بـــاتۍ پـــه طمـــع ســـوزي
ځانګـــه د یـــار پـــه طمـــع عمـــر تېروینـــه
پـــه دې کونځلـــو کښـــې تېـــل نشـــته
کـــۀ د ګـــانړۍ جـــوړه غوایـــان پـــرې وتړمـــه

بیا کله چې به د آئین منګز ذکر راغے نو وئیل به ئې چې :-

راشــــه آئـــــین منګـــــز دې واخلـــــه
نـۀ دې یـاري کـړم نـۀ دې نخښـې ګرځومـه

د غم ښادۍ کارونه ټول د نایانو د غاړې وو . داسې لکه د ماشومانو هلکانو سنتول ، د نارینه ؤ وېښتۀ سمول او ډول ډمامه وهل . نغاره کول ، کلي خبرول دا د دوئي د سړو په ذمه وو . په جنګ جګړه کښې به هم د نخښې نشانګي وړونکي سره سم روان وو . ډول سرنې به ئې وهو . د لښکر د سر پرې ملګري به وو . هر کله چې واسطه به ئې د هر چا سره وه کورا کور زلمي پېغلې به ئې هم په نظر کښې وو ځکه نو د هلک او جینۍ رشته خوښولو ته لاره سمولوله به هم ډم نائي استولے شو . دا د معاشرتي ژوند یو اهم ضرورت ؤ چې د دوئي په غاړه به ؤ . پیشه ور او خانداني نایاان به په خپل دې هنر ډېر معتبر ګڼلے کېدل . په ایران توران او هندو سند هر چرته نائي ددې خدمت ذمه وار ؤ . قېصۍ د حاجي بابا اصفهاني وه او کۀ د رنجیت د صلاح کار مشیر ټوله د معتبر نائي وه . هر چا به ورباندې اعتبار کوؤ . دوئي به هم ځان چاته نۀ بې اعتباره کوؤ . ځکه خو د ژبې ډېرې محاورې او متلونه ددې روایاتو د ژوندي ساتلو دپاره په پښتو کښې هم رواج لري . او تر دې وخته ښۀ په باقاعدګۍ سره په روزمره خبرو اترو کښې استعمالېږي . په ټپو او ستائینو کښې ئې هم ذکر کیږي .

د ژوندانۀ څرخ په مخه تاوېږي . تر څو چې معاشرتي ژوند په حرکت کښې وي او روايات هم ژوندي وي نو يادولے به هم شي او ستائيلے به هم شي . دا د ژوندانۀ ښائست دے . دا ئې ښکلا ده او دا ئې رنګينې ده . د معاشرې تمدني سپېڅلتياګانې او خوندونه ددې سره دي . روايات په دې ژوندي دي . دا ښائست او دا ښکلا داسې په وړو وړو خبرو سېوا کيږي . په دې کښې ډېر معمولي او واړۀ واړۀ څيزونه پکارولے شي . دا يوازې نه په مشاطه او ډمه سرته رسي نۀ دا تش د ډمانو يا نايانو کار دے . نۀ يوازې زرګر يا جولا وربانديې ملامته دے . د معاشرتي ژوند هر اړخيز ښائست او ښکلا زياتول د هر چا ذمه داري ده . ددې دپاره انسان دنيا ته راستولے شوے دے . چې د عبديت په صفاتو ځان متصف کړي . عبديت د الله پاک بندګي ده . ددې نه روګرداني د شېطان پېروي ده . او دا د دنيا او اخر شرمندګي ده . د ژوند خوشحالي په دې کښې ده چې معاشره دې په پاک صفا بې وتېه او ازاد ماحول کښې مخ په وړاندې په سفر وي . ژوند دې خوشحاله او په ارام وي . داسې نه چې څوک پکښې په دې وېښا سر وي چې :-

مالــــه قينچـــــې د ښــــــاره راؤړه
زۀ د بــــې لوظــــه يــــاره ژبــــه پرېکومــــه
زمــــا جانــــــان دې مــــرور کــــــړو
د ژبــــې ســــره پــــه قينچــــې دې پرېکومــــه

يا دا چې :-

زمــــــا د زړۀ ســـــــخته ازغيـــــــه
د عقــل ســتن درپســې وړم نــۀ دې مومــه

پکار خو دا وي چې :-

ســــتن د ښـــو کــــړه تــــار د زلفــــو
زمــا د زړۀ پرهــار پــرې اوګنــډه مئينــه
ســــتن د ښـــو تــــه حاجـــت نشـــته
مخ تـه مې ګـوره چې دې جـوړ شي پرهرونـه

هر څوک په خپل هنر ستائيلے شي . دوئي ټول د معاشرې د ژوند په تعمير او ښائست سېوا کولو کښې لاس کوي . د ناوې کالے کۀ زرګر جوړوي نو کالي

يوازې د سرو سپينو نۀ وي ځوک د کردار په کالي جوړولو اختـه وي ځوک د علـم د کالي جوړوؤنکي وي ځوک د پوشاک کالي تياروي ـ کۀ د ناوې يا د پېغلې نظر په زرګر وي ولې اصل مقصد ئې د تن زيبائش سېوا کول وي چې پـه ستائينو راشي نو به وائي چې :-

صـــورت مـــې زر يـــار مـــې زرګـــر دے
ځکـه ئـې هـر مـالي د غـم پـه انګـار بېدينـه
د ســـترګو تـــور لالـــے مـــې ورک دے
پـه زرګـر ناسـته يـم څيـره ئـې جوړومـه
زړۀ مـــې نـــادان زرګـــر کوشـــېر کـــړو
د اســـوېلو ســـره ئـــې خبـــرې کوشـــېرونه
د زرو قـــــــدر پـــــــه زرګـــــــر وي
د جونـــو قـــدر پـــه نـــادانو زلمـــو وينـــه

د زرو په استعمال زرګر پوهېږي ـ دا د هغۀ هنر دے ـ دا ئې روزګار دے ـ د زرګر هنر ناوې ښائسته کوي ـ زرګر چې ددې کار دپاره کوم څۀ پکاروي هغه زر دي ـ ولې د زرګر د هنر طلب چې معشوقه د چا دپاره کوي هغه ورته ددې نه زيات محبوب وي ـ کله چې د خپلې دې مينې اعتراف هغه کوي نو وائي چې :-

کـــۀ ټـــول جهـــان راتـــه ســـرۀ زر شـــي
چې مې جانان راسره نۀ وي څۀ به ئې کړمه
کـــۀ د دولـــت ناچـــاري نـــۀ وے
مـا بـه مې خپـل جانـان پـه سرو زرو تالـۀ نه

ناوې چې ناوې شي نو ښائست ئې څرګند شي ـ په کالۀ د دلبند شي ـ هم هلته ئې ژوند شي ـ په داسې حال کښې کله نا کله يو بل ته خاندي يوبل ته ژاړي ـ په يو بل وياړي ـ بيا يو د بله مينه هم غواړي ـ کله رضا وي کله جنګونه ـ بيا ئې تېرېږي داسې وختونه ـ يا ناقلاره يا په قلار وي ـ کله دادا به ورته په قار وي ـ په ځينې وخت پرې د ادې وار وي ـ ښځه خاوند وي دا ئې روزګار وي ـ دواړه روان بيا په يوه لار وي ـ لښته لښتۍ شي ناوې ادې شي ناوې ابۍ شي ـ کله چې لښته ستائيلے کيږي کله چې لښته چاته کله يادېږي دا ئې وېناوي داسې به وائي چې :-

داسې نرۍ ئې لکه لښته
زۀ د نروچکې لښتې ډېر قدر کومه
ښکلې نرۍ ئې لکه لښته
کوم بختور به دې رباب د غېږې کړينه

# کلچر او تمدن

## ( حجره ، د یره )

د پښتنو په معاشره کښې نارینه د بهر او زنانه د کور ده . د کور او د بهر بېلې بېلې ذمه وارۍ وي . د ښځو د ژوند قېصه په خپل ځائے اهمه ده . د نارینه ؤ د ژوند قېصه خپل اهمیت لري . دواړه د ژوندانۀ د باغ او ګلستان کرونده ګردي . کور په زنانه ؤ اباد وي او حجره د سړو ده . د حجرې روایت په پښتنو کښې ډېر پخوانے دے . د دوئي د کلي مېنځ حجره ده . ټول پکښې راټولېږي . چې پکښې ناست وي خپله به وائي د بل به اوري . د هرې ښې بدې نه په حجره کښې خبرېږي کشران د مشرانو نه زدکړه کوي . د هغوي د تجربې نه فائده پورته کوي . د هغوي لیدلي کتلي او اوریدلي ځان ته مخې ته ږدي زړۀ ته ئې اچوي . چې ښۀ وي ښۀ زده کوي چې بد وي ځان ترې ساتي . داسې وائي چې یو ځلې د بهلول نه چا پوښتنه وکړه چې ادب دې د چا نه زده کړے دے . هغۀ اووئیل د بې ادبو نه . وئیل ئې دا څۀ رنګې . وئیل ئې په کوم کار چې به ماته خوک بد ښکاره شو هغه به ما نۀ کوؤ . خپل ځان به مې ترې ساتو . حجره د پښتنو یو داسې تربیت ګاه ده چې کشرے کهول پکښې د خپلو مشرانو نه زدکړه کوي . دا د آدابو عملي تربیت ګاه وي . ښۀ آداب هم پکښې زده کیږي په بدو هم پکښې اوړي .

د حجرې په روایاتو کښې غم ،خوشحالي دواړه شامل دي . د ورځې پکښې لوبې او انتظار کیږي د شپې پکښې منګے ستار ټنګېږي . پخوا چې لا د نوې زمانې دا د وخت تېري ذریعې نۀ وې نو د حجرې مېلس به د رباب د نغمو او د اولسي سندرغاړو د سندرو او ټپو محتاج وو . قېصه بړدۍ به پکښې کېدې . لنډۍ او اوږدې قېصې داستانونه پکښې وئیلې کېدل . چې مجلس به تود شو او ,,یه که زار،، به لړه کړے شو نو حجره به راویښه شوه . رامخ ته به شوه . د حجرې هره ښۀ

بده به د مېلسيانو د ستائينو موضوع شوه ـ د مدنيت په ښاريه کښې به د حجرې اهميت او حېثيت داسې په ګوته شو ـ

بيــا بــه حجــره کښــې مــېلس تــود شــو
پــه دوه لاســې مــنګے زمــا لالــے وهينــه
پــاس پــه حجــره د ټوپــک ډز شــو
نــامړده پورتــه شــه چــې مــلا دې اوتړمــه
تــهٔ د حجــرې پــه ګــوټ کښــې مــړ شــې
چــې جنــازه دې د حجــرې نــه پورتــه شــينه
چــې مــې جانــان حجــرې تــه راشــي
زلمــي تــول پاســي ورتــه وکــړي ســلامونه
پــه حجــره بيــا مســـته غوغــا ده
زلمــي تيــار دي جــوړې بيــا غــزا لــه ځينــه
حجــره د تــول کلــي د ســره
د نيمــو شــپو کــور تــه زمــا لالــے راځينــه
حجــره خــو ځــائے د مېلمنــو دے
چــې جانــان ناســت وي مېلمانــهٔ خوشــحالوينه
حجــره خــو ځــائے د مېلمنــو دے
خــو عاشــقان هــم پکښــې غــم غلطوينــه
حجــره کښــې ناســت چــيلم پــه لاس يــم
لــوګي ســره کــړم رنګــا رنــګ د غــم آهونــه
څــوک چــې حجــره ســاتلے نــهٔ شــي
نــو د پښــتو دعــوې دې نــهٔ کــوي مئينــه
د حجــرې ګــوټ تــه مــهٔ ودرېــږه
د شــين خــالي زړهٔ کښــې بــه ويــره پېــدا شــينه
د حجــرې غلــے شــان را وځــه
زهٔ پــه کوڅــه کښــې انتظــار درتــه کومــه

زمـــــا د يـــــــار ديــــــدن يـــــــاد يږي
هغــه ظــالم شــيپې پــه حجـره کښـې تېروينــه
کتهونـــــه ســـم کـــړئ پـــــه حجـــره کښـــې
د زلمـــــو ډلــــه بــــه مجلـــس درتـــه کوينـــه
مالـــــــه حجـــــري تــــــه چـــــيلم راؤړه
کلــي وال نشــته پــه پتهــو کښــې کــار کوينــه
د حجـــــري ګـــوټ دربانــــدي پريوځــــــه
چې د چيلم شپېلۍ دې خولـۀ کښې پاتې شينه
د حجـــري بـــش دربانـــدي مـــات شـــه
چــې پــه تکليــف کښــې درتــه زۀ دريــاده شــمه
د حجـــــري ور ورتــــــه جـــــارو کـــــړئ
نـــن مېلمانـــۀ د اتمــانزو راغلـــي دينـــه
د حجــــــري ډز د ټوپـــــــک راغـــــــــے
جانــان پــه طپــع د ے صــبا جهــاد لــه ځينــه
حجــــــــره د تهـــــول کلـــــــي د ســــــــره
د نيمـــي شـــپې مـــنګے زمـــا لالـــے وهينـــه
حجــــــــره د تهـــــول کلـــــــي د ســــــــره
د منګــــوتيې د ټنـــګ اواز د يـــــار راځينــــه
حجــــــره پـــــــه خلقـــــــو ښائســـــــته وي
چـې خلـق نـۀ وي حجـره خوشــې پــاتې شــينه
تـــــا د حجـــــري مـــــېلس تمـــــام کـــــړو
زۀ د بانــــدار جينکـــــــۍ اوس راټولومــــــه
بيـــــا بــــه حجـــري طـــرف تـــه نـــۀ ځـــم
د بلـــو ســـترګو يـــار پـــه زړۀ ويشـــتلې يمـــه
اور پــــــه حجـــــره کښـــــې لابلېـــــږي
زمـــا پـــــه زړۀ بانـــدې وربـــږي ديدنونـــه

چـــې مشـــر خـــان بابـــا ژونـــد ے وو
د پښـــتنو پـــه حجـــرو بـــل وو مشـــالونه

نارینه مېلمانهٔ په حجره کښې عذر کیږي .دا ئې د شپې د تېرولو ځائے هم وي او مېلمستیا هم ورله په حجره کښې ورکیږي .پښتانهٔ کهٔ څهٔ هم خوار غریب خلق دے ولې په دې ویاړي او دا وائي چې کهٔ زړوکي مې زاړهٔ دي خو هډوکي مې ماړهٔ دي .داسې وئیلې شي چې د سوات د سیمې یو مېلمه کوزه په سمه کښې د چا نواب حجرې ته ورپېښ شو .مېلمه ؤ ، شپې راخپستے ؤ ، خلاصون ترې نهٔ ؤ ، په حجره کښې ناست ؤ .چې نواب صېب راغے ستړي مشي پخېر اوشو .نواب صېب د مېلمه نه تپوس وکړو .مېلمه د کوم ځائے ئې د خېره ؟ مېلمه په ورته په جواب کښې خپل ځائې ځائیګے په ګوته کړو .وئیل ئې مېلمه دا راته ووایه چې ستاسو په دغه کلي کښې د ټولو نه زیات مالدار څوک دے .نو مېلمه ورته په جواب کښې اووئیل چې نواب صېب زما د کلي د مالدارو نه به څهٔ جوړ کړي . خو اول به ستا تالے وګورم کهٔ چرګ دې راله را اوویستو نو یقین ساته چې کهٔ په ما راپېښ شوې نو ګډه به درله حلال کړم .دا ؤ د حجرې مېلس او د حجرې خبرې . ددې نه کشران عبرت او سبق حاصلوي .دا په روایاتو کښې شامليږي .ددې نه تمدني اقدار جوړيږي .مېلمه مېلمه وي .په هر چا ګران وي .چې حجرې ته راشي نو خدمت ئې لازم شي .ددې حاجت نهٔ وي چې جېب یا بډې دې ئې اولټولے شي . د درنو خلقو درنې خبرې او درانهٔ روایات وي .دا پښتو ده دا پښتونولي ده . الفستون په دې مئین ؤ .رډیار ډکپلنګ دا ستائیلې ده .دا چې وائي چې پښتانهٔ مېلمه ته په لستوڼو ګډېږي .دا رښتیا دي .دا څهٔ د نن خبره خو نهٔ ده .د پخوا راسې دا دستور هم دغسې را روان دے .نو کهٔ په یو وخت کښې د خوشحال بابا د خولې نه خپل مېلمه ته دا وتي وو چې ,, مېلمه خوره خوره ، ځان مړوه ، غر په غر ورځي خوشحال خټک په چا نهٔ ورځي ،، نو کله چې حالاتو پېر وخوړو او هغه د خپل دغې مېلمه په دېره ورپېښ شو .نو هغې مېلمه ته ئې دا خبره وریاده شوه ورته ئې ووئیل چې ,, مېلمه خوره خوره ځان مړوه ، غر په غر نهٔ ورځي ، خوشحال خټک په سرې ورځي ،، دا د حجرې د مېنځ خبرې دي .دا د پښتونخوا روایات دي .چې څوک ئې واوري او زړهٔ ته ئې واچوي نو هم ئې د ځان د فائدې

کړي او هم ئې د بل د خبر کړي ـ اوس نو چې مېلمه داسې شو نو څوک به ئې څنګه هېر کړي ـ هم به ئې عزت کيږي هم به ئې خدمت کولے شي ـ مېلمه کۀ د کور وي او کۀ د حجرې وي قدر ئې پکار وي ـ دا د پښتنو د ثقافت يوه بنيادي تيګه ده ـ يو لرغونے روايت دے ـ يو داسې روايت چې هر پښتون ورباندې فخر کوي خپل او پردے ټول ورته ښۀ وائي ـ په دې چې مېلمه خپل نصيب خوري ـ دا چې وائي چې :-

خاونـــده ټولــــه مـــې تـــرې ځــــار کـــړې
د يــــار د کلـــي مېلمانـــۀ راغلـــي دينـــه
مېلمـــه راځـــه تــــۀ ســـتړے مــــۀ شــــې
سترګې مې دواړه ستا په لور نيولي دينه
چرتـــه چـــې ځـــې پـــه مــــا مېلمـــه شــــه
چې د بالخت په ځائے مې زړۀ درلاندې کړمه
مېلمـــه لـــه هـــر چـــا پـــه مــــا ګـــران دے
کۀ نور څۀ نۀ وي دا خپل زړۀ به ورته ږدمه
خــــدائے دې زمــــونږ کــــره مېلمــــه کـــه
چې درته کېږدم د سورکو شونډو سرونه
نـــــن مـــــې همزولـــــې مېلمنـــــې دي
پـــه چـــم کښـــې ګـــرځم بالښـــتونه ټولومـــه
حجــــــره د ټـــــول کلـــــي د ســـــــره
خـو مېلمانـۀ مـې زمـا جـان عـذر کوينـه
نـــــن مـــــې همزولـــــې مېلمنـــــې دي
شـولې لمـدې دي چـرګ نيـول نـۀ راکوينـه
مـــا وے مېلمـــه دے اوس بـــه لاړ شـــې
ښلتـــون زمـــا پـــه زړۀ قـــلا ودانوينـــه
ارمـــان ارمـــان جانـــان مېلمـــه دے
ماښـام راالنـدې شـو نااشـنا وطـن لـه ځينـه

څوک هم چې کله د چا په کور دېره شي يا ورباندې مېلمه شي نو په کوربه باندې ئې خاطر مدار لازم شي .دا د مېلمه حق دے .داسې وائي چې ,, مېلمه خپل نصيب د ځان سره راوړي ،، د هغه د خوراک ارام او حفاظت ذمه کوربه ته وروغاړه شي .تر هغې وخته چې مېلمه رخصت شوے نۀ وي .بيا کله داسې هم کيږي چې مېلمه پکښې خپلې مرضۍ او اختيار ته هم پرېښول غواړي .لکه چې وائي چې ډوډۍ هم تياره ده او کشتۍ هم تياره ده .کله داسې هم وي چې څوک په لاره لاره د چا ملګرے شي چې بېلېږي نو يو بل ته د مېلمه کېدو ست وکړي .يا په کوم حال کښې چې ئې څۀ خواږۀ ښبنۀ ضروري نۀ وي نو په داسې موقع دا چې وائي چې يو په ست ښۀ ښکاري او بل په نه خوړو .دا روايات ډېر قديمي دي .لا اوس هم ورباندې عمل کيږي .څوک ئې نظر انداز کوي نه او نۀ پرې څوک بد مني .د مينې او محبت د خاطر دار مدار د دوؤ زړونو په نزديکت وي .داد هر چا حق نۀ شي کېدے او نۀ ئې څوک د غېر غماز سره کولے شي .ولې هاغه چې د چا حق هم وي کۀ په هغۀ هم احسان ور اړوي نو ورته وائي چې :-

خاطر دې ډېر راباندې ګران دے
زۀ په ملالې خولګۍ لاس کله پرېږدمه

کله نا کله په کور حجره دعوت يا بلنه هم کولے شي .دعوت د مينې اظهار وي .د دوستۍ او تعلق يادګيرنه وي .دا د سود پېرزوئنې يو قسم دے .چې په معاشره کښې په يو بل کولے شي .دعوت په ګڼ قسمه وي .ولې مينه او محبت يا صلحه کول او روغه راوستل ئې هم يو مقصد وي .دې ته بلنه هم وائي .پخوا د بلنو رواج په پښتنو کښې عام ؤ کله به په داسې موقع طنزاً هم وئيلې کيږي چې :-

لاليه ښۀ خبتهٔ مړه که
مدام به نۀ وي د خانانو دعوتونه
په اشارت به دې رابلم
په زلمو وروڼو به دې پړوکي کړمه

حجره د وخت تېري ،دمه کېدو او د زړۀ خوشحالولو ځائے هم دے .دلته زلمي هم راټولېږي چې د لوبو وخت وي ځان په لوبو مشغولوي .ولې چې وخت د مېلس وي نو مېلسونه باندارونه هم پکښې جوړوي .وختونه چې لا په پخواني حال ؤ نو

زلمو به د وخت تېري او د ځان خوشحالولو دپاره په حجره کښې به رباب منګي او پېغلو به په تمبل داريا ټنګولو ځانونه خوشحالول ـ دا د باندهار او مېلس روايتي ضرورتونه وو ـ کۀ رباب به په حجره کښې ستني ته اوېزان ؤ نو تمبل به هم په کور کښې چرته مېخ ته راځوړند ؤ ـ چې په حجره کښې به رباب کښېتې شو نو د حجرې خلق به دم شو ـ داسې لکه چې رحمان بابا وائي :-

هـر مطـرب چـې غــوړې تــاؤ کـړي د ربــاب
پــه دې تــاؤ کښـې زمــا زړۀ کانـدي کبــاب

په دغې وخت کښې بس هم څۀ داسې کېفيت وي په دې چې د رباب په ټنګ خو د درخو د سر نه څادر پريوتے ؤ ـ کۀ پرون داسې شوي وو نو نن به ولې نۀ کيږي ـ

ټنـــګ د ربــاب چــې مــې تــر غـــوږ شــي
لکـــه درخـــو د بلـــې سـر تـــه وخېژمـــه
ټنـــګ ورکـــوه چـــې وخـــت د ټنـــګ دے
بيـا بـه د ژونـد پـه رباب سُرنۀ کړې تارونـه
چـــــې د آدم د ربــــــاب ټنـــــګ شــــو
د درخـــانې خوبونـــه والوتـــل مئينـــه
يـــــا د آدم د ربـــــاب ټنـــــګ دے
يــا د وړې درخـــو د نــاز خنــدا راځينــه
د ربـــاب ټنـــګ مـــې دې تـــر غـــوږ شـــو
لکـــه درخـــو ټولـــه د خـــوده اووتمـــه
بېلتـــون ربـــاب پـــه لاس کښـــې راکـــړو
اوس ئــې د خيــال پــه ګوتــو رو رو ټنګومــه
پـــه ربـــاب ټيټـــې پـــردې نيســـه
د دېــرې خـــوا تـــه جينکـــې ولاړې دينـــه
ربابـــه څـــۀ کـــانې دې وکــــړې
د درخــانې د ســر دې کــوز کــړۀ څادرونــه
ربـــــاب دې رو کـــــــړه آدم خانـــــــه
ســوے اواز ئـې درخو خـوب تـه نۀ پرېږدينـه

ربابـــه مـــات شـــې وار دې تېـــر شـــه
مئـين پـه مـا دي ځـان پـه تـا مشـغولوينه
ربابـــــه څـــــومره بختـــــور ئـــــې
لالـے زمـا دے تـا پـه غېـږ کښـې ګرځوينـه
ربـــابي داســـې ربـــاب سُـــر کـــه
چـې مـې د زړۀ تارونــه وکـړي اوازونــه
ربـــابي داســـې ربـــاب ټنـــګ وه
چې پـه نغمـو سـر شـي زمـا د زړۀ تارونـه
ربـــاب پـــه بـــرو پـــړدو نيســـه
د حجـرې ګـوټ لـه جينکـۍ راغلـې دينـه
ســتا د بـوړې ربـاب چـې ټنـګ شـي
کنـډول پـه لاس منګـي تـه تـږے ودرېږمـه
کـــۀ د ربـــاب چـــل مـــې زده وے
مـا بـه د خپلـې ځوانۍ ويـر پکښـې کاوۀنـه
د غـــم ربـــاب راتـــه غږيـــږي
د غـم شـهباز پکښـې وهعـم مصـرعې کومـه
د غـــم ربـــاب راتـــه غږيـــږي
د يـــار غمونـــه مـــې پـــه زړۀ راوروينـــه
تـــا چـــې ربـــاب پـــه غېـــږ کښـــې راکـــړو
نـــرۍ نـــرۍ خبـــرې ســـتا راتـــه کوينـــه
څنګـــه نـــرۍ ئـــې لکـــه لښـــته
کـوم بختـور بـه دې ربـاب د غېـږې کـړي نـه

د کور پـه چـار ديـوارۍ دننه چې جينکـۍ د بانـډار مـېلس جوړ کـړي نو تمبـل تـه ګوتې کړي ـ ددې اواز تر لرې لرې پـه چم ګاؤنډ کښې اورېد ے شي ـ هـم ورسره ګډاګانې کوي او هم ورسره سندرې وائي ـ ددې صـحيح وخت يـا موقـع هاغـه وي چې په کورنۍ کښې کله وادۀ ښادي وي يـا کـوژدن سنت وي يـا د چـاکره ناويـاتـه ماشوم پيدا شي ـ په داسې موقع خوښندې ، خورلڼې پـه خپلـه هـم خوشـحاله وي او

د نورو مېلمنو د خوشحالولو کوشش هم کوي ـ چې تمبل وهلے شي ـ نو يادولے به هم شي وائي :-

تمبـــــل پـــــه شــــړق وهــــــه محبــــــوبې
صــبا بــه ګـــورم ســـتا د ګوتـــو پرهرونـــه
تمبـــــــل وهـــــــم ســـــــندرې وايـــــــم
دولــت شــيندم شــرمندګي کــور تــه راؤړمــه
چـــې غـــم کـــوي غـــم بـــه پـــرې زور شـــي
تمبــل راواخلــه د ګــودر غــاړې لــه ځونــه
چـــې غـــم کـــوي غـــم ئـــې پـــه کـــور شـــه
داريـا راواخلـه چې د سـيند غـاړې لـه ځونه

رسمونه رواجونه چې په يوه معاشره کښې د څۀ قسم هم وي ـ خلاصـون تـرې ګـران وي دستورونه لکه د روانو اوبو رودونه وي پورې وتـل راپـورې وتـل پـرې غـوړي ـ رسمونه هم دغـم ښـادۍ وي ـ هـم د قـامو قـامواليـ وي هـم د ورورولـيـ عزيزولـيـ وي هم د تپوس پوښتنې وي ، هم د سلام دعا وي هم د روغ ناروغه وي هـم د کلـي مالت وي ، دا د معاشرتي ژوند خوندونه دي ـ دا تهذيب د ے دې تـه تمدن وائـي ـ رسم و رواج ، دود دستور د هر چا وي هر څوک ئې پابند وي عمل پرې کوي ځکـه خو وائي :-

بــــاجوړ ښــــۀ دســــتور ئــــې بــــد د ے
پــه تــور څونــډي بــه د غنمــو لــؤ کوينــه
راشــــــه د حالـــــــه مـــــــې خبــــــر شــــــه
چې در معلوم شي د پښتو خوشي رسمونه
ګـــــــوتې بنګـــــــړي د دنيـــــــا دود د ے
زۀ د نيســـتمنه يـــاره نـــۀ غـــواړم دودونـــه
د مليـــــــــزو بـــــــــده دســــــــــتوره
پـه غـوړ څونډۍ بـه د شړشمو ګيډۍ وړينه
ســپيني ســپوږمۍ تــه شــه خولــه واخلــه
زمـونږ دسـتور د ے پـه رڼـا خولـه درکومـه

بـــوټي راټـــول کـــه اور پـــرې بـــل کـــه
زمـونږ دسـتور دے پـه رڼـا خولـه درکومـه

د ژوند روزګار هسې خو نۀ چلیږي ـ دې له څۀ بانه څۀ ذریعه څۀ لاره ګودر او څۀ مخه هم ویستل پکار وي ـ هسې خو عملي ژوند په ډېرو معاملو پورې تړلے شوے دے ـ هر څوک په خپل کار کسب کښې بوخت وي ـ د خپل کور دپاره رزق روزي پیدا کوي ـ په دې کښې مصروف وي ولې کله داسې هم وي چې لوبو تماشو ته ئې هم زړۀ اوشي ـ د بازار سودا ئې پکار شي ـ ټال واچوي چې اوزانګي پرې په جاله کښې کښېني یا په کجاوه کښې سور شي ـ لکه چې نائي مشاطې ته ئې ضرورت وي دغسې ترکاڼ د روزګر ئې هم پکاریږي ـ دا د عملي ژوند ضرورتونه او حاجتونه دي ـ کله د خپلې خوشحالۍ دپاره کول وي او کله پرې بل خوشحالول غواړي ـ

اخـــــر بـــــه دا بـــــازار ورانیـــــږي
خـارو د نـاز پـه ګوتـه څـۀ لـه څـان څنډینـه
د دنیـــــاګۍ بـــــازار بـــــه وران شـــــي
کـم عقــل خلــق پــرې بنګلــې ودانوینــه
پـــــه بـــــازار بلنـــــدي شـــــوې لالیـــــه
نادانـــه تښـــته زۀ بـــه لنـــډه ننوځمـــه
د دنیـــــاګۍ بـــــازار بـــــه وران شـــــي
خـــارو د نوکـــو پـــه ســـر ولـــې تلـــۀ کوینـــه
پـــــه مـــــا دې وکـــــړه پـــــه تـــــا اوشـــــه
چـې پـه تـا کیـږي تماشـې لـه بـه درځمـه

د پښتنو په سیمه نه هر چرته سیندونه ګودرونه وي چې جالې پکښې ګرځي او نۀ هر ځائے دشتونه سرابونه وي ـ چې کجاوې ورله پکار وي ـ ولې بیا هم د ببل ببل طرف ببل ببل حاجتونه او ضرورتونه ضرور وي ـ ځکه نو هم به جاله غواړي هم به کجاوې ته حاجت پیښیږي چې داسې وي نو بیا خو :-

جالـــــــه دې تـــــــړه جالوانـــــــه
ستـا پـه جالـه کښـې د حصـار بابـا لـه ځمـه

نـــــامړدي څـــــۀ تـــــه راتـــــه ګـــــوري
اوربـــــل جالـــــه کـــــه دواړه زلفـــــي طنابونـــــه
جالـــــــه لاهـــــــو کـــــــړه جالوانـــــــه
ناوختـــــه کيـــــږي د اشـــــنا ديـــــدن لـــــه ځمـــــه
عالمـــــه نـــــن مـــــي زړګـــــي ښـــــۀ دے
د کجـــــاوې لانـــــدې جانـــــان راســـــره ځينـــــه

د ښېلتانۀ په لوبه کښې د ترکاڼ ذکر يو فطري عمل دے۔ ترکاڼ د ښېلتانۀ د سفر ورستے تابوت هم جوړوي او د مسافر د دايمي سفربندوبست ئې هم کوي۔ ولې ترخځ هم ځان ته وهي۔ دے د ښېلتانۀ ملګرے ګڼلے کيږي وائي۔

ښېلتـــــون پـــــه اصـــــل کښـــــې ترکـــــاڼ دے
د زړۀ قطـــــرې مـــــې پـــــه ترخځـــــه پرېکوينـــــه

ټال اچول، په ټال زانګل او ټال خېژول يو انساني کمزوري ده۔ دا لکه د هاغې وخته رواج شوے دے چې انسان لاد تمدني ارتقاء په وړمبي سر کښې چرته په ځنګلونو کښې اوسېدو۔ په هاغه زمانه به ئې د اونو په ښاخونو زيلانګو زانګل۔ په معاشرتي ژوند کښې خپل دغې عادت ته لېواله ؤ۔ د خپلو بچو د خوشحالولو او ارامولو دپاره ئې د ټال، زانګو حاجت محسوسوؤ۔ دغه حاجت به ئې کله د کور د برګې په تيرونو کښې ترسره کوؤ او کله د دنګو اونو په ښاخونو کښې په ټالونو اچولو۔ ټال د ماشومانو، د پېغلو، جينکو او زلمو هلکانو د خوښې شے دے۔ زانګي پرې او خوشحالېږي وربانديې۔ د ژبې په محاوره او متل کښې ئې هم ډېره اغېزه کړې ده۔ په ټپو سندرو هم يادېږي او ستائيلے کيږي۔ داسې لکه چې وائي:-

کـــــۀ زۀ خبـــــر وے چـــــې بـــــه شـــــلېږي
د فکـــــر ټالـــــه زۀ بـــــه ولـــــې درختمـــــه
راځـــــه چـــــې دواړه پـــــه ټـــــال زانګـــــو
ټال به بانه کړو ستاسو کور به سيئ کوؤنه
راځـــــه چـــــې دواړه پـــــه ټـــــال زانګـــــو
ټـــــال بـــــه بانـــــه کـــــړو د سـيـنـې جـنـګ بـه کـوؤنـه

ما وې يوازې زما يار ئې
د کلي ټال ئې خلقې دې زنګوينه
ته چې په ټال کښې زنګېدلې
ما زنګول په تصور کښې خپل غمونه
خود به د ټال په شان زنګېږې
څوک چې د زلفو په ټال اووهي ټالونه
ته هوا ګيره په ټال خېژه
زۀ به په لاره تيند کونه خورم مئينه

چې کور کېدلې روانه وې نو د خپلو خپلوانو او د چم ګاونډ په خېر خبر او تپوس پوښتنه هم خلق پرۀ شي ـ دا ورله ضروري شي هم د خوېښي دوستۍ د مخه هم د خپلوۍ اشنايۍ د کبله ، دعا سلام په هر چا فرض دي ـ دا د معاشرتي ژوند تقاضا ده ـ هم په دې زړونه يو تر بله نزدې کيږي ـ روغ رنځور هر چاته پېښېدې شي ـ په داسې حال کښې تسلي او ډاډګيرنه يو فطري عمل وي ـ هر څوک د همدردۍ طالب شي ـ صله رحمي د عزيزولۍ ضرورت وي ـ ځکه پرې هر څوک خوشحالېښېږي ـ تسلي ئې پرې کيږي او خوشحاليږي ورباندې ـ دا دواړه پرې حاصلېږي دا احسان دے ، مينه ده ، تعلق دے تړون دے ـ چې دا نۀ وي نو بيا کۀ څوک داسې اووائي چې :-

څوک مې د حاله خبر نۀ شو
زۀ د بېلتون په اور کښې اوچ کخکرے شومه
څوک مې د حاله خبر نۀ شو
په خپلو وينو کښې مې زړۀ اوتلېدونه
په حال مې هيڅ څوک نۀ خبرېږي
زما د زړۀ وينې خوراک شوې مړ به شمه
زما د حال تپوس تري اوکه
مخې له ستا مې درلېږلي ارمانونه
ښۀ شوه چې حال دې رامعلوم شو
ما سرو مال په تا شيندو هوښياره شومه

ښـــهٔ شـــوه چـــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
یـه مـوزي خانـه تـل تـور بـرېښ بـه دې کاؤنـه
ښـــهٔ شـــوه چـــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
د مېـــرې ځـــوزه د ازغـــو دې ډکـــه کړمـــه
ښـــهٔ شـــوه چـــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
کـور تـه دې راغلـم مـور دې لنـګ وهلے وونـه
ښـــهٔ شـــوه چـــې حـــال دې رامعلـــوم شـــو
د مېـــرې خـــراړه د ګـــذاره ســـره ځینـــه
خـــدائے دې زمـــا پـــه حـــال خبـــر کـــړه
چـــې ناســـته ملاســـته دې د غمـــه ســـره شـــینه

د معاشرتي ژوند په آدابو کښې دعـا سـلام هـم یـو لازمـي عمـل دے ـ ددې حاجت هر وخت وي ـ هم په تلو کښې هم په راتلو کښې ـ چې تـګ راتـګ او لیـدل کتـل د ژوند معمول وي نو لازماً د دعا سلام حاجت هم پکښې پېښېږي ـ دا د معاشـرې د روزمره ژوند حصه ده ـ کول غواړي او چې کولے شي نویادولےهم شي داسې لکه:-

د ســــترګو تــــور د زړهٔ مرهمــــه
پــه غــم شــریک اشــنا ســلام درتــه کومــه
مـــا د ســـورو نـــه ســـلام ناخېســـت
نصـیب محتـاج کړمـه د پلـو منـت وړمـه
زمـــا ســـلام پـــه ځـــان منظـــور کـــه
د مســـافرو ســـلام کلـــه کلـــه وینـــه
ســـلام پـــه دواړه لاســـه واخلـــه
د مســافرو ســلام هــر مــال نــه راځینــه
ســـلام پـــه ســـرو شـــونډو مـــزه کـــا
د مســـافرو ســـلام ځـــي پـــه کاغذونـــه
بېلتـــون پـــه لار مخـــې لـــه راغـــے
مـا وې سـلام کـوم دهٔ وې کـور دې ورانومـه

مـــا ئـــې د کبـــره ســـلام ناخســـت
اوس ئـې ژړا پـه تـش دیـدن پسـې کومـه

تپوس پوښتنه د معاشرتي ژوند يو اهم جزو دے ـ په دې هر څوک پرۀ دي ـ دا د هر چا په غاړه وي ـ ۀ په چم ګاؤنډ کښې وي او کۀ د خپلو خپلوانو وي ـ کۀ داسې نۀ وي نو ګیله خفګان پیدا کیږي ـ ځکه نو د دې پابندي ضروري وي دا چې وائي :-

چــې پــه پوښـــتنه مـــې رانغلـــې
د جنــازې لانــدې مــې مـۀ ځــه مختورنــه
څـــانګې پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه
صـبا بـه بیـا رالـه راځـې پـه زړۀ غمژنـه
څـــانګې پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه
د وینـو سـرې جـامې بـه تاتـه پـاتې شـینه
اشـــنا پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه
ستا د هجران پـه تبـه پـروت یـم مـړ بـه شـمه
پــه مــرګ دې نــۀ مــرې جانــان ګــران دے
ناروغــه ښــۀ دے چــې پوښــتنې لــه ورځمــه

روغ ناروغه په ژوند کښې پیښیږي څۀ ښۀ وائي چې په یو حال خو یو خدائے دے د ګوشت پوست نه جوړ انسان له هم صحت شته هم ناجوړتیا ـ چې روغ وي خو روغ وي چې ناجوړه شي وجود په ضرور شي ـ سړے معذور شي ، کمزوري راشي تن بې مجاله شي ـ د وجود یوه حصه هم کۀ اودرد یږي ټول وجود ورسره بې قراره شي ـ ناروغي انسان له او انسان ناروغتیا له پیدا دے ـ وائي چې انسان ناروغه شي د خدائے پاک یاد شي ځکه نو خدائے پاک هم ورپه یاد شي ـ چې په صورت روغ وي بیا نو غافل وي ـ غفلت ګناه دے غفلت حرام دے ـ

د نــــــاروغۍ دغــــــه فایــــــده ده
په کټ کښې پروت ووم په کتـاب مشغولیدمه
د نــــــاروغۍ دغــــــه فایــــــده ده
چــې مــرور جانــان مــې راغــے پــه پوښــتنه

پــه مــرګ دې نــۀ مــري جانــان ګــران د ے
پـه کټ دې پریـوځي چـې پوښتني لـه ورځمـه
دا ناجوړتیــــا دې هـــــم رحمــــت د ے
چې پـه کټ پروت وم ستا پـه یـاد مشغولېدمه

ښۀ ګاونډي د خدائے رحمت وي ۔ ځکه خو وائي چې د خپل ګاونډي سره د ځان په شان مینه کوه ۔ د ګاونډي په حق ګاونډي نیولے د ے ۔ نو په داسې حال کښې پښتني معاشرې هم د خپل ګاونډي حق منلے د ے ۔ هسې خو نۀ وائي چې :-

کـــۀ ګاونــــډیانو چـــرې حـــق وي
تــۀ بــه زمــا پــه حــق نیــولے ئــې مئینــه
ســـتا پـــه مالـــت کښــې زمـــا ځـــۀ دي
زړۀ شـــرمولے یـــم پیـــرې ورتـــه کومــــه
راځــــه چــــې لــــرې چرتــــه لاړ شــــو
ددې مالــت لــه خلقــو ډېــره تنګــه شــومه

خبره دې له راشي چې :-

راه ورســـــم لـــــره خلقـــــو ســـــره ســــم
دغــــه د ے د پښــــتونخوا رســــم اعظــــم
یــادوه د خــالق نــوم پــه هــر ســاعت کښــې
در پـــه یـــاد بـــه شـــي اخـــر اســـم اعظـــم

د راه و رسم په لاره معاشرتي ژوند پرمختګ کوي ۔ دا دستورونه ، دا قاعدې قوانین چې معاشرې په ځان منلي دي ددې غرض او مقصد صرف دا د ے چې معاشرتي ژوند په لار وي ۔ مهذبه وي متمدنه وي په دې کښې دې څۀ ګونډې وراني نۀ راځي ۔ په کومه تېره زمانه کۀ د سړبني قبائیلو د برې پښتونخوا نه د رابدر کېدو نه پس او په سمه سوات د دوئي د پریوتو نه وروستو حضرت شېخ ملي ابن آدم دوئي په خپله خپله ټولنه کښې د برابرې حصه دار او حقدار کول او ددې دپاره ئې ځینې داسې بنیادي اصول او قواعد وضع کول چې ټوله قبیله ورباندې دغه لاره او نیسي نو مقصد ئې دا احتمال د مینځه وړل وو د کوم نه چې د صله رحمۍ ،ګاونډ ګیرۍ ، زیست مروت او د یو بل سره د همدردۍ د عمل

ختمېدو ته خطره پېښېدې شوه ـ يا پکښې د عزيز ولې په ځائے د موروثي سردارۍ او خود سرۍ روايت له وده ورکېدے شوه ـ هغه به کله چې دعا کوله نو وئيل به ئې چې دا هر څۀ چې ما کړي لله فی الله مې په دې غرض کړي دي چې په دې اولس کښې اتفاق او اتحاد قائم پاتې شي ـ د صله رحمۍ او باهمي تعاون او د احسان او خير ښېګړې جذبه ئې ژوندۍ وي ـ نۀ ورپاندې څوک تېرے کولے شي او نۀ دوئي د يو بل په حقوقو څۀ بلوسه کولے شي او خپل معاشرتي ژوند د هاغې قاعدو قوانينو پابند کړي چې دوئي ئې په ځان اومني او قبول ئې کړي ـ دا پښتو ده پښتونولي ده پښتو اسلام دے او اسلام پښتو ده ـ څوک چې پښتون وي د پښتو ټول سپېځلي اقدار او روايات به مني او په هغې به ئې عمل وي ـ دا د دوئي دپاره هاغه بنيانِ مرصوص دے کوم پلو چې الله پاک او د هغۀ خاتم النبيينﷺ دوئي ته بلنه ورکړې ده ـ هر بې پښتو کار د اسلام د تعليماتو نه خارج دے ځکه نو دوئي هم ورته ښۀ نۀ وائي نۀ ورته کله د ښۀ والي نسبت کوي ـ د دوئي سرشت او فطرت کۀ هر څو دغه دے ولې کۀ کمے دے نو د تعليم دے د تربيت دے ـ د حجرې په رواياتو کښې د تربيت د باقاعدګۍ فقدان دے ـ ځکه د هر راتلونکي نسل په تربيت کښې څۀ نه څۀ خامي او کمے موجود وي ـ دغه خامي او کمے منفي پښتو شي دا فساد شي دا رنجشونه شي ، ورانے شي بدنيتي شي بدعهدي شي بې مروتي شي او هم دا په اصل کښې د فساد جرړ شي ـ کۀ په معاشره کښې په باقاعدګۍ سره د وخت د سره ديو ماشوم تعليم او د هغۀ تربيت له داسې وضعيت ورکړے شي چې ددې خاميانو او کمزورو څخه پاک وي ـ نو هاغه مقصد ته به لاره سمه شي د کوم خواهش چې د تېرو وختونو دغې صالحينو مشرانو په زړۀ کښې لرلے ؤ ـ او د کوم طلب او آرزو چې لانن هم د هر خوږمن په زړۀ کښې غزونې کوي ـ کۀ داسې اوشي نو حجرې به هم په صحيح معنٰی د عالي اقدارو تربيت ګاهونه شي مرکزونه به ئې شي ـ ټول به په جار دا چغې وهي چې لنډيه غوا يه په لوړه اوخېژه ځار اوکه څۀ چې نور کړي هغه هم تۀ کا ـ ولې که داسې نۀ وي نو بيا به د زړۀ د تل نه د يکه زار غږ سره دا ګيله مند اواز هم اورېدے کيږي ـ چې :-

نــــارې وهـــم غـــږ راتـــه نـــهٔ کـــړې
بيـا بـه جهـان راپسـې ګـورې نـهٔ بـه يمـه

کله چې يوشپونکے هم خپلې رمې څرولو او پوؤلو له بيائي نوشپېلۍ ورسره وي - شپون او شپېلۍ لکه چې لازم ملزوم دي .دا د هغهٔ د فطرت حصه ده .د کله راسې چې شپون د مرغزارونو اموخته شوے دے د شپېلۍ سره ئې مينه پېدا شوې ده .د پېړو زمانو راسې ئې دا په خوا پورې نيولې ده .په بډه ئې ګرځولې ده هم وربانديې مشغول شوے دے او هم ئې پرې خپلې رمې راپېنديې کړې دي - شپونکے د شپېلۍ په دې اعجاز د زمانو راسې خبردار دے .دا هاغه نې ده چې بلخي مولانا پير رومي د انسان په وجود موسوم کړې ده.

د شپېلۍ اواز کهٔ د لرې نه راځي او کهٔ د نزدې نه اورېدے کېږي دا په هر چا بنهٔ لګي دا د انسان په لاشعور کښې د پرتو رازونو د رابرسېره کولو ذريعه ده .د هندوانو هغې اوتار څوک چې شري کرشن نومېږي هغهٔ به هم شپېلۍ غږوله خپل د زړهٔ اواز ئې د شپېلۍ په ساز کښې شامل کړے ؤ .هندوان اوس هم چې د هغهٔ شبيه جوړوي نو شپېلۍ ئې په شونډو پورې لګېدلې وي.

د ساز او نغمې په قبصه کښې د شپېلۍ روايت هم ډېر قديمي دے .شپېلۍ د ډُرمې نه جوړولے شي.دا په شونډو غږولے شي.د سينې باد ورنه اواز وباسي.په دې غږېږي.ددې په غږ لکه چې د انسان تن هم د شپېلۍ سره يو شي.د بامراده او نامراده آرزوګانو او ارمانونو نغمې ورځنې راپورته کېږي .زړونه د شپېلۍ همراز شي.خپل رازونه ددې ملګري کوي.دا چې څوک اوري نو وائي :

بيـــا بــــه پېــزوان پــــه پــــوزه نــــهٔ کـــړم
اشـنا شـپېلۍ وهـې پېـزوان پکښـې سـتائينه
خاونـــــده داســـــې شـــــپېلۍ راکـــــړې
چــې د لېلــې کــور تــه ئــې رســې اوازونـــه
د نيمــــې شـــــپې پـــــه خـــــوب اودهٔ ووم
ستا د شپېلۍ غږ مې تر غوږ شو ويښه ئې کړمه
شــــــپېلۍ وهــــــې بتـېــــرې ګــــــورې
بتېـــرې نشـــــته هلــــک زهٔ ليـــدلې يمـــه

د مجلس ملګري هم چې راټول شي او د باندار په ټنګ ټکور ځانونه خوشحالوي نو کله بېلې بېلې او کله په ګډه سندرې هم ورسره وائي ـ دغه حال د پېغلو جينکو هم وي ـ هر کله چې پښتنه معاشره د دوئي د ګډون رواداره نۀ ده ـ ځکه نو د هلکانو جينکو دا غونډې پنډې جدا جدا وي ـ ددې مجلسونو خپل بېل بېل ماحول وي ـ سره ددې د دوئي په دې غونډو کښې د يو بل په ستائينه او يادونه څۀ قدغن پابندي نۀ وي ـ دا ده چې ښکاره ذکر ئې په نامه نۀ کيږي ـ لالے او لېلى يادوي ـ ټولې خبرې په شپېلۍ کښې کوي ـ د دوئي دغه سندرې د دوئي د زړونو ترجماني کوي ـ ځکه خو وائي چې :-

دا چـــې ســـــندرې مـــــې خــــوږې دي
زۀ سـندر غـاړې ښـاپيرۍ ښـکل کـړے يمـه
پــــه ســـــندر بولـــــو بانـــــدې راغلـــــم
زمــا او ســتا د مينـــې ســاز ئــې غږوونــه
يـــــو دې د غــــــواؤ غوبنـــــه کــــــړم
بـــل چــې ســندرې نــۀ وايــم څــۀ بــه کومــه

ځينې کسبه سندر غاړي او سازيان په معاشره کښې داسې هم وي چې مېلسونه په اجرت کوي ـ دا ډلې په وادۀ ښادۍ کښې رابللے کيږي ـ شوقيه فنکاران هم په داسې موقع د خپل فن مظاهره کوي ـ په دې هم مينه زياتېږي هم وينه ګرمېږي ـ زړونه هم يو تر بله نزدې کيږي دا د تمدن يوه داسې برخه ده چې مينه او خوشحالي پېرزو کوي او غمونه لرې کوي ـ

ســـازيانو شــــابېئ مـــېلس تـــود کـــئ
خانـــان راغلـــي شـــنۀ لوټونـــه ورکوينـــه

په داسې مېلسونو کښې سُرني نغارې هم وي ـ په دې مېلس تودېږي زلمي ورسره رقصونه کوي ـ خاندي خوشحالېږي ـ خوشحالي راولي غمونه شاته کوي :-

د نغـــــــــــارې اواز دې راغــــــــــــے
پـه زړۀ سـورے شـې يـاره اودې کـړه کوژدنـه

غږ او ناره هله کيږي چې څوک د چا پکار شي ـ چاته ورياد شي په زړۀ ئې را وريږي ـ ولې کۀ د ناري جواب ئې نۀ راځي نو ګيله ئې پېدا شي ، زړۀ ئې وټکېږي په داسې حال کښې څۀ بې ارزي شان ئې مخې ته ودرېږي او ووائي چې :-

نـــاري وهـــم غـــږ راتـــه نـــۀ کـــړې
بيـا بـه جهـان راپسـې ګـورې نـۀ بـه يمـه
دا نـــــاري مـــــۀ وهـــــه درځمـــــه
پـــه الـــه ډېـــرو دې ټـــوکرې نســـکورومه
نـــاري وهـــم نـــاري مـــې نـــۀ ورې
هله به ئې واورې چې زۀ تورې خاورې شمه

ناري لکه د ټپو ، مصرعو او ستائينو په رنګې وي ـ دا په عشقيه او روماني قېصو کښې هم اورېدے شي ـ اولسي شاعرانو جوړې کړې وي ـ اولسي شاعر د قام اواز وي د هغۀ په خولۀ کښې اعجاز وي دغه اعجاز هم نې نواز وي هم دلنواز وي ـ خلق ئې اوري د خلقو ورته غږ وي ـ ناري وي او کۀ ټپې وي د دوئي د خولې وي ـ چې کله نۀ وي نو خلق وائي :-

د پښـــــتنو شـــــاعران څـــــۀ شـــــول
چـې د حـالاتو نـه خپـل قـام نـۀ خبروينـه
شـــاعر د قـــام ســـترګې بينـــاوي
چې سترګې نۀ وي نو ړاندۀ ټکرې خورينه
د پښـــــتونخوا شـــــاعره وايـــــه
دا قـام پـه بـده ورځ بـه څـوک ژړا کوينـه
د پښـــــتنو شـــــاعران څـــــۀ کـــــا
پـه بـده ورځ چـې د قـام نـۀ کانـدي ويرونـه
د پښـــــتونخوا شـــــاعران څـــــۀ کـــــا
چـــې د هېـــوا د کړمـــې نـــۀ اوارويـنـــه
شـــاعره پورتـــه شـــه لمبـــه شـــه
چـې دا اودۀ پښـتانۀ ويښ لـه خوبـه شـينه

حقــــه بــــه وايــــم حـــق پرســـت يـــم
پـــه شـــاعرۍ بـــه اودۀ قـــام بېدارومـــه
شـــعر نـــۀ ســـحر نـــۀ جـــا دو وي
حقـــي خبـــرې نـــاخبره خبروينـــه

د شاعر اواز د سندرو هم وي په ټپو کښې کښې هم وي. دا د ژوند پېغام وي. د ازادۍ او حريت نغمې وي. د محبوب او جانان ستائينې او صفتونه وي. شاعر چې مينه ويشي نو په خوږه ژبه او په ټپو مصرعو سر وي. ټپه، ټکۍ، مصرعه، لنډۍ، ستائينه، غاړې او ويرونه ټولې د شاعر د خولې دي. دا د هر چا غوږ ته رسيدلې او په زړونو کښې ئې پرتې دي. په وخت پکارېږي. وائي.

ټپـــې کـــوم ټپـــې مـــې کـــار دے
زۀ پـــه ټپـــو د زړګـــي درد قلارومـــه
ټپـــې کـــوم ټپـــې مـــې ژونـــد دے
زۀ پـــه ټپـــو مـــې د زړۀ غـــم غلطومـــه
ټپـــې کـــوم ټپـــې مـــې ژونـــد دے
زۀ پـــه ټپـــو د جانـــان غـــم مشـــغولومه
د جانـــان غـــم مـــې هلـــه کـــم شـــي
چـــې څـــو ټپـــې پـــه زوره زوره اووايمـــه
د نيمـــې شـــپې پـــه خـــوب اودۀ وم
چا ځواني مرګ ټپه کړه پورته وينسه ئې کړمه

د ژوندي ثقافت دا بېل بېل رنګونه په ټوله پښتونخوا کښې هر پله خوارۀ وارۀ پراتۀ دي. دا د سمندر درياب ملغلرې دي. غواصان، مرجوناګان ورله پکار دي چې ددې درياب د تل نه ئې را وباسي راټولې ئې کړي. هارونه ورنه جوړ کړي او خپل اولس ته ئې د نېک مرغۍ په خيال ورپه غاړه کړي. کۀ پښتون وګړے د خپل کلتور، خپل تهذيب، خپل ثقافت او خپل تمدن نه ځان خبرول غواړي نو د خپل شفاهي ادب د ژورې مطالعې، تحقيق او څېړنې په کار دې خپل ځان پرې کړي. په دې کښې هر څۀ موجود دي ولې د سترګورو پامته دار دي.

د هر قام د غمونو او خوشحالو خپل وختونه، خپلې خپلې موقعې او خپل خپل دستورونه او رواجونه وي ـ کله دا د مېلو ټېلو وي ـ کله د ودونو ، ښادو وي کله د ډول ډماو وي او کله د غاړو ساندو وي ـ دا يو روان عمل دے چې په معاشرتي ژوند کښې لکه وينه په ګردش وي ـ ژوند د وينې محتاج دے او معاشره په دستورونو ژوندۍ وي ـ ښۀ وي کۀ بد وي چې خپل شوي وي نو خلاصون ورنه ګران وي ـ وائي دا د قام لار ده ـ دائې دستور دے ـ معاشره د رواج پابنده وي ـ په دې کښې کله کورژن هم کيږي ـ دا د هلک او د جينۍ د عمر سودا وي ـ د دوؤ کورونو څو تنه مدعيان راټول شي چې صلاح ئې راشي هلک د جينۍ شي جينۍ د هلک شي وائي ـ

هلک مې نن مخې له راغے
د چندڼ لښته ناوهي غواړي کوژدنه
طارق جمال لالا مې ځوان شو
کړه ټوپۍ په سروي غواړي کوژدنه

دا د ژوند د روان سفر د خوشحالۍ ورمبے پړاؤ وي ـ چې خوارۀ ورباندې ويشلے شي ـ د وادۀ ښادۍ لاره پرې جوړيږي ـ اخر هاغه وخت هم راشي چې د ښادۍ په کور د خوشحالۍ شمعې بلې کړے شي او د جينۍ په کور هم چې تمبلونه په لاس وراګانې وردننه کيږي نو يا به په جمع وائي چې ، پلار ئې باچا دے تيمبر لک ئې ودوينه ـ يا به په دې وېنا سر وي چې هلک د ګلو ټال دے جينۍ د ګلو څانګه ده ـ دا د وادۀ ښادۍ دستور وي ـ هر څوک ئې غواړي ټول ورته خوشحاليږي ، ټول ئې ارماني وي وائي ـ

خدايه په کور کښې ښادي راکړې
چې غولے تنګ وي په کوټه ګډا کومه
دغه ښادي دې مبارک شه
دې ستا ښادۍ له په خوشۍ راغلې يمه
خانه ښادي دې مبارک شه
الې ښاديان دې په ښادۍ راغلي دينه

د وادهٔ نه وړاندې د پرېکون مرحله وي ـ په دې کښې هاغه لوظنامه تياره شي کومه چې د هلک او جينۍ د شريک ژوند د تړولو عقد وي ـ دا د باهمي اعتماد لوظنامه وي ـ هاغه څوک چې په دې موقع رابللے شوي وي په دې ګواهان وي وائي چې :-

پــــه لارې تلمــــه ډېــــډېې شــــوم
چــې د جينــۍ د پريکانــهٔ مــې واورېدونــه

پرېکون چې اوشي زيرے وګرځي ـ مبارکي ورکړے شي ـ خپلوي او رشته پخه شي د هلک او جينۍ وارثان تر غاړې وځي ـ ديدن روا شي ـ

جانانــــه زېـــرے مـــې دربانـــدې
خځــېے وشــو پــه کالــهٔ دې پــاتې شــومه
کــهٔ چــا دې زېـــرے پــه مــا وکـــړو
دا مــې قسـم دے شــال بـه زېـرے ورکومـه
کـــهٔ د راتلــــو زېـــرے دې راغـــے
د سـر سـالو بـه پـه خېـرات کښـې ورکومـه

وادهٔ ريښتيا شي ، ديدن روا شي ـ زړهٔ په خندا شي ـ زړګے چې خاندې ، بيا سترګې خاندې ، شونډې هم خاندې ، رڼا رڼا شي ګل په خندا شي ، پسرلے راشي ، بلبل په باغ کښې نغمه سرا شي داسې ګويا شي :-

خدائــے لــه بــه څنګــه جــواب ورکــړې
چــې پــه ديــدن قضــا فــرض نمونځونــه
خــــدائے تــــه بــــه داســـې زارې وکـــړم
نـــوے عاشــق وم پــه ديــدن نـــهٔ مړېدمــه
نـــن مـــې بـــې طمعــــې دديـــن اوشـــو
څکـه دوه نـيم ګـزه اوچـت لـه زمکـې ځمـه
د جانــــان نــــهٔ ليـــــدل بهتــــر دي
ديـدن ئــې بــاد دے د زړهٔ اور تــازه کوينــه
ديـــدن دې ســـيند کښـــې را لاهـــو کـــه
د خيــال مــنګے بــه تــرې بــې واره ډکومــه

د يـــــار ديـــــدن اســـــم اعظـــــم دے
کـۀ مـې نصـيب شـو د جنـت سـالار بـه شـمه
د يــــــار ديدنــــــه لـــــوئے اختــــــره
زۀ دې راتلـــو تـــه انتظـــار کـــوم مئينـــه
زۀ تـــرې نـــه خپلـــه برخـــه غـــواړم
شـاه د ديـدن پـه انبـار لاس پـورې کوينـه
نـــــن بـــــه ديـــــدن د جانـــــان وکـــــړم
چې مې په خوا کښې باوردي فوځونه ځي نه
رب دې زمـــــا د بـــــاغچې ګـــــل کـــــه
چـې هـر سـحر دے پـه ديـدن اوبـۀ کومـه
روشـــــن ضـــــمير جانانـــــه راشـــــه
ستا پـه ديـدن پسـې ړنـده پـه سترګو شـومه
زمـــــا دې خـــــدائے مـــــل شـــــي جانانـــــه
ستا پـه ديـدن بانـدې کـۀ پـايم مـړ دې شـمه
جانانـــــه ســـــتا ديـــــدن دپـــــاره
کلـــه ور خـــوا تـــه کلـــه بـــام تـــه اوخېژمـــه
ســـــتا د ديـــــدن ولـــــې بهيـــــرې
پـه مـا پامپوخـه شـوه د تنـدې پکښـې مرمـه
ســتا پــه ديــدن مــې دومــره ســود شــي
لکـه بيمـار چـې امسـا واخلـي اودرېږينـه
ســتا پــه ديــدن مــې دومــره ســود شــي
لکـــه پـــه للمـــه زمکـــه اوشـــي بارانونـــه
ســتا پــه ديــدن مــې مــونځ قضــا کــړو
چـې د محشـر پـه ورځ بـه څـۀ جـواب کومـه
ســـتا پـــه ديـــدن بـــه زۀ مـــوړ نـــۀ شـــم
کـۀ د سـينې څـرمن دې ځـان تـه اوګنډمـه

کــــۀ دیـــدن کـــړې ګـــودر تـــه راشـــه
زۀ بـه درځـمـه تـورې سـترګې سـرۀ لاسـونه
کــــۀ ډوډۍ خـــورې نـــوره بـــه درکـــړم
د دیـــدن اوربـے د ے مابنـــام تـــه اوګورینـــه
کـــۀ مـــې دا ســـتا دیـــدن نصـــیب شـــي
پـه صـدقه کښـې بـه ئـې سـر و مـال شـیندمه
کـــۀ دیـــدن کـــړې تلـــوار پـــرې وکـــړه
د مـــخ تبـــې مـــې نیمکښـــو ولاړې دینـــه
مـــا ئـــې د کبـــره ســـلام ناخښـــت
اوس ئـې ژړا پـه تـش دیـدن پسـې کومـه
یـــا مـــې د یـــار دیـــدن نصـــیب کـــړې
یـا مې د مرګ نښته پوره کړې چې مړ شمه
دیـــــدن دې ښـــــومره قیمـــــت ارزي
چې سر پرې ورکړم باقي دار بـه ښومره شمه
دیـــــدن د ســـــر پـــــه بدلـــــه د ے
چې سر ساتې خاورې به وکړې دیدنونه
دنګـــــه دې غـــــاړه دنګـــــه ونـــــه
شـېرینه یـاره پـه دیـدن پسـې دې مرمـه
پـــه تـــش دیـــدن دې خوشـــحالېږم
کۀ مې نصیب شوې بیا بـه څۀ ګذران کومه
تبـــر شـــو هغـــه وختونـــه تبـــر شـــو
چـې پـه دیـدن بـه د یـو بـل نـۀ مړیدونـه
چرتــه پیــدا شــوې چرتــه لــوئې شــوې
چرتـه اشـنا شـوې پـه دیـدن پسـې دې مرمـه
عـالمـــه لـــرې شـــۍ د مخـــې
د دیـــدن اوربـے پـــه دیـــدن ئـــې مړومـــه

چې سترګې پټې شوې نو راغلې
ما وې دیدن به دې توښه ځان سره وړمه
دیدن د بادو پیمانه ده
نۀ پرې مړېږم نۀ ترې پنډه ترلے شمه

د دیدن د لارو مزل څۀ داسې اسان خو نۀ وي. په دې کښې ډېرې سختې زحمتې، ډېر تکلیفونه کړاوؤنه، ډېر انتظار، ډېر ارمانونه آرزوګانې او ډېرې تلوسې او اند ېښنې سر پورته کوي دا چې وائي چې :-

خوب چې کوې خاورې به یوسې
شاه د هغو چې شوګیرې پسې کوینه

دا هم د داسې کېفیاتو اظهار دے. د محبوب دیدن داسې اسان خو نۀ وي. ولې کله چې مهربان شي نو دا بندونه هم مات شي کۀ یو پله معشوقه په دې باور لري چې :-

زما په خپل لالي باور دے
کۀ د چړو په څوکو لار وي رابه شینه

نو بل پله دا په خپله هم د خپل جانان د خوشحالولو په نیت څۀ بانه جوړه کړي. خواله ئې ورشي او ورته وائي :-

جانانه زر شه دیدن اوکه
پټه د کوره په بانه راغلې یمه
په دې بانه بهر را اوځه
مور ته دې وایه چې سپیاکې ټولومه
مور ته دې داسې بانه اوکه
منګے په ګټه زۀ په ختّه پریوتمه
په لارې تلم منګے مې مات شو
زۀ به بخیلې مور ته څۀ بانه کومه
دیدن مې ستا بانې مې نورې
لکه ګوجره چم په جم ناري وهمه

ژوند تشه خوشحالي نهٔ وي په دې چې دنيا د غمونو جاله ده هر اړخ ته ئې غمونه دي دا ځکه چې :-

دنيــــا د غـــم پـــه ورځ پيــــدا ده
څــو بــه د غــم تخــم كــرم ژونــد ے بــه يمــه

ځکه نو تر څو چې ژوند وي غم ئې ملګرے وي - اسوېلي اوښکې او وير ټنډور پکښې روان وي -

هر خوا چې خورېږي دا نغمې د بېلتانهٔ دي
غـوږ شـه كـهٔ ئـې اورې د ربـاب لـه هـر تـازه

د ژوند د لارې د لاروؤ هم دغه نغمې هره ګړۍ په غوږو راځي وائي به چې :-

كـــهٔ اســـوېلي مـــې د خـــولې نـــهٔ تلـــے
د زړهٔ پــه ســر بــه مــې ديګونــه پخېدونــه
كـــهٔ اســـوېلے كـــړم اور بـــه واخلـــي
كهٔ غرغرې كړم ملک بـه سور په وينو كړمه
كـــــهٔ اســـــوېلي ورســـــره نـــــهٔ وے
ستـا انـد ښـنو بـه مـې زړهٔ پـرق چـولے وونـه

څوک چې د اسوېلو عـادي وي د هغهٔ اوښکې هم په مخ جاري وي - سترګې ئې ژړاړي - د سترګو په ژړا اوښکې رابهېږي - دا د تن د اندرون د بحر ملغلرې وي - د دوئي نقصان د زړهٔ تـاوان شي - د زړهٔ تـاوان د ژونـد ارمـان شي - چې ژونـد ارمـان شي د اوښکو زيان شي اوښکې توئېږي اوښکې بهېږي -

اوښــكې مــې ځــي ګرېــوان مــې لونــد دے
د غـــم محصـــل د غـــم بـــرات رالـــه راوړينـــه
پــــه لاس بـــــه تېـــــر ســـــاعت رانـــــهٔ شـــــي
كـهٔ مـې پـه اوښـكو كـړم اوبـهٔ واړه ملګونـه
زمـــــا اشـــــنا پــــــه ســــــفر تلــــــے
يــاقوتي اوښــكې پــه توښــه ورلــه لېږمــه
چـــې خمـــاري چشـــمان دې يـــاد كـــړم
اوښـكې مـې دارې فـوارې پـه شـان وهينـه

اوښکې نمانځې دي کۀ بېلمانځه
زما په څېرې ګرېوان ځي نمونځ پرې کومه
پرچه لیکم اوښکې مې څاځي
د جانان مینې مې په زړۀ ایښي داغونه
اوښکې به ولې نۀ بهېږي
چې په وطن مو کافران حکم کوينه

اوښکې د غمونو غماګرې دي .دا د زړۀ د غم حال څرګندوي .هاغه څۀ چې اسوېلي ئې نۀ شي ظاهرولے اوښکې ئې برسېره کوي. سترګې او اوښکې ، زړۀ او غم سره اريک شريک دي ، ګډګا ډېره دي. ځکه نو کۀ څوک غم ځان پله رابلي نو هم ورته هر کلے وائي او هم ئې د خپل زړۀ په کور کښې مېشتۀ کوي. دا په دې چې خلاصون ترې نۀ وي .دا چې وائي چې د کوم مېلمه نه نۀ خلاصېږې ډېر ډېر ورته خانده دا غم وي داسې مېلمه چې خلاصون تر ې نۀ کېږي. ځکه نو ېر ېر ورته ويلې کېږي. منع ممانعت ئې نۀ وي. فقير درويش هم ورته هر کلے وائي او بادشاه او غني ئې هم ځان ته رابلي لکه چې وائي :-

ګل غمه ګلزار غمه اے د ګلو هار غمه
خوږه د دلدار غمه راشه اے د يار غمه
کښېنه په سينه زما ، پرېوځه په سينه زما

اوس دا غم چې داسې خوږ او داسې ګران دے .دا څوک هېرولے شي او چې د هېرېدو نۀ دے نو يادولے خو به هم شي. لکه چې داسې ئې ذکر کېږي.

عالمه مرګ خو په نېټه دے
په ما هر مال د مرګ چپې د غم راځينه
غمونه شاته کړه جانانه
غم چې د وړاندې شي ځواني بربادوينه
في الحال د غم په سېلاب ډوب يم
بويه چې خېژم خوشحالي په ما راځينه
قد ئې په مثل د الف دے
لکه د دال د غمه کوږ ورپسې شومه

لوح محفوظ مې خوب کښې ولید
زما په برخه ئې لیکلي دي غمونه
ما وې چې غم به زما کم شي
چې خلیل لوئے شو غم مې سر دوباره شونهد
ما وې د غمه به دې مړ شم
مړ خو ترې نۀ شوم قیامتي رنځور ئې کړمه
په هر یو غم سړے خفه وي
بې ستا له غمه چې پرې ږدې ډېر خوشحاله یمه
عالمه ماته دعا وکړئ
د غم کشتۍ مې د غم باد نسکورینه
زما د عمره سره سمه
میرات شي غمه په خندا دې تېرومه
غم دې یوازې په ما بار کړو
تۀ شین طوطي شوې په هوا لاړې مئینه
اول به کله کله غم ؤ
اوس مې دوتر شو کروندې پکښې کوؤم
زما د عمره سره سمه
د خوږ جانان غمه لتې دې کړمه
په غم کښې ستا نه کمه نۀ یم
کم عقله نۀ یم چې به کلي خبرومه
زۀ به په دې کښې ځنګه جوړ شم
غمونه خورم د صبر ګوټ پسې کومه
په غم پیدا په غم کښې لوئے شوم
په غم به مړ شم غم به قبر له وړمه
غم دې له تانه وفادار دے
تۀ کله کله غم دې تل راسره وینه

خلقـــــه پــــه تيــــرو د ويشـــــتو يــــم
چـې غـم مـې نـۀ ؤ ځـان مـې غـم تـه وسـپارونه
چــــې چرتـــــه تــــۀ وې هلتــــه زۀ وے
دواړه اودۀ وے چـې مـو نـۀ ليـدے غمونــه
عاشــــقي ښـــــار مينـــــه بــــازار دے
د غـم كـوځې د جانـان كـور تـه تلـې دينـه
صـــورت دريـــاب غـــم دے مـــاڼګے دے
سترګې صدف اوښكې مرجان پكښې ساتمه
د ســــــترګو تـــــور د زړۀ ملهمـــــــه
د جانـان غمـه پـه سينه كښـې دې سـاتمه
عمـر مـې ټـول پـه غـم كښـې تېـر شـو
نـۀ مـې يـار هېـر شـو نـۀ مـې اوكـړل ديدنونـه
د غــــم جلـــب دې لاس كښـــې راكـــړو
د انديښـنو پـه اسـپه سـور درپسـې ځمـه
عمـر مـې تېـر شـو غـم مـې ډېـر شـو
نۀ مي يار هېر شو نۀ ئې خلاص د غمه شومه
د غمــــــه اوچ لكـــــه ســــنډا شــــــوم
د چتهـاكې نـه پـه بتهـې اولګېدمـه
غمونـــــــه ډېـــــــر دي زۀ يـــــــوازې
پـه داسې حـال كښـې بـه زۀ څنګـه تـازه شـمه
د جانــــان غمـــــه رانــــزدې شـــــه
زۀ د دنيـــا غمونــــو ډېــــر رټلـــے يمـــه
غـــم دې پـــه مـــا بانـــدې انبـــار شـــو
د سـرو بـار خـو دې غمـازان كـوي سـپلونه
ډېـــــر راورېـــــږه د يـــــار غمــــــه
چې د دوؤ سترګو مې رامات شي برساتونه

غــــم دې راځــــي زۀ پــــرې خوشـــحال يــــم
بې غمه خدائے دے انسان تل په غم کښې وينه
راځـــــه راځـــــه پــــــه مــــــا د پــــره شــــــه
د جانـــان غمــــه ځــــائے پــــه زړۀ کښــې درکومــه
عمـــر مـــې ټـــول پـــه غـــم کښــې تېـــر شـــو
قــــادره خدايـــه خوشـــحالي بـــه کلـــه وينـــه
پـــــــه زړۀ مـــــــې اوره د يــــــــار غمــــــــه
چې مـې د سـرو سـترګو روان شـي سـېلابونه
راځـــــه راځـــــه پــــــه مــــــا د پــــره شــــــه
د جانـــان غمــــه زۀ دې ځــــائے د مېشــتې يمــه
راځـــــه پـــــه مـــــا بانــــــدې راپريوځـــــــه
د جانــــان غمـــه د عمرونـــو ځــــائې دې يمـــه
غمونــــــو ګـــــوټ راپســــــې وکــــــړو
قــــلا د زړۀ مـــــې ورانــــــوي ژړا راځينـــــــه
چـــا چـــې خپـــل غـــم ليـــدلے نـــۀ وي
هغــــه د نــــورو د غــــم څـــۀ پــــروا کوينـــــه
چـــې بندوبســـــت د دنيـــــا جــــــوړ شــــــو
هـر يـو انسـان ئې پـه خپـل غـم کښـې اولاړۀ نـه
چـــې د غـــم ګــــونبے پــــرې لګيـــــا شـــــي
نـــۀ زرغـــونېږي د هغــــې اونــــي ښـــاخونه
چـــې زۀ غــــم پرېـــږدم د غـــــم څـــوک دي
غــــم دے زمــــا زۀ يــــم د غــــم يـــوازې يونـــه
چــې غـــم کـــوي غـــم ئـــې پـــه کـــور شـــه
داريـــا راواخلـــه چــې د ســيند غـــاړې لـــه ځونـــه
خلــــــق د غمـــــــه امـــــــان غـــــــواړي
زۀ د اشـــنا پـــه غـــم کښـــې تـــل خوشـــحاله يمـــه

غمژنــــه زۀ غمـــــژن مــــې يــــار دے
غمـــژن پـــه دواړه پـــه غمژنـــه لاره ځونـــه
زړۀ مـــې ســـورے وينـــې تـــرې څـــاڅي
د اشـــنا غـــم د زړۀ پـــه ســـر وېشـــتلے يمـــه
غمژنـــــــه يـــــــاره چيـــــــرې لاړې
زۀ د دادا انګـــړ کښـــې ګوښـــې ناســـته يمـــه
غـــم تـــه پيـــدا پـــه غـــم کښـــې لـــوئے شـــوم
پـه غـم بـه مـړ پـه غـم بـه تـورو خـاورې شـمه
اشـــــنا مـــــې لاړه خوشـــــې يـــــوړه
پـــه بدلـــه کښـــې ئـــې راتـــه پرېښـــودۀ غمونـــه
غـــم خوشـــحالي حصـــې حصـــې شـــوه
چـې وېـش ئـې وکـړوو زمـا غـم ورسـېدونه
غـــم دې پـــه غـــم بانـــدې زيـــاتېږي
نـور بـه دې غـم پـه غـم کښـې نـۀ حسـابومه
غـــــم دې زمـــــا کـــــره بنـــــدي دے
کــۀ بهــر اووت کلــے کــور بــه ورانوينــه
خولـــه مـــې خنـــدا تـــه نـــۀ جـــوړېږي
د جانـــان غـــم پـــه مـــخ څپېـــړې راکوينـــه
غـــم دې غمخـــور اشـــنا لـــه راغـــے
جانانـــه تـــۀ د بـــې غمـــۍ کـــوه خوبونـــه
غـــم دې پـــه تلـــه راتـــه نـــيم کـــړو
د خدائے بې انصافه په پارسنګ کښې تېروتمه
پـــه بـــړ بـــړ راشـــه د يـــار غمـــه
کـۀ نـور مـې دِ ېـر وې تـا بـه پـاس پـه تندې ږدمـه

اوس نـو کـۀ هغـه د غـم د لارې لاروے د غمونـو د روزګـار اموختـه شـاعر چرې دا وائـي چـې ,, ګـل غمـه ګلـزار غمـه، اے د ګلـو هـار غمـه ، راشـه اے د يـار غمـه ، پرېوځه پـه سينه زمـا ،، نـو بـد خـو نـۀ وائـي ـ هسـې خـو هـم دنيـا جېـل خانـه ده ـ د

صدق و صفا او د سلوک خاوندان ورته په دې نظر ګوري ـ د هغوي په خيال په خپله د انسان وجود د پنجرې په مثال دے چې د روح طوطي پکښې بنديوان دے ـ هغوي وجود ته د ځلورو عناصرو نه جوړ قفس وائي ـ قفس پنجره ده ـ هره مرغۍ چې په پنجره کښې بنده شي هغه د خپلو ازادو الوتونو نه محرومه شي ـ دغه محرومي د داسې فرياد سبب شي ـ

په پنجره بند خارو ته وايئ
د جېلخاني طوطي سلام درته کوينه
جېل په مثال ثاني جنت دے
د قام خدمت دے بنۀ په خوند ئې تېرومه
چې د ببرو شرنګ پکښې نۀ وي
سياسي قېد په قېد کښې نۀ حسابومه

دا چې وائي چې هاغه به هم لاځۀ قبر وي چې درز دروز پکښې نۀ وي ـ بې شکه د زړۀ د تصديق سره د ژبې او عمل د ناموافقت د معاشرې د عمومي اعمالو انجام به هم دغه ځۀ وي[1] ـ تقدير برخه وي ـ برخه په وېش کښې رسي ـ د چا برخه غوريزه شي ـ د بنې برخې نصيب ئې وي ـ د بنې برخې خاوند شي ـ د چا هغه بده وي د ستومانۍ وي ـ دا د هرې زمانې د تقدير د وېش پېښې دي ځوک پکښې درياب کيږي او ځوک پکښې کرياب کيږي ولې وېش روان دے کيږي هم او کولے هم شي ـ د درنې برخې خاوندان پرې خوشحاله وي ـ د سپکې هغه وربانديې پريشانه او ملاله وي وائي به :-

د خوشحالۍ په وېش کښې نۀ وم
چې د غمونو وېش کېدو ولاړه ومه

توغ تاوان او ناغه توغه د معاشرتي ژوند معمول دے خلاصون ترې نشته ـ په چا ئې په يو رنګ کښې ورکول وي ځوک ئې په بله ترا ورکوي ـ دا په روايات تو کښې هم شامل دي او په عاداتو کښې هم ـ رواجي تاوان ته ناغه هم وئيلے شي چې يادوي ئې نو وائي چې :-

[1] ال عمران ، ۱۲ ـ ۱۰

خـــال دې وهـــو خبـــر دې نـــهٔ کـــړم
ناغــه دې راکــه د ســورکو شــونډو ســرونه

د ژونـد پـه سـفر کښـې څـوک د نصـیب ،تقـدیر او برخـې شـکایت کـوي څـوک د بېلتانهٔ او جدایۍ نه په فریاد وي.څوک خپلې محرومۍ او بې ارامۍ ژاړي ولې څوک داسې هم وي چې کوډو تاویزونو په بلا اخته کړي وي.په الفلق او والناس ئې نظر نهٔ وي.تش ځان ته به ګوري او دا به وائي چې :-

پـــــه کــــوډو کلــــه مینــــه کیــــږي
مُـلا ګسـۍ قـل هـو لیکـي ځـان غرقوینـه

کـال تېرېږي او کـال راځي .د ژوند د ګاډي سفر پـه مخـه روان وي .څـوک ورتـه راخېژي او څوک ترې کوزېږي.داګاډے اودرېږي نه.د ژوند د ګاډي ستېشـنونه د هر چا د ځان وي.هر څوک په خپـل ستېشـن کـوزېږي.لار ئـې یـوه ده.دا ګـاډے په خپله پټلۍ په سفر وي .په لوړو ژورو ، للمو شاړو ابادو غېر ابادو څهٔ چې په غرونو کنډؤنو هم تېرېږي.او دا انګازې پکښې اورېدے شي چې :-

پـــــه کنــــــډؤ اوړې پنــــــاه کیــــږې
دا ســور ســالو دې بــاد وهــي ژړا راځینــه
پـــــه کنــــــډؤ اوړې پنــــــاه کیــــږې
پنــاه دې مــهٔ شــه د لنګــۍ ســرهٔ پلوؤنــه
پــــــــه کنـــــــــډوګي راســــــــره واوړه
د مامــا لــورې پــه چغجــو بــه دې ســاتمه
ګاډیــــــــه ســــــــر دې د ویشـــــــتو دے
زمـــا جانـــان دې پـــه دکـــن اولګاؤنـــه
د ګــــاډي ســــر پــــه کــــانو ولــــئ
زمـــا جانـــان ئـــې پـــه دکـــن اولګاؤنـــه

د موټرو لارو په دې دور کښې د زمکې زیات سفر د تېز رفتـارو او د مـوټرو دے هر کله چې اوس د اسونو اوښانو په ځائے دا رواج شوي دي نو فخر او لـوئي هـم پـه دې باندې کولے شي.لکه چې وائي :-

زمـــا جانـــان پـــه شـــان بـــه نـــهٔ شـــي
کـــهٔ پـــه پنځـــوس زره مـــوټر درســـره وينـــه

د سفر لارې زيات سړکونه شو ـ هر څوک وربانديې تېرېږي راتېرېږي ـ سوارهٔ وي او که پلي وي ـ څوک د چا په مخه کښې نهٔ ودرېږي حال دا وي چې :-

پـــــه جرنيلـــــي ســـــړک روانـــــه
لکـــه د مېښـــې پرشـــېده ډډې تـــه شـــومه

عمري قديمي د تګ راتګ دپاره لارې جوړې وي ـ دا په کلي کښې هم وي او د کلي نه بهر هم وي ـ هم د تګ راتګ وي هم د معاشرتي ژوند تېرولو وي ـ د پښتو په محاوره او متل کښې لاره په ډېرو معنو او مطالبو کښې استعمالېږي ـ څوک د لارې خبرې کوي څوک بې لارې وي ـ څوک په سمه لاره روان وي څوک په ورانه ـ دا چې وائي چې خدائے بې لارې کړي نه په لار کيږي ـ دا هم د معاشرتي ژوندنه بې طرفه کېدل وي ـ د پښتو لاره د پښتنو لاره ده ـ چې عمل ئې د پښتو سره سم نهٔ وي هغه بې لارې وي ـ پښتو د ننګ ، غېرت ، توري ، مېړانې ، همدردۍ ، صله رحمۍ ، احسان ، خوش اخلاقۍ ، حيا او اوچت کردار لاره ده ـ دا اسلام دے ـ کله چې لار يادېږي نو هره لاره چې وي ځان پرې خبرول لازم وي دا د کاميابۍ او ناکاميابۍ په پړاؤنو د اګاهۍ سبب کيږي ـ دا د جانان د کوځې لاره ده ـ وائي :-

پـــه لارې روځـــه پښـــې دې پرېوځـــه
ستا د قدم لاندې مې زړهٔ دے اوبه چوينه

اول بـــــه کلـــــه کلـــــه راغلـــــې
اوس د راتلـــو لارې دې چـــا نيـــولې دينـــه

پـــه لارې ځمـــه ښـــامار پـــروت دے
مالـــه ارمـــان د جـــادوګر جانـــان راځينـــه

زهٔ بـــه مـــې ځـــان د لارې پُـــل کـــړم
چـې مـې جانـان پـه سـينه کيـږدي قدمونـه

کـــهٔ د راتلـــو نـــه دې خبـــر شـــوم
مـا بـه پـه لار کښـې ګـل سـمن کرلـې وينـه

لارې کـــوڅې راتـــه ګنـــده شـــوې
دې خپـل ښائست رابانـدې وکـړو پساتونه
مـــا تـــرې د ژونـــد طمـــع کولـــه
ناترسه یار په مېنځ د لار کښې پرېښودمه
مـــا وې زمـــا د مینـــې یـــار دے
د لارې مـار وې پـه اتبـار دې اوخوړمـه
یـــو ځلـــې بیـــا پـــه دې لار راشـــه
پـه پخوانـو پلوڼـو دې پرېواتـۀ ګردونـه
یـــو ووري بیـــو پـــه دې لـــور روشـــه
پـه پخونـو منـډو دې پریووتـو ګردونـه
زمـــا پـــه تاپســـې ژړا ده
لار ده ازاده ولـــې نـــۀ راځـــې مئینـــه
اشـــنا راځـــي مـــولا دې خبـــر کـــړي
لارې کـــوڅې د غمـــازانو ډکـــې دینـــه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لار کښـــې راکـــه
کـۀ تـۀ شـرمېږې لاس بـه زۀ در واچومـه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لار کښـــې راکـــه
چـې د کـوکۍ سـره دې برېـت اوجنګومـه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لار کښـــې راکـــه
چـې دا تـور مـخ دې پـه سـپیاکه اوولمـه
خـــدائے دې پـــه تنګـــه لار کښـــې راکـــه
چـې د ټـول عمـر دا غصـه مـې اوباسـمه
تکـــل بـــه کلـــه د راتلـــو کـــړې
زۀ دې د لارې څوکیـــداره کـــړم مئینـــه
زمـــا د ســـترګو تـــاوان راکـــه
چـې تـۀ بـه نـۀ وې مـا بـه لارې تـه کاتـۀ نـه

د یـــار مـــې څـــهٔ خـــوږې قیصـــې دي
چـــې د درال د لارې مـــل مـــې وي مئینـــه
د لارې غرونـــــــه دې پنـــــــا شـــــــي
چـې رابـښـکاره شـي یـو بشـر څلـور ګلونـه

په معاشرتي ژوند کښې په روانو لارو خپلو روایاتو خپل تهذیب او خپل تمدن پښتون وګړے د ژوند د پېشمني سره اشنا کړے دے .د نیمې شپې د رڼاګانو بلولو او د محبوب په یاد کښې د ویښ پاتې کېدلو خوګر کړے ئې دے .ددهٔ ریبار دے د سره ځایه په دې خبردار کړے دے چې :-

خـــوب چـــې کـــوي خـــاورې بـــه یوســـي
شـــاه د هغـــو چـــې شـــوګیرې پســـې کوینـــه

په دې تعلیم د پېشمني رڼا بلېږي .کهٔ څهٔ هم حقیقیت دا وي ولې بیا هم چې څوک پېشمنے رامخ ته کوي نو به وائي :-

د روژې هـــــــر ماښـــــــام اختـــــــر وي
ذرې ذرې د پېشـــــــمني د لاســـــه یمـــــه
د پېشـــــــمني اورونـــــــه بـــــــل شـــــــو
جینیېـــه ســـرو منګولـــو یـــار راویښـــوینه

# پښتو ، پښتونولي

د پښتون قام د روایاتو سر د پښتو او پښتونولۍ نه نښتے دے ـ د خپل تاریخ او تمدن په پس منظر کښې ئې دا ظاهري تړون تعلق د کومې خاصې سیمې سره نۀ معلومېږي په دې چې نن ورځې دا اولس په کومه رقبه کښې خور وور پروت دے او پوخ وربانديې مېشتۀ دے ـ دې سیمې ته ددۀ اسلافو وخت په وخت ګام رامخکښې کړے دے ـ هسې خو بنیادي طور پښتانۀ ددې عقیدې وو چې وئیل به ئې چې چرته ښۀ هلته شپه او خپله دا رویه ئې په لنډیو کښې هم ښکاره کړې ده چې :-

وطـــن د تنـــه لیکـــه نـــۀ دے
وطـن هغـه چـې پکښـې تـن خوشـحالوینه

ددې ګرځنده وګړي په زمانو زمانو په دې عمل ؤ ـ علف زارونه به ئې لټول ، په مرغزارونو پسې به ګرزېدل چې چرته به ئې غوړه مرغه اوموندۀ خپل مال مویشي به ئې ورله راوستل هم به دوئي په ارام وو هم به ئې څاروي ماړۀ وو ـ رمې ګورمونه به ئې څریدل او شپېلۍ به ئې غږولې ـ داسې معلومېږي لکه چې ډېره زمانه دوئي د اباد کارۍ د تمدني ژوند نه بې نیازه وو ـ وئیل به ئې چې :-

لـــوړې مـــانۍ دې کنـــډ والـــۍ شـــه
زمـــا یـــادېږي د کېـــږدو یـــخ شـــمالونه

د یخو شمالونو دغې فطرت دوئي د ښاریې یا کلي وال ژوند نه لرې ساتل نۀ به دوئي په بزګرۍ ، کرکرونده ګرۍ ، نوکرۍ یا دکاندارۍ خوشحالېدل نه ئې ټکاوي ژوند ته هڅه کوله ـ دوي فطرتاً ازاد وو ـ په ازادو فضاګانو کښې د ژوند تېرلو اموخته وو ـ خپل دغې فطرت دوئي ته دا ور زده کړي وو چې کلي ښارونه د باچا دي دشتونه مرغزارونه زمونږه دي ـ پخواني باچایان ډاکه مار وو ـ ډاکې اولجې به ئې کولې ـ بابر نامه (توزک بابري) د داسې ډېرو پېښو دلیل دې ـ

رانیولې سیمې به ئې تاراج کولې - په کور کښې به ئې تقیسیمولې - د پښتون قام په اباده کښې د پخې میشتي روایت لکه چې ډېر وروستنے دے - تواریخ حافظ رحمت خاني ئې ګواه دے - تذکرة الابرار ئې د علف زارونو او مرغزارونو د میشتي خبر راکوي - کله چې دوئي د مرزا الغ بېګ د مغولي شخړې سره مخ شول او په خانه وار کوچ پېښور ته لاندې راکوز شول - نو په ښار ئې زړۀ خوږ نۀ شو - مضافات ئې اونیول - په دواوه ورغلل - اشنغر ئې قبضه کړو - باجوړ ئې خپل کړو او کله چې سمه سوات ئې هم په تصرف کښې شول نو پاخۀ وربانديې پرېوتل - ولې بیا ئې هم خپل قدیمي عادتونه ئې برقرار وو - په ژمي کښې به سمې ته راکوزېدل اوړے به ئې په سوات تېروو - وئیل به ئې ادې په سمه کډه ئې په سوات.

اوړے دې ټول په سوات تېر کړو
په ژمي راغلې سلامت غواړي خالونه

دا لکه چې د ټولو سړیني پښتنو د ابادکارۍ پس منظر وي - دغه حال د بیټني او غورغشتي اولسونو هم وو او کرلاڼو هم لکه چې د دوئي په پل باندې پل ایښے وي - دا ټول ګوندونه د خپلو روایاتو د مخه په خپله خپله ګوند ئې کښې په یو ځائے د اوسېدو او په خپلو کښې د غم ښادۍ د شریکي د ژوند عادي وو - یوې قبیلې به د بلې په حد حدودو کښې یا په غم ښادۍ کښې څۀ زیات ګډون نۀ کاوۀ ولې کۀ په حادثاتي جوړ له به څۀ داسې پېښه هم وشوه نو وئیل به ئې چې - د خدائے داسې رضا ده اودل ئې ودوي ترین ئې وراده - د ګوندي بازۍ دې روایت په دوئي کښې خود رائي ، خودسري او بې پروائي پخه کړې وه - تورګوند و سپین ګوند او تور ترین او سپین ترین به هر چا پېژندل هر چا ته به ښکاره وو - ولې بیا هم جرګې مرکې ته تسلیم وو - کومه خبره چې به په جرګه فېصله شوه په هغې به عمل کېدو - سرتابي به ئې ترې نه کوله - خپل د جرګې روایات پرې ډېر ګران وو دا د دوئي د لرغونو مشرانو میراث ؤ - چې دوئي ته راپاتې وو وئیل به ئې :

زۀ بې پښتو نۀ یم جانانه
چې بې پښتو شي هغه ورک په دنیا شینه
پښتو مې ستا په سر کوله
تۀ بې پښتو شوې اوس پښتو څۀ له کومه

پښتو اسانه نۀ ده خلقه
څوک چې پښتو کړي پوښتی ماتې کرځوينه
بې پښتو نۀ يمه جانانه
چې بې پښتو شم بيا دې ورک د ملکه شمه
ستا په پښتو مې دې قسم وي
سر به پرې ورکړم تا به اوګتم مئينه
يو خوا پښتو ده بل خوا مينه
ماله افسوس مې د جانان په تنګ راځينه
يو خوا لېلی بل خوا پښتو ده
لېلی دې پاتې وي پښتو به مې ګټمه
پښتو د اوسپنې نينې دي
پښتونه ياره فولادي جوړ کړه غاښونه
پښتو کوه کۀ تۀ پښتون ئې
ما په پښتو باندې ګاللي دي غمونه

هاغه پښتو چې د پښتونولی روایاتو له وده ورکوي ـ په ډېرو ازمېښتونو او امتحانونو راتېرېږي وائي لکه چې څۀ رنګ د زرو صفائي او سوچه والے په سور اور کښې په ويلې کولو کيږي دغه رنګ په ډېرو کړاوؤنو او سختو زحمتو پښتو سر کيږي ـ پښتون وي کۀ پښتنه ولې د پښتونولی او پښتو د کردار طمع ورنه کيږي وائي ـ

پښتنې نوم دې د عنقا دے
په نوم دې اورم رنګ دې چرته نۀ وينمه
چې د سيالی په تول پوره شې
بيا به دې يار ګڼم اخر پښتنه يمه

په دې پس منظر کښې چې د بي بي مبارکې او بابر بادشاه تر مېنځه د شوې

مکالمې[1] جاج واخېستے شي نو دا يقين واخلي چې د پښتنو پېغلو د کورني تربيت انداز څومره ارفع، اعلی او قوي ؤ ـ دغه مکالمه چې پير معظم شاه د خواجو مؤرخ په حواله په تواريخ حافظ رحمت خاني کښې محفوظه کړې ده ـ د پښتني رواياتو ښکاره دليل دے ـ د داسې رواياتو لرونکے پښتون کۀ خوئي په عمل دروند وي نو حق لري چې ياد کړے شي ـ

پښتانۀ واړه سره يو دي
ورک دې نفاق شي چې به دوئي جدا کوينه
پښتانۀ ټول په ننګ شريک دي
چې کله جنګ شي په سيالۍ سرونه ږدينه
پښتنو سر و مال نه تېر شئ
چې خپل هېواد درنه پردے نۀ شي مئينه
پښتون په هر ځائے پېژندے شي
ملا ئې نرۍ وي کمر بند خوړلي وينه
چې د پښتون د توري شرنګ شي
د جنګ مېدان کښې غليم لار ورته پرېږدينه
پښتنو پاسئ ټوپک واخلئ
رزمک ئې لاندې کړو د اسپو په نالونه
پښتانۀ واړه شنۀ زمريان دي
چې وخت ئې راشي په سيالۍ توري وهينه
عالمه وخت د وېښېدو دے
د پښتنو په سيمه راغلۀ بد وختونه
د پښتنو نسل ورکيږي
دا نور عالم ئې تماشې ته اودرېدونه
دې ته لږ سوچ فکر پکار دے
د پښتنو په سيمه چا بل کړۀ اورونه

[1] تواريخ حافظ رحمت خاني ، د پير معظم شاه ـ

کـــــه اتفـــــاق دې پېــــــدا نـــــه کـــــړو
په ورکېدو کښې دې هېڅ شک نشته پښتونه
د دنيــــــا خلــــــق ورتـــــــه ګـــــــوري
پښـــتون پـــه خپلــه خپلــه خونــه ورانوينـــه
د پښـــــــــتنو شـــــــــاعران کـــــــوم دي
چـې د هېـــواد پـــه حـــال ئـې واؤرمـــه ويرونـــه
د پښـــــــــتنو شـــــــــاعران څـــــــه شــــــول
چـــــې د وطـــــن کړمـــــې نـــــه انځوروينــــه
د پښـــــــــتنو شـــــــــاعران څـــــــه کــــــا
چـــــې دا اودۀ پښـــــتانۀ نـــــه راويښــــوينه

د پښتنو د ننګ او مېړانې اوازه کۀ څۀ هم هر پله خوريده خو ,, اتفاق وريکښې نشته دپر ارمان ،، دا څۀ د نن خبره نۀ ده . دا خبرې د تېرو وختونو مشرانو هم کړې دي . کۀ خوشحال بابا به دا وئيل چې :-

اتفـــاق پـــه پښـــتانۀ کښـــې پېـــدا نـــۀ شـــو
ګنـــي مـــا بـــه د مغـــل ګرېـــوان پـــاره کـــړو

هم دا هاغه کمزوري ده چې هر څوک پرې خبر دي . پخوا ئې هم په دې خپله کمزورئ زيانونه کړي دي او نن هم دوئي په دې په تاوان کښې دي . دا اقبال لاهوري چې دا وئيلي دي چې :-

,, آں جوان کو سلطنت ہا آفرید ،،

نو ګني يا ,, هغه پښتانۀ نور وو او دا څۀ نور دي ؟ چې د دوئي په دې وختونو کښې دوئي په خپله سيمه ګوټ ته کړې شوي دي . نوم ئې شته پښتون نشته . پښتونخوا ياد ېږي پښتانۀ ورکيږي . دا په دې چې خپلې واګې ئې د بل په لاس ورکړې دي . هر اقدام ئې د غېرو مرضئ او د بل په خوښه د ے . هاغه پښتونخوا چې د پښتنو ټاټوبے د ے دوئي پرې مئين دي يا د دوئي په زړونو کښې پرته ده . غرونه ، سمونه ئې په دوئي ګران دي . په صفت او ستائينو ئې نۀ مړېږي . او دا ورته وائي چې :-

د پښتونخوا غرونه زخمي دي
ترې رابهيږي د درنو اوښکو رودونه
د سحر باده په ارام ځه
د پښتونخوا غرونه دړمن دي خوږ به شینه
امریکني فوځ ته وایئ
په پښتونخوا باندې دې نهٔ کړي چپاؤنه
اول یوازې قبائیل وو
اوس په همه پښتونخوا اور اولګیدونه

پښتو د جرګې مرکې په سپېڅلو روایاتو ژوندۍ ده .جرګه د کور هم وي ، د عزیزولۍ هم وي ، د قبیلې او د قام هم وي .قامیزه جرګې ته لویه جرګه وائي .دا د قام د مشرانو په راټولیدو کولے شي .په دې کښې د قام او اولس د مشرۍ ذمه واري د کوم موزون شخصیت په غاړه کولے شي .د جرګې دغه خوښ کړے مشر چې په څهٔ نوم هم یاد شي د مشرۍ حقدار شي .د خانۍ ، ملکۍ دستار ئې په سر شي .کهٔ اهل وي د قام د خېر شي کهٔ نااهله وي قام له زوال شي .د جرګې یو قسم داسې هم وي لکه چې وائي :-

جرګې دې را راپسې نهٔ شي
خوړلے مال به دې په بېرته درکومه
کهٔ نېستي ځنګ زما نه وکړو
بیا به په قام کښې په جرګو بللے شمه

خوشحال بابا وائي چې :-

چې بخښل خوړل خورول کا خان هغه
چې توره لري د توري ځوان هغه

څوک چې د خانۍ په چل پوهه وي نو خاني ورسره خوند کوي .هم ئې عزت وي هم ئې قدر وي .چې خبره کوي نو خبره ئې اورېدے هم شي .دا درنه هم وي او خوږه هم وي .خلق وربانديې ویاړي ، فخر پرې کوي د مشرۍ اهل ورته وائي .بیا ستائیلے هم شي او نمانځلے هم شي او په ټپو سندرو هم یادېږي .

خانــــه ښــــادي دې مبــــارک شــــه
الــی ښــاديان دې پــه ښــادۍ راغلــي دينــه
د مـــــورې غـــــره فلانکـــــي خانـــــه
دا نـور خانـان درتـه غونډې پـه مخکښـې ځينـه
د پلـــــې خانـــــه ښـــــۀ دې اوکـــــړل
چـې چمتـالې دې پـه پلـې بدلـه کـړه نـه
اوس بـــه ســـيند ډک د وينـــو راشـــي
پـاس پـه تاڼـه کښـې شـپږ خانـان حلالوينـه
خانـــان بـــه بيـــا ســـره خانـــان وي
په مېنځ کښې توئې شي نوکران ئې زيږ ګلونه

ځينې مشران په قام کښې په ملک ياد يږي ـ د ملک د خپلې سيمې په ښۀ بده کښې پوره لاس وي ـ د خېر ښېګړې طمع هم ترې کيږي او د نقصان يا ضرر رسولو خطر هم ـ کۀ ښۀ وي ښۀ وي ولې چې بد شي نو چې ياد يږي نو ورپورې وائي :-

پـــــه وينـــــو ســـــرۀ لاســـــونه راوړه
ملـــک لـــه بـــډې ورکـــوه نيشـــته مرګونـــه
نـــواب ئـــې واخېســـت جهـــاز لاړ شـــو
مولا دې خبر کړي چې به ئې کوم وطن ته وړينه

غريبي محتاجي بد شے دے ـ څوک چې په دې حال وي نو کۀ څۀ هم دا وائي چې کۀ زوړکي مې زاړۀ دي خو هډوکي مې ماړۀ دي ـ ولې په حقيقت کښې داسې نۀ وي ـ څوک چې په دنياوي لحاظ کمزورے وي غريب وي هغه په دنياوي جوړ له ډېرو خبرو ته محتاج هم وي ـ کله د ډوډۍ محتاج وي کله د جامې پېزار او کله بيا د دارو درملو ـ ولې ځينې لاداسې هم وي چې د مينې محتاج وي ـ د ديدن لېواله وي ـ هسې خو ژوند په غريبۍ کښې تېرېدے شي ، ښۀ وي کۀ بد وي کله چې په داسې حال کښې څوک مئين شي نو به وائي :-

يـــو دې غريـــب پېـــدا کـــړم خدايـــه
بـــل دې مئـــين پـــه زورورو خلقـــو کړمـــه

کــــــۀ دې کـــــتلے راتــــــه نـــــۀ وے
غریب سړے وم خپـل روزګـار بـه مې کاؤنـه
خدایـــه هــېڅ ځـــوک ناچــاره مــۀ کــړې
پـردې تـرې تښتي خپـل تـرې پـوزه پټوینـه
دا غریبـــــــــــــي تـــــــــوره بـــــــــلا ده
تـــوره بـــلا د سـړي خونـــه ورانوینــــه

د کامیابۍ او ناکامۍ په صورت کښې تخت او تخته دواړه یادولے کیږي ـ تخت په دنیاوي لحاظ د کامیابۍ ،اوچتې مرتبې او لوړمقام نمائندګي کوي او تخته د پستۍ او کمزورۍ علامت دے ـ کله چې تخت یادولے شي نو مطلب ئې کامیابي او کامراني وي ـ

باچـــائي تخـــت مـــې پکـــار نـــۀ دے
د خپــــل اشـــنا ســـره بـــه وړې ټولومــــه
بـــې یـــاره تخـــت مـــې پکـــار نـــۀ دے
تختـــه مـــې خوښـــه ده کـــۀ یـــار راســـره وینـــه
تخـــت د رســـول ص پـــه هـــوا راغـــے
شـــمعې د نـــور پکښـــې جهـــان رڼـــا کـــړو نـــه

د جبر او مینې کوم تفاوت چې د باچائي تخت او د وړو ټولو یا د ناخوښۍ او خوښۍ مثال جوړېږي ـ دا د ظلم جبر او زور زیاتي کوؤنکو نه د نفرت او کرکې ثبوت وي ـ په مینه کښې خواري ، نېستي اوې غریبي هم برداشت کیږي ـ ولې د زور ظلم خاني باچائي د برداشت کولو نۀ وي ـ کۀ دا وس د چا نۀ رسي چې تخت پرې واړوي په تخته ئې پرېباسي نو دا خو وئیلے شي چې :-

د ظالمـــــــــانو زور اوبـــــــــۀ شـــــــــه
نـــن مـــې اشـــنا پـــه کوځـــه غلـــے تېرېدونـــه
د ظـــــــالم دې ظلـــــــم تـــــــه ګـــــــوره
هـــم مـــې وهـــي هـــم مـــې ژړا تـــه نـــۀ پرېږدینـــه
د ظلـــــم وار بـــــه دې رب تېـــــر کـــــړي
ډېـــر پـــه خوارانـــو بانـــدې مـــۀ کـــوه ظلمونـــه

د اشـــــنا دې ظلـــــم تـــــه ګـــــوره
هـم راتـه خانـدي هـم مې تېـغ پـه مـرى ږدينـه
مـــا درتـــه وې جنګـــل تـــه مـــه ځـــه
اميــر ظـالم دے تـا بـه تـوپ تـه اوتړينـه

چې زور د زورور شي د نور تخم سره پټېږي ئې هم خپل شي - ډېر ځله داسې صورت حال پېدا شوے هم دے او چې نظام چرته اړے ګړے وي نو انسان ورسره مخ کيږي هم - پښتونخوا هم په دې عمل بيا بيا تېره شوې ده - لااوس هم دا عمل په څۀ نا څۀ شکل کښې جاري دے - څوک چې واکمن وي هغه زورور هم وي - مخې له ئې څوک نۀ شي ورتلے کۀ د حقدار حق تسليم کوي رضا ئې خپله کۀ ئې نۀ منې زور ئې چلېږي - چرته چې د قانون او رواج احترام پاتې نۀ شي هلته هم داسې کيږي - شېخ ملي د حق د احترام او ددې د منلو په غرض په خپل قام کښې د عزيزولۍ په احترام د زور مخه نيولې وه - کله چې په دې دستور اولس کاربند ؤ نو روغه راستي وه ولې په کوم حال چې زور د زورور لاس له ورغے نو د زړۀ شاعر په ژړا شو وئيل ئې :-

د زورورو بـــــــــــه څـــــــــــۀ زور وي
د جانـــان خپلـــه نـــامړدي ده نـــۀ راځينـــه
د مـــــــــوزيګي د زوره نـــــــۀ يـــــــم
د لاس بنګـــړي مـــې خرڅـــوي ژړا راځينـــه
د زوروو زور اوبـــــــــــۀ شـــــــــــه
نـــن مـــې جانـــان پـــه کوڅـــه غلـــې تېرېدونـــه

په داسې حال کښې د مال حال اختيار څۀ چې د خپل ځان او خپل وجود د واک اختيار هم دلاسه اوځي - په خپل دې حال ورله ژړا هم ورځي او نولېږي پرې هم - وائي چې :-

صـــــورت زمـــا واک ئـــې د نـــورو
خدايـه تـۀ واخلـې دا بـې واکـه صـورتونه

هوښياران وائي چې يا نر شه يا د نر چاکر شه - د زور مدافعت هم په دې جوړ ممکن وي - دا د جمهوريت تقاضا ده دا د انفرادي حقوقو د تحفظ کليه ده - نران

هغه وي چې خپل حق په بل منلے شي ـ ځوک چې زور زياتے کوي د هغۀ مخې له ورتلے شي ـ د تحفظِ ذات په اهميت پوهه وي ـ هم ځان محفوظولے شي او هم هغه ځوک د خپل بېرغ لاندې د زورورود زور زياتي نه په امان کولے شي چې ځنګ ته ئې اودرېدلي وي ـ نوکري يا خو د مينې وي يا د ځان د حفاظت وي ـ دا يا خپل حق په بل د منلو وي يا د غاصب نه د بېرته راترورلو دپاره کيږي ـ ځوک چې د بل پېټي ته خپله اوږه ښکته نۀ کړي هغه خپل پېټے په بل د وړلو حق نۀ لري ـ داسې وئيلے شي يو ځلې يو زائر د پير بابا زيارت له روان ؤ چې په سفر ستړے شو نو چرته د لارې په خوا کښې د اونې سېورې ته کښېناستو ـ سوال ئې وکړو چې پير بابا ځوک سور په دې مخه راولې چې مې په ځان پسې سور کړي او ستا دربار ته مې در اورسوي ـ دا ئې اووے او په خوب ورغے ـ څۀ شېبه لا تېره نۀ وه چې يو سور په دغه مخه راغے ـ چې دا اودۀ زائر ے اوليدو نو په چابک ئې راويښ کړو ـ مسافر خوشحاله شو چې سوال مې قبول شو ، اوچت راپاسېدو ـ هغې سور ورته اووې چې دا کُوچے په شا کړه او راځه راپسې ـ مسافر خوار سر سرتور کړو پير بابا ته ئې مخ کړو ـ وئيل ئې پيره بابا ما خو داسې نۀ وو ئيلي چې کوچے دې په شا کړم ـ او ستا دربار له دې ئې درورم ـ دا وي زورور او دا وي د زورورو زور ددې نه د ځان ساتلو دپاره د چا نوکر کېدل هوښياري ده ځکه نو ځوک چې ددې په حق کښې وي هغوي به وائي :-

راشــــه زمــــا د پــــلار نــــوکر شــــه
پــه نــوکرۍ کښــې بــه مــې تالــه درکوينــه
راشــــه زمــــا د پــــلار نــــوکر شــــه
چــې کــال پــوره شــي مــا بــه تالــه درکوينــه
چــــې د بــــل لاس لانــــدې نــــوکر شــــي
جوړ کور و کر شي بيا د مړو په حساب وينه
اشــــنا نــــوکر د ے راتلــــے نــــۀ شــــي
سپينه خولګۍ به په پارسل کښې ورلېږمه
مــــا درتــــه وې نــــوکري مــــۀ کــــړه
پــه نصيب خــواره اوس چتهــې نــۀ درکوينــه

یـــا مـــې د خپلـــه لاســـه مـــړ کـــړه
یـا مـې نـوکر کـړه چـې بسـته درسـره وړمـه
خانـــان بـــه بیـــا ســـره خانـــان وي
پـه مېـنځ کښـې تـوئې نـوکران ئـې زیـړ ګلونـه

د جنګ او جهاد موقع په داسې وخت کښې پېښېږي کله چې تېري کوؤنکي مخالف قوتونه په چا برید وکړي ـ حقوق ئې غصب کړي ، مخه ئې ونیسي ، زور زیاتے ورسره راواخلي ـ نو بیا داسې صورت حال جوړ شي ـ چې د یړ علاج تبر شي ـ د مفسد د فساد نه د منع کولو هم دغه لار وي ـ فساد د کور هم وي د صحرا هم وي دا د قام او د هېواد هم وي ـ تېري کوؤنکي هر چرته وي ځکه نو د ځان حفاظت د هر چا حق وي ـ ددې دپاره کۀ څوک توري ټوپک ته لاس کړي نو حق لري:-

د جنـــګ مېـــدان کښـــې پـــه خنـــدا شـــه
زۀ پـــه کوټـــه درتـــه ولاړه یـــم مئینـــه
د خپلـــه لاســـه مـــې پـــرې مـــړ کـــړې
د تـــورو جنـــګ وو پـــه خنـــدا در اووتمـــه
د یـــار پـــه خوشـــې حجـــره راغلـــم
چـیلم ولاړ ؤ یـار مـې جنـګ لـه تلـے وونـه
خلقـــه نـــن بیـــا پـــه ټکـــر جنـــګ دے
ګـــولۍ ورېـــږي اونـــې پـــانې ریژوینـــه
پـــه وطـــن جنـــګ دے وروســـتو نـــۀ شـــې
مالـه جـوړ نـۀ کـړې د همزولـو پېغورونـه
د ښـټـــوک مـــارو خوېنـــدو مېنـــدو
زلمـي پـه شـا اوټـپـوي چـې جنـګ لـه ځینـه
د احمـــدزو پـــه کلـــي راغلـــم
حجـرې خـالي وې خلـق جنـګ لـه تلـي وونـه
خدایـه دا جنـګ بـه کلـه خـلاص شـي
چـې د جانـان پـه ښنګـل سـر اولګومـه

جهـــاد لـــه ځـــم وســـله مـــې نشـــته
خدائے مې اسره شه ځان مورچې ته رسومه

## قطعه

هـــر خـــوا اورمـــه نـــارې د انقـــلاب
دا ده نخښـــــه د قـــــامونو د شـــــباب
بـــې مقصـــده د بـــدلون نـــه څـــۀ جـــوړېږي
بـــدلون هاغـــه چـــې ژونـــدون شـــي فتحيـــاب

مړۀ قومونه د جهاد او انقلاب په نارو بېداريږي ـ خپـل منزل او مرام ته د رسېدو تکلونه کوي ـ د خپـل مشـر ، قايـد او لارښـود پـه خبـره عمـل کـوي ـ دکـوم هـدف د حاصلولو فېصله چې ئې په جرګه مرکه او صائب فکر و نظر کړې وي هغـه ئـې پـه خپـل مـخ کښـې لکـه شـمع ځـان تـه بلـه کـړې وي ـ او پروانـه وار ددغـې شـمعې نـه چاپېره تاويږي ـ دا خو کله انقلاب شي او کله زنده باد شي ـ

د زنـــــده بـــــاد پـــــه نـــــارو مســـــته
راشـــه چـــې چـــل د ژوندانـــۀ در وښـــايمه
دا انقـــــلاب د ے تـــــوقې نـــــۀ دي
دشـــمنه خولـــۀ دې پـــه جرګـــو درماتومـــه

فېصله چې هر څۀ وي دا د انقلاب دمشر په ثوابديد وي ـ کۀ مشـر زيـرک ، موقـع شناس او دوربين نګاه وي او داسې وي لکه چې اقبال ستائيلے د ے چې :-

نگہ بلند ، سخن دلنواز جاں پرسوز
یہی ہے رخت سفر میر کارواں کے لیے

نو بيا خو انقلاب هم کاميـاب شـي او خپـل هـدف او منـزل د انقـلاب راوسـتونکو نصيب شي او کۀ داسې نۀ وي نو کۀ هر څوک دا وائي چې :-

کـــۀ د زلمـــو نـــه پـــوره نـــۀ شـــوه
فخـــر افغانـــه جينکـــۍ بـــه دې ګټينـــه

نو دا بیا هېڅ معنیٰ نۀ لري .نۀ هره فرانسیسۍ پښغله جون آف آرک وي او نۀ هره پښتنه پښغله ملالۍ وي .د انقلاب دا نارې سورې د وطن د حریت او ازادۍ دپاره وي .هغه څوک چې په دې راز پوهه وي هغوي دا وائي چې :-

په خپل وطن کښې خپل اختیار جنت دے
کۀ دار وي دار کـه نـار وي نـار جنـت دے

هم دغه مفکوره د انقلاب باعث کیږي بیا نو کۀ پښغلې داسې وائي نو حق لري چې :-

پـه وطـن جنـګ دے وروسـتو نـۀ شـې
مالـه جـوړ نـۀ کـړې د همزولـو پېغورونـه
یـا خـو زمـا پـه سـترګو ګـرد دے
یـا د اشـنا پـه وطـن پرېواتـۀ ګردونـه
پـه وطـن ننـګ وکـړه شـهید شـه
د شـهیدانو مرتبـې اوچتـې وینـه
وطـن د مـور و پـلاره ګـران دے
جانانـه تـا ئـې ازادۍ لـه جنګومـه
پـه وطـن جنـګ وکـړه تیـار شـه
یـا بـه شهید شـې یـا بـه سـر کـړې مېدانونه
وطنـه ځـار سـتا نـه لـوګے شـم
سـتا د خـاطره بـه ځـواني خـاورې کومـه
وطـن زمـا زۀ د وطـن یـم
پـه خپـل وطـن بانـدې بـه ځـان قربانومـه
تـۀ د وطـن پـه ننـګ شـهید شـه
تـن مـې دې خـاورې شـي چـې تـا بـه هېرومـه
تـۀ د وطـن پـه ننـګ شـهید شـه
زۀ بـه خپـل شـال سـتا پـه زیـارت وغوړومـه
پـه وطـن جنـګ دے ځـان تیـار کـه
یـا بـه سر بـائیلې یـا بـه لانـدې کـړې برجونـه

پــــه وطـــــن ســــرې وينــــې بهېـــږي
دېـر پـرې ژړېـږي يـو نـيم لـوبې پـرې کوينـه
پـــه وطـــن ننـــګ وکـــړه شــــهيد شــــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رام شــــه مئينــــه
پـــه وطـــن جنـــګ د ے ځـــان تکـــړه کـــا
زغملـــے نـــۀ شـــم د همزولـــو پېغورونـــه
وطـــــن د مـــــور و پـــــلاره خـــــوږ د ے
ژوند ے د دوئـي يـم مـړ بـه زمکـې لـه ورځمـه

د انقلاب مرام ددې هدفونو سر کول دي ـ چې قـام ژوند ے وي دا ئـې منزل وي او دا ئې مرام وي ـ خپـل مرګ او ژوند دواړه ئې په دې ليکه کړي وي ـ د قـام د ازادۍ او حريت علمبردار چې هر څوک وي په هره زمانه کښې وي نوم ئې ژوند ے وي ـ د پښتون وګړي نومړو مشرانو وخت په وخت خپله دا وظيفه په خپـل خپـل انداز سرته رسولې ده ـ دوئي همېش دپاره د جمعې جرګې په فېصلو عمل کړے د ے ـ نۀ ئې ځان له څۀ امتيازي حېثيت ورکړے د ے او نۀ ئې چرې د رواني قـافلې يـا د کاروان رهنايي ته شا کړې ده ـ د دوئي مشري د قام د فېصلې وه ځکه نو کـه قـام به په دۀ اعتماد او باور کړے ؤ نو دۀ به هم ددغې فېصلې احترام په ځان لازم ګڼو ـ هم دې باهمي اعتماد د دوئي ملي افتخار له وده ورکړې وه ـ

تــــــل دې اورم د ادم د ربـــــاب ټنګــــــه
چـــې پـــه غـــوږو مـــې راځـــي ميـــده آهنګـــه
د حيـــات چينــــه دې دغســــې جــــاري وي
چــــې ګلونــــه راټــــوکيږي رنګــــا رنګــــه

د معاشرتي ژوند دا قېصـه د ويـرې ، همـدردۍ او عشـق او رومـان د خـوږو خـوږو يادونو نه بې برخې هم نۀ ده پاتې شـوې ـ پـه دې کښـې د معاشـرتي ژونـد شـېريني هم ده او تلخ آبي هم ، د ژړا او خندا دا اوږد داستان د مينې او همـدردۍ هـاغې رواياتو له وده ورکوي چې دوام ئې په دغـې آب حيـات مونـد ے د ے ـ او لکـه چې رحمان بابا وائي چې :-

ډېر هندکي په دنيا ګرځي د چا ياد دي
عشق ژوندۍ نامه د هير او د رانجا کړه

هم دغسې د عشق او همدردۍ دې کرشمې د آدم خان ، مومن خان ، درخانۍ ، شېرينو ، مامونۍ او رامداد خان کردارونو له دوام ورکړے دے۔نن هم چې د حجرې او کور د بانډار په مېلسونو زلمي او جونه خپل ځان خوشحالوي نو دغه کردارونه پکښې په ټپو سندرو يادېږي۔او خپلې د مينې او همدردۍ جذبې پرې رابېداروي۔دوئي چې آدم خان يادوي نو وائي :-

رباب دې رو کړه آدم خانه
سوے اواز ئې درخو خوب ته نۀ پرېږدينه
چې د آدم د رباب ټنګ شو
د درخانۍ خوبونه والوتل مئينه
د دروازۍ سرېه څوک ئې
زۀ آدم خان د درخانۍ سلام له څمه
جانانه راشه آدم خان شه
د درخانۍ مينه په ما وکړه مئينه
يا د آدم د رباب ټنګ دے
يا د ورې درخو د ناز خندا راځينه
آدمه ستا د زړۀ دپاره
په سره غرمه زۀ د ګودر غاړې له څمه
ټنګ د رباب چې مې تر غوږ شي
لکه دُرخو د بلۍ سر ته اوخېژمه
د رباب ټنګ چې مې تر غوږ شو
لکه درخو ټوله د خوده اووتمه
په درخو ورشه آدم خانه
درخو جوړ کړي دي د پرو بالختونه
په ګودر ګنې اونې کېږدئ
چې درخانۍ منګے په سېوري ږدکوينه

لــــه مــــا خــــو تــــهٔ ښــــهٔ ئــــې منګیــــه
چــې درخــانۍ دې پــه ســرو لپــو ډکوینــه
ربابـــــه څـــــهٔ کـــــانې دې وکـــــړې
د درخــانۍ د ســر دې کــوز کــړو څادرونــه
خاونـــــده مـــــا د ګـــــودر پُـــــل کـــــړې
چــې درخــانۍ رابانــدې کېــږدي قدمونــه
خدایــه د مــور مــرض ئــې ځنــډ کــړې
چــې مــازیګر بیــا درخــانۍ اوبــهٔ راوړینــه

بیا کله چې په مومن خان راسر شي نو د شېرینو او د هغهٔ د مینې ذکر څهٔ داسې کوي .په سر کښې به وائي چې :- درځار مومنه ګل شې په همزولو ... او ورپسې به ناري کړي چې :-

مـــــورې راکښـــــېنه اور رابـــــل کـــــړه
د مــومن خــان پــه وینــو ســرهٔ دي بالختونــه
شـــــېرینو دا رنګـــــې نـــــاره کـــــړه
پــه نیمــه شــپه کښــې مــې موزیــان ازاروینــه
مومنـــه شـــین خـــال مـــې ســـهي کـــړه
د هندوســتان د جونــو نشــته شــنهٔ خالونــه
چـــې مـــومن خـــان رانـــه جـــدا شـــو
زمـــا د تـــن پـــه بهـــار راغلـــو خزانونـــه
ســـر کـــړه راپورتـــه مـــومن خانـــه
مــا لــه دې څــهٔ لــه هندوســتان راوړې دینــه
خلقـــه خبـــر ئـــې مـــور تـــه وکـــړئ
مــومن خــان راغــے ولــې بیــا پــه ببرتــه ځینــه
مومنــــــه څـــــه الله دې مـــــل شـــــه
خولګۍ مې ستا ده کهٔ زهٔ تورې خاورې شمه
ادکـــې مـــورې چـــراغ بـــل کـــه
د مــومن خــان د وینــو اودریــدهٔ ډنډونــه

مـــــومن خانــــه ځــــان خبـــــر کــــه
د ګلـــو بـــاغ درنـــه خـــزان اوربیږوؤنـــه
بېلتونــــه کــــور دې مـــــولاوران کــــه
پـه شـرارت دې مـومن خـان د ملکـه ځینـه
چـــــې شــــــېرینو اوپېژنــــــــدلو
راپرېوتـــه پـــرې د فـــراق ژړا کوینــــه
پټـــــه د کـــــوره رابهــــــر شــــوه
تـر مـومن خـان شـېرینو ځـان اورسـاؤنه
پـــــه جــــدايی ســــره جــــدا شـــو
یـه مـومن خانـه زۀ دې پرېښـوم سـرۀ لاسـونه
چـــې خـــان مـــومن لـــه مـــا جـــدا شـــو
بـدن مـې رېـږدي زړۀ مـې صـبر نـۀ کوینـه
مــــومن ســــفر تــــه ځــــان تیــــار کــــړو
هلتــــه شــــېرینې تــــه رېبــــاروائي حالونــــه
شــــــېرینو خــــــوب بانــــــدې اوده وه
د ورونـــو تـــاؤ وو تـــرې چـــاپېره قلاؤنـــه

د زور زیاتي او ظلم او تـادی پـه خـلاف د اواز پورتـه کولـو او د همـدردی د اظهـار دپاره د مامونی مظلومیت او د رامداد خـان مېړانـه او شـجاعت یـاد ېږي ـ دا لکـه چې د هر چا زړۀ ته نزدې مثالي کردارونه دي ـ چې خپلې پښـتنې معاشـرې قبـول کړي دي ـ د مـامونی پـه صـورت کښـې د مظلومیـت کـردار او پـه یـو بـې ګنـاه بـې قصوره انسان په تیري او ظلم کولو د شېر عالم کردار د عبـرت نمونې شـوي دي ـ هم دغه شان د رامداد خان المیـه د غاصـبانو نـه د خپـل حق ترلاسـه کولـو او ددې دپاره د خپل سر په ورکولو د هغۀ په شخصیت د یو حق پرست کـردار د جوړېـدلو او د پښتو او پښتونولی عـالي مـرام تـه پـه ځـان رسـولو رامـداد خـان د ټـول اولـس دپاره یو مثالي کردار شـوے دے ـ کله هم چې څوک دوئي دواړه یـادوي نـو ددغـه دواړو المیو په پس منظر او نتائجو ئې نظر وي ـ کله چې دا وائي چې :-

بیا به د کلي مېنځ ته نهٔ ځم
د مامونې د سر قاتل به پکښې وینه
مامونې شنهٔ شوه په خندا شوه
د ماما زوے دے ما به نهٔ حلالوینه
د مامونې د مرګ اواز شو
جینکو پرېښودې قلپې په تنورونه
د مامونې د مرګ اواز شو
په بڼ کښې اونې تاوېدې ویر ئې کاؤنه
مامونې مور ته جواب اوکړو
د کټ په پښه کښې مې اوګې ده زنګ به شینه
په ناوګې کښې اوبهٔ نهٔ وې
د مامومې د وینو راغله سېلابونه
د مامونې آبداري زلفې
سپایانو یورې تېزندې ترې جوړوینه
د مامونې وړوکې لور ده
دا شېر عالم ئې په نامباتو غولوینه
مولادې ورک که شېر عالمه
د تماکو په پاڼو چا کړې مرکونه

د پښتنو د معاشرتي ژوند په بې شماره ناوړو الميو کښې د خپل وجود د شته والي او په بل د منلو په خاطر او د پښتونولۍ سپینو سپېڅلو اقدارو له د ځلا ورکولو په نتیجه کښې پېښه شوې د رامداد خان د سر ورکولو الميه ددې خبرې وضاحت کوي چې وائي چې کهٔ تهٔ وائې چې زهٔ یم او زهٔ وایم چې زهٔ یم، نو نهٔ به تهٔ ئې نهٔ زهٔ یم ـ خو کهٔ تهٔ وائې چې تهٔ ئې او زهٔ وایم چې تهٔ ئې، نو هم به تهٔ ئې هم به زهٔ یم ـ ژوند د یو بل منلو ته وائي دا په نښت کولو د چا نه نصیب کېږي هم دغه د رامداد خان د الميې سبق دے او دغه ئې تعلیم دے ـ هم دغه تعلیم په خپل مخصوص انداز کښې داسې ورکېږي چې وائي چې :-

وار د رامـــــداد د پګـــــړۍ ټېـــــر شـــــو
نـــــور ممنــــدان دې پګـــــړۍ نـــــه پســـــروينه
رامـــــداد دې دا ځلـــــې خـــــدائے جـــــوړ کـــــړي
کـــه دوبـــاره پـــه کـــوپر جنـــګ وي مـــړ دې شـــينه
رامـــــداد دې دا ځلـــــې خـــــدائے جـــــوړ کـــــړي
د هـــري چنـــد خـــور ئـــې ســـنډا مـــنلے د ے نـــه
رامـــــــــداده اســــــــپه دې ړنـــــــــده شــــــــه
چـــې پـــه تـــادۍ دې د مـــرګ ځـــائے تـــه رســـوينه
رامـــــــــداده اســــــــپه دې ړنـــــــــده شــــــــه
ښنګـــه بـــه ټېښـــته دې خپـــل مرګـــه لـــه رســـوينه
رامـــــــــداده څيــــــــرې ګرېـــــــوان راشـــــــه
پـــــه کـــــوپر راشـــــه جينکـــــۍ دې يادوينـــــه
رامـــــــداده پـــــاس پـــــه هـــــوا راشـــــه
د کلـــــــې لارې راښېـــــــزو نيـــــــولې دينـــــــه
رامـــــــداده پـــــاس پـــــه اســـــمان راشـــــه
ســـــــمې لارې راښېـــــــزو نيـــــــولې دينـــــــه
ســـــم راښـــــې زے درتـــــه تېـــــه شـــــو
رامـــــــداده نيســـــه د ختېکـــــو زيارتونـــــه
مـــــور ئـــــې کـــــوټې پـــــه کـــــوټې ګرځـــــي
د رامـــداد خـــان ټـــوپۍ بـــه چـــا مونـــدلې وينـــه
رامـــــداد پـــــه لـــــوړه غونـــــډۍ کېـــــږدئ
وړې وړې خـــــــانخېلې ســـــــتر ماتوينـــــــه
عالمـــــــه غـــــــوږ کېـــــــږدئ غوغـــــــا ده
د رامـــــــداد خـــــــان د جرمنـــــــۍ ټقـــــــا راځينـــــــه
چـــــې رامـــــداد خـــــان ئـــــې ورلـــــه راوړو
مـــور ئـــې ړنـــده شـــوه پـــه بـــازو خولـــه لګوينـــه

خلقــــــه راځـــــئ رامــــــداد ئـــــې راؤړو
لکـــه ګـــلاب پـــه خـــزان تـــارمې شـــونه
ورشـــــه خـــــارو بـــــې بـــــې تـــــه وايـــــه
رامداد ئې مړ کړو ټيک دې کوز کړې د تندي نه
د رامـــــــداد خـــــــان ډ پـــــــرې قچـــــــرې
پـــــه کړاکـــــړ ځـــــې ملغلـــــرې تويوينـــــه
رامـــــداد ئـــــې ســـــور پـــــه وينـــــو راؤړو
چـــا وې رامـــداد دے چـــا وې غوښـــې خرځوينـــه
د خـــــــــوني چنـــــــــار د لانـــــــــدې
شـــال ئـــې ګانـــه کـــړو رانيـــزی ســـرتوره ځينـــه
د ملاکنـــــــــډ بـــــــــازاره وران شـــــــــې
تـــا کښـــې خرڅېـــږې د رامـــداد د کـــور شـــالونه
چـــې رامـــــداد خـــــان ئـــــې پـــــرې وژلـــــے
د دواړو لاســـو دې رب مـــات کـــړه مړوندونـــه
پـــــه قـــــاتلانو ئـــــې لعنـــــت شـــــه
الله دې ورکـــړې رامـــــداد خـــــان لـــــه جنتونـــه
پـــــــه دواړه جانـــــــه ســـــــربلند شـــــــو
پـــه رامـــداد خـــان بـــه تـــل وريـــږي رحمتونـــه
چـــې رامـــــداد خـــــان زلمـــے دې مـــړ کـــړو
پـــه ســـر دې بـــار شـــه د ټـــول عمـــر لعنتونـــه
چـــې رامـــــداد خـــــان دې پـــــرې وژلـــــے
ټوپـــک دې مـــات شـــه د لوهـــار پـــه ســـندانونه
چـــې رامـــداد خـــان دې ځـــواني مـــرګ کـــړو
نصـــيب دې مـــۀ شـــه د ژونـــدون خـــوارۀ خوبونـــه
ثلـــــــور کـــــــوټې ثلـــــــور دالانـــــــه
د رامـــداد خـــان ويـــر ئـــې پـــه ســـرو غرمـــو کوؤنـــه

چې رامداد خان زلمے دې مړ کړو
نامرده نۀ کړې پښتانۀ داسې کارونه
په آفرين به رامداد ستائي
ورله به ږدي د ګور په خاوره زير ګلونه
بس دے په دغه ځائے به ئې پرېږدو
د رامداد مرګ د پښتو برج اونړؤنه

مړي مړۀ شي روايات پاتې شي .روايات بيا د معاشرتي تمدن حصه شي . ژوندون دغه شان مخ په وړاندې روان وي . مصرعې ، ستائنې او ساندې جوړېږي ځۀ يادې پاتې شي ځۀ د وختونو د بهير سره تېرې شي هېرې شي . دا هم لکه د ژوندو کردارونو په خپل خپل وخت خپل کردار لوبوي او خپل اثر پاتې کوي . کله خو دا اثر ديرپا شي دوام اولري او کله ئې په ځۀ موده پس ئې اثر زايل شي او ټپه او مصرعه هم اخر د يادو نه بهر شي . هر ځۀ چې وي ولې ټپه او ژوند لاس تر لاسه څنګ په څنګ روان دي .

په تېرو وختونو کښې زيات پښتانۀ قبائيل يا خو په دشتونو صحراګانو کښې اوسېدل يا بيا د تورو غرونو استوګن وو . د کلو ګذران او کلي وال ژوند ئې لکه چې ډېر د ورستي زماني وي . د فطرت د مقاصدو دغې نګهبان له خپلې دې صحرا نور دئ د زمري زړۀ او عقابي نظر ورکړے ؤ . هم خپل دې صفت دے د انساني ژوند د قافلې قافله سالار کړؤے ؤ او ددۀ نه ئې د پوخ تن پختون ساز کړے ؤ . ځکه دے ملک هم ؤ په بټهان[1] او خان هم ياد شوے ؤ . دے خپل فطرت او خپلو صفاتو دغې مقام ته رسولے ؤ ځکه نو که د ملک طالوت د کنهي نه ؤ او کۀ په خپله په خپل ځانګړي آريائي حېثيت کښې ؤ ولې خپل دا لقب ئې هم لکه چې موروثي ؤ . دا ئې د کوم بادشاه ، امير يا ټولواک څخه نۀ ؤ موندے . دا ددې قام انفرادي صفت ؤ .

انساني نوغي ته د ژوندي پاتې کېدو چل او د لږې خوږې سمې نه زياتې خوږې سمې پله د هجرت او مسافرت کولو لاره فطرت ورښودلې ده .دا روايت هر

[1] بټهان چې پټهان شوے دے د کافرستان په ژبه د قام دنياوي او روحاني مشر ته وئيلے شي .

الهامي او اسماني کتابونو ذکر کړے دے ـ پښتون وګړے هم هر کله ددې روایاتو پابند پاتې شوے دے ـ دا ئې د معاشرت او معاش ضروري لاره ده ـ د غورې مرغۍ لټون چې دے څو تر کابله رانژدې کوؤ نو د اقتدار په نیلي سوارهٔ منګول قبائیل هم د خپلو علف زارونو نه رابهر شوي وو ـ دغې وحشي قبائیلو د خپل مشر چنګیز خان او وروستو بیا د هغهٔ د اولاد په مشرۍ کښې ډېرې ابادې سیمې ویجاړې کړې وې ـ ابادۍ بستۍ ئې ورانې کړې وې ـ په داسې حال کښې ئې د امارت او بادشاهت پخواني مرکزونه هم نیولي وو ـ منګولي مغلي شوي وو ـ زورور وو زور ئې لرو په زور زیاتي اموخته ؤ ـ احسان فراموش ؤ ـ د احسان بدله به ئې په زیان تاوان ورګرځوله ـ ددې نه په یو وخت کښې الغ بېګ ساز شوے ؤ ـ هغه د کابل باچا کړے شوے ؤ ـ نو چا چې په خپل ځان لیکه کړي وو هغه ئې اخر په دار کړل ـ ددغې اولس مشران ئې خطیرهٔ شهیدان ته رخصت کړل ـ نور پاتې اولس ئې در په دیکې کړو ـ دا د خپل وخت د تاریخ یوه لویه المیه وه ـ ددې نه راپه ایسته د سړبني قبائیلو ختیز پلو د هجرت عمل شروع شو ـ په جلال اباد ، پېښور ، کلپانۍ ، بنېر ، سوات او د کوهستان په سیمو په راخورېدو شول ـ د افغانستان نه په روهستان اولګېدل ـ دا ئې مسکن شو ـ روهستان پښتونخوا شوه د مغل د تېري او زور زیاتي نه څهٔ قدرې په ډډه شول ـ پاتې ورونړو تربورانو ، عزیزانو او ګوندي والو هم څوک په ټوچۍ او څوک په ګومله په راکوزېدو شول ـ مرغزارونه علف زارونه ئې پاتې کړل ـ چا دشتونه صحراګانې اونیوې او د چا غرونه او وادیانې په برخه شوې ـ څوک د پلۍ شو څوک د چمتالۍ شو ـ د ځینو پکښې اوړے د سوات او ژمے د سمې شو ـ چې په اباده اباد شول نو کلي وال شول د کلو د ژوند عادي شول ـ روزګار ئې بدل شو ـ د کور دیرې خاوندان شول ـ مسافر خانې پاتې شوې ـ مقبرې هدیرې ئې جوړې کړې ـ چې ژوندي ئې یو ځائے شول نو مړهٔ ئې هم رایو ځائے کړل ـ په کلچر ئې ایګري کلچر غالب شو ـ بزګري ، باغواني ئې خپله کړه ـ چې په ټیکاؤ شول نو کلي په کلي سره اشنا شول ـ څوک د تاڼې شول ـ تاڼه د دوئي شوه ـ هم پرې هم پرې شادان شول هم پرې خندان شو ـ دا تاڼه نۀ وه د سرو دانه وه ـ دا به وئیل ئې چې کله وار ؤ :-

پــــه هندوســـــتان خوشـــــحاله ګرځـــــه
پـــه مـــا دې ځـــاځي د تـــانړې زاړهٔ کورونـــه
اول د ټـــــــــولې تـــــــــانړې خـــــــان ؤ
اوس د بختي په خوړ کښې چخچې ټولوينه
اوس بـــــه ســـــيند ډک د وينـــــو راشـــــي
پـاس پـه تانړه کښـې شـپږ خانـان حلالوينـه
پالنـــــګ ئـــې پـــاس پـــه لـــوړه کېـــږدئ
چـې د تـانړې خانخېـل ئـې عـذر لـه راځينـه
تانړـــــه د خـــــان د خـــــانۍ ځـــــائے دے
د ډيـــن پلټنـــو پکښـــې کـــړي ســـلامونه

د تانړې مخ قبلې ته ؤ ـ مخامخ مخ په قبله ئې چکدره وه ـ دلته د مجذوب بابا مزار ؤ ـ دا د يو نېک سړي يادګار ؤ ـ عقيدتمندو هېرولے نۀ شو ځکه خو به ئې وئيل چې :-

د لېـــــــونۍ ارمـــــــان پـــــــوره شـــــــو
د چکـدرې مجـذوب تـه شـونډې بوسـوينه

د کلو دې اشنايۍ د دوئي په سندرو کښې ځائے اوموندو ـ دا کلي په ستائينو کښې ياد شول وپېژندے شول ـ څۀ لرې څۀ نزدې ځينې دوئي تش په نوم وپېژندل د سمې ، سوات او بنېر نه ئې راواخله ، پېښور کابل ، مدينې او لندن هم په ټپو کښې وخت په وخت ياد شول او په دې کښې ئې داسې دوام وموندو چې خو دا ژبه ژوندۍ وي ـ دا قريبي کلي او ښارونه به پکښې ياد پرې ـ دا روايات دي دا تاريخ دے دا تمدن دے او هم دا هاغه فولکلوري عمل دے چې په اولس کښې ئې رواج موندے دے او عام وګړے ئې د تمدن د لارو سره اشنا کړے دے ـ کلـي، ښـارونه ، علاقـې ، ملکونـه او اولسـونه د شـفاهي سـندروه يـوه داسـې موضوع ده چې هم يادولې شي او هم نظر انداز کيږي ـ چې کلے يادوي نو تل به دا وائي چې :-

لېـــــــونۍ لاړه کلـــــــے چـــــــول شـــــــو
ښنګ به په چول کلي کښې شپې صبا کومه

خدایــــه دا پـــورې کلـــے وران کـــړې
ښکـا مې شـپه وه بـې بړستنې سملاستمه
کلـــے بـــه ولـــې نـــهٔ خبرېـــږي
چې دې هـر وختـې پـه جرګـو رضـا کومـه
مـــا وې يـــواځې زمـــا يــــار ئـــې
د کلـــي ټـــال ئـــې خلقـــې دې زنګوينـــه
پـــه کلـــي شـــنهٔ لـــوګي ښـــکاره شـــو
زمـا وران کـارې يـاره څـهٔ دې کـړې دينـه
جانانـــه خپـــل کلـــي تـــه راشـــه
کهٔ خلق ډېر دي پرې ودان دې خپل کورونه
زمـــا دې وران کلـــي کښـــې څـــهٔ دي
زهٔ دا لنـډۍ ورځـې غونـډۍ تـه تېرومـه
پـــه پـــورې کلـــي کښـــې مئـــين يـــم
ملـک ئـې څـوک دے ننـواتې ورلېږمـه
ولـــې بـــه ځـــې زمـــا د کلـــي
کـهٔ پـه مـا ځلے جـوړوې خوشـحاله يمـه
تلـــه پـــه لاس خـــرګې پـــه مخکښـــې
د ديـدن بيـاج لـه د اشـنا کلـي لـه ځمـه
آ پخـــــوانۍ مينـــــه دې نشـــــته
يـا دې زړهٔ تـور دے يـا دې کلے لمسـوينه

ځينې ځايونه د څهٔ تاريخي يا روماني پېښو په حواله هم په ستائينو ، مصرعو کښې يادولے کېږي ـ لکه د امبېلې شهرت د بنېر د هاغې تاريخي غزا د مخه دے کله چې په نولسمه صدۍ عيسوي کښې د فېرنګي لښکرو په دغه سيمه چپاؤنه وکړل ـ د بنېر سيمه خو ئې زېر نهٔ کړې شوه ولې امبېله ئې د تاريخ په پاڼو کښې تل تر تله ياده کړه ـ په هندوستان کښې د ۱۸۵۷ء د جنګ ازادۍ نه څو کاله پس چې د فېرنګي ښکرونه اوښارښتېدل نو د بنېر او سوات مجاهدينو له په ډېريچ ورغلل ـ تاريخ کهٔ په هر نګ کښې دا داستان ياد کړے دے ولې اولس

هم دا هېر کړے نۀ دے۔ دا ئې د خپلو شفاهي سندرو لکه په افغانستان د مېوند د ملالۍ د ټپې د فخر او وياړ سبب کړے دے۔ دا سې لکه :-

پـــــه امبېلـــــه خځــــــې اوښـــــو
بـــــره ســــنګر د بابـــــاجي اورســــېدونه
چــې امبېلـــه ئـــې ســـتا ســـيرۍ کــړه
د سوات فقيـره اوس پـرې لـوړ وايـه بانګونه
پـــــه امبېلـــــه تــــوره تيـــــارۀ شــــوه
بابـاجي پورتـه کـړه امسـا چـې رڼـا شـينه
پـــــه امبېلـــــه دې رب شـــــهيد کـــــا
چــې جنــازه دې د ســيدو بابــا کــوي نــه
مېنــدو پېــدا کــړو خوبنــدو لــوے کــړل
د امبېلـــې ګيـــدړ پـــرې خېټـــې مړوينـــه
د امبېلــــــې پـــــه کــــا امبېلو کښــــې
غازيـان پراتـۀ دي سـرې ټـوپۍ چغـر ډالونـه
د امبېلــــــې پـــــه کــــا امبېلو کښــــې
ګــــوره پراتــۀ لغــر ليتکــي ببرســـرونه
د امبېلــــــې پـــــه کــــا امبېلو کښــــې
ګيـــدړ مـــاړۀ شـــو د ګـــورؤ پـــه لړمنونـــه
پـــــه ملاکنــــډ پـــــه امبېلـــــه کښــــې
شـيدان پراتـۀ حـورې شـراب پـرې ګرځوينـه
زلمـــــو چـــــړو لـــــه مــــوتې ورکـــــړل
صـــبا غـــزا ده ملنـــدرۍ لـــه بـــه ورځينـــه

د توردلي او شهۍ په روماني داستان د شهۍ سپېځلے کردار د يوې مثالي وفا شعارې معشوقې په حېثيت کښې په داسې انداز يادولے کيږي چې د خپل محبوب د ژوند بچ کولـو دپاره هرې سختې او هر تکليف ته غاړه بسته ور وړاندې کيږي ۔د شهۍ د اټک د قلا په لورې د ځيګر خون د اوږد سفر د ذکر په دې مصرعه کښې د اکوړې نوم داسې ياد ېږي چې :-

د اکـــــــوړي پـــــــه مېـــــــدانونو
شــهې روانــه يــار لــه غشــي لينــده وړينــه
د جلالـــــــــه ګـــــــودره وران شـــــــي
پـــه جينکـــو دې ســـالنډې اولګوؤنـــه

د پلې، پجي ګرام او چمتالي نومې کلو او ځايونو ذکر چې په لنډيو کښې شوے دے نو څۀ دا رنګې دے۔

د پلـــې خانـــه ښـــۀ دې اونـــۀ کـــړل
چـې چمتـــالي دې پـــه پلـې بدلـــه کـړه
د پجـــي ګـــرام ملـــک تـــه وايـــئ
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې درتـه کوينـه

دغسې په يوه ټپه کښې د بنېر پامپوخه نومې کلې ياد شوے دے۔ دغه ځائے د اوبو د کمي او د اولسي لارې نه يو طرفته کېدو د مخه ډېره زمانه په داسې حال کښې ؤ چې د چا ورباندې څۀ زيات کار غرض نۀ ؤ ولې د کله نه چې د خواؤ شا غرونه ئې د سنګ مرمرو په درنګونو ياد شوي دي۔ نو دغه کلي هم شهرت موندے دے اوس نوکه پامپوخه چې چرې به محاورتاًبه داسې يا ديده چې:۔

ســـــتا د ديـــــدن ولـــــې بهيـــــږي
پـه مـا پامپوخـه شـوه د تنـدې پکښـې مرمـه

ولې هاغه پامپوخه اوس هاغه نۀ ده هم پکښې اوبۀ شته اوهم پکښې روزګارشته دے۔ د رامداد خان الميي د کوپر نوم له په شفاهي سندرو کښې دوام ورکړے دے۔ دا کلے د سم رانړي زي په حد کښې دے۔ د غرۀ ممند په کښې هم اباد دي۔ دلته د رانړي زو او ممندو په يوه نښته کښې رامداد خان مړ شوے ؤ ۔ کومې ساندې چې د هغۀ په ياد کښې وئيلې شوي دي په هغو کښې کوپر هم ياد شوے دے۔

رامـــداد دې دا ځلـــې خـــدائے جـــوړ کـــړي
کـۀ دوبـاره پـه کـوپر جنـګ وي مـړ دې شينه
رامـــــداده خيـــــرې ګرېـــــوان راشـــــه
پـــه کـــوپر راشـــه جينکـــې دې يادوينـــه

دغسې هري چند نومې يو بل کلےچې د رانې زو او اشنغر په پوله اباد دے هم په دې الميه کښې ياد شوې دے۔

رامـداد دې دا ځلـې خـدائے جـوړ کـړي
د هـري چنـد خـور ئـې سـنډا مـنلے دے نـه

د بلخ ښار هم په يوه لنډۍ کښې داسې راغلے دے۔

ورشــــــه د بلخــــــه دنيـــــا راؤړه
پـه کـورنۍ دنيـا مـې پـلار نـهٔ درکوينـه
د رامـــــداد خـــــان ډ يـــــرې قچـــــرې
پـــه کړاکـــړ ځـــې ملغلـــرې يويوينـــه
زمـــا جانـــان دې بنـــديوان کـــړو
تـه بنـديوان شـې د کـانګړې غټـه اخونـه

پېښور او کابل عمري قديمي د پښتنو کلتوري او ثقافتي مرکزونه پاتې شوي دي۔ کابل پايه تخت ؤ۔ پېښور، پېښور دے، چارچاپېره ورنه د پښتنو قبيلې راتاؤ دي۔ دا کۀ پاس په غرونو کښې دي او کۀ لاندې په مېدان کښې دوئي ټول په پېښور او پېښور په دوئي اباد دے۔ د څېنو دروازو نومونه ئې هم ددغه علاقو په نومونو ياديدل۔ پېښور په ډېرو ستائينو او ټپو کښې ياد شوے دے لکه :-

تـــــهٔ بختـــــور ئـــــې پېښـــــوره
د مـــور و پـــلاره مـــرور تالـــه راځينـــه
د پېښـــور دســـتورو مـــې خـــوښ دے
جونــه ئــې واړه ســور ســالو پــه ســروينه
د پېښـــور ســـور ســـات ئـــې ټـــول کـــړو
د شـاه لېلـې د ټـتکـۍ لال تـرې جوړوينـه
چـــار ګـــل پـــر کرمـــه کښـــې جـــوړېږي
د پېښـــور زرګـــره مـــات دې شـــه لاســـونه
مـــا وې چـــې خـــوا لـــه بـــه مـــې راشـــي
جانـــان مـــې لاړ پـــه پېښـــور اولګېدونـــه

لکــــه بهـــــار پــــه تېرېـــــدو شــــوم
جانـــان پــه زمکــه د ملتـــان کـــرلے يمـــه

بيا کله چې د کابل خبره راشي نو به وائي چې :-

کابـــــل کښــــې ځـــۀ غـــوارې نادانــــه
کابــل کښــې نشــته ســلارئ ســرۀ پلوځنــه
اخــــر کښـــــې دومــــره درتـــــه وايـــــم
اجــازه واخلــه چــې جــوړه کابــل تــه ځونــه
د يـــــار تهمــــت د ډيلـــــي تخـــــت دے
چې د جانان په تهمت رنګ شوم بادشاه شومه
لاس پــــه لســـتوني کښـــې راتېـــر کــــه
چـــې د کابـــل پــــه خربـــوزو دې وارومــــه
مــــخ دې کابــــل خولــــه دې خيبـــــر دے
د زنــــې خــــال دې افريــــدي داړې کوينــــه

بيـا پـه ۱۸۹۵ء کښـې کلـه چې فېـرنګے د چتـرال د لام پـه غـرض پـه ملاکنـډ را اوخـوت او د سـوات اولـس ورتـه تيـپ تنبـه شـو نـو پـه دغـه ورځـو کښـې دې ټپـې شهرت اوموندو چې :-

چرتــــه لنـــــدن چرتـــــه چتـــــرال دے
بې ننګي زور شوه فېرنګيان چترال له ځينه

د مېونـد د ملالـۍ د هغـې فـی البديهـه مصـرعې پـه رنګـې دي مصـرعې تـه هـم عـالمګير شهرت حاصل شوے دے۔

يــــار د مېونــــد غـــــزا لـــــه تلـــــے
د فېرنګـــــي خانـــــه بــــه دړې وړې کړينـــــه

او د ملالۍ د خولې ختلې هاغه مصرعه د هېرولو نۀ ده چې وئيلې ئې وو چې :-

کــۀ پــه مېونــد کښــې شــهيد نــۀ شــوې
ګرانــه لاليــه بــې ننګــۍ لــه دې ســاتينه
د مجاهـــــد د تـــــورې شــــــرنګ دے
روسـيان پـه ماتـه پـه ژړا ماسـکو لـه ځينـه

د کلو او ښاريو ذکر چې راځي نو مدينه او يثرب کله د چا نه هيرېدے شي ـ دا خو د دواړو جهانو د سردار ﷺ ښار دے ـ ځکه نو چې د چا هم په زړۀ ارمانونه راوربېږي نو به وائي چې :-

زمـــــا پـــــه زړۀ دي ارمانونـــــــه
راځۍ چې ټول د مدينې سردار ﷺ له ځونه
پـــه شـــين ګنبـــد مـــې ســـلام وايـــه
د مـدينې سـردار ﷺ سـلام لـه بـه ورځمـه
د محشـــــر تږيـــــو راپـــــه داؤ شــــئ
د مـدينې سـردار ﷺ کـوثر غـاړې لـه ځينـه
چـــې د يثـــرب پـــه طـــرف درومـــې
په پاک رسول ﷺ باندې مې وايه سلامونه
بـــاد صـــبا يثـــرب تـــه لاړ شـــه
د مـــدينې ســـردار ﷺ تـــه وايـــه ســـلامونه
د لېونـــــــو د لارې مـــــــل شـــــــوم
د يـــار پـــه مينـــه پـــه يثـــرب اولګېدمـــه

هاغه څوک چې په يو وخت کښې د بالانه رابدر شو په ډېر څۀ خبر شو ډېر څۀ ئې اوموندل ـ ملکونه ئې خپل شو اختيار ئې خپل شو ـ د خپل روش شو د خپل منزل شو ـ د تاريخ پاڼه واؤړېده ـ چې ټېپې سندرې به ئې وئيلې نو تش دا به ئې نۀ وئيل چې :-

يـــــو دې د غـــــواؤ غوښـــــه کـــــړم
بـل چـې سـندرې نـۀ وايـم څـۀ بـه کومـه

او نۀ يوازې دا چې :-

بيـــا بـــه پېـــزوان پـــه پـــوزه نـــۀ کـــړم
يار چې شپېلۍ وهي پېزوان پکښې ستائينه

بلکه اوس ئې نور هم ډېر څۀ ته پام ۇ ـ په ډېر څۀ ئې نظر ۇ ـ ډېر څۀ ورته ښکاره شوي وو دا چې وائي چې ګډې ، ګډان کبل ويني اوښان لرې منزل ويني نو دوئي هم اوس په خپلو اوښانو دپاسه سوارۀ شوي وو ـ سمه سوات ئې ليدلي وو ويل به ئې چې هاغه مچۍ د سوات دي چې غول ئې شات دي ـ علاقې ملکونه او د پس پرد پس ئې په نظر کښې وو ـ وئيل به ئې :-

د کامراني په کنډۇ اوړم
ماته د سوات کاڼي ګهر ښکاري مئينه
په سوات کښې شولې لونګۍ دي
په لونګو به زما جان سنتومه
سمې ته کوز شوم سوات ته راغلم
سوات ته مې راوړل پنډ په سر د يار غمونه
چرې په خېټه به موړ نۀ شي
کۀ سوات خمبه شي کاټکله ئې موري شينه
دا زړۀ مې داسې نن خفه دے
لکه د سمې سوداګر چې سوات ته ځينه
د باچا زويه دوران خانه
د سوات د سرۀ کاروان ستا په نوم راځينه
سوات په مثال باغ ارم دے
د لرې لرې شهزادګان ورله راځينه
اشنا د سمې زۀ د سوات يم
سمه دې ورانه شي چې دواړه سوات له ځونه
ځئ چې د سوات غرونو ته خېژو
د اشنغر په سيمه ډېر شو سېلابونه
شناخت د ښېر مينه د سمې
دا بې ارزي په سوات کښې ډېره ده مئينه
د سوات باغونه ټول ويجاړ شو
د شنو طوطيانو ترې واپس راغلو سېلونه

د ســـــوات نختـــــر تنـــــدر دې پـــــرې كـــــړل
ځكـــه ســـحر مابنـــام ښـــېرې درتـــه كومـــه
بـــــــس دے پـــــــه دغـــــــې فېصـــــــله ده
په سوات كښې ګل دې بوئين ئې سمې ته راځينه
د يـــــار مـــــې څـــــۀ خـــــوږې قيصـــــې دي
چـــې د درال د لارې مـــــل مـــــې وي مئينـــــه
خاونـــــــده بيـــــــا دې پســـــــرلے كـــــــړو
غړانګـــوره شـــپونكۍ بيـــا درال لـــه ځينـــه
يـــــــا د درال د ســـــــر كـــــــوچر وے
يـــا زوړ مـــلا وے چـــې مـــې لوســـتې كتابونـــه

بيا چې د بنړ په سيمه راتاوېږي نو هاغه بنړ چې پخوانو به ئې وئيل چې بونړه سره پړه يوه ورځ دې باران وي شپږ اتۀ ورځې دې لړه ـ ولې بنړ خو د امير خان تاټوبے هم ؤ او هغه لرې په هندوستان كښې د ټونک په شان يو لوئے رياست حكمران شوے ؤ ـ بنړ مردم خېز ؤ ځكه خو اولس ئې په شناخت پرداخت پوهه ؤ دا به هسې چا وئيلي وي چې ژرنده په سر زۀ د بنړ اوبو له ځمه ـ د بنړ د زمكې خپل يو وقار او خپل درناوے دے كۀ يادېږي نو په ښۀ ياد ېږي وائي :-

شـــناخت د بنړ مينـــه د ســـمې
دا بې ارزي په سوات كښې ډېره ده مئينه

بنړ د انبېلې په غزا عالمي شهرت موندے دے ـ په پښتونخوا كښې وړومبۍ ټكره فېرنګې په بنړ خوړلې وه ـ ځكه خو بنړ په ستائينو ياد شوے دے وائي چې :-

زمـــا جانـــان ګـــل د نميـــر دے
پروت په بنړ دے زۀ ئې تل سلام كومه

د حضرت سيد علي ترمذي پيربابا مزار پُر انوار هم په بنړ كښې دے ـ دغه زيارت ګاه د ډېرو په نظر كښې لكه د نمير د ګل دے ـ د نمير ګلونه د پسرلي په موسم كښې د بنړ د غرونو ښائست وي ـ روحاني تړون او جهادي جذبې دا سيمه ډېره په درناوي ياده كړې ده ـ

کـــۀ پــه بنـېـــر کښــې شــهيد نــۀ شـــوې
لاليــه مــخ دې پــه کفــن کښــې نــۀ ګورمــه
زمـــــا لالـــــــے ګـــــل د نميـــــــر دے
پـروت پـه بنـېـر دے پسـې غابښـې ماتومـه

د بنېر د غزا نه وروستو دوؤ غزاګانو ملاکنډ له داسې نوم او شهرت ورکړو چې د بنېر د انبېلې غزا ئې شاته کړه ـ د سيدو باباجي په وفات ډېر کلونه تېر شوي وو ـ اوس په سوات کښې د پښتو زمانه په تېرېدو راغلې وه ـ يو تر بله د پښتو کولو ، د سيالۍ او ضد بازۍ ، روايتي پښتو کۀ څۀ هم په رسمي پښتو بدله شوې وه ولې بيا هم د سوات پرده لا پورته شوې نۀ وه ـ د ملاکنډ په غزاګانو دغه پرده پورته شوه ـ فېرنګي هم په ملاکنډ را واؤړېدو ـ ولې په ملاکنډ د تاريخ يو داسې باب رقم شو چې په لوبو چاربېتو او ټپو سندرو ياد شو ـ

د معصـــــومۍ ابــــۍ ســــر تيــــري
ټـول پـه تـور بـرېښ د ملاکنـډ غـزا لـه ځينـه
د فېرنګــــــې فوځونـــــــه راغلـــــل
د ملاکنـــډ پــه کنـډؤ تــوپې چـل کوينــه
پـــه ملاکنـــډ تيـــرې خـــورې شـــوې
هارونــه تــوره برېښــوه چــې رڼــا شــينه
پـــه ملاکنـــډ تـــوره تيـــارۀ شـــوه
زلمـي ټوپـک تـه لاس کـوي غـزا لـه ځينـه
د ملاکنـــډ پـــه ســـر مـــې ښـــخ کـــړئ
لاس مې ښکاره کړے چې جرګې رخصتومه
پـــه ملاکنـــډ ئـــې تـــوپې چـــل کـــړې
د فېرنګـــي د لاســه جـــوړ شـــو پســـاتونه
د ملاکنـــډ پـــه ســـر مـــې ښـــخ کـــړئ
چـــې د درګـــۍ خلـــق دعـــا راتـــه کوينـــه
پـــــه ملاکنـــــډ فېـــــرنګي راغـــــے
څـۀ پــه ټګــۍ رانــه وطــن قبضــه کوينــه

پــــه ملاکنـــډ دې ځلـــې جـــوړ شـــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــۀ شـــه مئينـــه
د ملاکنــــــډ بـــــــازاره وران شــــــې
تـا کښې خرڅېـږي د رامـداد د کـور شـالونه
د ملاکنـــــډ پــــه ســـــر غـــــزا ده
د خـدائې رضـا ده ماشـومان غـزا لـه ځينـه
د ملاکنـــــډ د ســـــر طــــوطي وے
پـه اور سـتي وے تهمتـي نـۀ وے مئينـه
پــــــه ملاکنــــــډ راســـــــره واوړه
د مامـا لـوري پـه چغجـو بـه دې سـاتمه
د ملاکنـــډ پـــه ســـر غوغـــا شـــوه
زلمـي کفـن پـه سـر د ننـګ غـزا لـه ځينـه
د ملاکنـــډ پـــه ســـر مـــې ښـــخ کـــړئ
چـــې لـــر و بـــر خلـــق دعـــا راتـــه کوينـــه

کړه مـار يـو يـاد غـر دے ـ دنـګ لـوړ ، د يوسف خان شېربانو د رومـاني داستان خوندناکه قيصه ئې په لمن ګـل شوې ده ـ د خوند ښائست ذکر ئې د مهابڼ د لرغوني تاريخ سره تړلے دے ـ بابر باچا په دې کښې د ګينډې د ښکار ذکر کړے دے ـ څۀ رنګ چې د ملاکنډ سر په ټپو مصرعو کښې ياد ېږي دغسې د کړمار ذکر هم کولے شي ـ وائي :-

د کــــــړه مــــــار د ســــــر ښـــــاماره
چـې دې خـوږم نـو خبـر کـړے بـه دې وومـه
د کــــړه مـــار د ســـر طـــوطي وے
پـه اور سـتي وے تهمتـي نـۀ وے مئينـه
د کـــړه مـــار طـــوطي بـــه يـــار کـــړم
چـې پـه منبسوکه کښـې خـوارۀ رالـه راؤړينـه

باجوړ او چترال دواړه د ملاکنډ په لاره دي ـ فېرنګي ځان چترال ته رسول غوښتل دا لار هم لنډه وه هم اسانه وه ـ ولې ملاکنډ ورته ګرانه کړه ـ بيا چې په ملاکنډ تېر

شو نو مخه ئې خپله شوه ـ مزاحمت ئې نۀ کېدو ـ په لورئ واؤړېدو ولې قوسر نۀ شو ـ هر څو کۀ به دا وئيلے شي چې يه د لورئ سره خالي نۀ ئې د قوسره ـ فېرنګي اول په باجوړ اولګېدو بيا په لورئ ورتېر شو ـ کۀ څۀ هم هر چا به دا وئيل چې :-

چرتـــه لنــــدن چرتـــه چتـــرال د ے
بې ننګي زور شوه فېرنګيان چترال له ځينه

ولې د ښتون وګړي اندروني نفاق او دملي قهرمان فقدان ئې کار اسان کړو ـ د جندول خان عمرا خان کابل ته کډه وکړه ـ فېرنګے چترال ته اورسېدو ـ ملېزو باجوړو ځان تسليم کړو ځکه د ننګ او جنګ د مصرعو په ځائے ورپورې داسې اووئيلې شول چې :-

د ملېــــزو بــــده دســـــتوره
په غوړ ځونډي به د شړشمو ګېډ ے وړينه
شــــوتله دري پــــانې څلــــور کــــه
سوکړکه ټينګ شه مليزيان راغلي دينه
د بــــاجوړ بــــده دســـــتوره
پــه ســرکونډۍ بــه د غنمــو لــو کوينــه

موره د سمې او سوات په مېنځ کښې د اوږد پروت غر نوم د ے ـ دا د شاه کوټ نه د ايلم پورې غزېدلے د ے ـ ښۀ اباد ، ځنګلي او ناموسي غر د ے ـ ډېر آثار قديمه پکښې موجود دي ـ په درناوي ياد ېږي لکه چې وائي چې :-

د مــــورې غــــره شـــــېر دل خانـــــه
دا نور خانان درته غونډۍ په خوا کښې ځينه

څۀ رنګ چې اباسين په ټپو سندرو ياد د ے دغه رنګ د کونړ او اټک ذکر هم کولے شي ـ

کارغــۀ چــې تــور د ے سـپين بــه نـۀ شـي
کـۀ د اټـک پـه اوبـو وينځـي خپـل ځانګونـه
د خــدائے رحمــت پــه جمــال خــان شــۀ
چــې افضــل خــان ئــې د اټکــه واړوونــه

تـــر اټـــک مـــهٔ راپـــورې ووځـــه
دلتـــه جنـــډې د پښـــتنو ولاړې دينـــه
مـــا د کـــونړ د ســـيند نـــه ځـــار کـــړې
زمـا لالـي بـه پـه کښـې مـخ ويـنځلے وينـه

د تيـراه غرونـه د پېښـور نـه مخ پـه قبلـه غزېدلي دي ـ دلتـه افريدي او اورکـزي قبائيل مېشتهٔ دي ـ د خېبر تاريخي دره د تيراه د غرونو په مېنځ تېره ده ـ دغې پله د اشارې په وخت څهٔ داسې وئيلي شي چې :-

د ســـپينو غابښـــو دې برېښـــنا شـــوه
چـا وې ړلـې ده پـه تيـراه ئـې ورويـنـه

خېبر هسې هم تاريخي دره ده ـ دا د برې او کوزې پښتونخوا د تګ راتګ لاره ده ـ د قامونو او اولسونو د قافلو آمد و رفت وربانـدې د زمانو راسې جاري دے ـ شنواري او افريدي ئې دواړه اړخ ته پراتهٔ دي ـ دا شاهراه په هره زمانه د ډز غـې سره مخ وي ـ ځکه نو چې په سندرو کښې هم کله ځوک خېبر يادوي نو وائي :-

جانانـــه پـــاس پـــه هـــوا راشـــه
د خېبـــر لارې افريـــدو نيـــولي دينـــه
پـــه خېبـــر بيـــا ګـــولۍ وريـــږي
کـــاڼي خـــوزيږي اونـــې پـــاڼې ريژوينـــه
پـــه تـــاترو راشـــه جانانـــه
د خېبـــر لارې افريـــدو نيـــولي دينـــه
کـــهٔ د خېبـــر غرونـــه اوچـــت دي
زمـــا د يـــار شـــمله ســـنګرې نړوينـــه

پـردېس پـردے وطن وي ـ څوک داسې يار اشنا پکښې نهٔ وي ـ د لـرې وي کهٔ د نزدې ولې مسافر پکښې بارائي وي ، ناشنائي وي ، څوک ئې خپل نهٔ ګڼي نهٔ ئې وربانـدې مينـه مـاتېږي ، مسـافر پـه غېـر حسـاب وي ـ د وطـن ارمـاني وي خپـل مئينان ورته يادېږي په زړهٔ ئې هر وخت راورېږي کله به وائي :-

کـــهٔ پـــه پـــردېس کښـــې راســـره ئـــې
زهٔ بـه پـه کـوم مـخ د وطـن ارمـان کومـه

ولې دغه پردېسي مسافر چې کله د وطن ارمان کوي نو وائي چې :-

وطـــــن زمـــــا نـــــه پـــــاتې کيـــــږي
لکـــه مرغـــۍ پـــه اونـــو شـــپې ورتـــه کومـــه
پـــه مخکښـــې ځـــم پـــه وروســـتو ګـــورم
وطـــن دې وران شـــي د زړۀ ســـر مـــې پـــاتې شـــونه
وطـــــن د زيـــــړو ګلـــــو بـــــاغ دے
مـــا کبـــر ژنـــې ورتـــه شـــا کـــړه اوس تـــرې ځمـــه
د خپـــل وطـــن ازغـــي مـــې خـــوښ دي
پکـــار مـــې نـــۀ دي د پـــردي وطـــن ګلونـــه
وطـــــن او مـــــور و پـــــلار خـــــوارۀ دي
زۀ د جانـــــان دپـــــاره درې واړه پرېږدمـــــه
چـــې د وطـــن يـــاران راتـــول شـــي
خدايـــه تـــاؤدۀلرې د ژمـــي باندارونـــه
بـــــاده پـــــه ســـــپينو غرونـــــو واوړه
بيـــا د وطـــن پـــه اشـــنا وايـــه ســـلامونه
وطـــــن د زيـــــړو ګلـــــو بـــــاغ دے
د مســـــافرو پکښـــــې نشـــــته نصـــــيبونه
اوښـــکې مـــې اوچـــې پـــه ســـالو کـــړې
اشـــنا د خپـــل وطـــن نـــه بـــل وطـــن تـــه ځينـــه
وطـــــن د مـــــور و پـــــلاره ګـــــران دے
جانانـــه ســـتا دپـــاره ګـــران وطـــن پرېږدمـــه
وطـــن خـــو ســـتا دے پکښـــې اوســـه
مـــونږ مســـافر د بـــل وطـــن صـــبا بـــه ځونـــه
يـــا خـــو زمـــا پـــه ســـترګو ګـــرد دے
يـــا د اشـــنا پـــه وطـــن پرېواتـــۀ ګردونـــه
بېګـــا پـــه خـــوب کښـــې ژړا راغلـــه
چـــې مســـافر وطـــن تـــه ځـــي زۀ پـــاتې شـــومه

وطـــــن د تنـــــه ليكـــــه نـــــهٔ دے
وطـن هغـه چـې پكښـې تـن خوشـحاله وينـه
پـــــه وطنـــــو وركـــــه جانانـــــه
چې نهٔ دې نوم شته نهٔ دې بوئين شمال راؤړينه
زمـــا پـــه دې وطـــن كښـــې څـــهٔ دي
جانانـــه ســـتا دپـــاره عمـــر تېرومـــه
زهٔ د وطـــــن ارمـــــاني نـــــهٔ يمـــــه
زهٔ ارمـــاني د يـــار د تـــورو ســـتركو يمـــه
وطـــــن بـــــه ســـــتا د تېســـــه پرېـــــږدم
خلـق بـه وائـې د نېسـتې اوتېښـتېدونه
چـــــې د وطـــــن يـــــاران خبرېـــــږي
زمـا بـه زنـې تـه ول پـروت وي مـړ بـه يمـه
زهٔ د وطـــــن ارمـــــاني نـــــهٔ يمـــــه
زهٔ ارمـــاني د يـــار د تـــورو ســـتركو يمـــه
وطنـــــه هـــــر څـــــهٔ مـــــې درځـــــار شـــــه
ســـتا پــه نــاموس بـه ســر و مــال قربانومـه
وطنـــــه ځـــــار ســـــتا نـــــه لـــــوګے شـــــم
ســـتا د خــاطره بــه ځــواني خــاورې كومــه
وطنـــــه ځـــــار ســـــتا نـــــه لـــــوګے شـــــم
خپلـه ځـواني بـه مـې پـه تـا خـاورې كومـه
وطـــــن زمـــــا زهٔ د وطـــــن يـــــم
پــه خپــل وطــن بانـدې بـه ځـان قربانومـه
تـــهٔ د وطـــن پـــه ننـــګ شـــهيد شـــه
تـن مـې دې خـاورې شـي چـې تـا بـه هېرومـه
پـــه وطـــن جنـــګ د ے ځـــان تكـــړه كـــړه
زغملـــے نـــهٔ شـــم د همزولـــو پېغورونـــه

پـــه وطـــن جنـــګ اوکـــړه شـــهيد شـــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــهٔ شـــه مئينـــه
پـــــه وطـــــن ســـــرې وينـــــې بهېـــــږي
ډېـر پـرې ژړېـږي يـو نـيم لـوبې پـرې کوينـه
پـــه وطـــن جنـــګ دے ځـــان تيـــار کـــه
يـا بـه سـر بـائيلې يـا بـه لانـدې کـړې برجونـه
پـــه وطـــن جنـــګ دے وروســـتو نـــهٔ شـــې
مالـــه جـــوړ نـــهٔ کـــړې د همزولـــو پېغورونـــه
پـــه وطـــن ننـــګ اوکـــړه شـــهيد شـــه
د شـــــهيدانو مرتبـــــې اوچتـــــې وينـــــه
پـــه وطـــن جنـــګ اوکـــړه تيـــار شـــه
يـــا بـــه شـــهيد شـــې يـــا بـــه راؤړې مهرانونـــه
وطـــــن د مـــــور و پـــــلاره خـــــوږ دے
ژوندے د دوئې مړے به ئې زمکې لـه ورځمه

## قطعه

رنـــګ دې ورک شـــي ددې ملـــک د سياســـت
پـــه نســـبت پـــه شـــجره ئـــې عمـــارت
زمـــونږه زمکـــه داســـې ســـتر مشـــران غـــواړي
چـــې راوړي شـــي دغـــې خـــاورې لـــه عظمـــت

وطن د قام وي د اولس وي د هاغه چا وي چې پکښې پېدا وي ـ دا يوه ځان ته بيله ثقافتي ، تمدني او تهذيبي سيمه وي چې ځانګړے کلتوري اقدار لري ـ په کښې د ژوند تېرولو هاغه ټولې لارې چارې ، رسمونه ، رواجونه او ښې بدې شاملې وي چې فقط دوي ورباندې عمل کوي پوهېږي ورباندې او خپلو را روانو نسلونو ته ئې په ميراثه کښې پاتې کوي ـ بېل بېل اولسونه چې په ژبه ، روزګار ، عقائدو او مدنيت کښې په يوه جغرافيائي حدبندۍ کښې په شريکه ژوند تېروي قام بللے شي ـ وائې بېل قام بېل ئې دستور ـ دا قام يا ملت خپل روايات په خپل

شفاهي ادب کښې خوندي کوي ـ هم وربانديې ويارې هم ئې غواړي او هم ئې ژاړي ـ دا د دوئ د هر فرد په سينو کښې محفوظ وي ـ پښتون وګړے هم د ژوند تېرولو د کلهمو اقدارو سره سره په ټپو کښې خپل قام هم داسې يادوي :-

ارمــــان مــــې دا دے خــــوږه يـــاره
چې مې د قام په راستيۍ وکړے خدمتونه
پـــه ځـــان مئـــين ئـــې پـــه قـــام نـــۀ ئـــې
د قام خوا خوږي سرپره په مخکښې ځينه
د فېرنګــــــې ســـــــاتلي چرګـــــــه
دانې د قام خورې مۀ وايه خطا بانګونه

په بېلو بېلو وختونو کښې څۀ رنګ چې د بېلو بېلو ملکونو ، علاقو او ځايونو سره په څۀ نه څۀ رنګ کښې د چا تړون او واسطه راځي دغسې د جدا جدا قومونو او اولسونو سره ئې روزګار پېښېږي ـ دغه روزګار چې څۀ رنګ وي هم هغسې يادولے کېږي ـ کۀ ښۀ وي په ښۀ ئې يادوي کۀ بد وي په بده ياديږي ـ څۀ رنګ چې د تاريخ په پرتو کښې د قومونو يو تر بله پولي بريدونه بدلېږي رابدلېږي هم دغه رنګ ئې په رويو او نيتونو کښې هم فرق راځي ـ د پرون دشمن د نن دوست شي او د نن دوست صبا دشمن شي ـ کۀ دکن ، هندوستان ، بنګال او کشمير د پښتو په شفاهي لوبو سندرو او ټپو مصرعو کښې بار بار ياد شوے دے نو مغل ، فېرنګي ، انګرېز او امريکن ئې پکښې هم رانغښتے دے ـ د خپل ژوند په دې روداد کښې ئې د دوئي کړدې ناکړدې په خپلو شفاهي سندرو خصوصاً په ټپو کښې د خپلو راتلونکو نسلونو د عبرت او سبق دپاره محفوظې کړې دي ـ او وخت په وخت ئې دوئي ته وريادوي ـ

خلقـــه بنګـــال تـــه ښـــېرې مـــۀ کـــړئ
بنګـــال تـــه تلـــي دي د هـــر وطـــن ګلونـــه
وفـــادار يـــــار پـــــه دکـــــن ښـــــۀ دے
بې وفا يار کۀ ګاونډي شي څۀ به ئې کړمه
د تـــــور دکـــــن مســــافر ســــتون شـــــول
د اديـــرې هغـــه بنـــدي دې نـــۀ راځينـــه

عالمــــه لاړ د دکــــن فــــرش کــــړئ
یــار مــې باچــا دے د دکــن پــه لــوري ځینــه
پــــه مــــا دې ټپــــر د ځــــوانۍ وار کــــړو
ســـتا دې رانـــهٔ شـــي د دکنـــه مهرانونـــه
ګاډیـــــه ســـــر دې د ویشـــــتو دے
زمـــا لالـــے دې پـــه دکـــن اولګاؤنـــه
بـــــابو ټکـــــټ دې بېرتـــــه واخلـــــه
زهٔ مــې شــېرین جانــان دکــن تــه نـهٔ پرېږدمــه
پـــه تـــور دکـــن دې څلـــے جـــوړ شـــه
د بــې ننګــۍ اواز دې رامـــهٔ شـــه مئینـــه
د تـــور دکـــن زلمـــي بـــه راشـــي
د ګورســـتان زلمـــو ژرنـــدې وهلـــي دینـــه
تـــهٔ پـــه وطـــن خوشـــحاله اوســـه
پـــه مـــا بـــه څـــاڅي د دکـــن زاړهٔ څپرونـــه
جانـــان دکـــن تـــه پـــه ســـفر ځـــي
ورتـــه پېـــزوان د مـــارګلې پـــه کنـــډو ږدمـــه
کشـــمیر دریـــاب ډوګـــره ماهیـــان دي
نـــواب صـــاحب پســـې جـــالګیر لېږلـــي دینـــه
پـــه کشـــمیر جنـــګ دے ځـــان تیـــار کـــه
زمـــا تلـــوار ده د هـــر چـــا نـــه مخکښـــې ځمـــه
یـــا بـــه مظلـــوم کشـــمیر ازاد کـــړم
یـــا بـــه مــې لــوره ځــواني خــاورې ایــرې کړمــه
بیـــا د کشـــمیر پـــه ســـیمه جنـــګ دے
غـازیـــان د ســـوات او ملاکنـــډ ورپســـې ځینـــه
پـــــه پـــــاک الله زمـــــا بـــــاور دے
ځکــه پــه تــش لاس د کشــمیر غــزا لــه ځمــه

د مینـــــې یـــــار مـــــې غـــــریبې دے
کـــهٔ زولنـــې وراچـــوم قطـــر تـــه ځینـــه
خدایـــــه د قطـــــر بـــــازار وران کـــــړې
په شتهٔ مېړو کښې ښځې کونډې ناستې دینه
قطـــــر تـــــه ځـــم مـــهٔ خفـــه کیـــــږه
زهٔ بـــــه دا ســــتا دپـــــاره راؤړم امېلونـــــه
قطـــر تـــه مـــهٔ وایـــه چـــې رنـــګ شـــې
قطـــر کښـــې اوســـې د وطـــن زیـــړې ګلونـــه
پـــــه هندوســـــتان دې ځلـــــے جـــــوړ شـــــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــهٔ شـــه مئینـــه
هندوســـــــتانے شـــــــه روپـــــــۍ راؤړه
پـــه کورنـــو روپـــو مـــې مـــور نـــهٔ درکوینـــه
د مغـــــل ظلـــــم بـــــه نســـــکور شـــــې
ټـول پښتـانهٔ تـوره پـه لاس دې جنـګ لـه ځینـه
د پورتـــــــه را مـــــــهٔ شـــــــې مغلـــــــه
زمـا د سـر روپـۍ دا سـتا قلنـګ کښـې ځینـه
د میـــــــر زمـــــــان مغلـــــــې لونـــــــه
نـن د بـاټي پـه مخکښـې ځـې سـرتور سـرونه
د میـــــــر زمـــــــان مغلـــــــې لونـــــــه
د ســـرکاڼو پـــه دشـــت کښـــې ورېږي ټولوینـــه
د فېرنګـــــــــې ســـــــــاتلې چرګـــــــــه
دانـــې د قـــام خـــورې مـــهٔ وایـــه خطـــا بانګونـــه
د فېرنګـــــــــې د لاس کـــــــــوترې
د انقـــلاب بازونـــه راغلـــل اوس دې خورینـــه
ډینـــــګ فېـــــرنګے پـــــه وطـــــن راغـــــے
ځوانـانو ځـان تیـاروئ چـې جنـګ لـه ځونـه

فېرنګــــه تېښـــته کــــه خلاصـــېږې
صــاحب ســوریږي اکــوزي وریــږي ځینــه
کــهٔ د فېرنــګ جامــه کښـــې مــړ شـــوې
درلـــه کفـــن بـــه فېـــرنګے بابـــا راوړینـــه
چــــې د ســـــنګر د ختـــــو نـــــهٔ وې
فېرنګــه ولــې دې پرتــوګ نشــان کوؤنــه
یــــار د مېونـــد غـــزا لـــــه لاړ شـــــو
د فېرنګــــي خونــــه بـــه دړې وړې کړینـــه
تاڼــــــه د ســـــــرو زرو دانـــــــه ده
د ډینــګ فوځونــو ورتــه اوکــړو ســلامونه
انګرېـــز لــــه ورشـــــئ ورتــــه وایــــئ
پــه پښــتونخوا بانــدې دې نــهٔ ږدي قدمونــه
کــــهٔ دې انګرېـــز د ملکـــه ورک کـــړو
پـه تـور اوربـل بـه مـې قطـار کـړم سـرهٔ ګلونـه
بـــس دے پـــه دې بـــه ئـــې فېصـــله کـــړئ
وطـن تـرې واخلـئ انګرېـز اوشـړئ چـې ځینـه
د امریکـــــې فوځیـــــان خبـــــر کــــړئ
پــه پښــتونخوا بانــدې دې نــهٔ راؤړي پېرونــه
چـــــې پښـــــتونخوا ابـــــاده نــــهٔ وي
کـهٔ نـور وطـن شـي زیـړ ګلونـه څـهٔ بـه ئـې کړمـه

د پښـتو د لنډیو ټپـو د ناپـاوه سـمندر نـه پـه څـهٔ لـړه شـان غـواصـي دا څـو ناویاتـه ملغلرې د ټپه او ژوند په دې امېل کښې لړۍ کړې شـوې او هـار ورنـه سـاز کـړے شو ـ اوس نو خوښه ستاسو چې په غـاړه کـوئ ئې یـا کـه ئـې د خپلـو غـواؤ مېښـو ګنډې کوئ او یا کهٔ ورنه د خپلو خرو قچرو تېرسري سازوئ خوښه مـو خپلـه ـ خـو ولې د هاغې غږ دا انګازې خو هم لږې واؤرئ چې :

نــــارې وهــــم غــــږ راتــــه نــــهٔ کــــړې
بیــا بــه جهــان راپســې ګــورې نــهٔ بــه یمــه

# د ښځو ټپې

وئ وئ :-

اختـــــر شـــــوقدر مــــــې رانغـــــے
خوابـې مـې مـړه وه سـخر مـې نـۀ کـوي دودونـه

ابــی مــــې يـــو زوئـــے لـــوئے نـــۀ کـــړو
د زنکـــدن اوبـــۀ بـــه څـــوک راڅڅوينـــه

اختـــر پـــه ورځ دې ځـــان ســـينګار کـــړو
څـوک دې پـه زړۀ دې چـې ډاډه وهـې خالونـه

اختـــر تـــه تـــۀ ځـــۀ چـــې زلمـــے ئـــې
سـپرلي تـه مـا پرېـږده چـې راؤړم زيـړ ګلونـه

ادکـــــې مــــــۀ راتـــــــه قـــــاريږه
د مســـــافرو کـــــډې تلــــې ولاړه ومــــــه

ادې کوچيـــــانو لــــــه مــــــې ورکــــــه
چـې تـور اوربـل مـې د سـپين غـر شـمال وهينـه

اســـــمانه ښــــۀ بــــاران پـــــرې اوکـــــه
يـار مـې د للمـې کـر کـوي چـې زرغـون شـينه

اســـــمان دې لـــــرې زمکـــــه اور شـــــوه
کـۀ اشـنا سـور شـي زۀ بـه پلـې پسـې ځمـه

اشـــنا پـــه زيـــن کښـــې راتـــه کـــوږ شـــو
د پښـــو څـــوکې لګـــوم خولـــه ورکومـــه

اشـــــنا ربـــــاب لــــــه ګـــــوتې ور وړې
زۀ ښـــۀ پوهېږمـــه چـــې مـــا زهېروينـــه

اشـــنا مـــــې خـــــوار غونـــدې بزګـــر دے
پـه مـا او شـنو وښـو يـو شـان مينـه کـوي نـه

انـــــدرپائي مـــــــې جـــــــوړولي
مــا وې لالېبــه ســپيني خــولې تــه خېژومــه
اوربــــل اوچــــت کـــه خـــال مـــې ګـــوره
د جنــت ګــل دې پــرې تــازه بــه شــې مئينــه
يــــار پــــه هېــــواد ؤ زمـــا يـــاد ؤ
ماتــه د نيمــې ګينتــې لار وه هېــره ئــې کړمــه
اول د بــــــــاغ ماليــــــــاره زۀ وم
اوس پــه ســوره نــارې وهــم تالــه دې شــينه
باچـــائي تخـــت مـــې پکـــار نـــۀ دے
جانـــان دې لـــو کـــړې زۀ بـــه ورېې ټولومـــه
بېلتـــون ښـــامار پـــه لار کښـــې پـــروت ؤ
زۀ د جانـــان ســـره جـــوړه پـــرې اوختمـــه
بېلتونـــــه خــــدائے دې ســــزا درکــــړي
زۀ دې د يـــاره تـــر قيامتـــه بيلـــه کړمـــه
بېلتونـــــه کــــور دې راتــــه ښــــايه
د زور دې نــــۀ يـــم ننـــواتې بـــه درځمـــه
بېلتـــون پـــه لـــوړو غرونـــو راغــــے
راکـوز ئـې مـۀ کـړئ مـور او لـور جـدا کوينـه
بنګـــړي مـــې وو پـــه لاس مـــې نـــۀ کـــړل
د مــوزيګي پــه خوبنــدو راغلــم تــش لاســونه
بنـــې بنـــزي راباننــــدې تېـــر شـــو
زۀ د دزخ د لمبــــو څــــۀ پــــروا لرمــــه
بالخـــت د کـــوره ځـــان لـــه راؤړه
مړوند مې خپـل د ے نور ئې نۀ درلاندې ږدمه
بـــاران د زمکــــې ابـــــادي ده
شـــېرينه يـــاره زۀ پـــه تـــا ابـــاده يمـــه

بيـــا بـــه نـــرى جـــامې اونـــۀ كـــړم
بـــاران لمـــده كـــړم جانـــان ټولـــه اوليدمـــه
بارانــــــه رو رو پـــــــرې وريـــــــږه
پـــه مســـافر لالـــي مـــې نشـــته دالالونـــه
بنګــړي مــې ســتا پــه كــټ كښــې مــات شــو
كــۀ تــۀ ســړے ئــې رالــه ډک كــړه مړوندونــه
پـــه ادې مـــور مـــې ســـلام وايـــئ
پــه ميراتــي بورجــل مــې اوكــړل ګلونــه
پـــه مـــا دې تېـــر د ځـــوانۍ وار كـــړو
ســتا دې رانــۀ شــي د دكــن نــه مورانونــه
پـــه پښـــو چالاكـــه او ښـــۀ ګـــوډ شـــې
د يـــار ديـــدن بـــه مـــې كـــاؤ تېـــره دې كړمـــه
پـــه خـــروړ ســـپو تـــۀ راتېـــر شـــه
پــه دې تېــرو تــورو بــه زۀ درتېــره شــمه
كـــۀ لـــوئي كـــړم راســـره ښـــائي
چــې يــو ښائســته يــم بــل د لويــه كــوره يمــه
لمـــــده خوشــــته د باغــــه راغلــــه
لكـــه بلبلـــه چـــې بـــاران وهلـــې وينـــه
پـــــه بلـــــۍ مـــــۀ ژاړه كاســـــيرې
د كشـــمالو خـــوكې دې يـــار رودلـــي دينـــه
پــه ســترګو ړونــد شــي راتــه ګــوره
پــه ســرو جــامو كښــې لكــه ګــل ولاړه يمــه
پـــه بلـــۍ غلـــې غلـــې راشـــه
د ځوارلســم غــوړګي د لانــدې ملاســته يمــه
پـــه بوســـاړه كښـــې دې غبـــږ راكـــړه
د دلـــه زويـــه د لشـــو دې ډكـــه كړمـــه

په لار کښې ناسته یم خان ژاړم
خدایه د لارې مل مې راولې چې ځمه

که مې ته روغ لېونے نه کړې
بیا مې د بنګو پیالۍ مه بوله مئینه

هلکه روغ به لېونے شې
ملالې سترګې که مې بیا دروارومه

په اشارت به دې راغواړم
په زلمو ورونو به دې پروکې کړمه

په کوڅه تېر شوې بیا راتېر شوې
یا دې څه ورک دي یا دې زۀ لیدلې یمه

په ما د بنې اواز اوشو
لکه ډوډۍ په تنارۀ خمسوزه شومه

په پټ کښې تور مصلي بنه دے
بې پته یار که شهزاده شي څۀ به ئې کړمه

پېزوان مې خړو اوبو یوړو
په غم شریکه اشنا نیسه ګودرونه

په خان مئین ئې په ما نۀ ئې
یارې په داسې مینو نۀ کیږي مئینه

تۀ د اختر په سحر راشه
زۀ به دراوځم توري سترګې سرۀ لاسونه

تا چې په ایوه باندې غږ کړو
زۀ په سره ماښې کښې لره بره شومه

تۀ چې راځې ما به خبر کړې
چې په پالنګ لاچې لونګ اوغوړومه

تن مې د شنې نکریزې پاڼه
بهر تازه دننه رنګ په وینو یمه

تـــهٔ د ګــــودر غــــاړې لــــه راشـــــه
مــا پــه منګــي کښــې پراتــې راوړې دينــه
تـــوره پـــه لاس ټوپـــک پـــه غـــاړه
زهٔ مـــې جانـــان تـــه ســلامي ولاړه يمـــه
تـــرس پـــه ناترســـه يـــار کښـــې نشـــته
د لاس بنګـــړي مـــې خرخـــوي ژړا راځينـــه
ټنــګ د ربـــاب چـــې مـــې تـــر غـــوږ شـــو
لکـــه درخـــو د بلـــې سـر تـــه اوختمـــه
جانانـــه داســـې خـــو څـــوک نـــهٔ کـــړي
لکه سپين موم په سور انګار دې ويلې کړمه
جانـــان د کـــن تـــه پـــه ســـفر ځـــي
ورتـــه پېـــزوان د مـــارګلې پـــه کنـــډو ږدمـــه
جانانـــــه زر شــــه ديــــدن اوکـــــړه
پټــه د کـــوره پـــه بانـــه راغلـــې يمـــه
جانانــــه خپــــل وطــــن تــــه راشــــه
کـهٔ خلـق ډېـر دي پـرې اباد دي خپـل کورونـه
چـــــې کبـــــرجن اشـــــنا خبرېـــــږي
زمــا بــه زلفــې ببلتانــهٔ پرېکـــړې وينـــه
چـــې ښـــکته ځـــې خـــال مـــې ســـهي کـــړه
د هندوســتان د جونــو نشــته شـنهٔ خالونـه
چــــې ډوډۍ خـــــورم دادا قـــــارېږي
چې روپۍ شـرنګ کـړي دادا شـين د خنـدا شـينه
ځــان مــې پــه خپلــه يــار تــه ســپک کــړو
ســم د ماښــامه ئــې پالنــګ تــه اوختمــه
خـــدائے بـــه دې راولـــې جانانـــه
مــا د کارغــهٔ نــارې پــه پــال نيــولي دينــه

خلـــــق بابـــــا لـــــه پراتـــــې وړي
زۀ د جـــوارو ډوډۍ ورړم چـــې کونـــډه یمـــه
د اوربلونـــــــــو ســـــــــو داګره
اول مـــې بیـــه کـــړه شـــینکي دواړه خالونـــه
دا تـــۀ چـــې ځـــې نـــۀ ایســـاریږې
د زیـــړو ګلـــو بـــاغ پـــه چـــا سـپارې مئینـــه
د باغـــــــه زیـــــــړ ګلونـــــــه راوړه
زۀ ئـــې جانـــان تـــه پـــه اوربـــل قطارومـــه
دا تـــۀ چـــې ځـــې آخـــر بـــه لاړ شـــې
ماتـــه ګـــړۍ پـــه ګـــړۍ مـــۀ وایـــه چـــې ځمـــه
جانـــان مـــې ســـپینې جـــامې وکـــړې
چـــې بهـــر راغلـــم پـــه مُـــلا غلطـــه شـــومه
ځـــان ئـــې زړو جـــامو کښـــې جـــوړ کـــړو
لکـــه پـــه وران کلـــي کښـــې بـــاغ د ګلـــو وینـــه
کـــۀ ډوډۍ خـــوري ځلـــور بـــه ورکـــړم
د دیـــدن اوږے دې ماښـــام تـــه اوګورینـــه
د دادا کـــور بـــه غلـــط نـــۀ کـــړم
د ســـرو ئـــې ستنې د روپـــو ئـــې د بوالونـــه
د بـــې غمـــۍ پـــه خـــوب اودۀ ووم
بیلتـــون پـــه مـــخ څپیـــړه راکـــړه ویښـــه ئـــې کړمـــه
دا تـــۀ چـــې ځـــې بـــې غمـــه اوســـه
زۀ پښـــتنه یـــم ســـتا پـــه پـــټ بـــه ناســـته یمـــه
دیـــدن پـــه ســـیند کښـــې رالاهـــو کـــړه
زۀ بـــه مـــنګے پـــه لپـــو رو رو ډکومـــه
د لېونـــــو ســـــره مـــــې کـــــور دے
د خـــولې خبـــره مـــې کـــوټې تـــه خپژوینـــه

د مـــــــوزيګي شـــــــلېدلي کتهـــــــه
چـــې زۀ دې لنګــه ټينګـــوم بـــازو دې ځينـــه
روپـــــۍ څـــــوک څـــۀ کـــــوي جانانـــــه
کليمـــــه داره پـــــه اوربـــــل مـــــزه کوينـــه
راځـــــه چـــــې دواړه ورتـــــه يـــــو شـــــو
يـــــوازې زۀ پـــــه بېلتانـــــۀ کمـــــزورې يمـــــه
راځـــــه راځـــــه چـــــې روغـــــه اوکـــــړو
دنيـــا فـــاني ده بيـــا کـــوؤ بـــه ارمانونـــه
زمـــــا ابـــــــۍ دادا تـــــــه وايـــــــئ
خوشـــحاله نـــۀ يـــم د ناکامـــه ناســـته يمـــه
زمـــــا د پـــــلار د ېـــــرې تـــــه راشـــــه
چـــې درتـــه کېـــږدې د زربفتـــو بالختونـــه
زمـــــا بنګـــــړي بـــــه دې پکـــــار شـــــي
کــټ بــه خطــا کــړې زۀ بــه ئــې رو رو شــړنګومه
زمـــــا بـــــه تـــــۀ يـــــاد ېږې يـــــاره
کـــــۀ د جنـــــت پـــــه منـــــارو ولاړه يمـــــه
ســـــل جـــــوارګر خونيـــــان ازاد کـــــړئ
يو موزي مړ کړې چې ترې جونه خلاصې شينه
ســـــپوږمۍ پـــــه مـــــا دې احســـــان نشـــــته
زمـــا لالــــے د ديوالـــۀ پـــه ســـيوري ځينـــه
ســــــترګې دې وې وتلـــــــې نــــــۀ وې
چـــې پـــه ګاونـــډ دې لوئيـــدم نـــۀ دې ليدمـــه
شـــــناخت د بنېـــــر مينـــــه د ســـــمې
دا بــې ارزې پــه ســوات کښــې ډېــره ده مئينــه
صـــــبا اختـــــر دے يـــــار مـــــې نشـــــته
د کـــالو ډکـــه بـــه د چـــا غېـــږې لـــه ځمـــه

کــــه مــــوزيګـې د ملکـــــه ورک شـــــو
زۀ بـه پـه تـور اوربـل کښـې سـرۀ ګلونـه ږدمـه
کـــــۀ زۀ خبــــر وے چـــې بېلتـــــون دے
مــــا بــــه اشــــنا د لاس نيـــولے ګرځوۀنـــه
کـــۀ سـيند تــه دانګــم سـيند مــې نــۀ وړي
بخـت د مـوزي دے بيـا مـې غـاړې لـه راوړينـه
کـــۀ تـــۀ ريښـــتيا پـــه مـــا مئـــين ئـــې
د ګـــودر غـــاړه اجـــاره واخلـــه مئينـــه
کـــۀ لېـــونے ئـــې زمـــا يـــار ئـــې
دا لېـــوني د کلـــي چـــا شـــړلي دينـــه
کـــۀ لېـــونے ئـــې زمـــا يـــار ئـــې
خلـــق ناکـــام د لېونـــو ســـره کوينـــه
ګــــوتې بنګـــــړي د دنيــــــا دود دے
زۀ د نيســـتمنه يـــاره نـــۀ غـــواړم دودونـــه
مـــا وې غمونـــه بـــه مـــې کـــم شـــي
چې خليـل لـوئے شـو غـم مې سـر دوبـاره شـونه
مــا پــرې اعتبــار کـړو ځـان مـې خـوار کـړو
بـې وفـا يـار پـه مېـنځ د لار کښـې پرېښـودمه
ملامـــت يــــار مخــــې لـــه راغــــے
د خپلـو بـدو شـرمېدو کـوز ئـې کاتـۀ نـه
مــــا يارانـــــه کلـــــه کولـــــه
ســــر تــــور ولاړ وي د ښـــــېرو دي يرېدمـــه
مـــا ددې غـــوز د اونـــې ځـــار کـــړي
هم ئې مېوه خورم هم پرې شوندې سرې کومه
مــــا مالګُنـــدې، کرلــــي نــــۀ دي
جانـــان مـــې ولـــې پـــه دې لاره نـــۀ راځينـــه

کـځ چـیلم کـش ئـې خولـځ بـه درکـړم
کـځ نسـواري ئـې رانـزدې نـځ شـې مئینـه
ادکـــې مـــځ راتـــه قـــاربېږه
پـه تـا تېـر شـوي پـه مـا اوس راغلـو وارونـه
دا لپـــونې لپـــونې ګرځـــه
پـه چـم کښـې ګرځـه چـې ډاډه دربانـدې یمـه
ربابـــه مـــات شـــې وار دې تېـــر شـــه
مئـین پـه مـا دي ځـان پـه تـا مشـغولوینه
مســـافر یـــار وطـــن تـــه راغـــے
مالـــه ئـــې راوړي دي د غـــاړې امېلونـــه
مـــوزي د کـــټ د ختـــو نـــځ دے
پـه نیمـه شـپه انـدر پایـه راؤړم لـه کومـه
مـــا د بـــازونو یـــاري کـــړې
دا ټپســـان دې راتـــه نـــځ وهـــي ځانګونـــه
یـــار مـــې پـــه ســـرو لاســـو مئـــین دے
زځ بـه پـه خپـل کـور کښـې نکریـزې شـنې کومـه
یـــا بـــه مـــې دا یـــاري یـــاري شـــي
یـا بـه مـې سـر د غـر غـرې شـمال وهینـه
یـــار چټیـــاکې دیـــدن رانـــځ کـــړو
زځ نادیـــده ورتـــه خمبـــې جـــارو کومـــه
یـــو واري بیـــا پـــه دې لار راشـــه
پـــه پخوانـــو پلونـــو دې پربوتـــځ ګردونـــه
عـالمـــه مـــا ورســـره کېـــږدئ
خـزان بـه ریـژي زځ بـه ځـائے جـارو کومـه
قبـــر ســـورے کـــړه حـــال مـــې واخلـــه
مـا بـه چینجـي خـوري تـځ بـه اوکـړې دیدنونـه

# د نارينه وُ ټپې

يه قربان :

رب دې زما نصيب که ګلې
لندې قچر به چلوم تا به ساتمه
خوب چې کوې خاورې به يوسې
شاه د هغو چې شوګيرې ورته کوينه
کۀ مې زګه شرې په سر وي
جانانه تا به په بخملو کښې ساتمه
په کنډاؤګي راسره واؤړه
د ماما لورې په چغچو به دې ساتمه
د سيند په مېنځ کښې دې ګل راکړو
لاس دې رانۀ کړو د مهو خوراک دې کړمه
په لاره تلې کړه وړه شوې
د ډېره خياله دې زيړ ګل اوشرماؤنه
په لويو غرونو مې مېشته شوه
غنچې د ګلو به اشنا له مې ليږمه
تر سر به لوټه کړم د لاندې
پکار مې نۀ دي د منت سپين مړوندونه
په تدبيرونو کله کيږي
څۀ چې تقدير کښې د چا وي هغه به وينه
بې ياره خوب مې د دشمن شه
کټ مې سور اور دے اوس مې خوب ته نۀ پرېږدينه
بس دے په دغه ځائے به ئې پرېږدو
کۀ څوک د يار د غمه مري ورسره مرمه

چې د مور پلار خدمت اونهٔ کړي
د ښځې ناز خو سړے اور ته غورځوينه
تهٔ بې وفا شوې زهٔ دې هېر کړم
زهٔ بې وفا نهٔ يم چې تابه هېرومه
په بې وفا جانان مئين شوم
چې ورته اوګورم مخ بلخوا واړوينه
په بې وفا کهٔ مئين نهٔ وے
ولې به زهٔ نن د دنيا د خندا ومه
توره به نهٔ کړو نو به څهٔ کړو
چې مو شودهٔ د پښتنې رودلې دينه
بېګا په خوب کښې ژړا راغله
چې مسافر وطن ته ځي زهٔ پاتې شومه
څوک چې د چا د چنې ګل شي
مناسب نهٔ دي چې سوکړې پرې تېروينه
چې يارانه ئې کړې نهٔ وي
لکه هندو بې کليمې لوئے شوے وينه
خپله ابۍ ساړهٔ غوارې دي
پردۍ که غوړه شي لړمون به دې سېزينه
خلق به وائي چې وړه ده
وړې زما په زړهٔ چړې منډلې دينه
ځان ئې سنبال کړو روانېږي
د پير بابا په رنجو سترګې توروينه
تر قلا دوې ګوتې سر لوړکه
چا دې صفت راته کوؤ راغلے يمه
په کټ کښې پروت يم خوب مې نشته
چې د اشنا خبرې مخې ته راځينه

په کټ کښې سپینه سپینه اوړي
لکه د ډنډ مهے نیوۀ نۀ راکوینه
خاونده ماشي پرې لګیا کړې
چې سنبال کړے کټ کوټې ته خېژوینه
چا چې خپل غم لیدلے نۀ وي
هغه د نورو د غم څۀ پروا لري نه
چې بندوبست د دنیا جوړ شو
هر یو انسان ئې په خپل غم ګرفتار که نه
جغ په اوګه چوکه په لاس کښې
زۀ د هجران ایوه ترېم ازغي کرمه
اجر جزا د عمل حق دے
څوک چې د نېکو عمل کړي نېکي به وړینه
چې د بل لاس لاندې نوکر شي
جوړ کور و کر شي بیا د مړو په حساب شینه
غم د هجران مې د زړۀ تاؤ شو
د تصور په قلا بند ارمان کومه
د ننګ تپوټه به مې هر هله وي
کۀ مې د قبر تبې پورته کړې مئینه
زما پرې هسې نوم بدنام دے
په تبسم خندا د بل سره کوینه
زۀ به په ننګ او ناموس څۀ کړم
چې د ښائسته جانان نه بیل ژوند تېرومه
بیا به دې نوم په خولۀ وانخلم
بېګا دې مور د دروازې شړلے یمه
څوک په رضا د ملکه نۀ ځي
یا ډېر غریب شي یا د یار د غمه ځینه

چا ته په کور نصيب رارسي
څوک په نصيب پسې پردي وطن له ځينه
چې د نصيب د ميو وېش ؤ
زۀ د تقدير په زولنو ترلې ومه
چې اند پښني دربان دې زور شي
دېبے راواخله نسوار واچوه مئينه
خال دې واهۀ خبر دې نۀ کړم
ناغه دې راکه د سورکو شونډو سرونه
د سترګو تور مې دې ړاندۀ شي
کۀ به ئې ستا په مينه بل ته غړومه
د يار په پښو کښې مې حلال کړئ
چې زر زري لمن ئې سره په وينو شينه
د لېونو د لارې مل شوم
د يار په مينه په يثرب اولګېدمه
د ياراني لايق دې نۀ يم
د غلامۍ اواز کوه غلام دې يمه
زما هډوکي ورله يوسئ
کۀ د جانان پکار راځي اوړۀ دې کړينه
دې زمانه کښې وفا نشته
څۀ له څوک چاله د زړۀ ويني ورکوينه
د بابا زوئے شه بخت خان شه
مرد مېدان شه چې عالم دې يادوينه
زما په مخ لاړې راتو کړئ
که مې د تود مېدان نه تېښته کړې وينه
زما دې څۀ نصيب کړو خدايه
په شاړو سر يم وداني نۀ پېژنمه

يـــو دې غريـــب پيــــدا کــــړم خدايـــه
بـــل دې مئـــين پـــه زورورو خلقـــو کړمـــه
زمـــــا تـــــرې طمـــــع د يــــارۍ وه
جينـــۍ لالا کـــوې رنځـــور ئـــې کړمـــه
مينـــه پـــه تلـــو راتلـــو زيــــاتيږي
کلـــه راځـــه کلـــه بـــه زۀ درځـــم مئينـــه
مينـــــه مـــــې پټـــــه درســـــره ده
ښکـــتانۀ کلـــه پـــه ښـــکاره مينـــه کوينـــه
مينـــه کښـــې دومـــره بــــازې بـــس ده
چـــې ســـر و مـــال جانـــان تـــه دواړه اوســـپارينه
مــــا تـــه پـــه مينـــه مينـــه ګــــوره
چـــې خطـــرې مـــې د زړۀ لـــرې شـــي مئينـــه
اس مـــــې زيــــن کـــــړے روانيـــــږم
زۀ مســـافر يمـــه مېلمـــه راغلـــے يمـــه
ســـــتا بـــــه د ګلـــــو دوران تېـــــر شـــــي
زمـــا بـــه پـــاتې شـــي د ســـوې زړۀ داغونـــه
راځـــــه چـــــې دواړه ســــره يــــو شـــــو
مـــدام بـــه نـــۀ وي ســـتا ځـــواني زمـــا ســـوالونه
مرګيـــــــه صـــــــبر راتـــــــه وکـــــــړه
يـــو مـــې ځـــواني ده بـــل مـــې ډېـــر دي ارمانونـــه
مــــخ تـــــه دې ســـــم کـــــتلے نـــــۀ شـــــم
لکـــه د نمـــر شـــغلې وهـــي مـــا ړنـــدوي نـــه
ســــبل د کابــــــل يــــــا د کشـــــمير دے
يـــاري د چګـــو جينکـــو مـــزه کوينـــه
ســــــتا يارانــــــه د کمــــــر ګــــــل دے
ګـــل مـــې بـــوئين نـــۀ کـــړو د کمـــره پريوتمـــه

ســـــتا د يـــــارۍ نــــه بـــــه وانــــــۀ وړم
کـۀ مــې کـارغـان پــه سـر کښـې جـالې جوړوينـه
ســـــتا د يـــــارۍ نــــه بـــــه وانــــــۀ وړم
کـۀ لنګـه سـپۍ مـې سـر کوځـو کښـې تښـتوينه
د مينـــــې ميـــــر شــــوې اباســــين شـــوې
چـــې خلقـــې مـــې پـــه اوبـــو ســـېرابې شـــينه
تاتـــــه بـــــه مينـــــه ټـــــوقې ښـــــکاري
زماپــــه ټــــول بــــدن ئــــې اور اولګاؤنــــه
بـــــس دے پـــــه دغـــــــې فېصــــــله ده
ځـوک چـې مئـين وي خـدائے دې نـۀ رسـوا کوينـه
خدايــــه هــــېڅ ځــــوک ناچــــاره مــــۀ کــــړې
پــردې تــرې تښــتې خپــل تــرې پــوزه پټوينــه
زمــــــا نــــــه پورتــــــه نـــــادان نشــــــته
چـــې د حبـــاب پـــه غوټـــو ړېدم پاځــۀ برجونـــه
بيـــــا بــــه د کلــــې مېــــنځ تـــه نـــۀ ځـــم
د کلـــــې مېـــــنځ د شـــــنو درمـــــو اورســـــېدونه
پــــه غـــم پيـــدا پـــه غـــم کښـــې لـــوئے شـــوم
پـه غـم بـه مـړ پـه غـم بـه تـورې خـاورې شـمه
غـــــم دې غمخـــــور اشـــــنا لـــــه راغـــــے
جانانـــــه تـــــۀ د بـــــې غمـــــۍ کـــــوه خوبونــــه
عـالمــــه راشـــــئ مـــــا تـــــرې خـــــلاص کـــــړئ
ځانګـه د بـور پـه شـان سـره شـوه مـات ئـې کړمـه
پــــه مـــــخ دې بيـــــا ســـــرخي پيـــــدا شـــــوه
لکـــه پـــه واؤرو چـــې ګـــلاب اوغـــوړوي نـــه
مــــا تــــه کفــــن چــــې راتېــــر نـــۀ کــــړئ
کـۀ مـې د ننـګ ګـولۍ پـه شـا خـوړلې وينـه

نمونځ او روژه د دین بنا دي
ما ته مُلا په ممبر پاس وئیلي دینه
ما په ځان واچوه چې یخ شي
پس له هغې نمانځه له ځه چې سود دې شي نه
لاس دې زما په وینو سرۀ دي
نکریزې نۀ دي جینۍ مۀ وینځه لاسونه
قصابه تبر به دې مات شي
زما هډوکي بېلتانۀ اوچ کړي دینه
وطن زما نه پاتې کیږي
لکه مرغۍ په اونو شپې ورته کومه
قمیص ئې تور دے ګل پرې سور دے
د بنګړو شور دے کټ کوټې ته خېژوینه
نوې یاري د خدائے غضب دے
لکه د هار غارمه تلې تندې سیزي نه
وفادار یار رانه خفه شو
بې وفا خپل نۀ شو یوازې پاتې شومه
نۀ دې یاري راسره اوکړه
نۀ مې زړګے ستا په جفا صبر کوینه
وطنه ځار ستا نه لوګے شم
ستا د خاطره به ځواني قربانومه
وطن د تنه لیکه نۀ دي
وطن هغه چې پکښې تن خوشحاله وینه
وطن خو ستا دے په کښې اوسه
مونږه مارغان د بل وطن صبا به ځونه
وطن به ستا د تښه پرېږدم
خلق به وائي د نیستۍ اوتښتېدونه

نېکـــــــي کــــــوم راتــــــه بــــــد ېږي
پــه داسـې حــال کښـې بــه ښـهٔ چـا سـره کومــه
يـــــــاري د پېغلــــــې جينــــــۍ ښـــــهٔ ده
چــې پــه مــلا ماتــه شـي پــه سـټ خولــهٔ ورکوينــه
يـــــــاري د دنګـــــې جينــــــۍ ښـــــهٔ ده
چــې زلزلــه شـي يــار پــه غېــږ کښــې ټينـګـوينه
يـــــار مـــــې د دنګـــــې جينـــــۍ ښــــهٔ ده
د پلـــو لاتــــدې اشـــنا غلـــے تېــروي نـــه
نـــــــوې وادهٔ د ګلــــــــو بـــــــاغ وي
پــه کټ ورخېــژي تــورې سـترګې سـرهٔ لاسـونه
يـــو ځـــل مـــې نـــوم پــــه بــــده لاړ دے
اوس کــهٔ زهٔ ښـې چــارې کــوم بــدو لــه ځينــه
کـــهٔ نېســـتۍ ځنـــک زمـــا نـــه اوکــــړو
بيــا بــه پــه قــام کښـې پــه جرګــو بللــے شـمه
مـــــا د نصـــــيب نـــــه ځنـــــډه اوکــــړه
نصـــيب زمـــا د لارې مـــل راســــره ځينـــه
يــــا بــــه زمــــا نصـــــيب کوټــــه وي
يــا بــه دا ټــولې يــاراني دغســـې وينـــه
نـــــارې وهـــــم نـــــارې مــــې نــــاورې
هلــه بــه ئــې واورې چــې زهٔ تــورې خــاورې شـمه
يـــــار مــــې ټکـــــي راســـــره اوکـــــړه
ځــــادر لــــه ســـتېه تـــاوهم د ملکـــه ځمـــه
د غـــــرهٔ د ســــره مـــــې ســــهي کـــــړه
جينـــۍ لګيـــا ده د شړشـــمو ســـاګ کوينـــه
خاونــــــده داســـــې شــــــپېلۍ راکــــــړې
چـــې د لېلــۍ کلـــي تـــه وروړي اوازونـــه

# د ښځو نرو شریکې مصرعې

## (ټپې)

د اباسین چپو ته گوره
داسې مې زړۀ په تا پسې وهي ټوپونه
خاوند ده تۀ مې نگهبان شې
نوس شېطان مې اباسین ته غورزوینه
راغلې مۀ وے اباسینه
په نیمه شپه دې نوښار لوټې لوټې کړه نه
لکوټې کم شه د یار غمه
په څۀ موده کښې اباسین کمے کوي نه
ابې دادا ته څۀ گناه ده
چا په لیتکو کتلي نۀ دي نصیبونه
ادې په ما تر سره گرانه
خو زۀ د یار په سر ادې خفه کومه
اختر چې تېر شي بیا به راشي
د نادانئ عمر چې تېر شي نۀ راځینه
په دنیا ښۀ راسره اوکړه
په اخرت کښې د هر چا بېل بېل کورونه
په اخرت به جانان غواړم
دنیا فاني ده وس مې اونۀ رسیدو نه
رباب دې رو کړه ادم خانه
سوے اواز ئې درخو خوب ته نۀ پرېږدینه
یا د آدم د رباب تنگ دے
یا د وړې درخو د ناز خندا راځینه

پــــــه اديـــــــره د مــــــــړو راغلـــــــم
منكـــــر نكيـــــر رانــــه ډولكــــې اوتښـــتوؤنه

ارمــــان بــــه اوكـــــړې وخــــت بــــه تېـــــر وي
راځـــه راځـــه چـــې دواړه غــاړه غتـــې شـــونه

مــــا وې ارمــــان بــــه مـــې پـــوره شـــــي
ارمـان ارمـان دې پـه ارمـان كښـې پـاتې شـومه

ارمـــــــان كـــــــول زمـــــا عبـــــــث دي
تېــر شـــوې وار پــه بېرتــه بيــا كلــه راځينـــه

پـــــــه زړۀ مـــــــې ډېــــــر دي ارمانونـــــــه
پـوره بـه نـۀ شـي زۀ بـه تـورې خـاورې شـمه

راځـــــــه راځــــــه چــــــې روغـــــــه اوكــــــړو
فـاني دنيـا ده بيـا بــه څــۀ ارمــان كوؤنــه

مســــــافر مـــــــۀ وژنـــــــې خاونـــــــده
پـه زنكــدن كښـــې د وطـــن ارمـــان كوينـــه

اســــم اعظـــم بــــه پــــه ځــــان پــــو كــــړم
پورتـه بـه خېـژم ليـك بـه وران د نصـيب كړمـه

يـــــــا د اســـــــمان لمنـــــــې ســــــرې دي
يـــا پــه دې ټولـــه دنيـــا اور اولګېـــدو نـــه

اســــــــماني تنــــــــدر وے جانانـــــــــه
پـــه مـــا راپرېـــوتے ذرې ذرې دې كړمـــه

د اســــمان ســـــتورے شـــــوې جانانــــه
نــۀ درختـــے شــم نــۀ مـــې زړۀ صـــبر كوينــه

اســــــمانه لار راكــــــــه درخېــــــــژم
پــه زمكــه ځـــآئے د جانـــان غـــم نـــۀ راكوينـــه

اســـمان پـــه ســـتورو ښائســـته ښـــكاري
چــې ستوري نــۀ وي اسـمان ډنـډې ډنـډې وينــه

اسمان زما په نارو شين دے
زړګے مې خوړين دے چې د ياره جدا يمه
کۀ اسوېلي مې د خولې نۀ تلے
د زړۀ په سر به مې ديګونه پخېدونه
کۀ اسوېلي ورسره نۀ وے
ستا اند ېښنو به مې زړۀ پړق چولې وونه
اشنا قبلې طرف ته مخ کړو
زۀ په دنيا د بې شرمۍ اوربشې خورمه
چې يو اخلاص کړي بل لباس کړي
دا لباسي اشنا دې خدائے اوشرموينه
اشنا په سمه زۀ په سوات يم
سمه دې ورانه شي چې دواړه سوات له ځونه
اشنا زما سره پخلا وو
پخلا اشنا رانه ېېلتون مرور کۀ نه
اشنائي وے جدائي نۀ وے
خدايه په در کښې به دې څۀ کم شوي وونه
الف الله ته حال معلوم دے
چې ب باقي عمر به څنګه تېرومه
الله مالک رازق خالق دے
رزق روزي هر ځائے هر چاله ورکوينه
يو وار ثنا د الله ښۀ ده
نۀ واړه عمر د خوبانو صفتونه
دنيا خوړلے په اميد شي
زۀ د جانان غم نا اميده کړم مئينه
د اوبو ګوټ کولے نۀ شم
په زړۀ مې نوم د جانان ليک دے وران به شينه

افســــوس افســـــوس ارمــــان ارمــــان دے
اور دې هجــران دے مــا پــرې مــۀ ســيزه مئينــه
اور چـــــې بلېـــــږي لــــوګے خېـــــژي
دا بــې لــوګي لمبــې زمــا د زړۀ نــه ځينــه
پـــه لويـــه لاړ کښـــې مــې اور بـــل کـــړو
روغ پــرې تېرېــږي رنځــور لاس پــرې تودوينــه
زمــــا او ســـتا چــــې پــــرې وعــــده وه
بېګــا پــه هاغــه ځــائے کښـــې اور اولګېدونــه
زمـــا پـــه حـــال دې خـــدائے خبـــر کـــه
چــې بــې لــه تــا ژونــدون پــه اور کښــې تېرومــه
د ويــــــرې اُف کـــــولے نــــــۀ شــــم
د مينــې اور دې پــټ پــه زړۀ کښــې ئــې ســاتمه
زړۀ مــــې غـــم داســــې لانــــدې باســــې
لکــه اوربــل چــې لانــدې باســې شــنۀ خالونــه
د پســــرلي پـــه راتلـــو پـــوئې شـــوم
جينکــو راوړۀ پــه اوربــل کښــې زيــړ ګلونــه
بخــــت چـــې کوټـــه شــــې دا مــــې واوره
کۀ څوک په اوس دپاسه سور وي سپي ئې خورينه
بېلتانــــۀ اوســــوم غـــم ايــــرې کـــړم
خوښــه د بــاد ده چــې مــې کــوم طــرف تــه وړينــه
بېګـــا مـــې ســـتا کلـــي تـــه مـــخ شـــو
شـــپه د جمعـــې وه پـــه ايمـــان اويريدمـــه
نـــۀ بـــه د اينځــر د ورځـــې ګـــل شــې
نــۀ بــه زمـا زړګـــے د غمـــه خـــالي شــينه
راشــــــه آئـــــين رانجـــــۀ دې واخلـــــه
نــۀ دې يــاري كــړم نــۀ دې نخښــې ګرځومــه

د یـــــار د لــــــوري بــــــاده راشـــــه
پـــه وازه خولـــۀ دې لړمانـــۀ تـــۀ تېرومـــه
د ســـــــحر بـــــــاده مثمـــــــره
د یـــار د دره پـــېش کشـــي راوړه ګلونـــه
بـــاده پـــه بـــاد مـــې ســـلام وایـــه
پـه هاغــه بـاد چــې د جانـان پـه لـوري ځینـه
بـــــاران دې وي ســــيلۍ دې نـــۀ وي
ســيلۍ نــامراده ورانــوي پاخــۀ برجونــه
ســـتا د دیـــدن بـــاران دې اوشـــي
پــه مــا ســوکړې د بېلتانــۀ راغلــي دینــه
بـــاز د تهمـــت پـــه ټکـــو رنـــګ دے
د خـارو سـرې شـونډې طـوطي خـوړلې دینـه
بـــاز مـــې د زړۀ پـــه غوښـــو لـــوئے کـــړو
اوس چـې د ښـکار شـولو د بـل لاسـو لـه ځینـه
رب دې زمـــــا د منګـــــل بـــــاز کـــــه
د زړۀ قطـــرې بـــه درکـــوم تـــا بـــه ســـاتمه
بـــاز د بـــې نیـــازو پـــه ولقـــه شـــو
مـــرداري غوښـــې ورکـــوي ســـوده بـــه شـــینه
پـــه بـــاغ کښـــې مـــۀ ولـــه کمتـــرې
یـوه بـه مـړه کـړې بیـا بـه نـۀ راځـي سـېلونه
د ســـــحر بـــــاده غمـــــازګره
تــن مــې د یــار پــه خولــو لونــد وو اوچ دې کړمــه
زمـــا د زړۀ داســـې چـــاپېر ئـــې
لکـه بـاغوان د بـاغ چـاپېره کـړي شـپلونه
پـــه بـــاغ کښـــې بـــاد مخـــالف راغـــے
د خـــاورو لانـــدې شـــو د ګلـــو غنچکونـــه

د چـــا دبخـــت ډيـــوه چـــې مـــړه شـــي
کـۀ بـل مشـال پـه لاس کښـې وړي ټکـرې خورينـه
څـــوک چـــې د بخـــت پـــه کرســـۍ ناســـت وي
کـۀ پـه سـندان خولـۀ لګـوي قطـرې تـرې وړينـه
د بـــــره مـــــۀ شـــــې ســـــپېره کالـــــه
بنګـــــړي پـــــه لاس جينکـــــۍ وړي ټولوينـــــه
بهـــــار بـــــه پيـــــا پـــــه ګلـــــو راشـــــي
بـــورا تـــه وايـــئ ځـــان دې نـــۀ زهيروينـــه
بـــــورا د ګـــــل کـــــره مېلمـــــه دے
ګـل د زړۀ مېـنځ ورلـه پـه خولـۀ کښـې ورکوينـه
بـــورا بـــه خـــدائے پـــه ګلـــو مـــوړ کـــړي
ماليـــاره ســـتا نيمګـــړے نيـــت مـــې ژړوينـــه
پســـــرلے راغـــــے ژمـــــے تېـــــر شـــــو
د زيـــړو ګلـــو بـــوئين لـــه هـــرې خـــوا راځينـــه
اخـــــر بهـــــار پســـــې خـــــزان وي
پـــه عاشـــقانو بابـــدې مـــۀ کـــوئ ظلمونـــه
نـــۀ مـــې څـــوک وو نـــۀ مـــې پکـــار شـــو
د بـــې ارزۍ ژړا چـــې راشـــي اوخاندمـــه
د بـــــې ارزۍ کچکولـــــه مـــــات شـــــي
چـــې در پـــه در دې ګرځـــوم تـــش دې راؤړمـــه
خپـــل پـــردي ټـــول راتـــه معلـــوم شـــو
د بـــې ارزۍ د ژونـــد احســـان نـــه هېرومـــه
بېلتـــون بـــاتور مـــې پـــه ســـر ګرځـــي
زمـــا د زړۀ کمتـــره ســـېل تـــه نـــۀ پرېږدينـــه
بېلتونـــــه کـــــور دې راتـــــه ښـــــايه
د زور دې نـــۀ يـــم نتـــواتې لـــه درځمـــه

بېلتونه مخ دې چا ته مه شه
ماته دې مخ شو د سيالۍ دې وويستمه
بېلتون زما کشر ورور دے
په مېراثه کښې رانه يار جدا کوينه
بېلتونه خوار شې زۀ دې خوار کړم
بيا دې لېواله د بې ننګو خلقو کړمه
بېلتون د کلي په مېنځ راغے
اواز ئې وکړو دوه مئين جدا کومه
په بېلتانۀ مې عرضي وکړه
په کميشن مې غمازان مقرر شونه
د بېلتانۀ په ژړنده دل شوم
خوښه د باد ده چې مې هر طرف ته وړي نه
د بېلتانۀ داسې چپه ده
لکه په زيړو ګلو رنګ شي د بوالونه
دا ګل دې بيا په بېرته واخله
په ما سوکړه د بېلتانۀ ده اوچ به شينه
راځه چې دواړه ورته يو شو
يوازې زۀ په بېلتانۀ کمزورے يمه
زما او ستا ياري د ګل وه
بېلتون چينجے شو د ګل مېنځ ئې وواهۀ نه
کۀ زۀ خبر وے چې بېلتون دے
ما به اشنا د لاس نيولے ګرځوونه
کۀ زۀ خبر وے چې بېلتون دے
ما به د يار ستر ګو ته ډېر کتلي وونه
اخر به پرمخې راپريوځم
د بېلتانۀ په سفر ځم ټکرې خورمه

بېلتـــــون پـــــه لار مخــــــې راغـــــې
ځـائې مـې د ټېښـتې چرته نـۀ وو ګېـر ئـې کړمـه
پـــه بېلتانـــۀ مــــې ځــــان شـــاګرد کـــړو
مـــا لا شــروع پـرې کـړې نـۀ وه عـاق ئـې کړمـه
چــــې د دنیـــا بنیـــاد ئـــــې کېښـــود
اول پـــــرې دور د بېلتــــــون وغړېدونـــــه
دیــــــدن د بــــــادو پېمانـــــــه ده
نـۀ پـرې مړېـږم نـۀ تـرې پنـډ تـړلې شـمه
بېلتــــون پـــــه لار مخـــــې لــــه راغــــې
مـــا وې سـلام کـــوم دۀ وې کـــور دې ورانومــــه
ځــــــۀ چـــــې کـــــوې لاس دې آزاد دي
زمــــا وار تېـــر دے اوس دې دور دے بېلتونــــه
تـــــورې د هاغــــه زلمــــو کــــار دے
چې پـلار پـه ویـاړ او مـور پـه پـت پـاللي وینـه
پتنګـــــه خــــاورې دې پــــه ســــر شــــوې
شـمعو لـه جـوړ شـو پـه شیشـو کښـې مکانونـه
پســــــــرلے وخــــــــت د ګرزیـــــــدو دے
تـــازه ګلونــــه زړۀ لــــه وینـــه ورکوینـــه
خاونـــــده بیــــا دې پســــرلے کـــــړو
لــــه کــــانړو بوټـــو د لونګـــو بــوئین راځینـــه
پښــــتانۀ ټـــول پـــه ننــــګ شــــریک دي
چـې کلـه جنـګ شـي پـه سـیالۍ سـر ورکوینـه
پښـــــتنو ســــر و مــــال نـــــه تېـــر شــــۍ
چـې خپـل هېـواد درنـه پـردے نـۀ شـي مئینـه
اول یـــــــــــــواځې قبائـــــــــــل وو
اوس پـــه تمامـــه پښـــتونخوا بـــل دي اورونـــه

وار د شــــــها د ځـــــوانۍ تېــــــر شــــــو
لــــــه منګــــــو پرېوتــــــه کــــوزې راډکوينــــــه
کمتــــــرې مــــــۀ ولــــــه پــــــه بــــــاغ کښېــــــې
يــوه بــه مــړه کــړي بيــا بــه نــۀ راځــي ســپلونه
نمـــــونځ چـــــې قضـــــا شـــــي بيـــــا ادا شـــــي
نـــــۀ ادا کيـــــږي قضـــــا شـــــوي ديدنونـــــه

## د پروفېسر محمد نواز طائر

# علمي او ادبي کاوشونه

۱. نالیدلے سوات (سفر نامه)
۲. آدم درخانی (ترتیب او تدوین)
۳. آدم درخانی (یوه څېړنه)
۴. بنګالی سندرې (د قاضي نذرالاسلام د منتخب کلام پښتو ترجمه)
۵. ټپه او ژوند (۱) (تحقیق)
۶. تواریخ حافظ رحمت خاني (تحقیق ، ترتیب او تدوین)
۷. لرغونے خوب (د مسافرۍ نظمونه)
۸. روهي متلونه I (پښتو)
۹. روهي متلونه II (پښتو)
۱۰. روهي متلونه (سره د اردو ترجمې)
۱۱. Rohi Mataluna ( Pashto Proverbs )
۱۲. روهي ادب I
۱۳. روهي ادب II
۱۴. د صوبه سرحد لسانی روابط (ترتیب و تدوین)
۱۵. پشتو زبان و ادب ایک مطالعه (اردو)
۱۶. پرواز (ازاد نظم)
۱۷. د شعور ډالۍ (ازاد نظمونه)
۱۸. مقدمهٔ شعر و شاعري (ترجمه)
۱۹. د حاتم طائي سفرنامه (ترجمه)
۲۰. صباؤن
۲۱. چترال (سفرنامه)

۲۲. ادب تراش　　(خود نوشت سوانح)
۲۳. ادب ساز　　د ادب تراش دويم جلد
۲۴. دا قيصې دا افسانې　(غير مطبوعه)
۲۵. گيتانجلي　　(پښتو مظومه ترجمه ، غير مطبوعه)
۲۶. لنډۍ پښتو د گل محمد خان مومند　(اردو ترجمه)
۲۷. خوبونه په خپل کلي کښې (هائيکو)
۲۸. په عرفان د محمد ﷺ　(نعتيه کلام)
۲۹. زيړے مازيگر　(منظوم کلام)
۳۰. لنډۍ گامونه　(قطعات)
۳۱. د دوستۍ سفر　(ترجمه)
۳۲. زمونږ قائد　　(ترجمه)
۳۳. وينې شۍ وينې شۍ　　(ترجمه)
۳۴. زمونږ نبي ﷺ　(ترجمه)
۳۵. صوفيانه کلام　(انتخاب)
۳۶. روستے ديدن
۳۷. اولسي قيصې
۳۸. اولسي رومانونه
۳۹. اولسي سندرې
۴۰. په پښتو کښې د ماشومانو سندرې
۴۱. د ژوند سندره
۴۲. ابدي سندره پښتو　　(غير مطبوعه)
۴۳. منطق طائر　　(اردو ، غير مطبوعه)
۴۴. The Song of Eternity
۴۵. ژوند جانان
۴۶. ټپه او ژوند II
۴۷. د کابل سفر　　(غير مطبوعه)
۴۸. مسافر په سفر تلے (　　//　　)

۴۹. د قرآن کریم پښتو ترجمه　(زیر طباعت)
۵۰. پښتو ، انګلیسي لغات (ایډیټر)
۵۱. پښتو اردو لغات　(نګران)
۵۲. پښتو ژبه لغت (اووۀ جلدونه)　(نګران)
۵۳. د لویو لارو مسافر　(غیر مطبوعه)
۵۴. یو خلي بیا په دې لار　(　//　)
۵۵. د منظوم کلام (مجموعه(　//　)
۵۶. خطونه
۵۷. دیباچې ، تبصرې ، تقریظونه
۵۸. مقالې
۵۹. ادارېې
۶۰. سریزې
۶۱. د مسدس حالي د ضمیمې ترجمه
۶۲. (د ترکئې) د خالده ادیب خانم د مقالو او تقریرونو ترجمه
۶۳. خوشحال خان په روسکیپل هال کښې (تمثیلچه)
۶۴. د خلیل جبران د یوې قیصې منظومه تمثیلچه.　(د ناوې پالنګ)
۶۵. بنیادي پښتو لغات
۶۶. په بنیادي پښتو کښې لیکلې
۶۷. د سمندر عجائبات
۶۸. زمونږ روماني داستانونه
۶۹. وړې قیصې
۷۰. د پښتو اکېډیمي (پمفلټ)　(اردو)
۷۱. خوشحال خان ریسرچ سیل (پمفلټ)　(اردو / پښتو)
۷۲. په قومي ادبي کانفرنس کښې په اسلام اباد او لاهور کښې اورولې مقالې.　(اردو)
۷۳. د رابندر ناتهـ ټېګور د ځینې نظمونو او د هغۀ د افسانې کابلي واله پښتو ترجمې

۷۴. د ورېژ ورته ، بجمن ويسټ او ځيني نورو انګرېزي شاعرانو د منتخب نظمونو ترجمې
۷۵. د مېندو قېصې
۷۶. د الهامي کتابونو ترجمې ( د انجيل ، زبور او تورات )
۷۷. خلاصة الانساب د حافظ رحمت خان شهيد د کتاب پښتو ترجمه
۷۸. د پښتو رسالې ادارت او نګراني ۱۹۷۰ء تا ۹۵ / ۱۹۹۴ء
۷۹. د خوشحال ريسرچ سيل د مجله خوشحاليات ادارت
۸۰. د مجله خېبر د پښتو برخې ادارت ( درې کاله )
۸۱. د زميدارۍ اصطلاحات
۸۲. تور پټکي پښتو ، اردو ، انګرېزي
۸۳. چترال ( جغرافيه ) ( غېر مطبوعه )
۸۴. د مينې استازے ( // )
۸۵. تاته مې خط ليکلو ( د خطونو مجموعه ، غېر مطبوعه )
۸۶. د کتاب لنډکې پښتو ( اردو ترجمه ، ناچاپ )
۸۷. فولکلوريکي قېصې
۸۸. د بوډۍ تال
۸۹. د مينې استازے
۹۰. خطبات بهاولپور ( پښتو ترجمه )